تفسیر

معارف القرآن

په قندهاری پښتو

تالیف

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع

پښتو ترجمه کوونکی ابو صدیق احمد مولوی نصیر احمد حقانی

تصحیح اوسمون: مولوی نصیر احمد حقانی او مولوی امین الله حقانی

مکتبه حنفیه
گانی روډ کوئټه

Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

ددی کتاب ټول حقوق دمکتبه حنفئ سره محفوظ دي

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاری پښتو کی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمۃ اللہ علیہ

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقّانی) اومولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې ..... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

جلد اتم پاره (۲۲) ..... (۲۳) ..... (۲۴)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۴۶۲۵۱۰)

کانسي رود حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای ..... لاهور

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست تفسیر معارف القرآن

مضمون	مخ
وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ، الخ ۳۱ تر ۳۴	۷
لنډ تفسیر	۷
پاکو بیبیانو (رض) ته خاص هدایتونه	۹
ایا پاکی بیبیانی دټول عالم تر بیبیانو ښه دی؟	۱۰
په کورونو کی دقرار نیولو څخه دضرورت موقعی مستثنی دی	۱۲
دحضرت ام المومنین صدیقی عائشی ﷺ دبصری په سفر او دجنګ جمل په واقعه دروافضو چتیات...	۱۳
پاکو بیبیانو ته دقرآن کریم څلورم اوپنځم هدایت	۱۲
داپنځه سره هدایتونه دټولو مسلمانانو دپاره عام دی	۱۲
په آیت کی داهل بیتو څخه څوک مراد دی؟	۱۷
دقرآن په شان دحدیثو حفاظت	۱۸
إِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ، الخ ۳۵	۱۹
دقرآن عام خطابونه سروته دی اودښځو په کی ضمنًا دشامیلدو حکمت	۲۰
دالله ﷻ دډیر ذکرحکم او ددی حکمت	۲۱
وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ ، الخ ۳۶ تر ۳۹	۲۱
لنډ تفسیر	۲۲
یوه لطیفه	۲۴
په نکاح کی دنسبی کفو درعایت حکم او ددی درجه	۲۵
دکفاءت مسئله	۲۶
دوهمه واقعه	۲۷
دخلګو دبدو ردو څخه څان ساتل ښه دی ترڅو پوری چی پریو شرعی مقصود اثر اچول نه وی	۲۹
دشبهو او اعتراضونو دجواب ابتدائیه	۳۰
مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ ، الخ ۴۰	۳۱
دختم نبوت مسئله	۳۵
دحضور ﷺ خاتم النبیین کیدل په اخره زمانه کی دعیسی ﷺ دنزول منافی نه دی	۳۶
دنبوت دمطلب تحریف دظلی او بروزی نبوت ایجاد	۳۶
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا ، الخ ۴۱ تر ۴۸	۴۰
لنډ تفسیر	۴۱
دالله ﷻ ذکر داسی عبادت دی کوم چی په هرحالت کی فرض او ددی په کثرت سره دکولو حکم دی	۴۲
دنبی کریم ﷺ خاص صفتونه	۴۵
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْٓا إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ فَمَا لَكُمْ ، الخ ۴۹	۴۷
معلومات اومسئلی	۴۷

Maktaba Tul Ishaat.com

دطلاق په وخت کی دمتعی یعنی سامان تفصیل	۴۸
يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَاجَكَ ، الخ ۵۰ تر ۵۲	۴۹
لنډ تفسیر	۵۱
معلومات او مسئلی	۵۲
دنبی کریم ﷺ زاهدانه ژوند او ددی سره دبیبیانو دزیاتوالی مسئله	۵۸
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ ، الخ ۵۳ تر ۵۵	۶۰
لنډ تفسیر	۶۱
اولنی حکم دطعام دعوت اودمیلمه ځینی اداب	۶۲
دوهم حکم دښځو پرده	۶۳
دښځو دپردی خاص اهمیت	۶۳
دذکر سوو ایتونو دنزول اسباب	۶۴
دریم حکم	۶۵
دجرمونو بندولو دپاره په اسلام کی دذریعو بندولو زرین اصول او په دی کی میانه روی	۶۷
ضروری خبرداری	۶۹
دعورت دستر په احکامو او دښځی په پرده کی فرق	۷۱
دشرعی پردی درجی او ددی داحکامو تفصیل	۷۳
اوله درجه پرده داشخاصو په کورونو کی	۷۴
دوهمه درجه دپردی دبُرقعی په ذریعه	۷۶
دریمه درجه دشرعی پردی چی دفقهاوو په کښی اختلاف دی	۷۷
إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ، الخ ۵۶	۷۹
لنډ تفسیر	۷۹
دصلوٰة او دسلام معنی	۷۹
دیوی شبهی جواب	۸۰
دصلوة او سلام طریقه	۸۰
دصلوة او سلام دذکر سوی طریقی حکمت	۸۱
دصلوٰة او سلام حکمونه	۸۱
إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ، الخ ۵۷ تر ۵۸	۸۳
نبی کریم ﷺ ته هرقسم ازار رسول کفر دی	۸۵
یومسلمان ته بغیر دشرعی وجهی څخه دردِ رسول حرام دی	۸۵
يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ ، الخ ۵۹ تر ۶۲	۸۵
معلومات او مسئلی	۸۷
ضروری خبرداری	۸۹
کوم سړی چی دمسلمانید وخځه وروسته مرتد سو دده سزا قتل دی	۸۹

Maktaba Tul Ishaat.com

یو څو مسئلې	۹۰
يَسْأَلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا ، الخ ۲۳ تر ۲۸	۹۰
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ آذَوْا ، الخ ۲۹ تر ۷۱	۹۲
دالله ﷻ عادت دا دی چې انبیاء دداسې جسمانی عیبونو څخه هم بری ساتی کوم چې دنفرت موجب وی	۹۴
دژبې اصلاح دباقی ټولو اندامونو او عملونو په اصلاح کی اثر کوونکی ذریعه ده	۹۴
دقرآن په احکاموکی داسانی خاص اهتمام	۹۵
دژبې اوخبری صحیح والی ددین او دنیا دواړو دکارونو دپاره صحیح کوونکی شی دی	۹۵
إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَنْ يَحْمِلْنَهَا ، الخ ۷۲ تر ۷۳	۹۶
دامانت څخه څه مراد دی؟	۹۷
دعرض امانت تحقیق	۹۸
عرض امانت اختیاری وو جبری نه وو	۹۹
دعرض امانت واقعه په کومه زمانه کی وسوه؟	۱۰۰
دمخکی دخلافت دپاره دبار امانت پورته کولو صلاحیت ضروری وو	۱۰۰
﴿سورة السبا﴾	**۱۰۲**
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَوَاتِ ، الخ ۱ تر ۲	۱۰۲
وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ قُلْ بَلَى وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ ، الخ ۳ تر ۹	۱۰۳
معلومات او مسئلی	۱۰۲
وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُدَ مِنَّا فَضْلًا يَا جِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُ وَالطَّيْرَ ، الخ ۱۰ تر ۹	۱۰۷
دصنعت اوحرفت لوی فضیلت دی	۱۱۱
کاریګرو خلګوته سپک کتل ګناه ده	۱۱۲
حضرت داود ﷺ ته دزغرو جوړولو په ښوولو کی حکمت	۱۱۲
دپیریانو دتسخیر مسئله	۱۱۴
په جماتونو کی دمحراب دپاره دمستقل مکان جوړولو حکم	۱۱۲
په اسلامی شریعت کی دجاندار دتصویر جوړولو او استعمالولو ممانعت	۱۱۷
دتصویر په حرامو الی یوه عامه شبهه او ددی جواب	۱۱۷
دفوټو تصویر هم تصویر دی	۱۱۹
دشکر حقیقت او ددی احکام	۱۱۹
دحضرت سلیمان ﷺ دمرګ عجیبه واقعه	۱۲۱
لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ فِي مَسْكَنِهِمْ آيَةٌ جَنَّتَانِ عَنْ ، الخ ۱۵ تر ۱۹	۱۲۳
دسبا قوم اوپه دوی دالله ﷻ خاص انعامات	۱۲۵
سیل عرم او سدّ مآرب	۱۲۷
وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ، الخ ۲۰ تر ۲۱	۱۳۲

Maktaba Tul Ishaat.com

قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُونِ اللّٰهِ لَا يَمْلِكُونَ ، الخ ۲۲ تر ۲۷	۱۳۳
په بحث او مناظره کې دمخاطب دنفسیاتو رعایت او داشتعال انګیزې څخه پرهیز کول	۱۳۶
وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِلنَّاسِ بَشِيرًا ، الخ ۲۸	۱۳۶
معلومات اومسئلې	۱۳۶
وَيَقُولُونَ مَتَى هَذَا الْوَعْدُ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ، الخ ۲۹ تر ۳۳	۱۳۸
وَمَا أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ مِنْ نَذِيرٍ إِلَّا قَالَ ، الخ ۳۴ تر ۳۸	۱۴۰
ددنیا دولت اوعزت دمقبولیت عند الله ددلیل ګڼلو پخوانی دشیطان فریب	۱۴۱
قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ ، الخ ۳۹	۱۴۳
کوم خرڅ چې دشریعت مطابق نه وي دهغه دبدل وعده نسته	۱۴۴
دکوم شي خرڅ چې کم کړل سې دهغه پیداوار هم کمیږي	۱۴۵
وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ ، الخ ۴۰ تر ۴۲	۱۴۵
وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالُوا مَا هَذَا إِلَّا رَجُلٌ يُرِيدُ أَنْ يَصُدَّكُمْ ، الخ ۴۳ تر ۵۰	۱۴۷
وَلَوْ تَرَى إِذْ فَزِعُوا فَلَا فَوْتَ وَأُخِذُوا مِنْ مَكَانٍ قَرِيبٍ ، الخ ۵۱ تر ۵۴	۱۵۲
معلومات اومسئلې	۱۵۳
﴿سورة الفاطر﴾	**۱۵۴**
الْحَمْدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ جَاعِلِ ، الخ ۱ تر ۳	۱۵۴
معلومات اومسئلې	۱۵۷
په الله ﷻ توکل او اعتماد دتولو مصیبتونو څخه نجات دی	۱۵۷
وَإِنْ يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِنْ قَبْلِكَ وَإِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ، الخ ۴ تر ۸	۱۵۸
معلومات اومسئلې	۱۵۹
وَاللّٰهُ الَّذِي أَرْسَلَ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَسُقْنَاهُ ، الخ ۹ تر ۱۴	۱۶۰
يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ ، الخ ۱۵ تر ۳۲	۱۶۲
معلومات اومسئلې	۱۶۹
أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللّٰهَ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا ، الخ ۲۷ تر ۲۸	۱۷۰
معلومات اومسئلې. دایتونو ترون	۱۷۱
إِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ تشریح	۱۷۱
إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَابَ اللّٰهِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنْفَقُوا مِمَّا ، الخ ۲۹ تر ۳۷	۱۷۳
دنیکو عملونو مثال په تجارت سره	۱۷۷
دامت محمدی خصوصًا ددې دعالمانو یو مهم فضیلت او خصوصیت	۱۷۹
دامت محمدی دری قسمونه	۱۷۹
یوه شبهه او دهغه جواب	۱۸۰

Maktaba Tul Ishaat.com

دلست سعدی و عالمانو عظیم الشان فضیلت	۱۸۱
کوم سړی چې په ډاکې د سړو او سپینو لرګیو او دوړو پسې یا ښکار کولو په جنت کې به درلوړه مرتبه وي	۱۸۲
بۇ ھا ھاتم كىب ھىشوت وكۇلۇم . الخ ۲۸ تر ۳۱	۱۸۵
وكىشوا بكل بىنا كىنىيم ابۇ ھىشام ھېز . الخ ۳۲ تر ۴۵	۱۸۷
معلومات لومړنی	۱۸۹
(سورة یس)	۱۹۰
یس (۱) وكۇرگان ھىكىم . الخ ۱ تر ۱۲	۱۹۰
دسورا یس فضیلت درته	۱۹۲
یس دچا نوم اینسرول څنګه دی؟	۱۹۳
د صلوٰۃ پەمنادہ صلوٰۃ لترڅو ھم لېکل کېږي	۱۹۵
وكىترت ايتم ىنۇ اىشىنى ھاترنا يا ھىنە ھاترىنۇن . الخ ۱۳ تر ۲۱	۱۹۲
معلومات لومړنی	۱۹۸
څه کوم کلی دی چې (کرښې پورې) څه کې راغلی دی؟	۱۹۸
دی کلی نه چې کوم رسولان لیږل سوی وه حضرت څه څیز راوړی او څه څوک حضرات وه؟	۲۰۰
دبارہ د کوت څه نوم راغلو نکی سړی والقصه	۲۰۱

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان

تفسير معارف القرآن د نصير احمد احمدي لخوا سکين او

pdf سوه. ودها په هيله احمدي واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَآ

اوخوك چې په تاسې کې حکم منې دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ اونيك عمل کوي وربه کړو مونږ

اَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ ۙ وَاَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيْمًا ﴿۳۱﴾ يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ

هغه ته ددې ثواب دوچنده ، او تيار کړي دي مونږ دې ته رزق دعزت ، اې دنبي بيبيانو ! تاسې نه ياست

كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ اِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ

دنورو ښځو په شان که تاسې تقوى اختيار کړې نو نزاکت مه کوئ په خبرو کې نو طمع

الَّذِيْ فِيْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ وَّقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ﴿۳۲﴾ وَقَرْنَ فِيْ

به کوي دچا په زړه کې چې مرض دي او وا ياست خبره معقوله ، او قرار ونيسئ په

بُيُوْتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى وَاَقِمْنَ الصَّلٰوةَ

خپلو کورونو کې اونښکاره مه ګرځئ لکه چې دنښکاره ګرځيدو دستور وو داول جاهليت په وخت کې اوقائم ساتئ

وَاٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ وَاَطِعْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ

لمونځ او ورکوئ زکوٰة او حکم منئ دالله او دهغه درسول اللہ ﷻ دا غواړي چې

لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيْرًا ﴿۳۳﴾

چې لرې کړي ستاسې څخه دګندګۍ خبرې اې دنبي کور والا ؤ ! اوپاکې کړي تاسې په پاکولو سره ،

وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلٰى فِيْ بُيُوْتِكُنَّ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ وَالْحِكْمَةِ ؕ اِنَّ

اويادوئ کوم چې ويل کيږي ستاسې په کورونو کې دالله ايتونه او دعقلمندۍ خبرې

اللّٰهَ كَانَ لَطِيْفًا خَبِيْرًا ﴿۳۴﴾

بيشکه الله ﷻ دې باريك بين خبردار

لنډتفسير: اوخوك چې په تاسې کې دالله ﷻ اودهغه درسول فرمانبرداري کوي (يعنې کوم کارونه چې الله ﷻ واجب کړي دي هغه ادا کوي او په خپله دنبي کريم ﷺ دخاوندوالي چې کوم حقونه اواطاعت وغيره

Maktaba Tul Ishaat.com

واجب دی ، هغه ادا کوی څکه چی درسالت دحیثیت حقونه دالله ﷻ په اطاعت کی داخل سوه، او (په غیر واجبو کارونوکی چی کوم) نیك کارونه دی (دوی هغه) کوی نو مونږ به دوی ته ددی ثواب (هم) دوچنده ورکو او مونږ دوی ته (علاوه دوعده سوی دوچنده اجر څخه) یو (خاص) عمده رزق (کوم چی په جنت کی دنبی کریم ﷺ دبیبیانو دپاره مخصوص دی اوکوم چی دبدلی دعمل څخه زیات دی) تیارکړی دی (داطاعت په صورت کی د دوچنده اجر او داطاعت پر پرېښوولو ددوچنده عذاب وجه شرافت دنبځوالی دنبی ﷺ دی چی دلالت، یٰنِسَآءَ النَّبِیِّ، پرکوی څکه چی دخاصانوکوتاهی هم دنورو دکوتاهی څخه سخته وی ، دغه شان د دوی اطاعت هم دنورو داطاعت څخه زیات مقبول وی ، نو په وعد او وعید دواړوکی دغه دنورو څخه ممتازوی اوخاص کر دکلام کولو په مقام کی دا ویل ممکنه ده ، چی دامهات المومنین اطاعت اوخدمت کول دنبی کریم ﷺ زړه مبارك ته زیات راحت رسوونکی وی ، نو دوی ﷺ ته راحت داجر دزیات والی موجب سو ، اودغه شان دنافرمانی سزایی هم زیاته سوه ، تردی ځای پوری ازواجو (رض) ته دحضور ﷺ دحقونو متعلق خطاب وو مخ ته اوس دعامو احکامو متعلق دزیات اهتمام دپاره خطاب دی چی) ای دنبی ﷺ بیبیانو! (محضی په دی خبره مه خوشحالیږی چی مونږ دنبی ﷺ بیبیانی یو اوپه دی وجه دعامو نبځو څخه ممتازی یو، دا نسبت اوشرافت زمونږ دپاره بس دی ، نو دا وسوسه مه کوی ، دا خبره صحیح ده چی) تاسی دمعمولی نبځو په شان نه یاست! (بیشکه چی د دوی څخه ممتازی یاست، مګر مطلقًا نه بلکه ددی سره یوشرط هم دی هغه داچی) که تاسی تقوٰی اختیارکی (نوبیا واقعی چی ددی نسبت په سبب سره تاسی ته دنورو څخه زیات فضیلت حاصل دی تردی چی ثواب به درته دوچنده حاصلیږی اوکه دا شرط ثابت نه سی نو دا نسبت به په عکس سره د دوچنده ه عذاب سبب جوړسی ، هر کله چی خبره دا ده چی نسبت بغیر دتقوٰی څخه هیڅ نه دی) نو (تاسی ته دشرعی احکامو پوره پابندی کول په کار دی عمومًا اوپه ذکر سوو احکامو دراتلونکی آیت کی خصوصًا ، اوهغه احکام دا دی چی) تاسی (دنامحرم سړی سره) په خبرو کی (هرکله چی ضرورت دخبرو کولو پیښ سی) نزاکت مه کوی (ددی مطلب دا نه دی چی قصدًا نزاکت مه کوی څکه چی ددی بدوالی خوبدیهی دی ، دوهمه دا چی په ازواجو مطهراتو کی خو ددی گر سره څه احتمال نسته ، بلکه مطلب دا دی چی لکه څنګه چی دنبځو په خبرو کی فطری انداز وی چی طبعی نرمی اونزاکت په کی وی ، په دغه انداز سره خبری مه کوی) چی (په دی سره) داسی سړی ته (طبعًا فاسد) خیال پیدا کیږی ، دکوم په زړه کی چی خرابی (اوبدی) ده (بلکه په داسی موقعو باندی په تکلف اواهتمام سره دغه فطری انداز بدلوی خبری کوی) اودَ (پاکدامنی دَ) قاعدی موافق خبره کوی (یعنی په داسی انداز سره چی زیږوالی اوسپیره والی په کی وی ، چی دا دپاکدامنی حفاظت دی او دا بداخلاقی نه ده ، بد اخلاقی هغه ده چی دچازړه ته ازار په ورسیږی اوپه فاسدی طمعی بندولو سره ازارنه لازمیږی ، په دی کی خو یی دخبرو کولو متعلق حکم وکی) او (مخ ته دپردی متعلق ارشاد دی اومشترکه خبره په دواړوکی فقط پاکدامنی ده یعنی) تاسی په خپلو کورونوکی قرار ونیسی (مراد ددی څخه دا دی چی محضی په ځان دکپړو اچولو اوپرده کولو باندی صبرمه کوی ، بلکه پرده په داسی طریقه سره کوی چی بدن سره دکپړو په نظر رانه سی، لکه چی نن صبا په شریفانوکی دپردی طریقه

Maktaba Tul Ishaat.com

داسی متعارف ده چی ښځی دکورونو څخه نه وزی، البته دضرورت موقعی په بل دلیل سره مستثنیٰ وی) او (مخ ته ددی حکم دتاکید دپاره ارشاد دی چی) دپخوانی زمانی دجهالت ددستور موافق مه گرځی (په کومه کی چی دبی پردگی رواج وو که څه هم بغیر دبی حیایی څخه ولی نه وی ، اودتیر پخوانی جاهلیت څخه مراد هغه جاهلیت دی کوم چی داسلام څخه مخکی وو او ددی په مقابله کی یو دمابعد جاهلیت دی چی وروسته داسلامی احکامو دتعلیم اوتبلیغ څخه په دی عمل ونه سی ، نوکومه بی عملی چی داسلام څخه وروسته وی ، هغه بل جاهلیت دی ، په دی وجه په تشبیه کی تخصیص داولنی جاهلیت ظاهردی ، ځکه چی دمشبه او مشبه به تغائر ضروری دی ، مطلب دا دی چی دبل جاهلیت په جاری کولو سره داولنی جاهلیت پیروی مه کوی دکوم دختمولو دپاره چی اسلام راغلی دی تردی ځای پوری دعفت متعلق احکام وه) او (مخ ته دنورو شرعی احکامو ارشاد دی چی) تاسی دلمنځونو پابندی ساتی اوزکوٰة (که دنصاب مالکان یاست) ورکوی (ځکه چی دادواړه لوی شرعی احکام دی په دی وجه د دوی تخصیص وسو) او (نور چی ځومره احکام دی تاسی ته معلوم دی په ټولوکی) دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ خبره منی (اومونږ چی په تاسی دا احکام لازم کړی دی او ددی مومکلف کړی یاست نو خاص ستاسی نفع ده ، ځکه چی) الله ﷻ ته (ددی احکامو په ښوولو سره تشریعاً) دا منظوره ده چی ای (دپیغمبرﷺ) دکورواڵا ستاسی څخه (دمعصیت اونافرمانی) گندگی لیری کړی اوتاسی (په ظاهر، باطن، عقیدی، عمل او اخلاقو باندی بالکل) پاك صفا کړی (ځکه چی په احکامو دعلم راتلو په سبب دمخالفت څخه چی موجب دگندگی اومانع دپاکوالی دی ، محفوظ کیدل ممکن دی) او (چونکی په دی احکامو عمل واجب دی ، او عمل موقوف دی داحکامو په پیژندو او ددی په یاد ساتلو، په دی وجه) تاسی دالله ﷻ دا ایتونه (یعنی قرآن) اودا علم (داحکامو) یاد ساتی چی ستاسی په کورنوکی ددی مباحثه وی (او دا هم دنظر په وړاندی ساتی چی) بیشکه الله ﷻ په رازونو پوه دی (چی دزړونو په عملونو هم پوه دی او) پوره خبردار دی (چی پټ عملونه هم پیژنی ، په دی وجه په پټه په ښکاره په ظاهر اوباطن په اوامرو عمل کول او دنواهیو څخه دځان ساتلو اهتمام واجب دی)

معلومات اومسئلي: وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتَعْمَلْ صَالِحًا : په دی کی قنوت یعنی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ اطاعت شرط دی بیاعمل صالح شرط دی سبب دا دی چی اجر اوثواب خو هغه وخت حاصلیږی هر کله چی اطاعت مکمل وی او دسزا دپاره یوه ګناه هم کافی ده .

(پاکو بیبیانو (رض) ته خاص هدایتونه)

يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ اِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ : په تیرو ایتونوکی یی پاکی بیبیانی دنبی کریم ﷺ څخه ددا سی مطالبو کولو څخه منع کړی دی ، دکومو پوره کول چی د دوی دپاره ګران وی یاکوم چی د دوی دشان مناسب نه وی اوکله چی هغوی دا اختیار کړه نو دهغوی درجه دعامو ښځو څخه لوړه سوه او دهغوی یو عمل یی د دوو قائمقام جوړکی ، مخ ته د دوی دعمل اصلاح اودنبی کریم ﷺ دصحبت اوښځوالی مناسب جوړولو دپاره یوځو هدایتونه ورکول سوی دی ، دا ټول هدایتونه که څه هم دپاکو بیبیانو دپاره مخصوص نه دی بلکه ټولی مسلمانانی ښځی په دی مامورہ دی ، مګر دلته یی پاکو

Maktaba Tul Ishaat.com

بیبیانو ته خصوصی خطاب وکی او دی طرف ته یی توجه ورته راوګرځوله چی داعملونه اواحکام کوم چی دټولو مسلمانانو ښځو دپاره لازم او واجب دی تاسی ته ددی اهتمام دنورو څخه زیات کول په کار دی اود ، لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِنَ النِّسَاءِ : څخه دا خصوصیت مراد دی .

(ایا پاکي بیبیاني دټول عالم تر بیبیانو ښه دی؟)

دایت ددی الفاظو څخه په ظاهره معلومیږی چی پاکی بیبیانی دټول عالم دبیبیانو څخه افضلی دی، مګر دقرآن کریم آیت دحضرت مریم ﷺ په باره کی دا دی ، إِنَّ اللهَ اصْطَفَاكِ وَطَهَّرَكِ وَاصْطَفَاكِ عَلَى نِسَاءِ الْعَالَمِينَ : ددی څخه دحضرت مریم ﷺ دټول عالم دښځو څخه افضل والی ثابتیږی ، اوپه ترمذی کی دحضرت انس ﷺ حدیث دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی، کافی دی تاسی ته دټولو ښځو څخه مریم ﷺ لور دعمران اوخدیجه ﷺ لور دخولید (ام المؤمنین) اوفاطمه ﷺ لور دمحمد ﷺ اوآسیه ﷺ ښځه دفرعون ، په دی حدیث کی یی دحضرت مریم ﷺ سره نوری دری ښځی دټول عالم دښځو څخه افضلی فرمایلی دی .

په دی وجه په دی آیت کی چی کوم دپاکو بیبیانو افضلیت اوفوقیت بیان سوی دی ، هغه په یوخاص حیثیت دنبی ﷺ دبیبیانو کیدو دی ، په کوم کی چی دوی دټول عالم دښځو څخه بیشکه افضلی دی ، په دی سره مطلق عام فضیلت نه ثابتیږی ، کوم چی دنورو نصوصو څخه خلاف وی (مظهری)

د ، لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِنَ النِّسَاءِ : څخه وروسته ، إِنِ اتَّقَيْتُنَّ : دا شرط ددی فضیلت دی، کوم چی الله ﷻ دوی ته دنبی دښځوالی په وجه بخښلی دی ، مقصود ددی څخه په دی خبره باندی خبرول دی چی فقط په دی نسبت اوتعلق باندی تکیه کوونکی مه کښینی چی مونږ دنبی ﷺ بیبیانی یو، بلکه دفضیلت شرط تقوی او دالله ﷻ داحکامو اطاعت دی (قرطبی اومظهری)

ددی څخه وروسته څو هدایتونه پاکو بیبیانو (رض) ته ورکول سوی دی .

اولنی هدایت : دښځو دپردی متعلق په اواز اوخبرو باندی پابندی ده .

فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ : یعنی دچا غیر محرم سره که دپردی څخه شاته هم دخبرو کولو ضرورت پیښ سی ، نو په خبروکی دهغه نزاکت اونرمی لهجی څخه په تکلیف سره پرهیز کول په کار دی کوم چی فطرتًا دښځو په اوازکی وی ، مطلب ددی نرمی اونزاکت څخه هغه نرمی ده کومه چی داوریدونکی په زړه کی میلان پیداکوی ، لکه چی ددی څخه وروسته فرمایی ، فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ : یعنی داسی نرمی خبری مه کوی په کومو سره چی دداسی سړی طمع اومیلان پیداسی دکوم په زړه کی چی مرض وی ، دمرض څخه مراد نفاق دی یاددی یو شعبه ده ، داصلی منافق څخه خوداسی پیدا کیدل ظاهره خبره ده لیکن کوم سړی چی دمخلص مومن کیدو باوجود دحرامو طرف ته مائل کیږی ، هغه منافق خو به نه وی مګر ضعیف الایمان خوخامخادی اودا دایمان ضعیف والی کوم چی دحرامو طرف ته مائل کول کوی په حقیقت کی یوه شعبه دنفاق ده ، دخالص ایمان چی دنفاق شائبه په کی نه وی ددی سره څوک دحرامو طرف ته نه سی مائله کیدی (مظهری)

خلاصه ددی اولنی هدایت دښځو دپاره دپردو سره څان ساتل او دپردی هغه اعلی مقام حاصلول

Maktaba Tul Ishaat.com

دی چی دپردی ضعیف الایمان په زړه کی ورځخه څه طمع یامیلان پیدا کیږی ، هغه ته نژدی هم کنه نوسی ، دښځو دپردی تفصیلی بحث به په دی سورة کی دمخ ته راتلونکو ایتونو لاندی بیان سی ، دلته دپاکو بیبیانو دپاره دخصوصی هدایتونو په ضمن کی چی څه راغلی دی صرف دهغه تشریح لیکل کیږی دخبرومتعلق چی کوم هدایتونه ورکړل سوی دی ، ددی داوریدو څخه وروسته چی به څینو امهات المومنین دغیر سړی سره خبری کولی نو په خپله خوله به یی لاس اینبی وو چی اواز بدل سی ، په دی وجه دحضرت عمروبن عاص ﷺ په یوحدیث کی دی ، اِنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی اَنْ تُکَلِّمَ النِّسَآءُ اِلاَّ بِاِذْنِ اَزْوَاجِهِنَّ (رواه الطبرانی بسند حسن ، مظهری)

مسئله : ددی آیت او ددی ذکرسوی حدیث څخه دومره خوثابته سوه چی دښځی اواز په سترکی دا خل نه دی ، لیکن دلته پردی هم احتیاطی پابندی ولګول سوه او په ټولو عبادتونو او احکاموکی ددی رعایت سوی دی چی دښځو خبری دی په زوره نه وی کوم چی سړی واوری ، امام چی څه غلطی وکی نو مقتدیانو ته په ژبه سره دفتح ورکولو حکم دی ، لیکن ښځوته په ژبه باندی دفتح ورکولو په ځای دا تعلیم ورکول سوی دی چی دخپل یوه لاس پر شا به بل لاس ومښلوی اوټک اوږغ به ورځخه اوباسی چی امام پوه سی ، په ژبه به څه نه وایی .

دوهم هدایت : دمکملی پردی کولو دی ، وَقَرْنَ فِیْ بُیُوْتِکُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِیَّةِ الْأُولٰی : یعنی کښینی په خپلو کورنو کی او دتیری زمانی دجاهلیت والاوو په شان مه ګرځی ، دلته داولنی جاهلیت څخه مراد هغه جاهلیت دی کوم چی داسلام څخه مخکی په دنیا کی غورول سوی وو ، په دی لفظ کی اشاره ده چی ددی څخه وروسته دوهم هم یو جاهلیت راتلونکی دی چی په هغه کی به هم دغه شان بی حیایی اوبی پردګی وغورول سی ، دغه شاید چی دا اوس ددی زمانی جاهلیت دی چی هرځای لیدل کیږی .

په دی آیت کی دپردی متعلق اصلی حکم دا دی چی ښځی دی په کورونو کی اوسیږی (یعنی بغیر دشرعی ضرورت څخه دی دباندی نه وزی) ددی سره داهم فرمایی چی لکه څنګه چی به داسلام څخه مخکی دجاهلیت په زمانه کی ښځی په ډاګه بی پردی ګرځیدی دغسی مه ګرځی ، دلفظ دتبرج اصلی معنی ظهور دی او دلته مراد ددی څخه دخپل زینت اظهار دی (پردو سړوته) لکه چی بل آیت کی ، غَیْرَ مُتَبَرِّجٰتٍ بِزِیْنَةٍ : راغلی دی .

دښځو دپردی پوره بحث اوتفصیلی احکام به مخ ته په دی سورة کی راسی ، دلته صرف دذکر سوی آیت تشریح لیکل کیږی ، ددی آیت څخه دپردی متعلق دوی خبری معلومی سوی اول داچی اصل مطلوب دالله ﷻ په نزد دښځو دپاره دا دی چی هغوی دکورونو څخه دباندی نه وزی ، هغوی دکور دکارونو دپاره پیداسوی دی په دی کی دی مشغوله وی اواصل پرده کومه چی شرعاً مطلوب ده هغه حجاب بِالْبُیُوْت ده دوهمه خبره دا معلومه سوه چی که چیری په ضرورت سره ښځه دکورڅخه وزی نو دزینت داظهار سره دی نه وزی ، بلکه برقع یا پرونی چی ټول بدن یی په کی پټ سی هغه دی اچوی اووزی دی ، لکه چی مخ ته ددی سورة احزاب په آیت، یُدْنِیْنَ عَلَیْهِنَّ مِنْ جَلَابِیْبِهِنَّ، کی به ددی تفصیل راسی انشاء الله تعالی .

Maktaba Tul Ishaat.com

(په کورونو کې دقرار نیولو څخه دضرورت موقعې مستثنې دی)

په ، قَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ : کی یی پربنځو باندی قرار فی البیوت واجب کی ، چی مطلب یی دا سو چی دښځو دپاره دکور څخه دباندی وتل مطلقًا ممنوع اوحرام دی ، مګر اول خوپه خپله ددی آیت دلاتَبَرُّجْنَ څخه دی طرف ته اشاره وسوه چی مطلقًا وتل په ضرورت سره ممنوع نه دی ، بلکه هغه وتل ممنوع دی په کوم کی چی دزینت اظهار وی ، دوهم دسورة احزاب آیت کوم چی مخ ته راځی ، په هغه کی په خپله دَ، يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ : حکم دا ښیی چی په یوه درجه کی دښځو دپاره دکور څخه دوتلو اجازه هم سته په دی شرط چی دبرقعی وغیره دپردی سره ووزی ، ددی څخه علاوه په خپله نبی کریم ﷺ دضرورت دځایونو ددی حکم څخه مستثنیٰ والی په یوحدیث کی واضح فرمایلی دی چی په دی کی پاکو بیبیانو ته خطاب کړی او فرمایی ، قَدْ أُذِنَ لَكُنَّ أَنْ تَخْرُجْنَ لِحَاجَتِكُنَّ (رواه مسلم) یعنی تاسی ته ددی اجازت دی چی دخپل ضرورت دپاره دکورڅخه ووزی ، بیادنبی کریم ﷺ عمل دحجاب دایت دنازلیدو څخه وروسته پردی شاهد دی چی دضرورت په موقعوکی ښځوته دکورونیو څخه دوتلو اجازت دی ، لکه چی دحج اوعمری دپاره دپاکو بیبیانو دنبی کریم ﷺ سره تلل په صحیح احادیثو سره ثابت دی او دډیرو روایتونو څخه داهم ثابت دی چی پاکی بیبیانی به دخپل مور اوپلار اوخپلوانو وغیره دملاقات دپاره دخپلو کورونو څخه وتلی ، دغه شان به غزاګانو ته هم دحضور ﷺ سره تللی ، دناروغ پوښتنی وغیره ته به هم وتلی اوپه عهد نبوی کی دوی ته مسجدونو ته دوتلو هم اجازت وو .

اوصرف دا نه چی دنبی کریم ﷺ سره یاخاص د دوی په زمانه کی داسی سوی دی ، دنبی کریم ﷺ دوفات څخه وروسته هم دحضرت سوده او زینب بنت جحش وغیره څخه علاوه دټولو پاکو بیبیانو دحج اوعمری دپاره تلل ثابت دی چی دا په صحابه کرامو ﷺ کی هیڅا بدنه دی ګنلی ، بلکه حضرت فاروق اعظم ﷺ په خپله زمانه دخلافت کی پاکی بیبیانی په خپله په خپل اهتمام سره دحج دپاره ولیږلی اوحضرت عثمان غنی ﷺ اوعبد الرحمن بن عوف ﷺ یی د دوی سره دنګرانی اوانتظام دپاره ولیږی او دمومنانو دمیندو حضرت سوده ﷺ اوحضرت زینب بنت جحش، وروسته دوفات دنبی کریم ﷺ څخه ، دحج او عمری دپاره نه تلل ددی آیت پربنیاد نه بلکه دیوحدیث پر بنیاد باندی وو، هغه دا چی په حجة الوداع کی کله چی نبی کریم ﷺ په پاکو بیبیانو په خپله دځان سره حج وکی نو دواپسی په وخت کی یی وفرمایل هٰذِهِ ثُمَّ لُزُومُ الْحُصُرِ، دَهٰذِهِ اشاره ددی حج طرف ته ده اوحصر دحصیر جمع ده چی معنیٰ یی بوریا ده، مطلب دحدیث دا دی چی ستاسی وتل صرف ددی دپاره وسول ، ددی څخه وروسته به دخپلو کورونو بوری لازمی ونیسی او ددی څخه مه وزی ، حضرت سوده بنت زمعه اوحضرت زینب بنت جحش ددی حدیث دا مطلب مقررکی چی ستاسی وتل صرف ددی حجة الوداع دپاره جائز وو ، مخ ته جائز نه دی ، نورو پاکو بیبیانو په کوموکی چی دحضرت عائشی ﷺ په شان فقیهه هم دا خله ده ، ټولو ددی مطلب دا مقرر کی چی لکه څنګه چی دا سفر دی چی دیو شرعی عبادت دادا کولو دپاره وی بس دغه شان وتل جائز دی کنه نو په خپلو کورونوکی پاته کیدل لازم دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډه دا چی دایت ، وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ : دمطلب څخه په اشارو دقرآن اودنبی کریم ﷺ په عمل او په اجماع داصحابو کرامو رضی الله عنهم موقعی دضرورت مستثنی دی ، په کومو کی چی عبادتونه حج اوعمره هم دا خل دی ، او طبعی ضرورتونه دمور اوپلار او دخپلو محارمو زیارتونه ، بیمار پرسی وغیره هم دغه شان که دڅه نفقی او دژوند دضرورتونو څه نور سامان نه وی نو دپردی سره دمحنت او مزدوری دپاره وتل هم ، البته دضرورت په موقعوکی دوتلو دپاره شرط دا دی چی دزینت داظهار سره نه وزی بلکه په برقعه یا پرونی کی پته وزی .

(دحضرت ام المومنین صدیقي عائشي رضی الله عنها دبصری په سفر او دجنګ جمل په واقعه دروافضو چتیات)

لوړ په وضاحت سره دا خبره راغلی ده چی د، قَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ : مطلب په خپله دقرآن داشاراتو بلکه دوضاحتونو څخه ، دارنګه دنبی کریم ﷺدعمل او داجماع داصحابو رضی الله عنهم څخه داثابت دی چی دضرورت موقع ددی څخه مستثنی دی چی حج عمره اونور دینی ضرورتونه په کی شامل دی ، حضرت عائشی رضی الله عنها او ددی سره حضرت ام سلمی رضی الله عنها اوحضرت صفیی رضی الله عنها دی تولو دحج دپاره تشریف وړی وو ، هلته یی دحضرت عثمان غنی رضی الله عنه دشهادت او دبغاوت واقعات واوریدل نو سختی غمجنی سوی اودمسلمانانو په جلاجلا کیدو او دمسلمانانو په نظام کی دخلل او فتنی په اندیښنه پریشانه سوی ، په دی حالت کی حضرت طلحه رضی الله عنه اوزبیر رضی الله عنه اونعمان بن بشیر رضی الله عنه اوکعب بن عجره رضی الله عنه اوڅو نور صحابه کرام رضی الله عنهم دمدینی څخه وتښتیدل مکی معظمی ته ورسیدل ، ځکه چی دحضرت عثمان رضی الله عنه قاتلان د دوی په قتل هم پسی وه ، دا حضرات دبغاوت کوونکو سره شریك نه وه، بلکه دداسی کار څخه یی دوی منع کول ، دحضرت عثمان غنی رضی الله عنه دقتل څخه وروسته هغوی په دوی هم پسی وه ، په دی وجه دی حضراتو څانونه محفوظ کړل مکی معظمی ته ورسیدل او دام المومنین حضرت عائشی رضی الله عنها په خدمت کی حاضر سول اومشوره یی ورڅخه وغوښتله حضرت عائشی رضی الله عنها دوی ته دا مشوره ورکړه چی تاسی ترهغه وخته پوری مدینی منوری ته مه ځی ، ترڅو پوری چی باغیان دحضرت علی رضی الله عنه پر شا اوخوا جمع وی اوهغوی د دوی څخه دقصاص په اخیستو سره د ډیری فتنی دبیری په وجه چپ دی نو تاسی خلګ یوڅو ورځی داسی ځای ته ولاړ سی اوسیږی ، کوم ځای چی ځان په امن ګڼی ، ترهغه چی امیرالمومنین په انتظام واك نه وی پیدا کړی اوتاسی خلګ چی څومره کوشش کولی سی کوی چی هغه خلګ دامیر المومنین دخوا څخه لیری سی او امیر المومنین دهغو خلګو په قصاص یابدل اخیستو قدرت پیدا کی .

دا حضرت په دی راضی سول او بصری ته دتللو اراده یی وکړه ځکه چی دغه وخت هلته دمسلمانانو لښکر جمع وو ، دی حضراتو چی هلته دتللو اراده وکړه نو ام المومنین رضی الله عنها ته یی هم درخواست وکی چی دحکومت دانتظام تر برقراره کیدو پوری تاسی هم زمونږ سره په بصره کی قیام وفرمایاست .

دغه وخت دحضرت عثمان رضی الله عنه دقاتلانو اومفسدانوقوت اوشوکت او دحضرت علی رضی الله عنه په دوی دحد شرعی جاری کولوڅخه بی واکه کیدل په خپله دنهج البلاغة دروایت څخه واضح دی ، اونهج البلاغة شیعه حضرات مستند منی په نهج البلاغة کی دی چی حضرت امیرالمومنین ته د دوی څینو ملګرو

Maktaba Tul Ishaat.com

وویل چی که ته دغو خلگو ته سزا ورکړی کومو چی په حضرت عثمان ﷺ باندی حمله کړی ده نوښه به وی ، نوحضرت امیرالمومنین وفرمایل، چی ورونو! زه ددی خبری څخه غافله نه یم کومه چی تاسی کوی مګر دا کارځنګه کیدی سی ، هرکله چی دغه خلګ په مدینه منوره قابض دی اوستاسی غلامان اودخوا اوشا اعراب هم دهغوی سره یو سوی دی ، په داسی حالاتو کی که د دوی دسزا احکام جاری کړم نو څنګه به نافذ سی ؟

حضرت صدیقه ﷺ ته یو خوا دحضرت علی ﷺ مجبوری معلومه وه اوبل طرف ته ورته دا هم معلومه وه چی دحضرت عثمان ﷺ په شهادت سره دمسلمانانو زړونه زخمی دی اودحضرت عثمان ﷺ دقاتلانو څخه دبدل په اخیستوکی چی کوم تاخیر کیږی که څه هم دا دامیر المومنین حضرت علی ﷺ دمجبوری په وجه دی اوپه دی سر بیره داچی دحضرت عثمان ﷺ قاتلان به دامیرالمؤمنین په مجلسونوکی هم شریکیدل ، کوم خلګ چی دامیرالمومنین دمجبوری څخه ناخبره وه ، هغوی ته په دی معامله کی د دوی څخه هم شکایت پیدا کیدی ، ممکنه وه چی دا ګیله او شکایت دبلی فتنی شروع جوړه نه سی ، په دی وجه دخلګو دپوهولو اوصبرکولو اوامیرالمومنین ﷺ ته دطاقت رسولو، دحکومت دانتظام مضبوطولو اوپه خپل مینځ کی دګیلواو شکایتونو دلیری کولو، دخلګو په مینځ کی داصلاح راوستلو په اراده سره دوی دبصری سفر اختیارکی، په دی سفرکی د دوی محرم (خور یی) حضرت عبدالله بن زبیر ﷺ وغیره د دوی سره ملګری وو، دخپل ددی سفر مقصد په خپله حضرت عائشی ﷺ دحضرت قعقاع ﷺ په مخکی بیان کړی وو، لکه چی مخ ته به راسی ، او ددی فتنی په وخت کی دمسلمانانو په مینځ کی داصلاح کار چی څومره اهم دینی خدمت وو هغه هم ښکاره دی ، په دی وجه که دمومنانو مور دبصری سفر دمحارمو سره د اوسپنی دپردی په هودج (داوښ په کجاوه) کی اختیار کی نو دا چی کوم شیعه ګانو او روافضو دیو طوفان په شکل کی پیش کړی دی ، چی دمومنانو مور دقرآن داحکامو خلاف ورزی وکړه ددی څه جواز کیدی سی .

مخ ته دمنافقانو اوفسادیانو شرارت چی کوم په خپلو کی دجنګ صورت اختیارکی ، ددی خیال هیڅکله هم دحضرت صدیقی ﷺ په وهم اوګمان کی نه وو ، ددی آیت دتفسیر دپاره صرف دومره کافی ده ، مخ ته دجنګ جمل دتفصیل داموقع نه ده ، مګر په لنډ ډول دحقیقت واضح کولو دپاره څو کرښی لیکل کیږی .

په خپل مینځ کی دفتنو اوجګړو په وخت کی چی کوم حالات په دنیا کی پیښیږی دهغه څخه څوک عقلمند غافله نه سی پاته کیدی ، دلته هم صورت داسی پیښ سو، چی دمدینی څخه دراغلو صحابه کرامو ﷺ په ملګرتیا کی دحضرت صدیقی ﷺ دبصری سفر منافقانو اومفسدانو دحضرت علی ﷺ په مخکی په خراب صورت کی داسی پیش کی ، چی دا ټول ځکه بصری ته څی چی دهغه ځای څخه لښکر راولی اوستا مقابله وکی ، که ته دوخت امیر یی نوستا فرض دی چی دافتنه دمخ ته تللو څخه مخکی هم دغه ځای ختمه کړی ، حضرت حسن ﷺ اوحضرت حسین ﷺ، حضرت عبدالله ابن جعفر ﷺ، حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ وغیره صحابه کرامو ﷺ ددی رایی څخه اختلاف هم وکی او مشوره یی دا ورکړه

Maktaba Tul Ishaat.com

چی ته د دوی مقابلی ته لښکر ترهغه وخته پوری مه لیږه، ترڅو پوری چی صحیح صورت حال معلوم نه سی ، مګر دبل طرف رایه ورکوونکی ډیروه ، حضرت علی ﷺ هم د دوی طرف ته مائله سو ، دلښکر سره را ووتی او دا شریان فتنه او بغاوت کوونکی هم ورسره را ووتل .

هرکله چی دا حضرات بصری ته نژدی ورسیدل نوحضرت قعقاع ﷺ یی دمومنانو مور ﷺ ته دحال معلومولو دپاره ولیږی ، هغه عرض وکی چی ای دمؤمنانو مورا ستاسی دلتې دتشریف راوړلو سبب څه دی ؟ نوحضرت صدیقه ﷺ وفرمایل ، اَیْ بُنَیَّ الاِصْلَاحُ بَیْنَ النَّاسِ، یعنی زماخوږه زویه زه دخلګوپه مینځ کی داصلاح په اراده سره دلته راغلی یم ، بیا حضرت طلحه (رض) اوحضرت زبیر ﷺ هم دحضرت قعقاع ﷺ مجلس ته راوغوښتل سوه ، حضرت قعقاع ﷺ د دوی څخه پوښتنه وکړه چی تاسی څه غواړی؟ هغوی عرض وکی چی دحضرت عثمان ﷺ په قاتلانو دشرعی حد جاری کولوڅخه ماسوا مونږ نور هیڅ نه غواړو، حضرت قعقاع ﷺ پوه کړل چی دا کار خوترهغه وخته پوری نه سی کیدی ، ترڅو پوری چی دمسلمانانو جماعت منظم اومستحکم نه سی ، په دی وجه په تاسی باندی لازمه ده چی ترهغه وخته پوری تاسی دمصالحت صورت اختیارکی .

دی مشرانو داخبره ومنله ، حضرت قعقاع ﷺ ولاړی اوامیر المومنین ﷺ ته یی ددی اطلاع ورکړه، هغه هم ډیر خوشحاله اومطمئن سو اوټولو خلګو دواپسی اراده وکړه او دری ورځی په دغه میدان کی په دی حال پاته سول چی هیڅاته په دی کی شک نه ﷺ چی اوس به په دواړو فریقوکی دمصالحت اعلان وسی اوپه ځلورمه ورځ سهار دا اعلان کیدونکی وو او دحضرت امیر المومنین ﷺ ملاقات دحضرت طلحه (رض) اوحضرت زبیر ﷺ سره کیدونکی وو، دحضرت عثمان ﷺ قاتلان په کی شریك نه وه، نو دا خبره په دی خلګو ډیره ګرانه سوه اودا منصوبه یی جوړه کړه چی اول دحضرت عائشی ﷺ ډلی ته ورسی اوقتل اولوټ مار په کی وکی چی هغوی اوملګری یی دا وګڼی چی دحضرت علی ﷺ دطرف څخه عهد شکنی وسوه ، او دا خلګ په دی غلط فهمی کی دحضرت علی ﷺ پرلښکر حمله وکی ، د دوی داشیطانی چال وچلیدی او دحضرت علی ﷺ په لښکرکی دشاملو فسادیانو دطرف څخه چی کله دحضرت صدیقه ﷺ پرډله حمله وسوه ، نوهغوی په دی ګڼلوکی حق بجانب وه چی دا حمله دحضرت علی ﷺ دلښکر دطرف څخه سوې ده او ددی جوابی کار روایی شروع سوه ، حضرت علی ﷺ چی دا حالات ولیدل نو دجنګ څخه ماسوا بله چاره نه وه اوکومه حادثه چی په خپل مینځ کی دجنګ جګړی پیښیدونکی وه پیښه سوه اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ،داواقعه صحیح دغه ډول طبری اونورو ثقه وو مؤرخینو دحضرت حسن ﷺ اوحضرت عبدالله بن جعفر ﷺ اوحضرت عبدالله بن عباس ﷺ وغیره په روایتونو سره نقل کړې ده (روح المعانی)

غرض دا چی دمفسدانو اومجرمانو دشرارت اوفتنو پورته کولو په نتیجه کی په دی دواړو مقدسو ډلو کی په غیر شعوری طور سره دجنګ واقعه پیښه سوه اوهرکله چی دا فتنه سره سوه نو دواړه حضرات په دی سخت غمجن سول ، حضرت عائشی ﷺ ته چی به دا واقعه وریاده سوه نو دومره به یی ژړل چی لوپټه به یی په اوښکو لنده سوه ، دغه شان حضرت علی ﷺ ته هم په دی واقعه سخته صدمه ورسیده ، دفتنی

Maktaba Tul Ishaat.com

سړیدو څخه وروسته دقتل سوو دلاشونو لیدلو دپاره یی تشریف یووړی نو خپل ورنونه به یی وهل اودا به یی فرمایل چی کاشکی! زه ددی واقعی څخه مخکی مړ سوی اوهیر سوی وای .

او په څینو روایتونوکی دی چی حضرت عائشی ﷺ به چی کله په قرآن کی دا ایت ، وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ : وایه نو ژړل به یی تردی چی لوپټه به یی په اوښکو لنده سوه «رواه عبدالله بن احمد فی زوائد الزهد وابن المنذر وابن شیبة عن مسروق . روح»

دذکرسوی آیت په ویلو ژړاپه دی وجه نه وه چی دقرار فی البیوت خلاف ورزی د دوی په نزد ګناه وه یا سفرمنع ووبلکه دکورڅخه په وتلوچی کومه ناخوښه واقعه اوسخته حادثه پیښه سوه په دی باندی طبعی رنج اوغم ددی سبب وو «داټول روایتونه اوپوره مضمون دروح المعانی څخه را اخیستل سوی دی»

﴿ پاکو بیبیانو ته دقرآن کریم څلورم اوپنځم هدایت ﴾

وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ : یعنی لمونځ قائم کی اوزکوٰة اداکی اوالله ﷻ او دهغه درسول اطاعت کوی ، دوه هدایتونه په تفصیل سره مخ ته تیر سوی دی ، یعنی دنورو سړو سره په خبرو کی دنرمی اونزاکت څخه ځان ساتل او دکورونو څخه بغیر دضرورت څخه نه وتل ، دری هدایتونه په دی کی راغلل ، دا ټول پنځه هدایتونه دی ، کوم چی دښځو دپاره ددین دمهماتو څخه دی .

﴿ داپنځه سره هدایتونه دټولو مسلمانانو دپاره عام دی ﴾

دذکرسوو هدایتونو په اخری هدایتونوکی خودهیڅاشك نه سی کیدی چی دا دپاکو بیبیانو دپاره خاص وی ، خودلمانځه زکوٰة اوالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ داطاعت څخه یومسلمان سړی اوښځه نه سی مستثنی کیدی اوباقی اولنی دوه هدایتونه کوم چی دښځو دپردی سره متعلق دی ، په لږشان فکر کولو سره دا هم واضح کیږی چی هغه هم دپاکو بیبیانو سره مخصوص نه دی ، بلکه دټولو مسلمانانو دښځو دپاره داحکم دی ، پاته سوه دا معامله چی ددی هدایتونو دذکر کولو څخه مخکی قرآن کریم دافرمایلی دی ، لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِنَ النِّسَاءِ إِنِ اتَّقَيْتُنَّ : یعنی پاکی بیبیانی دعامو ښځوپه شان نه دی که دوی تقوٰی اختیار کی ، ددی څخه په ظاهره تخصیص معلومیږی ، نوددی واضح جواب دا دی چی تخصیص داحکامو نه دی ، بلکه په احکامو باندی دعمل کولو داهتمام دی ، یعنی پاکی بیبیانی دعامو ښځوپه شان نه دی ، بلکه د دوی شان دټولوڅخه اعلی اولوړ دی ، په دی وجه کوم احکام چی پرټولو مسلمانانو ښځو باندی فرض دی دهغه اهتمام دوی ته دټولو څخه زیات کول په کار دی . والله تعالی اعلم

إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا : په تیروایتونوکی چی کوم هدایتونه پاکو بیبیانوته ورکول سوی دی هغه که څه هم د دوی دذات سره مخصوص نه دی،بلکه ټول امت ددی احکامو مکلف دی ، مګر پاکو بیبیانوته په کی خاص خطاب په دی وجه سوی دی چی دوی دخپل شان اودنبوت دکور مناسب ددی عملونو زیات اهتمام وکی ، په دی آیت کی ددی خصوصی خطاب حکمت ذکردی چی دعملونو داصلاح دخصوصی خطاب اوهدایت څخه دالله ﷻ په نزد مطلوب دا دی چی درسول ﷺ اهل بیت دګندګی څخه پاك کړی .

Maktaba Tul Ishaat.com

لفظ دَ، رِجْس : په قرآن کریم دډیرو معانیو دپاره استعمال سوی دی یوځای رجس دبتانو په معنٰی کی راغلی دی ، فَاجْتَنِبُوْا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ : اوکله رجس مطلق دګناه په معنٰی کی، کله دعذاب په معنٰی کی، کله دنجاست اوګندګی په معنٰی کی استعمالیږی، چی مطلب یی دا دی چی هرهغه شی کوم چی شرعًا یاطبعًا قابل نفرت ګڼل کیږی ، دغه رجس دی ، په دی آیت کی داعامه معنٰی مراده ده (بحرِ محیط)

(په آیت ګي داهل بیتو څخه څوک مراد دی؟)

په لوړو ایتونوکی دنبی کریم ﷺ بیبیانوته خطاب وو په دی وجه په صیغه دمونث سره خطاب وو دلته په اهل بیتوکی دپاکو بیبیانو سره د دوی اولاد اوپلاران هم دا خل دی ، په دی وجه یی صیغه دمذکر وفرمایله عَنْكُمْ ، وَيُطَهِّرَكُمْ او دتفسیر ځینو امامانو داهل بیتو څخه مراد صرف پاکی بیبیانی مقرری کړی دی ، حضرت عکرمه ؒ اومقاتل ؒ دافرمایلی دی اوسعید بن جبیر ؒ دحضرت ابن عباس ؓ څخه هم داروایت نقل کړی دی ، چی دوی په آیت کی داهل بیتو څخه مراد پاکی بیبیانی مقرر کړی دی اوپه دلیل کی یی راتلونکی آیت پیش کړی دی ، وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلٰى فِيْ بُيُوْتِكُنَّ (رواه ابن ابی حاتم وابن جریر) اوپه تیرو ایتونو کی دنساء النبی په الفاظو سره خطاب هم ددی قرینه ده ، حضرت عکرمه ؒ خوبه په بازارکی منادی کوله چی په آیت کی داهل بیتو څخه مراد پاکی بیبیانی دی ، ځکه چی داایت د دوی په شان کی نازل سوی دی اوفرمایل به یی چی زه په دی باندی مباهله کولوته تیار یم .

لیکن دحدیثو دیر روایتونه کوم چی ابن کثیر دلته نقل کړی دی ، په دی شاهد دی ، چی په اهل بیتوکی حضرت فاطمه ؓ اوحضرت علی ؓ اوحضرت حسن ؓ اوحضرت حسین ؓ هم شامل دی ، لکه دصحیح مسلم حدیث دحضرت عائشی ؓ په روایت سره دی ، چی یو وخت نبی کریم ﷺ دکورځخه دباندی تشریف یووړی اودغه وخت ده ﷺ یو تور رومی څادر په سرکړی وو، حسن بن علی ؓ راغی نو ده ﷺ هغه ؓ په دی څادرکی واخیستی بیاحسین ؓ راغی ، هغه یی هم په دی څادرکی واخیستی ، ددی څخه وروسته فاطمه ؓ اوبیاعلی ؓ راغلل ، هغه یی هم په دی څادرکی دننه کړل ، بیایی داایت تلاوت وفرمایی ، إِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيْرًا : اوپه ځینو روایتونو کی داهم دی چی دایت ویلو څخه وروسته یی وفرمایل ، اَللّٰهُمَّ هٰؤُلَاءِ اَهْلُ بَيْتِيْ (ابن جریر)

ابن کثیر ددی مضمون دډیرو معتبرو روایتونو نقل کولو څخه وروسته فرمایی چی په حقیقت کی په دی دواړو اقوالوکی کوم چی دتفسیر دامامانو څخه نقل دی ، هیڅ تضاد نسته، کومو خلګو چی داویلی دی چی دا ایت دپاکو بیبیانو په شان کی نازل سوی دی او داهل بیتو څخه دغه مراد دی دا ددی منافی نه ده چی نور حضرات دی هم په اهل بیتو کی شامل وی، په دی وجه صحیح دا ده چی په لفظ داهل بیتو کی پاکی بیبیانی هم داخلی دی ، ځکه چی شان نزول ددی آیت هم دغه دی او دشان نزول مصداق په آیت کی دا خلیدل دځه شبهی محتمل نه دی اوحضرت فاطمه ؓ حضرت علی ؓ حضرت حسن ؓ اوحسین ؓ هم دارشاد نبوی ﷺ مطابق په اهل بیتوکی شامل دی او ددی آیت څخه مخکی او وروسته دواړه ځایه دنساء النبی ﷺ په عنوان سره خطاب او د دوی دپاره یی صیغی دمؤنث استعمال کړی دی ، په تیرو

Maktaba Tul Ishaat.com

ایتونو کی دَ، فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ څخه تر اخره پوری صیغی دمؤنث استعمال سوی دی اومخته بیاپه ، وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَى، کی په صیغه دمؤنث خطاب سوی دی ، دا درمیانی آیت دمخکی او وروسته څخه پرېکول په صیغه دمذکر، عَنْكُمْ، او، يُطَهِّرَكُمْ، فرمایل هم پردی قوی شاهد دی ، چی په دی کی صرف بیبیانی داخلی نه دی څه سړی هم دی.

په ذکر سوی آیت کی چی یی دا فرمایلی دی چې، لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا: ظاهره ده چی ددی څخه مراد دا دی چی ددی هدایتونو په ذریعه به دشیطان دلمس، ګناهونو اوقباحتونو څخه الله ﷻ اهل بیت محفوظ وساتی اوپاك به یی کړی ، لنډه دا چی پاکوالی تشریعی مراد دی ، تکوینی پاکوالی کوم چی خاصه دانبیاؤ ده ، هغه مراد نه دی ، ددی څخه دانه لازمیږی چی دا ټول دی معصوم وی او د دوی څخه دی دانبیاؤ په شان څه ګناه صادریدل ممکن نه وی ، دتکوینی پاکوالی چی کومه خاصه ده ، شیعه ګانوپه دی آیت کی دجمهور امت څخه اختلاف کړی دی اول خو یی لفظ داهل بیت صرف داولاد او دعصبات رسول ﷺ سره دمخصوص کیدو اودپاکو بیبیانو (رض) یی د دوی څخه دخارج کیدو دعوی وکړه ، دوهم یی په ذکر سوی آیت کی دپاکوالی څخه مراد د دوی عصمت مقررکی اوهل بیت یی دانبیاؤ په شان معصوم کړل ، ددی جواب او دمسئلی مفصل بحث احقر په احکام القرآن سورة احزاب کی لیکلی دی ، په دی کی دعصمت تعریف او ددی دپیغمبرانو اوملائکو سره مخصوصوالی او د دوی څخه علاوه دبل چا څخه معلوم کیدل په شرعی دلیلونو سره واضح کړی دی ، عالمان یی هلته کتلی سی ، عوامو ته یی ضرورت نسته.

وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَى فِي بُيُوتِكُنَّ مِنْ آيَاتِ اللهِ وَالْحِكْمَةِ : دایت الله څخه مراد قرآن او دحکمت څخه مراد دنبی کریم ﷺ تعلیمات اوسنت رسول ﷺ دی ، لکه چی عامو مفسرینو دحکمت تفسیر دلته په سنتو سره کړی دی ، او دلفظ دَ، وَاذْكُرْنَ، دوه مطلبونه کیدی سی ، یو دا چی دا شیان په خپله یادول چی نتیجه یی په دی عمل کول دی ، دوهم دا چی کوم قرآن د دوی په کورنوکی د دوی په مخکی نازل سو یاکوم تعلیمات چی نبی کریم ﷺ دوی ته ورکړل دهغو ذکر دامت نورو خلګو ته وکی او دوی ته یی ورسوی.

فائده : ابن عربی په احکام القرآن کی فرمایی چی ددی آیت څخه داثابته سوه چی کوم سړی دنبی کریم ﷺ څخه دقرآن څه آیت یاحدیث واوری نو په هغه لازمه ده چی دامت ته ورسوی تردی چی پرپاکو بیبیانو باندی یی هم لازمه کړه چی کوم ایتونه دقرآن د دوی په کورنوکی نازل سی یاکوم تعلیمات چی دنبی کریم ﷺ څخه دوی ته حاصل وی دهغه ذکر دامت نورو افرادو ته وکی اودا دالله ﷻ امانت دوی ته ورسوی.

(دقرآن په شان دحدیثو حفاظت)

په دی آیت کی چی څنګه دقرآن دایتونو تبلیغ اوتعلیم په امت لازم کړی دی ، دغه شان لفظ دحکمت یی وفرمایی اودنبی کریم ﷺ داحادیثو تلیغ یی هم لازم کړی دی ، په دی وجه صحابه کرامو ﷺ ددی حکم تعمیل په هرحال کی کړی دی ، په صحیح بخاری کی دحضرت معاذ ﷺ دا واقعه چی دوی دنبی کریم ﷺ څخه یو حدیث واوریدی لیکن دایی دعامو خلګو په مخکی څکه بیان نه کی چی خطره وه چی خلګ به دا په دی درجه کی ونه ساتی اوپه څه غلط فهمی کی به اخته سی ، لیکن کله چی د دوی دوفات وخت

Maktaba Tul Ishaat.com

راغی نو خلگ یی جمع کړل او هغه حدیث یی ورته واوروی اووي فرمایل چی ما تردی وخته پوری په دینی مصلحت سره ددی ذکر چاته نه وو کړی ، مگر اوس دمرگ وخت نژدی دی ، په دی وجه دامت دا امانت دوی ته رسول غواړم په صحیح بخاری کی ددی الفاظ دا دی ، وَاَخبَرَ بِهٖ مُعَاذٌ عِنْدَ مَوْتِهٖ تَاثُّمًا، یعنی حضرت معاذ ﷺ دا حدیث خلگوته دوفات په وخت کی په دی وجه واوروی چی دی گناهگار نه سی چی دنبی کریم ﷺ حدیث یی خلگو ته ونه رسوی .

داواقعه هم په دی شاهده ده چی ددی قرانی حکم تعمیل تولو صحابه کرامو ﷺ واجب او ضروری گنی اوصحابه کرامو ﷺ حدیثونه په احتیاط سره خلگو ته درسولو اهتمام فرمایلی وو، نو داحادیثو حفاظت هم په یوه درجه کی دقرآن حفاظت ته نژدی نژدی سو، په دی معامله کی شبهی را ایستل په حقیقت کی په قرآن کی شبهی را ایستل دی ، والله سبحانه وتعالی اعلم .

إِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْقٰنِتٰتِ وَالصّٰدِقِيْنَ وَالصّٰدِقٰتِ

بیشکه مسلمانان سړی او مسلمانانی ښځی اوایماندار سړی اوایمانداری ښځی اوبندگی کوونکی سړی اوبندگی کوونکی ښځی اورښتنی سړی او رښتنی ښځی .

وَالصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰبِرٰتِ وَالْخٰشِعِيْنَ وَالْخٰشِعٰتِ وَالْمُتَصَدِّقِيْنَ

او صبر کوونکی سړی ، او صبر کوونکی ښځی ، او عاجزی کوونکی سړی اوعاجزی کوونکی ښځی اوخیرات کوونکی سړی

وَالْمُتَصَدِّقٰتِ وَالصَّآئِمِيْنَ وَالصّٰٓئِمٰتِ وَالْحٰفِظِيْنَ فُرُوْجَهُمْ

اوخیرات کوونکی ښځی،اوروژه نیونکی سړی اوروژه نیونکی ښځی اوحفاظت کوونکی سړی دخپلو شرمگاهونو

وَالْحٰفِظٰتِ وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّالذّٰكِرٰتِ اَعَدَّ اللّٰهُ

اوحفاظت کوونکی ښځی ، اویا دونکی سړی دالله ﷻ دیر او یادونکی ښځی ، تیاره کړی ده الله ﷻ

لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۳۵﴾

د دوی دپاره معافی اوثواب لوی .

لنډتفسیر: بیشکه داسلام کار کوونکی سړی اوداسلام کار کوونکی ښځی اوایمان راوړونکی سړی او ایمان راوړونکی ښځی دمسلمین اومسلمات په دی تفسیرسره داسلام څخه مراد دلمانځه، روژی، زکوة حج وغیره عملونه سول اوپه مومنین اومومنات کی دایمان څخه مراد عقیدی سوی ، لکه چی په صحیح بخاری اومسلم کی دحضرت جبرائیل ﷺ په پوښتنه دنبی کریم ﷺ څخه داسلام اوایمان متعلق هم دا جواب ورکول نقل دی) او فرمانبرداری کوونکی سړی اوفرمانبرداری کوونکی ښځی اورښتنی سړی اورښتنی ښځی (په دی رښتنوالی کی دقول رښتنوالی هم داخل دی اودعمل هم، اوپه ایمان اونیت کی

Maktaba Tul Ishaat.com

ربښتنوالی هم، یعنی نه د دوی په خبروکی څه درواغ وی اونه په عمل کی کم همتی اوسستی اونه ریاکاری یانفاق، اوصبرکوونکی سړی اوصبرکوونکی ښځی (په دی کی دصبر ټول قسمونه راغلل، یعنی په طاعتونو اوعبادتونو باندی ثابت قدم پاته کیدل او دنافرمانیوڅخه خپل نفس بندساتل اوپه مصیبتونو صبرکول) اوخشوع کوونکی سړی اوخشوع کوونکی ښځی (په لفظ دخشوع کی دلمانځه اوعبادت خشوع هم داخله ده ، چی زړه هم دعبادت طرف ته متوجه وی اودخپل اندامونه اوبندونه هم ددی مناسب ساتی اوپه دی کی عامه تواضع هم داخله ده کومه چی دتکبر مقابل ده ، یعنی دا خلګ دتکبر اوخپلی لویی څخه هم پاک دی اوپه لمانځه وغیره عبادتونوکی هم خشوع اوخضوع د دوی وظیفه ده) اوخیرات کوونکی سړی اوخیرات کوونکی ښځی (په دی کی زکوٰة اونفل صدقی ټولی شاملی دی) اوروژه ساتونکی سړی اوروژه ساتونکی ښځی اودخپل شرمګاه دحفاظت کولو والا سړی اوحفاظت کولو والا ښځی اوډیر دخدای یادونکی سړی اویادونکی ښځی (یعنی کوم چی دفرض ذکرونو څخه علاوه نفلی ذکرونه هم ادا کوی) ددی ټولو دپاره الله ﷻ مغفرت اولوی اجر تیار کړی دی.

معلومات اومسئلي

(دقرآن عام خطابونه سړوته دی اودښځو په کي ضمنًا دشاميلدو حکمت)

دقرآن په عامو احکامو کی سړی اوښځی دواړه شامل دی مګر په عام طور سره خطاب سړوته سوی دی ، ښځی په دی کی ضمنًا شاملی دی ، هرځای یی ، الفاظ استعمال کړی دی اوښځی یی ددی په ضمن کی مخاطبی کړی دی ، په دی کی اشاره ده چی دښځو ټولی معاملی پرستر اوپرده پوشی مبنی دی په دی کی د دوی اکرام اوعزت دی ، خصوصًا په ټول قرآن باندی چی فکر وسی نو معلومه به سی چی دحضرت مریم بنت عمران ؑ څخه ماسوا دهیڅ ښځی نوم په قرآن کی نه دی اخیستل سوی، بلکه چی ذکر یی راغلی دی نو دسړو په نسبت سره ، امرأة فرعون ، امراة نوح او امراة لوط په الفاظو سره تعبیر سوی دی دحضرت مریم ؑ خصوصیت به شاید دا وی چی دحضرت عیسیٰ ؑ نسبت دپلارطرفته نه سوای کیدی په دی وجه دمورطرف ته یی نسبت کول وو، ددی نسبت دپاره ددی نوم ظاهرسو، والله تعالی اعلم

دقرآن کریم دا اسلوب که څه هم په خپله پریولوی حکمت اومصلحت مبنی وو، مګر دښځو دی طرف ته خیال راتلل یوطبعی امروو، په دی وجه داحادیثو په کتابونوکی داسی ډیر روایتونه دی په کوموکی چی ښځو دنبی کریم ﷺ په خدمت کی دا عرض وکی چی مونږ وینو چی الله ﷻ هرځای دسړو ذکر په قرآن کی فرمایی او دوی مخاطب کوی، ددی څخه معلومه سوه چی په مونږ ښځوکی هیڅ خیر نسته، زمونږ بیړه ده چی زمونږ عبادت به هم قبول نه وی (رواه البغوی عن الازواج المطهرات) اوپه ترمذی کی په سند حسن دحضرت ام عماره انصاریه ؓ څخه اوپه څینو روایتونوکی دحضرت اسماء بن عمیس ؓ څخه دغه شان عرض پیش کول نقل دی ، او په دی ټولو روایتونوکی یی ددی ذکر سوو ایتونو دنزول سبب دا عرض مقرر کړی دی.

په ذکر سوو ایتونوکی یی دښځو ددلجویی او د دوی دعملونو دمقبولیت خصوصی ذکر وفرمایی او دا یی په کی وښوولە چی دالله ﷻ په نزد دمقبولیت اوفضیلت مدار په نیکو عملونو اودالله په عبادت دی

Maktaba Tul Ishaat.com

په دی کی دسړی اوښځی هیڅ امتیاز نسته.

(دالله ﷻ ډیر ذکر حکم او ددی حکمت)

داسلام ارکان پنځه عبادتونه دی، لمونځ روژه زکوٰة، حج، جهاد، لیکن په ټول قرآن کریم کی په دوی کی دیوعبادت په کثرت سره دکولوحکم نسته، مګر دالله ﷻ دذکرمتعلق دقرآن کریم په ډیروایتونوکی په کثرت سره دکولوارشاد دی، په سورة انفال، سورة جمعه او په دی سورة کی یی، وَالذّٰاكِرِينَ اللّٰهَ كَثِيرًا وَالذّٰاكِرَاتِ وفرمایل.

ددی حکمت غالبًا دا دی چی اول خو ذکر الله دټولو عبادتونو اصل روح دی، لکه چی دحضرت معاذ بن انس ﷺ په روایت کی راغلی دی چی یو سړی دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی په مجاهدینوکی دټولوڅخه زیات اجر اوثواب دچا دی؟ نووي فرمایل کوم چی دټولوڅخه زیات دالله ﷻ ذکرکوی، بیایی پوښتنه وکړه چی په روژه داروکی دچاثواب دټولوڅخه زیات دی؟ وي فرمایل کوم چی دټولوڅخه زیات دالله ذکر کوی، بیادغه شان یی دلمانځه، زکوٰة اوحج صدقی متعلق پوښتنه وکړل، په هروار باندی دوی ﷺ دا وفرمایل چی کوم دالله ﷻ ذکر زیات کوی، هغه دزیات اجر مستحق دی (رواه احمد از ابن کثیر)

دوهم هغه په ټولو عبادتونوکی دټولوڅخه زیات اسانه دی، شریعت هم ددی دپاره څه شرط نه دی ایښی، په اودس بی اودسه ناستی پروتی اوولاړی ګرځیدو، په هروخت کی دالله ﷻ ذکرکول کیږی دانه دانسان څخه څه محنت غواړی نه فرصت، اواثر اوفائده یی دومره عظیمه ده چی دذکر الله په ذریعه ددنیا کار هم دین اوعبادت جوړیږی، دخوراك څخه مخکی او وروسته دعا، دکورڅخه دوتلواوبیرته راتللو دعاګانی په سفردتلو، دسفر په دوران کی او دسفرڅخه کورته په واپسی کی دعاګانی، دځه کار اوبارکولوڅخه مخکی او وروسته دنبی کریم دتعلیم کړو دعاګانو مطلب هم دا دی چی مسلمان په هیڅ وخت کی هم دالله ﷻ څخه په غفلت کی څه کار ونه کی اوچی دغه ماثوره دعاګانی په خپلو کارونوکی وایی نو دغه ددنیا کارونه به یی هم دین جوړیږی.

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُولُهٗٓ أَمْرًا أَنْ يَّكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ

او نه دی لائق یو ایماندار سړی او ایمانداری ښځی لره کله چی مقررکړی الله او دهغه رسول څه کار چی دوی ته وی اختیار

أَمْرِهِمْ ۗ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُولَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِينًا ﴿٣٦﴾

دخپل کار، او چاچی نافرمانی وکړه دالله او دهغه درسول څخه نو هغه بی لاری سو په بی لاری کیدو ښکاره

وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِيٓ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ

اوهرکله چی تا وویل هغه سړی ته په کوم چی الله ﷻ احسان وکی او تا احسان پر وکی پاته کړه دخپل ځان سره

Maktaba Tul Ishaat.com

زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللّٰهَ وَتُخْفِيْ فِيْ نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ

خپله بی بی اوبیره وکړه دالله ﷻ څخه او تاپتوی په خپل زړه کی یو شی کوم چی الله ﷻ ښکاره کول غواړی

وَتَخْشَى النَّاسَ ۚ وَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشٰىهُ ۭ فَلَمَّا قَضٰى

او بیریدی د خلقو څخه ، او دالله ﷻ څخه زیاته په کار ده بیره تا ته ، بیا چی هرکله زید تمام کی

زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنٰكَهَا لِكَيْ لَا يَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ

دهغه ښځی سره خپل غرض مونږ هغه ستا په نکاح کی در کړه چی پاته نه سی په مسلمانانو گناه

فِيْٓ اَزْوَاجِ اَدْعِيَاۗىِٕهِمْ اِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا ۭ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ

په نکاح کولو کی د خپلو متبنی د ښځو سره ، هرکله چی هغوی پوره کړی د هغوی سره خپل غرض او دی دالله حکم

مَفْعُوْلًا ۝ مَا كَانَ عَلَى النَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيْمَا فَرَضَ اللّٰهُ لَهٗ ۭ

پوره کول ، نسته څه باك په نبی باندی په دی خبره کی کومه چی مقرر کړه الله ده د ده پاره ،

سُنَّةَ اللّٰهِ فِي الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ۭ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ قَدَرًا

لکه چی دستور پاته سوی دی دالله په هغو خلقو کی کوم چی تیر سوی دی مخکی ، او دی حکم دالله ﷻ مقرر

مَّقْدُوْرَۨا ۝ الَّذِيْنَ يُبَلِّغُوْنَ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ وَيَخْشَوْنَهٗ وَلَا يَخْشَوْنَ

ثابت ، هغه خلق کوم چی رسوی پیغام دالله ﷻ اوبیربږي دده څخه او نه بیربږي دچا څخه

اَحَدًا اِلَّا اللّٰهَ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ۝

ما سوا دالله ﷻ څخه ، اوپوره دی الله ﷻ کفایت کوونکی .

لنډتفسیر: او یو ایماندار سړی اویوې ایمانداری ښځی ته لائق نه دی هرکله چی الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ دخه کار(که څه هم هغه ددنیا څه خبره ولی نه وی وجوبًا) حکم ورکړی چی (بیا) دغو (مومنانو) ته د دوی په دغه کارکی څه اختیار (باقی) پاته سی (یعنی ددی اختیار څه گنجائش نه پاته کیږی چی برابره خبره ده که ویی کړی یایی ونه کړی، بلکه عمل کول پر واجبیږی) اوکوم سړی چی (وروسته دوجوبی حکم څخه) دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ خبره ونه منی هغه په صریح گمراهی کی پریوتی او (هغه وخت یادکی) کله چی تاسی (په پوهولو اومشوره سره) هغه سړی ته فرمایل په کوم چی الله ﷻ هم انعام وکی (چی داسلام

Maktaba Tul Ishaat.com

توفیق یی ورکی کوم چی دینی انعام دی او دغلامی څخه یی ازادکی چی دنیوی نعمت دی) اوتاهم انعام پروکی (دینی تعلیم دی ورته وفرمایی اوازاد دی کی او دترور لور دی ورته په نکاح کړه، مراد ورڅخه حضرت زید ﷺ دی چی تا دی پوهوی) چی خپله بی بی (زینب ﷺ په خپله بنڅوالی کی پاته کړه (او ددی په معمولی خطاګانو باندی نظر مه کوه اوکله چی ددی سره ناموافقه کیږی) او دخدای څخه وبیریږه (اوددی په حقوقو کی هم کوتاهی مه کوه چی هسی نه ددی سره دی ناموافقت پیدانه سی) او(کله چی شکایتونه دحدڅخه زیات سوه اوپه قرائنو سره داصلاح اوموافقت امیدپاته نه سو، نودغه وخت دپوهولو سره) تاسی په خپل زړه کی هغه خبره (هم) پټه کړی وه دکومی چی الله ﷻ (په اخرکی) ظاهرونکی وو (مراد ددی څخه دحضور ﷺ نکاح ده دحضرت زینب سره کله چی زید ﷺ دی ته طلاق ورکی کوم چی حق تعالی په، زَوَّجْنٰكَهَا ، کی قَولاً اوپه خپله په نکاح کولو سره فعلاً ظاهره وفرمایله) او (ددی مشروط اومعلقی ارادی سره) تاسی دخلګو (دطعن) څخه (هم) بیره کول (څکه چی دغه وخت په دی نکاح کی څه دینی اهم مصلحت په ذهن کی به نه وو راغلی محض دنیوی اندیښه کیدل څه باك نه لری، بلکه په څینو حیثیتونو سره مطلوب دی ، کله چی په اعتراض سره دنورو ددین دخرابی احتمال وی او د دوی دهغه څخه محفوظ کول مقصود وی) اوبیریدل خوتاسی ته دخدای څخه زیات لائق دی (یعنی چونکی په واقع کی په دی کی دینی مصلحت دی ، لکه چی مخ ته په، لِكَيْ لَا يَكُوْنَ الخ، کی ذکردی ، په دی وجه دخلګو څخه بیره مه کوی ، چنانچی وروسته ددینی مصلحت داطلاع څخه بیا دوی څه اندیښه ونه کړه اوپه اراده دنکاح کی بیره کول څه چی وروسته دنکاح څخه یی هم بیره ونه کړه چی قصه یی مخ ته راځی چی) بیاکله زید ﷺ ددی څخه (زینب ﷺ څخه) زړه مورکی (یعنی طلاق یی ورکی اوعده یی هم تیره سوه نو) مونږ ستاسی سره ددی نکاح وکړه چی پرمسلمانانو باندی دخپلی خولی ویلو دزامنو دبیبیانو (دنکاح) په باره کی څه تنګی پاته نه سی کله چی هغه (دخولی ویلو زامن) دهغوی څخه خپل زړونه ماړه کړی (یعنی طلاق ورکی، مطلب دا دی چی ددی شریعت اظهار مقصود وو) او دخدای داحکم خو کیدونکی وو (څکه چی حکمت ددی مقتضی وو، مخته دطعن جواب دی چی) ددی پیغمبر دپاره خدای ﷻ چی کومه خبره (تکوینًا یا تشریعًا) مقرره کړی وه ، په دی کی پرنبی څه الزام (اودطعن خبره) نسته، الله ﷻ دهغه (پیغمبرانو) په حق کی (هم) دا معمول جاری ساتلی دی کوم چی مخ ته تیرسوی دی (چی دوی ته دکوم کار اجازه وی ، بی تکلفه دوی هغه کوی اوطعن نه دی پرسوی ، دغه شان په دی نبی هم اعتراض نسته) او (ددغو پیغمبرانو هم چی ددی قسم څخه څومره کارونه وی ددغو ټولو په باره کی هم) دالله ﷻ حکم تجویز سوی (دمخکی څخه) وی (اودهغه موافق بیا دوی ته حکم کیږی اوهغه عمل کوی، شاید د دوی په قصه کی دا مضمون راوړل اوبیا دانبیاؤ په تذکره کی دامکرر راوړل دی طرف ته اشاره ده چی داسی کارونه په شان دټولو تکوینی کارونو دداسی حکمت متضمن وی چی مخکی په علم الهی کی تجویز سوی وی بیاپه نبی ﷺ طعن کول په الله ﷻ طعن کول دی په خلاف دهغه کارونو څخه پرکومو په خپله حق تعالی ملامتیا وفرمایی که څه هم چی دغه هم دمقدر والی په وجه دحکمت متضمّن وی مګر محل دملامتیا کیدل یی دلیل دی چی داخرابی هم لری ، په دی وجه ددی مفاسدو په اعتبار سره په دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

نکیر جائز دی ، مخ ته یو خاص مدح ده ددغو پیغمبرانو چی د دوی تسلی وسی یعنی) دا ټول (تیر سوی پیغمبران) داسی وه چی دالله ﷻ احکام به یی رسول (که په قولی تبلیغ به مامورہ سول نو قولی اوکه په فعلی تبلیغ به مامورہ سول نو فعلی) او (په دی باب کی) دالله ﷻ څخه به بیریدل اودالله ﷻ څخه ماسوا به دبل چا څخه نه بیریدل (نو تاسی ته هم ترڅو چی معلومه نه وه چی دا نکاح فعلی تبلیغ دی ، نو په داسی قسم فعلی تبلیغ نه کولوکی څه باك نسته لیکن تاته چی کله دا خبره معلومه سوه نو اوس تاسی هم څه اندیښنه مه کوی ځکه چی مقتضا ده دشان درسالت نوچنانچی ددی خبری دښکاره کیدو څخه وروسته دوی اندیښنه نه کوله ، اوسره ددی چی په خپله دوی ته درسالت په تبلیغ کی دچا څخه بیره نه ده پیښه سوی ، نه ددی احتمال وو ، بیاهم دپیغمبرانو قصه اورول دزړه دزیات قوی کولو دپاره دی) او (د دوی دزیاتی تسلی دپاره فرمایی چی) الله ﷻ (دعملونو) دحساب اخیستو دپاره کافی دی (بیا دچا څخه بیره دڅه ده ، دا رنګه پرتا طعن کوونکو لره به هم سزا ورکی تاسی په طعن سره غمجن کیږی مه)

معلومات اومسئلي: داخبره مخ ته څو واره معلومه سوي ده چی په سورة احزاب کی زیات ترهغه احکام دی دکوموتعلق چی دنبی کریم ﷺ دتعظیم ، محبت اومکمل اطاعت سره یادوی ته دڅه قسم ازار اوتکلیف رسولودممانعت سره دی ، داذکر سوی ایتونه هم ددی سلسلی دڅو واقعاتو سره متعلق نازل سوی دی .

یوه واقعه دا پیښه سوه چی حضرت زیدبن حارثه ﷺ دیوه سړی غلام وو دجاهلیت په زمانه کی نبی کریم ﷺ دی دعکاظ بازار څخه اخیستی وو ، هغه وخت کم عمره هم وو ، حضور ﷺ داخیستو څخه وروسته دی ازاد کی او دا شرافت یی ورته وبخښی چی دعربو دعام رواج مطابق یی دی خپل متبنّی زوی جوړکی او پرورش یی وکی ، په مکه مکرمه کی به دی دزید بن محمد ﷺ په نوم باندی بلل کیدی قرآن کریم دجاهلیت دا رسم غلط کی او ددی منع یی وکړه چی متبنّی ته ددغه سړی زوی مه وایاست اوحکم یی وکی چی دده نسبت دخپل اصلی پلار طرف ته کوی ، په دی سلسله کی هغه ایتونه نازل سول کوم چی په دی سورة کی اول راغلی دی ، اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَآئِهِمْ، ددی احکامو دنازلیدو څخه وروسته صحابه کرامو رضی الله عنهم ده ته زید بن محمد (ﷺ) ویل پریښوول او دده نسبت به یی دده پلار حارثه طرف ته کوی .

یوه لطیفه: په ټول قرآن کی دانبیاء څخه ماسوا دلویو څخه دلوی صحابی هم نوم نه دی ذکر سوی بغیر دزیدبن حارث ﷺ څخه ، ددی حکمت څینی حضراتو دا بیان کړی دی چی دده دپلاروالی نسبت په حکم دقران دنبی کریم ﷺ څخه پرې سو نو دده دیولوی اعزازڅخه محرومی وسوه ، الله ﷻ ددی بدل داسی ورکی چی په قرآن کی یی دده نوم ذکر وفرمایی ، اولفظ دزید دقرآن دیو لفظ والی په حیثیت سره دده په هرلفظ باندی دحدیث دوعدی مطابق لس نیکی په عملنامه کی لیکل کیږی ، دده نوم چی کله په قرآن کی وویل سی نو صرف دده په نوم اخیستو دیرش نیکی ورکول کیږی .

نبی کریم ﷺ به هم دده اکرام فرمایی ، حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایی چی حضور ﷺ به چی کله په یوه لښکر کی دی لیږی نو دلښکر امام به یی دی جوړوی (ابن کثیر)

خبرداری : دا وو په اسلام کی دغلامی حقیقت چی دده تعلیم او تربیت یی وکی چی دصلاحیت خاوند ثابت سو نو دپیشوایانو درجه یی ورکړه .

Maktaba Tul Ishaat.com

زید بن حارثه ﷺ چی څوان سو نونبی کریم ﷺ دده دنکاح دپاره دخپلی ترور دلور حضرت زینب بنت جحش ﷺ انتخاب وفرمایی دنکاح پیغام یی ورکی ، په حضرت زید ﷺ چونکی دا عرفی عیب لګیدلی وو چی ازاد سوی غلام وو، حضرت زینب ﷺ او ددی ورور عبد الله بن جحش ﷺ ددی دوستی څخه انکار وکی چی مونږ په اعتبار دخاندان اونسب دده څخه اشرف یو .

په دی واقعه دا ایت نازل سو، وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ الاية : په دی کی دا هدایت سوی دی چی کله نبی کریم ﷺ چاته دځه کار حکم په طور دوجوب ورکی نو په ده دغه کار کول واجب سی ، ددغه کار دنه کولو اختیار شرعًا نه پاته کیږی ، که څه هم فی نفسه دغه کار واجب اوضروری نه وی ، مګر چاته چی دوی حکم ورکی دده په ذمه لازم او واجب سی اوځوك چی داسی نه کوی ، دایت په اخر کی یی دی ته ښکاره ګمراهی فرمایلی ده .

دا ایت چی حضرت زینب بنت جحش ﷺ او ددی ورور واوریدی نو دخپل انکار څخه واپس سوه او په نکاح راضی سوه ، هم دارنګه دا نکاح یی وکړه ددی مهر نبی کریم ﷺ دخپل طرف څخه ادا کی ، کوم چی لس دیناره سره (چی تقریبًا څلور تولی سره وی) او شپیته درهمه (چی تقریبًا اتلس تولی سپین زر وی) او یو دباربرداری حیوان اوپوره زنانه جوړه او پنځوس مُده اوړه (یعنی تقریبًا دری څلویښت سیره) اولس مده (اته نیم سیره دیرش ماشی) خرماوی وی (ابن کثیر)

ددی آیت دنزول مشهوره واقعه دجمهورو مفسرینو په نزد دا دحضرت زید ﷺ او زینب بنت جحش ﷺ دنکاح قصه ده (ابن کثیر، قرطبی، مظهری)

ابن کثیر وغیره مفسرینو دغه شان دوې واقعی نوری هم نقل کړی دی په هغه کی هم دا ذکر دی چی ذکر سوی آیت ددی واقعو متعلق نازل سوی دی ، یوه واقعه دحضرت جُلَيْبِيب ﷺ واقعه ده چی ده دوستی دیو انصاری صحابی ﷺ دلور سره کول غوښتل نو دغه صحابی او دده کورواالاؤ ددی دوستی اونکاح څخه انکار وکی ، کله چی دا ایت نازل سو نو ټول راضی سول اونکاح یی وکړه ، نبی کریم ﷺ د دوی دپاره درزق دفراخی دعا وفرمایله ، دصحابه کرامو ﷺ بیان دی چی الله ﷻ د دوی په کورکی داسی برکت کښېښووی چی دمدینی طیبی په ټولو کورونوکی زیات صفا اولوی خرڅ ددی کور وو ، وروسته بیا حضرت جُلَيْبِيب ﷺ په یو جهاد کی شهید سو، نبی کریم ﷺ دده تجهیز اوتکفین په خپلومبارکو لاسونو سره وفرمایی .

دغه شان یوه واقعه دحدیثوپه روایتونوکی دام کلثوم ﷺ بنت عقبه بن ابی معیط نقل ده (ابن کثیر. قرطبی) اوپه دی کی هیڅ تضاد نسته کیدی سی چی دغه شان دیر واقعات دایت دنزول سبب جوړسوی وی .

(په نکاح کي دنسبي کفو درعايت حکم او ددی درجه)

(په ذکر سوی نکاح کی دحضرت زینب بنت جحش او ددی ورور عبدالله چی کوم دزید بن حارثه سره نکاح په اوله کی نامنظوره کړی وه ، ددی وجه په دی دواړو کی دخاندانی اونسبی کفائت اومماثلت نستوالی وو او دا وجه شرعًا په خپله مطلوب ده او دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی دانجونو نکاح ددوی په کفو کی کول جائز دی (چی تحقیق به یی مخ ته راسی) په دی وجه دلته دا سوال پیدا کیږی ، چی په دی

Maktaba Tul Ishaat.com

معامله کی دحضرت زینب ﷺ او ددی د ورور عذر ولی قبول نه سو ؟
جواب دا دی چی په دینی اعتبار سره کفاءت اومماثلت په نښه اوخاوند کی خولازم او ضروری دی ، دچا مسلمانی انجلی دکافر سره نکاح په اجماع دامت باندی حلاله نه ده ، که څه هم انجلی په دی باندی راضی وی ، ځکه چی دا صرف دنبځی حق نه دی ، کوم چی ددی په رضا مندی سره ساقط سی ، بلکه دالله ﷻ حق او دالله ﷻ فرض دی ، په خلاف دنسبی اومالی کفاءت چی دا دانجیلی حق دی او دخاندانی کفاءت په حق کی دانجیلی سره ددی اولیاء هم شریك دی که څوك عاقله بالغه انجلی دمالدار خاندان څخه دکیدو باوجود دیو غریب فقیر سره په نکاح راضی سی اوخپل حق ساقط کړی نو دی ته اختیار دی او په خاندانی کفاءت کی انجلی او ددی اولیاء تول دا حق دیو بل مهم مصلحت په خاطر پریږدی او دیو داسی سړی سره په نکاح راضی سی کوم چی دنسب اوخاندان په اعتبار سره د دوی څخه په کمه درجه کی دی نو دوی ته ددی حق سته ، بلکه ددینی مصلحت ترمخه دا حق پریښوول محمود اومطلوب دی ، په دی وجه نبی کریم ﷺ په ډیرو مواقعوکی دا حق دنظر انداز کولو او ددینی مصلحت په وجه دنکاح کولو مشوره ورکړه .
او دقرآن کریم په وضاحتونو سره دا خبره ثابته ده چی دنبی کریم ﷺ حق پرنبځو اوسرو دتولوځخه زیات دی ، بلکه د دوی دنفس څخه هم زیات دی ، لکه چی دقرآن کریم ارشاد دی ، اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ : یعنی دنبی کریم ﷺ حق په مومنانو د دوی دخپلو نفسونوځخه هم زیات دی ، په دی وجه دحضرت زینب ﷺ اوعبدالله ﷺ په معامله کی کله چی نبی کریم ﷺ دنسبی کفاءت حق نظر انداز کی ، دحضرت زید بن حارثه (رض) سره یی دنکاح منظورولو حکم ورکی نو د دوی فرض وو چی ددی حکم په مخکی یی دخپلی رایی اوخپل نفس حق پرهیښی وای په دی وجه ددوی پرانکاردقرآن کریم داحکم نازل سو .
پاته سوه دا مسئله چی کله نسبی کفاءت دنبی کریم ﷺ په نزد قابل رعایت دی نو په خپله دوی ددی رعایت ولی ونه فرمایی ، نو ددی جواب هم دذکر سوی تقریر څخه واضح سو ، چی دا رعایت دنورو دینی مصلحتونو په مقابله کی دپریښوولو قابل دی دنبی کریم ﷺ په مبارکه زمانه کی ډیری نکاحی دغه شان په غیر کفوکی ددی قسم دینی مصلحتونو پر بنا سوی دی ، ددی څخه پراصل مسئله څه اثر نه لویږي .
دکفاءت مسئله : نکاح یوه داسی معامله ده چی په دی کی که دزوجینو په طبیعتونو کی موافقت نه وی نو دنکاح په مقاصدوکی خلل راځی ، دیو بل دحقونو په ادا کولوکی خلل راځی ، په خپل مینځ کی جنګ جګړی پیدا کیږی ، په دی وجه په شریعت کی کفاءت یعنی په خپل مینځ کی دمماثلت درعایت کولو حکم ورکول سو مګر ددی مطلب دا نه دی چی څوك داعلی خاندان سړی دی دځان څخه کم خاندان والا سړی رذیل یاذلیل ګڼی ، دذلت او عزت اصل مدارپه اسلام کی تقوی اودینداری ده چی په دی کی داشی نسته ، خاندانی شرافت چی ده ته هرڅومره حاصل وی ، دالله ﷻ په نزد ددی هیڅ حیثیت نسته ، صرف انتظامی معاملات دبرابر ساتلو دپاره په نکاح کی دکفاءت درعایت حکم ورکول سوی دی .
په یوحدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی دانجونو نکاح دهغوی داولیاؤ په ذریعه کول په کار دی

Maktaba Tul Ishaat.com

(یعنی بالغی انجلی ته دا مناسب نه دی چی دخپل نکاح معامله په خپله سرته ورسوی ، دحیاء تقاضا دا ده چی دا کار ددی مور اوپلار اواولیاء وکی اوفرمایی چی دانجلی نکاح د دوی په کفوکی کول په کار دی ، ددی حدیث سند که څه هم ضعیف دی ، مگر داصحابو کرامو ﷺ داثارو اواقوالو څخه ددی په تائید کیدو سره حدیث ددلیل نیولو قابل جوړیږی ، امام محمد رحمه الله په کتاب الاثارکی دحضرت فاروق اعظم ﷺ دا قول نقل کړی دی چی ، زه داحکم جاری کوم چی دیولوی اومعروف خاندان دانجلی نکاح دی دبل کمی درجی والا سره نه سی کیدی ، دغه شان حضرت عائشی ﷺ هم ددی تاکید فرمایلی دی چی په نکاح کی دی دکفاءت رعایت کول کیږی ، کوم چی په ډیرو سندونو سره نقل دی ، امام ابن همام ﷺ هم په فتح القدیرکی ددی تفصیل لیکلی دی .

لنډه دا چی په نکاح کی دکفاءت اومماثلت رعایت کول په دین کی مطلوب دی چی په ښځه اوخاوند کی موافقت وی ، لیکن که څه بل مهم مصلحت ددی کفاءت څخه زیات مخ ته راسی نوښځی او ددی اولیاؤ ته خپل داحق پریښوول اوپه غیرکفوکی نکاح کول هم جائزدی ، خاصکر کله چی څه دینی مصلحت پیش نظر وی نوداسی کول ښه اوبهتره دی، لکه چی دصحابه کرامو ﷺ په ډیرو واقعاتوسره ددی څخه داهم معلومه سوه چی په دی واقعاتوسره داصلی مسئلی دکفاءت نفی نه سی کیدی.والله تعالی اعلم

دوهمه واقعه : دحضرت زینب بنت جحش ﷺ نکاح دنبی کریم ﷺ په حکم سره دحضرت زیدبن حارثه (رض) سره وسوه ، مگر د دواړو موافقت په طبیعتونو کی را نه غی ، حضرت زید ﷺ به ددی دتیز زبانی او دنسبی شرافت په بنا خپل ځان دلوړ ګڼلو او په اطاعت کی دکوتاهی کولو شکایت کوی ، بل طرف ته نبی کریم ﷺ ته په ذریعه دوحی دا ښوول سوی وه چی زید ﷺ به دی ته طلاق ورکوی اوبیابه داستاپه نکاح کی راځی ، یوه ورځ حضرت زید ﷺ دا شکایتونه دنبی کریم ﷺ په مخکی پیش کړل اوخپله دا اراده یی ظاهره کړه چی دی ته طلاق ورکی ، نبی کریم ﷺ ته که څه هم دالله ﷻ دطرف څخه دا معلومه سوی وه چی واقعه هم دغسی پیښیدونکی ده چی زید ﷺ به دی ته طلاق ورکی دنبی کریم ﷺ په نکاح کی به دا راسی ، لیکن په دوو وجهو سره حضور ﷺ حضرت زید ﷺ دطلاق ورکولو څخه منع کی، اول داچی طلاق ورکول که څه هم په اسلامی شریعت کی جائز دی مگر ښه نه دی ، بلکه په جائزو شیانوکی دټولوڅخه زیات مبغوض اومکروه دی ، اوپه تکوینی طورسره دیوکار واقع کیدل تشریعی حکم نه متاثره کوی ، دوهم په زړه مبارك کی یی دا خیال پیدا سو چی که حضرت زید ﷺ طلاق ورکی اوبیادحضرت زینب ﷺ سره د دوی نکاح وسی نو عرب به دخپل جاهلیت دستور مطابق دا طعن ورکوی چی دخپل زوی دښځی سره یی نکاح وکړه که څه هم قرآن کریم دجاهلیت دا دستور دسورة احزاب په تیرو سوو ایتونو سره ختم کړی دی ، ددی څخه وروسته چا مومن ته خو ددی وسوسی خطره هم نه وه ، مگر کفار کومو چی قرآن نه منی ، هغوی دخپل جاهلانه رسم یعنی متبنّی زوی په ټولو احکاموکی دحقیقی زوی په شان ګڼلو په بنا ژبی په طعن باندی چلوی ، دا اندیښه هم دحضرت زید ﷺ دطلاق ورکولو څخه دمنع کولو سبب جوړه سوه ، په دی باندی دالله ﷻ دطرف څخه محبوبانه عتاب دقرآن په دی ایتونوکی نازل سو.

.....

Maktaba Tul Ishaat.com

وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللهَ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَاهُ : یعنی ته هغه وخت یاد کړه کله چې تاویل هغه سړی ته په کوم چې الله ﷻ انعام وکی اوتاهم انعام پروکی ، مراد ددی سړی څخه حضرت زید ﷺ دی ، په کوم چې الله ﷻ اول انعام خو دا وفرمایی چې دی یی په اسلام مشرف کی ، دوهم ستادمجلس شرف یی ورکی ، اوتا په ده یوانعام خو دا وکی چې دغلامی څخه دی ازادکی ، دوهم دا چې دده تربیت دی وکی او داسی دی کی چې لویو لویو صحابه ؤ رضی الله عنهم به هم دده تعظیم کوی مخ ته یی هغه قول نقل کی کوم چې تاسی ﷺ زید ﷺ ته وفرمایی ، أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللهَ : یعنی خپله بی بی په خپل نکاح کی وساته ، طلاق مه ورکوه اودخدای څخه وبیریږه ، دخدای څخه دبیری حکم دلته په دی معنی کی هم کیدی سی ، چې طلاق یو مبغوض اومکروه فعل دی ، ددی څخه څان وساته اوپه دی معنی کی هم کیدی سی چې په نکاح کی دساتلو وروسته دطبعی نفرت په وجه ددی دحقونو په ادا کولوکی کوتاهی مه کوه ، د دوی دافرمایل په خپل څای صحیح او درست وه ، مګر دالله ﷻ دطرف څخه دکیدونکی واقعی دعلم راتلو اوپه زړه کی دحضرت زینب ﷺ سره دنکاح دارادی پیداکیدو څخه وروسته حضرت زید ﷺ ته دطلاق نه ورکولونصیحت یوقسم رسمی اظهار دخیر خواهی په درجه کی وو کوم چې درسالت دشان مناسب نه وو ، خصوصاً په دی وجه چې ددی سره دخلګو دطعنو بیره هم شامله وه ، په دی وجه په ذکرسوی آیت کی عتاب په دی الفاظو سره نازل سو چې تاسی په زړه کی هغه خبره پټوله دکومی چې الله ﷻ ښکاره کوونکی وو ، کله چې دالله ﷻ دطرف څخه دحضرت زینب ﷺ سره ستاسی دنکاح خبر درکول سو اوستا په زړه کی اراده دنکاح پیدا سوه او دا اراده دی پټه کړه ، داسی رسمی خبری اتری کومی چې ستاسی سره مناسب نه وی ، کولی دی او دخلګو څخه دبیری کولو په باره کی یی وفرمایل چې ته دخلګو څخه وبیریدی ، حال دا دی چې بیره خوتاته دالله ﷻ دطرف څخه کیدونکی ده یعنی کله چې تاته دا معلومه وه چې دا معامله دالله ﷻ دطرف څخه کیدونکی ده او دهغه دطرف څخه په دی کی څه بیره ترهه نسته نوبیا محضی دخلګو دطعنو څخه دبیریدلو په وجه تاسی ته داسی خبری کول مناسب نه وو .

ددی واقعی چې کوم تفصیل لوړ لیکل سوی دی ، دا ټول دتفسیر ابن کثیر ، قرطبی اوروح المعانی څخه را اخیستل سوی دی ، او دایت ، وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللهُ مُبْدِيهِ : داتفسیر ، چې هغه شی کوم چې تاپه زړه کی پټوی هغه دا اراده وه چې حضرت زید ﷺ طلاق ورکی نو دحکم الهی مطابق به تاسی ددی سره نکاح کوی ، دا تفسیر حکیم ، ترمذی او ابن ابی حاتم وغیره محدثینو دحضرت علی بن حسین زین العابدین په روایت سره نقل کړی دی چې الفاظ یی دا دی ، اَوْحَى اللهُ تَعَالَى اِلَيْهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّ زَيْنَبَ سَتُطَلِّقُهَا زَيْدٌ وَتَتَزَوَّجُهَا بَعْدَهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ (روح ازحکیم ، ترمذی) یعنی الله ﷻ نبی کریم ﷺ ته په ذریعه دوحی دا اطلاع ورکړه چې حضرت زینب ﷺ ته حضرت زید ﷺ طلاق ورکوونکی دی او بیابه دا ستاسی په نکاح کی راځی .

او ابن کثیر دابن ابی حاتم په حواله سره دا الفاظ نقل کړی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

انَّ اللهَ أَعْلَمَ نَبِيَّهُ أَنَّهَا سَتَكُوْنُ مِنْ أَزْوَاجِهِ قَبْلَ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا، فَلَمَّا أَتَاهُ زَيْدٌ لِيَشْكُوَهَا إِلَيْهِ قَالَ: اتَّقِ اللهَ، وَأَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ، فَقَالَ: قَدْ أَخْبَرْتُكَ أَنِّيْ مُزَوِّجُكَهَا، وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللهُ مُبْدِيهِ.

یعنی الله ﷻ خپل نبی ته ښوولی وه چی حضرت زینب ﷺ به هم په پاکو بیبیانوکی دا خلیږی ، بیاچی کله زید ﷺ ددی څخه شکایت د دوی په خدمت کی وکی نو تاسی وفرمایل چی دالله ﷻ څخه وبیریږه اوخپله بی بی مه طلاقوه پردی باندی الله ﷻ وفرمایل چی ما خو تاته ښوولی وه چی زه به ددی سره ستاسی نکاح کوم اوتاسی په زړه کی دا خبره پټوی وه دکومی چی الله ﷻ ظاهرونکی دی .

جمهورومفسرینوزهری،بکربن العلاء،قشیری،قاضی ابوبکربن العربی رحمهم الله داتفسیراختیارکړی دی چی دکوم شی یی په زړه کی دپټولواراده کړی وه، هغه په وحی الهی سره دنکاح اراده وه ، ددی څخه خلاف په کومو روایتونوکی چی دَ، مَافِيْ نَفْسِكَ، تفسیر په ، حُبِّ زَيْنَبَ ﷺ سره نقل دی ، ددی متعلق ابن کثیرفرمایی چی مونږددی روایتونونقل کول څکه نه خوښووچی په دی کی هیڅ یوروایت صحیح نه دی . اوپه خپله دقرآن دالفاظو څخه ددی تفسیر تائید کیږی کوم چی دحضرت زین العابدین ﷺ په روایت سره لوړ بیان سوی دی څکه چی په دی آیت کی الله ﷻ په خپله وښوولە چی په زړه کی پټ سوی شی هغه وو دکوم چی الله ﷻ ظاهرونکی دی اوالله ﷻ چی کوم شی په راتلونکی آیت کی ظاهرکی هغه نکاح ده ، دحضرت زینب ﷺ سره لکه چی فرمایی ، زَوَّجْنَكَهَا (روح)

(دخلګو دبدو ردو څخه ځان ساتل نه دی ترخو پوری چې پریږو شرعي مقصود اثر اچول نه وی)

دا سوال پیداکیږی چی دخلګو دبدو ردوڅخه دمحفوظ کیدو دپاره نبی کریم ﷺ دا معامله پټه ولی وفرمایله چی دعتاب سبب جوړه سوه ؟ جواب دا دی چی په دی معامله کی اصل قاعده کومه چی دقرآن اوسنت څخه ثابته ده دا ده چی دکوم کار دکولوڅخه په خلګوکی دغلط فهمی پیدا کیدو او د دوی په بدو ردو ویلوکی داخته کیدو خطره وی ، نو دخلګو ددین دحفاظت او دوی ته دبدو ردو ویلو دګناه څخه دمحفوظ کیدوپه نیت سره پریښوول په دی صورت کی خوجائزدی کله چی داکارپه خپله دشرعی مقصدونو څخه نه وی اوڅه دینی حکم دحلالو حرامو ددی سره متعلق نه وی ، که څه هم کارفی نفسه بنه وی ، ددی مثال په حدیث اوسنت دنبی کریم ﷺ کی موجود دی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دجاهلیت په زمانه کی کله چی دبیت الله تعمیر وسو نو په دی کی څو شیان دابراهیم ﷺ دابادی خلاف وسوه ، اول خو داچی دبیت الله څه حصه دابادی څخه دباندی پریښوول سوه، دوهم دحضرت ابراهیم ﷺ په ابادی کی بیت الله ته دخلګو دداخلیدو دپاره دوی دروازی وی ، یوه مشرقی طرف ته، بله مغربی طرف ته چی ددی په وجه به بیت الله شریفی ته ددننه کیدو اود باندی وتلو تکلیف نه وو ، دجاهلیت خلګو په دی کی دوه تصرفه وکړل چی مغربی دروازی خویی بالکل بنده کړه اومشرقی دروازه کومه چی دمخکی دسطح سره متصل وه ، دا یی دومره لوړه کړه چی بغیر دځینو څخه ورته څوک نه سی دا خلیدی .

نبی کریم ﷺ وفرمایل چی که دنوو مسلمانانو په غلط فهمی کی داخته کیدو بیره نه وای ، نومابه بیت الله شریفه دوباره دحضرت ابراهیم ﷺ دابادی مطابق جوړ کړی وای ، داحدیث په ټولومعتبرو کتابونو

Maktaba Tul Ishaat.com

کی موجود دی ، ددی څخه معلومه سوه چی نبی کریم ﷺ خلګ دغلط فهمی څخه د محفوظ کولو دپاره خپله اراده کومه چی شرعاً نبه وه هغه یی پریښوولە ، اوپه دی دالله ﷻ دطرف څخه څه عتاب ونه سو چی په دی سره ددی عمل دالله ﷻ په نزد مقبول والی هم معلوم سو ، مګر دامعامله بیت الله شریفه دابراهیم ﷺ دابادی مطابق دجوړولو داسی نه ده چی څه شرعی مقصد پرموقوف وی یاپه دی پوری دحلالو اوحرامو احکام متعلق وی .

په خلاف دواقعی دزینب ﷺ دنکاح چی ددی سره یوشرعی مقصد متعلق وو چی دجاهلیت دبد رسم او باطل خیال عملی تردید وسی چی دمتبنّی زوی دطلاقی سوی بنځی سره نکاح حرامه ده ، ځکه چی په قومونو کی دچلیدونکو غلطو رسمونو ماتول عملاً هلته ممکن وی کله چی ددی عملی مظاهره وی ، حکم ربانی ددی دمکمل کولو دپاره دحضرت زینب ﷺ دنکاح سره متعلق سوی وو ، په دی تقریر سره دبیت الله شریفی دجوړولو په پریښوولو اودزینب ﷺ په نکاح باندی دالله ﷻ په ارشاد دعمل کولو دظاهری تعارض جواب وسو .

او داسی معلومیږی چی نبی کریم ﷺ ددی حکم قولی تبلیغ کوم چی دسورة احزاب په اولنی آیت کی راغلی دی ، هغه یی کافی وګڼی او ددی دعملی مظاهری دحکمت طرف ته یی نظر ونه کی ، په دی وجه دعلم او ارادی باوجود یی دا پته کړه ، الله ﷻ په ذکر سوی آیت کی ددی اصلاح وفرمایله اوظاهره یی کړه ، لِكَيْلَا يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِي أَزْوَاجِ أَدْعِيَائِهِمْ إِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا : یعنی مونږ دزینب ﷺ سره ستا نکاح ځکه وکړه چی پر مسلمانانو په دی معامله کی څه عملی تنګی پیښه نه سی چی دمتبنّی زامنو دطلاقو سوو بنځو سره نکاح وسی .

اودَ، زَوَّجْنَكَهَا ، لفظی معنی دا ده چی مونږ ددی نکاح ستا سره وکړه ددی څخه معلومیږی چی الله ﷻ دی نکاح ته دا امتیاز وبخښی چی په خپله یی نکاح وکړه ، چی دعامو شرطونو دنکاح څخه مستثنی سوه او دا معنی هم کیدی سی چی مونږ ددی نکاح وکړه ، په مفسرینو حضراتوکی ځینو اولنی احتمال ته ترجیح ورکړي ده اوځینو دوهم احتمال ته .

او دحضرت زینب ﷺ دنورو بنځو په مخکی دا فرمایل چی ستاسی نکاح ستاسی مور اوپلار کړی ده ، زما نکاح په خپله الله ﷻ په آسمان کی کړي ده ، لکه چی په روایتونوکی راغلی دی ، دا په دواړو صورتونو باندی صادق دی ، په اول صورت کی زیات واضح دی او دوهم صورت هم ددی منافی نه دی .

(دشبهو اواعتراضونو دجواب ابتدائیه)

سُنَّةَ اللهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ وَكَانَ أَمْرُ اللهِ قَدَرًا مَقْدُورًا : دا ابتدائیه ده په دی نکاح دپیښیدونکو شکونو او شبهو چی دنورو بیبیانو په موجودګی کی ددی نکاح اهتمام ولی وسو ؟ ارشاد فرمایی چی سنت دی دالله ﷻ کوم چی دمحمد مصطفی ﷺ سره مخصوص نه دی ، ستا څخه مخکی په نورو پیغمبرانوکی هم جاری پاته سوی دی چی په دینی مصلحتونو سره دډیرو بنځو دنکاح اجازه ورکول سوه ، چی په دوی کی حضرت داود ﷺ اوحضرت سلیمان ﷺ زیات معروف دی چی دحضرت داود ﷺ په نکاح کی سل او

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت سلیمان ﷺ په نکاح کی دری سوه بیبیانی وی که دنبی کریم ﷺ دپاره په دینی مصلحت سره دډیرو نکاحونو اجازت وسو اودا نکاح هم په دی کی شامله ده ، نو هیڅ وجه داستبعاد نسته ، نه دا دشان دنبوت اورسالت سره منافی دی ، نه دزهد اوتقوی ، په اخری جمله کی یی دا هم وفرمایل چی دنکاح معامله هم دعام رزق په شان دالله ﷻ دطرف څخه مقرر سوي ده ، چی دچا نکاح به دچا سره وی ، په ازلی تقدیرکی چی څه لیکل سوی دی ، هغه به کیږی ، په دی واقعه کی دحضرت زید ﷺ اوحضرت زینب ﷺ په مینځ کی دطبیعتونو اختلاف او دزید ﷺ ناراضتیا بیا دطلاق اراده دا ټول ددی تقدیری او تکوینی امر کړی وی .

مخ ته دهغه انبیاوو علیهم السلام دخاصو صفتونو ذکر دی دکومو دپاره چی په تیره زمانه کی دډیرو بیبیانو دساتلو اجازه لوړ معلوم سوي دی ، فرمایی، اَلَّذِیْنَ یُبَلِّغُوْنَ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ، یعنی دا پیغمبران ټول دالله ﷻ پیغامونه خپلو خپلو امتونو ته رسوی .

یوحکمت : شاید په دی کی دپیغمبرانو دبیبیانو ډیروالی حکمت طرف ته هم اشاره وی چی د دوی ټول عملونه اوقولونه امت ته رسیدل ضروری دی او دسړیانو یوه لویه حصه دوخت په خپل زنانه کورکی دښځواوبچیانوسره تیریږی دغه وخت چی څه وحی نازله سی یاپه خپله پیغمبرڅه حکم صادروفرمایی یاڅه عمل وکی داټول دامت دپاره امانت دی کوم چی دبیبیانوپه ذریعه په اسانی سره امت ته رسول کیږی نور صورتونه دمشکلاتوڅخه خالی نه دی، په دی وجه دانبیاؤ دپاره که بیبیانی زیاتی وی نو د دوی دکورنی ژوند کارونه اوخبری او د دوی کورنی خوی اوخصلت عام امت ته رسیدل اسانیږی . والله تعالی اعلم

دوهم صفت دانبیاؤ دا بیان سو چی ، وَیَخْشَوْنَهٗ وَلَا یَخْشَوْنَ اَحَدًا اِلَّا اللّٰهَ، یعنی داحضرات دالله ﷻ څخه بیریږی او دالله ﷻ څخه ماسوا دهیڅاڅخه بیره نه کوی ، په دی کی دا هم دا خله ده چی په دینی مصلحتونو سره که دوی دڅه کار دعملی تبلیغ دپاره مامور سی نو هغوی په هغه کی هیڅکله کوتاهی نه کوی ، که څوک ورته په دی کی بدی ردی وایی بیا هم بیره ورڅخه نه کوی .

یو اشکال اودهغه جواب : دلته چی یی کله دپیغمبرانو دټولی دلی دا حال بیان کړی دی چی دوی دالله ﷻ څخه ماسوا دبل چا څخه بیره نه کوی ، نو ددی څخه په مخکی آیت کی دنبی کریم ﷺ متعلق دا ارشاد دی چی تَخْشَی النَّاسَ یعنی ته دخلګو څخه بیریږی ، دا به څنګه درست وی؟ ددی جواب دا دی چی په ذکر سوی آیت کی دانبیاؤ دغیرالله څخه بیره درسالت دتبلیغ په معامله کی بیان سوي ده اودنبی کریم ﷺ بیره دبدو ویلوپه یو داسی کارکی پیښه سوه کوم چی په ظاهره یودنیوی کار وو ، درسالت دتبلیغ سره ددی تعلق نه وو ، بیاچی کله په ذکر سوی آیت کی په دوی دا خبره واضحه سوه چی دا نکاح هم دعملی تبلیغ او رسالت یو جزء دی ، نو ددی څخه وروسته دوی ته هم دڅه بیری طعن اوبدو ردو عمل مانع نه سو او دا نکاح وسوه که څه هم ډیرو کفارو اعتراضونه وکړل او ترننه پوری یی کوی .

مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِیّٖنَ ؕ

محمد ﷺ پلار نه دی دچا ستاسی په سړو کی اولیکن رسول دی دالله ﷻ اومهردی په ټول نبیانو علیهم السلام

Maktaba Tul Ishaat.com

وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿۴۰﴾

او دی الله ﷻ په ټولو شیانو پوهیدونکی .

لنډتفسیر: (په مخکی ایتونوکی دحضرت زینب ﷺ دنکاح عملی تبلیغ والی او دانبیاوو علیهم السلام سنتوالی اوپه دی حیثیت سره نبه والی ښوول سوی وو ، اوس داعتراض کوونکو جواب دی کوموچی به دانکاح بد ګڼله ، بدی ردی به یی ویلی یعنی) محمد ﷺ ستاسی په سړیانوکی دچا پلارنه دی (یعنی کوم خلګ چی دنبی کریم ﷺ سره علاقه داولاد والی نه لری ، لکه چی په دی آیت کی یی عامو صحابه کرام ﷺ مخاطب کړی دی ، فرمایی، رِجَالِكُمْ، یعنی ستاسی په سړوکی دچاپلارنه دی ، په دی کی نسبت دعامو خلګو ته طرف ته وسو او دنبی کریم ﷺ څخه یی نسبت قطع سو ، په دی وجه دخپل خاندان په افرادو کی دیو سړی پلار کیدل ددی منافی نه دی ، مطلب یی دا دی چی دعام امت دخلګوسره تاته داسی پلاروالی حاصل نه دی چی په یوصحیح دلیل سره دده دطلاقی سوی بی بی سره دنکاح دحرامو والی موجب وی) لیکن (البته یوبل قسم روحانی پلاروالی ضرور حاصل دی ، چنانچی) دالله رسول دی (اوهر یو رسول دروحانی مربّی والی په وجه دامت روحانی پلار وی) او (دا روحانی پلاروالی یی په دومره درجه کامل دی چی دټولو رسولانوڅخه ښه افضل اواکمل دی چنانچی دوی) دټولونبیانو په ختمیدو باندی دی (اوکوم نبی چی داسی وی هغه په روحانی پلاروالی کی دټولوڅخه زیات وی یعنی چی د دوی دروحانی پلاروالی سلسله به ترقیامته پوری وی چی ددی په نتیجه کی به د دوی روحانی اولاددټولوڅخه زیات وی ، مطلب دا دی چی دامت دپاره ستاسی پلارو الی جسمانی اونسبی نه دی چی دنکاح دحرمت سره متعلق وی، بلکه پلاروالی روحانی دی ، په دی وجه دمتبنّیٰ زوی دطلاقی سوی سره نکاح څه قابل اعتراض نه ده، بلکه ددی روحانی پلاروالی تقاضا داده چی ټول خلګ په تامکمل اعتماد او اعتقاد ساتی اوستاپه هیڅ قول او فعل باندی شك اوشبهه نه کوی) او (که دا وسوسه وی چی دا نکاح ناجائزه خونه وه ، لیکن که نه وای سوی نو ښه به وای چی خلګوته داعتراض اولعن طعن موقع نه وای حاصله سوی نو په دی پوهیدل په کار دی چی) الله ﷻ (د) هرشی (دوجود یاعدم مصلحت) ښه پیژنی .

معلومات اومسئلي : په ذکرسوی آیت کی دهغو خلګودخیال رد دی کوموچی به دخپل جاهلیت درسم مطابق حضرت زید بن حارثه (رض) ته دنبی کریم ﷺ زوی ویل ، او دده دطلاق ځخه وروسته به یی دحضرت زینب ﷺ سره دنبی کریم ﷺ په نکاح باندی طعن کوی چی دزوی دښځی سره یی نکاح وکړه دهغو خلګو درد دپاره دا ویل کافی وه چی نبی کریم ﷺ دحضرت زید ﷺ پلار نه دی بلکه دحضرت زید ﷺ پلارحارثه دی ، مګر په دی کی دمبالغی اوتاکید دپاره ارشاد فرمایی ،مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ : یعنی محمد ﷺ ستاسی په سړوکی دچاپلارنه دی، نوپه داسی سړی چی په اولادکی یی یوسړی هم نه وی ، دا طعن کول څنګه صحیح کیدی سی ؟ چی دده څوك زوی دی اودهغه طلاقه سوی ښځه پردوی دده دزوی والی په وجه حرامه ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی مضمون دبیان دپاره مختصر الفاظ دا وه چی ، اَبَآ اَحَدٍ مِّنْكُمْ : یی ویلی وای ، ددی په ځای قرآن حکیم لفظ درجال اضافه کی او دا شبهه یی لیری کړه چی نبی کریم ﷺ خو دځلورو زامنو پلاردی ، دری زامن یی دحضرت خدیجی ؓ څخه قاسم ؓ ، طیب ؓ، طاهر ؓ او یو دحضرت ماریه قبطیه ؓ څخه ابراهیم ؓ ، څکه چی دا ټول په کوچنیوالی کی وفات سوی دی ، په دوی کی یو هم درجال والی حدته نه دی رسیدلی او دا هم ویل کیږی چی دایت دنزول په وخت کی د دوی ﷺ یو بچی هم نه وو ، قاسم ؓ، طیب ؓ ، اوطاهر ؓ وفات سوی وو او ابراهیم ؓ لا پیدا سوی نه وو .

دمخالفینو داعتراضونو اوطعن جواب په دی جمله سره سوی وو ، مگرمخ ته دنورو شبهو دلیری کولو دپاره فرمایی ، وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ ، حرف دَ، لکن، په عربی ژبه کی دهغه کار دپاره راځی چی په تیرکلام کی څه شبهه کیدی سوه ، هغه ردسی ، دلته چی کله دنبی کریم ﷺ متعلق دا بیان وکړل سو چی دوی ﷺ دامت په سړو کی دچا پلارنه دی ، نو په دی دا شبهه کیدی سوه چی هر نبی او رسول دخپل امت پلار وی په دی لحاظ سره رسول الله ﷺ دامت دټولو سړیو بلکه دهر سړی اوښځی پلار دی ، د دوی ﷺ څخه دپلاروالی نفی گویا دنبوت نفی ده .

ددی جواب د ، وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ ، په لفظ سره دا ورکول سو چی حقیقی اونسبی پلاروالی جلا شی دی چی دنکاح دحلال والی اوحرام والی احکام په عائد کیږی او په حیثیت دنبوت دامت روحانی پلاروالی بل شی دی چی په دی پوری دا احکام نه متعلق کیږی ، نو گویا مطلب ددی پوره جملی دا سو چی ته دامت په سړوکی دهیڅا هم نسبی پلار نه یی ، لیکن روحانی پلار دټولو یی .

په دی کی دیو بل طعن جواب هم وسو کوم چی ځینو مشرکانو کړی وو چی نبی کریم ﷺ معاذ الله ابتر (یعنی مقطوع النسل) دی ، یعنی هیڅ نارینه اولاد د دوی نسته چی نسب یی ورځخه وچلیږی اوپیغام یی پرمخ زیات ولاړسی ، څو ورځی وروسته به د دوی قصه هم ختمه سی ، ذکر سوو الفاظو دا واضحه کړه چی که څه هم نسبی نارینه اولاد د دوی نسته ، لیکن دوی ﷺ ته درسالت او نبوت دپیغام خپرولو اوقائم ساتلو او زیاتولو دپاره دنسبی اولاد ضرورت نسته ، د دوی دپاره روحانی اولاد کار کوی او چونکی دوی دالله رسول دی او رسول دامت روحانی پلار وی ، په دی وجه دوی دټول امت دروحانی پلاروالی په وجه ترتاسی ټولو زیات اولاد والا دی .

دلته هرکله چی دنبی کریم ﷺ درسالت او نبوت ذکر راغی او دنبوت په دی منصب کی دوی دټولو نورو انبیاؤ څخه خاص امتیازی فضیلت لری نومخ ته د دوی مخصوص شان اوپرټولو انبیاؤ د دوی فائقوالی په دی لفظ سره واضح سو ، وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ، په لفظ دخاتم کی دوه قرائتونه دی ، دامام حسن ؓ اوعاصم ؓ قرائت ، خَاتَمْ په زبر دتاء دی اودنورو امامانو قرآئت ، خاتِم ، په زیر دتاء دی ، خلاصه مطلب د دواړو یو دی ، یعنی دانبیاؤ ختم کوونکی څکه چی خاتَم که په زبر دتاء وی اوکه په زیر ، د دواړو معنٰی داخر هم راځی او دمهر په معنٰی کی هم دا دواړه لفظونه استعمالیږی اونتیجه د دوهمی معنٰی هم دغه داخر ده څکه چی مهردیوشی په اخرکی دبندولو دپاره لګول کیږی دلفظ دَ، خَاتَم، په زبر او زیر ددواړو معنٰی په عربی لغت کی په ټولوکتابونوکی دادواړی ذکر دی ، قاموس، صحاح، لسان العرب تاج العروس وغیره

Maktaba Tul Ishaat.com

په دی وجه په تفسیر روح المعانی کی دخاتم په معنی دمهر مطلب هم دغه معنی داخر ښوولی ده ، الفاظ یی دا دی ، وَالْخَاتِمُ اِسْمُ آلَةٍ لِمَا يُخْتَمُ بِهِ كَالطَّابِعِ لِمَا يُطْبَعُ بِهِ فَمَعْنٰى خَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ الَّذِيْ خُتِمَ النُّبُوَّتُ بِهِ وَمَآلُهُ آخِرُ النَّبِيِّيْنَ ، دا مضمون په تفسیر بیضاوی او احمدی کی هم ذکر دی او امام راغب په مفردات القرآن کی فرمایی ، وَخَاتَمُ النُّبُوَّةِ لِاَنَّهُ خَتَمَ النُّبُوَّةَ اَیْ تَمَّمَهَا بِمَجِيْئِهِ : یعنی دوی ته خاتم نبوت ځکه وویل سوه چی دوی نبوت په خپل تشریف راوړلو سره ختم اومکمل کړی دی .

او په ‹المحکم› دابن سیده کی دی ، وَخَاتِمُ كُلِّ شَيْءٍ وَخَاتِمَتُهُ عَاقِبَتُهُ وَاٰخِرُهُ : یعنی دهر شی خاتم اوخاتمه دده انجام اواخر ته ویل کیږی .

لنډه دا چی قرآنت برابره خبره ده که په زور دتاء سره وسی یاپه زیر دتاء معنی یی په دواړو صورتونوکی دا ده چی دوی ختم کوونکی دی دانبیاؤ ، یعنی دتولو په اخرکی او وروسته دوی مبعوث سوی دی .

خاتم الانبیاء صفت یو داسی صفت دی کوم چی په تولوکمالاتو دنبوت اورسالت کی ددوی اعلی فضیلت اوخصوصیت ظاهروی ، ځکه چی په عام طور سره په هرشی کی درجه په درجه ترقی کیږی اوچی اخرته ورسیږی نومکمل سی اوکومه چی اخری نتیجه وی هغه اصل مقصود وی ، قرآن کریم په خپله دا واضحه کړي ده ، اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ : یعنی نن ماستاسی دین مکمل کړی دی اوخپل نعمت می په تاسی پوره کړی دی ، دتیرو پیغمبرانو دین هم دخپل خپل وخت په لحاظ سره مکمل وو ، هیڅ ناقص نه وو ، لیکن کمال مطلق دی دین مصطفوی ته حاصل سو کوم چی اولینو اواخرینو ته حجت اوترقیامته پوری چلیدونکی دین دی ، دلته دخاتم النبین دصفت په اضافی سره ددی مضمون نورهم زیات وضاحت اوتکمیل وسوچی رسول الله ﷺ ته مقطوع النسل ویل جهالت دی ، کله چی دتول امت دپلاروالی په حیثیت سره دوی متصف دی ، ځکه چی لفظ دخاتم النبین دا هم وښوولی چی ستا ځخه وروسته ترقیامته پوری راتلونکی تول نسلونه اوقومونه به ستاپه امت کی شامل وی ، په دی وجه ستا دامت شمیر به هم دنورو امتونوځخه زیات وی اوستاروحانی اولاد به دنورو انبیاؤ علیهم السلام په نسبت هم زیات وی .

دخاتم النبین صفت دا هم وښوولی چی دنبی کریم ﷺ شفقت به په خپل روحانی اولاد یعنی تول امت دنورو تمامو انبیاؤ علیهم السلام ځخه زیات وی او دوی به ترقیامته پوری دپیښیدونکو ضرورتونو دواضح کولو پوره اهتمام وفرمایی ، ځکه چی د دوی ځخه وروسته څوك نبی اوځه وحی دنیا ته راتلونکی نسته ، په خلاف دتیرو انبیاؤ ځخه چی دهغوی سره ددی فکرنه وو ، هغوی پوهیدل چی کله په قوم کی ګمراهی غورپږی ، نو زمونږ ځخه وروسته به نور انبیاء راځی او د دوی اصلاح به کوی ، مګر دخاتم الانبیاء علیه السلام سره دا فکر وو چی ترقیامته پوری امت ته کوم حالات پیښیږی دهغو تولوحالاتو متعلق هدایتونه امت ته ورکول سی پرکومو چی دنبی کریم ﷺ احادیث شاهد دی ، چی د دوی ځخه وروسته ځومره خلګ داقتداء قابل راتلونکی وه ، اکثره یی دهغوی نومونه اخیستی دی اوښوولی دی ، دغه شان چی ځومره دګمراهی علمبرداران دی ، ددغو حالات اوپتی یی داسی ښکاره ښوولی دی چی لږفکر کوونکی ته هیڅ اشتباه نه پاته کیږی ، په دی وجه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، اِنِّیْ تَرَكْتُكُمْ عَلٰى شَرِيْعَةٍ بَيْضَآءَ لَيْلُهَاوَنَهَارُهَاسَوَآءٌ ، یعنی ما

Maktaba Tul Ishaat.com

تاسی پرداسی روښانه لاره پرینبولاست چی شپه اوورځ په کی برابردی، هیڅ وخت هم دګمراهی خطره نسته په دی آیت کی داخبره هم دفکرقابله ده چی لورډنبی کریم ﷺ ذکرپه صفت درسول راغلی دی، ددی دپاره په ظاهره مناسبه داوه چی مخ ته دَ،خاتم الرسول ،یا،خاتم المرسلین،لفظ استعمال سوی وای، مګر قرآن حکیم ددی په ځای دَ،خاتم النبیین،لفظ اختیارکی، وجه داده چی دجمهوروعالمانوپه نزدپه نبی او رسول کی یوفرق دی ، هغه داچی نبی خو هرهغه چاته ویل کیږی کوم چی الله ﷻ دخلګو داصلاح دپاره مخاطب کړی اوپه خپلی وحی سره یی مشرف وفرمایی برابره خبره ده که دده دپاره څه مستقل کتاب اومستقل شریعت تجویزکړی یادمخکنی یونبی دکتاب اوشریعت تابع خلګو ته په هدایت کولو مامورہ وی، لکه حضرت هارون ﷺ دحضرت موسیٰ ﷺ دکتاب اوشریعت تابع خلګو په هدایت کولو مامورہ وو .

اولفظ درسول خاص دهغه نبی دپاره ویل کیږی کوم ته چی مستقل کتاب اوشریعت ورکول سوی وی ، دغه شان دلفظ دنبی په مطلب کی په نسبت دلفظ درسول عموم زیات دی ، نو دایت مطلب دا سو چی ته دانبیاؤختم کوونکی اودټولو څخه په اخرکی یی ، برابره خبره ده که هغه صاحب دشریعت نبی وی یاصرف دمخکی تابع وی ، ددی څخه معلومه سوه چی دنبی څومره قسمونه چی دالله ﷻ په نزد کیدی سی ، هغه ټول پردوی ﷺ ختم سول او د دوی څخه وروسته هیڅ نبی نه سی مبعوث کیدی .

امام ابن کثیر په خپل تفسیرکی فرمایی .

فَهٰذِهِ الْآيَةُ نَصٌّ فِيْ أَنَّهُ لاَ نَبِيَّ بَعْدَهُ، وَإِذَا كَانَ لاَ نَبِيَّ بَعْدَهُ فَلاَ رَسُوْلَ [بَعْدَهُ] بِالطَّرِيْقِ الْأَوْلٰى وَالْأَحْرٰى؛ لِأَنَّ مَقَامَ الرِّسَالَةِ أَخَصُّ مِنْ مَقَامِ النُّبُوَّةِ، فَإِنَّ كُلَّ رَسُوْلٍ نَبِيٌّ، وَلاَ يَنْعَكِسُ وَبِذٰلِكَ وَرَدَتِ الْأَحَادِيْثُ الْمُتَوَاتِرَةُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حَدِيْثِ جَمَاعَةٍ مِّنَ الصَّحَابَةِ .

یعنی دا ایت صریح نص دی ددی عقیدی دپاره چی د دوی څخه وروسته هیڅ نبی نسته اوهرکله چی نبی نسته نو رسول هم په درجه اولی نسته ځکه چی لفظ دنبی عام اولفظ درسول خاص دی ، او دا هغه عقیده ده په کومه چی متواتر احادیث شاهد دی کوم چی دصحابه کرامو ﷺ دیو لوی جماعت په روایت مونږ ته رارسیدلی دی .

ددی آیت په لفظی تشریح کی دځه قدر تفصیل څخه ځکه کار واخیستل سو چی زمونږ په ملك کی مرزا قادیانی دنبوت مدعی دا ایت دخپلی لاری خنډ ګڼلی دی ، ددی په تفسیر کی یی قسم قسم تحریفات او احتمالات پیدا کړی دی ، د ذکر سوی تقریر څخه الحمد الله ددی ټولو جواب کیدی سی .

﴿دختم نبوت مسئله﴾

دنبی کریم ﷺ خاتم النبیین کیدل او د دوی اخری پیغمبروالی، او د دوی څخه وروسته په دنیاکی دیونبی نه مبعوث کیدل اودنبوت دهریومدعی درواغجن اوکافرکیدل داسی مسئله ده چی دصحابه کرامو ﷺ څخه واخله ترننه پوری دهر دور دمسلمانانو اجماع اواتفاق پرراغلی دی، په دی وجه ضرورت نه وو چی په دی څه تفصیلی بحث وسی ، لیکن قادیانی فرقی په دی مسئله کی دمسلمانانوپه زړونوکی دشکونو اوشبهوپیداکولو دپاره لوی زورلګولی دی ، په سوونولوی اوکوچنی کتابونه یی چاپ کړی دی اودکم علمه خلګو دګمراه کولوکوشش یی کړی دی ، په دی وجه احقر ددی مسئلی پوره تفصیل په یو مستقل

Maktaba Tul Ishaat.com

کتاب ، ختم نبوت، کی لیکلی دی ، چی په هغه کی یی په یوسل ایتونو او د دوو سووځخه په زیاتو احادیثو اوسوونو اقوالو اواثارو دتیرو او وروستنیو عالمانوځخه دا مسئله پوره واضحه کړي ده او دقادیانی دجال دشبهو مفصل جواب یی ورکړی دی ، دلته دهغه ځخه یوځو ضروری خبری لیکل کیږی .

(دحضور ﷺ خاتم النبین کیدل په اخره زمانه کي دعیسي علیه السلام دنزول منافي نه دی)

چونکه دقرآن کریم په ډیروایتونو اوپه متواترو احادیثوسره داثابته ده چی دقیامت ځخه مخکی په اخره زمانه کی به حضرت عیسیٰ علیه السلام دوباره دنیاته تشریف راوړی اودجال اعظم به قتل کوی اودغه وخت به هره گمراهی ختمه کړی چی تفصیل یی داحقرپه رساله، التصریح بماتواترفی نزول المسیح، کی ذکر دی مرزا قادیانی دژوندی عیسیٰ علیه السلام آسمان ته پورته کول اوبیاپه اخره زمانه کی یی تشریف راوړل کوم چی دقرآن اوحدیث په بی شمیره ایتونو سره ثابت دی ، ددی ځخه یی انکار وکی اوپه خپله یی دمسیح موعود دعویٰ وکړه اوپه دلیل کی یی داپیش کړه چی که دحضرت عیسیٰ بن مریم ﷺ نبی او دبنی اسرائیلو بیا دنیاته راتلل تسلیم کړل سی نو دا به دنبی کریم ﷺ دخاتم النبین کیدو منافی وی .

جواب بالکل واضح دی چی دخاتم النبین اواخر النبین معنیٰ دا ده چی د دوی ځخه وروسته به یو سړی دنبوت په عهد فائز نه سی ددی ځخه دا نه لازمیږی چی د دوی ځخه مخکی چاته نبوت ورکول سوی دی دهغوی نبوت به سلب کړل سی یا دهغوی ځخه ځوك بیرته دنیا ته نه سی راتلی ، البته دنبی کریم ﷺ ځخه وروسته ځوك چی هم د دوی په امت کی داصلاح اوتبلیغ دپاره راځی ، هغه به په خپل منصب دنبوت قائم وی ، په دی امت کی به داصلاح خدمت درسول الله ﷺ دتعلیماتو تابع پوره کوی ، لکه چی په صحیح احادیثو کی یی وضاحت دی .

ابن کثیر ددی آیت په تفسیر کی فرمایی .

وَالْمُرَادُ بِكَوْنِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ خَاتَمَهُمْ انْقِطَاعُ حُدُوْثِ وَصْفِ النُّبُوَّةِ فِيْ أَحَدٍ مِّنَ الثَّقَلَيْنِ بَعْدَ تَحَلِّيْهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بِهَا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا وَلَا يَقْدَحُ فِيْ ذٰلِكَ مَا اجْتَمَعَتْ عَلَيْهِ الْأُمَّةُ وَاشْتَهَرَتْ فِيْهِ الْأَخْبَارُ وَلَعَلَّهَا بَلَغَتْ مَبْلَغَ التَّوَاتُرِ الْمَعْنَوِيِّ وَنَطَقَ بِهِ الْكِتَابُ عَلٰى قَوْلٍ وَوَجَبَ الْإِيْمَانُ بِهٖ وَأَكْفَرَ مُنْكِرُهٗ كَالْفَلَاسِفَةِ مِنْ نُزُوْلِ عِيْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامِ آخِرَ الزَّمَانِ لِأَنَّهٗ كَانَ نَبِيًّا قَبْلَ اَنْ يُّحَلِّيَ نَبِيُّنَا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنُّبُوَّةِ فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا .

یعنی دنبی کریم ﷺ دخاتم الانبیاء کیدو ځخه دامراد دی چی وصف دنبوت د دوی ځخه وروسته منقطع سو اوس به چاته داوصف اومنصب نه سی حاصلیدی ، ددی ځخه په دی مسئله هیڅ اثرنه راځی پرکوم چی دامت اجماع ده اوقرآن په دی ناطق دی اواحادیث درسول کوم چی تقریبًا دتواتر درجی ته رسیدلی دی په دی شاهد دی هغه دا چی حضرت عیسیٰ علیه السلام به په اخره زمانه کی نازلیږی ځکه چی ده ته نبوت په دی دنیا کی زمونږ دنبی کریم ﷺ ځخه مخکی حاصل سوی وو .

(دنبوت دمطلب تحریف دظلي اوبروزی نبوت ایجاد)

دی دنبوت مدعی دنبوت ددعوی دلاری هوارولو دپاره یو نوی چال وچلوی چی دنبوت یونوی قسم یی ایجاد کی چی په قرآن اوحدیث کی یی هیڅ وجود اوثبوت نسته اوبیا یی وویل چی دا دنبوت قسم دقرآن دحکم ختم نبوت منافی نه دی ، ددی خلاصه دا ده چی ده دنبوت په مطلب کی هغه لار اختیارکړه کومه

Maktaba Tul Ishaat.com

چی په هندوانو او نورو قومونوکی معروفه ده چی یوسړی دبل په جنم (دبل په شکل) کی راتلی سی اوبیا یی دا وویل چی کوم سړی دنبی کریم ﷺ دمکملی اتباع په وجه د دوی هم رنګ سوی وی ، دده راتلل ګویاپه خپله د دوی راتلل دی ، دا په حقیقت کی په خپله د دوی ظلّ او بروز دی (یعنی دهغوی ﷺ سایه اوظاهری بدل دی) په دی وجه دده په دعوی عقیده دختم نبوّت نه متاثره کیږی .

مګر اول خو په خپله دا نوی ایجاد سوی نبوت په اسلام کی دکوم ځای څخه راغی ، ددی هیڅ ثبوت نسته ، ددی څخه علاوه مسئله دختم نبوت چونکی داسلامی عقیدو یوه بنیادی عقیده ده ، په دی وجه نبی کریم ﷺ دا په مختلفو عنوانونو سره په مختلفو اوقاتو کی داسی واضحه کړې ده چی دچا تحریف نه په کی چلیږی ، ددی جواب پوره تفصیل خو داحقر په کتاب ، ختم نبوت ، کی کتلی سی ، دلته دیو څو شیانو په قدر دضرورت په وړاندی کولو بس والی کول کیږی .

په صحیح بخاری اومسلم وغیره او داحادیثو په ټولو کتابونوکی دحضرت ابو هریره ﷺ دا روایت په صحیح سندونو سره راغلی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

إِنَّ مَثَلِي وَمَثَلَ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِي كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنَى بَيْتًا فَأَحْسَنَهُ وَأَجْمَلَهُ إِلَّا مَوْضِعَ لَبِنَةٍ مِنْ زَاوِيَةٍ فَجَعَلَ النَّاسُ يَطُوفُونَ بِهِ وَيَعْجَبُونَ لَهُ وَيَقُولُونَ هَلَّا وُضِعَتْ هَذِهِ اللَّبِنَةُ قَالَ فَأَنَا اللَّبِنَةُ وَأَنَا خَاتِمُ النَّبِيِّينَ، ورواه احمد والنسائی والترمذی وفی بعض الفاظه: فَكُنْتُ أَنَا سَدَدْتُ مَوْضِعَ اللَّبِنَةِ وَخُتِمَ بِيَ الْبُنْيَانُ .

زما مثال اوزما څخه دمخکی پیغمبرانو مثال دهغه سړی په شان دی کوم چی یومکان جوړ کړی وی او هغه یی ښه مضبوط اوښائسته کړی وی ، مګر ددی په یوکونج کی ددیوال دیوی خښتی ځای یی خالی پریښی وی نو خلق ددی دلیدو دپاره دی ته څې راځی او تعمیر خوښوی مګر ټول دا ووایی چی ددی مکان جوړوونکی دا یوه خښته هم ولی نه ده ایښی چی داتعمیر بالکل په مکمل سوی وای نبی کریم ﷺ وفرمایل چی (دقصر نبوت) دغه اخری خښته زه یم اوپه څینو الفاظو دحدیث کی دی چی ما دغه خالی ځای ډک کی دنبوت مانی می مکمله کړه .

ددی بلیغ مثال مطلب دا دی ، چی نبوت دیوعالی شان محل په شان دی چی ارکان یی انبیاء دی ، دنبی کریم ﷺ څخه مخکی دا محل بالکل تیار سوی وو اوپه دی کی صرف دیوی خښتی څخه ماسوا دځه بل قسم ګنجائش په تعمیرکی باقی نه وو ، نبی کریم ﷺ دا ځای ډک کی او دنبوت مانی یی مکمله کړه ، اوس په دی کی نه دځه نبوت ګنجائش سته اونه درسالت ، که دنبوت یا رسالت څه اقسام ومنل سی نو اوس د دوی څخه هیڅ قسم ګنجائش دنبوت په مانی کی نسته .

په صحیح بخاری ، مسلم اومسند احمد وغیره کی دحضرت ابوهریره ﷺ یو دوهم حدیث دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُونَ (الحدیث)

دبنی اسرائیلو سیاست اوانتظام دانبیاؤ (علیهم السلام) په لاس کی وو ، هرکله چی به یونبی وفات سو نو بل به دهغه قائمقام سو او زما څخه وروسته څوک نبی نسته البته زما خلفاء به وی چی ډیر به وی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دی حدیث هم دا واضحه کړه چی نبی کریم ﷺ چونکی خاتم النبین دی او د دوی څخه وروسته به هیڅ نبی مبعوث نه سی نو دامت دهدایت انتظام به څنګه وی؟ ددی متعلق فرمایی چی د دوی څخه وروسته به دامت دتعلیم او هدایت کار او انتظام د دوی دخلفاؤ په ذریعه وی کوم چی به دنبی کریم ﷺ دخلیفه کیدو په حیثیت سره دنبوت مقصدونه پوره کوی که دظلّی اوبروزی نبوت څه قسم وای یاغیرتشریعی نبوت باقی وای نو ضروری وه چی دلته یی دهغه ذکر کړی وای ، که څه هم عام نبوت ختم سو ، مګر فلانی قسم نبوت باقی دی چی په دی سره به ددی عالم انتظام کیږی .

په دی حدیث کی یی په صفا او واضحو الفاظو سره وښوولە چی دنبوت هیڅ قسم د دوی څخه وروسته باقی نسته او دخلګو دهدایت کار کوم چی په تیرو امتونوکی دبنی اسرائیلو دانبیاؤ څخه اخیستل کیدی هغه به په دی امت کی د دوی دخلفاؤ څخه واخیستل سی .

په صحیح بخاری اومسلم کی دحضرت ابوهریره ﷺ څخه مرفوع حدیث دی .

لَمْ يَبْقَ مِنَ النُّبُوَّةِ اِلاَّ الْمُبَشِّرَاتِ : یعنی په نبوت کی هیڅ شی باقی نه دی پاته سوی ، بغیر دمبشراتو څخه .

په مسند احمد وغیره کی دحضرت عائشه صدیقه ﷺ اوام کرزکعبیه ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی

لَا يَبْقَى بَعْدِي مِنَ النُّبُوَّةِ شَيْءٌ إِلَّا الْمُبَشِّرَاتُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا الْمُبَشِّرَاتُ قَالَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ يَرَاهَا الرَّجُلُ أَوْ تُرَى لَهُ، (طبرانی دی حدیث ته صحیح ویلی دی کذا فی الکنز)

زما څخه وروسته په نبوت کی هیڅ باقی نه دی پاته سوی بغیر دمبشراتو څخه ، صحابه ؤ ﷺ عرض وکی یارسول الله ﷺ مبشرات څه شی دی؟ وي فرمایل رښتینی خوب کوم چی مسلمان په خپله وویني یا ددە متعلق یی بل وینی .

دی حدیث څه قدر په وضاحت سره وښوولە چی دنبوت هیڅ قسم تشریعی یاغیر تشریعی اوپه قول دمرزا قادیانی ظلّی یابروزی دنبی کریم ﷺ څخه وروسته باقی نه دی پاته سوی صرف مبشرات یعنی رښتنی خوب به خلګ وینی چی په دی سره به څه معلومات کیږی .

او په مسند احمداوترمذی کی دحضرت انس بن مالك ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

إِنَّ الرِّسَالَةَ وَالنُّبُوَّةَ قَدِ انْقَطَعَتْ فَلَا رَسُولَ بَعْدِي وَلَا نَبِيَّ، (رواه الترمذی وقال هٰذا حدیث صحیح)

بیشکه رسالت او نبوت زما څخه وروسته قطع سوی دی ، زما څخه وروسته به نه څوك رسول وی اونه نبی (ترمذی روایت کړی دی او وایی چی دا حدیث صحیح دی)

دی حدیث واضحه کړه چی غیر تشریعی نبوت هم د دوی څخه وروسته باقی نه دی پاته اودظلی اوبروزی نبوت خو گرسره څه قسم نسته اونه په اسلام کی داسی قسم څه شی معروف دی .

دلته دختم نبوت دمسئلی احادیث جمع کول مقصود نه دی دغه خو د دوو سوو څخه زیات دختم نبوت په رساله کی جمع سوی دی ، صرف په یو څو احادیثو سره دابنوول مقصود وو چی مرزاقادیانی چی کوم دنبوت دبقاء دپاره دظلی اوبروزی عنوان ایجادکړی دی ، اول خو په اسلام کی ددی څه اصل او بنیاد نسته او که بالفرض وی هم نو دی ذکر سوو احادیثو په واضح طور سره دا وښوولە چی دحضور ﷺ څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

وروسته دنبوت هیڅ قسم په هیڅ شان سره باقی نه دی.
په دی وجه دصحابه کرامو ﷺ ځخه واخله تر ننه پوری دامت مسلمه دټولو طبقاتو اجماع په دی عقیده باندی راغلی ده چی دنبی کریم ﷺ ځخه وروسته هیڅ قسم څه رسول او نبی نه سی کیدی ، څوك چی دعوی کوی ، هغه درواغجن دی ، دقرآن ځخه منکر اوکافر دی او دصحابه کرامو ﷺ ډټولوځخه اوله اجماع په دی عقیده باندی راغلی ده چی دنبی کریم ﷺ ځخه وروسته هیڅ قسم څه رسول اونبی نه سی کیدی ، څوك چی دعوی کوی ، هغه درواغجن دی ، دقرآن ځخه منکر اوکافر دی او دصحابه کرامو ﷺ ډټولو ځخه اوله اجماع په دی مسئله وسوه او ددی په وجه سره دمسیلمه کذاب دنبوت دمدعی سره دخلیفه اول صدیق اکبر ﷺ په دورکی جهاد وسو او دی او ددده منونکی یی قتل کړل.
دټیرو امامانو اوعالمانو دامت اقوال او وضاحتونه هم په دی معامله کی دّ، ختم نبوت، درسالی په دریمه حصه کی په ډیرتفصیل سره لیکل سوی دی ، دلته ورځخه یو څوکلمی نقل کیږی.
ابن کثیر په خپل تفسیر کی ددی آیت لاندی لیکلی دی.

أَخْبَرَ اللهُ تَعَالَى فِي كِتَابِهِ وَرَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السُّنَّةِ الْمُتَوَاتِرَةِ عَنْهُ ، أَنَّهُ لاَ نَبِيَّ بَعْدَهُ لِيَعْلَمُوْا أَنَّ كُلَّ مَنْ ادَّعٰى هٰذَا الْمَقَامَ بَعْدَهُ فَهُوَكَذَّابٌ أَفَّاكٌ، دَجَّالٌ ضَالٌّ مُضِلٌّ، وَلَوْخَرَّقَ وَشَعْبَذَ، وَأَتٰى بِأَنْوَاعِ السِّحْرِوَالطِّلَاسِمِ وَالتَّرَنْجِيَاتِ فَكُلُّهَامَحَالٌ وَضَلَالٌ عِنْدَ أُولِي الْأَلْبَابِ، كَمَا أَجْرَى اللهُ، سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى، عَلٰى يَدِ الْأَسْوَدِ الْعَنْسِي بِالْيَمَنِ، وَمُسَيْلَمَةَ الْكَذَّابِ بِالْيَمَامَةِ، مِنَ الْأَحْوَالِ الْفَاسِدَةِ وَالْأَقْوَالِ الْبَارِدَةِ، مَا عَلِمَ كُلُّ ذِيْ لُبٍّ وَفَهْمٍ وَحِجًى أَنَّهُمَا كَاذِبَانِ ضَالَّانِ لَعَنَهُمَااللهُ تَعَالٰى، وَكَذٰلِكَ كُلُّ مُدَّعٍ لِذٰلِكَ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ حَتّٰى يَخْتِمُوْا بِالْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ (ابن کثیر)

الله ﷻ په خپل کتاب کی او رسول الله ﷺ په خپلو متواترو احادیثوکی خبر ورکړی دی چی د دوی ﷺ ځخه وروسته هیڅوك نبی نسته چی خلګ پوه سی چی د دوی ځخه وروسته کوم سړی دنبوت ددی مقام دعوی وکی هغه کذاب مفتری دجال ګمراه، ګمراه کوونکی دی که څه هم هغه هرڅومره شعبده بازی وکی اوقسم قسم جادو اوطلسم اورنګا رنګی وښیی چی ټولی محالی اوګمراهی دی دعقل والاوو په نزد لکه چی الله ﷻ داسود عنسی (مدعی دنبوت) په لاس باندی په یمن کی اودمسیلمه کذاب (مدعی دنبوت) په لاس په یمامه کی دغه شان فاسدحالات اوعبثی خبری ظاهری کړی کوم چی، هرعقلمند اوپوه واوریدی اوپوه سول چی دا دواړه درواغجنان اوګمراه دی ، الله ﷻ دی لعنت پر وفرمایی دغه شان کوم سړی هم چی ترقیامته پوری دنبوت دعوی کوی هغه درواغجن اوکافر دی تردی چی دمدعیانو دنبوت دا سلسله به پرمسیح دجال ختمه سی.
امام غزالی رحمه الله په خپل کتاب ، الاقتصاد فی الاعتقاد: کی دذکرسوی آیت په تفسیرکی او دختم نبوت دعقیدی متعلق دا الفاظ لیکلی دی.

وَلَيْسَ فِيْهِ تَأْوِيْلٌ وَلاَ تَخْصِيْصٌ وَمَنْ أَوَّلَهُ بِتَخْصِيْصٍ فَكَلَامُهُ مِنَ الْهِذْيَانِ لاَ يَمْنَعُ الْحُكْمَ بِتَكْفِيْرِهِ لِأَنَّهُ مُكَذِّبٌ لِهٰذَا النَّصِّ الَّذِي أَجْمَعَتِ الْأُمَّةُ عَلٰى أَنَّهُ غَيْرُ مُؤَوَّلٍ وَلاَ مَخْصُوْصٍ.

په دی آیت کی دځه تاویل یاتخصیص ګنجائش نسته اوکوم سړی چی تاویل کوی په دی کی څه

Maktaba Tul Ishaat.com

تخصیص راباسی دده خبره بی هوده قسم ده او دا تاویل دی دکافر ویلو څخه نه سی منع کولی څکه چی هغه ددی آیت تکذیب کوی دکوم متعلق چی دامت اجماع ده چی دغه ماول یامخصوص بالکل نه دی .
اوقاضی عیاض رحمه الله په خپل کتاب شفاکی دنبی کریم ﷺ څخه وروسته دنبوت دعوی کوونکی ته کافر او کذاب اودنبی کریم ﷺ درواعجن کوونکی اودذکرسوی آیت څخه یی منکرویلی دی اوداالفاظ یی لیکلی دی

وَاَجْمَعَتِ الْاُمَّةُ عَلٰى حَمْلِ هٰذَا الْكَلَامِ عَلٰى ظَاهِرِهٖ وَاَنَّ مَفْهُوْمَهُ الْمُرَادُ بِهٖ دُوْنَ تَاْوِيْلٍ وَلَا تَخْصِيْصٍ فَلَا شَكَّ فِيْ كُفْرِ هٰؤُلَاءِ الطَّوَائِفِ كُلِّهَا قَطْعًا اِجْمَاعًا وَّسَمْعًا .

امت اجماع کړي ده چی داکلام په خپل ظاهرمحمول سی اوپه دی چی ددی آیت هم نفس مفهوم مراد دی بغیر دهغه تاویل یاتخصیص څخه څکه چی ددی تولوفرقوپه کفرکی هیڅ شك نسته (څوك چی دیومدعی دنبوت پیروی کوی) بلکه ددوی کفرپه قطعی طورسره په اجماع دامت اونقل یعنی کتاب اوسنت سره ثابت دی .
د (ختم نبوت) درسالی په دریمه حصه کی ددین دامامانو او دهری طبقی دلویو عالمانو دیر اقوال جمع سوی دی اوکوم چی دلته نقل سول دیو مسلمان دپاره دغه هم کافی دی ، والله تعالی اعلم .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا ﴿۴۱﴾ وَّسَبِّحُوْهُ

ای ایماندارو ! یاد وی الله ﷻ په ډیرو یادولو سره ، اوپاکی وایاست

بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿۴۲﴾ هُوَ الَّذِيْ يُصَلِّيْ عَلَيْكُمْ وَمَلٰٓئِكَتُهٗ

دهغه سهاراو مانښام ، هغه دی چی رحمت لیږي په تاسی او دهغه ملائکی

لِيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا ﴿۴۳﴾

چی راوباسی تاسی دتیارو څخه رڼا ته او دی په ایماندارو باندی مهربان .

تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهٗ سَلٰمٌ ۚ وَاَعَدَّ لَهُمْ اَجْرًا كَرِيْمًا ﴿۴۴﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ

دُعادهغوی په کومه ورځ چی ورسره یوځای سی سلام دی ، اوتیارکړی یی دی ددوی دپاره ثواب دعزت ای نبی

اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ﴿۴۵﴾ وَّدَاعِيًا اِلَى اللّٰهِ

مونږ ته لیږلی یی ښوونکی اوزیږورکوونکی او بیروونکی ، او بلونکی دالله ﷻ طرف ته

بِاِذْنِهٖ وَسِرَاجًا مُّنِيْرًا ﴿۴۶﴾ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ

دهغه په حکم سره او روښانه څراغ ، او خوشخبری ورکړه مؤمنانو ته چی د دوی دپاره دی دالله ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com

فَضْلًا كَبِيرًا ﴿٤٧﴾ وَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَالْمُنَافِقِينَ وَدَعْ أَذَاهُمْ

دطرف څخه فضل لوی ، او خبرمه منه دمنکرانو او دمنافقانو او پریږده د دوی ازارول

وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا ﴿٤٨﴾

تکیه کوه په الله ﷻ باندی اوپوره دی الله ﷻ کار ساز .

لنډتفسیر: ای ایمانداروتاسی ډالله ﷻ احسانات عموماً او دداسی مکمل رسول درالیږلو احسان خصوصاً یاد وی او دهغه داسی شکر ادا کی چې الله ﷻ ښه ډیر یاد وی (په دی کی ټول طاعتونه راغلل) او (په دی ذکر او طاعت همیشه والی ساتی نو) سهار مابنام (یعنی همیشه) دهغه تسبیح (اوپاکی) کوی (یعنی) په زړه سره هم او په اندامونو سره هم او په ژبه سره هم ، نو په اولی جملی سره عاموالی دعملونو اوطاعتونو او په دوهمه جمله کی عموم دزمانی او وختونو حاصل سو یعنی مه داسی کوی چی ځینی حکمونه په ځای کوی اوځینی نه او مه داسی کوی چی په ځینی ورځ څه کارکوی اوپه ځینی ورځ نه اولکه څنګه چی هغه په تاسی ډیر احسانونه کړی دی او اننده یی هم کوی ، نوخامخا مستحق د ذکر او شکر دی چنانچې) هغه داسی (رحیم) دی چی هغه (په خپله هم) او (دده په حکم سره) دده ملائکی (هم) په تاسی رحمت لیږی (دهغه رحمت لیږل خو رحمت کول دی او دملائکو رحمت لیږل درحمت دعا کول دی لکه چی فرمایی ، الَّذِينَ يَحْمِلُونَ الْعَرْشَ، تر: وَقِهِمُ السَّيِّئَاتِ، پوری اودا رحمت لیږل ځکه دی) چی حق تعالی (په برکت ددی رحمت سره) تاسی (دجهالت اوګمراهی) دتیارو (دعلم او هدایت) درنا طرف ته را ولی (یعنی دخدای رحمت او دملائکو ددعا برکت دی چی تاسی ته دعلم او هدایت توفیق او په دی ثابت قدمی حاصله ده چی دا هر وخت نوی کیږی) او (ددی څخه ثابته سوه چې) الله ﷻ په مومنانو ډیر مهربانه دی (او دا رحمت خو دمومنانو په حال باندی په دنیا کی دی او په اخرت کی به هم دغه مورد درحمت وی چنانچې) هغوی چی به کله دالله ﷻ سره یوځای کیږی نو هغوی ته به چی کوم سلام وی هغه به دا وی چی (الله ﷻ به په خپله دوی ته ارشاد فرمایی) اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ (چی اول خوسلام په خپله نښانه داعزازده بیا چی کله په خپله دالله ﷻ دطرف څخه سلام وی لکه چی فرمایی، سَلَامٌ قَوْلًا مِنْ رَبٍّ رَحِيمٍ، اوپه حدیث کی دی چی الله ﷻ به په خپله جنتیانوته فرمایی اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ (رواه ابن ماجه وغیره) او داسلام خو روحانی انعام دی چی مطلب یی اکرام دی) او (مخ ته په عام عنوان سره دجسمانی انعام خبر دی چې) الله ﷻ دهغه (مومنانو) دپاره عمده بدله (په جنت کی) تیاره کړې ده (چی د دوی دورتللو قدر ډیر دی دتللو سره به ورته حاصل وی ، مخ ته حضور ﷺ ته خطاب دی چې) ای نبی! (ﷺ ته دیوخو تنو اعتراض کوونکو دطعن څخه غمجن کیږه مه که دا بی عقلان تانه پیژنی نو څه وسوه مونږ خو دا لوی لوی نعمتونه او رحمتونه کوم چی مومنانو ته په خطاب کی ذکر سول تاسی ته واسطه جوړه کړې ده اوستا دمخالفینو دسزا دپاره یی په خپله ستا بیان کافی مقرر کړی دی چی د دوی په مقابله کی به ستاځخه ثبوت نه سی اخیستل کیدی ، نو په دی سره ظاهره ده چی ته زمونږ په نزد څومره مقبول او محبوب یی ، چنانچې) مونږ بیشکه ته په دی

Maktaba Tul Ishaat.com

شان سره رسول جوړ کړی لیږلی یی چی تاسی (به دقیامت په ورځ دامت په اعتبار سره په خپله سرکاری) شاهد یاست (چی ستاسی دبیان موافق به د دوی فیصله وی لکه چی فرمایی ، إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَاهِدًا عَلَيْكُمْ ، او ظاهره ده چی په خپله صاحب دمعاملی دبل فریق اهل معامله په مقابله کی شاهد مقررول داعلی درجی اکرام اولوی شان دی چی دقیامت په ورځ به یی ظهورکیږی) او (په دنیاکی چی کوم ستاسی کمالی صفتونه ظاهردی هغه دا دی چی) تاسی (مومنانوته) خوشخبری ورکوونکی یاست او (کفاروته) بیره ورکوونکی یاست او(په عام طورسره دټولو) دالله ﷻ طرف ته دهغه په حکم سره بلونکی یاست (او دا بشارت او انذار او دعوت تبلیغًا دی) او (په خپله دخپل ذات اوصفاتو اوکمالاتو اوعباداتو او عاداتو وغیره دمجموعی حالاتو په اعتبار سره) تاسی (دسرځخه ترپښوپوری دهدایت په نمونه کیدو کی په منزله) دیو روښانه څراغ یاست (چی ستاسی هرحالت دطالبانو دانوارو دپاره سرمایه دهدایت ده ، نوپه قیامت کی په دی مومنانو چی به څه رحمت وی ، هغه به ستاسی ددی صفتونو دبشیر اونذیر او داعی او سراج منیر په واسطه سره وی ، نو ته دا غم او پریشانی لیری کړه) او (په خپل منصبی کارکی لګیا اوسه یعنی) مومنانو ته خوشخبری ورکړه چی په دوی دالله ﷻ دطرف څخه لوی فضل کیدونکی دی او (دغه شان کافران اومنافقان بیروی کوم چی یی په یوخاص عنوان سره تعبیرکړی دی هغه دا چی) دکافرانو او منافقانو خبره مه منی (دنبی کریم ﷺ څخه خو ددی دسره امکان نه وو چی دوی دکافرانو او منافقانو په خبرو کی راسی تبلیغ او دعوت پریږدی ، لیکن دخلګو دطعن اوتشنیع څخه دمحفوظ کیدو دپاره ممکنه وه چی دوی په دی عملی تبلیغ کی کوم چی دحضرت زینب ﷺ دنکاح په ذریعه مقصود وو څه سستی وکی ، دایی دکفارو دخبروپه منلو سره تعبیر کی) او د دوی (کافرانو او منافقانو) دطرف څخه چی (څه) ازار درو رسیږی (لکه چی په دی نکاح کی چی فعلی تبلیغ دی قولی ازار ورسیدی) ددی خیال مه کوی او (دفعلی ازار هم فکر مه کوی اوکه ددی وسوسه درته راسی نو) په الله ﷻ تکیه کوی اوالله ﷻ کار ساز دی (هغه به تا دضرر څخه محفوظ کوی اوکه په تبلیغ کی څه ظاهری ضرر رسیږی نو دغه باطنی نفع وی ، ځکه نو دغه دوعدی دکفایت او وکالت منافی نه ده)

معلومات اومسئلي : په تیرو ایتونو کی دنبی کریم ﷺ دتعظیم او تکریم او ده ﷺ ته دازار رسولو څخه دمحفوظ کیدو دپاره دهدایتونو په ضمن کی دحضرت زید ﷺ اوزینب ﷺ قصه او ددی په مناسبت سره دنبی کریم ﷺ خاتم النبین کیدل بیان سوی دی ، مخ ته هم د دوی دکمالی صفتونو بیان راتلونکی دی او د دوی ذات اوصفات دټولو مسلمانانو دپاره په دنیاکی دټولو څخه لوی نعمت دی ، ددی دشکر ادا کولو دپاره په ذکر سوی آیت کی دالله ﷻ د ذکر په کثرت سره دکولو حکم ورکول سوی دی .

(دالله ﷻ ذکر داسي عبادت دی کوم چي په هرحالت کي فرض او ددی په کثرت سره دکولو حکم دی)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا : حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی الله ﷻ په خپلو بندګانو دذکر الله څخه ماسوا هیڅ داسی فرض نه دی عائد کړی دکوم چی څه خاص حد مقررنه وی ، لمونځ پنځه وخته او دهر یوه لمونځ رکعتونه متعین دی ، درمضان روژی متعین اومقرر دی ، حج هم په خاص مقام کی

Maktaba Tul Ishaat.com

دخاصو مقررو عملونو نوم دی ، زکوٰة هم په کال کی یو وار فرض وی ، مګر ذکر الله داسی عبادت دی چی نه ددی څه حد اوتعداد متعین دی او نه یی څه خاص وخت او زمانه مقرره ده نه ددی څه خاص هیئت قیام او ناسته مقرره ده ، اونه ددی دپاره پاکوالی اوپه اوداسه کی کیدل شرط دی ، هر وخت په هرحال کی د ذکرالله په کثرت سره دکولو حکم دی ، سفر وی که حضر تندرستی وی اوکه بیماری ، په وچه وی که په دریاب کی ، شپه وی اوکه ورځ په هرحال کی دذکرالله حکم دی .

په دی وجه ددی په پرینبوولوکی دانسان څه عذر مسموع نه دی ، بغیر ددی څخه چی عقل اوحواس یی په ځای نه وی بی هوښه سی ، ددی څخه علاوه په نورو عبادتونو کی دبیماری او مجبوری په حالاتو کی انسان معذور مقررکی ، په عبادتونو کی داختصار اوکمی یا معافی رخصتونه هم ستة ، مګر دذکر الله دپاره الله ﷻ څه شرط نه دی مقرر کړی ، په دی وجه ددی په پرینبوولوکی په هیڅ حال کی هیڅ عذر نه سی او ریدل کیدی او ددی فضیلتونه او برکتونه هم بی شماره دی .

امام احمد دحضرت ابودرداء ؓ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ اصحابو رضی الله عنهم ته خطاب وکی او وي فرمایل چی ایا زه تاسی ته هغه شی ونه ښیم کوم چی ستاسی دټولوعملونوڅخه ښه اوستاسی دمالك په نزد دټولوڅخه زیات مقبول دی اوستاسی د درجو لوړوونکی دی او ستاسی دپاره دسرو سپینو دصدقو اوخیرات څخه ښه دی او ددی څخه هم ښه دی چی تاسی دالله ﷻ په لاره کی دجهاد پاره ووزی او ستاسی ددښمن سره مقابله وی ، تاسی دهغوی څټونه وهی اوهغوی ستاسی ، صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکی چی یا رسول الله ﷺ ، هغه کوم شی دی اوکوم عمل دی ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل چی ذکرالله عَزَّ وَجَلَّ یعنی دالله ﷻ یاد (ابن کثیر)

دارنګه امام احمد اوترمذی روایت کړی دی چی حضرت ابوهریره ؓ فرمایی چی ما درسول الله ﷺ څخه یوه دعا او ریدلی ده ، کومه چی زه هیڅکله نه پریږدم ، هغه دا ده .

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ اُعَظِّمُ شُکْرَكَ وَاَتْبِعُ نَصِیْحَتَكَ وَاُکْثِرُ ذِکْرَكَ وَاَحْفَظُ وَصِیَّتَكَ، (ابن کثیر)

یا الله ﷻ ما داسی جوړ کړی چی زه ستا شکر ډیر کوم اوستا دنصیحت تابع اوسیږم اوستا ذکر ډیر کوم او ستا وصیت محفوظ ساتم .

په دی کی نبی کریم ﷺ دالله ﷻ څخه ددی دعا کړي ده چی دذکر الله ډیر توفیق می وسی ،یو اعرابی رسول الله ﷺ ته عرض وکی چی داسلام عملونه فرائض او واجبات خو ډیر دی تاسی ماته داسی لنډه جامعه خبره وښیاست چی زه هغه په مضبوطی سره اختیار کړم ، نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل .

لَا یَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا بِذِکْرِ اللهِ تَعَالٰی (ابن کثیر، مسند احمد) یعنی ستا ژبه همیشه دالله ﷻ په ذکر تر او تازه پاته کیدل په کار دی .

او دحضرت ابوسعید خدری ؓ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

اُذْکُرُوا اللهَ تَعَالٰی حَتّٰی یَقُوْلُوْا مَجْنُوْنٌ (ابن کثیر ازمسند امام احمد) یعنی تاسی دالله ﷻ ذکر دومره کوی چی لیدونکی تاسی ته لیونی ووایی .

او دحضرت عبدالله ابن عمر ؓ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم خلک په یوه

Maktaba Tul Ishaat.com

مجلس کی کښینی په کوم کی چی دالله ﷻ ذکر رانه سی نو دقیامت په ورځ به دا مجلس دهغوی دپاره حسرت ثابت سی (رواه احمد ، ابن کثیر)

وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا : یعنی دالله ﷻ پاکی بیانوی سهار اومابنام ، دسهار او مابنام څخه مراد یاخو تول وختونه دی یابیا دسهار مابنام تخصیص څکه دی چی په دی وختونو کی دذکر الله تاکید هم زیات دی او برکت هم ، کنه نو ذکر الله دځه خاص وخت سره مخصوص او محدود نه دی .

هُوَ الَّذِي يُصَلِّي عَلَيْكُمْ وَمَلَائِكَتُهُ : یعنی هرکله چی تاسی دذکر دکثرت عادت سواست اوسهار او مابنام په تسبیح همیشه والی شروع کی نو ددی اعزاز اواکرام به دالله ﷻ په نزد دا وی چی الله ﷻ به په تاسی رحمت نازل کړی او ددې ملائکی به ستاسی دپاره دعاګانی کوی .

په ذکر سوی آیت کی لفظ دصلوة دالله ﷻ دپاره هم استعمال سوی دی او دملائکو دپاره هم ، لیکن مصداق دصلوة جلا جلادی ، دالله ﷻ صلوة خو دا دی چی هغه رحمت نازل وفرمایی اوملائکی په خپله په څه کار قادری نه دی ، د دوی صلوة دا دی چی دوی دالله ﷻ څخه درحمت دنزول دعا غواړی .

او حضرت ابن عباس ؓ فرمایی چی صلوة دالله ﷻ دطرف څخه رحمت دی او دملائکو دطرف څخه استغفار یعنی دعا دمغفرت ، او په خپل مینځ کی دیو بل دطرف څخه دعاء ده ، لفظ دصلوة دی دری سره وو معانیو ته شامل دی څوک چی مشترك عموم جائز ګرځوی دهغوی په نزد دالفظ په معنٰی کی مشترك دی او دری سره مراد دی ، څوک چی مشترك عموم دعربی قواعدو په وجه سره جائز نه ګڼی ، هغوی په طور دعموم مجاز په دی تولو معانیو باندی دلفظ دصلوة اطلاق مقرر وی .

تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُ سَلَامٌ : دا ددی صلوة وضاحت او تفسیر دی کوم چی دالله ﷻ دطرف څخه په مومنانو بندګانو باندی وی ، یعنی په کومه ورځ چی دا خلک دالله ﷻ سره مخامخ کیږی نو دهغه دطرف څخه به د دوی سره اعزازی خطاب په سلام سره کول کیږی ، یعنی السلام علیکم به ورته ویل کیږی ، دالله ﷻ سره دیو ځای کیدو ورځ به کومه وی؟ امام راغب وغیره فرمایی چی مراد ددی څخه ورځ دقیامت ده او دتفسیر څینی امامان فرمایی چی په جنت کی دداخلیدو وخت مراد دی ، کوم ځای چی به دوی ته دالله ﷻ طرف څخه هم سلام رسول کیږی او تولی ملائکی به هم سلام ورته کوی او څینو مفسرینو حضراتو دالله ﷻ سره دیوځای کیدو ورځ دمرګ ورځ مقرره کړې ده چی په دغه ورځ به دتول عالم څخه جلا کیږی صرف دیوه الله په مخکی دحاضریدو ورځ ده ، لکه چی دحضرت عبدالله ابن مسعود ؓ څخه روایت دی چی ملك الموت کله دیوه مومن دروح قبض کولو دپاره راځی نو اول ده ته دا پیغام رسوی چی ستا رب تا ته سلام ویلی دی .

او لفظ دلقاء په درو سره وو حالاتو باندی صادق دی ، څکه په دی اقوالو کی هیڅ تضاد او تعارض نسته چی دالله ﷻ دطرف څخه داسلام په درو سره وو حالاتو کی وی (روح المعانی)

مسئله : ددی آیت څخه دا ثابته سوه چی دمسلمانانو په خپله مینځ کی دیو بل سره تحیه لفظ د اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ په کار دی ، برابره خبره ده که دمشر دطرف څخه کشر ته وی اوکه دکشر دطرف څخه مشر ته وی .

Maktaba Tul Ishaat.com

(دنبي كريم ﷺ خاص صفتونه)

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ! وَدَاعِيًا إِلَى اللهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجًا مُنِيرًا

دا بيا واپسی ده دنبی کريم ﷺ دکمال او مناقبو خاصو صفتونو طرف ته ، په دی کی يی دنبی کريم ﷺ پنځه صفتونه ذکر فرمايلی دی ، شاهد ، مبشر، نذير، داعی الی الله، سراج منير.

دشاهد څخه مراد دا دی چی دوی به دقيامت په ورځ دامت دپاره شهادت ورکوی ، لکه چی په صحيح بخاری ، نسايی ، ترمذی وغيره کی دحضرت ابوسعيد خدری ﷺ څخه يو اوږد حديث روايت دی چی څينی جملی يی دا دی چی دقيامت په ورځ به حضرت نوح ﷺ پيش سی نو دده څخه به پوښتنه وسی چی ايا تازما پيغام خپل امت ته رسولی وو ؟ هغه به عرض وکی چی ما رسولی وو، بيابه دده امت پيش سی هغه به ددی څخه انکار وکی چی دوی ته يی دالله ﷻ پيغام رسولی دی ، دغه وخت به دحضرت نوح ﷺ څخه پوښتنه وسی چی ته دحق دکوم پيغام درسولو چی دعوه کوی ، پردی ستا څوك شاهد سته؟ هغه به عرض وکی چی محمد ﷺ او دده امت می شاهد دی په څينی روايتونو کی دی چی هغه به په شاهدی کی امت محمديه پيش کړی دا امت به دده په حق کی شاهدی ورکړی نو دحضرت نوح ﷺ امت به په دوی داجرحه وکی چی دوی زمونږ په معامله کی څنګه شاهدی کولی سی ، دوی خو هغه وخت لاپيدا سوی هم نه وه ، زمونږ دزمانی څخه ډيره اوږده زمانه وروسته پيداسوی دی ، ددی جرح په جواب کی به دامت محمديه څخه پوښتنه وسی ، دوی به دا جواب ورکړی چی بيشکه مونږ هغه وخت موجودنه وو، مګر مونږ ددی خبر دخپل رسول الله ﷺ څخه او ريدلی وو چی په هغه زمونږ ايمان اوعقيده ده ، هغه وخت به دنبی کريم ﷺ څخه د دوی ددی قول دتصديق دپاره شهادت واخيستل سی.

لنډه داچی نبی کريم ﷺ به دخپل شهادت په ذريعه دخپل امت تصديق اوتوثيق وفرمايی چی بيشکه مادوی ته دا اطلاع ورکړی وه.

او په امت باندی دشاهد کيدو يوعام مطلب دا هم کيدی سی چی نبی کريم ﷺ به دخپل امت دټولو افرادو دښو اوبدو عملونو شهادت ورکوی او دا شهادت به په دی بنا باندی وی چی دامت عملونه دنبی کريم ﷺ په مخکی هره ورځ سهار مابنام او په څينو روايتونوکی په هفته کی يوه ورځ پيش کيږی او دوی دامت يو يو فرد دده دعملونو په ذريعه پيژنی ، په دی وجه دقيامت په ورځ به دوی دامت شاهد جوړيږی (رواه ابن المبارك عن سعيدبن المسيب، مظهری)

او دمبشر معنی خوشخبری ورکوونکی دی ، مراد دا دی چی دی دخپل امت نيکو اوبا شريعته خلګوته دجنت خوشخبری ورکوونکی دی ، او دنذير، معنی بيرونکی دی ، مراد دا دی چی دی دامت خلګو ته په صورت دخلاف ورزی او نافرمانی دعذاب څخه بيرونکی دی.

دَ،داعی الی الله،څخه مراددادی چی دی امت ته دالله ﷻ دوجودتوحيداواطاعت طرف ته دعوت ورکوونکی دی داعِيًاالَى الله،يی دبِاذْنِ الله سره مشروط وفرمايی چی دی خلګوته دالله ﷻ طرف ته دعوت ورکوونکی اوبلونکی دالله ﷻ په اذن اواجازه سره دی ، ددی قيد اوشرط اضافه ددی اشاری دپاره ده چی دتبليغ او دعوت خدمت سخت ګران دی دغه دالله ﷻ داذن اواعانت څخه بغير دانسان په وس کی نه سی راتلی.

Maktaba Tul Ishaat.com

دسراج ، معنی څراغ او د ، منیر ، معنی روښانه کوونکی ، دنبی کریم ﷺ پنځم صفت په دی کی دابیان سو چی ته روښانه کوونکی څراغ یی اوځینو حضراتو دسراج منیر څخه مراد قرآن اخیستی دی مگر دنسقِ کلام څخه نژدی دا معلومیږی چی دا هم دنبی کریم ﷺ پنځم صفت دی.

بیهقی وقت ، حضرت قاضی ثناء الله صاحب رحمه الله په تفسیر مظهری کی فرمایی چی د دوی صفت داعی الی الله خو دظاهر او دژبی په اعتبار سره دی او سراج منیر د دوی صفت د دوی دزړه مبارك په اعتبار سره دی ، چی لکه څنګه ټول عالم دلمرځخه رڼاحاصلوی ، دغه شان دټولومومنانو زړونه د دوی دزړه دنور څخه منور کیږی ، په دی وجه صحابه کرام رضی الله عنهم کومو چی په دی عالم کی د دوی صحبت پیدا کی هغوی دټول امت څخه ا افضل اواعلی مقرر سول ، ځکه چی د دوی زړونو دنبی کریم ﷺ دزړه څخه بلا واسطه عیاناً فیض او نور حاصل کی باقی امت ته دانور دصحابه کرامو رضی الله عنهم په واسطه سره واسطه په واسطه ورسیدی (ختمه سوه خبره یی) او دا هم ویل کیږی چی ټول انبیاء خصوصاً نبی کریم ﷺ ددی دنیا څخه دتللو څخه وروسته هم په خپلو قبرونوکی ژوندی دی ، د دوی دا برزخی ژوند دعاموخلګو دبرزخی ژوند څخه په ډیرو درجو زیات فائق اوممتاز وی چی حقیقت یی الله ﷻ ته معلوم دی.

په هرحال ددی ژوندپه وجه ترقیامته پوری دمومنانو زړونه د دوی دزړه مبارك څخه استفاضه دنور کوی اوځوك چی څومره محبت اوتعظیم اود درود شریف زیات اهتمام کوی ، ددی نورحصه به زیاته پیداکی.

دنبی کریم ﷺ نورته یی دځراغ سره تشبیه ورکړه حال دا دی چی د دوی ﷺ دباطن نور دلمر دنور څخه ډیر زیات دی په لمر سره صرف د دوی ظاهر روښانه کیږی ، لیکن د دوی په زړه مبارك سره دټول جهان باطن او دومنانو زړونه روښانه کیږی ، وجه ددی تشبیه دا معلومیږی چی دځراغ دنور څخه استفاده اختیاری ده ، هر وخت کیدی سی ، دی ته رسیدل هم اسانه دی ، په خلاف دلمر څخه چی هغه ته رسیدل هم ګران دی او استفاده ورڅخه هر وخت نه سی کیدی.

دنبی کریم ﷺ داصفتونه څنګه چی په قرآن کریم کی راغلی دی،دقرآن څخه مخ ته په تورات کی هم ذکردی لکه چی امام بخاری نقل کړی دی چی حضرت عطاء بن یسار رحمه الله فرمایی چی زه یوه ورځ دحضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما سره یوځای سوم،نوددې څخه می سوال وکی چی دنبی کریم ﷺ کوم صفتونه په تورات کی راغلی دی هغه ماته وښیی،هغوی وفرمایل،بیشکه زه یی ښیم ، په خدای می قسم دی ، دنبی کریم ﷺ څینی صفتونه کوم چی په قرآن کریم کی ذکردی،هغه په تورات کی هم موجود دی اووي فرمایل.

إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا وَحِرْزًا لِلْأُمِّيِّينَ أَنْتَ عَبْدِي وَرَسُولِي سَمَّيْتُكَ الْمُتَوَكِّلَ لَيْسَ بِفَظٍّ وَلَا غَلِيظٍ وَلَا سَخَّابٍ بِالْأَسْوَاقِ وَلَا يَدْفَعُ السَّيِّئَةَ بِالسَّيِّئَةِ وَلَكِنْ يَعْفُو وَيَصْفَحُ وَلَنْ يَقْبِضَهُ اللهُ تعالى حَتَّى يُقِيمَ بِهِ الْمِلَّةَ الْعَوْجَاءَ بِأَنْ يَقُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ فَيُفْتَحَ بِهَا أَعْيُنًا عُمْيًا وَآذَانًا صُمًّا وَقُلُوبًا غُلْفًا.

ای نبی مونږ ته لیږلی شاهد جورکړی یی خوشخبری ورکوونکی او زیری ورکوونکی او پناه اوحفاظت دأمّیینو یعنی دعربو ته زما بنده اورسول یی ماستا نوم متوکل (یعنی په الله تکیه کوونکی) اینبی دی نه ته تندخویه او نه سخت مزاجه او نه په بازارونوکی شور کوونکی یی او ته دبدی بدله په بدی سره نه

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکوی بلکه معاف کوی یی اوتا به الله ﷻ ترهغه وخته پوری ددنیا څخه واپس نه کړی ترڅو پوری چی ستا په ذریعه کوږ امت سیده نه کړی چی هغوی لا اله الاّ الله ووایی ستا په ذریعه به الله ږندی سترګی ، کانه غوږونه او بند زړونه خلاص کی .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ

ای ایماندارو ! هرکله چی په نکاح واخلی تاسی مؤمنانی ښځی بیا دوی پریږدی مخکې ددې څخه چی دوی ته

فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّوْنَهَا ۚ فَمَتِّعُوْهُنَّ وَسَرِّحُوْهُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا ﴿۴۹﴾

لاس ور وړی نسته تاسی ته په دوی باندی عدت تیرول چی شمار پوره کړی نو دوی ته ورکوی څه فائده او رخصت یی کړی په ښه طریقه سره .

لنډتفسیر: ای ایماندارانو! (ستاسی دنکاح په احکامو کی یوحکم خو دا دی چی) کله تاسی دمسلمانانو ښځو سره نکاح وکی (او) بیا دوی ته مخ ته دلاس ورورو څخه (په څه وجه) طلاق ورکړی نوستاسی په دوی څه عده (واجب) نسته کوم چی تاسی شمار وی (چی دوی په دی عده کی د دوهمی نکاح څخه منع کړی لکه چی دعدی واجبیدو په صورت کی شرعًا دا منع کول جائز بلکه واجب دی اوکله چی په دی صورت کی عده نسته) نو دوی لره څه (مال) متاع ورکړی او په ښه طریقه سره دوی رخصت کړی (او دمومنانو ښځو په شان دکتابیانو ښځو هم دا حکم دی ، په آیت کی دمومنات قید په طور دشرط نه دی بلکه یو ترغیبی هدایت دی ، چی مومن ته په خپل نکاح کی دمسلمانی ښځی انتخاب کول ښه دی ، اولاس لګول کنایه ده دصحبت کولو څخه برابره خبره ده که حقیقتًا وی یاحکمًا لکه د دواړو خلوت صحیحه وسی نو دا هم دصحبت په حکم کی دی ، او صحبت حقیقتًا وی که حکمًا په دواړو صورتونو کی عده واجب ده لکه په هدایه وغیره کی دی اوکه مهر مقرر سوی وی نو دا متاع دنیم مهر ادا کول دی او ، سراح جمیل ، دا دی چی دا په ناحقه منع نه کړی اوکوم متاع چی ورکول واجب دی ، هغه ادا کړی او ورکول سوی بیرته وانه خلی او په ژبه سره هم څه خبره ونه کړی)

معلومات اومسئلي : په تیر ایت کی دنبی کریم ﷺ څو کمالی صفتونه او دده ﷺ دمخصوص شان ذکر وو ، مخ ته هم د دوی ددغو خصوصیاتو ذکر راتلونکی دی کوم چی دنکاح اوطلاق په معامله کی د دوی سره یوقسم خصوصیت لری اودعام امت په نسبت سره دوی ته په دی کی یوامتیازحاصل دی ، ددی څخه مخ ته په طور دابتدائیی یوعام حکم دطلاق متعلق ذکر سوی دی کوم چی دټولو مسلمانانو دپاره عام دی . په ذکر سوی آیت کی ددی دری احکام ذکر سوی دی .

اولني حکم : دا چی دیوی ښځی سره دنکاح کولو څخه وروسته دخلوت صحیح څخه مخکی په څه وجه دطلاق نوبت راسی نو په طلاقی سوی ښځی څه عده واجب نه ده ، دا فورًا بله نکاح کولی سی ، په ذکر سوی آیت کی دلاس لګولو څخه مراد صحبت او دصحبت حقیقی یاحکمی کیدل ، او د دواړو یو حکم کیدل ، په لنډ تفسیر کی معلوم سوی دی او صحبت حکمی خلوت صحیحه کیدل دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دوهم حکم دا دی چی طلاقی سوی ښځی ته په شرافت اوحسن خلق سره رخصت دځه سامان سره ورکړه ، څه سامان ورکول او رخصت کول دهری طلاقی سوی ښځی دپاره مستحب اوسنت دی اوپه ځینو صورتونو کی واجب دی چی تفصیل یی په لندتفسیر کی تیر سوی دی او دسورة بقره ترآیت، لَاجُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ : لاندی تیر سوی دی ، اوقرآن په ډیو الفاظوکی لفظ دمتاع اختیار فرمایل شاید په دی حکمت سره وی چی دالفظ دخپل مفهوم په اعتبار سره عام دی دهرهغه شی دپاره چی فائده ورڅخه اخیستل کیږی ، په دی کی دښځی واجب حقوق مهر وغیره هم شامل دی چی که لا تراوسه یی مهر نه وی ورکړی نو دطلاق په وخت کی دی په خوشحالی سره ورکړی ، اوغیر واجب حقوق مثلاً طلاقی سوی ښځی ته درخصت په وخت کی دجامویوه جوړه ورکول او رخصت ورکول دا هم په کی دا خل دی کوم چی هری طلاقی سوی ښځی ته یی ورکول مستحب دی (لکه چی په مبسوط، محیط او روح کی دی) په دی لحاظ سره دَ، مَتِّعُوهُنَّ، صیغه دعام امر دترغیب دپاره ده چی واجب اوغیر واجب دواړو قسمونو ته شامله ده (روح)

دحدیثو امام عبد بن حمید دحضرت حسن ﷺ څخه روایت کړی دی چی متعه یعنی متاع اوسامان دهری طلاقی سوی ښځی دپاره دی برابره خبره ده که خلوت صحیحه ورسره سوی وی اوکه نه وی سوی او مهر یی مقرر سوی اوکه نه وی سوی .

(دطلاق په وخت کي دمتعي يعني سامان تفصيل)

په بدائع کی دی چی دمتعی دطلاق څخه مراد هغه جامه ده کومه چی ښځه دکور څخه دوتلو په وخت کی خامخا استعمالوی په دی کی پرتوګ، قمیص اوخادر اویو لوی څادرکوم چی دسر څخه ترپښو پوری بدن پټ کړی شامل دی اوچونکی لباس دقیمت په اعتبار سره اعلی ادنی اوسط هرشان کیدی سی ، په دی وجه فقهاؤ ددی تفصیل فرمایلی دی چی که خاوند اوښځه دواړه دمالدارو کورنیو څخه وی نوجامی به داعلی قسم ورکول سی اوکه دواړه غریبان وی نو د ادنی قسم اوکه یو غریب اوبل مالدار وی ، نو د اوسط قسم لباس به ورکول سی (او دارنګه ویلی دی خصاف په نفقات کی)

(په اسلام کي دحسن معاشرت بې مثله تعليم)

په دنیا کی دحقونو ادائیګی په عام طور سره تر دوستانو اوعزیزانو پوری او دزیات څخه زیات ترعامو خلګو پوری محدوده وی ، دحسن اخلاق اوحسن معاشرت ټول زور صرف تردی پوری خرڅ کیږی ، دخپل مخالف اودښمن هم حقونه پیژندل ددی دپاره قوانین وضع کول صرف داسلامی شریعت کار دی ، په دی زمانه کی که څه هم دانسانیت دحقونو دحفاظت دپاره په دنیاکی ډیری مستقلی اداری قائمی سوی دی او ددی دپاره څه ضابطی او قاعدی هم جوړی سوی دی ددی مقصد دپاره ددنیا دقومونو څخه دلکونو روپیو سرمایه هم جمع کیږی ، مګر اول خو په دی ادارو باندی سیاسی مقصدونه خپاره سوی دی ، دمصیبت زپلو چی کوم څه امداد کیږی هغه هم بی غرضه اوهرڅای نه وی ، بلکه کوم ځای چی خپل سیاسی مقصدونه پوره کیږی ، اوفرض کړه که دا اداری بالکل په صحیح طور سره هم دخلګو خدمت پوره کوی نو د دوی دزیات څخه زیات هغه ځای ته رسیدل کیدی سی ، کله چی دمخکی پریوه حصه څه

Maktaba Tul Ishaat.com

عامه حادثه طوفان، وبایی مرضونه وغیره پیښ سی ، نو دیو تن یاځو کسانو خبر چاته رسیږی اوځوك یی مدد ته رسیدی سی؟ داسلامی شریعت حکیمانه تعلیم ته وګوری چی ددی طلاق معامله ظاهره خبره ده چی په خپل مینځ کی دمخالفتو غصی اوخفګان په وجه پیداکیږی اونتیجه یی عموماً دا وی چی کوم تعلق دانتهایی یو والی اومحبت اوالفت پرینیاد قائم سوی وو هغه اوس ددی ضد جوړ سو، دنفرت ، دښمنی او انتقامی جذباتو مجموعه جوړه سوه دقرآن کریم دی ذکرسوی آیت اودغسی نورو ایتونو عین دطلاق په وخت کی چی مسلمان ته کوم هدایات ورکړی دی هغه داسی دی چی په دی کی دحسن خلق او حسن معاشرت پوره امتحان کیدی سی ، دنفس تقاضا وی چی کومی بنځی مونږته تکلیف ورسوی او ازار یی کړو ، نژدی چی په قطع تعلق باندی مجبوره سو، دا ښه په ذلت سره وباسو اوځومره بدل چی ددی ځخه اخیستی سو وایی خلو .

مګر قرآن کریم خو دعامو طلاقو سوو بنځو دپاره یوه لویه پابندی دعدی اوپه ورځو دعدی کی دخاوند په کور کی دپاته کیدو ولګوله ، په طلاق ورکوونکی یی فرض کړه چی په دی موده کی دننه به بنځه دخپل کور ځخه نه باسی او دا یی هم پابنده کړه چی دعدی په ورځو کی به ددی کورځخه نه وزی او دوهمه یی په خاوند فرض کړه چی دطلاق ورکولو باوجود په دی زمانه کی دعده کی به نفقه په دستور سره جاری ساتی دریم دخاوند دپاره یی دا مستحب کړل چی دعدی پوره کیدو ځخه وروسته هم کله چی دا رخصتوی نو متاع یعنی لباس دی ورکړی او په عزت سره دی رخصت کړی ، صرف هغه بنځی چی دهغوی سره صرف نکاح سوی ده ، درخصتی اوخلوت او صحبت نوبت نه دی راغلی ، هغوی دعدی ځخه مستثنی کړل سوی ، لیکن د دوی دمتاع تاکید په نسبت دنورو بنځو زیات وسو او ددی سره .

دریم حکم یی داورکی چی، وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا: یعنی دوی رخصت کړی په ښه طریقه سره ، په دی کی یی داپابندی ولګوله چی په ژبه سره ورته هم څه سخته خبره ونه کړی دطعن اوتشنیع طریقه اختیارنه کی دمخالفت په وخت کی دمخالفت دحقونو رعایت هغه څوك کولی سی کوم چی دخپل نفس په جذباتو واك راولی ، داسلام په ټولو تعلیماتو کی ددی رعایت ایښوول سوی دی .

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَاجَكَ اللَّاتِي

ای نبی ﷺ ! مونږ حلالی کړی تا لره ستابنځی دکومو چی

آتَيْتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْكَ

تا ورکړی دی مهر دهغوی او کوم چی مال دی ستا دلاس کومی چی لاس ته دروستلی دی الله ستا

وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّاتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَالَاتِكَ

اوستا داکا لونی ، اوستادتروراتو لونی اوستا دماماګانو لونی اوستادمور دخوندو لونی

Maktaba Tul Ishaat.com

الّٰتِیْ هَاجَرْنَ مَعَكَ ۚ وَامْرَاَةً مُّؤْمِنَةً اِنْ وَّهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِیِّ

کومو چی وطن پرې یښی دی ستاسره ، او کومه ښځه چی مسلمانه وی ، که وبخښی خپل ځان نبی ﷺ ته

اِنْ اَرَادَ النَّبِیُّ اَنْ یَّسْتَنْكِحَهَا ۗ خَالِصَةً لَّكَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِیْنَ ؕ

که نبی غواړی چی دی په نکاح کی راولی ، دا خاص دی ستا دپاره ما سوا دټولو مسلمانانو څخه

قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَیْهِمْ فِیْۤ اَزْوَاجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ اَیْمَانُهُمْ

مونږ ته معلوم دی کوم چی مونږ مقرر کړی دی په دوی باندی د دوی ډنبځو په حق کی او د دوی دلاس دمال

لِكَیْلَا یَكُوْنَ عَلَیْكَ حَرَجٌ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا ۝۵۰ تُرْجِیْ

په حق کی چی پاته نه سی په تاباندی څه تنګی ، اودی الله ﷻ بخښنی والا مهربان ، وروسته کړه

مَنْ تَشَآءُ مِنْهُنَّ وَتُـْٔوِیْۤ اِلَیْكَ مَنْ تَشَآءُ ؕ وَمَنِ ابْتَغَیْتَ

ته چاړه چی غواړی د دوی څخه او په خپله خوا کی ساته ته چاړه چی غواړی او چاړه چی زړه وغواړی ستا

مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَیْكَ ؕ ذٰلِكَ اَدْنٰۤی اَنْ تَقَرَّ اَعْیُنُهُنَّ

دهغو څخه چی په څنګ کړی وی تا نو هیڅ ګناه نسته په تا ، دا ډیره نژدی ده چی یخی وی سترګی دهغوی

وَلَا یَحْزَنَّ وَیَرْضَیْنَ بِمَاۤ اٰتَیْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ؕ وَاللّٰهُ یَعْلَمُ

او غم نه کوی او راضی وی په هغه کوم چی تا ورکړل ټولو ته ، او الله ﷻ پوه دی

مَا فِیْ قُلُوْبِكُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِیْمًا حَلِیْمًا ۝۵۱ لَا یَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ

په هغو چی ستاسی په زړونو کی دی او دی الله ﷻ په هرڅه پوه بردبار ، حلالی نه دی تاله ښځی

مِنْۢ بَعْدُ وَلَاۤ اَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ اَزْوَاجٍ وَّلَوْ اَعْجَبَكَ

ددې څخه وروسته او نه دا چی بدلی کړی دوی په نورو ښځو که څه هم ښه معلومه

حُسْنُهُنَّ اِلَّا مَا مَلَكَتْ یَمِیْنُكَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ رَّقِیْبًا ۝۵۲ ع

سی تا ته دهغو صورت مګر که مالکان وی راسته لاسونه ستا ، او دی الله ﷻ په هر شی نګهبان

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسیر: ای نبی (ځینی احکام ستاسره مخصوص دی چی په دی سره ستا اختصاص اوشرف هم ثابتیږی په هغوکی ځینی دا دی اول حکم) مونږ ستا دپاره دا بیابیانی (کوم چی دا وخت ستاپه خدمت کی حاضری دی او) کوموته چی تا دهغوی مهر ورکړی دی (سره ددی چی دځلورو ځخه زیاتی دی) حلالی کړی دی (دوهم حکم) او هغه ښځی هم (په خاص طور حلالی کړی دی) کومی چی ستا مینځی دی ، کوم چی الله ﷻ تاته په غنیمت کی درکړی دی (ددی خاص طور بیان به په معلوماتو اومسئلو کی راسی دریم حکم) اوستا داکاګانو لونی اوستا دپلار دخوندو لونی (مراد ددی ځخه دپلار دخاندان انجونی دی) او ستا دماماګانو لونی اوستا دمور دخوندو لونی (مراد ددی ځخه دمور دخاندان انجونی دی یعنی دا توله) هم (الله ﷻ ستا دپاره حلالی کړی دی مګر دا دمطلق خاندان ښځی نه بلکه په دوی کی صرف هغه) کومو چی ستاسره هجرت کړی وی (ستا سره مطلب دا دی چی دهجرت په دی کارکی یی موافقت کړی وی او دزمانی ملګرتیا مراده نه ده او ددی قید ځخه هغه ووتل کوم چی مهاجری نه وی ځلورم حکم) او هغه مسلمانه ښځه (یی) هم (ستا دپاره حلاله کړې ده) کومه چی نبی عوضه (یعنی بی مهره) ځان پیغمبرته ورکړی (یعنی په نکاح کی راتلل وغواړی) په دی شرط سره چی پیغمبر دا په نکاح کی را وستل وغواړی (او دمسلمانی په قید سره ورځخه کافره ووتله چی حضور ﷺ لره ددی سره نکاح درسته نه وه او دا حکم پنځم دی او) دا ټول (احکام) ستا دپاره مخصوص سوی دی ، نه دنورو مومنانو دپاره (چی د دوی دپاره نور احکام دی چنانچی) مونږ ته هغه احکام معلوم دی (او دایتونو او احادیثو په ذریعه نوروته هم ښوول سوی دی) کوم چی مونږ پردغو (عامو مومنانو) باندی د دوی دبیابیانو اومینځو په باره کی مقرر کړی دی (کوم چی ددی احکامو ځخه جلا او بدل دی ، دکومو ځخه چی دنمونی په طور یو لوړ هم په آیت ، اِذَا نَكَحْتُمْ، کی مذکور دی ، په کوم کی چی ، فَمَتِّعُوْهُنَّ، سره دمهر لزوم دهری نکاح دپاره ثابتیږی، برابره خبره ده که حقیقتًا وی یاحکمًا او برابره خبره ده که په خپل مینځ کی په قرار داد سره وی یاپه شرعی حکم سره اونکاح نبوی په ځلورم حکم سره دمهرځخه خالی ده اودا اختصاص ځکه دی) چی پرتا ځه قسم تنګی (واقع) نه وی (نوپه کومو مخصوصو احکامو کی چی دنورو ځخه وسعت دی ، لکه حکم اول اوځلورم په دی کی خوتنګی نه کیدل ظاهردی اوپه کومو کی چی ظاهرًا تقیید اوتضیق دی لکه دریم اوپنځم حکم ، هلته دتنګی نه کیدو دا معنی ده چی مونږ دا قید ستا دځینو مصالحو دپاره لګولی دی که دا قید نه وای نو ستا هغه مصلحت به فوت سوی وای او هغه وخت به تاته تنګی وای کومه چی مونږ ته معلومه ده په دی وجه رعایت ددی مصلحت وسوچی دغه تنګی محتمله واقع نه سی او د دوهم حکم متعلق بیان به په معلوماتو اومسئلو کی راسی) او (دحرج رفع کولو رعایت ځه په دی مختصو احکام کی نه دی ، بلکه دعامو مومنانو متعلق چی کوم احکام دی په هغه کی هم دا امر ملحوظ دی ځکه چی) الله ﷻ غفور رحیم دی (نو په رحمت سره په احکامو کی دسهولت رعایت فرمایی اوپه اسانو احکامو کی هم چی کله کوتاهی وسی مغفرت فرمایی کوم چی دلیل دغایت رحمت دی کومه چی بناده داسانی داحکامو اودرفع دحرج او دا خو بیان وو دهغو ښځو دقسمونو کوم چی ستا دپاره حلالی سوی دی ، مخ ته ددی بیان دی چی کوم قسمونه حلال سوی دی په هغوکی چی څومره ځه وخت ستاسره وی دهغه ځه احکام دی نوشپږم حکم دا

Maktaba Tul Ishaat.com

ارشاد دی چې، په دوی کی ته چا ته چې وغواړې (اوترڅو پورې چې وغواړې) دڅان ځخه لیرې ساته (یعنی هغې ته لمبر مه ورکوه) اوچا ته چې وغواړې (اوتر څو پورې چې وغواړې) خپل ځان ته یې نژدې ساته (یعنی هغې ته لمبر ورکوه) اوکومې چې دی لیرې کړې وی په هغوی کی بیا چې څوك طلب کوی بیا هم په تا څه ګناه نسته (مطلب دا سو چې په بیبیانوکی دشپی دلمبر، وار وغیره رعایت په تا باندی واجب نه دی او په دی کی یو لوی ضروری مصلحت دی هغه دا چې) په دی کی زیاته توقع ده چې د دوی (بیبیانو) سترګی یخی وی (یعنی خوشحاله وی) او زړونه یې خفه نه وی اوڅه چې هم تاسی دوی ته ورکوی په هغه ټولی راضی وی (ځکه چې دغمجن کیدو بناء عادتًا دعوٰی داستحقاق وی اوکله چې معلومه سی چې څه مال لګول توجه ګرځول وی، دغه محضی داحسان په طور سره وی دغه زمونږ نه څه حق دی او نه ضروری دی ، نو بیابه څه قسم ګله یاشکایت نه وی او دمینځو دوار نه کیدل ټولوته معلوم دی) آو (ای مسلمانانو! دا مخصوص احکام واوری او په زړه کی داخیالات مه پیداکوی چې دا احکام عام ولی نه سول که تاسی داسی وکی نو) خدای ﷻ ته ستاسی دټولو خبرو علم دی (په داسی خیال کولو به تاسی ته سزا درکړی ځکه چې داپه الله ﷻ اعتراض اوپه رسول الله ﷺ باندی حسد دی ، کوم چې موجب دعذاب دی) اوالله ﷻ (دا څه چې کوی) په هرڅه پوهیدونکی دی (اواعتراض کوونکو ته چې کومه ژر سزا ورنه کول سی ، نو په دی سره نفی دعلم نه لازمیږی ، بلکه ددی وجه دا ده چې هغه) بردباره (هم) دی (په دی وجه کله په سزا ورکولو کی وخت اړوی ، مخ ته هغه احکام بیانوی چې دحضرت رسالت مآب سره خاص دی ارشاد کوی چې په دوی کی ځینی خو دلورو احکامو په نتیجه کی دی او ځینی نوی دی نو ارشاد دی چې لورِ چې کوم په دریم اوپنځم حکم کی په منکوحه ښځوکی دهجرت اوایمان قید لګول سوی دی نو) ددغو ځخه علاوه نوری ښځی (په کوموکی چې داقیدنه وی) ستا دپاره حلالی نه دی (یعنی په خپلوانو کی غیر مهاجراتی حلالی نه دی اوپه نورو ښځوکی غیر مومنانی حلالی نه دی دا خو تتمه سوه دلورِ حکم) آو (مخ ته اووم حکم نوی دی چې) نه دا جائز ده چې ته ددی (موجوده) بیبیانو په ځای نوری بیبیانی وکړی (داسی چې په دوی کی ځینو ته طلاق ورکړی او د دوی په ځای نوری وکړی او داسی چې بغیر د دوی دطلاقولو ځخه دچا سره نکاح وکړی نو ددی ممانعت نسته ، دغه شان که بغیر دقصد دبدلولو ځخه چاته طلاق ورکوی نو ددی هم ممانعت ثابت نه دی ، بلکه لفظ دتبدل ددی ټولو په ممانعت باندی دال دی نو دا تبدل منع دی) که څه هم تاته ددغو (نورو) حسن ښه معلوم سی مګرکوم چې ستامینځی وی (چې هغه دپنځم اواووم دواړوحکمونوځخه مستثنٰی دی یعنی هغوی دکتابیه کیدو سره هم حلالی دی اوپه دوی کی تبدل هم درست دی) اوالله ﷻ دهرشی (دحقیقت اواثارواومصلحتونو) پوره نګران دی (په دی وجه په دی ټولو احکامو کی مصلحتونه اوحکمتونه دی که څه هم عامو مکلفینو ته هغه په تعین سره نه دی ښودل سوی ، په دی واسطه سره چاته دسوال یا داعتراض منصب او استحقاق نسته)

معلومات اومسئلې : په ذکر سوو ایتونوکی دنکاح اوطلاق وغیره سره متعلق اووه احکام ذکر دی کوم چې دنبی کریم ﷺ سره مخصوص دی او دا خصوصیات دنبی کریم ﷺ دیو امتیازی شان او دخصوصی اعزاز نښانه ده په دی کی ځینی احکام خو داسی دی چې دهغه خصوصیت دنبی کریم ﷺ سره بالکل واضح او

Maktaba Tul Ishaat.com

ښکاره دی او څینی داسی دی کوم چی دتولو مسلمانانو دپاره عام دی ، مګر په دی کی څه قیدونه او شرطونه دنبی کریم ﷺ دپاره مخصوص دی ، اوس یی تفصیل وګوری .

اولنی حکم . إِنَّا أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَاجَكَ اللَّاتِي آتَيْتَ أُجُورَهُنَّ : یعنی مونږ حلالی کړی ستا دپاره ستا تولی موجوده بیبیانی دکومو مهر چی تا ادا کړی دی ، دا حکم په ظاهره دتولو مسلمانانو دپاره عام دی ، مګر په دی کی وجه دخصوصیت دا ده چی دایت دنزول په وخت کی د دوی په نکاح کی دځلورو څخه زیاتی بیبیانی موجودی وی او دعامو مسلمانانو دپاره دځلورو څخه زیاتی ښځی په یو وخت په نکاح کی لرل جائز نه دی .

او په دی آیت کی چی یی کوم ، اللَّاتِي آتَيْتَ أُجُورَهُنَّ : فرمایلی دی دا څه قید احترازی یاشرط دحلت نه دی ، بلکه دواقعی اظهار دی چی څومره ښځی دنبی کریم ﷺ په نکاح کی رالی ده ﷺ دتولو مهر ادا کی نسیا یی نه دی پاته کړی (یعنی یوې نیټی ته یی پرې نه ښووی) د دوی عادت شریف دا وو چی دکوم شی ورکول به د دوی په ذمه عائد سول هغه به یی فوراً ورکوی سبکدوش کیدی به ، بغیر دضرورت څخه به یی تاخیر نه فرمایی ددی واقعی په اظهار کی عامو مسلمانانو ته هم ددا سی کولو ترغیب دی .

دوهم حکم ، وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْكَ : یعنی ستا دپاره حلالی سوی دی هغه ښځی کومی چی ستا په ملك کی دی داسی چی الله ﷻ ته د دوی مالك جوړ کړی وی ، په دی آیت کی لفظ دَأَفَاء دَفِيْء څخه مشتق دی داصطلاحی معنی په لحاظ سره هغه مال کوم چی دکفاروځخه بغیر دجنګ یاپه طور دمصالحت حاصل سی او کله مطلق مال دغنیمت هم په فِيء سره تعبیر کیږی ، په دی آیت کی ددی ذکر دځه شرط په طور نه دی چی ستا دپاره به صرف هغه مینځی حلالی وی کومی چی په مال دفِيء یاغنیمت کی ستالاس ته راغلی وی بلکه کوم چی دوی په مال سره اخیستی وی هغه هم په دی حکم کی شاملی دی لیکن په دی حکم کی په ظاهره دنبی کریم ﷺ څه اختصاص اوامتیاز نسته دتولو خلګو دامت دپاره دا حکم دی کومه مینځه چی دغنیمت په مال کی په حصه کی راسی یاکومه چی په قیمت ورکولو سره واخیستل سی هغه هم د دوی دپاره حلاله ده او په ظاهره سیاق ددی ایتونو تولو دا غواړی چی په دوی کی کوم احکام راغلی دی هغه دی څه نا څه دنبی کریم ﷺ سره خصوصیت لری ، په دی وجه په روح المعانی کی دمینځو دحلالوالی سره متعلق هم دنبی کریم ﷺ یو خصوصیت دا ښوولی دی چی لکه څنګه چی د دوی څخه وروسته د دوی پاکی بیبیانی دچا امتی دپاره په نکاح اخیستل حلالی نه دی ، دغه شان کومی مینځی چی د دوی دپاره حلالی سوی دی د دوی څخه وروسته به هغه دبل چادپاره حلالی نه وی ، لکه چی حضرت ماریه قبطیه ﷺ ده کومه چی مقوقس دروم بادشاه دوی ته په طور دتحفی لیږلی وه نو لکه څنګه چی د دوی دوفات څخه وروسته دپاکو بیبیانو نکاح دچا دپاره جائز نه وه دغه شان د دوی هم دبل چادپاره نکاح جائز نه سوه ، په دی لحاظ سره دَ ، وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ ، په حلالیدو کی هم د دوی ﷺ یو خصوصیت ثابت سو .

اوحضرت حکیم الامت قدس سره نور دوه خصوصیتونه په بیان القرآن کی بیان فرمایلی دی کوم چی د ذکر سوو خصوصیتونو څخه زیات واضح دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

اول دا چی نبی کریم ﷺ ته دالله ﷻ دطرف څخه دا اختیار خصوصی ورکول سوی وو چی دغنیمت دمال دتقسیمولو څخه مخکی دوی ددی څخه څه شی دځان دپاره خوښ کړی نو هغه به د دوی خاص ملك کیدی ، دی خاص شی ته به یی په اصطلاح کی صفی النبی ویل ، لکه چی دخیبر دغزا په غنیمت کی نبی کریم ﷺ حضرت صفیه ﷺ دځان دپاره مخصوصه کړی وه ، نو دملك یمین په مسئله کی دا صرف دنبی کریم ﷺ خصوصیت دی .

دوهم خصوصیت دا دی چی ددارالحرب څخه چی دیوغیرمسلم دطرف څخه څه ډالی اوتُحفه دمسلمانانو د امیر په نوم راسی نو شرعی حکم دا دی چی دهغه مالك به امیرالمؤمنین نه وی بلکه هغه به دشرعی بیت المال ملکیت مقرریږی ، په خلاف دنبی کریم ﷺ څخه چی داسی ډالی د دوی دپاره په خصوصیت سره حلاله سوې ده ، لکه دحضرت ماریه قبطیه ﷺ معامله چی ده ، چی مقوقس هغه په طور ډالی اوتحفه حضور ﷺ ته په خدمت کی پیش کړه ، نو هغه د دوی ملك مقرر سو ، والله تعالی اعلم

دریم حکم ، وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّاتِكَ : په دی آیت کی یی عم اوخال دمفرد ، اوعمّت اوخالت دجمع په صیغه دراوړلو علماؤ ډیر توجیهات لیکلی دی ، تفسیر روح المعانی دابوحیان دا توجیه اختیار کړې ده چی محاوره دعربو دغه شان ده ، دعربو اشعار په دی شاهد دی چی دعم جمع نه استعمالوی ، مفرد یی استعمالیږی .

مطلب دایت دا دی چی داکا او دعمه لونی او دماما اودمور دخور لونی حلالی سوی دی ، په اکا اوعمه کی دپلار دخاندان تولی انجلی او په ماما اوخاله کی دمور دخاندان تولی انجلی شاملی دی او د دوی سره دنکاح حلالوالی خو دنبی کریم ﷺ سره مخصوص نه دی دتولو مسلمانانو هم دا حکم دی ، لیکن په دوی کی دا قید چی دوی ستا سره دمکی مکرمی څخه هجرت کړی وی دا دنبی کریم ﷺ خصوصیت دی ، ددی مطلب دا دی چی دعام امت دپاره خو دپلار او دمور دخاندان دا انجلی بغیر دځه شرط څخه حلالی دی ، برابره خبره ده که دوی هجرت کړی وی اوکه یی نه وی کړی ، مگر دنبی کریم ﷺ دپاره په دوی کی صرف هغه حلالی دی کومو چی د دوی سره هجرت کړی وی ، د دوی سره دهجرت کولو دپاره دا ضروری نه ده چی په سفرکی ورسره ملګری سوی وی یایی په یو وخت کی ورسره هجرت کړی وی ، بلکه مراد په نفس هجرت کی معیت اوموافقت دی ، په هغوی کی چی کومو په څه وجه سره هجرت نه وی کړی دهغوی سره د دوی نکاح صحیح نه سوه ، لکه چی د دوی داکا ابوطالب لور ام هانئ ؓ فرمایی چی زماسره د دوی نکاح څکه حلاله نه وه ، چی ما دمکی څخه هجرت نه وو کړی ، بلکه زماشمیرپه طلقاء کی وو ، طلقاء هغو خلګو ته ویل کیږی کوم چی دمکی دفتح په وخت کی نبی کریم ﷺ ازاد کړی وه ، نه یی قتل کړل او نه یی غلامان جوړ کړل (روح اوجصاص)

او دنبی کریم ﷺ سره دنکاح دپاره دمهاجراتو شرط صرف دخپل مور اوپلار دخاندان په انجلیو کی وو ، دعام امت په ښځوکی دهجرت شرط نه وو ، بلکه دهغوی صرف مسلمانه والی کافی وو او دخاندان په جینکیوکی دهجرت په شرط لګولوکی شاید دا حکمت وی چی په عام طور سره دخاندان انجلیو ته

Maktaba Tul Ishaat.com

دخپل خاندان یو ناز اوفخر وی او درسول ﷺ دښځوالی دپاره دشایانِ شان نه وه ، ددی علاج یی دهجرت په شرط سره وکی څکه چی هجرت صرف هغه ښځه کوی کومه چی دالله ﷻ او درسول ﷺ محبت دخپل ټول خاندان او وطن اوجائیداد دمحبت څخه غالب کړی ، دارنګه دهجرت په وخت کی انسان ته قسم قسم تکلیفونه پیښیږی او دالله ﷻ په لاره کی چی کوم تکلیف او مشقت برداشت سی ، دعملونو په اصلاح کی دی لره خاص دخل دی .

لنډه دا چی دمور اوپلار دخاندان دانجلیو سره په نکاح کی دنبی کریم ﷺ دپاره یو خصوصی شرط دا دی چی دوی دمکی څخه په هجرت کولوکی د دوی سره ملګرتیا کړی وی .

څلورم حکم ، وَامْرَأَةً مُؤْمِنَةً إِنْ وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ النَّبِيُّ أَنْ يَسْتَنْكِحَهَا خَالِصَةً لَكَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ : یعنی که یوه مسلمانه ښځه خپل نفس دوی ته هبه کړی یعنی ویې بخښی ، چی بغیر دمهرڅخه د دوی سره نکاح کول وغواړی که دوی ددی سره دنکاح اراده وکی نو د دوی دپاره بغیر دمهر څخه هم نکاح حلاله ده ، او دا خاص حکم د دوی دپاره دی دنورو مومنانو دپاره نه دی .

ددی معاملی خصوصیت دنبی کریم ﷺ سره بالکل واضح دی،څکه چی دعامو خلګو دپاره مهرپه نکاح کی لازمی شرط دی تردی چی که په وخت دنکاح کی دځه مهرذکرپه نیست یانفی سره راغی چی ښځی وویل زه مهرنه اخلم یاسړی وویل چی نکاح په دی شرط کوم چی مهر به نه ورکوم په دواړوصورتونوکی د دوی وینا اوشرط به په شرعی حیثیت سره لغوه وی او شرعاً به مهرِ مثل واجب وی ، صرف دنبی کریم ﷺ په خصوصیت سره نکاح بغیر مهره حلال سوې ده ، کله چی ښځه بغیرمهره په نکاح کولو خواهشمنده وی .

فائده : دا حکم چی کومه ښځه ستاسره بغیرمهره نکاح کول وغواړی هغه ستاسی دپاره حلاله ده ، په دی کی دعلماؤاختلاف دی چی داسی یوه واقعه پیښه سوی هم ده اوکه نه ؟ څینی فرمایی چی دځه داسی ښځی سره دنبی کریم ﷺ سره نکاح کول ثابت نه دی مطلب یی دادی چی دیوداسی ښځی سره دنبی کریم ﷺ نکاح نه ده سوی چی څان یی ورته بخښلی وی اوځینوداسی ښځوسره نکاح کول ثابت کړی دی (روح المعانی)

ددی حکم سره چی کومه جمله خَالِصَةً لَكَ، راغلی ده ، څینو حضراتو دا صرف ددی څلورم حکم سره مخصوص کړې ده او زمخشری وغیره مفسرینو دا جمله ټولو احکامو سره لګولې ده کوم چی لوړ ذکر سوی دی چی دا ټول خصوصیات دنبی کریم ﷺ دی ، ددی په اخرکی فرمایی ، لِكَيْلَا يَكُونَ عَلَيْكَ حَرَجٌ : یعنی دا خصوصی احکام ستا دپاره درکول سول چی په تا څه تنګی نه وی ، کوم مخصوص احکام چی لوړ بیان سوی دی ، په دی کی اولنی حکم یعنی دځلورو څخه زیاتی بیبیانی ستا دپاره حلالی سوی اوځلورم حکم چی بغیر دمهر څخه نکاح حلاله سوه ، په دی کی خو دتنګی لیری کول او زیاته اسانی ورکول خو په ظاهره په دوی څینی زیات قیدونه ولګول سول چی تنګی نوره زیاتیدل په کار دی ، مګر په دی کی یی اشاره وکړه چی که په ظاهر کی دا قیدونه یو قسم تنګی زیاتوی ، مګر په دی کی ستا دپاره دداسی مصلحتونو رعایت دی چی که دا قیدونه نه وای نو تاسی ته به لوی تکلیف را پیښیدی کوم چی به دزړه تنګیدو سبب کیدی په دی وجه په زیاتی قیدونوکی هم ستا تنګی رفع کول مقصود دی .

پنځم حکم ، کوم چی په ذکر سوو ایتونوکی دمُؤْمِنَةً په قیدسره مستفادکیږی داکه څه هم دعامو

Maktaba Tul Ishaat.com

مسلمانانو دپاره دکتابیانو یعنی دیهودو اونصاراؤ دښځو سره نکاح په نص دقرآن سره حلاله ده ، مګر دنبی کریم ﷺ دپاره دښځی مومن والی شرط دی ، دکتابیانو ښځو سره د دوی نکاح نه سی کیدی .

ددی پنځو احکامو دنبی کریم ﷺ سره دخصوصیت بیانولوځخه وروسته دعامومسلمانانوحکم یی اجمالاً ذکر فرمایلی دی ، قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِي أَزْوَاجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ : یعنی ذکرسوی احکام ستا دپاره مخصوص دی ، دباقی مسلمانانو دنکاح دپاره چی مونږکوم څه فرض کړی دی هغه مونږ ته معلوم دی ، مثلاًدعامومسلمانانونکاح بغیر دمهر څخه نه سی کیدی اودکتابی ښځو سره د دوی نکاح کیدی سی ، دغه شان په تیرو احکاموکی چی کوم قیدونه اوشرطونه ستا دپاره ضروری سوی دی ، هغه دنورو دپاره نه دی .

په اخرکی فرمایی ، لِكَيْلَا يَكُونَ عَلَيْكَ حَرَجٌ : یعنی دنکاح په معامله کی ستادپاره دا خصوصی احکام په دی وجه دی چی په تاځه تنګی نه وی اوکوم قیدونه اوشرطونه چی په تاباندی په نسبت دنورو مسلمانانو زیات لګول سوی دی ، که څه هم په ظاهره دا یو قسم تنګی ده ، مګر دکومو مصلحتونو او حکمتونو ترمخه چی ستا دپاره داشرطونه لګول سوی دی ، په دی کی چی فکر وسی نو هغه هم ستا دروحانی پریشانی اوتنګدلی دلیری کولو دپاره دی .

تردی پوری دنکاح متعلق پنځه احکام راغلی دی کوم چی دنبی کریم ﷺ سره څه ناځه خصوصیت لری ، مخ ته دوه حکمونه ددی پنځو احکامو سره متعلق فرمایی ، مثلاً .

شپږم حکم ، تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ، تُرْجِي : د اِرْجَاء څخه مشتق دی چی معنی یی وروسته کول دی ، اوتُئْوِيْ د ، اِيْوَاء څخه مشتق دی چی معنی یی نژدی کول دی ، مطلب دا دی چی تاته اختیار دی چی په پاکو بیبیانو کی چاته وغواړی وروسته کړی اوچا ته چی وغواړی نژدی یی کړی څانته دا دنبی کریم ﷺ دپاره مخصوص حکم دی دعام امت دخلګو دپاره کله چی یی ډیری بیبیانی وی نو په تولو کی برابری کول ضروری دی ، ددی خلاف کول حرام دی ، دبرابری څخه مراد دنفقی برابری اوپه شپه تیرولو کی برابری ده ، چی څومره شپی دیوی بی بی سره تیری کړی ، دومره به دبلی سره تیر وی کومی زیاتی کول ناجائز دی ، مګر دنبی کریم ﷺ دپاره په دی معامله کی مکمل اختیار ورکول سوی دی په تولو بیبیانو کی دبرابری کولو دحکم څخه مستثنی سو او دایت په اخر کی یی دا هم حکم ورکی چی دکومی بی بی څخه دی یو وار دځان ساتلو اراده وکړه بیاکه غواړی نو دا بیا ځان ته نژدی کولی سی د ، وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ : دا مطلب دی .

الله ﷻ نبی کریم ﷺ ته دا اعزاز ورکی چی په پاکو بیبیانوکی یی دبرابری کولو دحکم څخه مستثنی وفرمایی ، مګر نبی کریم ﷺ به ددی استثناء اواجازت باوجود په خپل عمل کی همیشه برابری کول لازم فرمایل ، امام ابوبکر جصاص فرمایی چی دحدیث روایت دا دی چی نبی کریم ﷺ به ددی آیت دنزول څخه وروسته هم په پاکو بیبیانوکی دبرابری رعایت همیشه ساتی ، بیا په خپل اسناد سره دحضرت عائشی ﷺ څخه دا حدیث نقل کوی کوم چی په مسندِ احمد ، ترمذی ، نسائی اوابوداود وغیره کی هم موجود دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْسِمُ فَيَعْدِلُ وَيَقُولُ: اللَّهُمَّ هَذَا قَسْمِي فِيمَا أَمْلِكُ فَلَا تَلُمْنِي فِيمَا تَمْلِكُ وَلَا أَمْلِكُ ، قَالَ أَبُو دَاوُد يَعْنِي الْقَلْبَ .

رسول الله ﷺ به په ټولو بيبيانوکی برابری فرمايله او دا دعابه يی کوله چی يااالله دکوم شی چی زما اختيار دی په هغه کی خو مابرابری وکړه (يعنی په نفقه اوشپه تيرولو وغيره کی) مګرکوم چی زماپه اختيار کی نه دی په هغه معامله کی مامه ملامتوی (مراد ورځخه دزړه محبت دی دچا سره چی کوم ددی می اختيار نسته)

او په صحيح بخاری کی دحضرت عائشی ﷺ روايت دی چی که نبی کريم ﷺ ته به ديوی بی بی په لمبرکی دهغه کورته دورتلو ځخه څه عذر وو نو دهغه ځخه به يی اجازه غوښتله ، حال دا دی چی دا ايت هم نازل سوی وو ، تُنْوِي إِلَيْكَ الخ (چی په دی کی يی په بيبيانوکی دبرابری کولو فرض دوی ته معاف کړی وو) دا حديث هم په ټولو کتابونو داحاديثوکی معروف دی چی دوفات په مرض کی کله چی دوی ته دپاکو بيبيانو کورونو ته روزانه بدليدل مشکل سوه نو دوی دټولو ځخه اجازت حاصل کی ، دحضرت عائشی ﷺ په کورکی يی دبيماری دورځو تيرول اختيار فرمايلی وو .

دانبياء ﷺ اوخصوصًا دخاتم الانبياء ﷺ عادت شريف دا وو چی په کومو کارونو کی به دوی ته دالله ﷻ دطرف ځخه څه رخصت د دوی داسانی دپاره ورکول سو نو ددی دشکر ګذاری په طور به دوی په عام طور سره په عزيمت عمل کوی او رخصت به يی صرف دضرورت په وخت کی استعمالوی .

ذَلِكَ أَدْنَىٰ أَنْ تَقَرَّ أَعْيُنُهُنَّ وَلَا يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ : دا حکم شپږم يعنی دنبی کريم ﷺ ځخه په پاکوبيبيانوکی دبرابری فرضيت پورته کول او دوی ته دهرقسم اختيار ورکول ددی دعلت اوحکمت بيان دی دوی ته ددی عام اختيار ورکولو مصلحت دا دی چی دټولو پاکو بيبيانو سترګی يخی او دوی په خپله حصه باندی راضی وی .

دلته دا شبهه کيدی سی چی دا حکم خو په ظاهره دپاکو بيبيانو دمرضی اومنشاء خلاف او د دوی دغم سبب کيدی سی ، دا دپاکو بيبيانو دخوشحالی سبب څنګه وګرځول سو؟ ددی جواب په لنډ تفسيرکی لوړ راغلی دی چی په اصل کی دنارضتيا اصل سبب خپل استحقاق وی ، دکوم سړی متعلق چی انسان ته دا معلومه وی چی زما فلانی حق دده په ذمه واجب دی که هغه يی په ادا کولوکی کوتاهی وکی نو رنځ او غم ورته پيښيدی سی او په کوم سړی چی زماڅه حق واجب نه وی ، بياهغه چی هرڅه مهربانی هم وکی هغه سراسر خوشحالی وی ، دلته هم کله چی دا وښوول سوه چی په پاکو بيبيانوکی برابری کول پر دوی ﷺ واجب نه دی ، بلکه د دوی اختيار دی نو اوس چی کومی بی بی ته څومره حصه هم د دوی دتوجه او صحبت حاصليږی هغه به د دوی يو احسان او تبرع ګڼی اوخوشحاله به وی .

په اخرکی فرمايی ، وَاللهُ يَعْلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمْ وَكَانَ اللهُ عَلِيمًا حَلِيمًا ، يعنی الله ﷻ پوه دی چی څه ستاسی په زړونو کی دی او هغه لوی علم والا لوی حلم والا دی .

په ذکر سوو ايتونوکی دلوړ ځخه تردی ځای پوری دهغه احکامو ذکر راروان دی کوم چی دنبی کريم ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com

دنکاح سره په څه شان سره خصوصیت لری ، مخ ته هم دداسی څینو احکامو بیان راروان دی ، په مینځ کی دا ایت چی الله ﷻ ستاسی دزړونو حال پیژنی اوعلیم اوحلیم دی ، په ظاهره دماقبل اومابعد سره موافقت نه لری ، په روح المعانی کی فرمایی چی په ذکر سوو ایتونوکی دنبی کریم ﷺ دپاره دځلورو څخه دزیاتو بیبیانو اجازت او دبی مهره نکاح په اجازه سره دچاپه زړه کی شیطانی وسوسی پیدا کیدی سوی په دی وجه په مینځ کی دی آیت داهدایت ورکی چی مسلمانان دی خپل زړونه دداسی وسوسو څخه محفوظ کړی او په دی دي ایمان پوخ کړی چی دا ټول خصوصیات دالله ﷻ دطرف څخه دی کوم چی په ډیرو حکمتونو اومصلحتونو باندی مبنی دی ، دنفسانی خواهشاتو دتکمیل دلته څه وجه نسته .

(دنبي کریم ﷺ زاهدانه ژوند او ددی سره دبیبیانو دزیاتوالي مسئله)

داسلام دښمنانوهمیشه دزیاتو بیبیانو مسئله اوخصوصاً دنبی کریم ﷺ دبیبیانو زیاتوالی داسلام په مخالفت کی دبحث موضوع جوړ کړي ده ، لیکن دنبی کریم ﷺ ټول ژوندچی مخ ته کښیښوول سی ، نو هیڅ شیطان ته هم دشان رسالت خلاف ددی وسوسی پیدا کولو ګنجائش نه پاته کیږی ، ددی څخه ثابته ده چی دوی دټولو څخه اولنی نکاح دپنځه ویشتو کالو په عمرکی دحضرت خدیجی ﷺ سره وکړه کومه چی سن رسیده با اولاده کونډه او د دوو خاوندانو په نکاح کی دپاته کیدو څخه وروسته راغلی وه او ترپنځوسو کالو ترعمر پوری یی صرف ددی یوی بوډی کونډی سره دځوانی پوره زمانه تیره سوه ، دا پنځوس کاله دوران دعمریی دمکی دخلګوپه مخکی تیرسو ، دځلویښتوکالوپه عمرکی دنبوت داعلان څخه وروسته دمکی په ښارکی د دوی مخالفت شروع سو اومخالفینو د دوی په ازارولو اوپه دوی په عیب لګولوکی هیڅ کسر پاته نه کی ، ساحر یی وویل، مجنون یی وویل اوشاعر یی وویل، مګر هیڅکله هم یوه دښمن ته د دوی طرف ته دیوداسی شی دنسبت کولو موقع حاصله نه سوه کومه چی تقوٰی اوطهارت مشکوک کړی .

دپنځوس کاله عمر شریف دتیریدو اودحضرت خدیجی ﷺ دوفات څخه وروسته یی حضرت سوده ﷺ په نکاح ورغله ، دا هم کونډه وه .

مدینی منوری ته دهجرت اوځلور پنځوس کاله کیدو څخه وروسته په سنه ۲ هجری کی دحضرت عائشه صدیقه ﷺ رخصتی دنبی کریم ﷺ په کورکی وسوه ، ددی څخه وروسته دحضرت حفصی ﷺ سره اوخه ورځی وروسته دحضرت زینب بنت خزیمه ﷺ سره یی نکاح وسوه ، حضرت زینب ﷺ څومیاشتی وروسته وفات سوه ، په سنه ۴ هجری کی یی دحضرت ام سلمه ﷺ سره کومه چی صاحب اولاد کونډه وه نکاح وسوه ، په سنه ۵ هجری کی دحضرت زینب ﷺ بنت جحش سره په حکم دخدای نکاح وسوه چی ذکریی دسورة احزاب په شروع کی راغلی دی ، دغه وخت د دوی عمر شریف اته پنځوس کاله وو ، په اخری پنځو کلونوکی باقی پاکی بیبیانی د دوی په حرم کښ دا خلی سوی، دپیغمبر دکورنی ژوند اوکورنی معاملاتو متعلق ددین داحکامو یوه ډیره لویه حصه جوړیږی ، ددی نهو پاکو بیبانو په ذریعه چی څومره ددین اشاعت وسو، ددی اندازه صرف ددی څخه کیدی سی چی دحضرت عائشه صدیقه ﷺ څخه یوازی

Maktaba Tul Ishaat.com

دوه زره دوه سوه لس ۲۲۱۰ احادیث اودحضرت ام سلمه ﷺ څخه دری سوه اته شپیته ۳۲۸ احادیث په معتبرو کتابونو داحادیثوکی روایت سوی اوجمع سوی دی ، حضرت ام سلمه ﷺ چی کوم احکام اوفتواوی خلگوته ښوولی دی چی دهغه متعلق حافظ ابن قیم په اعلام الموقعین کی لیکلی دی چی که هغه جمع سی نویومستقل کتاب به ورځخه جوړسی ، د دوو سوو څخه زیات صحابه حضرات ﷺ دحضرت عائشه صدیقه ﷺ شاگردان دی کومو چی احادیث فقه اوفتوی د دوی څخه زده کړی دی .

او ډیری بیبیانی په حرم نبوی کی په داخلولو کی د دوی خاندانونه داسلام طرف ته دراوستلو حکمت هم وو ، دنبی کریم ﷺ دژوند دا اجمالی نقشه چی مخ ته کښینبوول سی نو ایا چاته ددی وینا گنجائش پاته کیدی سی چی دا ډیروالی او کثرت دبیبیانو معاذ الله دځه نفسانی اوجنسی خواهش دتکمیل دپاره سوی وو، که داسی وای نو ټول عمر په تجرد کی یادیوی کونډی سره دتیرولو څخه وروسته دعمر اخری حصه به یی ددی کار دپاره ولی منتخب کوله ، دا مضمون په پوره تفصیل سره دارنگه په اصل مسئله کی ددیروالی دبیبیانو، شرعی اوعقلی ، فطری اواقتصادی حیثیت سره مکمل بحث په معارف القرآن کی دسورة نسآء د دریم آیت لاندی تیر سوی دی ، هلته یی وگوری .

اووم حکم ، لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَاءُ مِنْ بَعْدُ وَلَا أَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ أَزْوَاجٍ وَلَوْ أَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ : یعنی ددی څخه وروسته ستا دپاره دنورو ښځو سره نکاح حلاله نه ده او دا هم حلال نه دی چی په موجوده بیبیانوکی چاته طلاق ورکړی او د دوی په ځای نوری بدلی کړی .

په دی آیت کی لفظ د ، مِنْ بَعْدُ ، دوه تفسیرونه کیدی سی ، یو دا چی دَ، مِنْ بَعْدُ ، څخه مراد دا وی چی وروسته ددغو ښځو څخه کوم چی دا وخت ستاپه نکاح کی دی ، دبلی سره ستا نکاح حلاله نه ده ، دځینو اصحابو اوامامانو دتفسیر څخه هم دا تفسیر نقل دی ، لکه چی حضرت انس ﷺ فرمایی چی کله چی الله ﷻ پاکو بیبیانوته اختیار ورکی چی ددنیا طلب کولو دپاره د دوی څخه جدایی اختیار وی اوکه د دوی سره چی څه تنگی یافراخی راځی ، په هغه قناعت کوی ، د دوی په ښځوالی کی اوسیږی ؟ نو ټولو پاکو بیبیانو دخپلی نفقی دزیاتی مطالبه پریښوله ، په دی حال کی یی په ښځوالی کی پاته کیدل اختیار کړل ، نو په دی باندی په طور دانعام الله ﷻ د دوی ذات گرامی ددغو بیبیانو دپاره مخصوص کی ، د دوی څخه ماسوا دبلی سره نکاح کول جائز پاته نه سو(رواه البیهقی فی سننه کذا فی الروح)

اوحضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی څنگه الله ﷻ پاکی بیبیانی د دوی دپاره مخصوصی کړی چی د دوی څخه وروسته هم دوی دبل چا سره نکاح نه سی کولی ، دغه شان یی حضور ﷺ هم د دوی دپاره مخصوص کی چی دوی هم د دوی څخه ماسوا دبلی ښځی سره نکاح نه سی کولی ، دحضرع عکرمه ﷺ څخه هم په یوه روایت کی دا تفسیر منقول دی .

اوحضرت عکرمه رحمه الله ، ابن عباس ﷺ اومجاهد امامانو دتفسیر څخه په یو روایت کی دلفظ دمن بعد دا تفسیر نقل سوی دی چی ، مِنْ بَعْدِ الْأَصْنَافِ الْمَذْكُورَةِ، یعنی دایت په شروع کی د دوی دپاره چی څومره اقسام دښځو حلال سوی دی ددی څخه وروسته یعنی ددغو څخه ماسوا دبل قسم ښځو سره ستا

Maktaba Tul Ishaat.com

نکاح حلاله نه ده مثلاً دایت په شروع کی دخپل خاندان په ښځوکی صرف هغه زنانه حلالی سوی کومو چی دمکی مکرمی څخه مدینی منوری ته په هجرت کولوکی د دوی سره موافقت کړی وو ، دخاندان په ښځو کی دغیر مهاجراتو ښځو سره د دوی نکاح نه وه حلاله سوی ، دغه شان دمومنی قید یی ولګوی او د دوی دپاره یی داهل کتابو دښځو سره نکاح ناجائز وګرځوله نو دایت دجملی من بعد مطلب دا دی چی څومره قسمونه ستا دپاره حلال سوی دی صرف په هغه کی دچاسره ستا نکاح کیدی سی ، په عامو ښځوکی خومسلمانوالی شرط دی او دخاندان په ښځوکی د دوی سره هجرت کول شرط دی ، په کومو کی چی دا دواړه شرطونه موجود نه وی دهغوی سره نکاح حلاله نه ده ، په دی تفسیر سره دا جمله څه نوی شرط نه دی بلکه داولنی حکم تاکید او وضاحت دی ، کوم چی دایت په شروع کی بیان سوی دی ، او ددی آیت په وجه دنهو څخه وروسته دبلی ښځی سره نکاح نه ده حرامه سوی بلکه دغیر مومنه او دخاندان دغیر مهاجری سره نکاح منع سوې ده کوم چی مخکی معلوم سوی دی ، دباقی ښځو سره زیاته نکاح کول د دوی په اختیار کی پاته سو ، دحضرت عائشه ﷺ دیو روایت څخه هم ددی دوهم تفسیر تائید کیږی چی دحضور ﷺ دپاره دزیاتی نکاح کولو اجازه پاته ده ، والله تعالی اعلم

وَلَا اَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ اَزْوَاجٍ : دذکر سوی آیت که دوهم تفسیر معتبر سی نو ددی جملی مطلب واضح دی چی که څه هم تاته دموجوده بیبیانو څخه علاوه دنورو ښځو سره نکاح په مذکوره شرطونو جائز ده ، مګر دا جائز نه دی چی یوی ته طلاق ورکړی او ددی په ځای بله بدله کړی ، یعنی خالص دتبدیلی په نیت سره هیڅ نکاح جائز نه ده ، بغیر دلحاظ دنیت دتبدیلی څخه څومره چی غواړی نکاحی کولی سی .

اوکه دذکر سوی آیت اولنی تفسیر مراد واخیستل سی نو معنی به یی دا وی چی اننده ته نه په موجوده ښځو زیاتوالی کولی سی او نه څه تبدیلی کولی سی چی په دوی کی چاڅه طلاق ورکړی اوپرځای یی بله ښځه په نکاح سره واخلی ، والله سبحانه وتعالی اعلم

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتَ النَّبِيِّ

ای ایماندارو ! مه ننوزی دنبی کورونو ته

اِلَّآ اَنْ يُّؤْذَنَ لَكُمْ اِلٰى طَعَامٍ غَيْرَ نٰظِرِيْنَ اِنٰىهُ وَلٰكِنْ اِذَا

مګر هرکله چی تاسی ته حکم وی دخوراک دپاره نه لارکتونکی ددې پخیدوته ، او لیکن کله

دُعِيْتُمْ فَادْخُلُوْا فَاِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوْا وَلَا مُسْتَاْنِسِيْنَ

چی تاسی را وبلل سی نو دننه کیږې بیا چی کله وخوری نو خوریږې او مه کښینی

لِحَدِيْثٍ ۭ اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيٖ مِنْكُمْ ۡ وَاللّٰهُ

خبرو کولو دپاره ، ستاسی په دی خبره تکلیف وو نبی ﷺ ته بیا ستاسی څخه شرم کوی او الله ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com

لَا يَسْتَحْيٖ مِنَ الْحَقِّ ؕ وَاِذَا سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا فَسْـَٔلُوْهُنَّ مِنْ

شرم نه کوی دصحیح خبری په ښوولوکی ، اوهرکله چې غواړی دبیبیانو څخه دڅه کار شی نو غواړی دپردی

وَّرَآءِ حِجَابٍ ؕ ذٰلِكُمْ اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ وَقُلُوْبِهِنَّ ؕ وَمَا كَانَ لَكُمْ اَنْ

څخه دباندی ، په دی کی ښه پاکی ده ستاسی زړونو ته او دهغوی ﷺ زړونوته ، اونه دی لایق تاسی لره چې

تُؤْذُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَلَآ اَنْ تَنْكِحُوْٓا اَزْوَاجَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖۤ اَبَدًا ؕ

تکلیف ورکړی دالله رسول ﷺ ته اونه دا چې نکاح وکړی دده ﷺ دښځو سره ، دده څخه وروسته کله ،

اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِيْمًا ﴿۵۳﴾ اِنْ تُبْدُوْا شَيْـًٔا اَوْ تُخْفُوْهُ

خامخا ستاسی دا خبره دالله ﷻ په نزد عظیمه گناه ده ، که په ښکاره وکړی تاسی یو شی یایی پټوی

فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿۵۴﴾ لَا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِيْۤ اٰبَآئِهِنَّ

نو الله ﷻ دی په هر شی باندی پوه ، گناه نسته دی ښځو لره چې مخ ته راځی

وَلَآ اَبْنَآئِهِنَّ وَلَآ اِخْوَانِهِنَّ وَلَآ اَبْنَآءِ اِخْوَانِهِنَّ وَلَآ اَبْنَآءِ اَخَوٰتِهِنَّ

دخپلو پلارانو اونه دخپلو زامنو اونه دخپلو وړونو او نه دخپلو وړونو دزامنو ، اونه دخپلو خوندو دزامنو

وَلَا نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ ۚ وَاتَّقِيْنَ اللّٰهَ ؕ

او نه دخپلو ښځو او نه دخپل لاس دمال ، اوبیره کوی ای ښځو دالله ﷻ څخه

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدًا ﴿۵۵﴾

بیشکه دالله ﷻ په مخکی دی هر یوشی .

لنډتفسیر: ای ایماندارانو! دنبی کورونو ته (بغیردبللوڅخه) مه ورځی ، مگر څه وخت چې تاسی ته دخوراك دپاره (دراتللو) اجازه درکول سی (نوبیاپه تللوکی څه باك نسته ، مگر بیاهم تلل) په داسی طور (دی وی) چې ددغه (خوراك) دتیاریدو منتظر نه یاست (یعنی بغیر دبللو څخه خودسره مه ځی اوچی وبلل سی نو هم دیرمخکی مه ځی چې ناست یاست) لیکن کله چې تاسی وبلل سی (چې اوس راځی خوراك تیار دی) نو بیاځی بیاچې کله خوراك وخوری نو پورته کیږی اوځی او په خبروکی په مینه شروع سوی مه کښینی (څکه چې) په دی خبره نبی ﷺ ته تکلیف وی ، نوهغه ستاسی لحاظ کوی (اوپه ژبه سره څه نه فرمایی چې پورته سی ځی) اوالله ﷻ په صفا خبره ویلوکی (دچا) لحاظ نه کوی (په دی وجه یی صفا صفا

Maktaba Tul Ishaat.com

وویله) او (داوس څخه دا حکم کول کیږی چی دحضور ﷺ بیبیانی دی ستاسی څخه پرده کوی نو داوس څخه) کله چی تاسی د دوی څخه څه شی غواړی نو دپردی څخه دباندی (ودریږی) اوغواړی یی (یعنی بی ضرورته خو دپردی خواته تلل اوخبره کول هم نه دی په کار مگر چی ضرورت وی نو دخبروپه کولوکی څه باك نسته مگر مخامخ کیدل نه دی په کار) دا خبره (دهمیشه دپاره) ستاسی دزړونو او د دوی دزړونو دپاکیدو دپاره ښکلی ذریعه ده (یعنی لکه څنگه چی تراوسه پوری دجانبینو زړونه پاك دی ، په دی سره دائنده دپاره هم دعدم طهارت احتمال دفع سوکوم چی دغیر معصوم په اعتبارسره فی نفسه محتمل کیدی سو) او (نبی ﷺ ته دتکلیف رسولو حرامولی صرف دفضولو کښینستو په صورت کی منحصرنه دی بلکه مطلق حکم دی چی) تاسی (په څه کارکی) جائز نه دی چی رسول الله ﷺ ته تکلیف ورسوی اونه دا جائز دی چی تاسی د دوی څخه وروسته د دوی دبیبیانو سره کله هم نکاح وکی ، دا دخدای په نزد ډیره لویه (دگناه) خبره ده (اولکه څنگه چی دا نکاح ناجائزه ده ، دغسی ددی په ژبه سره ذکرکول یاپه زړه کی یی اراده کول ټوله گناه دی نو) که تاسی (ددی متعلق څه شی (په ژبه سره) ظاهر کړی یا ددی (ارادی) هرشی ښه پیژنی (نوتاسی ته به پردی سزا درکی اومونږ چی مخ ته کوم حکم دپردی کړی دی ، ددی څخه څینی مستثنی هم دی دهغو بیان دا دی چی) دپیغمبر ﷺ پربیبیانو دخپلو پلرونو (مخ ته راتلو) په باره کی څه گناه نسته او نه دخپل زامنو (یعنی دکوموچی زامن وی) اونه دخپلو وړونو اونه دخپلو وربرونو اونه دخپلو خوریو اونه دخپلو (دین شریکو) ښځو اونه دخپلو مینځو (یعنی دوی ته مخته کیدل جائز دی) او (ای دپیغمبر بیبیانو! ددی ذکر سوو احکامو په عمل کولوکی) دخدای څخه وبیریږی (چی دهیڅ حکم خلاف ونه کی) بیشکه الله ﷻ په هر شی حاضر (ناظر) دی (یعنی دهغه څخه هیڅ شی پټ نه دی څوك چی ددی خلاف کوی هغه ته دسزا څخه بیریدل په کار دی)

معلومات اومسئلي : په ذکر سوو ایتونوکی داسلامی معاشری دځو ادابو اواحکامو بیان دی چی تعلق یی دتیرو ایتونو سره دا دی چی کوم اداب په دی ایتونوکی تلقین سوی دی ، هغه په اول کی دنبی کریم ﷺ دکور اود دوی ﷺ دپاکوبیبیانوپه باره کی نازل سوی دی که څه هم حکم یی ددوی سره مخصوص نه دی .

﴿ اولني حکم دطعام دعوت اودمیلمه ځیني اداب ﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا وَلَا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ .

په دی کی دطعام ددعوت اومیلمستیا متعلق د دری احکامو بیان دی اوحکم که څه هم دټولو مسلمانانو دپاره عام دی ، مگر سبب دنزول چونکی خاص واقعه درسول الله ﷺ په مکان کی وسوه ، په دی وجه یی په عنوان کي دبیوت النبي ذکر وفرمایی ،اول دا چی دنبی ﷺ کور ته بغیر داجازت څخه مه داخلیږی ، لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ : دوهم ادب دا دی چی کله ددا خلیدو اجازه بلکه دخوراك دعوت هم وی نو دوخت څخه مخ ته راتلل اودخوراك تیاریدو په انتظارکی کښینستل نه دی په کار ، غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ دناظر معنی دلته دمنتظر ده اولفظ دَانا په زیر دهمزه سره خوراك پخیدوته ویل کیږی ، په آیت کی د ، لَا تَدْخُلُوا ، څخه یوه استثنی خودَ ، إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ : په لفظ دَالاَ سوي ده ، دا دوهمه استثنی په لفظ

Maktaba Tul Ishaat.com

دغیر ده ، چی مطلب یی دا سو چی مه بغیر داجازت څخه دا خلیږی اومه دوخت څخه مخکی ورځی چی دخوراك پخیدو انتظار کوی ، بلکه کله چی را وبلل سی په یو وخت باندی نو هغه وخت کورته دا خلیږی وَلٰكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا .

دریم ادب دا دی چی دخوراك څخه فارغه سي نو خپلو خپلو کارونو ته خپاره سی ددعوت په کورکی دخبرو کولو دپاره مه کښینی ، فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا وَلَا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ .

مسئله : دا په عاموحالاتوکی ده ، کم څای چی عادتًا دمیلمنو دخوراك څخه وروسته په کښینستلو کور به ته تکلیف وی برابره خبره ده که ددی دپاره چی دوی ولاړسی اوکور به خپلو نورو کارونو ته وزګار سی یاددی دپاره چی د دوی څخه فارغه سی او په خپلو نوزو میلمنو باندی خوراك وخوری اوکوم څای چی په حالاتو او په عادت سره دا معلومه وی چی دخوراك څخه وروسته دمیلمنو تر ډیر وخته پوری په خبرو کی مشغول پاته کیدل دکور به دپاره تکلیف نه وی هغه به ددی څخه مستثنٰی وی ، لکه چی نن صبا په پارټیو او دعوتونو کی رواج جوړ سوی دی ددی دلیل دایت راتلونکی جمله ده چی په کی ارشاد دی ، إِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِي مِنْكُمْ وَاللّٰهُ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ : یعنی دخوراك څخه وروسته په خبرو کی دمشغول کیدو دممانعت سبب دا دی چی په داسی کولو سره نبی کریم ﷺ ته تکلیف رسیدی ، څکه چی دمیلمنو دخوراك انتظام په زنانه مکان کی وو هلته دمیلمنو تر ډیر وخته پوری پاته کیدل دکوروالاؤ دپاره ظاهره خبره ده چی تکلیف وو .

په آیت کی دا هم ارشاد فرمایی چی نبی کریم ﷺ ته که څه هم دمیلمنو په دی طرز عمل سره تکلیف رسیدی لیکن دخپل کور میلمانه وه په دی حالت کی دوی ته په ادب ښوولو سره حیاء مانع کیږی ، مګر دحقی خبری په اظهارکی اللہ ﷻ حیاء نه کوی .

مسئله : په دی جمله دمیلمنو داکرام اوخاطرداری څومره لوی اهتمام معلوم سو چی که دمیلمستوب اداب ښوول د دوی په فرائضوکی وه ، مګر دخپلو میلمنو په حالت کی دوی دا هم وروسته کړل ، تردی چی په خپله اللہ ﷻ په قرآن کی دا ادب وښووی .

(دوهم حکم دښځو پرده)

وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ ذٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ : په دی کی هم که څه هم سبب دنزول دخاصی واقعی په بنابانديی په بیان اوتعبیرکی خاص دپاکوبیبیانو ذکر دی ، مګر حکم دټول امت دپاره عام دی ، خلاصه دحکم دا ده چی دښځوڅخه که نورو سړو ته داستعمال شی لوښی کپړه وغیره غوښتل ضروری وی نو مخامخ دی ورلره نه راځی بلکه دپردی څخه پناه دی غواړی اوفرمایی چی دا دپردی حکم دسړو اوښځو دواړو دزړونو دنفسانی وسوسوڅخه دپاك ساتلو دپاره ورکول سوی دی .

(دښځو دپردی خاص اهمیت)

دلته دا خبره دفکر قابله ده چی دا دپردی احکام کومو ښځو او سړوته چی ورکول سوی دی ، په دوی کی ښځی خوپاکی بیبیانی دی دکومو دزړونه دپاك صفا ساتلو دپاره چی اللہ ﷻ په خپله ذمه واری اخیستی ده چی ذکر یی ددی څخه مخکی په آیت ، لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ : کی په تفصیل سره راغلی

Maktaba Tul Ishaat.com

دی ، بل طرف ته چی کوم سړی مخاطب دی هغه دنبی کریم ﷺ اصحاب دی په کومو کی چی دډیرو حضراتو مقام دملائکو څخه مخکی دی .

مګر ددی ټولو خبرو باوجود د دوی دزړونو دپاکوالی اونفسانی وسوسو څخه دمحفوظ کیدو دپاره دا ضروری وګڼل سوه چی دسړی اوښځی په مینځ کی پرده وسی ، نن څوك دی چی خپل نفس دصحابه کرامو رضی الله عنهم دنفسونو څخه پاك اودخپلو ښځو نفسونه دپاکو بیبیانو دنفسونو څخه دزیات پاکیدو دعوی وکړل سی او داسی وګڼی چی زمونږ دښځو سره خلط کیدل څه خرابی نه سی پیدا کولی .

(دذکر سوو ایتونو دنزول اسباب)

ددی ایتونو دنزول په سبب کی څو واقعات بیانیږی چی په هغه کی هیڅ تضاد نسته ، کیدی سی چی دا ټول واقعات دایتونو دنزول سبب جوړ سوی وی ، دایتونو په شروع کی چی کوم دمیلمستیا اداب بیان سول چی بغیر دبلنی څخه دی دخوراك دپاره نه څی او دخوراك په انتظار کی دی نه کښینی ، ددی دنزول سبب ابن ابی حاتم دسلیمان بن ارقم څخه دا نقل کړی دی چی دا ایت دهغو درنو او بوجناکو خلکو په باره کی نازل سوی دی کوم چی بغیر ددعوت څخه دچا کور ته ولاړ سی نوکښینی او دخوراك انتظار کوی .

او امام عبدبن حمید دحضرت انس رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چی دا ایت دهغو څینو خلکو په باره کی نازل سوی دی کومو چی به انتظارکوی او دخوراك دوخت څخه مخکی به دنبی کریم ﷺ کورته تلل اوکښینستل به او په خبرو کی به مشغوله وه ، تردی چی خوراك به تیار سو نو په دی کی به شریك سول ، دداسی خلکو دپاره داهدایتونه جاری سول کوم چی دایت په شروع کی ذکر دی ، دا واقعات دپردی داحکامو نازلیدو څخه مخکی دی ، کله چی به عام سړی او زنانه کور ته تلل راتلل .

دوهم حکم کوم چی دښځو دپردی سره متعلق دی ددی په شان نزول کی دامام بخاری دوه روایتونه دی ، یو روایت دحضرت انس رضی الله عنه څخه دا دی چی حضرت عمربن خطاب رضی الله عنه نبی کریم ﷺ ته عرض وکی چی یارسول الله! تاسی ته نیك اوبد هرقسم خلګ څی راځی که تاسی پاکو بیبیانوته دپردی حکم وکی نو ښه معلومیږی ، پردی دحجاب دا ایت نازل سو .

په صحیح بخاری اومسلم کی دحضرت فاروق اعظم رضی الله عنه دا قول منقول دی چی دوی وفرمایل .

وَافَقْتُ رَبِّي فِي ثَلَاثٍ قُلْتُ يَارَسُولَ اللهِ لَوِاتَّخَذْتَ مَقَامَ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى وَاتَّخِذُوْامِنْ مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى وَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ نِسَائَكَ يَدْخُلُ عَلَيْهِنَّ الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ فَلَوْ حَجَبْتَهُنَّ فَأَنْزَلَ اللهُ آيَةَ الْحِجَابِ وَقُلْتُ لِأَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا لَأَنَ عَلَيْهِ فِي الْغَيْرَةِ عَسَى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ اَنْ يُّبْدِلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ فَنَزَلَتْ كَذَالِكَ .

ما موافقت وکی دخپل رب سره په دری شیانوکی یو دا چی مارسول الله ﷺ ته عرض وکی چی مقام ابراهیم خپل ځای دلمانځه جوړکی ، په دی الله ﷻ دا ایت نازل کی ، وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى : اوما نبی کریم ﷺ ته دا عرض وکی چی ستاسی دپاکو بیبیانو په وراندی هرنیك اوبد سړی څی راځی ښه به وی که تاسی د دوی پرده وکی په دی دحجاب آیت نازل سو اوکله چی دپاکو بیبیانو په مینځ کی غیرت او قصد زیات سو نو ما ورته وویل چی که نبی کریم ﷺ تاسی ته طلاق درکړی نو لیږی نه ده چی الله ﷻ دوی ﷺ ته ستاسی څخه ښه بیبیانی ورکړی ، چنانچی خاص هم په دغو الفاظو سره قرآن نازل سو .

Maktaba Tul Ishaat.com

فائده: دحضرت فاروق اعظم ﷺ په خپل کلام کی ادب قابل نظر دی چی په ظاهره وینا دا وه چی په درو شیانو کی زما رب زما موافقت وکی.

یوه بله واقعه دحضرت انس ﷺ فرمایی چی دحجاب دایت دحقیقت څخه زه دټولو څخه زیات واقف یم څکه چی زه په دی واقعه کی حاضروم ، هرکله چی دحضرت زینب بنت جحش ﷺ دنکاح څخه وروسته رخصتی وسوه او په حرم نبوی کی دا خله سوه او په کور کی دحضور ﷺ سره موجوده وه ، دوی دولیمی دپاره څه خوراك پوخ کی اوخلگو ته یی دعوت ورکی ، دخوراك څخه وروسته څینی خلگ هم دغه ځای کښینستل اوخبری یی شروع کړی ، دترمذی په روایت کی دی چی نبی کریم ﷺ هم هلته تشریف فرماوو اوام المؤمنین حضرت زینب ﷺ هم دغه ځای موجوده وه کومی چی دحیاپه وجه دیوال ته مخ کړی وو ناسته وه ، ددی خلگو دغه شان ترناوخته پوری په کښینستو نبی کریم ﷺ ته تکلیف وسو ، دوی ﷺ دکور څخه دباندی تشریف یووړی او دنورو پاکو بیبیانو کورونو ته یی دملاقات اوسلام دپاره تشریف وروړی ، کله چی دی بیا کورته بیرته راغی نو هغه خلگ هم هلته موجود وه، د دوی ﷺ دراواپس کیدو څخه وروسته دی خلگو ته احساس وسو او ولاړل، نبی کریم ﷺ کور ته دننه تشریف راوړی نو دلږ وخت تیریدو څخه وروسته یی بیا دباندی تشریف راوړی ، زه هلته موجودوم دوی دحجاب دا ایت کوم چی دغه وخت نازل سوی وو ، واوروی ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ الاية .

حضرت انس ﷺ دا واقعه نقل کړه اووې فرمایل چی زه ددی ایتونو په نزول کی دټولو څخه زیات نژدی یم څکه چی زما په مخکی نازل سوی دی (الترمذی کتاب التفسیر)

دحجاب دایتونو دنزول په اسبابوکی دا دری واقعات داحادیثو په روایتونوکی ذکر دی ، په دوی کی هیڅ تعارض نسته ، کیدی سی چی د درو سره وو واقعاتو مجموعه ددی ایتونو دنزول سبب وی.

دریم حکم : دپاکوبیبیانودنبی کریم ﷺ دوفات څخه وروسته دچاسره نکاح جائزنه ده،وَمَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا أَنْ تَنْكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِنْ بَعْدِهِ أَبَدًا: ددی څخه په اوله جمله کی خو په عامو الفاظوکی داسی هر قول او فعل یی حرام کړی دی دکوم څخه چې نبی کریم ﷺ ته ازاراوتکلیف رسیږی ، ددی وروسته یی دا حکم ورکی چی د دوی دپاکو بیبیانو سره د دوی دوفات څخه وروسته دچا نکاح حلاله نه ده .

په ذکر سوی آیت کی چی لوړ څومره احکام راغلی دی ، په دی کی که څه هم خطاب نبی کریم ﷺ او د دوی پاکو بیبانو ته سوی دی مگر حکم یی عام دی دټول امت دپاره بغیر ددی اخری حکم څخه چی دعام امت دپاره قانون دا دی چی دخاوند دوفات څخه وروسته کله چی عده تیره سی نو دغه ښځه دبل سړی سره نکاح کولی سی ، دپاکو بیبیانو دپاره داخصوصی حکم دی چی هغوی دحضور ﷺ دوفات څخه وروسته دچاسره نکاح نه سی کولی.

ددی وجه داهم کیدی سی چی هغوی په نص دقرآن امهات المؤمنین دی اوکه څه هم د دوی دامهاتو کیدو دا اثر د دوی په روحانی اولاد نه راځی چی هغه ټول خوندی او ورونه سی او دیو بل سره یی نکاح حرامه سی ، مگر د دوی دخپل ذات ترحده پوری دنکاح دمنع کیدو حکم وکړل سو.

Maktaba Tul Ishaat.com

دا هم ویل کیږی چی نبی کریم ﷺ په خپل قبر شریف کی ژوندی دی ، د دوی دوفات درجه داسی ده ، لکه څوك ژوندی خاوند چی دکور څخه غائب سی، په دی وجه د دوی میراث تقسیم نه سو ، په دی بنا د دوی دبیبیانو هغه حال نه دی کوم چی دعامو خاوندانو په وفات دهغوی دښځو وی .

دا حکمت هم دی چی په شرعی قاعدی سره به په جنت کی هره ښځه دخپل اخری خاوند سره وی ، حذیفه ﷺ خپلی بی بی ته وصیت فرمایلی وو چی که ته په جنت کی زما ښځه کیدل غواړی نو زما څخه وروسته بل خاوند مه کوه ، څکه چی په جنت کی به ښځه دخپل اخری خاوند سره وی (قرطبی)

په دی وجه پاکو بیبیانو ته چی کوم شرف حق تعالی په دنیاکی دحضور ﷺ د زوجیت ورکړی وو ، دهغه په اخرت اوجنت کی هم دباقی پاته کولو دپاره یی د دوی نکاح دبل چا سره حرامه کړه .

ددی څخه علاوه په طبعی طور یوخاوند دانه خوښوی چی دده ښځه دی دبل په نکاح کی ولاړه سی ، مګر ددی طبعی خواهش پوره کول دعامو خلګو دپاره شرعًا ضروری نه دی دنبی کریم ﷺ ددی طبعی خواهش هم حق تعالی احترام وفرمایی، دا د دوی خصوصی اعزاز دی .

مسئله : پردی خو دامت اتفاق دی چی کومی پاکی بیبیانی دنبی کریم ﷺ تروفات پوری د دوی په حرم کی پاته سوی دهغوی ټولو دا حکم دی ، لیکن کومو ته چی دوی طلاق ورکړی دی یاپه څه بله وجه د دوی دزوجیت څخه لیری سوی وی دهغوی په باره کی دفقهاء دامت مختلف اقوال دی کوم چی قرطبی په تفصیل سره لیکلی دی .

إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ عِندَ اللَّهِ عَظِيمًا: یعنی نبی کریم ﷺ ته په څه شان سره تکلیف اوازار رسول یا د دوی دوفات څخه وروسته د دوی دبیبیانو سره نکاح کول دالله ﷻ په نزد لویه ګناه ده .

إِن تُبْدُوا شَيْئًا أَوْ تُخْفُوهُ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا : دایت په اخرکی بیا دا مضمون دوباره کړه سو چی الله ﷻ دزړونو په ارادو اودخیالاتو څخه هم واقف دی ، تاسی که څه شی پټوی یا ظاهر وی ، دالله ﷻ په مخکی ټول ظاهر دی ، په دی کی تاکید دی چی په ذکر سوو احکامو کی څه قسم شك اوشبهه یاوسوسه په زړه کی پیدا نه کړی او د ذکر سوو احکامو دمخالفت څخه دمحفوظ کیدو پوره اهتمام وکی .

په ذکر سوو ایتونوکی دری کارونه بیان سوی دی ، په دی کی دښځو دپردی مسئله په څو وجهو سره تفصیل غواړی ، په دی وجه په قدر دضرورت لیکل کیږی .

دپردی احکام

دفواحشو دبندولو اسلامی نظام

فواحش، بدکاری ، زنا او ددی مقدمات ددنیا دهغو مهلکو بدوخڅه دی دکومو هلاکوونکی اثرات چی صرف په افرادو باندی نه بلکه قبیلی اوخاندانونه اوځینی وخت خولوی لوی ملکونه تباه کوی ، دا وخت چی په دنیاکی څومره دقتلونو لوټ مار واقعات پیدا کیږی که صحیح تحقیق یی وسی نو داکثرو واقعاتو په وروسته منظر کی به دیو ښځی اوشهوانی جذباتو جال په نظر راسی دا وجه ده چی دکله څخه دنیا پیدا سوي ده ، په دی کی یو قوم یومذهب یوه خطه داسی نسته کومه چی ددی په بدوالی او هلاکوونکی عیب والی باندی متفقه نه وی .

Maktaba Tul Ishaat.com

ددنیاپه دی اخری دورکی یورپی قومونو خپل مذهبی حدونه اوپخوانی اوقومی روایتونه تول مات کړل که څه هم زنا یی په خپل ذات کی څه جرم ونه ګڼله اوتمدن اومعاشرت یی په داسی سانچو کی غورځولی دی په کوموکی چی پرهر قدم جنسی بدنظمی او فواحشو لره عام دعوت دی، مګر ددی ثمرات اونتیجی هغوی هم دجرمونو څخه دباندی نه کړل سول ، عصمت فروشی، زنا بالجبر په ډاګه باندی فحش حرکتونه یی تعزیری جرمونه مقرر کړل ، ددی مثال داسی دی چی یوسړی داور لګولو دپاره خشاك جمع کړی، بیا تیل پر واچوی ، بیا ورته اور ورکړی اوهرکله چی یی شغلی لوړی سی نو بیا په دی شغلو دپابندی لګولو اودمنع کولو فکر کوی ، دکټوی پخولو دپاره ورته لاندی اور بل کړی بیا دهغه جوش کول او خوښکیدل منع کوی .

ددی خلاف چی اسلام کوم شیان جرمونه اودانسانیت دپاره مضر مقرر کړل قابلِ سزا جرم یی ورته وویل ددی په مقدماتو یی هم پابندی ولګولی اوممنوع یی وګرځول ، په دی معامله کی مقصود داصلی زنا اوبدکاری څخه محفوظ کول وو نو دا یی دلاندی نظر ساتلو دقانون څخه شروع کړه ، دښځو اوسړو بی دریغه اختلاط یی منع کی ، ښځو ته یی دکورونو په چاردیواری کی دمحدودساتلو هدایت وکی دخوشبو لګولو یاشړنګیدونکی کالی سره یی ددباندی وتلو څخه ممانعت ورته وکی ، بیاچی کوم سړی ددی ټولو حدودو اوقیدونو دیوال مات کی او دباندی راووزی نو پردی یی داسی سخته عبرتناکه سزا جاری کړه چی یو وار په یو بدکرداره باندی جاری سی نو ټول قوم ته به مکمل عبرت حاصل سی .

یورپ والاؤ او د دوی تقلید کوونکو دخپلی فحاشی په جوازکی دښځو پردی دښځو دصحت اوپه اقتصادی اومعاشی حیثیت سره دمعاشری دپاره دمضر ثابتولو او دبی پردګی په فائدو باندی بحثونه کړی دی ، ددی په تفصیل سره جوابونه ډیرو عالمانو دوختو په مفصلو کتابونوکی لیکلی دی ، ددی متعلق دلته دومره پوهیدل هم کافی دی چی دفائدی او نفع څخه خو هیڅ جرم اوګناه هم خالی نه ده ، غلا، ډاکه، دوکه فریب په یو اعتبار سره ډیر ګټه ور کاروبار دی ، مګر کله چی ددی دثمراتو اونتیجو څخه راپیدا کیدونکی مهلك ضرورنه مخ ته راسی نو یو سړی هم دی ته دګټور کاروبار ویلو جرأت نه سی کولی ، په بی پردګی کی که څه معاشی فائدی هم وی مګر کله چی ټول ملك اوقوم په زرګونو فتنو اوفسادونو کی اخته کوی نوبیا دی ته ګټور ویل دهیڅ هوښیار کار نه سی کیدی .

(دجرمونو بندولو دپاره په اسلام کې دذریعو بندولو زړین اصول اوپه دی کې میانه روی)

څنګه چی دعقیدو، توحید، رسالت، اخرت اصول دټولو پیغمبرانو په شریعتونوکی مشترك اومتفق علیه راغلی دی ، دغه شان عام ګناهونه فواحش اومنکرات په هرشریعت اومذهب کی حرام ګرځول سوی دی ، لیکن په تیرو شریعتونوکی ددی اسباب اوذریعی مطلقاً نه وی حرامی سوی، ترڅو پوری چی په دغه ذریعه به څه جرم واقع نه سو، شریعت محمدیه چونکی ترقیامته پوری پاته کیدونکی شریعت وو، په دی وجه ددی دحفاظت دالله ﷻ دطرف څخه خاص اهتمام دا وسوچی جرمونه اوګناهونه خوحرام وه ، هغه اسباب او ذریعی یی هم حرامی کړی کوم چی دغالب عادت په طور دغو جرائمو ته رسوونکی وه ، مثلاً شراب چښل یی حرام کړل نو دشرابو جوړول ، اخیستل خرڅول اوچا ته ورکول یی هم حرام کړل ،

Maktaba Tul Ishaat.com

دسود حرامول مقصود وو نو دسود په شان نوری معاملی یی هم ناجائزی کړی ، په دی وجه فقهاء حضراتو دټولو فاسدو معاملو څخه حاصلیدونکی نفع دسودپه شان خبیث مال وګرځوی، شرك اوبت پرستی قرآن کریم عظیم ظلم اوناقابل معافی جرم مقررکی نو ددی په اسبابو اوذریعو باندی یی هم کلکه پابندی ولګوله ، دلمر ختلو اولویدلو اونیمه غرمه کی به چونکه مشرکینو دلمر عبادت کوی ، په دی وختونو کی که لمونځ کیدی نو دلمر پرستو سره به یوقسم مشابهت وو ، بیا دا مشابهت یو وخت په خپله دشرك سبب جوړیدی سوای ، په دی وجه شریعت په دی وختونوکی لمونځ اوسجده کول هم حرام او ناجائز کړل دبتانو مجسمی اوتصویرونه چونکی دبت پرستی نژدی ذریعه وه ، په دی وجه بت تراشی اوتصویر سازی حرامه سوه او ددی استعمال ناجائز کړل سو .

دغه شان هرکله چی شریعت زنا حرامه وګرځوله نو ددی ټول نژدی اسباب او ذریعی یی هم حرامی کړی ، پردی ښځی یابی ږیری هلك ته په شهوت سره کتل دسترګو زنا مقرره سوه ، ددی خبری اوریدل دغوږونو، دی ته لاس ورورړل دلاسونو، ددی دپاره تللل دپښو زنا سوه،لکه چی په صحیح حدیث کی راغلی دی ، ددی جرمونو څخه د محفوظ کیدو دپاره دښځو دپاره دپردی احکام نازل سول .

مګر داسبابو اوذریعو دنژدی اولیری یوه اوږده سلسله ده که تر لیری پوری دا سلسله بنده سی نو ژوند به ګران سی او په عمل کی به ډیره تنګی راپیښه سی کومه چی ددی شریعت ، دمزاج څخه خلاف ده ، دقرآن کریم ددی په باره کی ښکاره اعلان دا دی چی، مَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ، یعنی په دین کی پرتاسی څه تنګی نه ده غورځول سوی ، په دی وجه داسبابو اوذریعو په معامله کی یی دا حکیمانه فیصله وکړه چی کوم کارونه اوعملونه دځه ګناه داسی نژدی سبب وی چی دعام عادت په اعتبار سره ددی کوونکی په هغه ګناه کی خامخا مبتلا کیږی ، داسی نژدی اسباب شریعت داسلام داصل ګناه سره پیوست کړل ، دا یی هم حرام کړل اوکوم چی لیری اسباب دی چی دهغه په کولو سره په ګناه کی اخته کیدل عادتًا لازم اوضروری خو نه وی مګر څه ناڅه دخل دګناه په کی ضروری وی ، داسی اسباب او ذریعی یی مکروه مقرر کړلی ، اوکوم اسباب چی ددی څخه هم لیری وی چی په ګناه کی دهغه دخل کله کله وی ، هغه یی نظر انداز کړل او په مباحاتو کی یی دا خل کړل .

داولی مسئلی مثال شراب خرڅول دی چی دا دشرابو چنبلو نژدی اسباب دی ، دا هم شریعت داسی حرام کړل لکه څنګه چی شراب چنبل حرام دی یو پردی ښځی ته په شهوت سره لاس ورورړل که څه هم عین زنا نه ده مګر دزنا نژدی سبب دی ، شریعت دا داسی حرام کړل لکه څنګه چی زنا ده .

او د دوهمی مسئلی مثال دا دی چی په یو داسی سړی باندی انګور خرڅول چی دهغه متعلق معلومه وی چی هغه ددی څخه شراب جوړوی ، دده داکسب دی یاده په ډاګه ویلی وی چی زه یی ددی کار دپاره اخلم نو دا که څه هم دشرابو خرڅولو په درجه کی حرامه خو نه ده ، مګر مکروه اوناجائز دا هم دی دا حکم دسنیما سرای جوړولو یا دسودی بینك دچلولو دپاره مخکه اوکور په کرایه ورکولو دی ، چی دمعاملی کولو په وخت کی کله معلومه وی چی دی دا مکان دناجائز کار دپاره اخلی نو په کرایه باندی یی ورکول مکروه تحریمی اوناجائز دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

د دریمی درجی مثال دا دی چی دعامو خلکو په لاس انگور خرڅول کیږی چی په دی کی دا هم ممکنه ده چی څوك ورڅخه شراب جوړ کړی ، مگر نه ده ددی اظهار وکی ، نه زمونږ په علم کی هغه داسی سړی دی چی شراب جوړ وی ، نو شرعًا دغه شان بیعه اوشراء مباح او جائز مقرره سوې ده .

ضروری خبرداری : دلته دا خبره یادول ضروری دی چی شریعت داسلام کوم کارونه دگناه سبب په اوله درجه کی قریب مقررکړی دی او حرام کړی یی دی ، ددی حکم دحرمت څخه وروسته هغه دټولو دپاره مطلقًا حرام دی ، برابره خبره ده که په مبتلا کیدل دگناه سبب جوړیږی او که نه ، اوس هغه په خپله یو شرعی حکم دی چی مخالفت کول یی حرام دی .

ددی ابتدائیی څخه وروسته په دی پوه سی چی دښځو پرده هم شرعًا ددی ذریعو په بندولو باندی مبنی ده چی دپردی نه کول سبب دی په گناه کی داخته کیدو ، په دی کی به هم دذکر سوو اسبابو دقسمونو احکام جاری وی ، مثلاً دیو ځوان سړی په مخکی ځوانی ښځی ته خپل بدن ښکاره کول په گناه کی داخته کیدو داسی نژدی سبب دی چی داکثرو عادتونو په اعتبار سره پردی دگناه مرتب کیدل لازمی دی په دی وجه دا خو شرعًا دزنا په شان حرام سول ، څکه چی شرعًا دی عمل ته حکم دفاحشه ورکول سوی دی ، اوس دا مطلقًا حرام دی ، که څه هم معامله دیو معصوم سره وی یا یو سړی په خپل نفس دمکمل واك درلودلو په وجه مطمئن سی او دگناه څخه محفوظ سی موقع دعلاج دضرورت وغیره ورڅخه مستثنی کیدل جلا شی دی ، په دی سره په اصل حرمت څه اثر نه راڅی ، دا مسئله دوختونو اوحالاتو څخه هم نه متاثره کیږی ، په اول قرن داسلام کی هم ددی حکم هغه وو کوم چی نن دفسق اوفجور په زمانه کی دی .

دوهمه درجه دحجاب نه کولو دا ده چی دکورونو دچار دیواری څخه دباندی په برقعه یاغټ څادر ټول بدن پټ کړی دباندی ووزی ، دا سبب بعید دی دفتنی ، ددی حکم دا دی چی که داسی کول سبب دفتنی وی نو ناجائز دی اوکوم څای چی دفتنی بیره نه وی ، هلته جائز دی ، په دی وجه دزمانی په بدلیدلو سره ددی حکم اوحالات بدلیدی سی ، دنبی کریم ﷺ په زمانه کی داسی وتل دښځو سبب دفتنی نه وو ، په دی وجه دوی ښځو ته ضپه برقعه وغیره کی ټول بدن پټول اوجماتونو ته راتلل دڅو شرطونو سره اجازه ورکړی وه او دوی جماتونو ته دراتلو څخه بندول یی منع فرمایلی وو ، که څه هم دغه وخت یی هم دوی ته ددی ترغیب ورکړی وو چی لمونځونه دی په خپلو کورونو کی ادا کوی څکه چی دوی ته په مسجد کی دراتلو څخه زیات ثواب په کورونو کی دلمانځه کولو دی ، مگر دفتنی دبیری نه کیدو په سبب یی منع نه وه فرمایله ، ددې ﷺ دوفات څخه وروسته صحابه کرامو رضی الله عنهم ولیدل چی اوس دښځو جماتونوته راتلل دفتنی څخه خالی نه دی که څه هم په برقعه او څادر کی ځان ونغاړی نو دی حضراتو په اجماع اواتفاق سره ښځی جماتونوته دراتلو څخه منعی کړی ، حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمایی چی که نبی کریم ﷺ دنن حالات لیدلی وای نو خامخابه یی ښځی دجماتونو څخه منعه فرمایلی وای ، ددی څخه معلومه سوه چی دصحابه کرامو رضی الله عنهم فیصله دنبی کریم ﷺ دفیصلی څخه مخالفه نه ده ، بلکه حضور ﷺ چی دکومو شرطونوپربناء اجازه ورکړی وه اوس هغه شرطونه نه دی پاته سوی، نوحکم د دوی په فیصله سره بدل سو

Maktaba Tul Ishaat.com

دښځو دپردی بیان دقرآن کریم په اوو ۷ ایتونوکی راغلی دی ، دری په سورة نورکی تیر سوی دی ، څلور ایتونه په سورة احزاب کی دی ، دکومو څخه چی یو مخ ته تیر سوی دی ، یو دا تر نظر لاندی دی باقی به مخ ته راسی ، په کومو کی چی دپردی ددرجو تعین او داحکامو تفصیل اوکوم چی ددی څخه مستثنی دی ، دهغه مفصل بیان دی ، دغه شان دنبی کریم ﷺ داویاوو ۷۰ څخه په زیاتو احادیثوکی قولاً اوعملاً دپردی احکام ښوول سوی دی ، ددې ټولو دیو ځای دمعلومولو دپاره احقر یوه مستقله رساله په نوم دَ، تفصیل الخطاب فی تفسیر ایات الحجاب ، کی لیکلی ده کومه چی په عربی ژبه داحکام القرآن سورة احزاب جزء سوی شائع سوی ده ، په دی تفسیر دقرآن کی دهر ایت تفسیر خو په خپل خپل ځای راځی ، باقی درسالی څو ضروری اقتباسات دلته لیکل کیږی .

دپردی دنازلیدو تاریخ

دښځو اوسړو بی دریغه خلط خو ددنیا په پوره تاریخ کی دحضرت ادم ﷺ څخه واخله تر خاتم النبین ﷺ پوری صحیح نه دی ګڼل سوی او صرف دشریعت خاوندان نه ددنیا په عامو شریفو کورونو کی داسی اختلاط روانه دی ګرځول سوی .

دحضرت موسیٰ ﷺ دمدین دسفر په وخت چی دکومو ښځو خپلو بزوته داوبو ورکولو دپاره دجلا دریدلو ذکر راغلی دی ، دهغه وجه دا ښوول سوي ده چی هغه ښځو دسړوګنی ګونی ته ورننوتل نه خوښول ، دټولو څخه وروسته په پاته سوو اوبو به یی قناعت کوی ، حضرت زینب بنت جحش ﷺ دکومی دنکاح په وخت کی چی اول آیت دحجاب نازل سوی دی ، ددی دنازلیدو څخه مخکی هم دجامع ترمذی په روایت کی د دوی په کورکی دناستی صورت داسی بیان کی ، وَهِیَ مُوَلِّیَةٌ وَجْهَهَآ اِلَی الْحَائِطِ : یعنی هغې خپل مخ ددیوال طرف ته کړی ناسته وه .

ددی څخه معلومه سوه چی دپردی دنزول څخه مخکی هم په ښځو اوسړو کی بی اختیاره خلط اوبی تکلفه ملاقات او دخبرو کولو رواج په شریفو اونیکو خلګوکی هیڅکله نه وو ، په قرآن کریم کی چی دکوم جاهلیت اولی او په دی کی دښځو دتبرّج اوظهور ذکر دی ، هغه هم دعربو په شریفو خاندانونو کی دا معیوب ګڼل کیدی ، دعربو پوره تاریخ پردی شاهد دی ، په هندوستان کی په هندو ، بدهمت اونورو مشرکانه مذهبونو کی دښځو اوسړو په مینځ کی بی اختیاره اختلاط نه وو خوښ کړل سوی ، دا دسړو سره اوږه په اوږه دکار کولو دعوی اوپه بازارونو اوسړکونو باندی دپریډ کولو او دتعلیم څخه واخله په هره شعبه دژوند کی دسړو اوښځو بی تکلفه اختلاط په ضیافتونو اوکلبونوکی بی تکلفه دملاقاتونو سلسله صرف دیورپی قومونو دبی حیایی اوفحاشی پیداوار دی ، په کوم کی چی دا قومونه هم دخپل ماضی څخه دواپس کیدو څخه وروسته اخته سوی دی په پخوا زمانه کی د دوی هم دا صورت نه وو ، حق تعالی چی څنګه دښځی جسمانی تخلیق دسړو څخه ممتاز جوړکړی ، دغه شان بی ددوی په طبیعتونو کی دیوی فطری حیا جوهر هم ایښی دی کوم چی دوی په فطری طور سره دعامو سړیانو څخه دجلا اوسیدو اوستر کولو باندی اماده کوی او دا دفطری اوطبعی حیاء پرده دښځو اوسړو په درمیان کی دپیدائش دابتداء څخه حائله پاته سوي ده ، داسلام په ابتداء کی هم په خپل مینځ کی دپردی دا نو عیت وو .

Maktaba Tul Ishaat.com

دښځو دپردی دا خاص نو عیت چی دښځو اصل مقام دی دکورونو چار دیواری وی اوکله چی په څه شرعی ضرورت سره دباندی وزی نو ټول بدن دی پټوی اوځی دی ، دا دمدینی منوری دهجرت څخه وروسته په سنه ۵ هجری کی جاری سوی دی ، ددی تفصیل دا دی چی دامت دعلماؤ په اتفاق ددی پردی په حقله اولنی آیت هغه دی کوم چی لوړ ذکر سوی دی ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ : اودا ایت دحضرت زینب بنت جحش ﷺ دنکاح اوپه حرم نبوی کی دداخلیدو په وخت کی نازل سوی دی ، ددی نکاح په تاریخ کی حافظ ابن حجر په الاصابة فی تمییز الصحابة کی او ابن عبدالبرالاندلسی ﷺ په الاستیعاب کی دوه قولونه نقل کړی دی چی په سنه ۳ هجری کی وسو یاپه سنه ۵ هجری کی وسو ، ابن کثیر رحمه الله سنه ۵ ته ترجیح ورکړې ده ، ابن سعد ﷺ دحضرت انس ﷺ څخه هم سنه ۵ هجری نقل کړی دی دحضرت عائشه ﷺ دځینو روایتونو څخه ددی ترجیح معلومیږی . والله اعلم

په ذکر سوی آیت کی یی دښځوته په پرده کی داوسیدو حکم ورکی اوسړو ته یی دا حکم ورکی چی که د دوی څخه یی دځه شی غوښتل وی نو دپردی څخه اخواته دی غواړی ، په دی کی دپردی خاص تاکید پیدا سو چی بی ضرورته خو سړو او ښځوته جلا جلا اوسیدل دی ، دضرورت په وخت کی که د دوی سره خبره کول وی نو دپردی څخه اخواته دی کوی .

په قرآن کریم کی دښځو دپردی په حقله اووه ۷ ایتونه نازل سوی دی ، څلور په سورة احزاب کی او دری په سورة نور کی تیر سوی دی پردی دټولو اتفاق دی چی دپردی په حقله دټولو څخه اول نازل سوی آیت دا دی، لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ الاية، دسورة نور دری سره ایتونه او دسورة احزاب دشروع آیت په کوم کی چی پاکو بیبیانوته دا حکم ورکول سوی دی چی په خپلو کورونوکی ناستی اوسی، وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ : دا ټول که څه هم په ترتیب دقرآن کی اول دی ، مګر دنزول په اعتبار سره وروسته دی ، دسورة احزاب په اولنی آیت کی ددی وضاحت موجود دی چی دا حکم هغه وخت ورکول سوی دی کله چی پاکو بیبیانوته دالله ﷻ دجانب څخه اختیار ورکول سوی وو چی که ددنیا فراخی غواړی نو درسول الله ﷺ څخه طلاق واخلی اوکه اخرت ته ترجیح ورکوی او ددنیا په معیشت کی په موجوده حالت قناعت کوی نو په نکاح کی اوسیږی .

دتخیر په دی واقعه کی دا هم ذکردی چی کومو بیبیانو ته دا اختیار ورکول سوی وو په دوی کی حضرت زینب جحش (رض) هم شامله وه ، ددی څخه معلومه سوه چی ددی نکاح ددی آیت څخه مخکی سوی وه ، دا ایت وروسته نازل سوی دی ، دغه شان دسورة نور ایتونه په کوموکی چی دپردی متعلق تفصیلات دی ، دوی که څه هم په قرانی ترتیب کی مقدم دی مګر دنزول په اعتبار سره هغه هم دافك دقصی سره نازل سوی دی کومه چی دغزوه بنی المصطلق یامریسیع څخه په واپسی کی پیښه سوی وه، داغزاپه سنه ۶ هجری کی سوې ده اودشرعی پردی احکام دهغه وخت څخه جاری سوی دی کله چی دحضرت زینب ﷺ په نکاح کی دپردی آیت نازل سو ، دسورة نورایتونه دحجاب متعلق په سورة نورکی تیرسوی دی

(دعورت دستربه احکامو او دښځې په پرده کې فرق)

دسړی اوښځی هغه حصه دبدن کوم ته چی په عربی کی عورت اوپه پښتو اوفارسی کی ستر وایی چی

Maktaba Tul Ishaat.com

دټولو څخه یې پټول په شرعي، طبعي اوعقلي طور باندې فرض دي اودایمان څخه وروسته دټولوڅخه اولنی فرض چې عمل په ضروري دی ، هغه دعورت ستر یعنی دپناه اندامونه پټول دی ، دا فریضه خو ددنیا دابتداء څخه فرض ده او دټولو پیغمبرانوپه شریعتونوکی فرض راغلی ده بلکه دشریعتونو دوجود څخه هم مخکی کله چې په جنت کی دمنع سوی درختی دخوړلو په سبب دحضرت ادم ﷺ اوحواء ﷺ څخه جنتی لباس ویستل سو اوستر یې ښکاره سو نو هلته هم حضرت ادم ﷺ ستر ښکاره ساتل جائزونه ګڼل، په دی وجه حضرت ادم اوحوا ﷺ دواړو دجنت پانې پرخپل ستر وترلی د ، طَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَرَقِ الْجَنَّةِ ، هم دا مطلب دی ، دنیاته دراتلو څخه وروسته دحضرت ادم ﷺ څخه ترخاتم الانبیاء ﷺ پورې دهر پیغمبر ددین په شریعت کی ستر پټول فرض راغلی دی ، دپټو اندامونو په تعین اوحدکی اختلاف کیدی سی چې ستر دکوم ځای څخه ترکوم ځای پورې دی ، مګر اصل فرضیت دعورت دستر دانبیاؤ په ټولو شریعتونوکی منل سوی دی او دا فرض پر هر انسان سړی اوښځی فی نفسه عائد دی ، څوك بل کتونکی وی اوکه نه وی ، په دی وجه که یو سړی په تیاره شپه کی په لغړه لمونځ کوی ، حال دا وی چې دده سره دسترپټولو قابله جامه وی نو دا لمونځ په اتفاق سره ناجائز دی ، حال دا دی چې دی لغړ هیڅوك نه وینی (بحر الرائق) دغه شان لمونځ که چاپه داسی ځای کی وکی کوم ځای چې څوك بل سړی لیدونکی نه وی ، دغه وخت هم که په لمانځه کی ستر ښکاره سو نولمونځ فاسدیږی (لکه چې داسی په عامو کتابو دفقهه کی دی)

دلمانځه څخه دباندی دخلګو په مخکی دستر پټولو په فرض والی کی خو دچا اختلاف نسته لیکن په تنهایی کی کوم ځای چې بل څوك لیدونکی نه وی ، هلته هم صحیح قول دا دی چې دلمانځه څخه دباندی هم بغیر دشرعی یاطبعی ضرورت څخه ستر ښکاره کول او لغړ کښینستل جائز نه دی (لکه په بحر کی چې دشرح المنیه څخه نقل دی)

دا حکم خود عورت دستر وو کوم چې داسلام د اول څخه بلکه ددنیا دابتداء څخه دانبیاء ﷺ په ټولو شریعتونوکی فرض راغلی دی چې په دی کی سړی اوښځه دواړه برابر دی ، یوازی والی اومخامخ والی په کی هم برابر دی ، لکه دخلګو په مخکی چې لغړ کیدل جائز نه دی داسی په تنهایی کی هم بی ضرورته لغړ کیدل جائز نه دی .

دوهمه مسئله : دحجاب اوپردی ده ښځی دی دپردو سړو څخه پرده کوی، په دی مسئله کی هم دومره خبره خو په انبیاوو صالحانو اوشریفانوکی دهمیشه څخه راغلی ده ، چې دپردو سړو سره دښځو بی دریغه اختلاط دی نه وی ، دحضرت شعیب ﷺ د دوو لونو قصه کومه چې په قرآن شریف کی په شلمه پاره کی تیره سوې ده ، په دی کی دغه انجونی دخپلو بزو اوبه کولو دپاره دکلی څاه ته ولاړی ، هلته دخلګو ګڼه ګوڼه وه نو دا انجونی یو طرف ته جلا ودریدی حضرت موسی ﷺ اتفاقًا هلته مسافر راغی نودانجونی چې یې جلاولاړی ولیدی پوښتنه یې ورڅخه وکړه ، نوانجلیو ورته دوی خبری وکړی .

اول داچې داوخت دلته دسړوګڼه ګوڼه ده، مونږبه خپل حیوانان هغه وخت اوبه کووچې داخلګ ولاړ سی دوهمه خبره یې دا هم وکړه چې زمونږ پلارپیر ضعیف دی ، په دی کی اشاره دی طرف ته ده چې

Maktaba Tul Ishaat.com

حیوانانو ته د اوبه ورکولو دپاره وتل دا دعرف اوعادت په اعتبار سره دښځو کار نه وو، مگر دپلار ضعف اومجبوری او دبل سړی دنه موجودوالی په سبب ددې کار مونږ ته کول سول.

دا حال په قرآن کریم کی دحضرت شعیب ﷺ دلونو بنوول سوی دی، ددی څخه معلومه سوه چی په دغه زمانه اودهغوی په شریعت کی هم دښځو دسړو سره اوږه په اوږه تلل اوبی دریغه اختلاط نبه نه وو او داسی کار په کوم کی چی دسړو سره اختلاط وی هغه به ښځو ته نه سپارل کیدی، په هرحال ددی ټولو څخه دا معلومیږی چی دښځو باقاعده په پرده کی داوسیدو حکم هغه وخت نه وو، دغه شان داسلام په ابتداء کی هم دا صورت جاری وو په سنه ۳ هـ یاسنه ۵ هـ کی پرښځو دپردو سړو څخه پرده کول فرض سول، چی تفصیلات یی مخ ته راځی.

ددی څخه دا معلومه سوه چی دعورت ستر او دښځو پرده دا دوې مسئلی جلا جلا دی، دعورت پټول دهمیشه څخه فرض دی او دښځو پرده په سنه ۵ هـ کی فرض سوه، دعورت ستر پرښځو اوسړو دواړو فرض دی او پرده صرف پرښځو، دعورت ستر دخلگو په مخکی اوتنهایی دواړو حالاتوکی فرض دی، پرده صرف دپردی سړی په موجودگی کی، دا تفصیل څکه ولیکل سو چی ددی دواړو مسئلو په خلط ملط کولو سره ډیری شبهی دقرآن په مسئلو اواحکامو په پوهیدوکی پیدا کیږی، مثلاً دښځی مخ او ورغوی دعورت دستر څخه په اجماع سره مستثنیٰ دی، په دی وجه په لمانځه کی مخ او ورغوی ښکاره وی نو لمونځ په اتفاق اواجماع سره جائز دی، مخ او ورغوی خو په نص سره مستثنیٰ دی، قدمونه فقهاوو پردی باندی قیاس کړی دی اومستثنیٰ یی گرځولی دی.

لیکن دپردو سړو څخه په پرده کی هم مخ او ورغوی مستثنیٰ دی اوکه نه دی؟ په دی کی اختلاف دی چی تفصیل یی دسورة نور ترآیت، لَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا، لاندی تیر سوی دی، چی خلاصه یی مخ ته راځی.

(دشرعي پردی درجي اوددی داحکامو تفصیل)

دښځو دپردی متعلق دقرآن مجید داوو ۷ ایتونو او اویا ۷۰ روایتونو دحدیث حاصل دامعلومیږی چی اصل مطلوب شرعی حجاب اشخاص دی، یعنی دښځو وجود او د دوی تگ راتگ دی دسړو دنظرونو څخه پټ وی، ددی څخه ماسوا چی څومره صورتونه دپردو نقل دی، هغه ټول دضرورت پر بناء او په وخت دضرورت او په قدر دضرورت سره مقید اومشروط دی.

دغه شان دپردی اوله درجه کومه چی اصل مطلوب شرعی ده، دغه پرده داشخاصو ده چی ښځی دی په خپلو کورونو کی دننه وی، لیکن داسلامی شریعت یو جامع اومکمل نظام دی چی په دی کی دانسان دټولو ضرورتونو رعایت پوره سوی دی او دا ظاهره ده چی ښځو ته داسی ضرورتونه پیښیدل لازمی دی چی دوی کله دکورونو څخه وزی، د دوی دپاره دپردی دوهمه درجه دقرآن اوسنت په لحاظ سره دا معلومیږی چی دسر څخه ترپښو پوری په برقع یاغټ څادرکی ټول بدن پټ کړی و دی وزی، دلاری لیدلو دپاره په څادرکی صرف یوه سترگه ښکاره کړی، یاپه برقع کی چی کومه جالی سترگوته مخامخ لگول کیږی، هغه استعمالوی، دضرورت په موقعو کی دپردی دوهمه درجه هم داولی په شان دټولو

Maktaba Tul Ishaat.com

عالمانو اوفقهاؤ په مینځ کی متفق علیه ده .

یوه دریمه درجه هم دځینو روایتونو څخه معلومیږی په کومه کی چی داصحابو ، تابیعنو اودامت دفقهاؤ رایی مختلفی دی ، هغه دا چی کله ښځی په ضرورت سره دکورونو څخه وزی ، نوهغوی خپل مخونه او ورغوی هم دخلګو په مخکی ښکاره کولی سی ، په دی شرط چی نور ټول بدن یی پټ وی ، دشرعی پردی ددی درو درجو تفصیل دا دی چی .

(اوله درجه پرده داشخاصو په کورونو کې)

دقرآن اوسنت په لحاظ سره اصل مطلوب دا درجه ده ، دسورة احزاب په زیر بحث آیت ، وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ : ددی واضح دلیل او ددی څخه زیات واضح دسورة احزاب دشروع آیت ، وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ دی ، په دی ایتونو چی څنګه نبی کریم ﷺ عمل وفرمایی ، ددی څخه نور زیات ددی وضاحت مخ ته راځی .

دا لوړه معلومه سوي ده چی دښځو دپردی متعلق اولنی آیت دحضرت زینب ﷺ دنکاح په وخت کی نازل سوي دی ، دحدیث په روایتونوکی حضرت انس ﷺ فرمایی چی زه دپردی دا واقعه دټولو څخه زیاته څکه پیژنم چی زه دغه وخت دحضور ﷺ په خدمت کی موجود وم ، کله چی دپردی دپاره دا آیت نازل سو نودوی ﷺ سرپانوته یوځادر وغیره ورکی ، حضرت زینب ﷺ یی دننه پته کړه داسی یی ونه کړل چی دایی په بُرقع یاځادرکی پته کړی وای ، په شانِ نزول کی چی کومه واقعه دحضرت عمر بن خطاب ﷺ لوړه تیره سوي ده دهغه څخه هم دا معلومیږی چی دحضرت عمرﷺ مقصود دا وو چی امهات المومنین دی دسرپانو دنظرونو څخه دننه پتی وی لکه چی د دوی دالفاظوڅخه معلومیږی . يَدْخُلُ عَلَيْكَ الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ

په صحیح بخاری غزوه موته کی دحضرت عائشه صدیقه ﷺ روایت دی چی کله نبی کریم ﷺ ته دحضرت زید بن حارثه، جعفر اوعبد الله بن رواحه (رض) دشهادت خبر راورسیدی نو دوی ﷺ په مسجدِ نبوی شریف تشریف درلودی ددوی ﷺ پرمخ مبارك باندی دسخت غم اوصدمی نښانی وی ، ما دحجری دننه د دروازی په چوله کی دا هر څه لیدل ، ددی څخه ثابته سوه چی ام المومنین ﷺ دغه هم داسی نه دی کړی چی په برقع کی راوتلی ده اوپه مجمع کی شامله سوي ده بلکه ددروازی په چوله کی یی داجلسه لیدلی ده اودصحیح بخاری کتاب المغازی دعمرة القضاء په باب کی دی چی حضرت عروه ابن زبیرﷺ دحضرت عائشه صدیقه ﷺ خور یی اوحضرت عبدالله ابن عمرﷺ په مسجد نبوی کی دحضرت عائشه صدیقه ﷺ دحجری څخه دباندی متصل تشریف درلودی او دنبی کریم ﷺ دعُمْرُو متعلق یی دیوبل سره خبری کولی ابن عمر ﷺ فرمایی چی دغه وخت مونږ دحضرت صدیقی ﷺ دمسواك کولو اودحلق صفا کولو اواز دحجری ددننه څخه واوریدی ، مخ ته په واقعه کی دنبی کریم ﷺ دعُمْرُو ذکر دی ، ددی روایت څخه هم معلومه سوه چی دپردی دایت دنازلیدو څخه وروسته دپاکو بیبیانو معمول دا سو چی په کورونوکی به یی ددننه ناسته کوله او پرده به یی کوله .

دغه شان په صحیح بخاری غزوه طائف کی یوحدیث دی چی نبی کریم ﷺ داوبو په یو لوښی کی غړغړه

Maktaba Tul Ishaat.com

وکړه ، حضرت ابوموسیٰ اوحضرت بلال ﷺ ته یی ورکړه چی دا وچښی اوپه خپلو مخانو یی پوری کړی ، ام المؤمنین حضرت ام سلمه ﷺ دپردی شاته دا واقعه ولیده نو ددننه څخه یی دی دواړو بزرګانو ته اواز وکی چی ددغه تبرك څخه یوڅه دخپلی مور یعنی ام سلمه ﷺ دپاره پریږدی.

داحدیث هم شاهد دی چی دپردی دنزول څخه وروسته به پاکی بیبیانی په کورونواوپردوکی دننه اوسیدی

فائده: په دی روایتونوکی دا خبره هم دفکر قابله ده چی پاکی بیبیانی هم دنبی کریم ﷺ دتبرکاتو داسی شوقمندی وی ، لکه نور مسلمانان ، دا هم د دوی دپاك ذات خصوصیت وو کنه نو دنبځی سره چی کومه بی تکلفه تعلق دخاوند وی دهغه سره ددی پاکی اوتعظیم دا درجه قائمه پاته کیدل عادتًا ناممکنه ده.

اوپه صحیح بخاری کتاب الادب کی دحضرت انس ﷺ څخه روایت دی چی دی او ابو طلحه ﷺ یو وار دنبی کریم ﷺ سره یوځای تلل نبی کریم ﷺ پراوښ باندی سپور وو ، د دوی سره ام المؤمنین حضرت صفیه ﷺ هم سپره وه ، په لاره کی ناڅاپه اوښ تیندك وخوړی او دابو طلحه (رض) دبیان مطابق دوی ﷺ او حضرت صفیه ﷺ داوښ څخه ولویدل نو ابو طلحه (رض) دوی ﷺ ته حاضر سو اوعرض یی وکی چی الله ﷻ دی ماپه تاسی قربان کړی تاسی خو څه خوږ نه سواست ؟ دوی ﷺ وفرمایل چی نه ، ته دنبځی خبر واخله ، ابوطلحه (رض) اول خپل مخ په کپړه کی پټ کی بیا حضرت صفیه ﷺ ته ورغی او پرهغې یی کپړه واچوله نوهغه ودریده بیایی دغه شان هغه په پرده کی پته پر سپرلی باندی سپره کړه.

په دی واقعه کی هم چی دیوی حادثی په صورت کی ناڅاپه راپیښه سوه ، دصحابه کرامو ﷺ اوپاکو بیبیانو(رض) دپردی په معامله کی دومره اهتمام ددی دلوی اهمیت شاهد دی.

او په جامع ترمذی کی دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ حدیث دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، اِذَا خَرَجَتِ الْمَرْاَةُ اِسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ (قال الترمذی هٰذَاحدیث حسن صحیح غریب) معنٰی دا ده چی ښځه کله دکورڅخه ووزی نوشیطان ددی په تلکه کی وی (یعنی داپه مسلمانانوکی دبدی خپرولو ذریعه جوړوی) اوابن خزیمه ﷺ اوابن حبان په دی حدیث کی دا الفاظ هم نقل کړی دی، وَاَقْرَبَ مَاتَكُوْنُ مِنْ وَجْهِ رَبِّهَا وَهِيَ فِيْ قَعْرِ بَيْتِهَا ، یعنی ښځه خپل رب ته دټولو څخه زیاته نژدی هغه وخت وی کله چی هغه دخپل کور په مینځ کی پته وی.

په دی حدیث کی ددی هم شهادت موجود دی چی اصل دښځو دپاره دا دی چی دوی په خپلو کورونوکی ناستی وی ، دباندی نه وزی (دضرورت مواقع ورڅخه مستثنٰی دی)

او په یو حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی ، لَيْسَ لِلنِّسَآءِ نَصِيْبٌ فِي الْخُرُوْجِ اِلاَّ مُضْطَرَّةً (رواه الطبرانی کذا فی الکنز ص۲۶۳ ج ۸) یعنی دښځو ددباندی وتلو دپاره هیڅ حصه نسته ، بغیر ددی څخه چی ددباندی وتلو دپاره یو دناچاری صورت پیښ سی.

اودحضرت علی ﷺ څخه روایت دی چی زه یووار دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضروم ، دوی دصحابه کرامو ﷺ څخه پوښتنه وفرمایله، اَیُّ شَيْءٍ خَيْرٌ لِلْمَرْاَةِ (دښځی دپاره څه شی ښه دی؟) نوصحابه کرام ﷺ خاموش پاته سول ، هیڅ جواب یی ورنه کی، بیاچی کله زه کورته ولاړم اودحضرت فاطمی ﷺ څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

می دا پوښتنه وکړه نوهغې وفرمایل ، لاَ یَرَیْنَ الرِّجَالَ وَلاَ یَرَوْنَهُنَّ (یعنی دښځو دپاره ښه دا ده چی نه دوی سړی وویني اونه سړی دوی وویني) ما داجواب نبی کریم ﷺ ته نقل کی نو ده ﷺ وفرمایل ، اِنَّهَا بِضْعَةٌ مِنِّی، هغې صحیح وویل، بیشکه هغه زما یو جزء دی.

په واقعه دافك کی چی کوم سبب حضرت عائشه ﷺ ته په څنګل کی دپاته کیدو پیښ سو هغه دا وو چی دپاکو بیبیانو پرده صرف برقع اوخادر نه وو ، بلکه هغوی به په سفرکی هم په خپل هودَج (یعنی کجاوه) کی اوسیدی ، دغه کجاوه به یی پراوښ سربیره کښېښووله اودغه شان به کښته سوله ، دادولی دمسافر دکور په شان وی، په دی واقعه کی چی دکله قافله روانه سوه نودعادت موافق خادمانو داسی وګڼله چی ام المؤمنین په دولی کی ده اودولی یی په اوښ سپره کړه اوواقعه داوه چی هغه نه وه په کی بلکه دطبعی ضرورت دپاره دباندی تللی وه، په دی مغالطه کی قافله روانه سوه اوداپه څنګل کی یوازی پاته سوه.

دا واقعه هم ددی خبری قوی شاهده ده چی دشرعی پردی مطلب رسول الله ﷺ اوپاکو بیبیانو داګڼلی وو، چی ښځی په خپلو مکانونوکی په سفرکی وی نوپه خپله دولی کی دی وی چی بدن یی سرپوته مخامخ نه سی اوکله چی په سفرکی دبدنونو دپردی دا اهتمام وو نو په حضرکی به یی څومره اهتمام وو ؟

(دوهمه درجه دپردی دبُرقعې په ذریعه)

دضرورت په موقعوکی چی کله ښځه دکورڅخه دباندی ووزی نودغه وخت دبرقعی یاغټ څادر پرسر داچولو حکم دی چی دبدن هیڅ حصه دباندی نه وی ورڅخه، دا دسورة احزاب په دی آیت سره ثابته ده کوم چی مخ ته را روان دی ، یَا أَیُّهَا النَّبِیُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِینَ یُدْنِینَ عَلَیْهِنَّ مِنْ جَلَابِیبِهِنَّ : یعنی ای نبی! ته خپلو پاکو بیبیانو اوپاکو لونو اوعامو مسلمانانو ښځو ته حکم ورکړه چی خپل جلبابونه دی استعمالوی ، جلباب هغه لوی څادرته ویل کیږی په کوم کی چی ښځه دسرڅخه ترپښو پوری پټه سی (داسی روایت دابن عباس ﷺ څخه دی)

ابن جریر په خپل سند سره دحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ څخه داستعمال دجلباب صورت دا نقل کړی دی چی ښځه دسر څخه ترپښو پوری په دی کی را ټوله وی اومخ اوپزه یی هم په دی سره پټ وی صرف یوه سترګی یی دلاری دلیدو دپاره ښکاره وی ، ددی آیت پوره تفسیر مخ ته راځی ، دلته صرف دانبوول منظوردی چی دضرورت په وخت کی ښځه کله دکورڅخه په وتلومجبوره سی نو دی ته دپردی دا درجه اختیارول ضروری دی چی په جلباب وغیره کی دسرڅخه ترپښوپوری پټه وی اومخ یی هم بغیردیوې سترګی څخه پټ وی.

دا صورت هم په اتفاق دفقهاؤ دامت دضرورت په وخت کی جائز دی ، مګرپه صحیح احادیثوکی ددې صورت پراختیارولوباندی هم څوپابندی عائدسوی دی چی خوشبویی دی نه وی لګولی، شرنګیدونکی کالی دی یی نه وی اچولی ، دلاری پرغاړه باندی دی څی دسړو ګنو ګونو ته دی نه ورننوزی وغیره.

(دریمه درجه دشرعي پردی چې دفقهاوو په کښې اختلاف دی)

دا ده چی دسرڅخه ترپښو پوری ټول بدن پټ وی مګرمخ اوورغوی ښکاره وی کوموحضراتوچی د، اِلاَّ مَاظَهَرَ،تفسیرپه مخ اوورغووسره کړی دی ددوی په نزدچونکی مخ اوورغوی دپردی څخه مستثنی سول

Maktaba Tul Ishaat.com

په دی وجه دښکاره پریښوول جائزسول (لکه چی روایت دی دحضرت ابن عباس ﷺ څخه) اوکومو حضراتو چی دَمَاظَهَرَ څخه برقع، جلباب وغیره مراد اخیستی دی هغوی دی ته ناجائز وایی (لکه چی روایت دی دابن مسعود ﷺ څخه) کوموچی ورته جائزویلی دی دهغوی په نزد هم داشرط دی چی دفتنی خطره نه وی، مگر چونکی دښځی دزینت تول مرکز ددی مخ دی، په دی وجه ددې په ښکاره کولوکی دفتنی خطره نه کیدل کله کله دی، په دی وجه اخرپه عامو حالاتوکی ددوی په نزد هم مخ وغیره ښکاره کول جائزنه دی.

په څلورو امامانوکی امام مالك، امام شافعی اوامام احمد بن حنبل دری امامانو خو اولنی مذهب اختیارکړی دی، دمخ او ورغوو دښکاره کولوپی مطلقًا اجازه نه ده ورکړی، برابره خبره ده که دفتنی بیره وی اوکه نه وی، امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله که څه هم دوهم مسلك اختیار کړی دی، مگر دفتنی دبیری نستوالی شرط پی مقرر کړی دی اوچونکی عادتًا دا شرط مفقود دی په دی وجه حنفی فقهاؤ هم دغیر محرمو په مخکی دمخ او ورغوو ښکاره کولو اجازت نه دی ورکړی.

دڅلورو سره وو امامانو روایتونه د دوی دمذهبونو دمستندو کتابونو په حواله سره په، رساله تفصیل الخطاب، داحکام القرآن په جزء کی په تفصیل سره بیان سوی دی، داحنافو اصل مذهب چونکی دمخ او ورغوو دپردی څخه دمستثنی کیدو دی، په دی وجه دلته داحنافو خو روایتونه نقل کیږی په کومو کی چی دفتنی دبیری په وجه دممانعت حکم مذکور دی.

وَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا مُلَازَمَةَ بَيْنَ كَوْنِهِ لَيْسَ عَوْرَةً وَجَوَازِ النَّظَرِ إِلَيْهِ فَلِحِلِّ النَّظَرِ شُرُوطٌ بِعَدَمِ خَشْيَةِ الشَّهْوَةِ مَعَ انْتِفَاءِ الْعَوْرَةِ وَلِذَا حَرُمَ النَّظَرُ إِلَى وَجْهِهَا وَوَجْهِ الْأَمْرَدِ إِذَا شَكَّ فِي الشَّهْوَةِ وَلَا عَوْرَةَ.

پوه سه چی دیوه اندام په سترکی دنه داخلیدو او دی ته دنظر په جائز کیدو څه تلازم نسته څکه چی دنظر جواز خو پردی موقوف دی چی دشهوت خطره نه وی حال دا دی چی دغه اندام په سترکی دا خل نه دی په دی وجه دپردی ښځی مخ یا دبی ږیری هلك دمخ طرف ته نظر کول حرام دی، کله چی دشهوت په پیدا کیدو کی شك وی، حال دا دی چی مخ په ستر کی دا خل نه دی (فتح القدیر، ص ۱۸۱ ج ۱)

دفتح القدیر ددی ذکر سوی عبارت څخه دشهوت دبیری دا تفسیر هم معلوم سو که څه هم بالفعل څه شهوانی نیت پی نه وی، مگر دداسی خیال پیدا کیدو شك وی، کله چی داسی شك وی نو نه صرف دپردو ښځو بلکه دبی ږیری هلکانو مخ ته کتل هم حرام دی او دشهوت دخیال پیدا کیدو تشریح پی په جامع الرموزکی داکړې ده چی په نفس کی دی ته دنژدی کیدو میلان پیداسی او دا ظاهره ده چی په نفس کی دومره میلان نه پیدا کیدل دا شی خو دتیرو بزرګانو په زمانه کی هم نایاب وو، په حدیث کی دحضرت فضل ﷺ دیوی ښځی طرف ته کتل اودنبی کریم ﷺ دده مخ په خپل لاس سره بل طرف ته اړول ددی واضح دلیل دی نو په دی زمانه دفساد کی څوك ویلی سی چی ددی خطری څخه خالی دی.

اوشمس الائمة سرخسی رحمه الله پردی مسئله دپوره مفصل بحث څخه وروسته لیکی.

وَهَذَا كُلُّهُ إِذَا لَمْ يَكُنِ النَّظَرُ عَنْ شَهْوَةٍ فَإِنْ كَانَ يَعْلَمُ أَنَّهُ إِنْ نَظَرَ اشْتَهَى لَمْ يَحِلَّ لَهُ النَّظَرُ إِلَى شَيْءٍ مِنْهَا (سرخسی ص ۱۵۲ ج ۱۰)

دا دمخ او ورغوو طرف ته دنظر جائزوالی صرف په دی صورت کی دی کله چی دا نظر په شهوت سره نه

Maktaba Tul Ishaat.com

وی او که کتونکی پوهیږی چی مخ ته په کتلو سره یی بدخیالات پیدا کیدی سی نو دښځی دهیڅ ځای طرف ته هم کتل جائز نه دی .

اوعلامه شامی رحمه الله په رد المحتار کتاب الکراهیة کی فرمایی .

فَإِنْ خَافَ الشَّهْوَةَ أَوْ شَكَّ امْتَنَعَ نَظَرُهُ إِلَى وَجْهِهَا فَحِلُّ النَّظَرِ مُقَيَّدٌ بِعَدَمِ الشَّهْوَةِ وَإِلَّا فَحَرَامٌ وَهَذَا فِي زَمَانِهِمْ وَأَمَّا فِي زَمَانِنَا فَمُنِعَ مِنَ الشَّابَّةِ إِلَّا النَّظَرُ لِحَاجَةٍ كَقَاضٍ وَشَاهِدٍ يَحْكُمُ وَيَشْهَدُ وَأَيْضًا قَالَ فِي شُرُوطِ الصَّلٰوةِ وَلْتَمْنَعُ الشَّابَّةُ مِنْ كَشْفِ الْوَجْهِ بَيْنَ رِجَالٍ لَا لِأَنَّهُ عَوْرَةٌ بَلْ لِخَوْفِ الْفِتْنَةِ .

که دشهوت خطره یاشك وی نو دښځی مخ ته کتل ممنوع دی ، ځکه چی دنظر حلالوالی دشهوت په نه کیدو پوری مشروط دی اوکله چی دا شرط نه وی نو حرام دی او دا خبره دسلفو په زمانه کی وه لیکن زمونږ په زمانه کی خو مطلقًا ښځی ته کتل منعه دی ، مگر دا چی دځه شرعی حاجت په وجه ورته کتل راسی لکه قاضی یا شاهد کوم چی په یوه معامله کی ددی ښځی متعلق فیصله کول یاشاهدی ورکول وی اوپه شروط صلوة کی فرمایی چی ځوانی ښځی ته دپردو سرو په مخکی مخ ښکاره کول منعه دی ، په دی وجه نه چی دا عورت دی ، بلکه په بیره دفتنی سره .

ددی بحث خلاصه او دفقهاؤ اختلاف دا دی چی امام شافعی امام مالك او امام احمد بن حنبل رحمهم الله دځوانی ښځی طرف ته نظر کول دعام عادت پربنا باندی سبب دفتنی مقرر کړی دی ، ددی ځخه یی مطلق منع کړي ده ، برابره خبره ده که په واقع کی فتنه وی اوکه نه وی ، لکه دشریعت په ډیرو احکاموکی چی ددی نظائر موجود دی ، مثلاًسفرچونکه عادةً دمشقت اومحنت سبب وی ، په دی وجه یی په خپله سفر لره دمشقت حکم ورکی ، درخصت ټول احکام یی دسفرپه متحقق کیدو پوری دائر کړل، برابره خبره ده که سړی ته په سفرکی هیڅ مشقت هم نه وی، بلکه دخپل کورځخه زیات ارام ورته حاصل وی، مگر دقصر لمونځ او رخصت دروژی وغیره احکام ده لره هم شامل دی ، دغه شان دخوب په حالت کی چونکه انسان بی خبره وی اوعادةً هوا خارجیږی ، په دی وجه په خپله خوب یی دهوا خارجیدو قائمقام مقررکی په خوب سره یی داودس ماتیدو حکم وکی برابره خبره ده که په واقع کی هوا خارجه سوی وی اوکه نه .

مگر امام ابوحنیفه رحمه الله دښځی مخ او ورغوو ښکاره کولوته دادرجه نه ده ورکړی چی مخ ښکاره کول دفتنی قائمقام مقرر کړی ، بلکه حکم یی پردی دائرکی چی کوم ځای دفتنی یعنی ښځی ته دنژدی کیدو دمیلان خطره یا احتمال وی هلته منعه دی اوکوم ځای چی دا احتمال نه وی جائز دی ، مگر لور معلومه سوي ده چی په دی زمانه کی دداسی احتمال نیستوالی بالکل کم دی ، په دی وجه وروستنیو احنافو فقهاؤ هم اخر هغه حکم ورکړی دی کوم چی درو امامانو ورکړی وو چی دځوانی ښځی مخ یا ورغوته کتل منعه دی ، ددی خلاصه دا سوه چی اوس په اتفاق دځلورو سره وو امامانو دا دریمه درجه دپردی ممنوع سوي ده ، چی ښځه دی په برقع یاځادرکی ټول بدن پټ کړی ، صرف مخ او ورغوی دی ښکاره کوی ، دسرومخ ته دی راځی ، په دی وجه اوس دپردی اولنی دوی درجی پاته سوی ، یو اصل مقصود یعنی دښځو په کورونوکی دننه اوسیدل ، بی دضرورت ځخه دباندی نه وتل او دوهمه یعنی دبرقعی وغیره سره وتل دضرورت پربنا په وخت دضرورت په قدر دضرورت .

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله : دپردی په ذکر سوو احکامو کی څینی صورتونه مستثنی هم دی مثلاً څینی سړی یعنی محارم دپردی څخه مستثنی دی اوځینی ښځی مثلاً ډیری زړی ، هغه هم دپردی دعام حکم څخه څه قدر مستثنی دی ، ددی تفصیل څه په سورة نورکی تیرسوی دی ، څه به مخ ته دسورة احزاب په هغو ایتونو کی راسی په کومو کی چی دا استثنا ذکر ده .

دپردی دمسئلی داهمیت ترمخه دخپلی رسالی، تفصیل الخطاب فی احکام الحجاب ، څه خلاصه دلته ولیکل سوه ، کومه چی دعوامو دپاره کافی ده که پوره تحقیق غواړی نو په ذکرسوی رساله کی کتی سی ، دا رساله په احکام القرآن تفسیر سورة احزاب کی شائع سوې ده ، والله سبحانه وتعالی اعلم

إِنَّ اللَّهَ وَمَلَٰئِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ ۚ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

بیشکه الله ﷻ او دهغه ملائکی رحمت لیږي په رسول باندی ای ایماندارو !

صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴿٥٦﴾

رحمت لیږي په هغه او سلام لیږي سلام لیږل .

لنه تفسیر: بیشکه الله ﷻ او دهغه ملائکی رحمت لیږی ، په دی پیغمبر ﷺ باندی ای ایمانداروا تاسی هم پرده رحمت ولیږی اوښه سلام پر لیږی (چی د دوی حق دعظمت کوم چی ستاسی پرذمه دی ، اداسی)

معلومات اومسئلې : ددی څخه په مخکی ایتونوکی دنبی کریم ﷺ دځینو خصوصیاتو او امتیاز ذکر وو ، دکومو په ضمن کی چی دپاکو بیبیانو دپردی حکم راغلی وو اومخ ته هم څینی احکام دپردی راروان دی په مینځ کی دهغه شی حکم ورکول سو ، دکوم دپاره چی دا تول خصوصیات اوامتیازات ایښول سوی دی ، هغه دنبی کریم ﷺ دعظمت شان اظهار او د دوی دعظمت اومحبت او اطاعت ترغیب دی .

اصل مقصود دایت مسلمانانوته دا حکم ورکول وو چی په نبی کریم ﷺ باندی درود او سلام ولیږی ، مګر ددی په تعبیر اوبیان کی یی داسی وفرمایل چی اول الله ﷻ په خپل او دخپلو ملائکو دنبی کریم ﷺ دپاره عمل دصلوة ذکر وفرمایی ، ددی څخه وروسته یی عامو مسلمانوته ددی حکم ورکی ، په دی کی یی د دوی شرف اوعظمت دومره لوړ وفرمایی چی درسول الله ﷺ په شان کی دکوم کارحکم مسلمانانوته ورکول سی داکارداسی دی چی په خپله حق تعالی اوده ملائکی هم داکارکوی،نوعام مومنان پرکومو چی دنبی کریم ﷺ احسانات بی شمیره دی ، دوی ته خو ددی عمل لوی اهتمام کول په کار دی ، او یوه فائده په دی تعبیرکی دا هم ده چی په دی سره ددرود اوسلام لیږونکو مومنانو یوډیر لوی فضیلت داثابت سو چی الله ﷻ دوی په دی کارکی شریك وفرمایل، کوم کار چی حق تعالی په خپله هم کوی او دده ملائکی هم

دصلوة او دسلام معنی : لفظ دصلوة په عربی ژبه کی دځو معانیو دپاره استعمالیږی رحمت، دعا ، مدح، ثناپه ذکر سوی آیت کی دالله ﷻ طرف ته چی کوم نسبت دصلوة سوی دی ددی څخه مراد رحمت نازلول دی اودملائکو دطرف څخه صلوة دهغوی د دوی دپاره دعا کول دی او دعامو مومنانو دطرف څخه دصلوة مطلب ددعاء اومدح اوثناء مجموعه ده ، عامو مفسرینو هم دا معنی لیکلی ده ، اوامام بخاری

Maktaba Tul Ishaat.com

رضی اللہ عنہ دابو العالیه څخه نقل کړی دی چی دالله ﷻ دصلوة څخه مراد د دوی تعظیم او دملائکو په مخکی مدح اوثناء ده اودالله ﷻ دطرف څخه د دوی تعظیم په دنیاکی خو دا دی چی دوی ته یی لوړه مرتبه ورکړه چی په اکثرو موقعو اذان اواقامت وغیره کی دالله ﷻ دذکر سره د دوی ذکر شامل سو، او دا چی الله ﷻ د دوی دین په ټوله دنیاکی وغوړوی اوغالب یی کی او د دوی په شریعت باندی یی عمل ترقیامته پوری جاری پاته کی ، ددی سره د دوی دشریعت دمحفوظ ساتلو ذمه حق تعالی واخیسته ، اوپه اخرت کی د دوی تعظیم دا دی چی د دوی مقام یی دټول مخلوقات څخه لوړ اوبلندکی اوپه کوم وخت کی چی یو پیغمبر یایوی ملائکی ته دشفاعت مجال نه وو، په دغه حال کی یی دوی ته مقام دشفاعت ورکی، کوم ته چی مقام محمود ویل کیږی.

په دی معنی باندی چی کومه دا شبهه کیدی سی چی په صلوة اوسلام کی خو دحدیث دروایتونو مطابق د دوی سره د دوی ال اواصحاب هم شاملیږی ، دالله ﷻ په تعظیم اومدح اوثناء کی د دوی څخه ماسوا بل څوك څنګه شریکیږی ؟ ددی جواب په روح المعانی وغیره کی دا ورکول سوی دی چی دتعظیم اومدح ثنا وغیره درجی ډیری دی.

نبی کریم ﷺ ته ددی اعلی درجه حاصله ده او په یوه درجه کی ال اواصحاب اوعام مومنان هم شامل دی.

(دیوی شبهې جواب)

اودیولفظ دصلوة څخه په یووخت ډیری معانیوی رحمت، دعا، تعظیم، ثنا مراد اخیستل کوم ته چی په اصطلاح کی عموم مشترك وایی او دځینو حضراتو په نزد دغه جائز نه دی ، په دی وجه ددی یوه توجیه داکیدی سی چی لفظ دصلوة دلته دیوی معنی دپاره واخیستل سی ، یعنی د دوی تعظیم اومدح اوثناء او خیر خواهی بیا دا معنی کله چی دالله ﷻ طرف ته منسوب وی نو دعا او استغفار به وی چی دعامر مومنانو طرف ته منسوب سی نو ددعا اومدح اوثناء مجموعه به وی.

اولفظ دسلام مصدر په معنی دالسلامة دی ، لکه ملام چی په معنی دملامت مستعملیږی اومراد ددی څخه دافتونو، عیبونو، نقصونو څخه سالم پاته کیدل دی اود: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ معنی دا ده چی دنقصونو اوافتونوڅخه دی سلامتیاستاسره وی اودعربی ژبی په قاعدی سره دلته دحرف دعلی موقع نسته، مګر چونکه لفظ دسلام متضمن دی معنی دثناء لره په دی وجه حرف دعلی سره عَلَيْكَ یاعَلَيْكُمْ ویل کیږی.

اوځینی حضراتو دلته دلفظ دسلام څخه مراد دالله ﷻ ذات اخیستی دی ځکه چی سلام دالله ﷻ داسماء حسنی څخه دی نو مراد دالسَّلَامُ عَلَيْكَ به دا وی چی الله ﷻ ستا په حفاظت او رعایت متولی اوکفیل دی

(دصلوة اوسلام طریقه)

په صحیح بخاری، مسلم وغیره داحادیثو په ټولو کتابونو کی دا حدیث راغلی دی چی حضرت کعب بن عجره ﷺ فرمایی چی (کله دا ایت نازل سو نو) یو سړی دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی (په آیت کی مونږ ته د دوو شیانو حکم دی دصلوة اوسلام) دسلام طریقه خو مونږ ته معلومه سوې ده) (چی ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ ویل کیږی) دصلوة طریقه راته هم وښیاست ، دوی وفرمایل چی دا الفاظ واياست ، اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَى

Maktaba Tul Ishaat.com

مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، په نورو روایتونو کی په دی کی څه کلمی نوری هم نقل دی.

او دصحابه کرامو رضی الله عنهم دسوال کولو وجه غالباً دا وه چی دوی ته دسلام کولو طریقه خو په تشهد (یعنی التحیات) کی مخکی بنوول سوی وه چی ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ، وویل سو، په دی وجه په لفظ دصلوة کی دوی دخپل طرف څخه الفاظ مقررول خوښ نه کړل په خپله یی دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه اوالفاظ دصلوة یی متعین کړل ، په دی وجه په لمانځه کی په عام طور سره په دی الفاظوسره صلوة اختیار سوی دی ، مگر دا څه داسی تعین نه دی چی تبدیلی په کی منعه وی ، ځکه چی په خپله دنبی کریم ﷺ څخه دصلوة یعنی درودشریف ډیری مختلفی صیغې منقول اوماثوری دی ، دصلوة اوسلام دحکم تعمیل په هرهغه صیغه سره کیدی سی ، په کومه کی چی دصلوة اوسلام الفاظ وی او دا هم ضروری نه ده چی دغه الفاظ دنبی کریم ﷺ څخه په خپله منقول هم وی بلکه په کوم عبارت سره چی هم دصلوة اوسلام الفاظ ادا سی ، ددی حکم تعمیل او د درود شریف ثواب حاصلیدی سی، مگر داظاهره ده چی کو م الفاظ په خپله دنبی کریم ﷺ څخه منقول دی ، هغه زیات بابرکت اوزیات دثواب موجب دی ، په دی وجه صحابه کرامو رضی الله عنهم دصلوة دالفاظو د دوی څخه دمتعین کولو سوال فرمایلی وو .

مسئله : دلمانځه په قعده کی خو ترقیامته پوری الفاظ دصلوة اوسلام په هغه شان ویل سنت دی څنګه چی لوړ نقل سوی دی ، او دباندی دلمانځه څخه کله چی نبی کریم ﷺ په خپله مخاطب وی لکه چی د دوی په عهد مبارك کی هلته خو به هغه الفاظ دَالصَّلوٰةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ اختیارول کیږی ، د دوی دوفات څخه وروسته روضهٔ اقدس ته مخامخ کله چی سلام عرض کیږی نوپه دی کی هم صیغه دَالسَّلَامُ عَلَيْكَ اختیارول سنت دی، ددی څخه علاوه کوم ځای چی صلوة اوسلام وویل سی، نو دصحابهٔ کرامو رضی الله عنهم تابعینو او دامت دامامانو څخه صیغه دغائب استعمالول نقل دی ، مثلاً ،صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لکه چی دعامو محدثینو په کتابونوکی داسی دی.

(دَصلوة اوسلام دذکر سوی طریقې حکمت)

کومه طریقه چی دصلوة اوسلام دنبی کریم ﷺ دژبی مبارکی او د دوی دعمل څخه ثابته سوه ، ددی مطلب دا دی چی مونږ ټول مسلمانان د دوی دپاره دالله ﷻ څخه درحمت اوسلامتی دعاکوو، دلته دا سوال پیداکیږی چی مقصود دایت خودا وو چی مونږ د دوی دتعظیم اوتکریم حق په خپله ادا کی ، مگر طریقه یی دا وښوولې چی دالله څخه دعا وغواړه ، په دی کی اشاره دی طرف ته ده چی دنبی کریم ﷺ دتعظیم حق اواطاعت پوره ادا کول زمونږ دهیڅا په وس کی نه دی ، په دی وجه پر مونږ دا لازمه سوه چی دالله ﷻ څخه دعا وغواړو (روح)

(دصلوة اوسلام حکمونه)

دلمانځه په اخری قعده کی صلوة (درود شریف) خوسنت موکده دټولو په نزد دی ، دامام شافعی اواحمد بن حنبل په نزد واجب دی چی په پریښوولو سره یی دلمانځه اعاده واجب کیږی .

مسئله : پردی هم دجمهورو فقهاؤ اتفاق دی چی کله څوك دنبی کریم ﷺ ذکر وکی یا یی واوری نو په هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

درود شریف واجب سی ، ځکه چی په حدیث شریف کی د دوی دذکر مبارك په وخت کی د درود شریف په نه ویلو باندی وعید راغلی دی ، په جامع ترمذی کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی، رَغِمَ اَنْفُ رَجُلٍ ذُکِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ یُصَلِّ عَلَیَّ، یعنی ذلیل دی وی هغه سړی دچاپه مخکی چی زما ذکر راسی اوهغه پرما درود ونه لیږی (قال الترمذی حدیث حسن ورواه ابن السنی باسناد جید)

اوپه یو حدیث کی ارشاد دی ، اَلْبَخِیْلُ مَنْ ذُکِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ یُصَلِّ عَلَیَّ، یعنی بخیل هغه سړی دی دکوم په مخکی چی زما ذکر راسی او هغه پرما درود ونه لیږی (رواه الترمذی وقال حدیث حسن صحیح)

مسئله: که په یوه مجلس کی د دوی ﷺ ذکر بار بار راسی نو صرف په یوه وار درود ویلو سره واجب ادا کیږی ، لیکن مستحب دا دی چی څومره واره ذکر مبارك په خپله وکړی یا یی دبل چا څخه واوری نو چی هر وار درود شریف ووایی ، دمحدثینو حضراتوڅخه زیات څوك د دوی ذکر کولی سی چی دهغوی هر وخت مشغله درسول ﷺ حدیث دی چی په دی کی هر وخت ، بار بار د دوی ﷺ ذکر راځی ، دحدیث دټولو امامانو دستور دا راغلی دی چی هر وار درود اوسلام وایی اولیکی ، دحدیث ټول کتابونه په دی شاهد دی دوی ددی هم پروا نه ده کړی ، چی په دی تکرار دصلوة اوسلام سره دکتاب غټوالی دیر زیاتیږی ځکه چی اکثره واړه واړه حدیثونه راځی چی په هغه کی دیوی دوو کرښو سره نوم مبارك راځی اوځینی ځای خو په یوه کرښه کی دیوه څخه زیات واره دنوم مبارك ذکر وی ، محدثینو حضراتو هیڅکله هم صلوة اوسلام نه دی پریښی .

مسئله: ځنګه چی په ژبه سره دمبارك نوم اخیستو په وخت کی زبانی صلوة اوسلام واجب دی ، دغه شان په قلم سره دلیکلو په وخت کی صلوة اوسلام په قلم سره لیکل هم واجب دی ، او په دی کی چی کوم خلګ دحرفونو لنډول کوی ، صلعم، لیکی دا صحیح نه دی ، پوره صلوة اوسلام لیکل په کار دی .

مسئله: دذکر مبارك په وخت کی افضل اواعلی اومستحب خو دا ده چی صلوة اوسلام دواړه ووایی او ولیکی، لیکن که څوك په دی کی پریوه یعنی صرف صلوة یاسلام باندی اکتفاء وکی نو دجمهورو فقهاؤ په نزد څه ګناه نسته ، شیخ الاسلام نووی رحمه الله وغیره په دواړو کی صرف په یوه باندی بس والی کول مکروه فرمایلی دی ، ابن حجر هیثمی رحمه الله فرمایی چی د دوی مراد دکراهت څخه خلاف اولی والی دی کوم ته چی په اصطلاح کی مکروه تنزیهی وایی اودامت دعالمانو مسلسل عمل پردی باندی شاهد دی چی هغوی دواړه جمع کوی اوځینی وخت پریوه هم بس والی کوی .

مسئله : لفظ دصلوة دانبیاؤ علیهم السلام څخه ماسوا دهیچا دپاره استعمالول جائز نه دی دجمهورو عالمانو په نزد ، امام بیهقی رحمه الله په خپل سنن کی دحضرت ابن عباس رضی الله عنه دا فتوی نقل کړي ده ، لاَ یُصَلّٰی عَلٰی اَحَدٍ اِلاَّ عَلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لٰکِنْ یُدْعٰی لِلْمُسْلِمِیْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ بِالْاِسْتِغْفَارِ.

دامام شافعی رحمه الله په نزد دغیر نبی دپاره دلفظ دصلوة استعمال مستقلاً مکروه دی ، دامام اعظم ابوحنیفه او دده داصحابو رحمهم الله هم دا مذهب دی البته تَبَعًا جائز دی ، یعنی په نبی کریم ﷺ باندی دصلوة او سلام سره ال او اصحاب یا ټول مومنان که شریك کړی ، په دی کی باك نسته .

او امام جوینی رحمه الله فرمایی چی کوم حکم دلفظ دصلوة دی ، هغه دلفظ دسلام هم دی چی دغیر نبی

Maktaba Tul Ishaat.com

دپاره ددی استعمال جائز نه دی ، بغیر ددی څخه چی چاته دخطاب کولو په وخت کی په طور دتحیه السلام علیکم ووایی ، دا جائز اوسنت دی ، مگر دیو غائب دنوم سره ﷺ ویل اولیکل دغیر نبی دپاره جائز نه دی (خصائص کبرٰی دسیوطی ص۲۶۲ج ۲)

علامه لقانی فرمایی چی قاضی عیاض فرمایلی دی چی دامت محققین علماء دی طرف ته تللی دی او زما په نزد هم دا صحیح ده او دا امام مالك ، سفیان او ډیرو فقهاؤ او متکلمینو اختیارکړي ده چی صلوة اوتسلیم دنبی کریم ﷺ اونورو انبیاؤ دپاره مخصوص دی ، دغیر نبی ﷺ دپاره جائز نه دی ، لکه لفظ سبحانه او تعالی چی دالله ﷻ دپاره مخصوص دی ، دانبیاؤ څخه ماسوا دعامو مسلمانانو دپاره دمغفرت او رضا دعا کول په کار دی ، لکه په قرآن کی چی داصحابو ﷺ متعلق راغلی دی ، رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ (روح المعانی)

دصلوة اوسلام مفصل بحث داحقر په رساله، تنقیح الکلام فی احکام الصلوة والسلام، کی سوی دی ، کومه چی په عربی ژبه داحکام القرآن سورة احزاب دیو جزء په حیثیت شائع سوي ده .

إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي

بیشکه کوم خلق چی ازاروی الله ﷻ او دهغه رسول لعنت پری کړی دی الله ﷻ په

الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُهِينًا ﴿٥٧﴾ وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ

دنیا او اخرت کی اوتیار کړی یی دی دهغوی دپاره ذلت عذاب ، او کوم خلق چی تهمت لګوی

الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا ﴿٥٨﴾

په مسلمانانو سړو اوپه مسلمانانو ښځو بغیر دګناه کولو څخه نو پورته کی بار د درواغو اوښکاره ګناه

لنډتفسیر: بیشکه کوم خلک چې الله ﷻ او دهغه رسول (ﷺ قصداً) ازاروی الله ﷻ پرهغوی په دنیا او اخرت کی لعنت کوی او دهغوی دپاره یی ذلیل کوونکی عذاب تیار کړی دی او (دغه شان) کوم خلک چی مسلمانانو سړو اومسلمانانو ښځو لره بغیر ددی څخه چی دوی څه (داسی کار) کړی وی (په کوم سره چی هغوی مستحق دسزا سی) ازار رسوی نو دغه خلک دبهتان اوصریح ګناه بار (پرخپل ځان) پورته کوی (یعنی که دغه ازار فولی وی نو بهتان دی اوکه فعلی وی نو مطلق ګناه ده)

معلومات او مسئلې: په تیرو ایتونو کی مسلمانانو ته پر هغو شیانو باندی خبرداری ورکول سوی وو ، په کومو سره چی نبی کریم ﷺ ته ازار اوتکلیف رسیدی ، مگر څینی مسلمانان به دناپوهی یابی پرواهی په وجه په دغه ازارکی اخته کیدل ، لکه د دوی ﷺ کورونو ته بی دعوته تلل یا ددعوت پروخت ډیر مخکی راتلل اوکښینستل، یادخوراك څخه وروسته د دوی په کور کی په خبرو ترناوخته پوری مشغوله کیدل وغیره پرکومو چی په آیت ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ الایة ، کی خبرداری ورکول سوي دی ، دا هغه ازار وو کوم چی به بغیر دقصد اوارادی څخه په غفلت سره رسیدی ، پردی باندی صرف خبرداری

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکول کافی وګڼل سو ، په دی ذکر سوو دوو ایتونوکی دهغه ازار او تکلیف ذکردی کوم چی به داسلام دمخالفینو کفارو منافقانو دطرف څخه قصداً دوی ته رسول کیدی ، په دی وجه په لنډ تفسیرکی دلته دقصداً لفظ زیات سو ، چی په دی کی جسمانی ازارونه هم دا خل دی کوم چی په مختلفو وختونوکی دکفارو دلاسه دوی ته رسیدلی دی او روحانی ازارونه هم کوم چی به دوی ته په طعن تشنیع اوپر پاکو بیبیانو باندی دبهتان تراشی په ذریعه دوی ته رسول کیدل ، په دی ارادهٔ ازار رسولو باندی دلعنت اوسخت عذاب وعید هم په ذکر سوو ایتونو کی راځی .

ددی آیت په شروع کی چی دا ارشاد وسو چی کوم خلک الله ﷻ ته ازار رسوی ، په دی کی دازار رسولو څخه مراد هغه کارونه اوخبری دی کوم چی عادتًا دازار سبب جوړیږی ، که څه هم دالله ﷻ پاك ذات دهرتاثر اوانفعال څخه بالاتر دی، دهیڅا مجال نسته چی هغه ته څه تکلیف ورسولی سی، لیکن داسی کارونه په کومو سره چی عادتًا ازار رسول کیږی هغه یی الله ﷻ ته په ازار رسولو سره تعبیر کړه .

په دی کی دتفسیر دامامانو اختلاف دی چی دلته الله ﷻ ته دازار ورکولو څخه څه مراد دی ؟ دتفسیر څینو امامانو هغه افعال اواقوال ددی مصداق مقرر کړی دی ، دکومو په باره کی چی نبی کریم ﷺ په زبانی احادیثوکی نبوولی دی چی دا دالله ﷻ دازار سبب دی ، مثلاً دحادثو او مصیبتونو په وخت کی زمانی ته بد ویل چی په حقیقت کی حقیقی فاعل حق تعالی دی ، دا خلک زمانه فاعل وګڼی کښځل کوی ، نو په حقیقت کی دا حقیقی فاعل ته رسیږی او په څینو روایتونوکی دی چی دجاندارو شیانو تصویرونه جوړول الله ﷻ ته دازار سبب دی ، نو په آیت کی الله ﷻ ته دازار ورکولو څخه مراد دا اقوال او افعال سول .

دتفسیر نورو امامانو فرمایلی دی چی دلته په حقیقت کی دنبی کریم ﷺ دازار څخه منع کول اوپردی وعید کول مقصود دی مګر په آیت کی ازار درسول ﷺ دحق تعالی دازارولو په عنوان سره تعبیرکی ، ځکه چی دوی ته ازار رسول په حقیقت کی الله ﷻ ته ازار رسول دی ، لکه چی په حدیث کی مخ ته راځی او دقرآن دسیاق اوسباق څخه هم ترجیح ددی دوهم قول معلومیږی ، ځکه چی مخ ته هم درسول دازار بیان وو اومخ ته هم ددی بیان را روان دی ، اودنبی کریم ﷺ ازار دالله ﷻ دپاره ازار کیدل دحضرت عبد الرّحمٰن بن مغفل مزنی ﷺ دروایت څخه ثابت دی چی .

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللهَ اَللهَ فِي اَصْحَابِيْ اَللهَ اَللهَ فِي اَصْحَابِيْ لَاتَتَّخِذُوْهُمْ غَرَضًا مِّنْ بَعْدِيْ فَمَنْ اَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّيْ اَحَبَّهُمْ وَمَنْ اَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِيْ اَبْغَضَهُمْ وَمَنْ آذَاهُمْ فَقَدْ آذَانِيْ وَمَنْ آذَانِيْ فَقَدْ آذَى اللهَ وَمَنْ آذَى اللهَ يُوْشِكُ اَنْ يَّأْخُذَهُ (ترمذی)

نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی زما داصحابو په باره کی دالله ﷻ څخه بیره وکړی دالله ﷻ څخه بیره وکی او دوی زماڅخه وروسته داعتراضونو او تنقیدونو نښانه مه جوړوی ځکه چی د دوی سره چامحبت وکی نو زما دمحبت په وجه یی وکی اوچاچی ورسره بغض وکی نو زما سره دبغض په وجه یی وکی اوچا چی دوی ته ازار ورسوی ، هغه ماته ازار ورسوی اوچا چی ماته ازار ورسوی هغه الله ﷻ ته ازار وروسوی اوچاچی الله ﷻ ته ازار ورسوی نو نژدی ده چی الله ﷻ دده ګرفت وکی .

ددی حدیث څخه لکه څنګه چی دامعلومه سوه چی دنبی کریم ﷺ په ازارولو سره الله ﷻ ته ازار رسیږی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه شان دا هم معلومه سوه چی په صحابه کرامو ﷺ کی چاته ازار رسول یا د دوی ﷺ په شان کی گستاخی کول نبی کریم ﷺ ته ازار رسول دی.

ددی آیت دشان نزول په حقله ډیر روایتونه دی ، په ځینوکی دی چی دا پرحضرت صدیقه ﷺ دبهتان لګولو په حقله نازل سوی دی ، لکه چی دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چی په کومه زمانه کی په حضرت عائشه ﷺ بهتان ولګیدی نو دعبدالله بن ابی منافق په کور کی څه خلګ جمعه سول او ددی بهتان دخپرولو خبری یی کولی ، دغه وخت نبی کریم ﷺ اصحابو کرامو ﷺ ته ددی شکایت وفرمایی چی دا سړی ماته ازار رسوی (مظهری) په ځینو روایتونوکی دی چی دحضرت صفیه ﷺ دنکاح په وخت کی ځینو منافقانو طعن وکی ، ددی متعلق دا نازل سو اوصحیح خبره دا ده چی دهری داسی معاملی متعلق نازل سوی دی ، په کوم سره چی نبی کریم ﷺ ته ازاررسیږی ، په دی کی پر حضرت صدیقه ﷺ باندی بهتان هم دا خل دی او دحضرت صیفه ﷺ اوحضرت زینب ﷺ پرنکاحونو طعن هم نورو صحابه کرامو ﷺ ته بد ویل او په دوی تبراء کول هم په کی دا خل دی.

(نبي کريم ﷺ ته هرقسم ازار رسول کفر دی)

(کوم سړی چی نبی کریم ﷺ ته یو قسم ازار ورسوی ، د دوی په ذات یاصفاتوکی څه عیب راباسی برابره خبره ده که صراحتًا وی یا کنایتًا، هغه کافر سو او ددی آیت په وجه سره به پرهغه دالله ﷻ لعنت په دنیا کی هم وی اوپه اخرت کی هم (لکه چی داسی قاضی ثناء الله رحمه الله په تفسیرِ مظهری کی ویلی دی)

په دوهم آیت کی عامو مومنانوته دازار رسولو حرامو الی اولوی بهتانوالی بیان سوی دی هرکله چی هغه شرعًا ددی مستحق نه وی په عامو مومنانوکی یی داقید څکه ولګوی چی په دوی کی دواړه صورتونه کیدی سی دا هم ممکنه ده چی چا داسی کارکړی وی دکوم په بدله کی چی شرعًا ده ته ازار رسول جائز وی اوپه اولنی آیت کی چونکی معامله دالله ﷻ او رسول دازار وه نو په هغه کی څه قید ونه لګول سو ، څکه چی هلته دجائز کیدو گرسره څه احتمال هم نسته.

(يومسلمان ته بغير دشرعي وجهي څخه دردِ رسول حرام دی)

په ذکرسوی آیت کی په ، الَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ الایه . سره یومسلمان ته بغیر دځه شرعی وجهی څخه دازار او درد رسولو حرام والی ثابت سو اونبی کریم ﷺ ارشاد فرمایلی دی.

الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ وَالْمُؤْمِنُ مَنْ أَمِنَهُ النَّاسُ عَلَى دِمَائِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ (روه الترمذی

عن ابی هریرة ﷺ مظهری) مسلمان خو صرف هغه سړی دی دچا دلاس او ژبی څخه چی ټول مسلمانان محفوظ وی او چاته ورځخه څه تکلیف ونه رسیږی اومومن خو صرف هغه دی دچا څخه چی خلګ دخپلی وینی او مال په معامله کی محفوظ اوپه امن وی.

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ

ای نبی ﷺ ! ووایه خپلو بښځو ته او دمسلمانانو

الْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ ۚ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى

بښځو ته چې کښته زورندی کړی په خان خپل لږ شان خپل څادرونه ، په دی کی ډیره نژدی ده

اَنْ يُّعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۵۹﴾ لَئِنْ

وپیژندل سی نو څوك به یی نه ازار وی ، او دی الله ﷻ بخښنی والا مهربان ، که

لَّمْ يَنْتَهِ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْمُرْجِفُوْنَ

منع نه سول منافقان او دکومو په زړونو کی چی مرض دی او درواغ خبرونو خپرونکی

فِي الْمَدِيْنَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُوْنَكَ فِيْهَآ اِلَّا

په مدینه کی نو مونږ به تا په دوی پسی کړو بیا به پاته نه سی دوی ستاسی په دی ښکار کی مګر

قَلِيْلًا ﴿۶۰﴾ مَّلْعُوْنِيْنَ ۚ اَيْنَمَا ثُقِفُوْٓا اُخِذُوْا وَقُتِّلُوْا تَقْتِيْلًا ﴿۶۱﴾

لږ ورځی ، لعنت کړل سوی ، کوم ځای چی پیدا کیږي ، نیول کیږي به او قتلیږي به په قتلولو سره ، دستور

سُنَّةَ اللّٰهِ فِي الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿۶۲﴾

راغلی دی دالله ﷻ په هغوخلقو کی کوم چی مخکی تیرسوی دی اوته به بیا نه کي پیدا دالله دستور بدلیدونکی

لنډتفسیر: ای پیغمبره! خپلو بیبیانوته اوخپلو لونو ته او دنورو مسلمانانو ښځو ته هم ووایه چی (دسر څخه) لاندی راولی ترخپل (مخ) لږ لږ شان خپل څادرونه په دی سره به ژر پیژندل کیږی سی نو ازاربه درته نه سی رسولی (یعنی که په څه ضرورت سره وزی نو په څادر سر اومخ هم پټوی لکه چی دسورة نور په اخرکی په، غَيْرَ مُتَبَرِّجٰتٍۭ بِزِيْنَةٍ، کی ددی تفسیر تیر سوی دی ، چونکه دمینځو دپاره سر فی نفسه په سترکی داخل نه دی او په مخ ښکاره کولوکی دوی ته دازادو ښځو څخه زیات رخصت دی ، ددی وجه دا ده چی دا دخپل مالك په خدمت کی لګیاوی دکار وزګار دپاره دی ته دباندی وتل اودمخ وغیره ښکاره کولو ضرورت زیات وی ، په خلاف دازادو ښځو څخه چی هغوی دومره مجبوره نه دی اوچونکی لوفران خلګ ازادی ښځی د دوی دخاندانی وجاهت په وجه زیاتی نه سی پلټی، مینځی پلټی، ځینی وخت به دمینځو په دوکه کی دوی ازادی ښځی هم پلټلی، په دی وجه چی سر اوځټ د دوی په عورت کی دا خل وو ، دنبی کریم ﷺ بیبیانو لونو او دعامو مسلمانانو بیبیانو ته یې داحکم ورکی چی په اوږد څادرکی دی خان پټوی نووزی دی کوم چی دسر څخه لاندی پرمخ راوځړوی ، په دی حکم سره به دشرعی پردی دحکم تعمیل هم وسی اوپه ډیره اسانی سره به دشریرو لوفرانو خلګو څخه حفاظت هم، پاته سوی مینځی نو د

Maktaba Tul Ishaat.com

دوی دحفاظت انتظام به په مخکی آیت کی راسی) او (په دی مخ اوسر پتولوکی که څه بی احتیاطی یاکمی بلاقصده وسی نو) الله ﷻ بخښنی والا مهربانه دی (دغه به معاف کړی، مخ ته هغو خلګوته خبرداری دی کومو چی به مینځی پلتلی اوهغوخلګوته هم کوموچی به یوبل شرارت کوی چی دمسلمانانو خلاف به یی غلطی افواه ګانی خپرولی او د دوی پریشانه کول یی غوښتل فرمایی) دا (خاص اصل) منافقین او (دعامو منافقانو څخه) هغه خلګ دی دکومو پرزړونو چی (دشهوت پرستی) خرابی ده (چی په دی وجه مینځی پلتی اوپریشانه کوی یی) او (په دی منافقانوکی) هغه خلګ کوم چی په مدینه کی (غلطی اوپریشانه کوونکی) افواه ګانی خپروی (داخلګ) که (دخپلو دی حرکتونو څخه) واپس نه سول نو خامخابه (یوه نه یوه ورځ) مونږ تا پردوی مسلط کو (یعنی دمدینی څخه به د دوی دایستلو حکم وکی) بیا (ددی حکم څخه وروسته) به داخلګ ستا سره په مدینه کی ډیرکم پاته سی، هغه هم (دهر طرف څخه) لعنتی سوی (یعنی دمدینی څخه دوتلو دتیاری دپاره چی څه لږموده دوی ته مقرره سی په دغه موده کی خوبه دوی دلته اوسیږی اوپه دغه موده کی به هم دهرطرف څخه ذلیل اوخواروی بیابه وایستل سی او دایستلو څخه وروسته به هم هیڅکله په امن نه وی بلکه) کوم ځای چی پیداکیږی نیول کیږی به او وژل کیږی به (په دی وجه چی ددی منافقانو دکفر مقتضٰی خو دا وه ، لیکن دنفاق په پرده کی دوی ته پناه حاصله سوې ده کله چی په ډاګه داسی مخالفتونه شروع کړی نو هغه مانع پورته سو په دی وجه به د دوی سره هم دکفر داصلی اقتضا موافق معامله وی چی د دوی ایستل اوقیدول اوقتلول ټول جائز دی اوکه دایستلو دپاره څه موده معینه سی نو په دغه موده کی دننه به دمعاهدی په وجه په امن وی ، ددی څخه وروسته کوم ځای چی پیداکیږی نو دعهد ختمیدو په بنا به د دوی دقتل اوقید اجازت وی ، منافقانو ته چی دا اخطار ورکول سو نو په دی کی دمینځو دحفاظت هم انتظام وسو او دنورو غلطو شرارتونو اوافواه ګانو دخپرولو هم مخ ونیول سو، مطلب دآیت دا سو چی که دا خلګ په ډاګه داحکامو دمخالفت او دمسلمانانو خلاف دحرکتونو څخه منع سی ، که څه هم پټ په پټه په خپل منافقانه چلونوکی اخته وی ، نو دا سزا به جاری نه سی ، کنه نو بیا به دعامو کفارو په حکم کی دا خل سی دسزا لائق به سی اوپه فساد اوشور باندی جاری کول څه د دوی سره مخصوص نه دی بلکه) الله ﷻ په هغو (مفسدانو) خلګوکی هم خپل دادستور (جاری) ګرځولی دی کوم چی (د دوی څخه) مخ ته تیر سوی دی (چی هغوی ته یی اسمانی سزاګانی ورکړی یایی دانبیاؤ په لاس دجهادپه ذریعه سزاګانی ورکړی دی نوکه مخکی داسی نه وای سوی نو په دی سزاکی څه استبعاد کیدی سوای ، اواوس خو ددی هیڅ ګنجائش نسته) اوته به دالله ﷻ په دستورکی (دهیچادطرف څخه) څه رد اوبدل نه کی پیدا(چی ګوندی الله ﷻ څه حکم جاری کول وغواړی اوڅوك هغه منع کی ، په لفظ دسنة الله کی خویی ددی اظهار وکی چی دالله ﷻ دمشیت اوارادی څخه مخکی هیڅوك څه کارنه سی کولی اوپه، لَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللهِ تَبْدِيلاً، کی یی داوښوولې چی کله الله ﷻ دیوشی اراده وکړی نوڅوك هغه منع کولی نه سی)

معلومات اومسئلي: په تیرو ایتونوکی یی عامو مسلمانانو سړو او ښځو ته ازار رسول ګناه کبیره اوحرام اوخصوصًا سیدالمؤمنین ﷺ ته ازار رسول کفر اودلعنت موجب والی بیان فرمایلی وو، دمنافقانو

Maktaba Tul Ishaat.com

دطرف څخه دوه قسمه ازارونه ټولو مسلمانانو اونبی کریم ﷺ ته رسیدل ، په ذکر سوو ایتونو کی یی ددی ازارونو دبندیدو انتظام کړی دی اوددی په ضمن کی دښځو دپردی دځه نورو احکامو بیان په یوه مناسبت سره راغلی دی ، کوم چی به مخ ته معلوم سی، په دی دواړو ازارونو کی یو دا وو چی عام منافقان اوبی لاری خلک مسلمانانی مینځی چی کله دوی دځه کار دپاره دباندی ووزی پلټی، اوکله به یی دمینځو په شك کی ازادی ښځی ازارولی چی ددی په وجه به عامو مسلمانانوته اونبی کریم ﷺ ته ازار رسیدی.

دوهم ازار دا وو چی دی خلکو به همیشه داسی دروغ خبرونه خپرول چی اوس فلانی دښمن پرمدینه حمله کوونکی دی ، هغه به هرځه ختم کړی ، په ذکر سوو ایتونو کی داول ازار څخه دازادو بیبیانو دمحفوظ کولو فوری اواسان انتظام دا کیدی سوای چی دوی لره دی خلکو ددوی دخاندانی وجاهت اوحمایت په وجه قصداً دپلټلو جرأت نه سوای کولی ، کله کله به دمینځو په شك کی دوی هم ددی جنجال په منګلوکی راتلی، که دوی یی پیژندلی نو دا خبره به نه پیښیدی ، په دی وجه ضرورت پیښ سو چی دآزادو ښځو څه خاص امتیاز وسی چی په آسانی سره په خپله دوی ددغو شریرانو دشر څخه په فوری طور محفوظی سی او دمینځو بل انتظام وسی .

بل طرف ته اسلامی شریعت دآزادو او مینځو په شرعی پرده کی یه ضرورت سره یو فرق هم اینبی دی ، چی دمینځو شرعی پرده هغه ده کومه چی دآزادو ښځو دخپلو محرمانو په وړاندی ده چی مثلاً مخ وغیره ښکاره کول کوم چی دآزادو ښځو دپاره دخپلو محرمانو په وړاندی جآئز دی، دمینځو دپاره دباندی هم ددې اجازت څکه ورکړل سوي دی چی د دوی کار دخپلو مالکانو او د دوی کورونو خدمت دی چی ددې دپاره دوی دباندی هم بار بار وزی او مخ او لاسونه پټ ساتل ورته مشکل وی په خلاف دآزادو څخه چی که دوی دځه ضرورت دپاره دباندی هم ووزی نوکله کله چی په دی کی دپوره پردې رعایت مشکل نه دی په دی وجه آزادو ته دا حکم ورکړل سو چی دوی دباندی وزی ، نو اوږد پرونی دی پرسر اچوی اومخ اوسر دی په کی پټوی چی پردی سړی یې مخ نه وینی، په دې سره د دوی پرده هم مکمله سوه او دمینځو څخه یی خاص امتیاز هم وسو ، اوچی ددی په سبب دوی دشریرو خلکو دجنجال څخه په خپله مامون سی او دمینځو دحفاظت انتظام یی دی منافقانو ته دسزا دوعید په اورولو سره وکی چی که په دی سره منع نه سول نو الله ﷻ به دوی ته په دنیا کی هم دخپل نبی او مسلمانانو په لاس سزا ورکړی .

په ذکر سوي آیت کی دآزادو ښځو دپردی دپاره دا حکم سوي دی چی ، يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ، په دی کی يُدْنِينَ د: ادناءٌ څخه مشتق دی چی لفظی معنی یی نژدی کول دی او دلفظ د: عَلَيْهِنَّ معنی پرخپل ځان سربیره ، او، جَلَابِيبِ جمع دجِلْبَاب دی چی یوه خاص اوږد پرونی ته ویل کیږی ، ددی پرونی دهیئت متعلق حضرت ابن مسعود ﷺ فرمایی چی دا هغه پرونی دی کوم چی په لوپټی سربیره پرسر کیږی (ابن کثیر) او حضرت ابن عباس ﷺ ددی هیئت دا بیان کړي دی.

أَمَرَ اللَّهُ نِسَاءَ الْمُؤْمِنِينَ إِذَا خَرَجْنَ مِنْ بُيُوتِهِنَّ فِي حَاجَةٍ أَنْ يُغَطِّينَ وُجُوهَهُنَّ مِنْ فَوْقِ رُءُوسِهِنَّ بِالْجَلَابِيبِ، وَيُبْدِينَ عَيْنًا وَاحِدَةً. (ابن کثیر)

الله تعالی مسلمانانو ښځوته حکم وکی چی کله دوی په یوضرورت سره، دخپلو کورنو څخه وزی نوپه خپلو سرونو سربیره دی داخادراچوی مخونه دی پټوی اوصرف یوه سترګه دی (دلاری دلیدو دپاره) ښکاره کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

او امام محمّد بن سیرین رحمه الله فرمایی چی مادحضرت عبیده سلمانی رحمه الله څخه ددی آیت دمطلب او دجلباب دکیفیت پوښتنه وکړه نو هغوی پر سر سربیره څادر پر مخ راوخړوی ، مخ یی پټ کی او یوازی رسته سترګه یی ښکاره پاته کړه دادنا ، او جَلَابِیب تفسیر یی عملاً بیان کی .

پرسر سربیره په مخ څادر خړول کوم چی دحضرت ابن عباس رضی الله عنه اودابو عبیده سلمانی رحمه الله په بیان کی راغلی دی ، دا دلفظ (عَلَیْهِنَّ) تفسیر دی چی خپل ځان ته دڅادر نژدی کولو مطلب څادر پرسر سربیره په مخ راخړول دی .

په دی آیت کی په وضاحت سره دمخ پټولو حکم ورکړل سوي دی چی په دی سره ددی مضمون مکمل تائید وسو کوم چی لور دحجاب تراولنی آیت لاندی مفصّل بیان سوي دی ، چی مخ او ورغوی که څه هم چی فی نفسه په سترکی دا خل نه دی ، مگر په وجه دبیری دفتنی ددی پټول هم ضروری دی ، یوازی دمجبوری صورتونه مستثنی دی .

ضروری خبرداری: په دی آیت کی یی آزادو ښځو ته دیوخاص قسم په دی هدایت فرمایلی دی چی څادر پر سر سربیره را وخړوی اومخ پټ کړی چی دعامومینځوڅخه د دوی امتیاز وسی او دوی دشریرو خلګو دفتنی څخه محفوظی سی ، په ذکر سوی بیان کی دا خبره واضحه سوي ده چی ددی دا مطلب هیڅکله نه دی چی اسلام دعصمت اوعفّت په حفاظت کی دآزادو او مینځوپه مینځ کی څه فرق وکی ، چی دآزادو حفاظت یی وکی اومینځی یی پربښوولی ، بلکه په حقیقت کی دا فرق دلوفرانو اوشریرو خلګو څخه خو په خپله سوی وو ، چی آزادو ته به یی دلاس ورورلو جُرأت نه سوای کولی ، مگر مینځی به یی زهیرولی ، شریعت اسلام د دوی داختیار کړی دی فرق څخه دا فائده واخیسته چی دښځو اکثریت په خپله د دوی دمسلمه عمل په ذریعه خود بخوده محفوظی سی ، باقی پاته سوه دمینځو معامله ، نو دهغوی دعصمت حفاظت هم په اسلام کی داسی فرض او ضروری دی ، لکه څنګه چی دآزادو دی ، مگر د دوی دپاره دقانونی سختی اختیارولو بغیر چاره نه وه ، نو په راتلونکی آیت کی یی ددی قانون وښووی چی کوم خلګ دخپل دی حرکت څخه منع نه سی نو دوی به په هیڅ ډول معاف نه کړل سی بلکه کوم څای چی لیدل کیږی نو نیول کیږی به او قتلیږی به ، ده دمینځو عصمت هم دآزادو په شان محفوظ کړی .

ددي څخه واضحه سوه چی علاّمه ابن حزم اونورو چی کوم دمذکوره شبهی څخه دساتنی دپاره دآیت تفسیر دجمهورو عالمانو څخه دمختلف کولو تاویل کړي دی ، ددي هیڅ ضرورت نسته ، شبهه خو به هلته وای چی دمینځو دحفاظت انتظام نه وای کړل سوی .

(کوم سړی چي دمسلمانیدوڅخه وروسته مرتد سو دده سزا قتل دی)

په ذکر سوی آیت کی دمنافقانو د دوو شرارتونو ذکر یی وکی ددی څخه دنه منع کیدو په صورت کی چی دکومی سزا ذکر سوي دی چی ، مَلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلًا یعنی داخلق چی کوم څای وی دلعنت سره به وی اوکوم څای چی لیدل کیږی گرفتاریږی به او قتلیږی ، دا سزا دعامو کفارو نه ده ، بی شمیره نصوص دقرآن او حدیث په دی باندی شاهد دی چی دعامو کفارو دپاره په اسلامی شریعت کی دا قانون نه دی ، بلکه قانون دا دی چی اول به دوی ته دعوت ورکړل سی داسلام او د دوی دشبهاتو دلیری

Maktaba Tul Ishaat.com

کولو کوشش به وکړل سی ، په دی هم که دوی اسلام را نه وړی ، نو دمسلمانانو دتابع اوسیدو ذمیانو کیدو حکم به ورته ورکړل سی که هغوی دا قبوله کړه نو دهغوی دځان او مال او آبرو حفاظت به په مسلمانانو باندی دمسلمانانو په شان فرض سی ، البته کوم چی دا هم قبوله نه کړی او جنګ ته تیار سی نو دهغوی په مقابله کی بیا دجنګ کولو حکم دی .

په دی آیت کی دی خلګو ته مطلقًا دقید اوقتل سزا اورول سوې ده ددی وجه دا ده چی دا معامله دمنافقانو وه کومو چی به خپل ځان ته مسلمانان ویل اوهرکله چی یوځوک مسلمان داسلام داحکامو ښکاره مخالفت اوانکار شروع کړی نوهغه ته په اصطلاح دشرع کی مرتد ویل کیږی، ددې سره په اسلامی شریعت کی هیڅ مصالحت نسته ، بغیر ددی ځخه چی دی توبه وکاږی بیا مسلمان سی او داسلام احکام عملاً اوقولاً تسلیم کړی اوکه داسی ونه کړی نو بیابه دی قتل کیږی ، لکه چی دنبی کریم ﷺ دواضحو ارشاداتو او دصحابه کرامو رضی الله عنهم په اجماعی عمل سره ثابته ده ، دمسیلمه کذّاب او ددې دجماعت په خلاف په اجماع دصحابه وو جنګ او جهاد او دمسیلمه قتلول ددی کافی شهادت دی او دآیت په آخر کی یی دا دالله ﷻ پخوانی سنّت او دستور ګرځولی دی ، ددی ځخه معلومه سوه چی دتیرو انبیاء علیهم السلام په شریعتونو کی هم دمرتد سزا قتل وو .

په ذکر سوی لنډ تفسیر کی دا سزا ګانی دعامو کفارو په ضابطه کی دراوستلو دپاره چی کومه توجیه کړل سوې ده ، په دی تقریر سره دهغه ضرورت نه پاته کیږی .

یو څو مسئلې: ددی آیت ځخه دا ثابته سوه چی .

(۱) ښځو ته چی هرکله دیو ضرورت دپاره دکورونو ځخه وتل وی نو په غټ څادر کی دی ټول بدن پټوی او ځی دی ، او دغه څادر دی په سر سربیره را ځړوی ، مخ دی هم په کی پټوی ، دا رواجی بُرقع (چادری) هم ددی قائمقام ده .

(۲) په مسلمانانو کی داسی افواه ګانی خپرول حرام دی په کومو سره چی دوی ته تشویش او پریشانی راځی او نقصان ورته رسیږی .

يَسْـَٔلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ

پوښتنه کوی خلق ستا ځخه دقیامت ، ته ووایه ددی خبر دالله ﷻ سره دی ،

اللَّهِ ۚ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا ﴿٦٣﴾ إِنَّ اللَّهَ

اوته څه پوه یی شاید هغه وخت نژدی سوی وی ، بیشکه الله ﷻ

لَعَنَ الْكَافِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِيرًا ﴿٦٤﴾ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۚ لَا

لعنت کړی دی پر کافرانو او تیار کړی یی دی د دوی دپاره بل اور ، اوسیږی به په دی کی همیشه بیا به

Maktaba Tul Ishaat.com

يَجِدُونَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيرًا ﴿٦٥﴾ يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي

پیدا نه کی بل څوك حمایتی او نه مدد گار ، په کومه ورځ چی نسکور وغورځول سی مخان

النَّارِ يَقُولُونَ يَا لَيْتَنَا أَطَعْنَا اللَّهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا ﴿٦٦﴾ وَقَالُوا

د دوی په اور کی وایی به چی ای کاشکی ! مونږ خبره منلی وای دالله او خبره مومنلی وای درسول ، او وایی به

رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلَا ﴿٦٧﴾ رَبَّنَا

ای ربه ! مونږ خبره ومنله دخپلو سردارانو او دخپلو مشرانو بیا دوی مونږ گمراه کړو ، ای ربه !

آتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا ﴿٦٨﴾

دوی ته ور کړی دوچنده عذاب او لعنت وکی په دوی باندی لوی لعنت

لنډتفسیر: دا (منکران) خلګ ستا څخه دقیامت په اړوند (منکرانه) پوښتنی کوی (چی کله به وی) ته (ددوی په جواب کی) وفرمایه چی ددغه (وخت) خبر بس دالله ﷻ سره دی اوته څه خبر یی (چی کله دی البته اجمالاً دی خلګو ته پوهیدل په کار دی چی) عجیبه نه ده چی قیامت اوس واقع سی (ځکه چی هرکله څه وخت معیّن نه وی نو په نژدی زمانه کی ددی دواقع کیدو احتمال هم دذهنه څخه نه سی غورځول کیدی چی مقتضا یی دا ده چی دا خلق دانجام څخه بیریدلی اوتیاری یی ورته کولی او دمنکرانه سوالونو اومسخرو څخه یی ځان ساتلی ، او دقیامت دنژدی فرمایلو وجه دا هم کیدی سی چی قیامت هره ورځ را نژدی کیږی اوکوم شی چی مخ ته راروان وی هغه نژدی ګڼل دا نشمندی ده او په دی لحاظ سره هم قیامت ته نژدی ویل کیږی چی دقیامت هیبتناك واقعت او دسختی ترمخه ددنیا دا ټول عمر هم لږ په نظر راځی او دزرګونو کلونو دا موده دیو څو ورځو برابر محسوسیږی) بیشکه الله تعالی کافران درحمت څخه لیری ساتلی دی او د دوی دپاره یی سوځوونکی اور تیار کړی دی ، په کوم کی چی به دوی همیشه همیشه اوسیږی (او) نه به یو څوك یار پیدا کی اونه څوك مددګار په کومه ورځ چی به د دوی مخان په دوزخ کی اړول را اړول کیږی (یعنی پرمخی به راکش کړل سی ، کله دمخ په یوه طرف باندی اوکله په بل طرف باندی او دغه وخت به ډډیر حسرت څخه) داسی وایی چی ای کاشکی! مونږ (په دنیا کی) دالله ﷻ اطاعت کړی وای او مونږ درسول اطاعت کړی وی (نو نن به په دی مصیبت کی مبتلا سوی نه وای) او (دحسرت سره به ورته په خپل گمراه کوونکی باندی غصه او درد ورسی نو) داسی به وایی چی ای زمونږ ربه ! مونږ دخپلو سردارانو (یعنی دحکومت دخاوندانو) او دخپلو مشرانو (په کومو کی چی په یوه بله وجه سره دا صفت پیدا کیږی چی دهغوی خبره منل او تابعداری یی کول زمونږ په ذمه ضروری وو) خبره منلی وه نو هغوی مونږ د (سیده) لاری څخه گمراه کړی وو ای زمونږ ربّه ! دوی ته دوچنده سزا

ورکړی اوپه دوی ډیر لوی لعنت وکی (دا داسی مضمون دی ، لکه دسورۂ اعراف په څلورمه رکوع کی چی مخکی تیر سوي دی ، رَبَّنَا هٰؤُلَاءِ اَضَلُّونَا فَاٰتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِنَ النَّارِ : چی جواب یی په دغه آیت کی دا بیان سوي دی ، لِكُلٍّ ضِعْفٌ .

معلومات او مسئلې: په تیرو آیتونو کی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ مخالفت کوونکو ته په دنیااوپه آخرت کی دلعنت اوعذاب وعید اورول سوی وو او دکفارو ډیری فرقی په خپله دقیامت او آخرت څخه منکری وی او دانکار په وجه به یی په طور دمسخرو پوښتنی کولی چی هغه قیامت به کله راځی او دسورۂ په آخر کی یی د دوی جواب په ذکر سوو آیتونو کی ورکړی دی ، چی تفسیر یی لوړ راغلی دی .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى فَبَرَّاَهُ اللّٰهُ مِمَّا

ای ایماندارو ! تاسی مه کیږي دهغو په شان کومو چی ازار کی موسی ﷺ بیابی عیبه ښکاره کی دی الله ﷻ

قَالُوْا ؕ وَكَانَ عِنْدَ اللّٰهِ وَجِيْهًا ۝۶۹ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا

دهغوی دوینا څخه او وو دالله په نزد آبرو والا ، ای ایماندارو ! وبیریږي

اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ۝۷۰ يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ

دالله ﷻ څخه او وایاست خبره برابره ، چی برابر کړی تاسی دپاره ستاسی کارونه اوبخښی تاسی ته

ذُنُوْبَكُمْ ؕ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ۝۷۱

ستاسی ګناهونه اوځوك چی حکم ومنی دالله اودهغه درسول ﷺ نوده پیداکی لوی مراد .

لنډتفسیر: ای مؤمنانو ! تاسی دهغه خلګو په شان مه کیږی کومو چی (یوتهمت جوړ کی) موسی ﷺ ته یی آزار رسولی وو نو هغه ﷺ الله ﷻ بری ثابت کی دهغه شی څخه کوم چی هغوی وایه (یعنی هغه ﷺ ته خو هیڅ نقصان ونه رسیدی ، تهمت لګوونکی درواغ جن اومستحق دسزا سول) او هغه ﷺ (یعنی موسی ﷺ دالله ﷻ په نزد لوی معزز (پیغمبر) وو (په دی وجه الله ﷻ دهغوی برآئت ظاهر وفرمایی ، لکه چی دنورو پیغمبرانو ﷺ دپاره دداسی تهمتونو څخه براءت عام دی ، مطلب دا دی چی تاسی درسول ﷺ په مخالفت کولو سره ده ته آزار مه رسوی ځکه چی د دوی مخالفت دالله ﷻ مخالفت دی ، کنه نو ددی په نتیجه کی به تاسی په خپله خپل نقصان وکړی ، په دی وجه په هرکار کی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ اطاعت کوی داکوم چی مخ ته راځی چی) ای مؤمنانو ! دالله ﷻ څخه وبیریږی (یعنی په هرکارکی دهغه اطاعت کوی) او (خاص په خبرو کولوکی ددی ډیر رعایت ساتی چی کله خبره کوی) رښتینی خبره کوی (په کومه کی چی دعدل او داعتدال تجاوز نه وی) الله ﷻ به (ددی په بدله کی) ستاسی عملونه قبول کړی او ستاسی ګناهونه به معاف کړی (خینی ددی عملونو په برکت سره خینی دتوبی په برکت سره کومه چی

Maktaba Tul Ishaat.com

په تقوی او قول سدید کی دا خله ده) او (دا ثمرات داطاعت دی او اطاعت داسی شی دی چی) کوم سړی چی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ اطاعت وکړی هغه به لوی کامیابی ته ورسیږی.

معلومات اومسئلي: ددی څخه په مخکی ایتونو کی یی دالله او رسول ﷺ هلاکوونکی او ډیر خطر ناك کارونه کیدل بیان کړی وه ، په دی آیت کی په خاص طور سره مسلمانانو ته دالله ﷻ او درسول ﷺ دمخالفت څخه دمحفوظ کیدو هدایت دی ، څکه چی دا مخالفت د دوی دازار سبب دی.

په اولنی آیت کی یی دحضرت موسیٰ ﷺ واقعه په کومه کی چی ددې قوم ده ته آزار رسولی وو ذکر کړي ده اومسلمانان یی خبردارکړی دی چی تاسی داسی مه کوی، په دی وجه داضروری نه ده چی دمسلمانانو څخه دی څه داسی کارسوی وی ، بلکه دحفظ ما تقدم په طور دوی ته دا قصه واورول سوه ، هدایت ورته وسو، او په یوه روایت کی چی کومه قصه دځینو اصحابو ﷺ نقل ده ، په دی وجه ددی محمل هم دا دی چی دغه وخت د دوی دی طرف ته فکر نه وو تللی چی دا کلمه دنبی کریم ﷺ دازار سبب ده ، قصداً دازار رسولو خو دیوه صحابی څخه امکان نسته ، څومره قصی چی قصداً دازار رسولو دی هغه تولی دمنافقانو دی اودحضرت موسیٰ ﷺ قصه په خپله نبی کریم ﷺ بیان کړي ده ، ددی آیت تفسیر یی کړی دی کومه چی امام بخاری په کتاب التفسیر اوکتاب الانبیاء کی دحضرت ابو هریرة ﷺ څخه روایت کړي ده چی حضرت موسیٰ ﷺ ډیر حیا کوونکی اوخپل بدن پټوونکی وو، د دوی بدن به هیڅانه سوای لیدی ، کله چی به یی غسل کوی نو په پرده کی به یی دننه غسل کوی ، د دوی په قوم بنی اسرائیل کی په عام طور سره دا رواج وو چی سړی به دخلګو مخ ته ځان لغړوی اولمبل به یی ، نو ځینی بنی اسرائیلو به ویل چی دحضرت موسیٰ ﷺ دچا په مخکی دنه لمبلو سبب دا دی چی دده په بدن کی څه عیب دی یا خو دبرګی مرض دی ورباندی یایی خصیتین ډیرغټ دی یا یوبل افت دی، الله ﷻ اراده وفرمایله چی دحضرت موسیٰ ﷺ دداقسم عیبونو څخه براءت ظاهر وفرمایی ، یوه ورځ حضرت موسیٰ ﷺ په خلوت کی دغسل کولو دپاره خپلی جامی ویستلی اوپه یوه ډبره یی کښیښودلی ، کله چی دغسل کولو څخه فارغه سو اوخپلی جامی یی را اخیستی نو دا ډبره (دخدای په حکم په حرکت کی راله) اوجامی یی واخیستی وتښتیده حضرت موسیٰ ﷺ خپله همسا راواخیسته ، په ډبری پسی روان سو، ویل ثَوْبِیْ حَجَرُ ثَوْبِیْ حَجَرُ، یعنی ای ډبری زما جامی، ای ډبری زما جامی، مګر ډبره روانه وه تردی چی دا ډبره ولاړه او داسی ځای ودریده کوم ځای چی دبنی اسرائیلو یوه مجمع وه ، دغه وخت بنی اسرائیلو موسیٰ ﷺ ته دسر څخه ترپښو پوری لغړ وکتل ، نو بدن یی روغ صحیح سالم ولیدی (چی دکوم عیب به ورته دوی نسبت کوی ، هغه په کی نه وو) دغه شان الله ﷻ دحضرت موسیٰ ﷺ براءت ددغو عیبونوڅخه دتولو په مخکی ظاهر وفرمایی ، ډبره چی هلته ورسیده ودریده نوخپلی جامی یی ورڅخه را واخیستی او وایی غوستلی ، بیاحضرت موسیٰ ﷺ په همسا باندی ددبری وهل شروع کړل ، په خدای قسم دی ، په دغه ډبری کی دموسیٰ ﷺ په وهلو سره دری یاپنځه ټنبانی وسوی.

ددی واقعی دبیانولو څخه وروسته نبی کریم ﷺ وفرمایل چی دقرآن ددی آیت دا مطلب دی یعنی دذکر سوی آیت ، کَالَّذِیْنَ اٰذَوْا مُوْسٰی په ذکر سوی آیت کی چی دحضرت موسیٰ ﷺ دکوم ازار ذکر دی ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

تفسیر په خپله دنبی کریم ﷺ څخه په دی قصه کی ذکر دی دځینو صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه دحضرت موسیٰ علیه السلام دازار یوه قصه بله هم مشهوره ده ، هغه هم ددی سره ضرور یو ځای کیږی ، مګر تفسیر دایت دارا جح دی کوم چی په مرفوع حدیث کی منقول دی .

وَكَانَ عِنْدَ اللهِ وَجِيهًا : یعنی وو حضرت موسیٰ علیه السلام دالله ﷻ په نزد دوجاهت (مخوری) خاوند دالله ﷻ په نزد دیوچا دوجاهت اوجاه مطلب دا دی چی الله ﷻ دده دعا قبوله کړی ، دده خواهش ردنه کړی ، چنانچی دحضرت موسیٰ علیه السلام مستجاب الدعوات کیدل دقرآن دهغه ډیرو واقعاتوڅخه ثابت دی ، په کومو کی چی دوی دڅه شی دعا غوښتی ده اوالله ﷻ دغه شان قبوله فرمایلی ده ، په دی کی دټولو څخه زیاته عجیبه دا ده چی دحضرت هارون علیه السلام دپیغمبر کیدو دعایی وکړه اوالله ﷻ قبوله کړه ، دی یی دحضرت موسیٰ علیه السلام سره په رسالت کی شریك جوړکی ، حال دا دی چی دنبوت منصب چاته دچاپه سفارش سره نه حاصلیږی (ابن کثیر)

(دالله ﷻ عادت دا دی چي انبياء دداسي جسماني عيبونو څخه هم بری ساتي کوم چي دنفرت موجب وی)

په دی واقعه کی دقوم په عیب لګولو باندی ددی څخه دبراءت الله ﷻ دومره اهتمام وفرمایی چی په طور دمعجزی ډبری جامی واخیستی وتښتیده اوحضرت موسیٰ علیه السلام اضطراراً دخلګو په مخکی لغړ رالی ، دا اهتمام ددی نشاندهی کوی چی حق تعالیٰ دخپلو انبیاوو علیهم السلام بدنونه هم دنفرت قابل اوسپکاوی دعیبونو څخه عموماً پاك او بری ساتی لکه چی دبخاری دحدیث څخه دا خبره ثابته ده چی انبیاء علیهم السلام ټول په لویو نسبونو کی پیدا کیږی ځکه چی عرفاً کم نسب اوخاندان خلګ سپك ګڼی دهغه خبری اوریدلو اومنلو ته تیاریدل مشکل وی ، دغه شان دانبیاوو علیهم السلام په تاریخ کی دیو پیغمبر رونډ والی ، کونوالی یاپه لاسو پښو معذوروالی ثابت نه دی او دحضرت ایوب علیه السلام دواقعی څخه پردی اعتراض نه سی کیدی ځکه چی هغه دخدای په حکمت سره دیوخاص ازمائش اوامتحان دپاره دیوځو ورځی تکلیف وو بیا ختم سو ، والله تعالیٰ اعلم

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ دقول سديد .

تفسیر ځینو په صدق سره کړي دی ، ځینو په مستقیم اوځینو په صواب وغیره سره کړي دی ابن کثیر دا ټول نقل کوی فرمایی چی ټول حق دی ، مطلب دا سو چی قرآن کریم دلته دصادق یامستقیم وغیره الفاظ پرې نبوول اودسدید لفظ یی اختیار کی ، ځکه چی لفظ دسدید دی ټولو ته جامع دی ، په دی وجه کاشفی په روح البیان کی فرمایی چی دسدید قول هغه قول دی کوم چی ربښتنی وی د درواغو په دی کی شائبه نه وی ، صواب وی چی په دی کی دخطا شائبه نه وی ، ټیك خبره وی ، مذاق اودخندا نه وی ، نرمه خبره وی ، دلخراشه نه وی .

(دژبي اصلاح دباقي ټولو اندامونو او عملونو په اصلاح کي اثر کوونکي ذريعه ده)

په دی آیت کی اصل حکم ټولو مسلمانانو ته داورکول سوی دی ، چی، اتَّقُوا اللهَ، یعنی تقویٰ اختیار کړی چی حقیقت یی هم دالله ﷻ دټولو احکامو مکمل اطاعت دی ، چی په ټولو اوامرو باندی عمل وکی او دټولو منهیاتو او مکروهاتو څخه ځان وساتی اوظاهره ده چی دا کار دانسان دپاره اسان نه دی ، په

Maktaba Tul Ishaat.com

دی وجه دَ اِتَّقُوا اللّٰه، څخه وروسته دیوخاص عمل هدایت دی ، یعنی دخپلی خبری درستی اواصلاح دا هم که څه هم دتقوٰی یو جز دی ، مګر داسی جزء دی چی پرده واك پیدا سی نو په خپله بیا باقی اجزاء حاصلیږی ، لکه چی په خپله په ذکر سوی آیت کی دقول سدید داختیارولو په نتیجه کی دَ، یُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وعده ده ، یعنی که تاسی خپله ژبه دغلطی څخه منع کړه او ددرست کلام او صحیح خبری عادت سواست ، نو الله به ستاسی دټولو عملونو اصلاح وفرمایی اوټول به درست کړی او دایت په اخر کی یی دا وعده وفرمایله چی ، یَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ یعنی کوم سړی چی په خپله ژبه باندی واك پیدا کی او درښتیا وینا اوبرابری خبری عادی جوړ سو الله ﷻ به یی دباقی عملونو هم اصلاح وفرمایی اوکومی خطاګانی چی دده څخه سوی دی ، هغه به معاف کړی .

(دقرآن په احکامو کې داسانې خاص اهتمام)

دقرآن کریم په عام اسلوب باندی دفکر کولو څخه معلومیږی چی کوم ځای څه حکم داسی ورکول سی چی په عمل کی یی څه مشقت او ګرانی وی نو ددی سره یی دهغه داسانولو طریقه هم ښوولی ده اوچونکه دټول دین خلاصه تقوٰی ده او په دی پوره کیدل لوی مشقت غواړی ، په دی وجه په عام طورسره چی کوم ځای دَ، اِتَّقُوا اللّٰه، حکم ورکول سوي دی ، ددی څخه وروسته یی څه عمل داسی ښوولی دی چی دهغه په اختیارولو سره دتقوٰی په باقی ارکانو باندي عمل دالله ﷻ دطرف څخه اسانیږی ، ددی یومثال په دی آیت کی د ، اِتَّقُوا اللّٰه، څخه وروسته دَ، قُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا تلقین دی او ددی څخه په مخکی آیت کی دَ، اِتَّقُوا اللّٰه، راوړلو څخه مخکی، وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ آذَوْا مُوسٰى، وفرمایل اودی طرف ته یی ښوونه وکړه چی دتقوٰی په لاره کی دټولو څخه لوی بندیز دالله ﷻ نیکو اومقبولو بندګانو ته ازار رسول دی ، دا پریږدی نو تقوٰی به اسانه سی .

په یوایت کی ارشاد فرمایی، اِتَّقُوا اللّٰهَ وَكُونُوا مَعَ الصّٰدِقِينَ : په دی کی دتقوٰی داسانولو دپاره دداسی خلګو سره صحبت اوناسته ولاړه تلقین فرمایی کوم چی په خبره کی هم رښتنی وی او په عمل کی هم رښتنی وی چی مطلب یی ولی الله کیدل دی او په بل آیت کی دَ، اِتَّقُوا اللّٰه، سره وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ لِغَدٍ زیات کی ، ددی معنٰی دا ده چی هر انسان ته ددی فکرکول په کار دی چی ده دصبا یعنی قیامت دورځی دپاره کوم سامان لیږلی دی چی ددی خلاصه داخرت فکر دی او دا فکر دتقوٰی دټولو ارکانو اسانه کوونکی شی دی .

(دژبې اوخبرې صحیح والي ددین او دنیا دواړو دکارونو دپاره صحیح کوونکي شي دی)

حضرت شاه عبدالقادر صاحب چی کومه ترجمه ددی آیت کړي ده ، دهغه څخه دا معلومیږی چی په دی آیت کی چی کوم دسمی خبری په عادی کیدوباندی دعملونو داصلاح وعده ده ، دغه صرف دینی عملونه نه دی ، بلکه ددنیا ټول کارونه هم په دی کی داخل دی ، کوم سړی چی دسمی خبری عادت سی ، یعنی درواغ نه وایی ، په سوچ اوفکر سره خبره کوی کومه چی دخطا اولغزش څخه پاکه وی ، چاته فریب نه ورکوی ، دخطا خبره نه کوی ، دده داخرت عملونه به هم ښه سی او ددنیا کارونه به یی هم جوړسی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت شاه صاحب ترجمه دا ده چی ، کوی خبره سمه چی ښائسته کړی تاسی ته ستاسی کارونه .

إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ

مونږ وړاندی کړل امانت اسمانونو اومځکو ته اوغرونو ته بیا چی

أَنْ يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنْسَانُ ۖ إِنَّهُ كَانَ

قبول نه کړل چی پورته یی کړی او ددی څخه وبیریدل او پورته کړل دا انسان ، دی دی

ظَلُومًا جَهُولًا ﴿٧٢﴾ لِيُعَذِّبَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِينَ وَالْمُنٰفِقٰتِ

ډیر نا ترسه ناپوه ، چی په عذاب کړی الله ﷻ منافقانو سړو اوښځو ،

وَالْمُشْرِكِينَ وَالْمُشْرِكٰتِ وَيَتُوبَ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنٰتِ

او شرک کوونکو سړو اوښځو ، اومعاف کړی الله ﷻ ایماندار سړی اوښځی

وَكَانَ اللّٰهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٧٣﴾

او دی الله ﷻ بخښنی والا مهربان

لنډتفسیر: مونږ دا امانت (یعنی احکام کوم چی په منزله دامانت دی) آسمانونو اومځکی اوغرونو ته مخکی کړل (یعنی په دوی کی مو شعور پیدا کی کوم چی اوس هم په کی سته دوی ته مو روبرو خپل احکام او په صورت دمنلو په دوی انعام اواکرام او په صورت دنه منلو په دوی عذاب او تکلیفونه پیش کړل ، دوی ته مو داخیستو او نه اخیستو اختیار ورکی او مطلب ددی پیش کولو دا وو چی که تاسی دا احکام په خپل خان اخلی نو ددی موافق دعمل کولو په صورت کی به تاسی ته ثواب حاصل سی او دخلاف کولو په صورت کی به عذاب وی او که یی نه اخلی نو مکلف کیدی نه سی او دثواب اوعذاب به هم مستحق نه سی تاسی ته دواړه اختیاره دی چی ددی په نه اخیستو به نافرمانه کیدی نه سی څومره چی دوی ته شعور وو دغه اجمالاً په دومره قدر مضمون دپوهیدو دپاره کافی وو ، چونکی دوی ته اختیار هم ورکول سوی وو) نو دوی (دبیری اوعذاب په سبب دثواب داحتمال څخه هم دست برداری وکړه او) ددی دذمه واری څخه یی انکار وکی او ددی (دذمه واری) څخه وبیریدل (چی خدای خبر انجام به یی څه وی اوکه دوی ذمه واری قبوله کړی وای نو په شان دانسان به دوی ته هم عقل ورکول سوی وای کوم چی داحکامو دتفصیل ثوابونو اوعذابونو دپوهیدو دپاره ضروری دی ، چونکی دا یی منظوره نه کړه ، په دی وجه دعقل ضرورت هم را نه غی ، غرض دا چی دوی خو عذر وکی) او (هرکله چی ددی آسمانونو اومځکی اوغرونو څخه وروسته یی انسان پیدا کی ، ددې څخه ددی خبری پوښتنه وسوه نو) انسان (په وجه ددی چی په علم الهی کی ددې خلیفه کیدل مقرر وو) دا یی په خپله ذمه واخیسته (غالباً ترهغه وخته

Maktaba Tul Ishaat.com

پوری په ده کی هم دضرورت په قدر دومره شعور به وو او غالباً دا پیش کول داخذ میثاق څخه مخکی دی اوهغه میثاق ددی امانت پورته کولو فرع ده او ددی میثاق په وخت به ده ته عقل ورکول سوی وی ، او دا پوښتنه دیو خاص انسان څخه په مثل دحضرت ادم ﷺ نه ده سوی ، بلکه په مثل داخذ میثاق به دا وړاندی کول هم عام وی اوالتزام هم عام وو ، نوآسمانونه، غرونه اومخکی مکلف نه سوه او دی مکلف جوړ سو ، په آیت کی ددی یادول غالباً، په دی حکمت سره دی ، لکه چی میثاق یی یادکړی دی یعنی داحکمونه تاسی په خپله په ځان لازم کړی دی نو بیایی سرته رسول په کار دی او چونکی مکلف پیریان هم دی ، په دی وجه غالباً دوی په دی غرض اوحمل کی شریك دی مگر دانسان دذکر تخصیص صرف په دی وجه دی ، چی په دی مقام کی کلام دده سره دی ، بیا ددی التزام څخه وروسته دانسان حالت په اعتبار داکثرو افرادو دا سو چی) هغه (انسان په عملیاتو کی) ظالم دی (اوپه علمیاتوکی) جاهل دی (یعنی په دواړو کارونو کی په عملونو کی هم او په عقیدو کی هم خلاف ورزی کوی ، دا خو حالت په اعتبار داکثرو افرادو دی باقی دمجموعی په اعتبار سره ددی ذمه داری) انجام دا سو چی الله ﷻ به منافقانو سړو ښځو اومشرکانوسړو ښځو ته (چی دا خلګ داحکامو ضائع کوونکی دی) سزا ورکړی او په مومنانو سړو اوښځو به توجه (او رحمت) وفرمایی او (وروسته دمخالفت څخه هم که څوك واپس سی نو بیا به دی هم دمومنانو سړو اوښځو په زمره کی شامل سی ځکه چی) الله ﷻ غفور رحیم دی .

معلومات اومسئلې : په دی پوره سورة کی یی درسول په تعظیم اوتکریم زور ورکړی دی ، دسورة په اخر کی یی دده داطاعت لوړ مقام او ددی درجه بنوولی ده په دی کی یی دالله ﷻ او درسول ﷺ اطاعت او د دوی داحکامو تعمیل په امانت سره تعبیر کړی دی چی وجه به یی مخ ته راسی .

(دامانت څخه څه مراد دی؟)

دلته دلفظ امانت په تفسیر کی دتفسیر دامامانو اصحابو ﷺ اوتابعینو وغیره ډیر اقوال منقول دی ، شرعی فرائض دعفت حفاظت دمالونو امانت ، دجنابت غسل ، لمونځ زکوة، روژه، حج وغیره په دی وجه جمهور مفسرین فرمایی چی ددین ټول وظائف اواعمال په دی کی دا خل دی (قرطبی)

په تفسیر مظهری کی فرمایی چی دشریعت دټولو تکلیفاتو امر نهی مجموعه امانت دی ، ابوحیان په بحر محیط کی فرمایی .

اَلظَّاهِرُ اَنَّهَا كُلُّ مَا يُؤْتَمَنُ عَلَيْهِ مِنْ اَمْرٍ وَنَهْيٍ وَشَاْنٍ وَّدِيْنٍ وَّدُنْيَا وَالشَّرْعُ كُلُّهُ اَمَانَةٌ ، وَهٰذَا قَوْلُ الْجَمْهُوْرِ.

یعنی هرهغه شی په کوم کی چی په انسان اعتماد کیږی یعنی امر اونهی او هرحال دکوم چی ددین یادنیا سره تعلق وی او شریعت پوره په پوره امانت دی دا دجمهورو قول دی .

لنډه دا چی دامانتونو څخه مراد دشرعی احکامو مکلف اومامورہ کیدل دی په کومو چی په پوره ختلو اوپه خای کولو بندی دجنت دائمی نعمتونه او په خلاف ورزی یا کوتاهی دجهنم دعذاب وعده ده ، او څینی حضرات فرمایی چی دامانتونو څخه مراد داحکام الهی دبار پورته کولو صلاحیت او استعداد دی ، کوم چی دعقل اوشعور په خاص درجه موقوف دی اوترقی اواستحقاق دالهی خلافت په دی خاص استعداد باندی موقوف دی ، دمخلوقاتو په کومو اجناسوکی چی دا استعداد نسته هغه که هرځومره په

Maktaba Tul Ishaat.com

خپل ځای لوړ اواعلی مقام لری مگر هغه ددی مقام څخه ترقی نه سی کولی، په دی وجه په آسمان مخکی وغیره کی تردی چی په ملائکوکی هم ترقی نسته ، دکوم چی کوم مقام دقرب دی بس هغه دی ، د دوی حال دا دی ، مَا مِنَّا اِلاَّ لَهُ مَقَامٌ مَّعْلُوْمٌ : یعنی په مونږ کی داسی هیڅوك نسته چی یو معین مقام یی نه وی .

دامانتونو په دی مطلب کی ټول روایتونه دحدیث کوم چی دامانتونو متعلق راغلی دی ، مربوط او مطابق کیدی سی ، دجمهورو مفسرینو اقوال هم په دی کی تقریبًا متفق کیدی سی .

په صحیحینو بخاری ، مسلم اومسند احمد کی دحضرت حذیفه (رض) څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ مونږ ته دوه حدیثونه اورولی وه په دی کی یو خو مونږ په خپلو سترګو ولیدی ، د دوهم انتظار دی ، اولنی حدیث دا دی چی اول ددینی خلګو (رجالِ دین) په زړونو کی امانت نازل سو ، بیا قرآن نازل سو ، نو اهل ایمانو دقرآن څخه علم حاصل کی او دسنتو څخه یی عمل حاصل کی ، ددی څخه وروسته دوهم حدیث یی دا واوروی چی (یو وخت داسی راتلونکی دی په کوم کی چی) سړی دخوبه پورته سی نو دده دزړه څخه به امانت سلب سی او ددی څه اثر اوننبان به داسی پاته سی لکه چی تاسی داور سکروټه په خپلو پښو لیری وغورځوی (دغه سکروټه خو ولاړه مگر) ددی اثر پرپښو باندی دپړسوب یا تناکی په صورت کی پاته سو حال دا دی چی په دی کی داور هیڅ جزء نسته ، تردی چی خلګ به په خپل مینځ کی معاملی اومعاهدات کوی ، مگر څوك به دامانتونو حق نه ادا کوی او (دامانتدارو خلګو به داسی قحطی راسی چی) خلګ به داسی وایی چی په فلانی قبیله کی یو سړی امانتدار دی .

په دی حدیث کی یی امانت یو داسی شی مقرر کړی دی چی تعلق یی دانسان دزړه سره دی او هغه دشرعی تکالیفو او دینی وظائفو دمکلف کیدو صلاحیت اواستعداد لری .

اوپه مسند احمد کی دحضرت عبدالله بن عمرو روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی څلور شیان داسی دی چی کله هغه تاسی ته حاصل سی نو ددنیا بل هیڅ شی که تاسی ته حاصل نه سی نو د افسوس خبره نه ده (هغه څلور شیان دادی): دامانتونو حفاظت، دخبری رښتنوالی، ښه خویی، حلاله ګوله (از ابن کثیر)

(دعرضِ امانت تحقیق)

په ذکرسوی آیت کی دارشاددی چی مونږ امانتونه آسمانونو مخکی اوغرونوته پیش کړل نوټولوددی بار پورته کولو څخه انکار وکی اوددی څخه وبیریدل، چی ددی حق به مونږ ادانه کړو اوانسان دابوج لورکی دلته دا خبره دفکر کولو طلب ده چی آسمانونه مخکی ، غرونه کوم چی غیر ذی روح اوپه ظاهره بی علمه اوبی شعوره دی ، د دوی په مخکی دپیش کولو، او د دوی دجواب ورکولو څه صورت کیدی سی؟ ځینو حضراتوخو دامجاز اوتمثیل مقررکی ، لکه په قرآن کریم کی په یوه موقع په طور دتمثیل فرمایی .

لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ .

یعنی مونږ که داقرآن په غرونونازل کړی وای نوتاسی به لیدلی وای چی هغه به هم ددی دبارڅخه کښته سوی او توټی توټی سوی وای دالله ﷻ دبیری څخه په دی کی یی (په طوردفرض کړه) دامثال ورکی داسی نه ده چی حقیقتًاپه غرونوبه نازل سوی وای دی حضراتوایت ، اِلَّا عَرِضْنَا ، هم دغه شان تمثیل اومجازمقررکړي دی . مگر دجمهورو عالمانو په نزد دا صحیح نه ده ځکه چی په کوم آیت سره دوی دتمثیل دلیل نیولی دی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

هلته خو قرآن کریم په حرف دَ، لوْ، سره بیان کړی دی ، ددی قضیی فرض کیدل یی په خپله واضح کړی دی ، اوپه آیت اِنّا عَرَضْنَا، کی دیوی واقعی اثبات دی کومه چی په مجاز اوتمثیل حمل کول بغیر دځه دلیل ځخه جائز نه دی اوکه په دلیل کی دا وویل سی چی دا شیان بی حسه اوبی شعوره دی د دوی سره سوال جواب نه سی کیدی نو دا دقرآن په نورو وضاحتونو سره مردود دی ، ځکه چی دقرآن کریم واضح ارشاد دی ، وَاِنْ مِنْ شَيْءٍ اِلّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ : یعنی یو شی هم داسی نسته کوم چی دالله ﷻ حمد اوتسبیح نه کوی ، او ظاهره ده چی دالله ﷻ پیژندل اوده ته خالق اومالك اودتولو ځخه اعلی اوبرتر پیژندل دده تسبیح کول بغیر دادراك اوشعور ځخه ممکن نه دی ، په دی وجه ددی آیت ځخه ثابته سوه چی ادراك اوشعور په تول مخلوقات کی تردی چی په جماداتو کی هم موجود دی ، ددی ادراك اوشعور په بنا باندی دوی مخاطب هم جوړولی سی او دوی جواب هم ورکولی سی ، دجواب مختلف صورتونه کیدی سی ، دالفاظو اوحرفونو په ذریعه هم کیدی سی او په دی کی عقلی امتناع نسته چی الله ﷻ دی جماداتو آسمانونو، مځکی اوغرونو ته گویایی ورکړی ، په دی وجه دجمهور اُمّت په نزد آسمانونو، مځکی او غرونو ته عرض امانت په حقیقی طور سره وسو او دوی په حقیقی طور سره ددی بار ځخه خپل عاجزوالی ظاهرکی ، په دی کی څه تمثیل یامجاز نسته .

﴿ عرض امانت اختیاری وو جبری نه وو﴾

پاته سو دا سوال چی هرکله حق تعالی ﷻ آسمانونو او مځکی وغیره ته دا امانتونه په خپله پیش کړل نو د دوی مجال دانکارځنګه وسو ؟ دالله ﷻ دحکم ځخه یی مخ واړوی نو د دوی نیست او نابود کول په کار وو، ددی ځخه علاوه دآسمانونو اومځکی مطیع اوتابع فرمان کیدل دقرآن کریم دایت ، اَتَيْنَا طَآئِعِيْنَ، ځخه هم ثابت دی ، یعنی هرکله چی الله ﷻ آسمانونو اومځکی ته حکم وکی چی ﴿زمونږ دحکم دتعمیل دپاره﴾ راسی برابره خبره ده که په خپله خوشحالی سره وی یاپه زورسره، نو دواړو دا جواب ورکی چی دحکم دتعمیل دپاره په خوشحالی سره حاضر یو، جواب دا دی چی په ذکر سوی آیت کی دوی ته دیوی حاکمانه پایبندی حکم ورکول سوی وو، چی په دی کی دا هم ویل سوی وه چی که تاسی په زړه سره په دی حکم راضی یاست یانه یاست ، په هرحال به درته دا حکم منل وی ، په خلاف دعرض امانت ددی آیت ځخه چی په دی کی دامانتونو دپیش کولو سره دوی ته دا اختیار ورکول سوی وو چی قبلوی اوکه یی نه ابن کثیر په دیرو سندونو سره دډیرو اصحابو اوتابعینو ابن عباس ﷺ حسن بصری ، مجاهد وغیره ځخه دعرضِ امانت دا تفصیل نقل کړی دی چی الله ﷻ اول آسمان ته ، بیا مځکی ته، بیا غرونوته په اختیاری صورت کی دا پیش کړه چی زما دامانتونو ﴿یعنی طاعت داحکامو﴾ بار پورته کړی ددی معاوضی سره کوم چی ددی دپاره مقرر دی ، هر یوه پوښتنه وکړه چی معاوضه څه ده؟ نو ورته وښوول سوه چی امانت ﴿یعنی طاعت داحکامو﴾ که تاسی په پوره طور سره ادا کړل نو تاسی ته به جزا یعنی ثواب او دالله ﷻ په نزد خاص اعزاز حاصلیږی او که تعمیل داحکامو تاسی پوره نه کی یامو کوتاهی په کی وکړه ، نوعذاب او سزا به درته حاصلیږی ، دی تولو لویو لویو اجسامو چی داواوریدل نو جواب یی ورکی چی ای پر وردګاره مونږ اوس هم ستا تابع فرمان چلیږو لیکن ﴿کله چی مونږ ته اختیار را کول سو نو﴾ مونږ ددابار

Maktaba Tul Ishaat.com

دپورته کولو څخه خپل ځان عاجزه پیدا کی ، مونږ نه ثواب غواړو نه عذاب ته ټینګیدی سو .

او په تفسیر قرطبی کی دحکیم ترمذی په حواله سره دا روایت دحضرت ابن عباس ﷺ څخه نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی (آسمان اومځکی وغیره ته دامانت وړاندی کولو او د دوی دجواب ورکولو څخه وروسته) حق تعالی حضرت ادم ﷺ ته خطاب وفرمایی چی مونږ خپل امانت آسمان اومځکی ته پیش کی نو هغوی ددی بار دپورته کولو څخه عاجزه سول نو ته به دامانتونو دا بار پورته کړی سره دهغه شی څخه کوم چی ددی سره دی؟ حضرت ادم ﷺ پوښتنه وکړه چی ای پروردګاره ! هغه شی څه دی؟ کوم چی ددی سره دی ، جواب ورکول سو چی که په امانتونو پورته کولوکی پوره وختی (یعنی اطاعت دی مکمل وکی) نوتاته به جزا درکول سی (کومه چی به دالله ﷻ دقرب او رضا او دجنت ددائمی نعمتونو په صورت کی وی) اوکه دا امانتونه دی ضآئع کړل نو سزا به درته درکول سی ، حضرت ادم ﷺ (دالله ﷻ په قرب او رضاکی دترقی کیدلو په شوق کی) دا پورته کړل ، تردی چی دامانت دبار په پورته کولو دومره وخت هم نه وو تیرسوی څومره چی دماپښین څخه تر ماځیګره وی ، چی په دی کی شیطان دوی په مشهوره خطا کی اخته کړه او دجنت څخه را ویستل سوه .

(دعرضِ امانت واقعه په کومه زمانه کي وسوه؟)

اوس چی کوم روایت دحضرت ابن عباس ﷺ لوړ تیرسو ، ددی څخه معلومیږی چی دا عرض امانت په آسمان اومځکه وغیره کی دحضرت ادم ﷺ دپیدائش څخه مخکی سوی دی ، بیاچی کله حضرت ادم ﷺ پیدا سو نو دوی ته دا هم بیان وسو چی ستا څخه مخکی آسمان او مځکی ته هم دامانت پیش سوی دی دکومو چی دهغوی طاقت نه وو ، په دی وجه یی عذر وکی .

او ظاهره ده چی دا دعرض امانت واقعه دمیثاق ازل یعنی ، عهد الست څخه مخکی ده ، ځکه چی عهد د ، اَلَسْتُ بِرَبِّکُمْ، ددی بار امانت اولنی کړی او دخپل منصب دحلف پورته کولو قائمقام ده .

(دمځکي دخلافت دپاره دبار امانت پورته کولو صلاحیت ضروری وو)

حق تعالی په تقدیر ازلی کی حضرت ادم ﷺ په مځکه باندی خپل خلیفه جوړول مقررکړی وو او دا خلافت هغه ته سپارل کیدی ، کوم چی دالله ﷻ داحکامو داطاعت بار پورته کړی ځکه چی ددی خلافت مطلب هم دا وو چی په مځکه دالله ﷻ قانون نافذ کړی ، دخدای مخلوق دالله ﷻ دحکمونو اطاعت ته تیار کړی ، په دی وجه په تکوینی طور سره حضرت ادم ﷺ ددی امانتونو پورته کولو ته تیار سو ، حال دا دی چی دنورو لویو لویو مخلوقاتو ددی څخه عاجزه کیدل هم معلوم سوی وه (مظهری اوبیان القرآن)

إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا : دَظَلُوْم څخه مراد په خپل نفس ظلم کوونکی او دجهول څخه مراد دانجام څخه ناخبره ، ددی جملی څخه په ظاهره دا ګڼل کیږی چی دا مطلق دانسان په مذمت کی راغلی دی ، چی دی ناپوه په خپل ځان ظلم وکی چی دومره لوی بار یی پورته کی ، کوم چی دده دطاقت څخه نه وو ، مګر دقرآنی وضاحتونو مطابق واقعه داسی نه ده ، ځکه چی دانسان څخه مراد که حضرت ادم ﷺ وی یاپوره نوع دانسان ، په دوی کی حضرت ادم ﷺ خو معصوم نبی دی ، دوی چی کوم بار پورته کړی وو دهغه حق یی هم په یقینی طور سره ادا کی ، ددی په نتیجه کی دی خلیفة الله جوړ سو اومځکی ته راولیږل سو

Maktaba Tul Ishaat.com

دی یی دملائکو مسجود جوړ کی او په اخرت کی د دوی مقام دملائکو څخه هم ډیر لوړ اولوی دی اوکه نوع انسانی مراد وی نو په دی پوره نوع کی خو په لکونو انبیاء دی او په کرورونو هغه صالحان اواولیاء الله دی ، په کومو چی ملائکو هم قصد کړی دی اوکومو چی په خپل عمل سره ثابته کړه چی هغوی ددی الهی امانت اهل اومستحق وه ، ددی امانت دحق ادا کوونکو په بنا باندی قرآن کریم نوع انسانی اشرف المخلوقات وفرمایل ، وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ : ددی څخه ثابته سوه چی نه حضرت ادم ﷺ قابل مذمت دی نه پوره نوع انسانی ، په دی وجه مفسرین حضرات فرمایی ، چی دا جمله دمذمت دپاره نه ده ، بلکه د اکثرو افرادو دنوع په اعتبار سره دواقعی دبیان په طور ارشاد سوي ده ، مطلب دا دی چی دنوع انسانی اکثریت ظلوم او جهول ثابت سو کومو چی ددی امانت حق ادا نه کی او په خساره کی را غلل اوچونکه د اکثریت دا حال وو په دی وجه ددی نسبت یی دنوع انسانی طرف ته وکی .

لنده داچی په آیت کی ظلوم اوجهول خاص دانسان هغه افرادو ته ویل سوی دی کوم چی دشرعی احکامو په اطاعت کی پوره ونه څتل او دامانتونو حق یی ادا نه کی ، یعنی دامت کفار او منافقان اوفاسقان او فاجران اوګناهګاران مسلمانان ، دا تفسیر دحضرت ابن عباس ﷺ ، ابن جبیر ﷺ اوحسن بصری رحمه الله وغیره څخه نقل دی (قرطبی)

او څینی حضرات فرمایی چی لفظ دظلوم اوجهول دلته دساده اوبی پوهی په معنی کی په طور دمحبانه خطاب دی چی ده دالله ﷻ په محبت او دده دقرب دمقام په لتون کی دبل هیڅ انجام سوچ ونه کی ، دغه شان دا لفظ دټول نوع دپاره هم کیدی سی ، په تفسیر مظهری کی دحضرت مجدد الف ثانی او نورو صوفیاء کرامو څخه دغه شان مضمون منقول دی .

لِيُعَذِّبَ اللهُ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ الآية : یعنی تردی چی عذاب ورکړی الله ﷻ منافقانو سړو اومنافقانو ښځو ته اومشرکینو سړو اوښځو ته او په رحمت اومغفرت سره ونمانځی مومنان سړی اومومنانی ښځی ، په ، لِيُعَذِّبَ : کی حرف دلام دعلت دبیان او غرض دپاره نه دی ، بلکه دعربی اصطلاح په لحاظ سره لام عاقبت دی ، یعنی کوم چی دیو شی انجام بیان کړی ، لکه په یو عربی شعرکی دی ، لِدُوا لِلْمَوْتِ وَابْنُوا لِلْخَرَابِ : یعنی پیدا سی دمرګ دپاره او ابادی کی دورانیدو دپاره ، مراد دا دی چی دهر پیدا کیدونکی انجام مرګ او دهری ابادی انجام ویرانی ده .

ددی جملی تعلق دَ، حَمَلَهَا الْانْسَانُ : سره دی ، یعنی دانسان دامانت دبار پورته کولو انجام به دا وی چی په نوع انسانی کی به دوی فریقی جوړی سی یوکفار اومنافقان وغیره کوم چی دالله ﷻ داطاعت څخه سر کښه سی اوامانت ضائع کوونکی سی نوهغوی ته به عذاب ورکول سی دوهم مومنان سړی او ښځی چی دشرعی احکامو داطاعت په ذریعه دامانتونوحق اداکی نوددوی سره به درحمت اومغفرت معامله وسی .

په دی اخری جمله کی هم دظلوم اوجهول دالفاظو ددی تفسیر تائید وسوکوم چی داکثرو امامانو دتفسیر څخه لوړ نقل دی . دا دټول انسانی نوع دپاره نه دی ، بلکه خاص دهغو افرادو دپاره دی کومو چی دالله ﷻ امانتونه ضائع کړل . والله تعالی اعلم

تمت : سُوْرَةُ الْاَحْزَابِ بِعَوْنِهِ تَعَالٰى وَحَمْدِهِ لِلْعِشْرِيْنَ مِنْ مُحَرَّمِ الْحَرَامِ سنه ۱۳۹۲ هـ يَوْمَ الثُّلَثَاءِ .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿سورة سبا﴾

سُوْرَةُ سَبَإٍ مَّكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ وَّخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

سورة سبا په مکه کی نازل سو او په دی کی څلور پنځوس (۵۴) ایتونه اوشپږ (۶) رکوع ګانی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَلَهُ

تول تعریفونه الله ﷻ لره دی دچا چی دی هغه څه چی په اسمانونو کی دی او هغه څه چی په مځکه کی دی او

الْحَمْدُ فِي الْاٰخِرَةِ ۭ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ۝۱ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي

دهغه ثناده په آخرت کی او هغه دی حکمتونو والا په هرڅه پوهیدونکی ، پیژنی څه چی ننوزی په

الْاَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاۗءِ وَمَا يَعْرُجُ

مځکه او څه چی ورڅخه راوزی ، اوڅه چی نازلیږی داسمان څخه اوڅه چی ورته خیژی

فِيْهَا ۭ وَهُوَ الرَّحِيْمُ الْغَفُوْرُ ۝۲

او هغه دی رحم والا ، بخښنی والا.

لنډتفسیر: تول حمد (اوثنا) هغه الله ته لائق دی دکوم چی ملکیت دی څه چی په آسمانونو کی دی اوڅه چی په مځکه کی دی او (څنګه چی هغه فی الحال مستحق دحمد دی دغه شان) هغه ته حمد (اوثنا) په اخرت کی (هم) لایق دی (ددی ظهوربه داسی وی چی جنتیان جنت ته ددا خلیدو څخه وروسته به دالله ﷻ حمد په دی الفاظو سره وکی، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي هَدَانَا لِهٰذَا، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي صَدَقَنَا وَعْدَهٗ) اوهغه حکمت والادی (چی دآسمانونو اومځکی تول مخلوقات یی په بی شماره مصلحتونو اومنافعو باندی مشتمل جوړکړی دی اوهغه) خبردار (هم) دی (چی دامصلحتونه اونفعی دپیدا کولو څخه مخکی پیژنی ، په هرشی کی یی مصلحتونه او نفعی په دیر حکمت سره اینبی دی اوهغه داسی خبرداردی چی) هغه هرڅه پیژنی کوم شی چی په مځکه کی دننه داخلیږی (مثلاً دباران اوبه) اوڅه چی ورڅخه راوزی (مثلاً درختی اوعام بوتی) اوڅه شی چی دآسمان څخه راکښته کیږی اوڅه شی چی دی ته خیژی (مثلاً ملائکی چی دآسمان څخه راکښته کیږی او خیژی اومثلاً شرعی احکام چی دآسمان څخه نازلیږی اونیک عملونه کوم چی آسمان ته خیژول کیږی) او (چونکی په دی شیانو کی جسمانی یا روحانی نفع ده ، ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

مقتضا دا ده چی تول خلک پوره شکر ادا کی اوځوك چی کوتاهی وکی هغه به مستحق دسزا وی لیکن هغه (الله) رحیم (او) غفور (هم) دی (او په خپل رحمت سره صغیره ګناهونه په نیکو عملونو سره اوکبیره په توبه سره اوکله دواړه قسمه ګناهونه محض په خپل فضل سره معاف کوی اوکومه ګناه چی دکفر اوشرك حد ته ورسیږی ، هغه په ایمان راوړلو سره معاف کوی)

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَاْتِيْنَا السَّاعَةُ ؕ قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ لَتَاْتِيَنَّكُمْ ۙ عٰلِمِ الْغَيْبِ ۚ لَا

او وایی منکران را به نه سی په مونږ قیامت ته ووایه ولی نه قسم دی زما په خپل رب خامخا به راسی په تاسی په دغه عالم غیب ،

يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ

نه سی پټیدی دده څخه یوه ذره په اسمانونو کی او نه په مځکه کی

وَلَاۤ اَصْغَرُ مِنْ ذٰلِكَ وَلَاۤ اَكْبَرُ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۙ﴿۳﴾

او نه کوچنی شی ددې څخه سته اونه لوی مګر په کتاب واضح کی دی ،

لِّيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ

چی بدله ورکړی هغوته چی یقین یی وکی اونیك عملونه یی وکړل، هغه خلق دی چی دهغوی دپاره معافی اورزق

كَرِيْمٌ ﴿۴﴾ وَالَّذِيْنَ سَعَوْ فِيْۤ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيْنَ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ

دعزت دی، اوکوم خلق چی کوشش کوی زمونږ په ایتونو کی دعاجزه کولو دپاره دهغوی خلقو دپاره دسختی عذاب دی

مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ﴿۵﴾ وَيَرَى الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ الَّذِيْۤ اُنْزِلَ

دردناك ، او وینی هغه خلق کومو ته چی پوه ورکړل سوی ده چی څه په تا

اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ هُوَ الْحَقَّ ۙ وَيَهْدِيْۤ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ﴿۶﴾

نازل سول ستا درب څخه هغه حق دی ، او ښیی لار دزبردست ستایل سوی

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ يُّنَبِّئُكُمْ اِذَا

او وایی کافران آیا مونږ وښیو تاسی ته یو سړی چی تاسی ته خبر درکوی چی هر

Maktaba Tul Ishaat.com

مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ ۙ اِنَّكُمْ لَفِيْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ۚ ۷ اَفْتَرٰى عَلَى

کله تاسی توتی توتی سی ، نو تاسی به بیا دنوی سر څخه پیدا سی ، څه جوړ وی په

اللّٰهِ كَذِبًا اَمْ بِهٖ جِنَّةٌ ۭ بَلِ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ فِي

الله ﷻ باندی درواغ یا په ده پیرایان دی داسی نه ده بلکه څوک چې یقین نه لری په آخرت په

الْعَذَابِ وَالضَّلٰلِ الْبَعِيْدِ ۸ اَفَلَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ

عذاب کی دی او ډیر لیری لویدلی دی په غلطی کی ، آیا نه گوری څه چې د دوی په مخکې دی

وَمَا خَلْفَهُمْ مِّنَ السَّمَاۗءِ وَالْاَرْضِ ۭ اِنْ نَّشَاْ نَخْسِفْ بِهِمُ

او څه چې د دوی وروسته دی د اسمان اومخکی څخه ، که مونږ وغواړو نو دننه به کړو دوی

الْاَرْضَ اَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ السَّمَاۗءِ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

په مځکه کی یا به راوغورځوو په دوی باندی توته د اسمان څخه ، بیشکه په دی کی

لَاٰيَةً لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ۹

خامخا نښانی دی دهر یو بنده رجوع کوونکی دپاره .

لنډتفسیر: او دا کافران وایی چې په مونږ به قیامت نه راځی ته ووایه چې ولی نه (راځی به) قسم دی په خپل پروردګار عالم الغیب چې هغه به خامخا پرتاسی راځی (دهغه علم داسی وسیع اومحیط دی چې) دده (دعلم) څخه یوه ذره هم غائبه نه ده ، نه په آسمانونو کی او نه په مځکه کی (بلکه ټول دده په علم کی حاضر دی) او نه څه شی ددی (مقدار ذکر سوی) څخه کوچنی دی اونه څه شی (ددی څخه) لوی دی ، مګر دا ټول (په وجه داحاطی دعلم الهی) په کتاب واضح (یعنی په لوح محفوظ) کی (لیکلی) دی (دقیامت متعلق دکفارو ډیر شبهات وه ، یو دا چې که راتلونکی وی ، نو وخت یې وښیاست لکه چې الله ﷻ فرمایی ، اَيَّانَ مُرْسٰهَا ، دوهم دا چې کوم احزاء چې جمع کیږی او په هغه کی ژوند پیدا کول بنسوول کیږی دهغه خو به هیڅ نښانه هم پاته نه سی نو جمع به څنګه سی .

(دعلم غیب) په دی مضمون په اثبات سره داولی شبهی جواب وسو چې ددی علم په وجه حکمت مختص دی دباری تعالی سره ، که نبی ته ددی معین وخت معلوم نه وی نو دا نه لازمیږی چې قیامت به قائم نه سی لکه چې الله ﷻ فرمایی ، قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ : او دعلم محیط داثبات په مضمون سره د دوهمی شبهی جواب سوی دی چې ددی ټولو اجزاوو په مځکه کی دګډوډ کیدو او په هوا کی دخپریدو باوجود

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه به زمونږ دعلم څخه خارج نه سی ، مونږ چی کله وغواړو جمع به یی کړو ، لکه چی الله ﷻ فرمایی ، اَفَلَمْ یَرَوْا الخ اوس دقیامت غایت نبیی چی دا قیامت به څکه راځی، چی هغو خلګوته (نیکه) بدله ورکړی کومو چی ایمان راوړی وو او هغوی نیك کارونه کړی وه (نو) دداسی خلګو دپاره مغفرت او (په جنت کی) دعزت رزق دی اوکومو خلګو چی زمونږ دایتونو متعلق (د دوی دباطلولو) کوشش کړی وو (دنبی) دعاجزه کولو دپاره (که څه هم په دی کوشش کی ناکام پاته سول) دداسی خلګو دپاره به دسختی دردناك عذاب وی او (دقرآن دایتونو په درواغجن کولو داسی سزا په کار ده ، اول خو قرآن فی نفسه امر حق منزّل من الله دی او دداسی امر حق تکذیب په خپله دحق تعالی تکذیب دی ، په دی چی هرځومره سزا وی په ځای ده ، دوهم قرآن دنیکی لاری تعلیم او هدایت کوی اوکوم سړی چی دا نه منی هغه به دنیکی لاری څخه قصداً لیری اوسیږی ، نه به ورته دحقو عقیدو پته ولګیږی ، نه دنیکو عملونو او دا طریقه وه دنجات ، نو دنجات دطریقی څخه قصداً په لیری پاته کیدوسره دسزا کیدل بی ځایه نه دی او دقرآن حق او هادی کیدل داسی واضح دی چی ددی څخه علاوه په نورو دلائلو سره ثابت دی ، یوه اسانه طریقه ددی دثبوت دا ده چی) کومو خلګو ته (داسمانی کتابونو) علم ورکول سوی دی هغوی داقرآن کوم چی ستا درب دطرف څخه تاته رالیږل سوی دی داسی ګڼی چی هغه حق دی اوهغه دخدای غالب ستایل سوی (درضا) لار نبیی (ددی استدلال تقریر دسورة شعراء داخری رکوع په شروع کی تیرسوی دی اومنجمله دټولو کارونو واجبوونکو دایمان څخه دقرآن دحقانیت دبیان اهتمام یی څکه وفرمایی چی دا امور واجبة الایمان باندی مشتمل دی خصوصاً په خبر دقیامت په کوم کی چی په دی مقام کی خبره ده نو په دی بناء لنډه دا سوه چی دقیامت په ورځ به ددی قیامت په درواغجن کولو هم سزا وی) او (مخ ته بیا دقیامت اثبات دی یعنی) دا کافران (په خپل مینځ کی) وایی چی ایامونږ تاسی ته داسی سړی ونښیو کوم چی تاسی ته دا (عجیبه) خبر درکوی چی کله تاسی بالکل ذره ذره سی نو (ددی څخه وروسته په قیامت کی) تاسی به خامخا په یو نوی ژوند کی راسی معلومه نه ده چی دی سړی په خدای باندی (قصداً) دروغ جوړکړی دی یاده ته په څه شان سره لیونتوب دی (چی بی ارادی دروغ وایی څکه چی دا کار خومحال دی نو ددی دواقع کیدوخبرخامخا غلط دی برابره خبره ده که په قصد سره وی اویاکه په فساد دتخیل سره وی ، الله ﷻ ددی دواړو شقونو ردفرمایی چی زمونږ نبی خو درواغ جوړونکی اومجنون هیڅ هم نه دی) بلکه کوم خلګ چی په اخرت یقین نه لری (هم هغوی) په عذاب اودیره لیری ګمراهی کی (اخته) دی (ددی ګمراهی فوری اثر دا دی چی ربښتنی ورته هم درواغجن اومجنونان په نظر راځی اوانجامی اثر یی دا دی چی عذاب به تیروی او دا جاهلان کوم چی دا جمع کیدو او ژوندی کیدو داجزاوو خپرو سوو جمادو یو والی محال او دقدرت څخه لیری ګڼی) نو ایا دوی (دالله ﷻ دقدرت په لویو دلیلونو کی) اسمان اومځکی ته نه دی کتلی کوم چی د دوی په مخ کی (هم) او د دوی شاته (هم) موجود دی (چی کومی خواته وګوری هغه په نظر ورځی ، نو ددی عظیمو اجرامو اول پیدا کوونکی ایا دکوچنیو جسمونو په دوباره پیدا کولو باندی قادر نه دی؟ لکه چی الله ﷻ فرمایی ، لَخَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْاَرْضِ اَکْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ الخ اوسره دحقو دلیلونو دواضح کیدو څخه ، بیا هم دانکار اوعناد کولو په وجه خو دا ده چی دوی ددی قابل دی

Maktaba Tul Ishaat.com

چی اوس سزا ورته ورکول سی او سزا هم داسی چی دا دلیلونه دقدرت دآسمان اومځکی کوم چی د دوی دپاره عظیم نعمتونه هم دی ، دا د دوی دپاره دعذاب آله جوړه سی چی دکوم نعمت کفران کیدی سی هغه نعمت په عذاب جوړولو سره سخت حسرت کیدی سی اومونږ په دی سزا هم قادر یو چنانچې که مونږ وغواړو نو دوی به په مځکه کی دننه کو یا (که وغواړو نو) په دوی به دآسمان څخه توتی را وغورځوو (لیکن حکمت مقتضی دی دتاخیر، په دی وجه مهلت ورکول سوی دی ، غرض دا چی دی خلګو ته دوهم دفع کولو دپاره مځکی اوآسمان ته نظر کول په کار وو څکه چې) په دی (دلیل مذکور) کی (دالله ﷻ دقدرت) پوره دلیل دی (مګر) دهغه بنده دپاره کوم چی (دخدای طرف ته) متوجه (هم) وی (او دحق طلب کوی یعنی دلیل خو کافی دی ، مګر د دوی دطرف څخه طلب نسته په دی وجه محروم دی)

معلومات اومسائل: عٰلِمِ الْغَيْبِ، دا صفت درب دی دکوم چی لوړ قسم خوړل سوی دی اودالله ﷻ دټولو صفتونو څخه دلته صفت دعلم غیب اوعلم محیط شاید په دی وجه خاص سو چی خبره دقیامت دمنکرینو په معامله کی ده او دقیامت څخه دانکار لوی سبب دکفارو دپاره دا وو چی کله ټول انسانان مړه سی اوخاوری سی او ددی خاوری ذری هم په دنیاکی خپری سی نو دټولی دنیا څخه خپری سوی ذری جمع کول بیا دهر یوه انسان ذری دنورو انسانانو دذرو څخه جلا کول ، دهر یوه ذری دده په بدن کی پیوست کول څنګه ممکن دی او دا ناممکن ګڼل په دی بنا باندی وو چی دوی به دالله ﷻ علم او قدرت په خپل علم او قدرت باندی قیاس کوی حق تعالی ورته وښوولې چی دالله ﷻ علم په ټول عالم باندی داسی محیط دی چی په آسمانو اومځکه کی کوم شی هم دی هغه ته ټول معلوم دی او دا ورته هم معلومه ده چی هغه کوم ځای او په څه حال کی دی ؟ یوه ذره دمخلوقاتو دده دعلم څخه دباندی نه ده او دا علم محیط چی یوه ذره دجهان دده څخه غائبه نه وی نه سی حاصلیدی ، اوکوم ذات ته چی داسی علم محیط حاصل وی دهغه دپاره دیو انسان ذری جلا جلا دټول جهان څخه راجمع کول او دهغه څخه دهغه جسم دوباره جوړول څه مشکل دی .

لِيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُوا: ددی جملی تعلق ددی څخه دمخکی جملی لَتَأْتِيَنَّكُمْ : سره دی ، یعنی قیامت به خامخا راځی او دقیامت راتلو مقصد به دا وی چی ایماندارو ته جزا اوښه رزق دجنت ورکول سی او د دوی په مقابله کی ، وَالَّذِينَ سَعَوْا فِي آيَاتِنَا : یعنی هغه خلګ کومو چی زمونږ په ایتونو اعتراضونه وکړل اوخلګ یی ددی دمنلو څخه دمنع کولو کوشش وکی .

مُعٰجِزِينَ : یعنی د دوی کوشش ګویا ددی دپاره وو چی دوی مونږ دګرفت کولو څخه عاجزه کړی او دقیامت دحاضری څخه خلاص سی .

أُولٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مِنْ رِجْزٍ أَلِيمٌ : یعنی دداسی خلګو دپاره به عذاب وی ، د: رِجْزٍ أَلِيمٌ : چی معنی یی ده سخت عذاب کوم چی دردناک وی .

وَيَرَى الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ : دا دقیامت دمنکرانو په مقابله کی دهغو مومنانو ذکر دی کومو چی په قیامت ایمان راوړی وو او دالله ﷻ دطرف څخه چی کوم علم په رسول الله ﷺ باندی نازل سوی وو هغوی دهغه علم څخه فائده واخیسته .

Maktaba Tul Ishaat.com

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلَى رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمْ إِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمْ لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ .

دا دکفارو دقیامت دمنکرانو قول نقل سوی دی ، کومو چی په طور دحقارت او مسخرو به داسی ویل چی راسی مونږ تاسی ته یو داسی عجیبه سړی وښیو کوم چی داسی وایی چی کله تاسی پوره خس خس او زره زره سی ، ددی څخه وروسته به بیا تاسی دنوی سره پیدا سی اوبیابه تاسی په دی شکل اوصورت کی تیار کړی او ژوندی به کړل سی .

دا خبره ظاهره ده چی ددی سړی څخه مراد نبی کریم ﷺ دی کوم چی به دقیامت او په دی کی دټولو مړو د دوباره ژوندی کیدو خبر ورکولو اوخلګو ته به یی په دی دایمان راوړلو تاکید کوی او دی ټولو خلګو دوی ښه پیژندل ، مګر دلته یی په داسی اندازسره ذکر وکی چی ګویا داخلګ د دوی متعلق نورهیڅ نه پیژنی ، بغیر ددی څخه چی دوی په قیامت کی دمړو دژوندی کیدو خبر ورکوی ، دخبری داطرز یی دمسخرو اودتحقیر دپاره اختیار کړی وو .

او، مُزِّقْتُمْ، دَمَزَّقَ څخه مشتق دی چی معنی یی دڅیرولو اوټوټی کولو ده ، اودَ،كُلَّ مُمَزَّقٍ ، څخه مراد دانسان دبدن زره زره کیدل اوجلا کیدل دی ، مخ ته د دوی دخبری او دقیامت دذکر متعلق دخپل خیال اظهار داسی کوی چی .

أَفْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَمْ بِهِ جِنَّةٌ مطلب دا دی چی دجسم دزره زره کیدو څخه وروسته دټولو ذرو جمع کیدل بیا ورڅخه دانسان بدن جوړیدل او ژوندی کیدل خو داسی نامعقوله خبره ده دکوم چی دتسلیم کولو او منلو ګرسره څه سوال نه پیداکیږی ، په دی وجه د دوی دا خبره یا خوقصداً په خدای باندی درواغ او بهتان ترل دی یابیا دا ویونکی لیونی دی چی دخبری یی هیڅ بنیاد صحیح نه وی .

أَفَلَمْ يَرَوْا إِلَىٰ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ : لکه چی دلنډتفسیر څخه معلومه سوي ده چی په دی آیت کی دقیامت دقائمیدو دلیلونه هم دی چی دآسمانونو اومځکی په مخلوقاتوکی په فکر کولو او دالله ﷻ دکامل قدرت په مشاهده کولوسره دغه استبعاد رفع کیدی سی کوم چی دقیامت منکرانو ته ددی دتسلیمولو څخه مانع وو او ددی سره دمنکرانو دپاره دسزا اخطار هم دی چی ددی آسمان اومځکی ټول عظیم مخلوقات کوم چی ستاسی دپاره لوی نعمتونه دی که ددی دمشاهدی څخه وروسته هم تاسی په تکذیب اوانکار پاته سواست ، نو دالله ﷻ په قدرت کی دا هم ده چی دا نعمتونه ستاسی دپاره عذاب جوړ کړی چی مځکه تاسی راکش کړی یا آسمان ټوټی ټوټی سی اوپه تاسی را ایله سی .

وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُودَ مِنَّا فَضْلًا ۖ يَا جِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُ وَالطَّيْرَ ۖ وَأَلَنَّا لَهُ

اوورکی مونږ داود ته دخپل طرف څخه لوی والی ای غرونو په خوښ اوازی سره وایاست دده سره اودهوامرغانو ته

الْحَدِيدَ ﴿١٠﴾ أَنِ اعْمَلْ سَابِغَاتٍ وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا ۖ إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ

اونرمه کړه مونږ دده دپاره اوسپنه، چی جوړوه زغری پراخی اواندازه کوه په کړوکی اوکوه ته ټول کارنیک ،ته چی

Maktaba Tul Ishaat.com

بَصِيْرٌ ﴿۱۱﴾ وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَّرَوَاحُهَا شَهْرٌ ۚ وَاَسَلْنَا

څه کوی زه هغه وینم ، اودسلیمان دپاره هوا دسهار منزل دده دیوی میاشتی او دبیګاه منزل دیوی میاشتی ،

لَهٗ عَيْنَ الْقِطْرِ ۭ وَمِنَ الْجِنِّ مَنْ يَّعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ

او وبیوله مونږ دده دپاره چینه دویلی کړی اوسپنی ، اود پیریانو څخه ډیرچی محنت به یی کوی دده په مخکی

بِاِذْنِ رَبِّهٖ ۭ وَمَنْ يَّزِغْ مِنْهُمْ عَنْ اَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ

دده درب په حکم سره ، او څوك چی وګرځی په دوی کی زمونږ دحکم څخه وبه څکوو مونږ ده ته داور

السَّعِيْرِ ﴿۱۲﴾ يَعْمَلُوْنَ لَهٗ مَا يَشَآءُ مِنْ مَّحَارِيْبَ وَتَمَاثِيْلَ وَجِفَانٍ

عذاب ، جوړول به یی دده دپاره چی څه به یی غوښتل قلعه ګانی او تصویرونه اوخانکونه

كَالْجَوَابِ وَقُدُوْرٍ رّٰسِيٰتٍ ۭ اِعْمَلُوْٓا اٰلَ دَاوٗدَ شُكْرًا ۭ وَقَلِيْلٌ مِّنْ

دتالاب هومره اودیګونه په انغرو پراته ، کار کوی ای د داود ﷺ کورواالاؤ شکر وکاړی اودیرلږدی

عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ ﴿۱۳﴾ فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلٰى

زما په بندګانو کی احسان منونکی ، بیا چی کله مقرر کی مونږ په ده باندی مرګ نو ونه ښوول هغوی ته دده

مَوْتِهٖٓ اِلَّا دَاۗبَّةُ الْاَرْضِ تَاْكُلُ مِنْسَاَتَهٗ ۚ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ

مرګ مګر چینجی دمخکی چی خوړله یی دده لګړه ، بیا چی کله دی راولویدی معلومه

الْجِنُّ اَنْ لَّوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوْا فِي الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ ﴿۱۴﴾ ؕ

کړه پیرانو چی که هغوی خبر وی په غیبو نو نه به وای پاته سوی دذلت په تکلیف کی

لنډتفسیر : اومونږ داود ﷺ ته دخپل طرف څخه لوی نعمت ورکړی وو (چنانچی مونږ غږونوته حکم کړی وو چی) ای غږونو! د داود ﷺ سره بار بار تسبیح کوی (یعنی کله چی دی په ذکر کی مشغول وی تاسی هم دده سره ملګری کیږی) او (دغه شان) دهوا مرغانو ته مو هم حکم وکی (چی دده تسبیح کوی لکه چی الله ﷻ فرمایی ، إِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهُ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ : شاید په دی کی یو حکمت دا وی چی ده ته به په ذکر کولو خوشحالی راځی ، او دا هم حکمت وی چی دده یوه معجزه به ظاهریږی او غالبًا دا

Maktaba Tul Ishaat.com

تسبیح به داسی وی چی اوریدونکی هم په پوهیږی کنه نو نه اوریدونکی تسبیح خو عام دی ، په دی کی د دواد ﷺ سره دملګری کیدو څه تخصیص دی ، لکه چی الله ﷻ فرمایی، وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَكِنْ لَا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ) او (یو نعمت مو دا ورکی چی) مونږ دده دپاره اوسپنه (په مثل دمومو) نرمه کړه (او دا حکم مو ورکی) چی ته (ددی اوسپنی څخه ښی) پوره زغری جوړ وه او (دکړیو په) جوړولو کی (مناسبه) اندازه ساته او (لکه چی مونږ تاته نعمتونه درکړی دی دهغو په شکر کی) تاسی ټول (یعنی داود ﷺ او دده متعلقین) نیك کارکوی زه ستاسی ټولو عملونه وینم (په دی وجه درعایت دحدودو پوره اهتمام کوی) او دسلیمان ﷺ دپاره مونږ هوا مسخره کړه چی ددی (هوا) دسهار تلل دپوره میاشتی په مزل وو (یعنی دغه هوابه سلیمان ﷺ دومره لیری لیری بیوله لکه چی الله ﷻ فرمایلی دی ، فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيحَ تَجْرِي بِأَمْرِهِ) او (یو نعمت موده ته دا ورکی چی) مونږ دده دپاره داوسپنی چینه وبهوله (یعنی اوسپنه مو ددی په کان کی نرمه بهیدونکی کړه چی ددی څخه په الاتو جوړولو کی بغیر دسامان څخه اسانی وی ، بیا به دغه جم کیده داهم یوه معجزه ده) او (یونعمت مودا پرکړی وو چی مونږ پیریان دده تابع کړی وه چنانچی) په پیریانو کی ځینی هغه وه چی دده په مخکی به یی (قسم قسم) کارونه کول او د دوی درب په حکم (تسخیری) سره (یعنی پروردګار مسخر کړی وه) او (دتسخیری حکم سره تشریعی حکم هم سره دوعید دا ورکول سوی وو) چی په دوی کی کوم سړی زمونږ د (دی) حکم څخه (چی دسلیمان ﷺ اطاعت کوی) مخ واړوی (یعنی په تسلیم او انقیاد سره کارنه کوی که څه هم په وجه دتسخیر سلیمان ﷺ د دوی څخه جبراً په کار اخیستلو قادر وی لکه چی دبیګاریانو څخه کار اخیستل کیږی نو) مونږ به هغه ته (په اخرت کی) د دوزخ عذاب وڅکوو (ددی څخه دا هم معلومه سوه چی څوك په تسلیم اوانقیاد سره کار وکی او پوره انقیاد دا دی چی ایمان هم اختیار کړی څکه چی هر نبی خپلو محکومینو ته ددی امر کوی نو بغیر ددی انقیاد نسته نو خلاصه دا سوه چی کوم پیری ایمان اواطاعت اختیار کړی هغه به د دوزخ دعذاب څخه محفوظ وی ، لکه چی مقتضا دایمان ده ، اوس مخ ته هغه کارونه ښیی په کومو چی پیریان مامور وه) یعنی هغه پیریانوبه دده دپاره هغه شیان جوړول کوم چی به دوی ته (جوړول) منظور وو ، لوی لوی ابادی اوتصویرونه اوخانکونه (داسی لوی) لکه حوض او (لوی لوی) دیګونه چی په یو ځای به پراته وه ، بنورول کیدی نه سوه (اومونږ دوی ته دا حکم ورکی چی څنګه مونږ تاسی ته نعمتونه هم درکړی دی) ای د داود ﷺ خاندان والاوو! (یعنی سلیمان ﷺ او دده متعلقین) تاسی ټول (ددی نعمتونو) په شکریه کی نیك کارکوی او زماپه بندګانوکی شکر ګذارکم وی (په دی وجه په دی شکر ګذاری کولو سره چی مقصودی طریقه یی نیك عمل دی ، تاسی ته به پریږدو خلګو امتیاز حاصل سی نو په دی جمله کی تحریض سو په شکر او نیك عمل باندی لکه چی داود ﷺ ته هم دَ، اِعْمَلُوا صَالِحًا ، حکم سوی وو او دغه شان هلته تسخیر دغرونو او مرغانو وو او دلته تسخیر دهوا اوپیریانو ذکر سو او هلته د اوسپنی نرمول وو او دلته دتانبی ، غرض دا چی په ټول ژوند کی دسلیمان ﷺ په مخکی دپیریانومعامله وه) بیا چی کله مونږ پرده (سلیمان ﷺ) باندی دمرګ حکم جاری کی (یعنی انتقال یی وفرمایی) نو (په داسی طور یی مرګ واقع سوچی پیریان ورڅخه خبرنه سول ، هغه داسی چی سلیمان ﷺ مرګ ته نژدی همسا

Maktaba Tul Ishaat.com

په دواړو لاسونوکی ونیوله ، ترزنی لاندی یی ولګوله ، په تخت کښینستی اوپه دی حالت کی یی روح قبض سو او دغه شان ترټوله کال پوری ناست وو ، پیریانو به دی ناست لیدی او ژوندی به یی ګنی ، دهیڅا مجال نه وو چی خوا ته یی ورسی یاښه په فکر سره ورته وګوری ، خاصکر چی څه وجه دشبهی نه وی او ژوندی یی ګنی، ددستور مطابق یی کار کوی او، څه شی دده دمرګ پته ونه ښوولە، مګر دمخکی چینجی چی هغه دسلیمان ﷺ همسا خوړله (تردی چی یوه حصه دهمسایی وخوړه نو هغه همسا راولوی ده ددی دلویدلو سره سلیمان ﷺ هم راولویدی) نوکله چی هغه راولویده (او دچینجی دخوړلو په اندازه سره معلومه سوه چی دده دوفات خو یوکال وسو) نوپیریانو ته (دخپلی دعوی دغیب دانی) حقیقت معلوم سو (هغه داچی) که هغوی په غیبو پوهیدی نو (ترټوله کاله پوری) به ددی ذلت په مصیبت کی نه وای پاته سوی (مراد ورڅخه سخت کارونه دی ، په کوموکی چی په وجه دمحکومیت ذلت هم وو او دمشقت په وجه مصیبت هم)

معلومات اومسئلې : لوړ دقیامت څخه دانکار کوونکو کافرانو بیان وو چی دمرګ او دجسم داندامونو دخپریدو څخه وروسته دوباره ددی جمع کول او په دی کی ژوند پیدا کول یی دعقل څخه خلاف ګڼل او انکار یی ورڅخه کوی په ذکرسوو ایتونوکی ددی استبعادلیری کولودپاره حق تعالی دحضرت داود اوسلیمان ﷺ قصی ځکه ذکرکړی چی الله ﷻ ددوی په لاسونوپه دی دنیاکی داسی کارونه وکړل کوم چی به خلګو محال ګڼل، مثلاً داوسپنی نرمول، هوا دحکم تابع کول، اوسپنه دبهیدونکو اوبو په شان جوړول.

وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُودَ مِنَّا فَضْلًا : یعنی ورکی مونږ داود ﷺ ته خپل فضل ، دفضل لفظی معنی زیاتی دی ، مراد هغه خاص صفتونه دی کوم چی دنورو څخه زیات دوی ته ورکول سوی وه ، هرنبی اوپیغمبرته الله ﷻ ځینی خاص صفتونه امتیازی ورکړی دی کوم چی د دوی مخصوص فضیلتونه ګڼل کیږی ، دحضرت داود ﷺ مخصوص صفتونه دا وو چی ده ته دخپل نبوت اورسالت سره دټولی دنیا سلطنت اوحکومت هم ورکول سوی وو او دخوش اوازی داسی صفت ورته ورکول سوی وو چی کله به دی دالله ﷻ په ذکر یا دزبور په تلاوت کی مشغول وو نو دهوا الوتونکی مرغی به یی اوریدو ته جمع کیدی ، دغه شان ورته دیری خصوصی معجزی ورکول سوی وی چی ذکر یی مخ ته راځی.

يَا جِبَالُ أَوِّبِي، أَوِّبِي دَآوِبِ : څخه مشتق دی چی معنی یی د دوباره کولو اوبیا دسره کولو ده ، مراد دا دی چی الله ﷻ غرونو ته حکم ورکړی وو چی هرکله حضرت داود ﷺ دالله ﷻ ذکر او تسبیح کوی نو غرونه دی هم دده سره دغه کلمه دوباره کوی.

دغه شان حضرت ابن عباس ﷺ دأَوِّبِي تفسیر په سَبِّحِي سره فرمایلی دی (ابن کثیر) دا دغرونو تسبیح کومه چی به هغوی دحضرت داود ﷺ سره کوله ، ددی عامی تسبیح څخه علاوه ، په کومه کی چی ټول مخلوقات شریك وی اوکومه چی هرڅای هر وخت په هره زمانه کی جاری ده ، لکه چی قرآن کریم فرمایلی دی ، وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَكِنْ لَا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ : یعنی ددنیا یو شی هم داسی نسته کوم چی دالله ﷻ دحمد ، ثنا اوتسبیح نه کوی ، مګر تاسی د دوی په تسبیح باندی نه پوهیږی ، دلته چی دکوم تسبیح ذکر دی ، هغه دحضرت داود ﷺ دمعجزی حیثیت لری په دی وجه دا ظاهره ده چی دا تسبیح به

Maktaba Tul Ishaat.com

عامو اوریدونکو ته هم اوریدل کیده او په پوهیدل به کنه نو بیا خو معجزه نه وه .

ددی څخه هم دا هم معلومه سوه چی دحضرت داود ﷺ داواز سره دغرونو اواز یو ځای کول او تسبیح وربسره ویل دا دَاواز دبازګشت (زانګی زانګی) په طور نه وو کوم چی په عام طور سره په ګنبده یاځاه وغیره کی داواز کولو څخه وروسته داواز په واپس کیدو سره اوریدل کیږی ، ځکه چی قرآن کریم دا په حضرت داود ﷺ باندی دخصوصی فضل اوانعام په حیثیت سره ذکر فرمایلی دی داواز په بازګشت کی دچا دفضیلت اوخصوصیت سره څه تعلق دی ، هغه خو دهرانسان برابره خبره ده که مسلمان وی اوکه کافر دبازګشت په ځای کی دده اوازهم واپس کیږی ، وَالطَّيْرَ، دالفظ په نحوی ترکیب کی دَسَخَّرْنَا محذوف مفعول کیدو په وجه سره منصوب دی (روح) معنٰی دا ده چی مونږ مرغان دحضرت داود ﷺ دپاره مسخر کړی وه ، مراد ددی تسخیر څخه دا دی چی مرغان به هم دده په اواز په هوا کی جمع کیدل او دده سره به یی دغرونو په شان تسبیح کوی ، لکه چی په یو بل آیت کی ذکر دی ، إِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهُ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ وَالطَّيْرَ مَحْشُورَةً : یعنی مونږ غرونه دحضرت داود ﷺ دپاره مسخر کړی وه چی سهار او مابنام دده سره تسبیح کوی اومرغان مو هم مسخرکړی وه ، وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ أَنِ اعْمَلْ سَابِغَاتٍ وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ: دا دوهمه معجزه ده چی اوسپنه مونږ دده دپاره نرمه کړی وه ، حسن بصری، قتاده، اعمش وغیره دتفسیر امامانو فرمایلی دی چی الله ﷻ په طور دمعجزی اوسپنه دده دپاره دمومو په شان نرمه کړی وه ، چی ددی څخه په څه شی جوړولو کی دده نه اورته ضروت راتلی اونه څه چتك یابلی آلی ته ، مخ ته په آیت کی ددی بیان دی چی اوسپنه مو دده دپاره ځکه نرمه کړی وه چی دی داوسپنی څخه زغری په اسانی سره جوړی کړی او په یو بل آیت کی دا هم ذکر دی چی الله ﷻ دزغرو جوړولو کار ده ته په خپله ښوولی وو وَعَلَّمْنَاهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَكُمْ:یعنی مونږ وښوول ده ته جوړول دزغرو اوپه دی آیت کی هم مخ ته چی قَدِّرْ فِي السَّرْدِ، راغلی دی دا هم ددی صنعت دښوونی تکمیل دی لفظ دَ، قَدِّرْ دَتقدیرځخه مشتق دی چی معنٰی یی په یوه اندازه جوړول دی اودسَرْدْ لفظی معنٰی اوبدل دی، مطلب دا دی چی په زغرو جوړولو کی ددی کړی متوازنی اومتناسبی جوړوه چی څه کوچنی اوځه لویی نه وی چی مضبوطه هم جوړه سی اونبه هم بنکاری دَ، قَدِّرْ فِي السَّرْدِ، داتفسیر دحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ څخه منقول دی ، (ابن کثیر)

فائده : ددی څخه دا هم معلومه سوه چی په صنعت کی دظاهری خوشحالی رعایت هم خوښ سوی شی دی چی ددی دپاره الله ﷻ خاص هدایت وفرمایی .

دوهمه فائده : ځینی حضراتو دَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ په تفسیرکی دتقدیر څخه دا مراد اخیستی دی چی ددی کاریګر دپاره دوخت یو مقدار معین کول په کار دی چی تول وختونه په دی کی تیر نه سی ، په دی تفسیر سره معلومه سوه چی کاریګرو او محنت کوونکو خلګو ته هم دا په کار دی چی دعبادت اوخپلو معلوماتو حاصلولو دپاره دخپل کار څخه څه وخت محفوظ کړی اوخپل وختونه تقسیم کړی (روح المعانی)

(دصنعت اوحرفت لوی فضیلت دی)

دذکر سوی آیت څخه ثابته سوه چی دضرورت دشیانو ایجاد اوصنعت یو داسی مهم شی دی چی حق

Maktaba Tul Ishaat.com

ته الی په خپله ددی دتعلیم ورکولو اهتمام وفرمایی اوخپلو عظیم الشانه پیغمبرانو ته یی ددی ښوونه کړي ده حضرت داؤد ﷺ ته دزغرو جوړولو کار ښوول ددي آیت څخه ثابت سول حضرت نوح ﷺ ته دکښتی جوړولو کار دغه شان وښوول سو، وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا : یعنی زمونږ په مخکی کښتی جوړ وه دمخامخ جوړولو مطلب دا دی چی مونږ درته څنګه ښودنه کوو، هغه شان یی جوړ وه ، دغه شان نورو انبیاؤ ﷺ ته هم مختلف کارونه ښوول دځینو روایتونو څخه ثابت دی دَ، الطِّبُّ النبوی په نوم سره داحادیثو یو کتاب امام حافظ شمس الدین ذهبی رحمه الله طرف ته دنسبت سره چاپ سوی دی په دی کی خو یی یو روایت دا نقل کړی دی چی دانسان دژوند دپاره څومره اهم اوضروری کارونه دی ، مثلاً مکان جوړول ، کپړه ابدَلْ، درختی بوټی کرل او شنه کوُل ، دخوراك شیان تیارول ، دحمل اونقل دپاره دپایانو ګاډی جوړول اوچلول وغیره دا ټول ضروری کارونه الله ﷻ دوحی په ذریعه خپلو پیغمبرانو ته ښوولی وه.

(کاریګرو خلګوته سپک کتل ګناه ده)

په عربوکی به مختلفو خلګو مختلف کارونه اوصنعتونه اختیارول، یوصنعت سپك اوذلیل نه ګڼل کیدی اودکسب یاکار په بنیاد به یوسړی کم یازیات نه ګڼل کیدی اونه به دکسبو په بنیاد څه برادری جوړي ده ، دکسبو په بنیاد برادری جوړول اوځینی کسبونه په حیثیت دکسب سپك اوذلیله ګڼل ، دا په هندوستان کی دهندوانو پیداوار دی ، د دوی سره په اوسیدو باندی په مسلمانانو کی هم دا اثرت قائم سول.

(حضرت داود ﷺ ته دزغرو جوړولو په ښوولو کي حکمت)

په تفسیر ابن کثیرکی داحادیثو دامام حافظ ابن عساکر په روایت سره یی نقل کړی دی چی حضرت داود ﷺ به دخپل خلافت اوسلطنت په زمانه کی شکل بدل کی او بازارونو وغیره ته به تلی او دمختلفو طرفونو څخه دراتلونکو خلګو څخه به یی پوښتنه کول ، چی داود ﷺ څنګه سړی دی؟ چونکه دحضرت داود ﷺ په سلطنت کی عدل اوانصاف عام وو اوټولو انسانانو به په ارام اوعیش سره ژوند تیر وی ، چاته دحکومت څخه هیڅ شکایت نه وو ، په دی وجه دچا څخه چی به یی پوښتنه کوله هغه به دحضرت داود ﷺ مدح او ثنا او په عدل انصاف شکر ادا کوی.

حق تعالی د دوی دتعلیم دپاره خپله یوه ملائکه په شکل دانسان را ولیږله ، هرکله چی حضرت داود ﷺ ددی کار دپاره ووتی نو دا ملائکه ورسره یو ځای سوه ، دعادت مطابق یی ددی څخه هم دغه پوښتنه وکړه ، ملائکی جواب ورکی چی داود ﷺ ښه سړی دی او دټولو انسانانو څخه هغه دخپل نفس دپاره هم او دخپل امت او رعیت دپاره هم ښه دی ، مګر په هغه کی یو عادت داسی دی چی که هغه نه وای نو هغه به بالکل کامل وای ، حضرت داود ﷺ پوښتنه وکړه هغه څه عادت دی ؟ ملائکی وویل چی دی خپل خوراك چښاك او دخپل اهل او عیال ګذاره دمسلمانانو دمال یعنی بیت المال څخه اخلی.

دا خبره چی یی واوریده حضرت داود ﷺ دالله ﷻ په مخکی دفریاد او زاری اودعا اهتمام وکی چی ماته یو داسی کار وښیی کوم چی زه دخپلو لاسونو په مزدوری سره پوره کوم او ددی په اجرت سره خپل او دخپل اهل اوعیال ګذاره وکړم اودمسلمانانو خدمت اودسلطنت ټول کار بی له معاوضی وکړم ، دده دعا الله ﷻ قبوله کړه او ده ته یی دزغرو جوړولو کار وښووی اوپیغمبرانه اعزاز یی داورکی چی اوسپنه یی

Maktaba Tul Ishaat.com

دده دپاره موم جوړه کړه چی دا جوړول ورته اسان سی او په لږ وخت کی خپله ګذاره پیدا کړی ، باقی وخت په عبادت او په کارونو دحکومت کی ولګول سی .

مسئله : خلیفه وخت یابادشاه ته چی خپل ټول وخت دحکومت په کارونوکی صرف کوی ، شرعًا دا جائزه ده چی خپله متوسطه ګذاره دبیت المال څخه اخلی ، لیکن که یوبل صورت یی دګذاری کیدی سی نو هغه زیات ښه دی ، په حضرت داود ﷺ باندی الله ﷻ دټولی دنیا خزانی خلاصی کړی وی او دزرو جواهراتو او دضرورت دټولو شیانو ډیره فراوانی وه ، او دالله ﷻ دطرف څخه ده ته دبیت المال په مال کی حسب منشاء دهر تصرف اجازت هم ورکول سوی وو ، آیت ، فَامْنُنْ أَوْ أَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ : کی یی دا اطمینان هم ورکړی وو چی ته څنګه غواړی خرڅ کوه ، ستا په ذمه حساب ورکول نسته ، مګر انبیاء چی حق تعالی په کوم لوړ مقام باندی ساتل غواړی ، ددی په تقاضا سره دا واقعه پیښه سوه او ددی څخه وروسته حضرت داود ﷺ به سره د دومره لوی حکومت په خپله مزدوری باندی خپله ګذاره پیدا کوله او په دی به یی قناعت کوی .

علماء کوم چی دتعلیم او تبلیغ خدمت مفت کوی او قاضی او مفتی کوم چی دخلګو په کارونو کی خپل وخت صرف کوی ، دهغوی هم دا حکم دی چی دبیت المال څخه خپل خرڅ اخستی سی ، مګر که څه بل صورت دګذاری وی کوم چی په دینی خدمت کی خلل هم نه اچوی نو هغه ښه دی .

فائده : دحضرت داود ﷺ ددی طرز عمل څخه چی دخپلو کارونو او عملونو او عادتونو متعلق به یی دخلګو رایه بی تکلفه او ازادانه معلومولو اهتمام فرمایی ، دا ثابته سوه چی خپل عیبونه چونکه بنده ته په خپله نه وی معلوم ، په دی وجه دنورو څخه تحقیق کول په کار دی ، حضرت امام مالك به هم ددی اهتمام فرمایی چی دا معلومه کړی چی عام خلګ دده په باره کی څه رایی لری .

وَلِسُلَيْمَانَ الرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ : دحضرت داود ﷺ دخصوصی فضیلتونو او انعامونو دذکر څخه وروسته یی دحضرت سلیمان ﷺ ذکر وفرمایی او ارشاد وسو چی لکه څنګه چی دحضرت داود ﷺ دپاره الله ﷻ غرونه او دهوا مرغان مسخرکړی وه ، دغه شان دحضرت سلیمان ﷺ دپاره یی هوا مسخره کړی وه او دحضرت سلیمان ﷺ تخت په کوم چی به دی سره دخپلو درباریانو دلوی شمیر سپریدی ، هوا به دده دحکم تابع وه کوم ځای ته چی به یی غوښتل بوتلی به یی ، حضرت حسن بصری رحمه الله فرمایی چی دهوا دتسخیر معجزه حضرت سلیمان ﷺ ته ددی عمل په بدله کی ورکول سوی وه چی یوه ورځ دی دخپلو اسونو په معائنه کی مشغول وو ، په دی کی داسی مشغوله سو چی دماځیګر لمونځ ور څخه قضاسو ، چونکی اسونه ددی غفلت سبب سوی وه ، دغفلت ددا سبب دختمولو دپاره حضرت سلیمان ﷺ دا اسونه ذبح کړل او قربان یی کړل (څکه چی دحضرت سلیمان ﷺ په شریعت کی دغوا غوایی په شان دآس قربانی هم جائز وه) او دا اسونه په خپله دحضرت سلیمان ﷺ ملکیت وو ، په دی وجه دبیت المال دنقصان سوال هم نه پیدا کیږی او دقربانی کولو په وجه سره دخپل مال دضائع کولو اشکال هم نه پاته کیږی ، ددی پوره تفصیل به په سورة صٓ کی راسی ، چونکی حضرت سلیمان ﷺ دخپلی سپرلی حیوانان قربانی کړل ، الله ﷻ ده ته ددی څخه ښه سپرلی ورکړه (قرطبی)

Maktaba Tul Ishaat.com

غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ دَغُدُوٌّ: معنی دسهارتلل اودرواح معنی دمابنام تلل دی، مطلب دایت داسو چی دسهارځخه ترغرمی پوری پردی تخت سلیمانی یی دهوا په اوږه دیوی میاشتی سفرقطع کوی اوبیابه یی دمابنام ځخه ترشپی پوری دیوی میاشتی دغه شان ددوه میاشتومسافت به یی په یوه ورځ کی قطع کوی حضرت حسن بصری فرمایی چی حضرت سلیمان ﷺ به په سهارکی دبیت المقدس ځخه روانیدی، غرمه به یی په اصطخر کی قیام فرمایی او دغه دوډی به یی هلته خوړه، بیا به ددی ځای ځخه ماښښین روانیدی نو کابل ته چی به رسیدی شپه سوی به وه، او دبیت المقدس او اصطخر په مینځ کی دومره مسافت دی چی په تیزه سپرلی تلونکی یی په یوه میاشت کی قطع کولی سی، دغه شان داصطخر ځخه تر کابله پوری مسافت هم په تیزه سپرلی تلونکی په یوه میاشت کی قطع کولی سی (ابن کثیر)

وَأَسَلْنَا لَهُ عَيْنَ الْقِطْرِ: یعنی وبهوله مونږ دسلیمان ﷺ دپاره چینه دتانبی، یعنی دتانبی په شان سخت معدن الله ﷻ دسلیمان ﷺ دپاره داوبو په شان بهیدونکی جوړکی چی داوبو دچینی په شان بهیده او گرمه هم نه وه چی په اسانی سره ددی ځخه لوښی او نور ضروریات جوړسی.

حضرت ابن عباس ؓ فرمایی چی دا چینه دومره ترلیری پوری جاری سوه چی مسافت یی په درو شپی ورځوکی قطع کیدی او دا مځکه په یمن کی وه او دمجاهد په روایت کی دی چی دا چینه دصنعاء یمن ځخه شروع سوه او د درو ورځو اوشپو په مسافت سره داوبو دچینی په شان جاری سوه، خلیل نحوی، فرمایی چې لفظ دقطر چې کوم په دی آیت کی راغلی دی ددی ځخه مراد ویلی سوی اوسپنه ده (قرطبی)

وَمِنَ الْجِنِّ مَنْ يَعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ دا جمله هم د، سَخَّرْنَا محذوف سره متعلق ده، معنی دا ده چی مسخر کی مونږ دسلیمان ﷺ دپاره په پیریانو کی داسی مخلوق کوم چی دده په مخکی دده کارونه وکړی دخپل رب دحکم موافق، د، بَيْنَ يَدَيْهِ: یعنی دده په مخکی، الفاظو په زیاتولو سره شاید دا ښوول وی چی دسلیمان ﷺ دپاره دپیریانو مسخر کول داسی نه دی لکه څنګه چی لمر سپوږمی وغیره دانسان دپاره دمسخر کولو ارشاد په قرآن کریم کی راغلی دی، بلکه دا تسخیر داسی وو چی پیریان به دنوکرانو چاکرانو په شان د دوی په مخکی په سپارل سوو خدمتونو کی لګیا وه.

(دپیریانو دتسخیر مسئله)

دپیریانو تسخیر چی کوم دلته ذکر دی، دا خو دالله ﷻ په حکم سره دی، په دی کی خو هیڅ سوال نه سی کیدی او دځینو صحابه کرامو ؓ متعلق چی په کومو روایتونو کی راغلی دی چی پیریان دهغوی مسخر او تابع وه، نو دا تسخیر هم دهغه قسم تسخیر ځخه وو کوم چی دالله ﷻ په اذن وو کوم چی په طور دکرامت دی حضراتو ته ورکول سوی وو، په دی کی دچا دعمل اووظیفی څه دخل نه وو، لکه چی علامه شربینی په تفسیر سراج المنیرکی تردی آیت لاندی دحضرت ابوهریره ؓ، ابی بن کعب ؓ، معاذ بن جبل ؓ، عمر بن خطاب ؓ، ابوایوب انصاری ؓ، زیدبن ثابت ؓ وغیره ډیر واقعات داسی لیکلی دی چی دهغه ځخه ثابتیږی چی پیریانو به د دوی اطاعت اوخدمت کوی، مګر دا ټول محض دالله ﷻ فضل اوکرم وو چی دحضرت سلیمان ﷺ په شان ځینی پیریان یی د دوی هم مسخر کړی وه، لیکن کوم تسخیر چی دعملیاتو په ذریعه په عاملانوکی مشهور دی، هغه قابل غور دی چی شرعًا ددی څه حکم

Maktaba Tul Ishaat.com

دی ؟ قاضی بدرالدین شبلی حنفی رحمه الله کوم چی داتمی صدی دعلماؤ څخه دی ، هغوی دپیریانو پراحکامو یو مستقل کتاب ، آکام المرجان فی احکام الجان، لیکلی دی په دی کی یی بیان کړی دی چی دپیریانو څخه دخدمت اخیستو کار دټولو څخه اول حضرت سلیمان علیه السلام دالله ﷻ په اذن په طور دمعجزی کړی دی او اهلِ فارس دجمشید بن او نجهان طرف ته نسبت کوی چی ده دپیریانو څخه خدمت اخستی دی دغه شان آصف بن برخیا وغیره چی تعلق یی دحضرت سلیمان علیه السلام سره پاته سوی دی د دوی متعلق هم دپیریانو دخدمت واقعات مشهور دی او په مسلمانانو کی دټولو څخه زیات شهرت دابو نصر احمد بن هلال البکیل او دهلال بن وصیف دی دکومو څخه چی دپیریانو عجیبه عجیبه واقعات ذکر دی هلال بن وصیف په یو مستقل کتاب کی دپیریانو کلمات کوم چی دوی دحضرت سلیمان علیه السلام په وړاندی پیش کړل اوکوم عهد او میثاق چی حضرت سلیمان علیه السلام د دوی څخه واخیستی هغه یی جمع کړی دی.

قاضی بدر الدین په دی کتاب کی لیکلی دی چی په عام طورسره دپیریانو دتسخیر عمل کوونکی عاملان دکفریه اوشیطانی کلمو اوسحرځخه کار اخلی کوم چی کافران پیریان او شیطانان خوښوی او د دوی دمسخر اوتابع کولو راز صرف دا دی چی هغوی د دوی ددی کفر اوشرك دکارونو څخه خوشحاله سی ، په طور درشوت د دوی څه کارونه هم کوی او ډیر په دی عملیاتوکی قرآن کریم په پلیتی یاوینه وغیره سره لیکی په کومو سره چی کافران پیریان یاشیطانان خوشحاله سی ، د دوی کارکوی ، البته دیو سړی ابن الامام متعلق لیکی چی دا دخلیفه معتضد بالله په زمانه کی وو ، پیریان ده دالله ﷻ دنومونو په ذریعه مسخر کړی وه ، په دی کی هیڅ خبره خلاف شرع نه وه (آکام المرجان ص ۱۰۰)

لنډه دا چی دپیریانو تسخیرکه دچا دپاره بغیر دقصد اوعمل څخه محضی دالله ﷻ دطرف څخه وسی لکه چی دحضرت سلیمان علیه السلام اوځینو اصحابو رضی الله عنهم متعلق ثابته ده ، دغه خو په معجزه یاپه کرامت کی داخله ده اوکوم تسخیر چی دعملیاتو په ذریعه کول کیږی ، په دی کی که دکفر کلمی یادکفر عملونه وو نو کفر دی او که صرف په معصیت مشتمل وی ، نو گناه کبیره ده او په کومو عملیاتو کی چی داسی الفاظ استعمال سی دکومو چی معنی معلومه نه وی ، دی ته هم فقهاؤ پردی بنا ناجائز ویلی دی چی کیدی سی چی په دی کلماتو کی په کفر شرك یامعصیت مشتمل کلمات وی ، قاضی بدرالدین په ، اکام المرجان ، کی دداسی نامعلومو معانیو والا دکلمو استعمال هم ناجائز لیکلی دی.

اوکه دتسخیر دا عمل دالله ﷻ دنومونو یاقرانی ایتونو په ذریعه وی او په دی کی دنجاست وغیره داستعمال معصیت هم نه وی نو دا په دی شرط سره جائز دی چی مقصود په دی سره دجناتو دازار څخه په خپله محفوظ کیدل یانور مسلمانان محفوظ کول وی یعنی دفع مضرت مقصود وی ، جلب منفعت یعنی نفع اخیستل مقصود نه وی ، ځکه چی که دا دمال گټلو کسب جوړ سو ، نو په دی وجه جائز نه دی چی په دی کی استرقاقِ حُر یعنی ازاد خپل غلام جوړول او بغیر دشرعی حق څخه دده څخه بیگار اخیستل دی کوم چی حرام دی ، والله تعالی اعلم

وَمَنْ يَزِغْ مِنْهُمْ عَنْ أَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ السَّعِيرِ: یعنی مونږ پیریانوته چی کوم حکم دحضرت سلیمان علیه السلام د اطاعت اوخدمت ورکړی وو که په دوی کی یوفرد ددی څخه انحراف وکړی نوده ته به داورعذاب ورکول

Maktaba Tul Ishaat.com

سی ، اکثرو مفسرینو ددی څخه داخرت او دجهنم عذاب مراد اخیستی دی ، اوځینی حضرات فرمایی چی په دنیا کی هم الله ﷻ په دوی یوه ملائکه مسلطه کړی وه چی کوم پیری به دحضرت سلیمان ﷺ په اطاعت کی کوتاهی کوله ، هغه به یی داور په کورو وهی اوپه کار کولو به یی مجبوره کوی (قرطبی) اوپه دی داشبهه نه سی کیدی چی پیریان خوپه خپله داورځخه پیدادی اور به په دوی څه اثرکوی ، ځکه چی دپیریانو داور څخه دپیداکیدو مطلب هغه دی کوم چی دانسان دخاوری څخه دپیدا کیدو دی یعنی غالب عنصر دانسان په وجود کی دخاوری دی ، مگر دی چی په لوټه یادبره سره وویشتل سی نوتکلیف ورته رسیږی دغه شان دپیریانو غالب عنصر اور دی مگر په خالص او تیز اور سره دغه هم سوځی .

يَعْمَلُونَ لَهُ مَا يَشَاءُ مِنْ مَحَارِيبَ وَتَمَاثِيلَ وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ وَقُدُورٍ رَاسِيَاتٍ : په دی آیت کی دهغو کارونو څه تفصیل دی کوم چی به حضرت سلیمان ﷺ دپیریانو څخه اخستل ، مَحَارِيب، دمحراب جمع ده کوم چی دمکان اشرف اواعلی حصی ته ویل کیږی ، بادشاه اولوی خلګ کوم چی دځان دپاره دحکومت کمره جوړوی ، دی ته هم محراب ویل کیږی اولفظ دمحراب دحرب په معنی دجنګ څخه مشتق دی ، یو سړی چی خپل حکومت کرده خاص جوړوی دا دنورو درسایی څخه محفوظ ساتی ، په دی کی چی څوک لاس اچول اولاس غځونه کوی نو دهغه خلاف جنګ کوی ، په دی مناسبت سره دمکان مخصوصی حصی ته محراب وایی په جماتونوکی دامام د دریدوځای ته هم په دی امتیاز محراب وایی اوکله په خپله جماتونه دمحاریب په لفظ سره تعبیر کیږی ، په پخوانی زمانه کی دمحاریبو دبنی اسرائیلو څخه او په اسلام کی دمحاریبِ صحابه ﷺ څخه د دوی جماتونه مراد دی .

(په جماتونو کې دمحراب دپاره دمستقل مکان جوړولو حکم)

دنبی کریم ﷺ اودخلفاءِ راشدینوترزمانی پوری دامام د دریدو ځای دیوجلامکان په حیثیت سره دجوړولو رواج نه وو ، دقرونِ اولی څخه وروسته بادشاهانو ددی رواج دخپل تحفظ دپاره وکی اوپه عامو مسلمانانو کی ددی رواج په دی مصلحت سره هم وسو چی امام کوم ځای ودریږی هغه ځای ترپوره صف پوری خالی وی دلمانځه کوونکو دډیروالی اودجماتونو دتنګوالی ترمخه صرف دامام ددریدو ځای دقبلی په دیوال کی دننه جوړیږی چی دده ترشاته پوره صفونه ودریږی چونکی دا طریقه په قرون اولی کی نه وه په دی وجه ځینی عالمانو دی ته بدعت ویلی دی ، شیخ جلال الدین سیوطی رحمه الله په دی مسئله یوه مستقله رساله په نوم د ، اعلام الارانیب فی بدعة المحاریب لیکلی ده اوتحقیق اوصحیح خبره داده چی که داسی محرابونه دلمانځه کوونکو دسهولت اودجماتونودمصلحت ترمخه جوړسی اومقصودی سنت ونه ګڼل سی ، نو دی ته دبدعت ویلو هیڅ وجه نسته ، البته که ددی څخه مقصودی سنت جوړ سی او ددی څخه په خلاف کوونکی نکیر کیږی نو په دی غلو سره به دا عمل په بدعت کی داخلیدی سی .

مسئله : په کومو جماتونوکی چی دامام محراب دیومستقل مکان په صورت کی جوړیږی ، هلته په امام لازمه ده چی دهغه محراب څخه څه قدر دباندی داسی ودریږی چی دده قدمونه دمحراب څخه دباندی دلمونځ کوونکو طرف ته وی چی دامام اومقتدیانو مکان یو شمیرل کیږی ، کنه نو دا صورت مکروه او ناجائز دی چی امام په جلا مکان کی یوازی ولاړ وی اوټول مقتدیان په بل مکان کی ، په ځینو جماتونو

Maktaba Tul Ishaat.com

کی محراب دومره پلن اوپراخ جوړیږی چی یولنډ غوندی صف دمقتدیانو هم په دی کی راسی، په داسی محراب کی که یوصف دمقتدیانو هم په محراب کی ودریدی اوامام د دوی څخه په پوره محراب کی ولاړ وی نو دامام او مقتدیانو دمکان دشریك والی په وجه به کراهت نه وی.

تَمَاثِیل دتِمْثَال جمع ده ، په قاموس کی دی چی تِمْثَال په زبر دتاء مصدر دی اوپه زیر دتاء تِمْثَال تصویر ته ویل کیږی ابن عربی په احکام القرآن کی فرمایی چی تِمْثَال یعنی تصویر دوه قسمه وی ، یو دذی روح جاندارو شیانو تصویر، دوهم دغیر ذی روح بی جانه شیانو تصویر، بیاپه بی جاندارو شیانوکی دوه قسمونه دی یو جماد چی زیاتوالی اونمو په کی نه وی لکه ډبره لوټه وغیره، دوهم نامی چی نمو اوزیاتی په کی کیږی لکه درخته اوفصل وغیره، پیریانو به دحضرت سلیمان ﷺ دپاره ددی ټولوشیانو تصویرونه جوړول ، اول خو دلفظ دتَمَاثِیل دعموم څخه داخبره معلومیږی چی دا تصویرونه دیو خاص قسم نه دی ، بلکه دهرقسم دپاره عام وه ، دوهم په تاریخی روایتونوکی دحضرت سلیمان ﷺ په تخت باندی دمرغانو دتصویرونو سته والی هم ذکر دی.

(په اسلامي شریعت کي دجاندار دتصویر جوړولو او استعمالولو ممانعت)

دذکرسوی آیت څخه معلومه سوه چی دحضرت سلیمان ﷺ په شریعت کی دجاندارو تصویرونه جوړول او استعمالول حرام نه وه ، مګرچونکی په تیرو امتونوکی دا ولیدل سوه چی دخلګو تصویرونه یی د دوی دیادګار په طور جوړ کړل او په خپلو عبادتخانو کی یی په دی غرض سره کښیښوول چی د دوی په لیدو سره د دوی دعبادت کولو نقشه مخ ته راځی نو مونږ ته به هم دعبادت توفیق کیږی ، مګر کرار کرار هغو خلګو دا تصویرونه خپل معبودان جوړ کړل اوبت پرستی شروع سوه.

لنډه دا چی په تیرو امتونوکی دجاندارو تصویرونه دبت پرستی ذریعه جوړه سوه ، داسلامی شریعت دپاره چونکی ترقیامته پوری قائم اوباقی ساتل تقدیر الهی دی ، په دی وجه په دی کی ددی خاص اهتمام وسو چی څنګه اصل حرام شیان اوګناهونه حرام او ممنوع سوی دی دغه شان د دوی نژدی ذریعی او اسباب هم داصل ګناهونو سره پیوست سوی دی اوحرام ګرځول سوی دی ، اصل جرم کفر، شرك اوبت پرستی ده څکه ددی ممانعت وسو نو په کومو لارو سره چی بت پرستی راتلی سی په هغو لارو هم شرعی پهره کښینول سوه او دبت پرستی نژدی ذریعی اواسباب هم حرام سول. دجاندارو شیانو تصویرونه جوړول او استعمالول ددی اصولو په بنا حرام سول، دنبی کریم ﷺ په صحیح متواترو احادیثو سره ددی حرمت ثابت دی.

دغه شان شراب حرام سوه ، نو ددی اخیستل خرڅول دوړلو راوړلو مزدوری یی جوړول ټول حرام سول کوم چی دشراب نوشی ذریعی دی ، غلا حرامه سوه نو دچا کور ته بغیر داجازت څخه داخلیدل بلکه ددباندی څخه یی ننداره کول هم منع سوه ، زناحرامه سوه ، نو غیرمحرم ته قصداً نظرکول هم حرام سو ، په اسلامی شریعت کی ددی بی شمیره مثالونه موجود دی.

(دتصویر په حرامولي یوه عامه شبهه اوددی جواب)

داسی ویل کیږی چی دنبی کریم ﷺ په مبارکه زمانه کی چی تصویر په کوم حیثیت سره استعمالیدی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه ذریعه دبت پرستی جوړیدی سوه ، لیکن نن صبا دتصویر څخه چی کوم کاراخستل کیږی، دملزمانو شناخت دتجارتونو خاص مارك، ددوستانو عزایزانو سره ملاقات، دواقعاتو اوحالاتو په تحقیق کی امداد وغیره په وجه سره دژوند په ضرورتونوکی داخل سوی دی، په دی کی دبت پرستی اوعبادت څه لیږی تصورهم نسته نودا ممانعت کوم چی دبت پرستی په خطره سره سوی وو اوس پورته کول په کار دی جواب دا دی چی اولاً دا ویل هم صحیح نه دی چی نن صبا تصویر دَبت پرستی ذریعه نه ده پاته سوی، نن هم چی څومره فرقی اوډلی دی کومی چی دخپلو مشرانو دتصویر پوجا پاټ کوی اوکوم حکم چی په څه علت باندی دائر وی ، دا ضروری نه ده چی هغه دی په هرفردکی پیدا کړل سی ددی څخه علاوه دتصویر دممانعت سبب صرف دایونه دی چی دا دبت پرستی ذریعه ده ، بلکه په صحیح احادیثوکی ددی درحمت نوری وجهی هم مذکور دی ، مثلاً داچی تصویر سازی دالله ﷻ دخاص صفت تقالی ده مصور دحق تعالی داسماء حسنٰی څخه یونوم دی اوصورت جوړول په حقیقت کی دهغه دپاره سزاوار اودهغه په قدرت کی ده چی دمخلوقاتو په زرګونو جنسونه اوقسمونه اوپه هرقسم کی په کروړونو افراد وی ، دیوه صورت دبل سره نه یو ځای کیږی ، انسان واخله نو دسړی په صورت او دښځی په صورت کی ښکاره فرق ، بیا دښځو اوسړو په کروړونو افرادو کی دوه افراده بالکل یوشان نه دی سوی ، داسی ښکاره فرقونه په کی وی چی لیدونکی په کی بغیر دځه تامل اوښه فکرځخه امتیازکولی سی ، دا صورت ګری دالله ﷻ رب العزت څخه ماسوا دچاپه قدرت کی ده ؟ کوم انسان چی دجاندار مجسمه یاپه نقشونو اورنګ سره دده تصویر جوړ وی ، هغه ګویا په عملی طور ددی مدعی دی چی دی هم صورت ګری کولی سی ، په دی وجه دصحیح بخاری وغیره په احادیثوکی دی چی په قیامت کی به تصویر جوړوونکو ته وویل سی چی کله تاسی زمانقل کوی نو اوس یی مکمل کړی وښیاست که ستاسی په وس کی وی ځکه چی مونږ خو صرف صورت نه دی جوړکړی ، روح مو هم په کی اچولی دی که تاسی ددی تخلیق دعوٰی کوی نو په خپل جوړ سوی صورت کی روح هم اچولی وښیاست.

یوسبب دتصویر دممانعت په صحیح احادیثوکی دا هم راغلی دی چی دالله ﷻ دملائکو دتصویر اوسپی څخه نفرت دی ، په کوم کورکی چی دا شیان وی ، په هغه کی درحمت ملائکی نه دا خلیږی چی ددی په سبب دهغه کور برکت اونورانیت ختم سی ، دکور داوسیدونکو دعبادت اوطاعت توفیق کم سی او ددی سره دامشهوره مقوله هم غلطه نه ده (خانه خالی رادیو می گیرد) یعنی پرخالی کور پیریان اوشیطانان قبضه کوی ، هرکله چی یوکور درحمت دملائکو څخه خالی وی نوشیطانان دغه کور ګیر کړی او ددی کور داوسیدونکو په زړونوکی دګناهونو وسوسی اوبیا ارادی پیدا کوی.

یو سبب په ځینی احادیثوکی دا هم راغلی دی چی تصویرونه ددنیا دضرورت څخه زیات زینت دی او په دی زمانه کی چی څنګه دتصویرونو څخه ډیری فائدی حاصلیږی ، په زرګونو جرمونه اوفحاشی هم ددی تصویرونو څخه پیدا کیږی ، غرض دا چی اسلامی شریعت په یوه وجه سره نه په ډیرو اسبابو نظر کړی دی ، دجاندار تصویر جوړول او ددی استعمالول یی حرام ګرځولی دی اوس که فرض کړه په یو خاص فرد کی دغه اسباب اتفاقًا موجود نه وی نو په دی اتفاقی واقعی سره شرعی قانون نه سی بدلیدی.

Maktaba Tul Ishaat.com

په صحیح بخاری اومسلم کی په روایت دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ دا حدیث راغلی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، اَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا یَوْمَ الْقِیٰمَةِ الْمُصَوِّرُوْنَ : یعنی دټولو څخه زیات سخت په عذاب کی به دقیامت په ورځ تصویر جوړونکی وی ، او دحدیث په څینو روایتونو کی پرتصویر جوړونکو نبی کریم ﷺ لعنت فرمایلی دی اوپه صحیحینو کی دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، کُلُّ مُصَوِّرٍ فِی النَّارِ : الحدیث ، یعنی هر تصویر جوړونکی به جهنم ته څی .

ددی مسئلی متعلق دحدیثو روایتونه اودسلفو دعمل څخه شواهد په تفصیل سره احقر په خپله رساله ، التصویر لاحکام التصویر، کی جمع کړی دی او دخلګو دشبهو جوابونه هم په دی کی په تفصیل سره دی ، که ضرورت وی نو هلته یی لیدی سی .

(دفوټو تصویر هم تصویر دی)

دڅینو خلګو دا خبره قطعًا غلطه ده چی فوټو دتصویر څخه خارج دی ځکه چی دغه خوسایه اوعکس دی لکه په اثینه او اوبو وغیره کی چی راڅی ، نو لکه څنګه چی په اثینه کی خپل صورت لیدل جائز دی داسی دفوټو تصویر هم جائز دی ، جواب واضح دی چی عکس اوسایه ترهغه وخته عکس دی ترڅو چی هغه په یو ذریعه قائم اوپائیدار جوړ نه سی ، لکه په اثینه یا اوبوکی خپل عکس ، هرکله چی داوبو یا اثینی دمخامخ ځای څخه په څنګ سی نو ختم سی ، که په اثینه سربیره دیومسالی یاالی په ذریعه ددی عکس صورت پائیدار جوړ سی نو دا تصویر سو چی حرمت اوممانعت یی په متواترو احادیثو سره ثابت دی ، دفوټو مفصل بحث هم په ذکر سوی رساله ، التصویر، کی لیکل سوی دی .

جِفَانٍ ، دَجَفْنه جمع ده چی داوبولوی لوښی لکه خانك یاټپ وغیره ته ویل کیږی ، کَالْجَوَابِ، دَجَابِیَةٌ جمع ده، کوچنی حوض ته جابیه وایی، مراد دادی چی داوبودپاره به یی لوی لوښی داسی جوړول چی دورو کی حوض هومره اوبه به په کی راتلی، قُدُوْرٍ دقِدْرٌ په زیر دَقاف سره جمع ده چی کتوی ته ویل کیږی .

رٰسِیٰتٍ، په خپل ځای ولاړ، مراد دا دی چی دومره وزنی اولوی دیګونه به یی جوړول چی ښورولی به نه سول او ممکنه ده چی دا دیګونه به یی دډبری دتراش کولو څخه د ډبرو په نغریو سربیره لګیدلی جوړول چی دورلوقابل اودځای څخه دښورولوبه نه وه ، دتفسیر امام ضحاك دَ، قُدُوْرٍ رٰسِیٰتٍ، دا تفسیر کړی دی

اِعْمَلُوْا اٰلَ دَاوٗوْدَ شُكْرًا وَقَلِیْلٌ مِنْ عِبَادِیَ الشَّكُوْرُ : حضرت داود اوسلیمان ﷺ ته الله ﷻ خپل مخصوص انعامات ورکړل او په خپل مخصوص فضل سره یی ونمانځل ، ددی بیانولو څخه وروسته دوی ته سره داهل اوعیال دشکر ګذاری حکم په دی آیت کی ورکول سو .

(دشکر حقیقت اوددی احکام)

قرطبی فرمایی چی دشکرحقیقت دا دی چی ددی اعتراف وکی چی دانعمت فلانی منعم راکړی دی اوبیا دا دده دطاعت اومرضی مطابق استعمال کړی اودچاورکړی نعمت دهغه دمرضی څخه خلاف استعمالول ناشکری اوکفران نعمت دی ددی څخه معلومه سوه چی شکرلکه څنګه په ژبه سره کیدی سی دغه شان په عمل سره هم شکرکیدی سی، اوعملی شکرددی منعم دطاعت اومرضی مطابق استعمال دی ، (ابن کثیر) اوابوعبدالرحمان سلمی ، فرمایلی دی چی لمونځ شکر دی ، روژه شکر دی او هر نیك کار شکر دی او

Maktaba Tul Ishaat.com

محمد بن کعب قرظی فرمایی چی شکر دتقوٰی اونیك عمل نوم دی (ابن کثیر)

په ذکر سوی آیت کی قرآن کریم دشکر دحکم دپاره دمختصرلفظ اُشْکُرُوْنِیْ په ځای باندی ، اِعْمَلُوْا شُکْرًا ، استعمال وفرمایی اوشاید دی طرف ته یی اشاره وفرمایله چی دال داود ځخه مطلوب عملی شکر دی ، چنانچی ددی حکم تعمیل حضرت داود اوسلیمان علهیم السلام او د دوی خاندان په قول اوعمل دواړو سره داسی وکی ، چی د دوی په کور کی به یو وخت داسی نه تیریدی چی دکور یوفرد به دالله ﷻ په عبادت کی نه وو لګیا ، دخاندان په افرادو باندی یی وختونه تقسیم کړی وه ، دغه شان به دحضرت داود ﷺ مصلّی یو وخت هم دلمانځه کوونکو ځخه خالی نه وه (ابن کثیر)

په بخاری اومسلم کی حدیث دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی په لمونځونو کی دالله ﷻ په نزد زیات محبوب دحضرت داود ﷺ لمونځ دی ، هغه به نیمه شپه بیده کیدی ، بیابه دریمه حصه شپه په عبادت کی ولاړوو ، بیابه په اخری شپږمه حصه کی بیده کیدی اوپه ټولو روژوکی زیاته محبوبه دالله ﷻ په نزد روژه دحضرت داود ﷺ ده چی دهغه به یوه ورځ روژه وه اویوه ورځ به روژه ماتوونکی (یعنی بی روژی) وو (ابن کثیر)

دحضرت فضیل رحمه الله ځخه نقل دی چی هرکله په حضرت داود ﷺ باندی دشکر داحکم نازل سو نو دوی الله ﷻ ته عرض وکی چی ای زما پروردګاره زه ستا شکر ځنګه پوره کولی سم ، هرکله چې زماشکر قولی وی اوکه عملی ، هغه هم ستا راکړی نعمت دی ، په دی هم مستقل شکرواجب دی الله ﷻ ارشاد وفرمایی اَلْاٰنَ شَکَرْتَنِیْ یَادَاوٗدُ ، یعنی ای داوده ﷺ اوس تا شکر ادا کی ، ځکه چی دشکر دحق ادا کولو ځخه دی خپل عجز او قصور وپیژندی او اعتراف دی وکی .

حکیم ترمذی اوامام ابوبکر جصاص دحضرت عطاء بن یسار ؒ ځخه روایت کړی دی چی هرکله داایت نازل سو ، اِعْمَلُوْٓا اٰلَ دَاوٗدَ شُکْرًا ، نونبی کریم ﷺ منبر ته تشریف را وړی او دا ایت یی تلاوت وفرمایی ، بیا یی ارشاد وفرمایی چی دری کارونه داسی دی کوم سړی چی دا پوره کړی نوکوم فضیلت چی الِ داود ﷺ ته ورکول سوی وو هغه به ده ته هم حاصل سی ، صحابه کرام ؓ عرض وکی چی هغه دری کارونه څه دی؟ دوی ﷺ وفرمایل چی درضا اوغضب په دواړو حالتونو کی په انصاف قائم پاته کیدل او دغناء اوفقر په دواړو حالتونو کی اعتدال اومیانه روی اختیارول ، او په پته اوښکاره دواړو حالتونو کی دالله ﷻ ځخه بیره کول (قرطبی ، احکام القرآن ، جصاص)

وَقَلِیْلٌ مِّنْ عِبَادِیَ الشَّکُوْرُ: دشکر دحکم اوتاکید ځخه وروسته یی ددی واقعی هم اظهار وفرمایی چی زما په بندګانوکی شکر ګذارکم وی ، په دی کی هم دمومن دپاره خبردار کول اوتحریض دی په شکر باندی .

فَلَمَّا قَضَیْنَا عَلَیْهِ الْمَوْتَ الاٰیة ، په آیت کی لفظ دَآبَّةُ ، مِنْسَاْتَهٗ ، دهمسا اولاتی په معنٰی کی دی ، ځینی حضرات فرمایی چی دا دحبشی ژبی لفظ دی ، په معنٰی دهمساء اوځینی فرمایی چی عربی لفظ دی ، دنَسَاء معنٰی اخواته کول او وروسته کول دی ، دلاتی په ذریعه انسان مضر شیان اخواته کوی ، په دی وجه دی ته مِنْسَاة ، وویل سوه ، یعنی داخواته کولو اله ، په دی آیت کی یی دحضرت سلیمان ﷺ دمرګ عجیبه واقعه بیان کړه او دډیرو عبرتونو اوهدایتونو دروازه یی خلاصه کړه .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿دحضرت سلیمان ﷺ دمرګ عجیبه واقعه﴾

په دی واقعه کی ډیرهدایتونه دی مثلاً دا چی حضرت سلیمان ﷺ چاته چی داسی بی مثله حکومت اوسلطنت حاصل وو چی صرف په ټوله دنیانه بلکه په پیریانو، مرغانو اوهوا باندی هم د دوی حکومت وو، مګر ددی ټولو سامانونو باوجود دمرګ څخه هم ده ته نجات نه وو، او دا چی مرګ خو یی په مقرره وخت راغلی وو، دبیت المقدس ابادی کومه چی حضرت داود ﷺ شروع کړه، بیاحضرت سلیمان ﷺ ددی تکمیل وفرمایی په دی کی څه کار دتعمیر باقی وو، دا دتعمیر کار پیریانوته سپارل سوی وو دکومو په طبیعت کی چی سرکښی غالبه وه، دحضرت سلیمان ﷺ دبیری څخه یی کار کوی، د دوی دوفات علم که پیریانو ته وسی نو فوراً به کار پریږدی اوتعمیر به پاته سی، ددی انتظام حضرت سلیمان ﷺ دالله ﷻ په اذن سره داسی وکی، چی کله یی دمرګ وخت راغی نو دمرګ تیاری یی وکړه او په خپل محراب کی دا خل سوکوم چی دصفا چینبی څخه جوړ سوی وو، دباندی څخه به ددنه ټول شیان په نظر راتلل او دخپل معمول مطابق دعبادت دپاره یی یوه پناه واخیسته ودریدی، چی دروح تللو څخه وروسته هم جسم دی ددی همسا په تکیه په خپل ځای ولاړ وی، دحضرت سلیمان ﷺ روح په مقرر وخت قبض سو، مګر دی ﷺ دخپلی همساپه وجه په خپل ځای ولاړ وو، ددباندی څخه داسی په نظر راتلی چی په عبادت کی مشغول دی، دپیریانو دا مجال نه وو چی نژدی ورسی ویی وینی، حضرت سلیمان ﷺ به یی ژوندی ګنی او په کار کی به مشغول وو، تردی چی ټول کال تیر سو او دبیت المقدس دتعمیر باقی کار پوره سو نوالله ﷻ دګرګی چینجی چی په فارسی کی ورته، دیوك، او په اوردو کی ورته، دیمك، وایی، اوقرآن کریم دی ته، دَابَّةُ الْاَرْضِ: ویلی دی، دا یی دحضرت سلیمان ﷺ په همسا باندی مسلط کی، دی چینجی دهمسا لرګی ددننه څخه وخوړی اوکمزوری یی کی، چی دهمسا زور ختم سو، نوحضرت سلیمان ﷺ را ولویدی، دغه وخت پیریان دده دمرګ څخه خبرسول.

پیریانو ته الله ﷻ د ډیر لیری مسافت په یوځو سکنډه کی دقطع کولو قوت ورکړی دی، دوی ددیرو داسی حالاتو او واقعاتو خبر ورکوی نو انسانان داسی ګنی چی دوی دغیبو څخه خبر دی اوپیریانو ته هم علم غیب حاصل دی، په خپله پیریان که هم دعلم غیب دعوٰی کوی نو بعیده نه ده، دمرګ دی عجیبه واقعی ددی حقیقت هم بنکاره کی، په خپله پیریانوته هم پته ولګیده اوټولو انسانانو ته هم چی پیریان په غیبو عالمان نه دی، ځکه چی که دوی ته دغیبو علم وای، نودحضرت سلیمان ﷺ دمرګ څخه به یو کال مخکی خبر سوی وای او دا دټول کال محنت اومشقت چی هغه یی ژوندی ګنی، برداشت کوی یی ددی څخه به محفوظ سوی وای، دایت په اخری جمله کی ددی بیان دی، فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ اَنْ لَّوْ كَانُوا يَعْلَمُوْنَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوا فِي الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ: په دی کی عذاب مهین څخه مراد هغه دمحنت مشقت کار دی په کوم باندی چی دبیت المقدس دتکمیل دپاره دوی حضرت سلیمان ﷺ لګولی وه، دحضرت سلیمان ﷺ دمرګ داعجیبه واقعه څه خو په خپله دقرآن په دی آیت کی ذکر ده، باقی تفصیل یی دحضرت ابن عباس ﷺ وغیره دتفسیر امامانو څخه نقل دی کوم چی په ابن کثیر وغیره تفسیرونو کی نقل سوی دی.

ددی عجیبه واقعی څخه دا عبرت هم حاصل سو چی دمرګ څخه هیچا ته خلاصی نسته او دا هم چی الله

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ کوم کار کول غواړی ، دهغه چې څنګه غواړی انتظام کولی سی ، لکه په دی واقعه کی چی وسوه چی دمرګ باوجود یی حضرت سلیمان ﷺ تریوکال پوری په خپل ځای ولاړ وساتی اوپه پیریانو یی کار پوره کی او دا هم چی ددنیاپول اسباب اوالات ترهغه وخته پوری کارکولی سی ترڅو پوری چی خدای ته منظوره وی ، کله چی منظوره نه وی نوالات اواسباب جواب ورکی ، لکه دلته چی یی دهمسا تکیه دچینجی په ذریعه ختمه کړه او دا هم چی دحضرت سلیمان ﷺ دوفات څخه وروسته خطره وه چی خلګ دپیریانو حیرت انګیزی کارونه اوپه ظاهره دغیب دشیانو څخه د دوی دخبریدو وغیره عجیبه کارونه ووینی ، همسی نه چی دوی خپل معبودان جوړ نه کړی ، دا خطره هم دمرګ دی واقعی ختمه کړه اوهر چاته دپیریانو بی خبری اوبی وسی معلومه سوه .

دذکر سوی تقریر څخه دا هم معلومه سوه چی حضرت سلیمان ﷺ دمرګ په وخت کی دا خاص طریقه په دوو وجهواختیار کړی وه اول دا چی دبیت المقدس دتعمیر باقی مانده کار پوره سی ، دوهمه دا چی دی خلګوته دپیریانو بی خبری اوبی وسی واضحه سی، چی ددوی دعبادت کولو خطره پاته نه سی (قرطبی)

امام نسایی په صحیح اسنادوسره دحضرت عبد الله ابن عمر ﷺ څخه دا روایت کړی دی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی کله حضرت سلیمان ﷺ دبیت المقدس دجوړولو څخه فارغه سو نوالله ﷻ څخه یی څو دعاګانی وغوښتلی کومی چی قبولی سوی ، په هغه کی یوه دعا دا ده چی کوم سړی دجمات ته صرف دلمانځه په نیت سره دا خل سی (بل څه دنیاوی غرض یی نه وی) ددی جمات څخه دوتلو څخه مخکی دی دتولو ګناهونو څخه داسی پاک کړی لکه چی هغه وخت پاک وو کله چی دمور دنس څخه پیدا سوی وو .

او دسدی په روایت کی دا هم دی چی دبیت المقدس دتعمیر څخه په فارغه کیدو باندی حضرت سلیمان ﷺ په طور دشکرانی دولس ۱۲۰۰۰ زره غوایان غواګانی اوشل زره ۲۰۰۰۰ بیزی قربانی کړی، خلګوته یی عام دعوت ورکی اوپه دغه ورځ یی خوشحالی وکړه اوپه صخره بیت المقدس ودریدی اوالله ﷻ څخه یی دا دعاګانی وغوښتلی چی ، یا الله! تاماته دا قوت او وسائل را کړل چی دبیت المقدس تعمیر په مکمل سو نو یا الله! ماته ددی هم توفیق راکړی چی زه ستا ددی نعمت شکر ادا کړم اوماته په خپل دین وفات را کړی او دهدایت څخه وروسته زماپه زړه کی څه خیری اوکوږوالی مه راولی اوعرض یی وکی چی ای زما پروردګاره! کوم سړی چی دی مسجد ته دا خل سی ، دهغه دپاره ستا څخه پنځه شیان غواړم یو دا چی څوک ګناهګار توبه کوونکی دی جمات ته دا خل سی نو ته دهغه توبه قبوله کړی اودهغه ګناهونه معاف کړی ، دوهم دا چی کوم سړی دڅه خوف اوخطر څخه دمحفوظ کیدو دپاره دی جمات ته دا خل سی نو ته هغه ته امن ورکړی او دخطراتو څخه ورته نجات ورکړی ، څلورم دا چی څوک فقیر سړی دی ته دا خل سی هغه غنی کړی ، پنځم دا چی کوم سړی دی ته دا خل سی نو ترڅو پوری چی هغه په دی کی وی ، ته خپل نظر دعنایت او رحمت په هغه ساتی ، بغیر دهغه سړی څخه چی دڅه ظلم یابی دینی په کار کی مشغول وی (قرطبی)

ددی حدیث څخه معلومیږی چی دبیت المقدس دابادی کار دحضرت سلیمان ﷺ په ژوند کی مکمل سوی وو ، مګر کومه واقعه چی لوړه ذکر سوې ده هغه څه ددی منافی نه ده چی داصل تعمیر دمکمل

Maktaba Tul Ishaat.com

کیدو څخه وروسته په لویو ابادیو کی ځینی کارونه پاته وی ، هغه باقی وی چی دهغه دپاره حضرت سلیمان ﷺ ذکر سوی تدبیر اختیار کړی وی .

دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دا هم نقل دی چی ترمرګ وروسته دهمسا په تکیه حضرت سلیمان ﷺ یو کال ولاړ وو (قرطبی) اوپه ځینو روایتونوکی دی چی کله پیریانو ته دا معلومه سوه چی دحضرت سلیمان ﷺ دمرګ زمانه سوې ده اومونږ بی خبره وو نو دمرګ دمودی معلومولو دپاره یی دا تدبیر وکی چی یو لرګی ته یی چینجی ورپریښووی ، په یوه شپه او ورځ کی چی څومره لرګی چینجی وخوړی نو په دی سره یی حساب ولګوی چی دحضرت سلیمان ﷺ په همسا باندی دغه ډول یو کال تیر سوی دی .

فائده : بغوی دتاریخ دعالمانو په حواله سره نقل کړی دی چی دحضرت سلیمان ﷺ عمر ټول دری پنځوس ۵۳ کاله سوی وو او دده حکومت څلویښت ۴۰ کاله وو ددیارلسو ۱۳ کالو په عمر کی یی دحکومت کار سنبال کی او دبیت المقدس دتعمیر کار یی دخپل حکومت په څلورم کال شروع کړی وو ، (مظهری ، قرطبی)

لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ فِيْ مَسْكَنِهِمْ اٰيَةٌ ۚ جَنَّتٰنِ عَنْ

په تحقیق سره وه دقوم دسبا دپاره د دوی په کورونو کی نښانه دوه باغونه

يَّمِيْنٍ وَّشِمَالٍ ۭ كُلُوْا مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوْا لَهٗ ۭ بَلْدَةٌ

راسته اوچپه طرف ته ، خوری رزق دخپل رب او دهغه شکر ادا کوی ښار دی

طَيِّبَةٌ وَّرَبٌّ غَفُوْرٌ ۝۱۵ فَاَعْرَضُوْا فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ

پاکیزه او رب دی ګناه بخښونکی ، نو دوی مخ واړوی بیا مونږ را ولیږی په باندی سیلاب د زور

وَبَدَّلْنٰهُمْ بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ اُكُلٍ خَمْطٍ وَّاَثْلٍ وَّشَيْءٍ

اومونږ ورکړل هغو ته په بدله د دوه باغونو ددوی کی نور دوه باغونه چی میوه په کی وه بی خونده اوغز اوخه

مِّنْ سِدْرٍ قَلِيْلٍ ۝۱۶ ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ بِمَا كَفَرُوْا ۭ وَهَلْ نُجٰزِيْٓ

قدر بیری ، دا بدله ورکړه مونږ دوی ته په دی چی ناشکری یی وکړه اومونږدا بدله هغوته ورکوو

اِلَّا الْكَفُوْرَ ۝۱۷ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا

چی ناشکره وی ، اوجوړ کی مونږ په مینځ د دوی او دهغو کلوکی چی برکت په کی مونږ اینبی وو

Maktaba Tul Ishaat.com

قُرًى ظَاهِرَةً وَّقَدَّرْنَا فِيْهَا السَّيْرَ سِيْرُوْا فِيْهَا لَيَالِيَ وَاَيَّامًا

داسی کلی چی په لاره به په نظر راتلل او منزلونه مقرر کړل مونږ په دی کی دتلو راتلو ځی په دی کی په شپو کی

اٰمِنِيْنَ ﴿۱۸﴾ فَقَالُوْا رَبَّنَا بٰعِدْ بَيْنَ اَسْفَارِنَا وَظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

او په ورځو کی په امن سره ، بیایی وویل ای ربه اوږده کړی زمونږ سفرونه اوپه خپلو ځانونو یی ظلم وکی

فَجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ وَمَزَّقْنٰهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

بیا جوړی کړی مونږ دوی ته قصی او مونږ دوی توتی توتی کړل په دی کی نښانی دی ،

لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ﴿۱۹﴾

هر صبر کوونکی اوشکر کوونکی لره.

لنډتفسیر: دسبا (دخلګو) دپاره (په خپله) د دوی دوطن په (مجموعی) حالت کی (دخدای داطاعت دواجبیدو) نښانی موجودی وی (ددغو څخه یوه نښانه) دوه قطارونه وه دباغونو (د دوی دسړک) راسته اوچپه طرف ته (یعنی د دوی په ټوله علاقه دوه طرف ته متصل باغونه تللی وه ، چی امدنی په کی هم زیاته وه اومیوه هم دومره قدر چی په ختمولو نه ختمیدله ، سایه هم رونق هم، مونږ دانبیاؤ اودنصیحت کوونکو په ذریعه دوی ته حکم ورکی چی) دخپل رب (درکړی) رزق خوری او (چی وی خوری نو) دهغه شکر ادا کوی (یعنی اطاعت کوی چی دوه قسمه نعمتونه مقتضی داطاعت دی یو دنیوی چی داوسیدو دپاره) ښکلی ښار او (یو اخروی چی په صورت داطاعت کی که څه کوتاهی وسی نو دګناه بخښلو دپاره) بخښنی والا پروردګار دی (نو په داسی مقتضی دمقتضا ترتب ضرور په کار دی) نو (په دی هم) هغوی (ددی حکم څخه) مخ واړوی (شاید دا خلک لمر پرست هم وه لکه چی دځینو په نسبت په سورة نمل کی دی ، وَجَدْتُهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُوْنَ لِلشَّمْسِ) نومونږ (په هغوی خپل قهر) داسی نازل کی چی په دوی مو دبند سیلاب راپریښووی (یعنی کوم سیلاب چی په بند سره منع سوی وو ، بندمات سو ددغه سیلاب اوبه راخلاصی سوی چی په دی سره د دوی دواړه طرف ته باغونه تباه برباد سول) اومونږ دوی ته د دواړه طرفه باغونو په بدله کی نور دوه باغونه ورکړل چی په هغه کی دا شیان پاته سول بدخونده میوه اوغزونه او لږ قدر بیری (اوهغه هم کلی والی نه ځنګلیانی دځانه سوی چی ازغی په کی ډیر اوپه میوه کی یی خوند نه وو) دوی ته مونږ دا سزا د دوی دناشکری په سبب ورکړه اومونږ داسی سزا لویو ناشکروته ورکوو (کنه نو په معمولی خطاګانو خو مونږ درګذر کوو اوظاهره ده چی دکفر څخه زیاته به بله څه ناشکری وی په کومه کی چی دوی مبتلاوه) او (ددی ذکرسوی عام نعمت دپاره دکلی والاؤ څخه علاوه یو بل خاص نعمت دسفر متعلق وو هغه دا چی) مونږ د دوی او دهغو کلو په مینځ کی کوم ځای چی مونږ

Maktaba Tul Ishaat.com

(په اعتبار دپیداوار وغیره) برکت اینبی دی دیر کلی اباد کړی وه (کوم چی دسړك څخه) په نظر راتلل (چی مسافر ته په سفر کی بیره هم نه وی اوکه په یوځای کی پاته کیږی نو چی په تللوکی هغه ځای ته ورته تکلیف اوتردد هم نه وی) اومونږ ددی کلو په مینځ کی د دوی دتللو یوه خاصه اندازه مقرره کړی وه (یعنی دیو کلی څخه تر بل کلی پوری دچال په حساب سره داسی مناسبه فاصله مو اینبی وه چی په دوران دسفر کی دعادت مطابق ارام کوی او په وخت بندی ورته څه ناڅه کلی مخ ته راځی خوراك اوارام په کی کولی سی) چی بی خوف اوخطر په دی کی (که غواړی نو) په شپو او (که غواړی نو) په ورځو سفر کوی (یعنی نه خطره دلارو شکوونکو وه چی نژدی نژدی کلی وو اونه خطره داوبو دودی اوتوښی دنه پیدا کولو چی هرځای هر سامان حاصلیدی) نو (ددی نعمتونو دوی اصل شکر ګذاری یعنی دالله ﷻ اطاعت ونه کی ، داسی ظاهری شکر ګذاری یعنی دالله ﷻ نعمتونه غنیمت ګڼل او ددی قدر کول دی هغه یی هم ونه کی چنانچی) هغوی وویل ای زمونږ پروردګاره! (داسی دکلیوپه نژدی نژدی واقع کیدو سره سفر خوند مونږ ته نه را کوی ، خوند خو په دی کی دی چی یوځای توښه دلاری ختمه سی ، یو ځای تنده راسی او اوبه نه وی شوق ددی انتظار دی ، یو ځای دغلو بیره ده ، نوکر پهره کوی ، وسله یی را اخیستی وی لکه بنی اسرائیل چی دَمَنْ او سلوٰی څخه ستړی سوی وه او دترکاریانو وغیره درخواست یی کړی وو ، دارنګه په دی موجوده حالت کی مونږ ته دخپل امارت داظهار موقع هم نه حاصلیږی ، امیر غریب ټول یوشان سفرکوی ، په دی وجه یی داسی غوښتل چی) زمونږ په سفرونوکی اوږدوالی (اوفاصله) جوړه کړی (یعنی دمینځ کلی وران کړی چی په منزلونو کی فاصله راسی) او (علاوه ددی ناشکری څخه) هغوی (نوری نافرمانی هم وکړی) په خپلو ځانونو یی ظلم وکی نو مونږ دوی ته قصه جوړه کړه او دوی مونږ بالکل دړی وړی کړل (یاخو داسی چی ځینی مو هلاك کړل چی دهغوی قصی پاته سوی اوځینی موپریشانه کړل اویاپه حیثیت ددی حالت دنعمتونو هغه ټول افسانه جوړ سول یعنی هغه دنعمتونو سامان ورځخه ټول ولاړی اویاپه دی معنٰی چی د دوی حالت عبرت جوړسو، اَیْ جَعَلْنٰهُمْ ذَاتَ حِکَایَاتٍ یُعْتَبَرُ بِهَا، غرض دا چی په خپله د دوی کورونه اوباغونه هم او د دوی هغه پرله پسی کلی هم ټول خراب سول) بیشکه په دی (قصه) کی دهرصبرکوونکی شکر کوونکی (یعنی مومن) دپاره لوی لوی عبرتونه دی.

معلومات اومسائل: منکرانو دنبوت اورسالت اومنکرانو دقیامت دحق تعالی په کامل قدرت دخبدارولو او دتیرو پیغمبرانو په لاسونو فوق القیاس اوحیرت انګیز واقعاتو او معجزاتو دصادریدو په سلسله کی یی اول دحضرت داود اوحضرت سلیمان علهیما السلام دواقعاتو ذکر وفرمایی ، اوس په دی سلسله کی په قوم سبا دالله ﷻ دبی حسابه انعاماتو، بیا د دوی دناشکری په وجه په دوی دعذاب راتلو ذکر، په ذکر سوو ایتونوکی وسو.

(دسبا قوم اوپه دوی دَالله ﷻ خاص انعامات)

ابن کثیر فرمایی چی سبا دیمن دبادشاهانو او ددی ملك داوسیدونکو لقب دی ، تُبَابِعَه کوم چی ددی ملك مقتداء اوپیشوا وو هغه هم په دی قوم دسبا کی وو اوملکه بلقیس دکومی واقعه چی دحضرت

Maktaba Tul Ishaat.com

سلیمان ﷺ سره په سورة نمل کی تیره سوي ده ، هغه هم په دی قوم کی وه ، الله ﷻ په دوی باندی دخپل رزق دروازی خلاصی کړی وی ، او د دوی په ښارکی یی دارام اوعیش ټول اسباب تیار کړی وه او دخپلو انبیاؤ په ذریعه یی دوی ته دالله ﷻ توحید او دده داحکامو دَاطاعت په ذریعه دنعمتونو دشکر حکم ورکړی وو تر یوی مودی پوری دا خلګ په دی حال قائم اوپه هرقسم راحت اوعیش کی وه بیاپه دوی کی په عیش اوعشرت کی په انهماك سره دخدای ﷻ څخه غفلت بلکه انکارته نوبت ورسیدی نوالله ﷻ د دوی دخبرولودپاره خپل دیارلس انبیاء راولیږل هغوی ددوی دپوهولو اود دوی نیکی لاری ته دراوستلو پوره کوشش وکی ، مګر دا خلګ دخپل غفلت دبی هوښی څخه واپس نه سول نو په دوی دیو سیلاب عذاب راولیږل سوکوم چی د دوی ښارونه اوباغونه ټول وران اوبرباد کړل (رواه محمدبن اسحاق ، ابن کثیر)

امام احمد دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دا روایت نقل کړی دی چی یو سړی دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی دسبادکوم واقعه چی په قرآن کریم کی ذکرده دا دیوسړی یاښځی نوم دی اوکه یادمخکی دیوی حصی نوم دی ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل چی دا دیوه سړی نوم دی چی په اولادکی یی لس زامن سوی چی په دغوکی شپږ په یمن کی اباد سول اوځلور شام ته ولاړل، په یمن کی داوسیدونکو نومونه دا دی ، مدحج، کنده ، ازد ، اشعری ، انمار اوحِمیَر، ددی شپږو هلکانو څخه شپږ قبیلی پیدا سوی کومی چی په دغو شپږو نومونو معروفی دی.

او په شام کی داوسیدونکو نومونه دا دی ، لَخَم، جذام ، عامله اوغسان د دوی دنسل قبیلی په دی نومونو سره مشهوری سوی ، دا روایت حافظ ابن عبدالبر هم په خپل کتاب (القصد والامم بمعرفت انساب العرب والعجم) کی نقل کړی دی.

د ابن کثیر تحقیق په حواله دعلماؤ دنسب دا دی چی دالس هلکان دسبا صلبی اوبلا واسطه زامن نه وه ، بلکه دسباپه دوهم دریم یاځلورم نسل کی داخلګ سوی دی ، بیا د دوی قبیلی په شام اویمن کی خپری سوی او د دوی په نومونو سره یادی سوی او دسبا اصل نوم عبد شمس وو ، په سبا عبد شمس بن یشجب بن یعرب بن قحطان سره دده نسب نامه واضحه کیږی اوتاریخ والاؤ لیکلی دی چی سبا عبد شمس په خپله زمانه کی دنبی اخر زمان محمد مصطفی ﷺ خوشخبری اورولی وه ، ممکنه ده چی ده ته ددی علم په پخوانیو کتابونو تورات او انجیل کی سوی وو یادنجومیانو کاهنانو په ذریعه ، دنبی کریم ﷺ په شان کی ده څوعربی اشعار هم ویلی دی چی په دی کی یی د دوی دبعثت ذکر کړی دی اودا تمنایی کړي ده چی کاشکی زه دده په زمانه کی وای نو ما به دده مدد کړی وای او خپل قوم ته یی په دوی دایمان راوړلو اومدد کولو تلقین ورکړی وو.

او په ذکر سوی حدیث کی چی دا ذکر دی چی دسباپه لسو زامنوکی شپږ په یمن کی اباد سول څلور شام ته ولاړل ، دا واقعه په دوی دسیلاب راتلو څخه وروسته ده ، دسیلاب راتلو په وخت کی دا خلګ په مختلفو طرفونو اوښارونو کی خپاره سول (ابن کثیر)

قرطبی په حواله دقشیری دقوم سبا زمانه دحضرت عیسی ﷺ څخه وروسته دنبی کریم ﷺ دبعثت څخه مخکی زمانه دفترت نقل کړي ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ سیل عرم او سَدِّ مَآرِب ﴾

فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ : لفظ دَعَرِم دعربی لغت په اعتبار سره په څو معانیو کی معروف دی او دتفسیر علماؤ دهری معنی په اعتبار سره ددی آیت تفسیر فرمایلی دی مگر په دوی کی دقرآن دسیاق مناسب هغه معنی ده کومه چی قاموس او صحاح جوهری وغیره کتابونو دلغت کی دی چی دعَرِم معنی سد یعنی بند ده کوم چی داوبو منع کولو دپاره جوړیږی کوم چی نن صبا دډیم په نوم سره معروف دی ، حضرت ابن عباس ﷺ هم دعرِم معنی سد یعنی بند بیان کړي ده (قرطبی)

ددی بند (ډیم) واقعه دابن کثیردبیان مطابق دا ده چی دیمن په ملك کی ددی ددار الخلافة صنعاء څخه ددری منزله په فاصله یوښار مَآرب وو چی دسبا قوم په کی اباد وو ، د دوو غرونو دمینځ په وادی کی دا ښار اباد وو ، د دواړو غرونو دمینځ او دغرونو دسر څخه به دباران سیلاب راتلی ، دا ښار به همیشه ددی سیلابونو په مخ کی وو ، ددی ښار بادشاهانو (چی دملکه بلقیس نوم په کی په خصوصیت سره ذکر کیږی) ددی دواړو غرونو په مینځ کی یو بند (ډیم) ډیر محکم مضبوط جوړکی چی اوبو اثرنه سوای پرکولی ، دی بند دغرونو دمینځ راتلونکی سیلابونه منع کړل او داوبو یوه عظیم الشانه ذخیره یی جوړه کړه ، دغرونو دباران اوبه به هم په دی کی جمع کیدی ، په دی بندکی لاندی باندی داوبو ایستلو دپاره دری دروازی جوړی سوی وی چی داوبو دا ذخیره په انتظام سره دښار دخلګو او د دوی دمخکو او باغونو داوبه کولو په کار راسی اول به یی پورتنی دروازه خلاصه کړه اوبه به یی ورځخه حاصلولی ، چی پورتنی اوبه به ختمی سوی نو دهغه لاندی او ددی څخه وروسته به یی دټولو څخه لاندی دریمه دروازه خلاصه کړه ، تردی چی د دوهم کال دبارانونو زمانه به راغله ، بیابه بند ډك سو اوبه به لوړی وختلی ، دبند لاندی یو ډیر لوی تالاب جوړ سوی وو چی داوبو دولس لاری یی ورځخه جوړی کړی وی دولس نهرونه یی دښار مختلفو اطرافو ته رسولی وو اوپه ټولو نهرونو کی به اوبه په یو ډول انداز روانی وی او دښار دضرورتونو به په کار راتلی (مظهری)

دښار راسته چپه طرف ته چی کوم دوه غرونه وه دهغه په غاړو یی باغونه لګولی وه چی داوبو نهرونه په کی جاری وه ، دا باغونه دیو بل سره متصل دواړو غاړوته دغرونوپه لمنو باندی وه ، داباغونه که څه هم په شمیرکی ډیروه مگرقرآن کریم دوی ته جَنَّتَانِ یعنی ددوه باغونوپه لفظ سره څکه تعبیر وفرمایل چی دیوی غاړی ټول باغونه یی په وجه دپیوست کیدو یوباغ او دبلی غاړی ټول باغونه یی دوهم باغ مقرر کی .

په دی باغونوکی به هرقسم درختی او هرقسم میوی دومره ډیری پیدا کیدی چی دسلفو امامانو قتاده وغیره دبیان مطابق چی به په دی باغونوکی یوی ښځی خالی توکری په سر کښیښوولە روانه به سو ، نو د درختو څخه درالویدونکی میوو څخه به خود بخوده ډکیده ، ددی لاس ورورلو ته به هم ضرورت نه راتلی (ابن کثیر)

كُلُوا مِنْ رِزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوا لَهُ بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَرَبٌّ غَفُورٌ .

حق تعالی دخپلو انبیاؤ په ذریعه دوی ته دا حکم ورکړی وو چی تاسی دالله ﷻ دا درکړی فراخه رزق استعمالوی اودهغه شکرګذاری په نیکوعملونو اودالله ﷻ داحکاموپه اطاعت سره کوی چی الله ﷻ ستاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

دا ښار، بلده طیبه ، جوړه کړي ده چې ډیخ او ګرمی په کی هم اعتدال وو او اب وهوایی داسی صحت بخشه پاکه نرمه وه چې په دی ټول ښارکی دماشی مچان ، ژوری او دَمار لړم په شان موذی حیوانانو نوم اونښانه نه وه ، بلکه ددباندی څخه راتلونکی مسافر چې به کله دی ښارته راورسیدی نو که دده په کپړو کی به شپږی یانور موذی حشرات وه هغه به دی ځای ته په را رسیدو خودبخوده مړه سول (ابن کثیر)

د: بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ ، سره یی ، رَبٌّ غَفُوْرٌ وفرمایل اوخپل نعمت یی داسی مکمل کی چی داعیش اوراحت صرف ددنیا ترژوند پوری نه دی بلکه که تاسی په شکر ګذاری باندی قائم پاته سواست نو په اخرت کی ددی څخه دلویو او دائمی نعمتونو هم وعده ده ، ځکه چی ددی ټولو نعمتونو خالق اومالك اوستاسی پالونکی ښه دی که چیری په اتفاقی طور په شکر ګذاری کی کمی یاغفلت اوکوتاهی هم وسی نو الله ﷻ به یی معاف کړی.

فَاَعْرَضُوا فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ : یعنی دالله ﷻ ددی فراخه نعمتونو اودپیغمبرانو دخبدارولو باوجود هرکله چې دسبا دقوم خلګو دالله ﷻ داحکامو څخه سرکښی اوروی ګرداني وکړه نو مونږ په دوی سیل عَرِم را ایله کړه ، دعَرِم معنی لوړه تیره سوي ده چې بند دی ، دا سیلاب یی عَرِم طرف ته ځکه منسوب کی چی کوم عَرِم د دوی دخوشحالی ذریعه وه هغه الله ﷻ د دوی دپاره افت اومصیبت جوړکی ، ددی واقعه حضرت ابن عباس ﷺ ، وهب بن منبه ، قتاده ، ضحاك، وغیره امامانودتفسیردابیان کړي ده چې کله الله ﷻ دی قوم ته دسزا ورکولو دپاره سد مَآرب یعنی عَرِم په ماتولو اوسیلاب سره دتباه کولو اراده وکړه نو ددی اوبو په عظیم الشان بند باندی یی رندی مړی مسلطی کړی چی ددی بنیاد یی سوری سوری اوکمزوری کی ، هرکله چی دباران اوسیلاب وخت راغی نو داوبو زور دا کمزوری بنیاد وشلوی اودبند ټولی جمع سوی اوبه په یو وار په دی ټول وادی ورخپری سوی په کومه کی چی دابنار مَآرب واقع وو ، ټول مکانات ونړیدل او درختی تباه سوی او دغرونو دواړه طرف ته چی کوم باغونه وو دهغه اوبه وچی سوی.

دوهب بن منبه په روایت کی دی چې ددی خلګو په کتابونو کی دا خبره لیکل سوی را روانه وه چې ددی بند تباهی او خرابی به دمړو په ذریعه وی ، هرکله چی خلګو ددی بند په خوا کی مړی ولیدی نوخطره ورسره پیدا سوه ، ددی تدبیر یی داسی وکی چی دبند لاندی یی ډیری پیشوګانی وساتلی چی مړی بند ته نژدی نه راپریږدی ، مګر کله چی تقدیر الهی نافذ سو نو دغه مړی پرپیشوګانو باندی غالبی سوی او دبند بیخونو ته ورداخلی سوی (ابن کثیر)

اوپه تاریخی روایتونوکی دا هم دی چی ځینو هوښیارو لیږی اوسیدونکو خلګو چی مړی ولیدی نو دا ځای یی پریښووی ، بل طرف ته یی دمنتقل کیدو قصدوکی اوکرار یی انتظام کوی اوتل باقی خلګ هلته پاته سول ، مګر هرکله چی سیلاب شروع سو دغه وخت منتقل سول او ډیر هلته دسیلاب نذرسول غرض دا چی ټول ښار په سیلاب تباه اوبرباد سو، دښار ځینی اوسیدونکی کوم چی دنورو ملکونو ښارونو ته تللی وه دهغه څه تفصیل دمسند احمد په حدیث کی کوم چی لوړ تیرسوی دی ، مذکور دی ، د دوی شپږ قبیلی په یمن کی خپری سوی اوځلور په شام کی ، دمدینی طیبی ابادی هم په دی قبیلوکی

Maktaba Tul Ishaat.com

دځینو څخه شروع سوه چی تفصیل یی دتاریخ په کتابونو کی مذکور دی ، دسیلاب راتلو اوبنار تباه کیدو څخه وروسته دواړه طرف ته دَباغونو چی کوم حال سو هغه مخ ته داسی ذکر فرمایی چی ، وَبَدَّلْنَاهُمْ بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ أُكُلٍ خَمْطٍ وَأَثْلٍ وَشَيْءٍ مِنْ سِدْرٍ قَلِيلٍ : یعنی الله ﷻ د دوی دقیمتی میوو د درختو په بدله کی په هغه کی داسی درختی راشنی کړی چی میوه یی بد خونده خرابه وه ، دلفظ دَخَمْط معنی اکثرو مفسرینو دَآراك (یعنی کیکر) کړې ده اوجوهری بغوی ، لیکلی دی چی دَآراك د درختی یوقسم داسی هم دی چی څه میوه پروی اوخوړل کیږی ، مګر ددی درختو میوه هم بدخونده وه او ابو عبیده فرمایی چی خَمْطْ هری داسی درختی ته ویل کیږی کومه چی ازغی داره هم وی اوترخه هم ، اولفظ دَ، أَثْلْ، دجمهورو مفسرینو په نزد یوقسم درخته ده چی جاوو ورته وایی ددی هیڅ میوه دخواك قابله نه وی اوځینی حضرات وایی چی أَثْلْ په معنی دَسَمَرْ دی یعنی دکیکر درخته چی ازغی داره وی اومیوه یی بزو نه ورکول کیږی .

دَ، سِدْرْ معنی بیره ده ، دا دوه قسمه وی یوه هغه چی په باغونوکی په اهتمام سره نهالیږی ددی میوه خوش ذائقه اوخوړه وی په دی کی أَزْغی کم اومیوه زیاته وی ، دوهم قسم څنګلی بیره ده چی په څنګلونو کی دځانه کیږی أَزغی داره وی ، په دی کی أَزغی زیات او میوه کمه وی اومیوه یی تروه هم وی ، په ذکر سوی آیت کی دَسِدْرْ سره دَقلیل په لفظ سره غالباً اشاره دی طرف ته ده چی بیری هم څنګلی دَځانه سوی وی اومیوه یی هم کمه او تروه وه (والله اعلم)

ذَلِكَ جَزَيْنَاهُمْ بِمَا كَفَرُوا : یعنی داسزا مونږ دوی ته څکه ورکړه چی دوی کفر وکی ، دکفر معنی ناشکری هم راځی او دحق دین څخه دانکار هم راځی دلته دواړه معانیوی کیدی سی څکه چی هغوی ناشکری هم وکړه اوکوم دیارلس پیغمبران چی دهغوی طرف ته لیږل سوی وه ، دهغوی یی هم تکذیب وکی .

فائده : په دی واقعه کی چی کوم دا بیان سوی دی چی دسبا طرف ته الله ﷻ خپل دیارلس پیغمبران لیږلی وه او ددی سره دا هم لوړ تیرسوی دی چی ددی قوم اوسیل واقعه دحضرت عیسیٰ ﷺ څخه وروسته او درسول الله ﷺ دبعثت څخه مخکی په درمیانی زمانه کی وه ، کوم ته چی زمانه دفترت ویل کیږی او دجمهورو عالمانو په نزد په دغه زمانه کی یو نبی او پیغمبر هم نه دی مبعوث سوی ، په دی وجه دا دفترت په زمانه سره تعبیر کیږی ، نو ددی دیارلسو پیغمبرانو بعثت څنګه صحیح کیدی سی ، په روح المعانی کی ددی جواب دا ورکول سوی دی چی دواقعی دَسیل عَرِم دفترت په زمانه کی دکیدو څخه دا نه لازمیږی چی دا انبیآء ﷺ دی هم په دغه زمانه کی راغلی وی ، کیدی سی چی دانبیاؤ بعثت دغه قوم ته دفترت دزمانی څخه مخ ته وی او د دوی سرکښی اوکفر په زمانه دفترت کی زیات سوی وی چی په دی سره دسیل عَرِم عذاب په زمانه دفترت کی په دوی لیږل سوی وی ، والله تعالی اعلم

وَهَلْ نُجَازِي إِلَّا الْكَفُورَ کفور: دکافرځخه صیغه دمبالغی ده چی معنی یی ده ډیر کفرکوونکی اودَایت معنی دا سوه چی، مونږ د ډیر کفر کوونکی څخه ماسوا چاته سزانه ورکوو، داپه ظاهره دقرآن دهغو ټولو ایتونو اودصحیح احادیثو څخه خلاف ده دکوموځخه چی ثابتیږی چی مسلمانانو ګناهګارانوته به هم دجهنم سزا دهغوی دعمل مطابق ورکول کیږی ، که څه هم اخر دسزا تیرولو څخه وروسته به هغه دایمان

Maktaba Tul Ishaat.com

په وجه دجهنم څخه را ویستل سی او په جنت کی به دا خل سی ، ددی اشکال په جواب کی څینی حضرات فرمایی چی مراد دلته مطلق عذاب نه دی ، بلکه داسی عام عذاب دی کوم چی په قوم دسبا ولیږل سو ، دا د کافرانو سره مخصوص دی ، په مسلمانانو گناهگارانو داسی عذاب نه راځی (روح)

ددی تائید دیو صحابی ابن خیره ﷺ دقول څخه هم کیږی ، دوی فرمایلی دی . جَزَاءُ الْمَعْصِيَةِ الْوَهْنُ فِي الْعِبَادَةِ، وَالضِّيْقُ فِي الْمَعِيْشَةِ، وَالتَّعَسُّرُ فِي اللَّذَّةِ، قِيْلَ ، وَمَا التَّعَسُّرُ فِي اللَّذَّةِ؟ قَالَ ، لاَ يُصَادِفُ لَذَّةً حَلاَلاً إِلاَّ جَاءَهُ مَنْ يُنَغِّصُهُ إِيَّاهَا : یعنی دمعصیت سزا دا ده چی په عبادت کی سستی پیداسی ، په معیشت کی تنگی پیداسی او په لذت کی دشواری پیداسی چی ددی مطلب ابن خیره ﷺ دا بیان کی چی کله ده ته څه حلال لذت نصیب سی نو څه ناڅه داسی سبب پیداسی چی دی لذت مکدر کړی (ابن کثیر)

معلومه سوه چی دمومن گناهگار سزاگانی په دنیا کی ددی قسم نه وی ، په ده داسمان څخه یادمځکی څخه څه بنکاره عذاب نه راځی دا په کفارو پوری مخصوص دی .

او حضرت حسن بصری رحمه الله فرمایی ، صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ لاَيُعَاقِبُ بِمِثْلِ فِعْلِهِ اِلاَّ الْكَفُوْرُ : یعنی الله ﷻ ربنتیا فرمایی چی دبد عمل سزا دهغه برابر بغیر دکفارو ته چاته نه ورکول کیږی (ابن کثیر) ځکه چی غیر کافر یعنی مومن ته دده په گناهونو کی هم څه پاته کول کیږی .

او په روح المعانی کی په حواله دکشف ددی آیت دمطلب توجیه یی داسی کړي ده چی کلام په خپل حقیقت باندی دی چی سزا په طور دسزا خو صرف کافر ته ورکول کیږی اومومن گناهگار ته چی کوم تکلیف داور وغیره ورکول سی ، هغه صرف صورت دسزا وی ، په حقیقت کی دی دگناه څخه پاکول مقصود وی ، لکه سره زر چی بتی ته وراچوی په گرمولو سره خیری لیری کول څینی مقصود وی ، دغه شان مومن هم که دځه گناه په سزا کی جهنم ته وغورځول سی نو ددی دپاره چی دده دبدن هغه اجزاء وسوزی ، کوم چی په حرامو سره پیدا سوی وی اوکله چی داسی وسی نو هغه بیاجنت ته دتللو قابل سی هغه وخت به دجهنم څخه را ویستل سی او جنت ته به دا خل کړل سی .

وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا قُرًى ظَاهِرَةً وَقَدَّرْنَا فِيهَا السَّيْرَ

په دی آیت کی په اهل سبا دالله ﷻ دَیو بل نعمت او په دی داهل سبا دناشکری اوناپوهی ذکر دی چی دوی په خپله دا نعمت بدل کی او دسختی دعا اوارزو یی وکړه دَ، اَلْقُرَى الَّتِيْ بَرَكْنَا ، څخه مراد په ظاهره دشام ملك دی ځکه چی دالله ﷻ دطرف څخه درحمت نازلیدو ذکر په دیرو ایتونوکی دشام دملك دپاره راغلی دی او مطلب دایت دا دی چی کوم کلی الله ﷻ دبرکت والا جورکړی وو یعنی دشام دملك کلی ، او دی خلگو ته به دتجارت وغیره دپاره دشام دَملك سفر اکثر کول کیدل دعامی دنیا دحالاتو مطابق دښار مارب څخه دشام دملك اوږده فاصله ده ، لاری هواری نه دی ، الله ﷻ دسبا په قوم دا انعام وکی چی د دوی دښار مآرب څخه ترشام پوری یی په لړه لړه فاصله کلی جوړ کړل ، دا کلی دسړك په غاړه وو ، په دی وجه یی دوی ته قُرًى ظَاهِرَةً وفرمایل، ددی پرلپسی کلیو فائده دا وه چی ددی مسافر به دکوره ووتی او دغرمی ارام یاخوراك به یی کوی نو په اسانی سره به یوکلی ته ورسیدی او دمعمول مطابق به یی خوراك او ارام کولی سو ، بیا دغه شان دماپښین څخه وروسته به روان سو ، ترلمر پریوتلو پوری به مخ ته کلی

Maktaba Tul Ishaat.com

نه ورسیدی نو شپه به یی تیرولی سوه دَ، قَدَّرْنَا فِيهَا السَّيْرَ الاية : مطلب دا دی چی داسی دا کلی متوازن اوپه برابر فاصلو باندی جوړ سوی وه چی په یو مقرره وخت کی به دیوه کلی څخه بل کلی ته رسیدی سوه . سِيرُوا فِيهَا لَيَالِيَ وَأَيَّامًا آمِنِينَ : دا دیو دریم نعمت ذکر دی کوم چی په قوم دسبا باندی سوی وو چی د دوی کلی داسی په برابر اومتوازنو فاصلو باندی وه چی په سفرکی به کمی اوبیشی نه راتله اولاری تولی په امن وی ، څه غل او ډاکو هلته نه سو راتلی ، شپه ورځ هر وخت بی فکره سفر کیدی سوای .

فَقَالُوا رَبَّنَا بَاعِدْ بَيْنَ أَسْفَارِنَا وَظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ فَجَعَلْنَاهُمْ أَحَادِيثَ وَمَزَّقْنَاهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ .

یعنی دی ظالمانو دالله ﷻ ددی نعمت چی دسفر تکلیف نه وو ناقدری اوناشکری یی وکړه په خپله یی دا دعا وغوښتله چی زمونږ په سفرکی لیری والی پیدا کړی چی نړدی نړدی کلی نه وی څنګلونه بیابانونه وی چی څه محنت اومشقت په کی هم راځی ، ددی مثال هغه دی کوم چی بنی اسرائیلو کړی وو چی بی محنته بنه رزق دمن اوسلوی هغوی ته ورکول کیدی ، ددی څخه ستړی سول او دالله ﷻ څخه یی دا دعا وغوښتله چی ددی په ځای مونږ ته سبزیات او ترکاریانی راکوه ، الله ﷻ د دوی په ناشکری او دنعمت په بی قدری هغه سزا جاری وفرمایله کومه چی وروسته دسیل العرم په عنوان سره ذکر ده ، ددی اخری نتیجه یی په دی آیت کی دا بیان کړه چی دوی داسی تباه اوبرباد سول چی په دنیاکی د دوی دعیش عشرت او دولت او نعمت قصی پاته سوی او دا خلګ افسانه سول .

مَزَّقْنَاهُمْ : دَتَمْزِيق څخه مشتق دی چی معنی یی توتی توتی اوذره ذره کول دی ، مراد دا دی چی دَمَآرب بنار اوسیدونکی څینی هلاك سول ، څینی داسی خپاره سول چی د دوی توتی په مختلفو ملکونوکی خپری سوی او په عربوکی دقوم سبا تباهی او خپاره واره کیدل یو ضرب المثال جوړ سو، په داسی موقعو باندی دعربو محاوره ده ، تَفَرَّقُوا أَيَادِيَ سَبَا، یعنی دا خلګ داسی خپاره واره سول ، لکه دقوم سبا په نعمت کی پالل سوی خلګ چی خپاره سوی وه .

ابن کثیر وغیره مفسرینو دلته اوږده قصه دیوکاهن نقل کړې ده چی دسیلاب دراتلو څخه مخ ته دی کاهن ته ددی علم سوی وو ده دیو عجیبه تدبیر په ذریعه یی اول خو خپله محکه جائداد کور وغیره خرڅ کړل ، هرکله چی رقم په لاس ورغی نو ده خپل قوم دراتلونکی سیلاب اوعذاب څخه خبردار کړل او وې ویل چی که څوك دخپل ځان سلامتیا غواړی هغه دی فوراً ددی ځای څخه ووزی ، ده خلګو ته دا هم وښوولە چی په تاسی کی کوم خلګ لیری سفر اختیار وی او دمحفوظ مقام اراده کوی هغه دی عمان ته ولاړسی اوکوم خلګ چی شراب اوخمیره ډوډۍ اومیوی وغیره غواړی ، هغه دِ دشام ملك مقام بصرٰی ته ولاړ سی اوکوم خلګ چی داسی سپرلی غواړی چی په ختو کی ثابت قدم وی او دقحط په زمانه کی په کار ورسی او دتلوار دسفر په وخت کی ملګرتیا وکی نو هغه دی یثرب (مدینی منوری) ته ولاړسی په کومه کی چی خرماوی ډیری دی ، دده قوم دده په مشوره عمل وکی اوقبیله أزْد دعمان طرف ته ولاړه اوغسان ، بصرٰی ملك دشام طرف ته اواوس اوخزرج اوبنو عثمان یثرب ذات النخل طرف ته ووتل ، بطنِ مره ته چی ورسیدل نوبنو عثمانو خو دا ځای خوښ کی او دلته پاته سوه او ددی انقطاع په وجه سره دبنو عثمان لقب خزاعه سو دوی په بطن مره کی کوم چی مکی مکرمی ته نژدی دی پاته سول ، او اوس

Maktaba Tul Ishaat.com

اوخرج یشرب ته ورسیدل او مقیم سول ، په ابن کثیر کی داوړدی قصی څخه وروسته دخلګو دجلا جلا مقاماتو ته دخپریدو دا تفصیل په سند دسعید عن قتاده عن الشعبی نقل کړی دی فرمایی چی دغه شان دا قوم دسبا توتی توتی سو چی ذکر یی په ، مَزَّقْنٰهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ کی راغلی دی .

إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَآيَاتٍ لِكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ : یعنی دقوم سباپه عروج اوزوال او د دوی داحوالو په انقلاب کی لویی نښانی اوعبرتونه دی ، دهغه سړی دپاره کوم چی ډیرصبرکوونکی او ډیر شکر کوونکی وی ، یعنی چی څه مصیبت اوتکلیف ورته پیښ سی ، نو په هغه صبرکوی اوچی څه نعمت او راحت ورته حاصل سی نوپه هغه دالله ﷻ شکر کوی ، دغه شان هغه دژوند په هرحال کی نفع اونفع ګڼی ، لکه چی په صحیحینو کی دحضرت ابوهریره ﷺ حدیث دی ، چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دمومن حال عجیب دی چی دده متعلق چی الله ﷻ هرڅه هم تقدیری حکم نافذ کوی ټول خیر اوخیر اونفع نفع وی ، چی که دې ته څه نعمت او راحت او دده دخوشحالی شی حاصل سی نو دی دالله ﷻ شکر ادا کوی ، دا دده داخرت دپاره خیر اونفع جوړه سی او که څه تکلیف او مصیبت پیښ سی نو هغه په دی صبر کوی چی ددی ده ته لوی اجر اوثواب ورکول کیږی ، دغه شان دا مصیبت هم دده دپاره خیر اونفع جوړه سی (از ابن کثیر)

اوځینی مفسرین حضرات لفظ دصبار دصبر په عامه معنی کی اخلی چی په دی کی په طاعتونو ثابت قدم پاته کیدل دګناهونو څخه پرهیزکول هم دا خل دی ، په دی تفسیر باندی مومن په هرحال کی دصبر اوشکر جامع اوسیږی اوهر صبر شکر دی اوهر شکر صبر دی ، والله تعالی اعلم

وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُ فَاتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٠﴾

او ربښتنی وښووی پر دوی ابلیس خپل اټکل بس په ده ورپسی سول مګر لږ ایماندار

وَمَا كَانَ لَهُ عَلَيْهِم مِّن سُلْطَانٍ إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يُؤْمِنُ بِالْآخِرَةِ مِمَّنْ هُوَ مِنْهَا فِي

اودهغه په دوی هیڅ زورنه وومګرددی دپاره چی معلوم کی مونږچی څوک ایمان راوړی په اخرت جلاکړی دهغوی

شَكٍّ ۗ وَرَبُّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَفِيظٌ ﴿٢١﴾

څخه چی دآخرت څخه په شك کی دی اوستا رب په هرشی نګهبان دی .

لنډتفسیر: واقعی ابلیس خپل ګمان دهغه خلګوپه باره کی (یعنی دانسانانو په باره کی) صحیح پیدا کی (یعنی دده چی کوم دا ګمان وو چی زه به دآدم ﷺ اکثر اولاد ګمراه کوم څکه چی دوی دخاوری څخه اوزه داور څخه پیدا سوی یم ، درمنثور ، دده دا ګمان صحیح وختی) چی دا ټول دده په لاره روان سول ، مګر دایماندارو ډله (چی په دوی کی کامل ایماندار خو بالکل محفوظ پاته سول اوکمزوری ایمان والا که څه هم په ګناهونوکی اخته سول ، مګر دشرك او دکفر څخه هغه هم محفوظ سول) او دابلیس په دی خلګو (چی کوم) تسلط (په طور دغولولو دی هغه) بغیر ددی څخه په بله هیڅ وجه نه دی چی مونږ ته (په ظاهری طور) دغه خلګ کوم چی په اخرت ایمان لری دهغو خلګو څخه (جلا) معلوم سی کوم چی ددی څخه په

Maktaba Tul Ishaat.com

شك كى دى (يعنى مقصود امتحان دى چې په مومن اوكافر كى امتياز وسى چې په مقتضا دعدل او حكمت دثواب اوعذاب احكام جارى سى) او (چونكه) ستا رب دهرشى نگران دى (چې په دى كى دخلگو ايمان اوكفر هم دا خل دى ، په دى وجه به هر يوه ته مناسبه جزا اوسزا حاصليږى)

قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۚ لَا يَمْلِكُوْنَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِى السَّمٰوٰتِ

ته ووايه راوبلى هغه چې گمان پركوى ماسوا دالله ﷻ څخه هغه مالكان نه دى په قدر ديوى ذرى په اسمانونوكى

وَلَا فِى الْاَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيْهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَّمَا لَهٗ مِنْهُمْ مِّنْ

اونه په مخكه كې او نه دوى ته په دى دواړو كى څه شركت سته او نه په دوى كى هغه ته څوك مدد گار سته

ظَهِيْرٍ ﴿۲۲﴾ وَلَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ عِنْدَهٗۤ اِلَّا لِمَنْ اَذِنَ لَهٗ ؕ حَتّٰۤى اِذَا

، او په كار نه راځى سفارش دهغه په نزد مگر هغه ته دچا دپاره چې حكم وكړى ، تردى

فُزِّعَ عَنْ قُلُوْبِهِمْ قَالُوْا مَاذَا ۙ قَالَ رَبُّكُمْ ؕ قَالُوا الْحَقَّ ۚ وَهُوَ

چې هر كله بيره ليرى سى د دوى دزړونو څخه وبه وايى څه وفرمايل ستاسى رب ؟ وبه وايى وې فرمايل

الْعَلِىُّ الْكَبِيْرُ ﴿۲۳﴾ قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

حق او هغه دى دتولو څخه پورته لوى ، ته ووايه څوك رزق دركوى تاسى ته داسمانونو څخه او دمځكى څخه

قُلِ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّاۤ اَوْ اِيَّاكُمْ لَعَلٰى هُدًى اَوْ فِىْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۴﴾ قُلْ

، وواياست چې الله اويا مونږ يا تاسى بيشكه په هدايت يُو يا په گمراهى ښكاره كې ، ته ووايه

لَّا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّاۤ اَجْرَمْنَا وَلَا نُسْـَٔلُ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۵﴾ قُلْ يَجْمَعُ

تاسى څخه به پوښتنه نه كيږي دهغه چې مونږ گناه وكړو اوزمونږ څخه به پوښتنه نه وى دهغه چې تاسى كوى، ته

بَيْنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ ؕ وَهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيْمُ ﴿۲۶﴾ قُلْ

ووايه جمع به كړى ، مونږ تولە رب زمونږ بيا به فيصله وكړى په مونږ كى په حقه ،او هغه قصه ختمونكى په هر

اَرُوْنِىَ الَّذِيْنَ اَلْحَقْتُمْ بِهٖ شُرَكَآءَ كَلَّا ؕ بَلْ هُوَ اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۷﴾

څه پوهه دى ، ته ووايه ما ته وښيى هغه چې تاسى يې ورسره شريكان جوړ وى ، هيڅ نسته ، هغه دى الله

Maktaba Tul Ishaat.com

زبردست حکمتونو والا.

لنډتفسیر: ته (دی خلګوته) وفرمایه چی کوم (معبودان) تاسی دخدای څخه ماسوا (په خدایی کی دخل کوونکی) ګڼی هغوی (دخپلو حاجتونو دپاره) راوبلی (نو سمه ده معلومه به سی چی څومره قدرت اواختیار لری ، دهغوی واقعی حالت خو دا دی چی) هغوی یوه ذره قدر (دځه شی) اختیار نه لری نه په آسمانونو (کائناتو) کی او نه په مځکه (کائناتو) کی او نه دهغوی ددی دواړو (په پیدائش) کی څه شرکت سته او نه په هغوی کی څوك دالله ﷻ (په څه کار کی) مددګار سته ، او دخدای په مخکی (دَچا) سفارش دچا دپاره په کارنه ورځی (بلکه سفارش کیدی نه سی) مګر دهغه چا دپاره دچا په نسبت چی هغه (یو سفارش کوونکی ته) اجازه ورکی (په کفارو اومشرکانوکی ځینی جاهلان وه نو داسی وه چی دډیرو څخه به یی په خپله تراش کړی بتان حاجت روا اوکارفرما اوپه خدایی کی شریکان ګڼل ، ددغو دَرَدْ دپاره خو دَایت اولنی جملی راغله ، لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ، وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِنْ شِرْكٍ اوځینو خلګو خوبه دومره قادرنه ګڼل ، مګر دا عقیده به یی ساتله چی دا بتان دخدای ﷻ په کارونوکی دهغه مددګاران دی دهغو دَرَدْ دپاره یی وفرمایل ، وَمَا لَهُ مِنْهُمْ مِنْ ظَهِيرٍ اوځینی داسی پوه وه چی دابی جانه بتان یی دځه شی پیدا کوونکی یادَخالق مددګاران خو نه منل ، مګر دا عقیده به یی لرله چی دادَالله ﷻ په نزدمقبول دی چی دچاسفارش وکړی دهغه داکیږی لکه چی هغوی به ویل، هَؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَاللهِ، د دوی دَرَدْ دپاره یی وفرمایل ، وَلَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ عِنْدَهُ ددی مطلب دا دی چی په دی بتانوکی دځه قابلیت خوتاسی هم قائل نه یاست مګر تاسی په دی دوکه کی یاست چی دوی ته دالله ﷻ په نزد مقبولیت حاصل دی ، دا محضی ستاسی بی بنیاده خیال دی ، نه په دوی کی څه قابلیت سته اونه دالله ﷻ په نزد مقبولیت ، مخ ته دا ارشادفرمایی چی په دوی کی خونه څه قابلیت سته اونه مقبولیت مخ ته داارشاد فرمایی چی په دوی کی خو نه څه قابلیت سته او نه مقبولیت ، په کومو کی چی قابلیت هم موجود وی اومقبولیت هم، لکه دالله ﷻ ملائکی، هغه هم دچاپه سفارش کولوکی په خپله مختاری نه دی ، بلکه د دوی دپاره دشفاعت قانون دا دی چی دچا دَپاره دسفارش کولو اجازت دالله ﷻ دطرف څخه حاصل سی ، صرف دهغه سفارش کول کیږی او هغه هم په ډیره مشکله سره څکه چی هغوی په خپله دالله ﷻ دهیبت اوجلال څخه مغلوب دی ، هرکله چی دوی ته څه عام حکم ورکول سی یادچا دپاره دسفارش حکم ورکول سی نو دوی دحکم او ریدو په وخت کی دهیبت څخه مدهوش سی ، هرکله چی ددی هیبت کیفیت رفع سی نو هغه وخت په حکم فکر کوی او په خپل مینځ کی دیو بل څخه پوښتنه او تحقیق کوی چی مونږکوم حکم اوریدلی دی هغه څه دی ؟ ددی تحقیق څخه وروسته هغه دحکم تعمیل کوی ، چی په دی کی دچا دَسفارش حکم هم دا خل دی. لنډه دا چی هرکله دالله ﷻ ملائکی کوم چیْ قابلیت هم لری ، او مقبولیت دالله په نزد هم ، هغه هم دچا سفارش دځانه بغیر دَاجازت څخه نه سی کولی ، اوهرکله چی دچادپاره اجازت ورکول هم سی نو په خپله دهیبت څخه مدهوش غوندیْ سی ددی څخه وروسته چی یی کله هوش برابرسی ، نوسفارش کوی ، نو دا ډیرو څخه په خپله تراش کړی بتان چی نه په کی یو قسم قابلیت سته نه مقبولیت ، دوی به څنګه دچا سفارش وکی ، دملائکو دمدهوشه کیدو وغیره ذکر په مخکی آیت کی داسی راغلی دی چی) تردی چی

Maktaba Tul Ishaat.com

کله د دوی دزړونو څخه ښیره (کوم چې دحکم اوریدی په وخت کی طاری سوی وی) لیری سی نو دیو بل څخه پوښتنه کوی چی ستاسی پروردګار څه حکم وفرمایی هغوی وایی چی دَ (فلانی) حقی خبری حکم یی وفرمایی (لکه طالب علم چی دسبق لوستلو څخه وروسته داستاد دتقریر صحیح کولو اویادولو دپاره دیو بل سره ددی اعاده کوی داملائکی هم دخپل اوریدلی حکم دیوبل سره تحقیق اوتصدیق کوی دَدی څخه وروسته دحکم تعمیل کوی) او(دده په مخکی دملائکو داسی حال کیدل څه بعیده ده) هغه عالیشان دتولو څخه لوی دی.

اونه (د دوی څخه دتوحید دتحقیق دپاره دا هم) پوښتنه وکړه چی تاسی ته دآسمان او مخکی څخه (په اوبو اورولو اوبوتو را ایستلو) څوك رزق درکوی ؟ (چونکی ددی جواب د دوی په نزد متعین دی ، په دی وجه) ته ووایه چی الله ﷻ (رزق ورکوی) او (دا هم ووایه چی په دی مسئله دتوحیدکی) بیشکه مونږ یا تاسی خامخا په سیده لاره یو یاپه ښکاره ګمراهی کی (یعنی دا خو کیدی نه سی چی دوه متضاد شیان توحید اوشرك دواړه صحیح اوحق وی اوپه دواړه قسمه عقیدوکی به یوه صحیح اوبله غلطه وی ، (صحیح عقیدی لرونکی به په هدایت اودغلطی عقیدی لرونکی به په ګمراهی وی ، اوس تاسی فکر وکی چی په دوی کی کومه عقیده صحیح ده اوځوك په حق اوهدایت دی ، څوك په ګمراهی دی؟) ته (دوی ته په دی بحث اومناظره کی دا هم) وفرمایه (چی مونږ په ډاګه حق اوباطل په وضاحت سره بیان کړی دی اوس تاسی اومونږ هر یو دخپل عمل ذمه واردی) ستاسی څخه به زمونږ دګناهونو پوښتنه نه وی اوزمونږ څخه به ستاسی دګناهونو پوښتنه نه وی او (ته دوی ته دا هم) ووایه چی (یو وخت خامخا راتلونکی دی په کوم کی چی به) زمونږ رب ټوله (یوځای) جمع کی ، بیابه زمونږ په مینځ کی (په عملی طورسره) ټیك ټیك فیصله وکړی اوهغه لوی فیصله کوونکی او (دتولو دحال) پیژندونکی دی ته (دا هم) ووایه چی (تاسی دَالله ﷻ دعالی شان اوکامل قدرت دلیلونه واوریدل او دخپلو بتانو بی وسی مو هم ولیده) ماته لږ خو هغه وښیاست کوم چی تاسی شریکان جوړکړی دی (په استحقاق دعبادت کی) دخدای سره یو ځای دی هیڅکله (دَهغه څوك شریك) نسته بلکه (په واقع کی) هغه دی الله (یعنی معبود برحق) زبردست حکمت والا دی.

معلومات اومسائل: په ذکرسوو ایتونوکی دحکم ربانی دنزول په وخت کی چی کوم دملائکو مدهوشه کیدل بیاپه خپل مینځ کی دیوبل څخه دپوښتنه کولو ذکردی، ددی بیان په صحیح بخاری کی دحضرت ابوهریره ﷺ په روایت سره داسی راغلی دی چی هرکله الله ﷻ په آسمان کی څه حکم نافذ فرمایی نو تولی ملائکی په خشوع اوخضوع سره خپل وزرونه وهل شروع کړی (اومدهوش غوندی سی) کله چی د دوی دزړونو څخه دبیری ، هیبت اوجلال هغه اثر لیری سی نو وایی ستاسی رب څه وفرمایل ؟ نوری وایی چی فلانی حق حکم یی فرمایلی دی. الحدیث

او په صحیح مسلم کی دی چی حضرت ابن عباس ﷺ دیو صحابی څخه دا روایت کوی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی زما رب تبارك اسمهُ هرکله چی څه حکم کوی نو دعرش پورته کوونکی ملائکی تسبیح کوی د دوی تسبیح چی واوری نو دوی ته دنږدی آسمان والا ملائکی تسبیح شروع کړی بیاچی د دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

تسبیح واوری ، د دوی څخه دلاندی والا آسمان ملائکی تسبیح شروع کړی ، تردی چی دا نو بت د دنیا آسمان (یعنی دتولو څخه لاندی آسمان) ته ورسیږی (اودتولو آسمانونو ملائکی په تسبیح کی مشغولی سی ، بیا هغه ملائکی کومی چی حاملانو دعرش ته نژدی دی د دوی څخه پوښتنه کوی چی ستاسی رب څه وفرمایل هغوی ورته ووایی ، بیا دغه شان دلاندی آسمان والا دپورتنیو څخه دا پوښتنه کوی ، تردی چی دسوال او جواب داسلسله ددنیا آسمان ته ورسیږی . الحدیث (مظهری)

(په بحث او مناظره کې دمخاطب دنفسیاتو رعایت او داشتعال انګیزی څخه پرهیز کول)

وَإِنَّا أَوْ إِيَّاكُمْ لَعَلَىٰ هُدًى أَوْ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ : دا خطاب دمشرکانو اوکفارو سره دی ، په واضحو دلیلونو سره یی دالله ﷻ خالق او مالك والی او قادر مطلق والی واضح کی دبتانو اوغیر الله بی وسی اوکمزوری یی وښوولە ، ددی تولو خبرو څخه وروسته موقع دّدی وه چی مشرکانو ته یی ویلی وای چی تاسی جاهلان او ګمراه یاست چی خدای ﷻ پریږدی اودبتانو اوشیطانانو پرستش کوی ، مګر قران حکیم دلته چی کوم حکیمانه عنوان اختیاروفرمایی هغه ددعوت اوتبلیغ اومخالفانو داسلام اواهلِ باطلو سره دبحث او مناظره کوونکو دپاره یو مهم هدایت نامه ده چی په دی آیت کی دوی ته دکافر اوګمراه ویلوپه څای یی عنوان داسی کښینسوی چی ددی واضحو دلیلونوپه رڼاکی داخو یو دعقل خاوند نه سی ویلی چی توحید اوشرك دواړی خبری حقی دی اوتوحید والا اومشرکان دواړه حق پرست دی ، بلکه یقینی ده چی په دی دواړو کی یو پرحقه اوبل پرګمراهی دی ، اوس تاسی په خپله سوچ وکی اوفیصله وکی چی مونږ په حقه یو اوکه تاسی ، مخاطب ته په خپله په کافر او ګمراه ویلوسره ده ته اشتعال پیداکیږی ، ددی څخه یی منع وکړه اوداسی مشفقانه عنوان یی اختیارکی چی سنګدل مخالف هم په فکر کولو مجبوره سی (ازقرطبی اوبیان القرآن)

داپیغمبرانه دعوت اوموعظت اومجادله دَ، بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ، طریقه کومه چی علماؤ ته هر وخت دنظر لاندی ساتل په کار دی ، ددی په نظر انداز کولو سره دعوت اوتبلیغ اوبحث اومناظره بی اثره بلکه مضره سی ، مخالفین په ضد راسّی اوګمراهی یی نوره پخه سی .

وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةٗ لِّلنَّاسِ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٢٨﴾

او ته مونږ ولیږلی دتولو خلقو دپاره خوشخبری ورکوونکی او بیروونکی اولیکن دیرخلق نه پوهیږي .

لنډتفسیر: اومونږ خوتا ته دتولو خلګو دپاره (برابره خبره ده که پیریان وی یا انسانان عرب وی یاعجم، موجودوی یاراتلونکی وی دتولو دپاره) پیغمبر جوړکړی لیږلی یی (په ایمان راوړلو دوی ته زمونږ درضا اوثواب) خوشخبری اورونکی او(په ایمان نه راوړلو دوی ته زمونږ دعذاب اوغضب څخه) بیروونکی لیکن اکثره خلګ نه پوهیږی (دجهالت یا عناد په وجه سره په انکار اوتکذیب کی لګیدلی وی)

معلومات اومسئلي: په تیروایتونوکی دتوحید اودحق تعالی دقادرمطلق کیدوبیان ووپه دی آیت کی د رسالت اوخاصکر زمونږ دنبی کریم ﷺ دبعثت دعالم دتولو قومونو دموجوده اوراتلونکو دپاره عاموالی بیان سوی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

كَآفَّةً لِّلنَّاسِ : لفظ كَآفَّةً په عربی محاوره کی دیوشی ټولو افرادو ته دعام اوشاملیدو په معنی کی استعمالیږی ، په کوم کی چی څوك مستثنی نه وی ، داصل عبارت ترکیبی تقاضا دا وه چی ، لِلنَّاسِ كَآفَّةً، بی ویلی وای ، څکه چی لفظ دکافة حال دی دناس ، مګر دعموم بعثت بیانولو داهتمام واضح کولو دپاره یی لفظ دکافة مقدم کی .

دنبی کریم ﷺ څخه مخکی چی څومره پیغمبران مبعوث سوی دی د دوی رسالت اونبوت دځه خاص قوم اودمخکی دخاص خطی دپاره وو، دادَخاتم الانبیاء ﷺ خصوصی فضیلت دی چی د دوی نبوت دټولی دنیا دپاره عام دی اوصرف دانسانانو دپاره نه بلکه دپیریانو دپاره هم دی اوصرف دهغو خلګو دپاره نه کوم چی د دوی په زمانه کی موجود وه ، بلکه ترقیامته پوری دراتلونکو انسانانو دنسلونو دپاره عام دی او د دوی نبوت او رسالت تر قیامته پوری باقی اومسلسل پاته کیدل ددی مقتضی دی چی دی ﷺ خاتم النبین وی او د دوی څخه وروسته څوك نبی مبعوث نه سی څکه چی دوهم نبی هلته مبعوث کیږی کله چی اولنی شریعت اوتعلیمات مَسَخ اومُحَرَّف سی نو دوهم نبی دَخلګو داصلاح دمقصد دپاره رالیږل کیږی ، حق تعالی دنبی کریم ﷺ دشریعت او دخپل کتاب قرآن دحفاظت ذمه ترقیامته پوری په خپله غاړه اخستی ده ، په دی وجه دا به ترقیامته پوری په خپل اصلی حالت کی قائم وی اودبل نبی دمبعوث کیدو ضرورت به باقی نه وی .

په صحیح بخاری اومسلم وغیره کی دحضرت جابرﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، چی ماته پنځه شیان داسی راکول سوی دی کوم چی زما څخه مخکی چاته نه وه ورکول سوی ، یو دا چی الله ﷻ زما مدد ماته په داسی رعب راکوی فرمایلی دی چی دَیوی میاشتی ترمسافته پوری پرخلګو زما رعب لویږی ، دوهم دا چی زما دپاره دټولی مخکی مځ پاك اوجمات مقرر سوی دی (دتیرو انبیاؤ په شریعتونو کی د دوی عبادت په خاصو عبادت خانو کی کیدی سو ، د دوی دجماتونو څخه دباندی په میدان یاکور کی عبادت نه کیدی ، الله ﷻ دامت محمدی دپاره ټوله مځکه په دی معنی سره جمات جوړ کی چی هر ځای لمونځ ادا کیدی سی او دمخکی خاوره یی داوبو نه پیداکیدو یا د اوبوداستعمال دضرر رسولو په صورت کی پاکوونکی جوړه کړه ، چی په دی سره تیمم وسی نو داودس قائمقام کیږی) دریم دا چی زما دپاره مالِ غنیمت حلال سو ، زما څخه مخکی دیوه امت دپاره دامال حلال نه وو (بلکه حکم داوو چی په جنګ کی به کوم مال دکفارو څخه په لاس راغی هغه به یی جمع کی اویوځای به یی کښیښووی هلته به یوآسمانی اور بجلی وغیره راغله او دا به یی وسوزی او دا سوزیدل به ددی جهاد دمقبولیت نښانه وه ، دامت محمدی دپاره دغنیمت مال دقرآن دنبوول سوو اصولو مطابق تقسیمول اوپه خپلو ضرورتونو کی یی خرڅ کول جائز سول) څلورم دا چی ماته دشفاعت کبریٰ مقام راکول سو (یعنی دحشر په میدان کی چی څه وخت یو پیغمبر به دشفاعت همت نه سی کولی ماته به هغه وخت دشفاعت موقع را کول سی) پنځم دا چی زما څخه مخکی هر نبی دخپل مخصوص قوم طرف ته به لیږل کیدی ، زه ددنیا دټولو قومونو دپاره د دوی طرف ته پیغمبر جوړ کړل سوی را لیږل سوی یم (ابن کثیر)

Maktaba Tul Ishaat.com

وَيَقُولُونَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۲۹﴾

او وایی کله ده دا وعده که تاسی رښتنی یاست ؟

قُلْ لَّكُمْ مِّيْعَادُ يَوْمٍ لَّا تَسْتَاْخِرُوْنَ عَنْهُ سَاعَةً

ته ووایه تاسی دپاره وعده ده دیوی ورځی نه به وروسته سي دهغه څخه یو ګړی

وَّلَا تَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿۳۰﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ بِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَلَا

او نه به مخکې سی ، او وایی منکران مونږ هیڅکله نه منو دا قرآن او نه دده

بِالَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ ؕ وَلَوْ تَرٰۤى اِذِ الظّٰلِمُوْنَ مَوْقُوْفُوْنَ عِنْدَ

څخه مخکې ، او که ته ووینی هرکله چې ګناهګاران ودریږي دخپل

رَبِّهِمْ ۖۚ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضِ ِۨالْقَوْلَ ۚ يَقُوْلُ الَّذِيْنَ

رب په مخکې ، په یوبل باندې غورځوی خبرې وایی به هغه خلق چې کمزورې به ګڼل

اسْتُضْعِفُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا لَوْلَاۤ اَنْتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِيْنَ ﴿۳۱﴾ قَالَ

کیدل لویې کوونکو ته که تاسی نه واست نو مونږ به ایماندار وای ، وبه وایی

الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْۤا اَنَحْنُ صَدَدْنٰكُمْ عَنِ

لویې کوونکی هغو ته کوم چې کمزورې سوې وو آیا مونږ منع کړی واست تاسی دحقې خبرې

الْهُدٰى بَعْدَ اِذْ جَآءَكُمْ بَلْ كُنْتُمْ مُّجْرِمِيْنَ ﴿۳۲﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ

څخه تاسی ته د را رسیدو څخه وروسته نه ده داسی تاسی ګناهګار واست ، او وبه وایی هغه خلق چې

اسْتُضْعِفُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا بَلْ مَكْرُ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ اِذْ تَاْمُرُوْنَنَاۤ

کمزورې کړل سوې وه لویې کوونکو ته نه ده داسی بیا فریب ستاسی دشپې او ورځې چې تاسی

اَنْ نَّكْفُرَ بِاللّٰهِ وَنَجْعَلَ لَهٗۤ اَنْدَادًا ؕ وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا

به مونږ ته حکم کوی چې مونږ ونه منو الله ﷻ او جوړ کې دهغه سره برابر شریکان ، اوپټه پټه پښیمانی به کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

الْعَذَابَ ۚ وَجَعَلْنَا الْأَغْلٰلَ فِيْٓ أَعْنَاقِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ هَلْ يُجْزَوْنَ

هرکله چی وویني عذاب ، اومونږ غورځولی دی طوقونه په څټانو دمنکرانو کی ، هغه بدله پیدا کی

إِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٣٣﴾

چی کوم عمل یی کوی .

لنډتفسیر: او دا خلګ (دقیامت متعلق مضامین واوری نو وایی چی دا وعده به) کله (واقع) وی که تاسی (یعنی نبی اوستاسی متبعین) رښتنی یاست (نو وښایاست) ته ووایه چی ستاسی دپاره دیوی خاص ورځی وعده (مقرره) ده ، دهغه څخه نه یو ګړی وروسته کیدی سی اونه مخ ته کیدی سی (یعنی که څه هم مونږ وخت نه ښیو دکوم چی تاسی پوښتنه کوی ، مګر راځی به دکومی څخه چی په دی پوښتنه کولو انکار کول ستاسی مقصود دی) او دا کفار (په دنیاکی خوښی ښی خبری جوړ وی او) وایی چی مونږ هیڅکله نه په دی قرآن ایمان راوړو اونه ددی په مخکی کتابونواو (په قیامت کی به دا ټولی لنډی اوږدی خبری ختمی سی چنانچی) که ته (د دوی دَ) هغه وخت حالت وویني (نو یو هولناك منظر به درته په نظر درسی) کله چی دا ظالمان دخپل رب په مخکی ودرول سی په یوبل به خبره ورغورځوی (لکه چی دیو کار دخرابیدو په وخت کی عادت وی چنانچی) دادنی درجی خلګ (یعنی متبعین) به لویو خلګوته (یعنی خپلو مقتداوو ته) وایی چی (مونږ خو ستاسی په سبب برباد سو) که تاسی نه واست نومونږ به خامخا ایمان راوړی وای (په دی به دا) لوی خلګ ووایی دهغه ادنی درجی خلګو ته چی ایا مونږ تاسی (په عمل کولو) دَهدایت څخه (په زبردستی) منع کړی واست وروسته ددی څخه چی هغه (هدایت) تاسی ته رسیدلی وو ، داسی نه ده بلکه تاسی قصور واړه یاست (چی دحق ظاهریدو څخه وروسته موهم قبول نه کی اوس یی زمونږ په سر راتپی) او (ددی په جواب کی به) دا دکومی درجی خلګ ووایی لویو خلګو ته چی (مونږ دا نه وایو چی تاسی زور کړی وو) داسی نه ده بلکه ستاسی دشپی او ورځی تدبیرونو منع کړی وو کله چی به تاسی مونږ ته ویل چی مونږ دی په الله ﷻ باندی کفر وکو اوهغه ته دی شریك مقررکو (دتدبیرونو څخه مراد ترغیب اوترهیب دی یعنی دشپه اوورځ ددغو تعلیماتو او د دوی دتدبیرونو اثر وسو او تباه برباد سو بس مونږ خو تاسی خراب کړو) او (په دی خبرو اتروکی خو به هر سړی په بل الزام لګوی ، مګر په زړه کی به په خپل خپل قصور هم پوهیږی ، ګمراه کوونکی به پوه سی چی مونږ خو واقعی چی داسی کړی وه اوګمراهان به پوه سی چی که څه هم دوی مونږته غلطه لار ښوولی وه لیکن مونږ خو هم اخر په خپله نفع نقصان پوهیدو خامخا زمونږ هم بلکه زیات قصور زمونږ دی لیکن) هغه خلګ به (خپله دا) پښیمانه (دیو بل څخه) پټه ساتی کله چی (په خپل خپل عمل) عذاب (کیدونکی) وویني (ددی دپاره چی دنقصان دپانګی سره خوشحالی دګاونډی نه وی ، لیکن په اخرکی به دسخت عذاب په وجه دغه تحمل هم ختم سی) او (دی ټولوته به په شریکه دا عذاب ورکول سی چی) مونږ به دکافرانو په څټونو کی طوقونه واچوو (اوپه لاسو پښو کی زنځیرونه بیابه یی په کی کلك کړو جهنم ته به

Maktaba Tul Ishaat.com

وغوړځول سی، څه چې یې کول هغه یې پیدا کړل.

وَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَآ اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ

اونه دی لیږلی مونږ یو کلی ته خوک ډیرونکی مګر وویل دهغه خای اسوده خلقو کوم چې ستاسی په لاس رالیږل

بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۴﴾ وَقَالُوْا نَحْنُ اَكْثَرُ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا ۙ وَّمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿۳۵﴾ قُلْ اِنَّ رَبِّيْ يَبْسُطُ

سوی دی مونږ یې نه منو ، او وې ویل مونږ زیات یو په مال او په اولاد کې اوپه مونږ افت نه دی راتلونکی ، ته

ووایه چې بیشکه زما رب فراخه کوی.

الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۶﴾ وَمَآ

رزق دهغه چا دپاره چې غواړی اوتنګوی او لیکن ډیر خلق پوهیږي نه ، اوستاسی

اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ بِالَّتِيْ تُقَرِّبُكُمْ عِنْدَنَا زُلْفٰٓى اِلَّا مَنْ اٰمَنَ

مال او ستاسی اولاد هغه نه دی چې نژدی کړی زمونږ سره ستاسی درجه بیا چا چې یقین وکی

وَعَمِلَ صَالِحًا ۡ فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوْا وَهُمْ

اونیک عمل یې وکی نو دهغوی دپاره ده بدله دوچنده د دوی دکړو عملونو او دوی

فِي الْغُرُفٰتِ اٰمِنُوْنَ ﴿۳۷﴾ وَالَّذِيْنَ يَسْعَوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيْنَ

به په بالا خانو کی په امن سره وی ، او کوم خلق چې کوشش کوی زمونږ په ایتونو کی دعاجزه کولو

اُولٰٓئِكَ فِي الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ ﴿۳۸﴾

هغوی به په عذاب کی نیول سوی را وستل سی.

لنډتفسیر: او (ای پیغمبر ﷺ ددی خلګو په ګمراهانه اوجاهلانه خبرو مه غمجن کیږه څکه دا معامله ناآشنا ستاسره نه ده سوی بلکه) مونږ یوکلی ته یو بیرونکی (پیغمبر) نه دی لیږلی ، مګر دهغه خای خوشحاله خلګو (ددی زمانی دکفاروپه شان) دا وویل چې مونږ خو دهغو احکامو څخه منکر یو په کومو چې تاسی رالیږل سوی یاست اوهغوی دا هم وویل چې مونږ په مال اوپه اولاد کی ستاسی څخه زیات یو (لکه چې ویل سوی دی په سورة کهف کی، اَنَا اَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَّاَعَزُّ نَفَرًا) او (دا دلیل دی زمونږ دعزتمند اومقبول عندالله کیدو وروسته) مونږ به هیڅکله په عذاب نه سو (او دا خبره به دمکی کفارو کوله لکه چې الله ﷻ فرمایی، قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا، نو غم مه کوه البته د دوی دخبری

Maktaba Tul Ishaat.com

رد وکړه او دوی ته داسی) ووایه چی (درزق دفراخی مدار په قبولیت عندالله نه دی بلکه محض په مشیت سره دی چنانچی) زماپروردګار چاته چې وغواړی زیات رزق ورکوی اوچا ته چی وغواړی کم رزق ورکوی (او په دی کی حکمتونه وی) لیکن اکثره خلګ (ددی څخه) خبر نه دی (چی مدار ددی په نورو مصلحتونو باندی دی ، په قبولیت عندالله نه دی) او (ای کفارو دا هم واورې چی لکه څنګه ستاسی مالونه او اولاد دلیل اونښانه دقرب عندالله نه ده دغه شان) ستاسی مالونه اواولاد داسی شیان نه دی کوم چی تاسی په درجه کی مونږ ته نژدی جوړ کړی (یعنی موثر اوعلت دقرب هم نه دی نونه مالونه او اولاد په قبولیت مرتب دی اونه پرمالونو اواولاد باندی قبولیت مرتب دی) البته مګر څوک چې ایمان راوړی اونیک کارونه وکی (دادواړه شیان البته سبب دقرب دی) نوددا سی خلګو دپاره د دوی دَ (نیک) عمل دوچنده بدله ده (یعنی دعمل څخه زیات برابره خبره ده که د دوچنده څخه هم زیات وی لکه دا قول دالله ﷻ ، مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا : او دوی به (دجنت) به بالاخانو کی په ارام سره ناست وی او کوم خلګ چی (د دوی خلاف محض په مالونو او په اولاد باندی مغرور دی اوایمان اونیک عمل نه اختیار وی بلکه هغوی) زمونږ دایتونو متعلق (ددی دباطلولو) کوشش کوی (دَنبی) دکمزوری کولو دپاره داسی خلګ به په عذاب کی ګیر را وستل سی .

معلومات اومسئلي

(ددنیا دولت اوعزت دمقبولیت عند الله ددلیل ګنلو پخواني دشیطان فریب)

ددنیا دَابتداء څخه ددنیا د دولت اوعیش اوعشرت په نشه کی مست کیدونکو خلګو همیشه دحق دَاواز مخالفت او دانبیاؤ اوصالحانو سره ددښمنی طریقه اختیار کړي ده ، اِلاَّ مَا شَآءَ الله، په دی سربیره عجیبه دا چی دغه خلګو داهل حق په مقابله کی په خپل حالت دمطمئن کیدو به دا دلیل هم پیش کوی چی که زمونږ عملونه او عادتونه دالله ﷻ خوښ نه وای نو مونږ ته به یی ددنیا دولت اوعزت اوحکومت ولی راکوی ، قرآن کریم ددی جواب په ډیرو ایتونوکی په مختلفو عنواناتو سره ورکړی دی ، دَذکر سوو ایتونو نزول هم دغسی دیوی واقعی سره متعلق او ددی خطا دلیل جواب دی .

په حدیث کی دی چی په زمانه دجاهلیت کی دوه سړی په یوکار اوبار کی شریك وه ، بیاپه دوی کی یوتن دا ځای پریښووی اویوې ساحلی علاقی ته ولاړی ، هرکله چی نبی کریم ﷺ مبعوث سو او دَ دوی دنبوت او رسالت آوازه وسوه نو دغه ساحلی ملګری خپل دمکی دی ملګری ته خط ولیکی اوپوښتنه یی ورڅخه وکړه چی دده دنبوت ددعوی څخه تاسی خلګو څه اثر واخیستی؟ په دی باندی دمکی ملګری ورته جواب ولیکی چی په قریشوکی خو هیڅوك هم دده تابع نه سول ، صرف غریبان مسکینان اوبی حیثیته خلګ په ده پسی سوی دی ، ساحلی ملګری هلته خپل تجارت پریښووی ، مکی مکرمی ته راغی اوخپل ملګری ته یی وویل چی ماته دهغه پته وښیه کوم چی دنبوت دعوی کوی ، دی ساحلی ملګری دپخوانیو کتابونو تورات انجیل وغیره مطالعه کوله ، دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سو او پوښتنه یی وکړه چی ته دَڅه شی طرف ته دعوت ورکوی؟ ده ﷺ دخپل اسلامی دعوت دمهمو اجزاوو ذکر وفرمایی ، داسلام ددعوت د دوی دژبی مبارکی څخه دَاوریدو سره هغه وویل، اَشْهَدُ اَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

یعنی زه شاهدی ادا کوم چی ته بیشکه دالله ﷻ رسول یی ، دوی پوښتنه ځینی وکړه چی تاته دا څنګه معلومه سوه؟ هغه عرض وکی چی (ستا ددعوت حقوالی خو می په عقل سره وپیژندی او ددی ننبانه می دا ولیده چی) څومره انبیاء مخ ته راغلی دی ، دټولو منونکی په اول کی دقوم غریبانان فقیران او کوم حیثیته خلګ سوی دی په دی باندی داذکر سوی آیت نازل سو ، وَمَا أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ مِنْ نَذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَا الاية (ابن کثیر اومظهری) مُتْرَف، دتَرَفْ څخه مشتق دی چی معنی یی دَناز اونعمت زیاتوالی راځی ، دَمُتْرَفِيْن څخه مراد دقوم غنیان او مالداران اوسرداران دی ، قرآن کریم د ذکر سوو ایتونو په اولنی آیت کی فرمایی چی هرکله مونږ یو رسول لیږلی دی نو دمال او دولت په ننبانه او ناز او نعمت کی پالل سوو خلګو دده مقابله په کفر اوانکارسره کړې ده .

په دوهم آیت کی یی د دوی دا قول نقل کړی دی چی ، نَحْنُ أَكْثَرُ أَمْوَالًا وَأَوْلَادًا وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ : یعنی مونږ ستاسی څخه په مال او دولت کی هم زیات ، په اولادکی هم زیات یو په دی وجه مونږ په عذاب کی نه سو اخته کیدی (په ظاهره د دوی دخبری مطلب دا وو چی که دالله ﷻ په نزد مونږدعذاب قابل وای نومونږته به یی دومره دولت اوعزت ولی راکوی) قرآن کریم په دریم اوځلورم آیت کی دوی ته داجواب ورکړی دی چی ، قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَقْدِرُ او ، مَا أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ : دجواب خلاصه دا ده چی په دنیا کی دَمال دولت یاعزت او مرتبی کموالی او زیاتوالی دالله ﷻ په نزد دَمقبول یامردود کیدو دلیل نه دی بلکه دتکوینی مصلحتونو ترمخه په دنیاکی خوالله ﷻ چا ته چی وغواړی مال او دولت په پریمانی سره ورکوی ، چاته چی وغواړی کم یی ورکوی چی ددی په تکوینی حکمت هم هغه پوه دی ، مګر دمال او دولت زیاتوالی دالله ﷻ په نزد دمقبولیت دلیل ګڼل جهالت دی څکه چی دهغه په نزد دمقبولیت مدار صرف پرایمان اونیک عمل دی چاته چی دا حاصل نه وی مال او اولاد که هرڅومره زیات وی دی دالله ﷻ په نزد مقبول نه سی جوړیدی .

دامضمون قرآن کریم په دیروایتونوکی بیان کړی دی یوځای ارشاددی، أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُمْ بِهِ مِنْ مَالٍ وَبَنِينَ، نُسَارِعُ لَهُمْ فِي الْخَيْرَاتِ بَل لَّا يَشْعُرُونَ : یعنی ایا داخلق داسی ګڼی چی مونږکوم مال اواولاد دوی ته زیات ورکړی دی ، دا د دوی دپاره دانجام او اخرت په اعتبار سره خیر دی (هیڅکله داسی نه ده) بلکه دا خلګ دحقیقت څخه بی خبره دی (چی کوم مال او اولاد انسان دالله ﷻ څخه غافله کړی هغه دده دپاره وبال دی) په دوهم آیت کی فرمایی ، فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُمْ إِنَّمَا يُرِيدُ اللهُ لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنفُسُهُمْ وَهُمْ كَافِرُونَ : یعنی ددی کافرانو په مالونو اواولاد باندی ته تعجب مه کوه څکه چی دالله ﷻ اراده دا ده چی دوی ددی مال اواولاد په ذریعه په دنیاکی په عذاب کی اخته کړی اواخر د دوی روح په دی حالت دکفر کی ووزی چی نتیجه یی دا خرت دائمی عذاب سی ، دَمال اواولادپه ذریعه په دنیاکی دعذاب ورکولو مطلب دا دی چی دوی په دنیاکی دمال او دولت په محبت کی داسی اخته سی چی خپل انجام او دخدای اواخرت طرف ته یی ګرسره خیال نه وی چی ددی انجام دائمی عذاب دی او دیر مال او اولادوالاوو ته په دی دنیاکی هم دَمال او اولادپه خاطر بلکه ددی په ذریعه په زرګونو مصیبتونه او

Maktaba Tul Ishaat.com

تکلیفونه تیرول وی ، د دوی سزا اوعذاب خو ددی عالم څخه شروع سی .
دحضرت ابوهریره ﷺ روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ ستاسی صورتونو ته اوستاسی مالونو ته نه گوری هغه خو ستاسی زړونوته او عملونوته گوری (رواه احمد ، ابن کثیر)
اُولٰئِكَ لَهُمْ جَزَاءُ الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوا وَهُمْ فِي الْغُرُفَاتِ آمِنُونَ : دا دایمانداروا و نیك عمل دخاوندانو حال بنوول سوی دی چی دالله ﷻ په نزد مقبول دا خلگ دی ، په دنیا کی که څوك د دوی قدر وپیژنی اوکه نه په اخرت کی به دوی ته دوچنده ثواب حاصلیږی ، ضعف ، په زیر دضاد مصدر دی چی معنی یی دیو شی مثل یامثالونه راځی ، مراد دا دی چی لکه څنگه چی په دنیا کی د دولت خاوندان دخپل دولت دزیاتولو په کار کی لگیاوی ، الله ﷻ به د دوی دعملونو ثواب په اخرت کی زیاتوی ، چی دیوه عمل جزا به دده لس چنده وی او په دی کی هم منحصره نه ده ، دده دعمل داخلاص او په نورو اسبابو سره دیو عمل جزا تر اووه سوه ۷۰۰ چنده پوری ورکول هم په صحیح احادیثو سره ثابت دی او په دی کی هم حصر نسته ، ددی څخه هم زیاتیدی سی او دا خلگ به دجنت په بالاخانوکی مامون او دهمیشه دپاره دهر رنځ او غم څخه محفوظ وی ، غُرُفَات دغُرْفَةٌ جمع ده ، دکور کومه حصه چی د نورو حصو څخه ممتازه او اعلی گڼل کیږی ، هغه ته غرفه وایی (مظهری)

قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَهُ ۚ وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ

ته ووایه چی زمارب فراخه کوی رزق دچادپاره چی وغواړی دخپلوبندگانو څخه اوتنگوی یی ورلره اوځه چی خرڅ

يُخْلِفُهُ ۖ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿٣٩﴾

کوی تاسی دځه شی څخه هغه یی عوض درکوی او هغه ښه رزق ورکوونکی دی

لنډتفسیر: ته (مومنانوته) دا ووایه چی زمارب په خپلو بندگانوکی چاته چی وغواړی فراخه رزق ورکوی اوچاته چی وغواړی تنگ رزق ورکوی او (په خرڅ کی په امساك او بخل سره رزق نه زیاتیږی او دشریعت مطابق په خرڅ کولو سره کمیږی ، نو په دی وجه تاسی په مال پوری زړه مه تړی بلکه کوم کوم ځای چی دالله ﷻ حقونه او دَخپل عیال حقونه اوپه فقیرانو مسکینانو وغیره باندی دخرڅ کولوحکم دی بی دریغه یی خرڅوی چی په دی باندی په رزق مقسوم اومقدرکی خو دَهیڅ کمی ضرر به نه وی اوپه اخرت کی به ددی څخه نفع حاصله سی څکه چی کوم شی تاسی (دخدای دحکم په موقعوکی) خرڅوی نوالله ﷻ به ددی (په اخرت کی خو خامخا او اکثره په دنیا کی هم) بدله درکړی اوهغه دتولو څخه ښه رزق ورکوونکی دی.
معلومات اومسئلې: دایت تقریبًا په دی الفاظو سره لوړ تیر سوی دی ، قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ (تفسیر: دلته په ظاهره دا مضمون مکرر راغلی دی ، مگردیوه فرق سره چی دلته دَمَنْ يَشَاءُ، څخه وروسته مِنْ عِبَادِهِ او دَ، يَقْدِرُ څخه وروسته ،لَهُ، زیات سوی دی ، دَمِنْ عِبَادِهِ، دلفظ څخه داگڼل کیږی چی دا حکم دخپلو مخصوصوبندگانویعنی دمومنانو دپاره ارشاد سوی دی اومقصود ددی آیت څخه دا دی چی ایماندار دی دَمال په محبت کی داسی نه لگیاکیږی چی دالله ﷻ په نبوول سووحقونو اومواقعوکی د

Maktaba Tul Ishaat.com

خرځ کولو څخه زړه تنګی سی ، او ددی څخه مخکی چی کوم آیت په دی مضمون راغلی دی دهغه خطاب کفارو اومشرکانو ته وو کومو چی به ددنیا په مال اوپه اولاد باندی فخرکوی او دا به یی دخپل اخرت دفلاح دلیل ګڼی ، دغه شان دمخاطب او مقصود دکلام په اعتبار سره تکرار را نه غی په لنډ تفسیرکی چی کوم دایت دتفسیر په شروع کی لفظ دمومنانو زیات سوی دی، دا ددی مضمون طرف ته اشاره ده .

اوځینو حضراتو په دی دواړو ایتونو کی دا فرق بیان کړی دی چی په اولنی آیت کی خو په مختلفو انسانانو کی درزق دتقسیم ذکروو چی الله ﷻ دخپل حکمت او دَعالَمْ دمصلحتونو تر مخه چاته مال زیات اوچاته کم ورکوی او په دی آیت کی دیوه سړی دمختلفو حالاتو ذکر دی چی یوه سړی ته کله دمال فراخی اوډیروالی عطاء سی ، کله ده ته تنګی اوتنګ دستی هم پیښیږی ، لفظ دَله چی کوم په دی آیت کی دیَقْدِرُ څخه وروسته راغلی دی ، په دی کی دی طرف ته اشاره راوزی ، ددی تقریر مطابق هم تکرار پاته نه سو، بلکه اولنی آیت دمختلفو افرادو متعلق اودا ایت دیو فرد دمختلفو احوالو متعلق سو.

وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ : ددی آیت لفظی معنٰی دا ده چی تاسی چی کوم شی هم خرڅوی الله ﷻ دخپلو غیبو دخزانو څخه تاسی ته دهغه بدله درکوی ، کله په دنیاکی اوکله په اخرت کی ، اوکله په دواړو کی ، دکائناتِ عالم په تولوشیانو کی دالیدل کیږی چی دآسمان څخه اوبه نازلیږی انسانان اوحیوانان دا بی دریغه خرڅوی ، مخکی فصلونه او درختی بوټی په اوبه کوی ، دغه اوبه ختمیږی نه نوری دهغه په ځای نازلیږی دغه شان چی په مخکه کی ځاه وکاږل سی ، اوبه ورځخه را ویستل سی ، دا اوبه چی څومره را ایستل کیږی اوخرڅول کیږی دهغه په ځای نوری اوبه دقدرت دطرف څخه جمع کیږی انسان خوراك خوری او په ظاهره یی ختموی ، مګر الله ﷻ دهغه په ځای نورخوراك تیار وی ، دبدن په نقل او حرکت اومحنت سره چی کوم اجزاء تحلیل سی ، دهغه په ځای نور اجزاء بدل دمایتحلل جوړیږی ، غرض دا چی انسان په دنیا کی چی کوم شی خرڅوی دالله ﷻ عام عادت دا دی چی دهغه قائمقام دهغه په شان نور شیان ورکوی ، کله چاته دسزا ورکولو دپاره یاپه بل څه تکوینی مصلحت سره ددی خلاف کیدل ددی الٰهی قاعدی منافی نه دی .

په صحیح مسلم کی دحضرت ابوهریره ﷺ حدیث دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی روزانه هرکله چی خلګ په سحر کی دا خل سی ، دوی ملائکی دآسمان څخه راکښته سی او دا دعا کوی ، اَللّٰهُمَّ اَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا وَاَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا: یعنی یاالله خرڅ کوونکی ته دده بدله ورکړی او دبخل کوونکی مال ضائع کړی او په یو بل حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ ماته ارشاد فرمایلی دی چی ته په خلګو باندی خرڅ کوه زه به یی په تا خرڅ کوم .

(کوم خرڅ چې دشریعت مطابق نه وی دهغه دبدل وعده نسته)

دحضرت جابر ﷺ حدیث دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی نیك کار صدقه ده اوکوم سړی چی په خپل نفس یاخپل عیال باندی خرڅ کوی دا هم صدقه ده اوموجب دثواب ده اوکوم سړی چی څه خرڅ کوی او خپل عزت خوندی کوی دا هم صدقه ده ، اوکوم سړی چی دالله ﷻ دحکم مطابق څه خرڅ کوی نو دا الله ﷻ په خپله ذمه اخستی ده چی بدل به یی ده ته ورکوی مګر هغه خرڅ کوم چی (فضول ترضرورت زیات)

Maktaba Tul Ishaat.com

په ابادیو یادګناه په کارکی سوی وی دهغه دبدل وعده نسته.
دحضرت جابرﷺ شاګرد ابن المنکدر چی دا حدیث واوریدی نو پوښتنه یی ځینی وکړه چی دابرو خوندی کولو دپاره دخرڅ څه مطلب دی؟ هغوی وفرمایل چی دکوم سړی متعلق دا خیال وی چی دی که ورکړه نه کوی نو خلګ به یی عیب جویی کوی، بدبه ورته وایی او په بدنوم به یی مشهوره وی نو دخپل ابرو خوندی کولو دپاره داسی خرڅ کولوته وایی (رواه الدارقطنی، قرطبی) (یعنی دی خرڅ ددی دپاره کوی چی څوک می بدونه وایی)

(دکوم شي خرڅ چې کم کړل سي دهغه پیداوار هم کمیږی)

ددی آیت داشاری څخه دا هم معلومه سوه چی الله ﷻ دخرڅ کوم شیان دانسانانو اوحیواناتو دپاره پیدا کړی دی، ترڅو پوری چی هغه خرڅیږی دهغو بدل دالله ﷻ دطرف څخه پیدا کیږی، دکوم شی خرڅ چی زیات وی الله ﷻ دهغه پیداوار هم زیاتوی په حیوانانو کی دبزی اوغوا دټولو څخه زیات خرڅ دی چی دا ذبح کیږی اوغوښی یی خوړل کیږی اوپه شرعی قربانیو اوکفارو اوجنایاتو کی دوی ذبح کیږی، هغه چی څومره زیات په کارراځی، الله ﷻ دومره زیات دهغه پیداوار زیاتوی چی هرڅای لیدل کیږی دبیزو شمیر سره ددی چی بی شمیره ذبح کیږی، دومره په ټوله دنیاکی زیادت دی، دسپو اوپیشوګانوشمیر دومره نه دی حال دا دی چی دسپو اوپیشوګانو نسل په ظاهره زیات په کار دی ځکه چی دوی دیوه نس څخه څلور پنځه پیدا کیږی، غوا اوبزه زیات تر زیات دوه بچیان راوړی، غوا او بزه هر وخت ذبح کیږی، سپی اوپیشوته څوک لاس هم نه وروړی، مګر بیاهم دالیدل کیږی او انکار نه ځینی کیږی چی په دنیا کی دغوا اوبزو شمیر په نسبت دسپو اوپیشوګانو زیادت دی، دکله څخه چی دغوا په ذبح په هندوستان کی پابندی لګیدلی ده، دهغه وخت څخه دغواګانو پیداوار په دغه نسبت سره کم سوی دی، کنه نو په هرکلی کی به هر یو کور دغواګانو څخه ډک وو کوم چی به دنه ذبح کیدو په وجه خوندی پاته کیدی.
عربو چی دکله څخه په سپرلی اوبار برداری کی داوښانو څخه کار اخیستل کم کړل، هلته داوښانو پیداوار هم کم سو، په دی سره ددی ملحدانه شبهی ازاله وسوه کومه چی دقربانی داحکامو په مقابله کی داقتصادی او معاشی تنګی دبیری پیدا کولو دپاره پیش کول کیږی.

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلَائِكَةِ أَهَٰؤُلَاءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا يَعْبُدُونَ ﴿٤٠﴾ قَالُوا سُبْحَانَكَ

او په کومه ورځ چی جمع کړی دا ټوله بیا به ووایی ملائکو ته چی آیا دی خلقو ستاسی عبادت کوی؟ هغوی به

أَنْتَ وَلِيُّنَا مِنْ دُونِهِمْ ۖ بَلْ كَانُوا يَعْبُدُونَ الْجِنَّ ۖ أَكْثَرُهُمْ

ووایی پاک دی ذات ستا، مونږستاپه طرف کی یُو دهغوی په طرف کی نه یُو، بلکه دوی عبادت کوی دپیریانو

بِهِمْ مُؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾ فَالْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ نَفْعًا وَلَا

دوی اکثرو په هغوی عقیده درلوده، نو نن ورځ به تاسی مالکان نه یاست دیوبل دګتی اونه

Maktaba Tul Ishaat.com

ضَرًّا ۭ وَنَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ۝

دضرر او وبه وایو مونږ دغوګناهګارو ته وځکی عذاب دهغه اور کوم چی تاسی درواغجن ګڼل.

لنډتفسیر: او (هغه ورځ قابل ذکر ده) په کومه ورځ چی الله دا ټول (په میدان دقیامت کی) جمع کړی بیابه ملائکو ته ارشاد وفرمایی چی ایا داخلګو ستاسی عبادت کوی (دملائکو څخه دا سوال دمشرکانو دلاجوابه کولو دپاره به وی ، کومو چی دملائکو اوغیر ملائکو عبادت به یی په دی خیال سره کوی چی دوی راضی سی زمونږ شفاعت به کوی لکه په یوه ایت کی دغه شان سوال دحضرت عیسیٰ علیه السلام څخه سوی دی ، ءَاَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاس، مطلب دسوال دا دی چی ایا ستاسی په رضا دوی ستاسی عبادت کوی ، او دارنګه په جواب کی هم ددی قید قرینه ده ، لکه دجواب دترجمی څخه به معلومه سی) هغوی به (اول دحق تعالی دشریك څخه دبالا ترکیدو اوپاکیدو ظاهرولو دپاره) عرض وکی چی ته (دشریك څخه) پاك یی (دایی دجواب څخه مخکی څکه وویل چی د دوی طرف ته کوم نسبت دشرك کولو حکایت سوی وو دهغه څخه بیریدی اول یی دا جملی عرض کړی بیا مخ ته به ددی سوال جواب داسی ورکی چی) زمونږ خو (محض) ستاسره تعلق دی نه چی د دوی سره (ددی څخه درضا اوامَر دواړو نفی وسوه یعنی نه مونږ دوی ته ویلی دی اونه مونږ د دوی په دی کار راضی یو، مونږ ستا تابعدار یوکوم شی چی ستا ناخوښه دی لکه شرك وغیره په دی مونږ هم خوشحاله نه یو ، کله چی په دی شرك کی نه زمونږ اَمَرْسته نه رضا نو په واقع کی دوی زمونږ عبادت نه کوی) بلکه دی خلګو دشیطانانو عبادت کوی (څکه چی شیطانانو به ورته ددی ترغیب هم ورکوی او په دی راضی هم وه په دی وجه هغوی د دوی معبودان سول څکه چی عبادت مستلزم دی اطاعت مطلقه لره چی دده په مخکی دبل چا اطاعت ونه کی ، دغه شان داسی اطاعت مطلقه مستلزم دی عبادت لره ، نوکله چی زمونږ دطرف څخه اَمْر اورضا متحققه نه ده نو زمونږ اطاعت ونه سو اوکله چی دشیطانانو اطاعت مطلقه یی وکی نو عبادت په حقیقت کی هم دهغوی وسو که څه هم دا خلګ نوم هرڅه ورلره کښیږدی که دملائکو عبادت ورته وایی که دبتانو عبادت ، مګر په واقع کی دا عبادت دشیطانانو دی اولکه څنګه چی دذکرسوی تقریرڅخه ددغو خلګو عابدان شیطانان کیدل لازم سول ، دغه شان په دغوکی اکثره خلګ التزامًا هم) ددغو (شیطانانو) متعقدوه (یعنی قصدًا به هم ډیرو دهغوی عبادت کوی لکه چی دسورة جن په آیت کی دی ، وَاَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ مِنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِنَ الْجِنِّ : او داسی نور ایتونه) نو (کافرانو ته به وویل سی چی دکومو څخه تاسی امیدونه ساتل) نن (په خپله دهغوی ددی بیزاری څخه هم او دهغوی دعجز او بی وسی څخه هم ستاسی دګمان خلاف دا حالت ظاهر سو چی) تاسی (ټول عابدان او معبودان) نه څوك چاته دنفع رسولو اختیار لری اونه دنقصان رسولو (مطلب خو دا دی چی دا معبودان تاسی ته نفع نه سی رسولی ، مګر دمبالغی دپاره یی په بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ سره تعبیر وفرمایی چی ددی ابهام څخه د دواړو برابری په دی کارکی ثابت سی چی لکه څنګه چی تاسی عاجزه یاست ، هغه هم عاجزه دی او دضرر ذکر دعجز دعاموالی دپاره دی ، په دی سره کلام نور هم مؤکدسو) او (هغه وخت) مونږ به ظالمانو ته (یعنی کافرانو ته) ووایو چی دکوم دوزخ عذاب تاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

درواغجن کوی (اوس) دهغه خوند وخکی .

وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالُوْا مَا هٰذَآ اِلَّا

او هرکله چی وویل سی دوی ته زمونږ ایتونه واضح وایی نور هیڅ نه دی مګر

رَجُلٌ يُّرِيْدُ اَنْ يَّصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُكُمْ ۚ وَقَالُوْا مَا

دا یو سړی دی غولړی چی واړوی تاسی دهغو څخه دکومو چی عبادت کوی ستاسی پلار نیکه ، او وایی

هٰذَآ اِلَّآ اِفْكٌ مُّفْتَرًى ۭ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ۙ

نورهیڅ نه دی دا یو درواغ دی جوړ سوی ، او وایی منکران حقی خبری ته هرکله چی راسی دوی ته نورهیڅ

اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۴۳﴾ وَمَآ اٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ كُتُبٍ يَّدْرُسُوْنَهَا وَمَآ

نه دی دا مګر یو جادو دی ښکاره ، اومونږ نه دی ورکړی دوی ته څه کتابونه کوم چی دوی وایی

اَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمْ قَبْلَكَ مِنْ نَّذِيْرٍ ﴿۴۴﴾ وَكَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۙ

اولیږلی نه دی دوی ته مونږ ستا څخه مخکې څوک بیرونکی ، او درواغجن کړی دی د دوی څخه مخکې خلقو

وَمَا بَلَغُوْا مِعْشَارَ مَآ اٰتَيْنٰهُمْ فَكَذَّبُوْا رُسُلِيْ ۣ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿۴۵﴾

اودوی نه دی رسیدلی لسمی برخی دهغه ته کوم چی مونږ هغوی ته ورکړی ووبیایی درواغجن کړل زمونږ لیږل سوی

قُلْ اِنَّمَآ اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ ۚ اَنْ تَقُوْمُوْا لِلّٰهِ مَثْنٰى وَفُرَادٰى ثُمَّ

نوځنګه سو انکار زما ؟ ته ووایه زه خو یو نصیحت کوم تاسی ته چی ودریږئ دالله په نوم دوه دوه او یو یو بیا

تَتَفَكَّرُوْا ۛ مَا بِصَاحِبِكُمْ مِّنْ جِنَّةٍ ۭ اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ

فکر وکی ، چی ستاسی په دی ملګری هیڅ سودا نسته ، دا خو یو بیرونکی دی تاسی لره دیو لوی افت

يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيْدٍ ﴿۴۶﴾ قُلْ مَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ ۭ

دراتلو څخه ، ته ووایه که ما غوښتلی وای تاسی څخه بدله نو هغه ستاسی سوه

إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ ۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿٤٧﴾ قُلْ إِنَّ

زما بدله ده په هغه الله ،او دهغه په مخکی دی هر شی ، ته ووایه زما

رَبِّي يَقْذِفُ بِالْحَقِّ ۚ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴿٤٨﴾ قُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ

رب ولی ربښتنی دین او هغه پوه دی په پټو شیانو ، ته ووایه ربښتنی دین راغی او باطل نه څه پیدا

الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ ﴿٤٩﴾ قُلْ إِنْ ضَلَلْتُ فَإِنَّمَا أَضِلُّ عَلَىٰ نَفْسِي ۖ

کولی سی او نه یی واپس کولی سی ، ته ووایه که زه بی لاری سم نو خپل نقصان می دی ،

وَإِنِ اهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوحِي إِلَيَّ رَبِّي ۚ إِنَّهُ سَمِيعٌ قَرِيبٌ ﴿٥٠﴾

اوکه هدایت پیدا کړم ، نو په دی سبب چی وحی کوی ما ته زما رب بیشکه هغه هرڅه اوری نژدی دی

لنډتفسیر: اوهرکله چی ددی خلګو په مخکی زمونږ ایتونه کوم چی (دحق اوهدایت کیدو په صفت کی) صفا صفا دی ویل کیږی نو دا خلګ (دویونکی یعنی نبی کریم ﷺ په نسبت) وایی چی (نعوذبالله) دا محضی یو داسی سړی دی کوم چی داسی غواړی چی تاسی دهغو شیانو (دعبادت) څخه منع کړی کومو ته چی (دپخوا څخه) ستاسی مشرانو عبادت کوی (او دهغو څخه مو منع کوی او خپل تابعداران مو جوړ وی ، مطلب ددی کم بختانو دا وو چی دا نبی نه دی او د دوی دعوت دالله ﷻ دجانب څخه نه دی ، بلکه په دی کی په خپله دده ذاتی غرض دخپل ریاست دی) او (دقرآن په نسبت) وایی چی (نعوذبالله) دا محض یو جوړ سوی دروغ دی (یعنی دخدای طرف ته ددی نسبت کول محض دځانه جوړه سوی خبره ده) او دا کافران ددی حق امر (یعنی قرآن) په نسبت هرکله چی دوی ته را ورسیدی (ددی اعتراض دجواب دپاره چی که دا دځانه جوړ سوی دروغ دی نو بیا دیر هوښیاران ددی تابعداری ولی کوی اودا داسی اثر کوونکی ولی دی) داسی وایی چی دا محض یو صریح جادو دی (بس ددی په اوریدو خلګ مغلوب العقل اوعاشقان کیږی) او (دوی ته خو دقرآن او دنبی لوی قدرکول په کار وو ، ځکه چی د دوی دپاره خو دا محض غیر مترقبه نعمتونه وه ، په دی سبب سره چی) مونږ (ددی قرآن څخه مخکی) دوی ته (کله آسمانی) کتابونه نه وه ورکړی چی هغه یی ویل (لکه دبنی اسرائیلو سره چی کتابونه وه نو د دوی په حق کی خو قرآن بالکل یو نوی شی وو ، په دی وجه دوی ته یی قدرکول په کار وو) او (دغه شان) مونږ ستا څخه مخ ته دوی ته څوک بیرونکی (یعنی پیغمبر) نه وو لیږلی (نو د دوی په حق کی نبی هم یو نوی دولت وو په دی وجه دده هم قدرکول په کار وو ، خاصکر کله چی علاوه دنوی نعمت کیدو څخه په خپله د دوی خواهش هم وو ، تمنابه یی کوله چی مونږ ته څوک نبی راسی نو مونږ به یی اتباع کوو لکه چی په دی آیت کی دی ، وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَاءَهُمْ نَذِيرٌ لَيَكُونُنَّ أَهْدَىٰ مِنْ إِحْدَى الْأُمَمِ : مگر دی خلګو یی بیاهم

قدر ونه کی ، لکه چی الله فرمایی ، فَلَمَّا جَاءَهُمْ نَذِيرٌ مَا زَادَهُمْ إِلَّا نُفُورًا: بلکه - کذیب یی وکی) او (داخلک دی پرتکذیب کولو بی فکره نه کښینی څکه چی دتکذیب وبال ډیرسخت دی چنانچی) د دوی څخه مخکی چی کوم (کافران) خلک وه ، هغوی (هم دانبیاوو او وحی) تکذیب کړی وو او دا (مشرکان دعرب) خو دهغه سامان کوم چی مونږ هغوی ته ورکړی وو ، لسمی حصی ته هم نه دی رسیدلی (یعنی دهغوی په شان قوت ، دهغوی په شان عمرونه دهغوی په شان مالداری دوی ته نه ده حاصله کومه چی سرمایه دغرور اوسبب دافتخاروی لکه الله ﷻ فرمایی ، كَانُوا أَشَدَّ مِنكُمْ قُوَّةً وَأَكْثَرَ أَمْوَالًا وَأَوْلَادًا : غرض دا چی دوی زما درسول تکذیب وکی نو (وګوره) زما (په دوی) څنګه عذاب وسو (نو دابی چاره څه شیان دی چی د دوی سره خو دومره سامان هم نسته ، کله چی دومره ثروت او دولت په کار ورنه غی نو دوی په کومه دوکه کی دی او دارنګه کله چی د دوی سره سامان کم دی کوم چی سبب دغرور وی نو د دوی جرم هم سخت دی ، بیا به دوی څنګه خوندی سی ، تردی څای پوری یی په انکار دنبوت باندی کفاروته تهدید وفرمایی ، مخ ته دوی ته دتصدیق دنبوت یوه طریقه ښیی چی ای محمد ﷺ) ته (دوی ته) دا ووایه چی زه تاسی ته صرف یوه خبره (لنډه) وایم (په دی سره به وضاحت وسی بس داسی وکی) هغه داچی تاسی (محض) دخدای دپاره (چی په دی کی نفسانیت اوتعصب نه وی) ودریږی (یعنی تیارسی په یوه موقع) دوه دوه او (پرځه مواقعو) یو یو (یعنی چونکی مقصود غور اوفکر دی لکه چی مخ ته راځی او دفکر دا قاعده ده چی دځینو وختونو اوځینو طبیعتونو په اعتبار سره د دوو په یو څای کیدو سره دهرسړی فکر ته په بل باندی تقویت رسیږی او دځینو وختونو او ځینو طبیعتونو په اعتبار سره یوازی ښه فکر کیدی سی او په ډیره زیاته مجمع کی اکثره فکر پریشانه کیږی ، په دی وجه په دی یی بس والی وفرمایی غرض داسی تیارسی) بیا (ښه) فکر وکی (چی څنګه زه دعوه کوم ، مثلاً دا چی دقرآن مماثل ممکن نه دی لکه په څومکی سورتونو کی دا مضمون دی ، داسی دعوی دوه سړیان کولی سی یاخو هغه دکوم په دماغوکی چی خلل وی چی دانجام څخه خبر نه وی اویاهغه چی نبی وی دکوم چی پوره اعتماد ددی دعوی په صدق اودالله ﷻ دطرف څخه دکیدو وی ، کنه نو که نبی نه وی اوعاقل هم وی نو هغه ددی دعوی په وخت کی به درسوایی څخه بیره کوی چی که دی مماثل جوړ کړی راوړل سی نو په ما کی به څه پاته سی ددی تردید حاصر (جامع) څخه وروسته زما په مجموعی حالاتو فکر وکی او دا سوچ وکی چی ایا په ما کی جنون سته اوکه نه نو دا امر به په مشاهده سره معلوم سی) چی ستاسی په دی ملګری (چی هر وخت ستاسی په مخکی دی او دکوم چی تول حالات تاسی وینی یعنی ماته) جنون (خو) نسته (کله چی دحصر د دوو شقونو څخه یوشق باطل سو نو دوهم شق متعین سوچی) دغه (ستاسی ملګری پیغمبر دی او په حیثیت دپیغمبری) تاسی ته دیو سخت عذاب دراتلو څخه مخکی بیرونکی دی (نو په دی طریقه سره دنبوت او ددی تصدیق ډیر اسان دی او بل څای هم دی ته قریب قریب مضمون دی لکه فرمایی ، أَمْ لَمْ يَعْرِفُوا رَسُولَهُمْ الخ اوس مخ ته دنبوت داثبات څخه وروسته دکفارو ددی شبهی جواب دی چی دا رسول نه دی ، بلکه دخپل ریاست اواقتدار طالب دی ، فرمایی ای محمد ﷺ) ته (دا هم) ووایه چی زه ستاسی څخه (په دی تبلیغ) که معاوضه غواړم نو هغه ستاسی سوه (یعنی تاسی یی دځان سره کښیږدی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

دا محاوره ده دنفی دطلب داجر په طریقه دمبالغی، زما معاوضه خو بس (موافق دَوعدی دفضل) دالله ﷻ په ذمه ده او هغه په هرڅه خبرلرونکی دی (نو هغه به په خپله زما دحال لائق ماته اجر راکړی ، په معاوضه کی مال مرتبه یعنی ریاست ټول راغلل ، ځکه چی په اعیانو اواعراضو ټولوکی داجر جوړیدو صلاحیت دی ، مطلب دا دی چی زه ستاسی ځخه دڅه غرض طالب نه یم ، چی شبهه دریاست پروسی او پاته سوه دا معامله چی زه دخلکو دمعاملو اوحالاتو اصلاح کوم ، مجرم ته سزا ورکوم په خپل مینځ کی دجګړو فیصله کوم نو دا موجب دشبهی ځکه نه سی کیدی چی په دی کی زماڅه غرض نسته ، چنانچی د دوی دطرزِ معاشرت او معیشت ځخه صفا ظاهره ده چی ددی شیانو ځخه دوی څه ذاتی منفعت حاصل نه کی . بلکه په خپله دقوم نفع وه چی د دوی جان مال اوابروبه محفوظه وه ، پلار چی کوم دخپلو کوچنیانو بچیو حفاظت او د دوی تادیب محض په خیر خواهی سره کوی ، ده ته دخودغرضی اوطلب ریاست سره څه تعلق نه سی کیدی ، کله چی نبوت هم ثابت سو اوشبهه مقامیه هم دفعه سوه ، مخ ته ددی دنقیض ابطال دَدی پراثبات باندی متفرع فرمایی ، چی ای محمد ﷺ) ته ووایه چی زمارب حقه خبره (یعنی ایمان او ثبوت دایمانیاتو پر باطل یعنی کفر اوانکار دایمانیاتو باندی) غالب کوی (په مناظره اوخبرو اترو سره هم ، چنانچی اوس ولیدل سوه او دمقاتلی او مصارمی هم سامان تیار کوونکی دی ، غرض په هرقسم سره حق غالب دی او) هغه علام الغیوب دی (ده ته دمخکی ځخه معلومه وه چی حق به غالب وی نوروته خو اوس دوقوع ځخه وروسته معلومه سوه او دغه شان هغه ته معلومه ده چی اننده به غلبه زیاتیږی چنانچی دمکی په فتح کی دَحضور ﷺ راتلونکی آیت ویل ، کماروا ابن کثیر عن الشیخین وغیرهما ، قرینه ده چی په دی مضمون کی چی دکومی غلبی خبر ورکول سوی دی ، په دی کی غلبه بالسیف هم دا خله ده ، مخ ته ددی مضمون دزیات وضاحت دپاره ارشاد دی ای محمد ﷺ) ته ووایه چی (دین) حق راغی اوباطل (دین) نه دکارسو اونه دپه کار (یعنی محض بی کاره پاته سو ، ددی دا مطلب نه دی چی اهل باطل ته به هیڅکله شوکت اوقوت حاصل نه سی ، بلکه مطلب دا دی چی لکه څنګه چی ددی دین حق دراتلو ځخه مخکی چی په باطل باندی شبهه دحق کیدو کول کیده ، اوس باطل ددی صفت دحیثیت ځخه بالکل نیست او نابود سو ، یعنی بطلان یی بنه ظاهر سو اوهمیشه به ترقرب قیامته پوری به دغسی ظاهر وی ، مخ ته دحقی خبری دثابت اوواضح کیدو ځخه وروسته دنجات ددی په تابعداری کی منحصر کیدل بیان فرمایی چی ای محمد ﷺ) ته (دا هم) ووایه چی (کله ددی دین حقوالی ثابت سو نو ددی ځخه دا هم لازمه سوه چی) که چیری (بالفرض) زه (دا حق پریږدم) بی لاری سم نو زما دبی لاری کیدو وبال به په ما وی (دنورو څه نقصان دی) اوکه زه (ددی حق تابعداری وکړم) په (نیکه) لاره سم نو دا به په وجه ددی قرآن کریم (او دین) وی کوم چی زما رب ماته رالیږلی دی (اصل مقصود مخاطب ته اورول دی چی سره دوضاحتِ ځخه که تاسی دحق تابعداری ونه کړه نو وبال به یی په تاسی وی زمابه څه وران سی اوکه په لاری سواست نو دا په لاره کیدل به ددی حق دین دتابعداری په دولت وی ، نوتاسی ته په کار دی چی په نیکه لاره دکیدو دپاره دا دین اختیار کړی او په لاره کیدل دچا یابی لاری کیدل دچابه هسی نه ځی چی دبی فکره کیدو ګنجائش په کی وی ، بلکه دهر یوه حال الله ﷻ ته معلوم دی ځکه چی) هغه هرڅه

Maktaba Tul Ishaat.com

اوری (او) ډیر نژدی دی (هغه به هریوه ته دهغه مناسبه جزا ورکړی)

معلومات اومسائل: وَمَا بَلَغُوا مِعْشَارَ مَا آتَيْنَاهُمْ : لفظ دَمِعْشَار خینو په معنی دعشر ویلی دی یعنی لسمه حصه اوخینو عالمانو عُشْرُ الْعُشر یعنی سلمه حصه اوخینو عُشْرُ الْعَشِيْر، یعنی زرمی حصی ته معشار ویلی دی او دا ظاهره ده چی په دی لفظ کی په نسبت دعشر مبالغه ده ، معنی دایت دا ده چی ددنیا ثروت او دولت اوحکومت اوطویل عمر اوصحت قوت وغیره کوم چی تیرو امتونوته ورکول سوی وو ، دمکی خلګو ته ددی لسمه بلکه زرمه حصه هم حاصله نه ده ، په دی وجه دوی ته په کار دی چی ددغو تیرو قوسونو دحالاتو اوبد انجام څخه عبرت حاصل کړی څکه چی دغو خلګو درسولانو تکذیب وکی ، دخدای ﷻ په عذاب کی اخته سول اوچی دغه عذاب راغی نو دهغوی قوت ، شجاعت او مال دولت او محفوظی قلعه ګانی یی هیڅ په کار ورنه غلی .

(دمکي کفارو ته دعوت)

إِنَّمَا أَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ : په دی کی په اهل مکه باندی دحجت تمامولو دپاره دوی ته دحق دتحقیق دپاره یوه لنډه لاره ښوول سوی وه چی صرف یوکار وکړی چی دالله ﷻ دپاره ودریږی ، دوه دوه اویو یو دالله ﷻ دپاره د دریدو څخه مراد حسی دریدل نه دی چی دناستی یاپروتی څخه ودریږی ، بلکه ددی څخه مراد دمحاوری مطابق دکار پوره اهتمام کول دی او دلته یی دقیام سره لفظ دلله زیات کی ، دا ښوول منظور دی چی خالص دالله ﷻ راضی کولو دپاره دتیرو عقیدو اوخیالاتو څخه خالی الذهن سی ، دحق په تلاش کی شروع سی چې تیر خیالات اوعملونه دحق قبلولو په لاره کی حائل نه وی او په دوه دوه یا یو یو کی څه خاص عدد مقصود نه دی ، مطلب دا دی چی دفکر کولو دوی طریقی وی ، یوه په خلوت اوتنهایی کی په خپله فکر کول ، دوهم دخپلو احبابو اومشرانو سره مشوره کول او په خپل منیځ کی دبحث تمحیص څخه په څه نتیجه رسیدل ، دادواړه طریقی یاپه دی کی موچی کومه خوښه وی هغه اختیار کړی

لَمْ تَتَفَكَّرُوْا : ددی جملی عطف په أَنْ تَقُوْمُوْا دی ، په دی کی دقیام مقصد واضح سوی دی چی دتولو خیالاتو څخه خالی الذهن سی او دالله ﷻ په واسطه ددی کار دپاره تیار سی چی دمحمد ﷺ په دعوت کی دغور اوفکر څخه کار واخلی چی حق دی اوکه نه دی برابره خبره ده که داغور اوفکر یوازی یوازی کوی یا دنورو سره په مشوره او بحث تمحیص سره .

مخ ته ددی غور اوفکر یوه واضحه لار وښوول سوه هغه دا چی یو یوازی سړی چی دده سره نه څه طاقتوره ډله یاجماعت وی اونه دمال دولت ډیروالی وی ، دخپل پوره قوم بلکه دپوره دنیا خلاف دځه داسی عقیدی اعلان وکی کومه چی دصدیو څخه په دوی کی راسخه سوی وی اوهغوی ټول په دی متفق وی ، داسی اعلان صرف په دوو صورتونوکی کیدی سی ، یو خو دا چی ویونکی بالکل مجنون اولیونی وی کوم چی دخپلی نفع نقصان سوچ نه کوی او ټول قوم خپل دښمنان کوی او مصیبتونو ته دعوت ورکی ، دوهم دا چی دده دغه خبره رښتنی وی چی دی دالله ﷻ دطرف څخه لیږل سوی رسول دی دده دحکم په تعمیل کی دچا پرواه نه کوی .

اوس تاسی خالی الذهن سی په دی کی فکر وکی چی په دی دواړو خبرو کی کومه خبره په واقع کی ده په

Maktaba Tul Ishaat.com

دی طریقه چی فکر وکی نو تاسی ته به ددی یقین څخه ماسوا بله هیڅ چاره پاته نه سی چی دالیونی اومجنون نه سی کیدی ، دده دعقل دانش اوکردار اوعمل څخه ټوله مکه اوټول قریش واقف دی ، د دوی دعمر څلویښت کاله دخپل قوم په مینځ کی تیر سول دکوچنیوالی څخه تربلوغ پوری ټول حالات د دوی په مخکی دی ، هیڅا دده څه قول او فعل دعقل او دانش اوسنجیدگی اوشرافت خلاف نه دی پیدا کړی ، او صرف یوه کلمه د لَآاِلٰهَ اِلاَّ اللهُ چی دوی یی دعوت ورکوی ، ددی څخه ماسوا نن هم چاته د دوی په څه قول او فعل داگمان نه سی کیدی چی دا دعقل اودانش څخه خلاف دی ، په دی حالاتوکی داخو ظاهره سوه چی دی مجنون نه سی کیدی ، ددی اظهار دایت په راتلونکی جمله کی داسی فرمایی ، مَا بِصَاحِبِكُمْ مِنْ جِنَّةٍ په دی کی دلفظ دَصَاحِبُكُمْ څخه دی طرف ته اشاره ده چی یو څوك اجنبی مسافر ددباندی څخه راسی ، ددە حالات معلوم نه وی او دده څه خبره دټول قوم خلاف واوریدل سی نو څوك دا خو ویلی سی چی دی دیوانه دی ، لیکن دی خوستاسی دښار اوسیدونکی ستاسی دبرادری دی اوشپه ورځ ستاسی ملگری دی چی دده هیڅ حالت اوکیفیت ستاسی څخه پټ نه دی اوتاسی هم هیڅکله تردی مخکی په ده داسی څه شبهه نه ده کړی .

اوهرکله چی داول صورت نستوالی واضح سو ، نو دوهم صورت متعین سو چی ذکر یی په آیت کی داسی بیان فرمایلی دی ، إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ : یعنی د دوی حال ددی څخه ماسوا بل هیڅ نه دی چی دوی خلگ دقیامت دراتلونکی سخت عذاب څخه دمحفوظ کولو دپاره ددی څخه بیرونکی دی .

إِنَّ رَبِّي يَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَّامُ الْغُيُوبِ : یعنی زما پروردگار چی علام الغیوب دی هغه حق په باطل باندی ورولی (چی نتیجه یی دا وی چی باطل ټوټی ټوټی سی لکه چی الله ﷻ فرمایی ، فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ : دلفظ دقذف لغوی معنی ویشتل دی ، دلته دباطل په مقابله کی دحق پیش کول مراد دی اوپه لفظ دَيَقْذِفُ سره یی په تعبیر کولو کی شاید دا حکمت وی چی په باطل دحق دگذار په پریوتو اثر ښوول مقصود وی ، دا یو تمثیل دی چی لکه څنگه چی یو دروند شی په نازك شی کی ومښلی نو دغه شی په ننوځی ، دغه ډول دحق په مقابله کی باطل ذره ذره سی ، په دی وجه مخ ته فرمایی، وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ : یعنی دحق په مقابله کی باطل داسی کمزوری اوبی کاره پاته سی چی هغه دځه شی دابتداء کولو قابل نه پاته کیږی ، نه دوباره دواپس کیدو .

وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ فَزِعُوا فَلَا فَوْتَ وَأُخِذُوا مِنْ مَكَانٍ قَرِيبٍ ﴿٥١﴾ وَقَالُوا

او که ته وویني هر کله چی دوی وار خطا سی بیا به محفوظ نه سی په تیښته اونیولی به را وستل سی دنږدی ځای

آمَنَّا بِهِ ۖ وَأَنَّىٰ لَهُمُ التَّنَاوُشُ مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ ﴿٥٢﴾ وَقَدْ كَفَرُوا

څخه ، اووبه وایی مونږ په یقین ومنله دا ، او اوس کله د دوی لاس رسیږي دلیری ځای څخه ، او ددی څخه خو

Maktaba Tul Ishaat.com

بِهٖ مِنْ قَبْلُ ۚ وَيَقْذِفُوْنَ بِالْغَيْبِ مِنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ ﴿۵۳﴾

منکرو مخکې او ویشتله به یې نا لیدلی ښانی دلیری ځای څخه

وَحِيْلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُوْنَ كَمَا فُعِلَ بِاَشْيَاعِهِمْ

اوحائل پریوتلی د دوی او د دوی دارزوګانو په مینځ کی ، لکه چی سوی وو د دوی دطریقی دخلقو سره دمخکې

مِّنْ قَبْلُ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا فِيْ شَكٍّ مُّرِيْبٍ ﴿۵۴﴾

څخه وو دغه ټول په داسی شك کی چی په تردد کی یی اچولی وه .

لنډتفسیر: او (ای محمد ﷺ) که ته هغه وخت وګوری (نوته به حیران سی) هرکله چی داکفار (دقیامت دبیری اوهیبت څخه) وار خطاسی بیابه دتیښتی څه صورت نه وی او دنژدی نژدی څخه (یعنی فوراً) به ونیول سی او (هغه وخت) وبه وایی چی مونږ په دی حق ایمان راوړی (اوخومره کارونه چی په دی کی نبول سوی دی ټول مو ومنل ، په دی وجه زمونږ توبه قبوله کړی برابره خبره ده که دوباره دنیاته مونږ لیږی اوکه بغیر دلیږلو وی) او د دومره لیری ځای څخه (ایمان) د دوی په لاس ورتلل چیری ممکن دی (یعنی دایمان راوړلو ځای په وجه ددارالعمل کیدو دنیاوه کومه چی ډیره لیری پاته سوه ، اوس عالم اخرت دی چی دارالعمل نه دی دار الجزاء دی ، په دی کی ایمان مقبول نه دی ځکه چی اوس کوم اسمان وی هغه به ایمان بالغیب نه وی ، بلکه دمشاهدی څخه وروسته دی ، دمشاهدی څخه وروسته دځه شی اقرار کول خو طبعی امر دی ، په دی کی داطاعت حکم هیڅ ارخ نسته) حال دا دی چی دمخکی څخه (په دنیاکی) دی خلګو ددی حق څخه انکار کوی ، او (د دوی انکار هم داسی چی څه صحیح منشاء یی نه وه بلکه) بی تحقیقه خبری یی دلیری لیری څخه ویشتلی (دلیری مطلب دا دی چی ددی دتحقیق څخه لیری وه یعنی په دنیاکی خو یی کفر کوی اوس یی دایمان سوچ رالی او ددی دقبلیدو ارزویی ده) او (چونکی اخرت دارالعمل نه دی په دی وجه) په دوی کی او د دوی (دقبلیدو دایمان) په ارزوکی به یو خنډ وسی (یعنی د دوی ارزوبه پوره نه سی) لکه چی د دوی دهم مشربو سره (هم) دا (سلوك) به وسی کوم چی د دوی څخه مخکی (کفر یی کړی) وو ، دا ټول په لوی شك کی وو کوم چی دوی په تردد کی غورځولی وه .

معلومات اومسئلې: وَاُخِذُوْا مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ : داکثرو مفسرینو په نزد دا حال دورځی دمحشر دی چی کفار اوفاجران به وبیریږی تښتیدل به غواړی نو خلاص به نه سی او داسی به هم نه وی لکه په دنیاکی چی یو مجرم وتښتی نوبیا دده تلاش کول په کار دی ، بلکه ټول به په خپل خپل ځای ونیول سی ؛ چاته به دتښتیدو موقع ورنه کول سی ، ځینی حضراتو دا دساه ختو اومرګ دوخت حال مقرر کړی دی ، چی کله دمرګ وخت راسی او په دوی بیره راسی نو دملائکو دلاسونو څخه به خلاصیدی نه سی او هم دغه ځای به یی په خپل ځای روح قبض کړی او وبه نیول سی .

Maktaba Tul Ishaat.com

وَقَالُوا آمَنَّا بِهٖ وَاَنّٰى لَهُمُ التَّنَاوُشُ مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ دتناوُش : معنی لاش مخ ته کول اویو شی لوړول دی او دا ظاهره ده چی په لاسونو ورمخ ته کولوسره هغه شی لوړولی سی کوم چی ډیر لیری نه وی اولاس ورته رسیږی ، مضمون دایت دا دی چی کفارو او منکرانو ته به دقیامت په ورځ چی حقیقت مخ ته راسی نو وبه وایی چی مونږ په قرآن یارسول ایمان راوړی ، مګر دوی ته معلومه نه ده چی دایمان مقام د دوی څخه ډیرلیری سوی دی ځکه چی ایمان صرف ددنیا دژوند مقبول دی ، اخرت دارالعمل نه دی ، هلته هیڅ عمل په حساب کی نه سی راتلی ، په دی وجه داځنګه کیدی سی چی دوی دایمان دولت په لاس ورمخ ته کولو سره راپورته کړی .

وَقَدْ كَفَرُوا بِهٖ مِنْ قَبْلُ وَيَقْذِفُونَ بِالْغَيْبِ مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ دَقَذْف : معنی یو شی غوڅارول او ویشتل راځی ، دعربو محاوره ده چی کوم سړی بی دلیله محضی په خپل خیال سره خبری کوی ، دا درجم بِالْغَيْبِ اوقَذْف بالغیب په الفاظو سره تعبیرکوی چی دی په تیاری کی غشی چلوی دده هیڅ ننبانه نسته او دلته مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ دالفاظو معنی مراد دا دی چی هغوی چی څه وایی دهغوی دزړونو څخه لیری وی په زړه کی یی عقیده نه لری .

وَحِيلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ : یعنی دی خلګو ته چی کوم شی محبوب اومقصود وو د دوی او دهغه شی په مینځ کی په ده حائله سوه او دوی محرومه سول ، دا مضمون دقیامت په حال هم صادق دی چی په قیامت کی به دا خلګ دنجات اوجنت طالبان وی ، هلته به ونه رسیږی ، او په دنیاکی دمرګ په وخت باندی هم صادق دی چی په دنیاکی دوی ته ددی ځای دولت اوسامان مقصود وو ، مرګ د دوی ددی مطلوب په مینځ کی حائل سو او دوی یی دهغه څخه جلا کړل .

كَمَا فُعِلَ بِاَشْيَاعِهِمْ اَشْيَاعَ دَشِيعَةٌ: جمع ده دچاتابع اوهم خیال ته دده شِيعَه ویل کیږی ، مطلب دا دی چی کوم عذاب دوی ته ورکول سوچی دخپل مطلوب اومحبوب څخه محرومه سو داعذاب ددی څخه مخکی د دوی په شان دکفر عمل کوونکو ته ورکول سوی دی ځکه چی دا ټول خلګ په شك کی پراته وه یعنی دنبی کریم ﷺ په نبوت اودقرآن دالله ﷻ په کلام کیدو د دوی یقین اوایمان نه وو ، والله سبحانه وتعالی اعلم .

تمت سورة سبا بحمد الله

لِاخِرِ يَوْمٍ مِنَ الْمُحَرَّمِ الْحَرَام سنه ۱۳۹۲ هـ

﴿سورة فاطر﴾

سُوْرَةُ فَاطِرٍ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ خَمْسٌ وَاَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَخَمْسُ رُكُوْعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة فاطر په مکه کی نازل سو او په دی کی پنځه څلویښت (۴۵) ایتونه اوپنځه (۵) رکوع ګانی دی .

شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی .

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا

ټول تعریفونه الله ﷻ لره دی چا چی جوړ کړل اسمانونه اومځکی چا چی مقرر کړی ملائکی پیغام راوړونکی

Maktaba Tul Ishaat.com

أُولِيٓ أَجۡنِحَةٖ مَّثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۚ يَزِيدُ فِي ٱلۡخَلۡقِ مَا يَشَآءُۚ

چې وزرونه یې دي دوه دوه او در دري او څلور څلور ، زیاتوي په پیدائش کې څه چې وغواړي

إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١ مَّا يَفۡتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحۡمَةٖ

بیشکه الله ﷻ په هر شي باندې قادر دي ، څه چې خلاصوي الله په خلقو درحمت څخه

فَلَا مُمۡسِكَ لَهَاۖ وَمَا يُمۡسِكۡ فَلَا مُرۡسِلَ لَهُۥ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ وَهُوَ

نو څوک نسته دهغه بندونکی ، اوهغه چې بند کړي نو څوک نسته دهغه راليږونکی دهغه څخه ماسوا ، اوهغه

ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٢ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡۚ هَلۡ

دي زبردست حکمتونو والا ، ای خلقو ! یاد کړی احسان دالله ﷻ په خپل خان ، آیا څوک

مِنۡ خَٰلِقٍ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ لَآ إِلَٰهَ

سته پیداکوونکی دالله ﷻ څخه ماسوا رزق درکوی تاسی ته داسمان څخه او دمځکی څخه ، نسته بل

إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ٣

حاکم مګر صرف هغه دی بیا کوم خوا ته چپه چلیږي

لنډتفسیر: ټول حمد (اوثناهغه) الله لره لایق دی کوم چې دآسمانونو اومځکو پیداکوونکی دی کوم چې دملائکو پیغام رسوونکی جوړونکی دی دکومو چې دوه دوه اودری دری او څلور څلور وزرونه دی (دپیغام څخه مراد انبیاء ته وحی راوړل دی برابره خبره ده که هغه داحکامو دشرائطو سره متعلق وی یامحض دبشارت وغیره سره او دوزرونو مقدار څه په څلوروباندی منحصرنه دی، بلکه) هغه په پیدائش کی چې څه غواړي زیاتوی (تردی چې دځینو ملائکو یې شپږ سوه وزرونه پیداکړی دی لکه چې په حدیث کی دحضرت جبرائیل ﷺ متعلق راغلی دی) بیشکه الله ﷻ په هرڅه قادر دی (اوقادرهم داسی چې څوک مزاحم یې نسته چې هغه) الله ﷻ کوم رحمت دخلګو دپاره خلاص کړی (مثلاً باران شنه بوټی او نور عام رزق) نو ددی څوک بندونکی نسته اوکوم چې بند کړی نو دهغه (دبندولو) څخه وروسته دهغه څوک جاری کوونکی نسته (البته هغه یې په خپله بندولی خلاصولی سی) اوهغه غالب (یعنی قادراو) حکمت والادی (یعنی پرخلاصولو اوبندولو قادر هم دی او بندول اوخلاصول همیشه په حکمت سره کیږی) ای خلګو! (لکه څنګه چې دده قدرت کامل دی ، دغه ډول دده نعمت هم کامل دی دده دنعمتونو هیڅ شمیر نسته په دی وجه) په تاسی چې کوم دالله ﷻ احسانات دی هغه یاد کی (او دهغه شکر ادا کی او هغه شکر دا دی

Maktaba Tul Ishaat.com

چی توحید اختیار کی او شرك پریږدی ، کم ازکم په دی دوو لویو نعمتونوکی فکر وکی کوم چی دمخلوقاتو ایجاد اوبیا د دوی باقی اوقائم پاته کول دی، ایادالله ﷻ څخه ماسوا څوك خالق سته کوم چی تاسی ته دآسمان اومځکی څخه رزق رسوی (یعنی دهغه څخه ماسوا څوك نه تخلیق اوایجاد کولی سی او نه څه ایجاد کړی دباقی اوقائم ساتلو دپاره درزق رسولو کار کولی سی ، ددی څخه معلومه سوه چی هغه په هرشان کامل دی نو یقیناً) دده څخه ماسوا څوك لائق دعبادت (هم) نسته نو (کله چی معبود کیدل دهغه حق دی نو) تاسی (په شرك کولو سره) کوم طرف ته چپه گرځی .

معلومات اومسائل: جَاعِلِ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا: ملائکی رسول یعنی دالله ﷻ پیغام اواحکام رسوونکی جوړولو مطلب په ظاهره دا دی چی دوی دانبیاء طرف ته دالله ﷻ قاصدان او رسولان جوړیږی اولیږل کیږی هغوی دالله ﷻ وحی اواحکام دوی ته رسوی او دا هم ممکنه ده چی درسول څخه مراد دلته واسطه وی دالله ﷻ او دده دعام مخلوقات په مینځ کی چی په دوی کی انبیاء دټولو څخه افضل اواعلی دی د دوی او دالله ﷻ په مینځ کی هم دَوَحی واسطه جوړیږی اوعامو مخلوقاتوته دالله ﷻ درحمت یاعذاب رسولو هم واسطه ملائکی وی .

أُولِي أَجْنِحَةٍ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ : یعنی الله ﷻ ملائکو ته وزرونو والا لاسونه ورکړی دی په کومو چی دوی الوتلی سی ، حکمت ددی ظاهردی چی هغوی دآسمان څخه مځکی ته مسافت باربار طی کوی ، داهله کیدی سی چی هغوی ته دژر تلو طاقت ورکول سی اوهغه دالوتلو په صورت کی وی .

اولفظ دَمثنٰی اوثلاث اوربَاعَ، ظاهره دا ده چی دَاَجْنِحَه صفت دی چی دملائکو وزرونه په مختلف شمیر مشتمل دی دځینو صرف دوه دوه وزرونه دی دځینو دری دری ، دځینو څلور څلور، او په دی کی څه حصر نسته لکه چی دصحیح مسلم په حدیث کی دحضرت جبرائیل ﷺ شپږ سوه وزرونه ثابت دی ، په طور دتمثیل ترځلورو پوری ذکر سوی دی (قرطبی ابن کثیر)

او دا هم کیدی سی چی لفظ دَمثنٰی اوثلث درُسُلاً صفت وی ، یعنی ملائکی کومی چی دالله ﷻ دطرف څخه رسالت دنیاته رسوی ، کله دوې دوې راځی کله دری دری یاځلور ځلور، او دا هم ظاهره ده چی په دی صورت کی هم دځلورو عدد دحصر دپاره نه وی ، محض دتمثیل په طور وی څکه چی ددی څخه په ډیر زیات مقدارکی دملائکو نزول په خپله دقرآن کریم څخه ثابت دی (ابو حیان فی البحر المحیط)

يَزِيدُ فِي الْخَلْقِ مَا يَشَاءُ : یعنی الله ﷻ ته ټول اختیار دی چی دخپل مخلوقات په تخلیق کی څومره غواړی او څه قسم غواړی زیاتی وکړی ، ددی تعلق په ظاهره خو دَاَجْنِحَه سره دی چی دملائکو وزری او وزرونه څه په دوه او څلورو کی منحصر نه دی ، که الله ﷻ غواړی نو ددی څخه ډیر زیات هم کیدی سی ، داکثرو مفسرینو قول دا دی ، او زهری ، قتاده وغیره امامان دتفسیر فرمایی چی ددی زیادة خلق څخه عامه معنٰی مراده ده چی په دی کی دملائکو دوزرو اوځانګونو زیاتی هم شامل دی او دمختلفو انسانانو په تخلیق کی دخاصو خاصو صفاتو زیاتی هم ، چی په دی کی حسن صورت حسن سیرت ، حسن صوت وغیره ټول دا خل دی ، ابوحیان په بحر محیط کی دا اختیار کړی ده ، فرمایی چی په دی زیادت خلق کی حسن خلق حسن صوت ، حسن خط اوحسن صورت کمال عقل اوعلم ، شیرین کلامی وغیره ټول دا خل

Maktaba Tul Ishaat.com

دی ، ددی دوهم تفسیر څخه ثابته سوه چی دغه شی هم حسن اوکمال کوم چی انسان ته حاصل وی ، دا دالله ﷻ عطاء او نعمت دی ، دهغه شکر گذار کیدل په کار دی .

مَايَفْتَحِ اللهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا: دلته لفظ درحمت عام دی ، په دی کی دینی او اخروی نعمتونه دا خل دی ، لکه ایمان اوعلم او نیك عمل اونبوت او ولایت وغیره او دنیوی نعمتونه هم ، لکه رزق او اسباب او ارام او راحت اوصحت اوتندرستی اومال اوعزت وغیره ، معنی دایت ظاهره ده چی الله ﷻ دکوم سړی دپاره دخپل رحمت دخلاصولو اراده وکړی هغه څوك نه سی منع کولی .

دغه شان دوهمه جمله، وَمَايُمْسِكْ عامه ده چی کوم شی الله ﷻ بند کړی هغه څوك نه سی خلاصولی، په دی کی ددنیا مصیبتونه اوتکلیفونه هم دا خل دی ، چی کله الله ﷻ دا دخپل یو بنده څخه بندول وغواړی نو دچا څه مجال اوطاقت نسته چی هغه ته څه تکلیف او مصیبت ورسوی ، اوپه دی کی رحمت هم دا خل دی چی که الله ﷻ په خپل څه حکمت سره څوك درحمت څخه محرومه کول وغواړی نو دچا مجال نسته چی هغه ته یی ورکړی (ابو حیان)

ددی آیت دمضمون متعلق یوحدیث داسی راځی چی حضرت معاویه ﷺ خپل عامل (گورنر) دکوفی حضرت مغیره بن شعبه ﷺ ته خط ولیکی چی ماته څه حدیث ولیکه راویی لیږه کوم چی تادنبی کریم ﷺ څخه اوریدلی وی ، حضرت مغیره ﷺ خپل میر منشی رواد راوبلی اوپه ویی لیکل چی مادنبی کریم ﷺ څخه هغه وخت کله چی دوی دلمانځه څخه فارغه سول ، نو دا کلمات ویل واوریدل ، اَللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا اَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ : یعنی یاالله کوم شی چی ته چاته ورکوی ، دهغه څوك رد کوونکی نسته اوڅه چی ته منع کړی دهغه څوك ورکوونکی نسته ستا دارادی خلاف دهیڅا کوشش کوونکی کوشش نه سی چلیدی (ابن کثیر ازمسند احمد)

او په صحیح مسلم کی دحضرت ابوسعید خدری ﷺ روایت دا دی چی دا دوی ﷺ درکوع څخه دسر لورولو په وخت کی وفرمایله ، او ددی کلمی څخه مخکی یی وفرمایل ، اَحَقُّ مَا قَالَ الْعَبْدُ وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ، یعنی داکلمه په هغو ټولو کلماتو کی چی یوبنده یی ویلی سی دټولو څخه زیاته احقه اومقدمه اواعلی ده

(په الله ﷻ توکل او اعتماد دټولو مصیبتونو څخه نجات دی)

ذکرسوی آیت انسان ته چی کوم سبق ورکړی دی چی دغیرالله څخه دنفع اوضرر امید نه ساتی او نه دی خوف کوی ، صرف دالله ﷻ طرف ته دی نظر ساتی ، ددین دنیا ددرستی اودائمی راحت اکسیر نسخه ده او انسان لره دزرګونو غمونو او فکرونو څخه نجات ورکوونکی ده (روح)

حضرت عامربن عبد قیس ﷺ فرمایی چی کله زه دسهار څلور ایتونه دقرآن کریم ووایم نو زما سره بیا دا فکر نه وی چی سهار به څه کیږی اومابنام څه ، هغه ایتونه دا دی ، یو دا ایت ، مَا يَفْتَحِ اللهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهُ مِنْ بَعْدِهِ ، اوبل آیت ددی هم معنی دا دی ، وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ وَإِنْ يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَادَّ لِفَضْلِهِ، دریم آیت، سَيَجْعَلُ اللهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا، څلورم آیت، وَمَامِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللهِ رِزْقُهَا (اخرجه ابن المنذر، روح)

Maktaba Tul Ishaat.com

اوحضرت ابوهریره ﷺ چی به هرکله باران کیدل لیدل نو فرمایل به یی ، مُطِرْنَا بِنَوْءِ الْفَتْحِ، او بیابه یی آیت مَايَفْتَحِ اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَحْمَةٍ، وایه ، دا دعربو دباطلو خیالاتو تردید دی کومو چی به باران خاص خاص ستوروته منسوب کوی او ویل به یی چی په مونږ دا باران دفلانی ستوری په وجه وسو ، حضرت ابوهریره ﷺ فرمایی چی په مونږ داباران په آیت فتح سره وسو، مراد دایت فتح څخه دامذکوره آیت دی کوم چی به ده په داسی وخت کی تلاوت فرمایی (رواه مالك فی الموطاء)

وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ ۭ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ۝ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّ وَعْدَ

او که تادروغجن کوی نودروغجن کړل سوی دی ډیررسولان ستاڅخه مخکې ، او الله طرف ته رسیږي ټول کارونه ای خلقو :

اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۪ وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ۝

دالله ﷻ وعده حقه ده،نومغروره دی نه کړی تاسی ددنیاژوند ، اومغروره دی نه کړی تاسی په الله مغروره کوونکی

اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا ۭ اِنَّمَا يَدْعُوْا حِزْبَهٗ

په تحقیق شیطان ستاسی دښمن دی نو تاسی هم ونیسی دی دښمن ، هغه رابولی خپله ډله

لِيَكُوْنُوْا مِنْ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ۝ اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ عَذَابٌ

ددی دپاره چی سی دخاوندان د دوزخ څخه ، کوم خلق چی منکر سول ، دهغو دپاره سخت عذاب دی

شَدِيْدٌ ۭ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ

او کومو چی یښین وکی او نیک عملونه وکړل دهغوی دپاره ده بخښنه

كَبِيْرٌ ۝ اَفَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْۗءُ عَمَلِهٖ فَرَاٰهُ حَسَنًا ۭ فَاِنَّ اللّٰهَ

اولوی ثواب ، ایا یو سړی چی ښائسته ښکاره سی هغه ته بدعملونه دهغه بیا وویني هغه ښه ، ځکه چی الله

يُضِلُّ مَنْ يَّشَاۗءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَاۗءُ ۠ فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ

بې لاری کوی چاڅه چی وغواړی اولاربنیی هغه چاته چی وغواړی نو ستا زړه دی نه کوی په هغوی باندی

حَسَرٰتٍ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَصْنَعُوْنَ ۝

حسرت بیشکه الله ﷻ ته معلوم دی هغه چی کوی

لنډتفسیر: او (ای پیغمبره ﷺ) که دا خلک (دتوحید او رسالت وغیره په باره کی) تا درواغجن کوی نوته

غم مه کوه څکه چې) ستا څخه مخکی هم (دیر پیغمبران درواغجن سوی دی (یوخو په دی سره تسلی حاصله کړه) او (دوهمه خبره دا ده چې) ټول کارونه به دالله ﷻ په مخکی پیش کیږی (هغه به په خپله دټولو سره پوه سی ، ته ولی فکر کوی ، مخ ته عامو خلګو ته خطاب دی چې) ای خلګو! (اِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ چې په کی دقیامت خبر دی چې دا واوری نو تعجب مه کوی اولیری یی هم مه ګڼی) دالله ﷻ (دا) وعده ضرور رښتنی ده نوهسی نه چې ددنیا داژوند تاسی په دوکه کی واچوی (چې په دی کی مشغول سی او ددی وعده سوی ورځی څخه غافله سی) او داسی ونه سی چې تاسی دوکه باز شیطان دالله ﷻ څخه په دوکه کی وغورځوی (چې تاسی دده په لمس کی رانه سی چې الله ﷻ تاسی په عذاب کی وانه چوی لکه چې دوی به ویل ، وَلَئِنْ رُجِعْتُ إِلَى رَبِّي إِنَّ لِي عِنْدَهُ لَلْحُسْنٰى او) دا شیطان (دکوم د دوکی چې لوړ ذکر دی) بیشکه ستاسی دښمن دی نوتاسی دی (خپل) دښمن وګڼی ، هغه خو خپله ډله (یعنی خپل تابعداران) محض ددی دپاره (باطل طرف ته) رابولی چې هغه خلګ د دوزخیانو څخه سی (نو) کوم خلګ چې کافران سول (او دده په دعوت اوغرورکی ومنښتل) دهغوی دپاره سخت عذاب دی اوکوم خلګ چې ایمان راوړی اونیك کارونه کوی (او دده په دعوت اوغرورکی ونه منښلی) دهغوی دپاره (ډګناهونو) بخښنه او (په ایمان اونیك عمل) لوی اجردی (اوکله چې دکافرانو انجام سخت اودمومنانو انجام مغفرت اولوی اجر دی) نو ایا (دواړه برابریدی سی یعنی) داسی سړی چاته چې دده بدعمل ښه ښکاره سو بیا هغه دانښه ګڼی (او داسی سړی کوم چې بد بدګڼی کله برابریدی سی ، داولنی سړی څخه مرادکافر دی کوم چې دشیطان په لمس سره باطل حق اومضر نافع ګڼی او د دوهم څخه مراد مومن دی ، کوم چې په اتباع دانبیاؤ اومخالفت دشیطان سره باطل باطل ، حق حق، مضر مضر نافع نافع ګڼی یعنی دواړه کله برابر سول ، بلکه یو جهنمی بل جنتی دی ، نو دشیطان په دوکه کی راتلونکی ار دده په دښمن ګڼونکو کی دا تفاوت دی ، په دی وجه مونږ وایو. لَا يَغُرَّنَّكُمْ * اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ، اوکه په دی تعجب کوی چې عاقل سړی بد څنګه نیك ګڼی) نو (ددی وجه دا ده چې) الله ﷻ چې څوك وغواړی ګمراه کوی یی (ددې عقل چپه سی) اوڅوك چې وغواړی هدایت ورته کوی (ددې ادراك صحیح وی، بیاکله چې دهدایت اوګمراهی اصل مدار مشیت دی) نو پر دوی په افسوس کولو سره هسی نه ستا ځان ولاړنه سی (یعنی افسوس مه کوه صبر کوه) الله ﷻ د دوی دکارونو څخه خبردی (پروخت به د دوی سره بوه سی)

معلومات اومسئلي: لَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ غَرُوْر : په زبر دغین دمبالغی صیغه ده چې معنی یی ده ، دیر دوکه کوونکی اومراد ددی څخه شیطان دی چې دده کار خلګ په دوکه کی غورځول او په کفر او معصیت کی اخته کول دی اولَايَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ یعنی هغه تاسی ته دالله ﷻ په معامله کی دوکه درنه کړی ددی دوکی مطلب دا دی چې هسی نه شیطان بد کارونه ښه ښکاره کړی تاسی په کی مبتلا نه کړی اوستاسی حال داسی چې ګناه کوی اوددی سره داګڼی چې مونږ دالله ﷻ په نزد مقبول یو ربونږ دپاره به عذاب نه وی (قرطبی)

فَاِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ يَّشَاءُ وَيَهْدِي مَنْ يَّشَاءُ : امام بغوی رحمه الله دحضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه نقل کړی دی چې دا ایت هغه وخت نازل سوی وو کله چې نبی کریم ﷺ دا دعا کړی وه چې یاالله اسلام ته قوت اوعزت ورکی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

دعمربن خطاب ﷺ په ذریعه یا دابو جهل په ذریعه ، الله ﷻ په دوی کی حضرت عمر ﷺ ته هدایت وکی او داسلام دعزت اوقوت سبب یی جوړ کی اوابوجهل په خپله گمراهی کی پاته سو (مظهری)

وَاللّٰهُ الَّذِیْٓ اَرْسَلَ الرِّیٰحَ فَتُثِیْرُ سَحَابًا فَسُقْنٰهُ اِلٰی بَلَدٍ مَّیِّتٍ فَاَحْیَیْنَا بِهِ

او الله ﷻ هغه ذات دی چی چلوی هوا گانی بیاپورته کوی وریخی بیاشړومونږ دوی مخکی مړی ته، بیاژوندی کړو

الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ كَذٰلِكَ النُّشُوْرُ ۝۹ مَنْ كَانَ یُرِیْدُ الْعِزَّةَ

مونږ په دی مخکه وروسته دمرګ ددې ځمکه ، دغه شان به وی بیا پورته کیدل ، څوك چی غواړی عزت

فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِیْعًا ؕ اِلَیْهِ یَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّیِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ

نو دالله ﷻ دپاره ټول عزت دی ، هغه ته خیژی کلام پاك اوکار نیك

یَرْفَعُهٗ ؕ وَالَّذِیْنَ یَمْكُرُوْنَ السَّیِّاٰتِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِیْدٌ ؕ

هغه ته پورته کیږي او کوم خلق چی تدبیرونه کوی دبدو دهغوی دپاره سخت عذاب دی ،

وَمَكْرُ اُولٰٓئِكَ هُوَ یَبُوْرُ ۝۱۰ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ

او دهغوی تدبیر برباد دی ، او الله ﷻ تاسی جوړ کړاست دخاوری څخه بیا دابو دخاځکی څخه

ثُمَّ جَعَلَكُمْ اَزْوَاجًا ؕ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ اُنْثٰی وَلَا تَضَعُ اِلَّا بِعِلْمِهٖ ؕ وَمَا

بیا یی جوړ کړاست تاسی جوړی جوړی ، او نه پهنس کیږي دیوی مادی او نه زیږوی مگر دهغه په علم سره

یُعَمَّرُ مِنْ مُّعَمَّرٍ وَّلَا یُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهٖٓ اِلَّا فِیْ كِتٰبٍ ؕ اِنَّ

اونه عمر پیدا کوی یو لوی عمر والا او نه کمیږي دیو چا عمر مگر لیکلی دی په کتاب کی ، بیشکه

ذٰلِكَ عَلَی اللّٰهِ یَسِیْرٌ ۝۱۱ وَمَا یَسْتَوِی الْبَحْرٰنِ ۖ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ

دا په الله باندی اسان دی ، اوبابر نه دی دوه دریابونه دا خوږ دی تنده ماتوونکی

سَآئِغٌ شَرَابُهٗ وَهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ؕ وَمِنْ كُلٍّ تَاْكُلُوْنَ لَحْمًا طَرِیًّا

شکوار او دا تروی ترخی او د دواړو څخه خوری غوښه تازه

Maktaba Tul Ishaat.com

وَتَسْتَخْرِجُوْنَ حِلْيَةً تَلْبَسُوْنَهَا ۚ وَتَرَى الْفُلْكَ فِيْهِ مَوَاخِرَ

اوراوباسی ورڅخه کالی چی اغوندی یی ، او ته وینی جهازونه چی په دی کی چلیږي

لِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲﴾ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ

اوپه ځیروی چی تلاش کړی دهغه دفضل څخه او چی تاسی حق ومنی ، ننباسی شپه په ورځ کی

وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ۙ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۙ كُلٌّ يَّجْرِيْ

اوننباسی ورځ په شپه کی او په کار یی لګولی دی لمر اوسپوږمی هریو چلیږي ،

لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ۭ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ۭ وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ

تر یوی مقرری وعدی پوری دا الله دی ستاسی رب دهغه بادشاهی ده ، او کوم چی تاسی بولی

مِنْ دُوْنِهٖ مَا يَمْلِكُوْنَ مِنْ قِطْمِيْرٍ ﴿۱۳﴾ اِنْ تَدْعُوْهُمْ لَا يَسْمَعُوْا

هغه څخه ما سوا هغه مالکان نه دی دخرما دزونی دپوستکی برابر ، که تاسی دوی بولی نونه اوری

دُعَاۗءَكُمْ ۚ وَلَوْ سَمِعُوْا مَا اسْتَجَابُوْا لَكُمْ ۭ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُوْنَ

ستاسی بلنه ، او که واوری نو تاسی ته جواب نه سی درکولی او دقیامت په ورځ به منکر سی

بِشِرْكِكُمْ ۭ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيْرٍ ﴿۱۴﴾

ستاسی دشرك څخه او خبر نه سی درکولی تاته په شان دخبر دار .

لنډتفسیر: او الله ﷻ داسی (قادر) دی کوم چی (دباران څخه مخکی) هواګانی رالیږی بیا دا (هواګانی) وریځی پورته کوی (چی کیفیت یی په سورة روم پنځمه رکوع آیت اَللّٰهُ الَّذِيْ اَرْسَلَ الرِّيٰحَ په تفسیر کی تیرسوی دی) بیا مونږ دا وریځه دمخکی دوچی ټکړی طرف ته شړو (چی هلته ورڅخه باران کیږی) بیا مونږ ددی په ذریعه سره (یعنی ددی وریځی داوبو په ذریعه) مخکه (په بوټو سره) ژوندی کوو ددی دوچیدو څخه وروسته (اولکه څنګه چی دمخکی په مناسب دی ته ژوند ورکول سو) دغه شان (په قیامت کی دانسانانو) ژوندی پورته کیدل دی (چی د دوی مناسب ژوند به دوی ته ورکول سی ، وجه دتشبیه ظاهره ده چی په دواړو کی دیو زائل سوی صفت پیداکول اواعاده ده ، که څه هم په مخکه کی صرف یوعرضی امر یعنی دنشو اونما تعلق سوی دی اوپه انداموکی یوامر جوهری یعنی دروح، دا مضمون دحشر اونشر ددلیلونو دتوحید په ضمن کی تبعًا راغلی دی ، بیا ددی بیا پورته کیدو په مناسبت سره

Maktaba Tul Ishaat.com

یو بل مضمون دی ، هغه دا چی کله په قیامت کی ژوندی کیدل دی نو دَهغه ځای ذلت اوخواری څخه د محفوظ کیدو فکر کول ضروری دی ، په دی باره کی مشرکانو خپل خودساخته معبودان دشیطان په فریب کی په راتلو سره دعزت حاصلولو ذریعه مقرر کړی وه ، هغوی به ویل هٰؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنْدَ اللهِ یعنی دا زمونږ علی الاطلاق شفیعان دی په دنیوی حاجتونوکی هم اوکه قیامت یو شی وی نو داخرت دنجات دپاره هم لکه چی حق تعالی په سورة مریم کی ارشاد فرمایلی دی ، وَاتَّخَذُوا مِنْ دُونِ اللهِ آلِهَةً لِيَكُونُوا لَهُمْ عِزًّا : ددی متعلق ارشاد دی چی) کوم سړی (په اخرت کی) عزت حاصلول غواړی (او دا حاصلول ضروری هم ځکه دی چی داخرت واقع کیدل یقینی امر دی) نو (ده ته په کار دی چی دالله ﷻ عزت حاصل کی ځکه چی) ټول عزت (بالذات) دخدای دپاره دی (اونوروته چی کله وی نو بالعرض به وی اوما بالعرض همیشه دما بالذات محتاج وی ، نو په دی کی ټول دخدای محتاجه سول ، او دخدای څخه ددی دحاصلولو طریقه دا ده چی قولاً اوعملاً دده اطاعت اوانقیاد اختیار کړی چی دخدای په نزد داشی پسندیده دی چنانچی) ښه خبره هغه ته رسیږی (یعنی هغه یی قبلوی) اوښه کارونه هغه ته رسیږی (په ښه خبره کی دتوحید کلمه اوټول ذکرونه دالله ﷻ اوپه ښه کارکی دزړه تصدیق اوټول نیك عملونه ظاهری اوباطنی دا خل دی نو معنٰی دا سوه چی دتوحید دکلمی اوټولو ذکرونو دمقبول جوړیدو ذریعه نیك عمل دی او مقبولیت عام دی ، اصل قبولیت اومکمل قبولیت دواړو ته اودا اجمال نورو دلیلونو داسی مفصل کی چی دزړه تصدیق خو دټولو پاکو کلمو دپاره دنفس قبول شرط دی ، ددی څخه بغیر هیڅ ذکر مقبول نه دی اونور نیك عملونه دټولو پاکو کلمو دپاره دمکمل قبولیت شرط دی نه چی نفسی دقبلولو ځکه چی دفاسق څخه که دکلمی طیبی صدور وی نو هم قبلیږی ، مگر مکمل قبولیت نه وی ، نوکله چی داشیان دالله ﷻ په نزد پسندیده دی نوکوم سړی چی دا اختیار کړی ، هغه به معزز وی) او کوم خلګ چی (ددی خلاف طریقه اختیار کړی ستا مخالفت کوی چی دا دَالله ﷻ مخالفت دی اوستا سره) بَدْ بَدْ تدبیرونه کوی ، هغو ته به سخت عذاب وی (کوم چی به موجب دهغوی دذلت وی او دهغوی خود ساخته معبودان به هغوی ته هیڅ عزت ورنه کړل سی ، بلکه بالعکس به هغوی په خپله د دوی خلاف سی لکه چی الله ﷻ په سورة مریم کی فرمایلی دی ، سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا : دا خو به د دوی خسران په اخرت کی وی) او (په دنیاکی به هم دوی ته داخسران وی چی) ددی خلګو دا مکر به نیست او نابود سی (یعنی په دی تدبیرونوکی به دوی کامیاب نه سی ، چنانچی داسی وسوه چی دوی اسلام ختمول غوښتل خو دوی په خپله ختم سول ، دا مضمون په طور دمعترضی جملی تمام سو ، مخ ته بیا واپسی ده دتوحید دمضمون طرف ته ، یعنی دحق تعالی دقدرت مظهر یوهغه وو کوم چی لوړ په اَللهُ الَّذِیْ اَرْسَلَ الخ کی بیان سو) او (دوهم مظهرکوم چی پر توحید باندی دلالت کوی دادی چی) الله ﷻ تاسی (ضمناً په پیدائش دادم کی) دخاوری څخه پیدا کړاست بیایی (استقلالاً) دنطفی څخه پیدا کړاست بیایی تاسی جوړه جوړه کړاست (یعنی ځینی سړی اوځینی یی ښځی جوړی کړی داخو دهغه قدرت دی) او (علم دهغه داسی دی چی) یوه ښځه نه حامله کیږی اونه بچی راوړی ، مگردټولو څخه هغه خبر وی (یعنی هغه ته دمخکی څخه دهرڅه خبروی) او (دغه شان) نه دچا عمر زیات (مقرر) کیږی اونه دچاعمرکم

Maktaba Tul Ishaat.com

(مقرر) کیږی ، مگر دا ټول په لوح محفوظ کی (لیکل سوی) وی (کوم چی حق تعالی دخپل قدیم علم موافق په دی کی لیکلی دی او که څه هم معلومات بی شمیره اوبی انتهادی مگر داتعجب مه کوی چی دوقوع څخه مخکی ټول واقعات یی څنگه مقدر اومقرر وفرمایل څکه چی) داټول الله ﷻ ته اسانه دی (څکه چی دده علم ذاتی دی ، دده په نسبت ټول معلومات مخکی دوقوع اوپس دوقوع څخه یوشان دی) او (مخ ته دقدرت نور دلیلونه واوری چی سره ددی چی دأوبو ماده یوه ده، مگر سره دوحدت قابل څخه بی په دی کی په اختلاف دافعالوسره دوه مختلف قسمونه پیداکړل) دواړه دریابونه برابرنه دی (بلکه) یو خو خوږ تنده مړه کوونکی دی چی اوبه یی هم (په وجه دَقبلولو دَطبیعت) په چښلوکی اسانی دی اوبوتربو تریخ دی (نو دا کار هم دعجائباتو دقدرت څخه دی) او (دوهم دلیلونه دقدرت هم دی کوم چی ددلالت علی القدرت سره دال علی النعمة هم دی ، څینی خو ددی دریابونو متعلق دی مثلاً داچی) تاسی دهربوه (دریاب) څخه (ماهی راباسی د دوی) تازه غوښه خوری او (دارنگه) کالی (یعنی ملغلری) ورڅخه راباسی کوم چی تاسی اغوندی او (ای مخاطبه!) ته کښتیانی په دی کی وینی چی اوبه څیروی روانی وی چی تاسی (ددی په ذریعه سفر وکی) دهغه رزق تلاش کړی اوچی (رزق حاصل کړی) تاسی (دَالله ﷻ) شکر ادا کی (اوڅینی نور نعمتونه دی مثلاً داچی) هغه (دَ) شپی (اجزاء دَ) ورځی (په اجزاوو) کی دا خلوی او (دَ) ورځی (اجزاء دَ) شپی (په اجزاؤ) کی دا خلوی (چی په دی سره دورځی اوشپی دکمیدو اوزیاتیدو متعلق نفعی حاصلیږی) اوهغه لمر او سپوږمی) په کارکی لګولی دی (په دوی کی) هریو تروخت مقرر (یعنی دقیامت تروړځی) پورې (دغه شان) چلیږی ، دا الله (چی شان یی دادی) ستاسی پروردګار دی ، دهغه حکومت دی او دهغه څخه ماسوا څوک چی بولی نوهغه دخرما دهډوکی دپوستکی په قدر هم اختیار نه لری (چنانچی په جماداتوکی خوظاهره ده اوپه ذوات الارواح کی په دی معنی چی بالذات اختیار نه لری اوددغو داحالت دی چی) که تاسی یی بولی هم نو هغه (اول خو) اوری نه (جمادات خوپه دی وجه چی په دوی کی داوریدو صلاحیت نسته اوذوات الارواح په دی معنی چی دمرګ څخه وروسته د دوی اوریدل لازمی اودائمی نه دی ، کله چی الله ﷻ وغواړی ، اوروی یی ورته، کله چی نه وغواړی نه یی اوری) اوکه (بالفرض) واییی وری هم نو ستاسی جواب نه سی درکولی او دقیامت په ورځ به هغوی (په خپله) ستاسی دشرک کولو مخالفت کوی (لکه داقول دالله ﷻ دی ، مَاكَانُوْا اِيَّانَا يَعْبُدُوْنَ : وغیر ذلك من الایت) او (مونږ چی څه فرمایلی دی دهغه په صدق کی ذره شك اوشبهه نسته څکه چی مونږ دکارونو په حقیقت پوره خبر لرو ، او ای مخاطبه!) تاته به دخبر لرونکی په شان هیڅوك خبر درنه کړی (بس زمونږ دا نبودنه دټولو څخه زیاته صحیح ده)

معلومات اومسئلي: إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ : ددی څخه په مخکی آیت کی دا نبوول سوي ده چی کوم سړی دعزت اوقوت طلبګاروی نوده ته پوهیدل په کار دی چی دا دالله ﷻ څخه ماسوا دبل چاپه وس کی نسته ، کوم شیان چی دغو خلګو معبودان جوړ کړی دی یادکومو سره چی دعزت په توقع باندی دوستی ساتی هغه چاته عزت نه سی ورکولی په دی آیت کی دالله ﷻ څخه دعزت اوقوت حاصلولو طریقه یی نبوولی ده چی ددی دوه اجزاء دی ، یوه کلمه طیبه یعنی کلمه دتوحید اودَالله ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com

دذات اوصفاتو علم ، دوهم عمل صالح یعنی په زړه سره ایمان راوړل ، بیا ددی دمقتضی موافق دشریعت تابع عمل کول ، حضرت شاه عبدالقادر په موضح القرآن کی فرمایی چی دحصول عزت دانسخه بالکل صحیح اومجربه ده ، شرط دا دی چی په ذکر الله اوعمل صالح مداومت وی ، دامداومت چی یو مقرر حد ته ورسیږی نوالله ﷻ ددی کوونکی ته هغه لازوال عزت په دنیا اواخرت کی نصیب کړی چی نظیر یی نسته .

په ذکرسوی آیت کی ددی دواړو جزونو تعبیر په دی الفاظو سره سوی دی چی ښه کلام دالله ﷻ طرف ته خیژی اورسیږی اونیك عمل ده ته پورته کیږی اورسیږی دَ، اَلْعَمَلُ الصَّالِحُ یَرْفَعُهٗ : په ترکیب نحوی کی خو احتماله دی دهر احتمال په اعتبار سره دجملی معنٰی جلا کیږی ، دتفسیر امامانو ددی احتمالونو مطابق تفسیر دخپلی خپلی رایی مطابق کړی دی ، اولنی احتمال خو هغه دی دکوم مطابق چی په لنډ تفسیر کی ترجمه سوي ده ، چی دَیَرْفَعُهٗ ضمیر فاعل دعمل صالح طرف ته راجع وی اوضمیر مفعول دکلمه طیبه طرف ته اومعنٰی به دا وی چی کلمه طیبه دالله ﷻ طرف ته خیژی ، مگر ددی دخیژولو ذریعه عمل صالح وی ، جمهور امامان دتفسیر ابن عباس﵁ ، حسن بصری، ابن جبیر﵁ مجاهد ضحاك، شهربن حوشب وغیره دا اختیار کړي ده او دالله ﷻ طرف ته دختلو اوخیژولو څخه مراد دالله ﷻ په نزد مقبول کیدل دی په دی وجه خلاصه ددی جملی به دا وی چی کلمات طیبه برابره خبره ده که کلمه توحیدوی یانور ذکرونه تسبیح تحمید وغیره د دوی څخه یو شی بغیر دعملِ صالح څخه دالله ﷻ په نزد مقبول نه وی ، په دی کی دعملِ صالح اهم جزء تصدیق قلبی دی ، یعنی په زړه سره په الله ﷻ او دهغه په توحید ایمان راوړل دا خو مطلقاً دقبولیت داعمالو لازمی شرط دی ددی څخه بغیرنه کلمه دلَآ اِلٰهَ اِلَّااللهُ مقبوله ده نه څه بل ذکر .

او دعمل صالح نور اجزآء لمونځ روژه وغیره نیك عملونه او دمحرماتو اومکروهاتو څخه پرهیزدی ، دا که څه هم مطلقاً دقبولیت شرط نه دی مگر دقبولیت تامه شرط داعملونه هم دی نوکه یو سړی په زړه کی ایمان اوتصدیق نه لری نو هغه که هرڅومره په ژبه کلمه توحید وایی اوتسبیح اوتحمید کوی دالله ﷻ په نزد ده ته به هیڅ حصه دقبولیت حاصله نه وی اوڅوك چی ایمان اوتصدیق خو لری ، مگر نورنیك عملونه نه کوی یاپه دی کی کوتاهی کوی دده ذکر الله اوکلمه توحید بالکل ضائع خوبه نه وی ، صرف دومره کار به وکی چی دهمیشه عذاب څخه به ده ته نجات ورکول سی ، مگر مکمل قبولیت به ده ته حاصل نه وی چی ددی اثربه دا وی چی په قدر دخپل ترك عمل اوکوتاهی به عذاب تیر وی .

په یو حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی الله ﷻ یو قول بغیر دعمل څخه اویوعمل اوقول بغیر دنیت څخه ، او یو قول او عمل اونیت بغیر دمطابقت دسنت څخه نه قبلوی (قرطبی)

ددی څخه معلومه سوه چی دمکمل قبولیت شرط دسنت مطابق کیدل دی که قول هم، عمل هم اونیت هم دا ټول برابر وی ، مگر دعمل طریقه دسنت مطابق نه وی نوقبولیت تامه به ورته حاصل نه وی .

اوځینو مفسرینو ددی جملی ترکیب نحوی دامقررکړی دی چی دَیَرْفَعُهٗ ضمیر فاعل دکلمه طیبه طرف ته او ضمیر مفعول دعمل صالح طرف ته راجع دی په دی صورت کی به معنٰی دجملی داولی څخه بالکل مختلفه داسی وی چی کلمه طیبه یعنی ذکرالله عمل صالح پورته کوی اوپورته خیژوی یعنی قابل قبول

Maktaba Tul Ishaat.com

بی جوړ وی ، ددی مطلب به دا وی چی کوم سړی دعمل صالح سره ذکر الله هم ډیر کوی نو دا ذکر الله دده عمل ښائسته اوقابل قبول جوړ وی .

اوحقیقت دا دی چی څنګه صرف کلمه توحید اوتسبیحات بغیر دعملِ صالح څخه کافی نه دی ، دغه شان عمل صالح او دامر اونهی پابندی هم بغیر دکثرت دَذکر الله څخه بی رونقه وی ، دذکر الله ډیروالی نیك عملونه ښائسته کوی اوقابل قبول بی جوړ وی .

وَمَا يُعَمَّرُ مِنْ مُعَمَّرٍ وَلَا يُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهِ إِلَّا فِي كِتَابٍ : ددی آیت مطلب دجمهورو مفسرینو په نزد دا دی چی الله ﷻ کوم سړی ته اوږد عمر ورکړی ، هغه داول څخه په لوحِ محفوظ کی لیکل سوی وی ، دغه شان دچا عمر چی کم ساتی هغه هم په لوحِ محفوظ کی د اول څخه لیکلی وی ، ددی خلاصه دا ده چی دلته دعمر اوږدوالی اوکم والی دفردِ واحد دپاره مرادنه دی ، بلکه خبره دنوع انسانی متعلق ده چی ددی یو فرد ته اوږد عمر ورکول کیږی ، بل ته دده څخه کم ، دا تفسیر دحضرت ابن عباس ﷺ څخه ابن کثیر نقل کړی دی ، جصاص دحسن بصری اوضحاك څخه هم دا قول نقل کړی دی ، په دی وجه ابن جریر، ابن کثیر، روح المعانی وغیره عامو تفسیرونو کی دا دجمهورو تفسیر مقرر کړی دی اوځینی حضرات فرمایی چی که دعمر زیاتی اوکمی ته دیوه سړی متعلق وویل سی نو په عمرکی دکمی کولو دا مطلب دی چی دهر سړی کم عمر چی الله ﷻ لیکلی دی هغه یقینی دی اوکومه ورځ چی تیریږی دهغه دعمر دمقرری مودی څخه یوه ورځ کمیږی چی دوې تیری سی نو دوې کمی سی، دغه شان هره ورځ بلکه هره ساه دده عمرکموی، دا تفسیر دشعبی ابن جبیر، ابو مالك، ابن عطیه اوسدی څخه منقول دی (روح)

دا مضمون بی په دی شعرکی داسی ادا کړی دی .

حَيَاتُكَ اَنْفَاسٌ لَعَدُّ فَكُلَّمَا مَضٰى نَفَسٌ مِنْهَا انْتَقَصْتَ بِهٖ جُزْءً

یعنی ستا ژوند دیوځو په شمار ساګانو نوم دی نوهرکله چی یوه ساه تیریږی ستادعمر یو جزء ختمیږی .

امام نسایی ددی آیت په تفسیرکی دحضرت انس بن مالك ﷺ څخه داروایت کړی دی چی دوی دنبی کریم ﷺ څخه اوریدلی دی چی دوی فرمایل ، مَنْ سَرَّهُ اَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِيْ رِزْقِهٖ وَيُنْسَاَ لَهُ فِيْ اَثَرِهٖ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ (بخاری ، مسلم او ابوداود هم دا حدیث دیونس بن یزید ایلی په روایت سره نقل کړی دی ، معنٰی دحدیث دا ده چی کوم سړی غواړی چی دده په رزق کی فراخی اوعمر کی زیاتی وی ، نو ده ته په کار دی چی صله رحمی کوی یعنی دخپلو ذی رحمو دوستانو سره دی ښه سلوك کوی ، په ظاهره ددی څخه معلومیږی چی په صله رحمی سره عمر زیاتیږی ، مګر ددی مطلب یو بل حدیث په خپله واضح کړی دی هغه دا دی .

ابن ابی حاتم دحضرت ابودرداء ﷺ څخه روایت کړی دی ، هغه فرمایی چی مونږ ددی (مضمون) ذکر دنبی کریم ﷺ په مخکی وکی نو دوی ﷺ وفرمایل چی (عمر خو دالله ﷻ په نزد یو مقرر اومقدر دی) کله چی مقرره موده پوره سی نوچاته یوه ذره مهلت هم نه سی ورکولی بلکه دزیادت دعمر څخه مراد دا دی چی الله ﷻ ده ته صالح اولاد ورکړی هغوی دده دپاره دعا کوی داسړی نه وی او ددی خلګو دعاګانی ده ته په قبر کی رسیږی (یعنی دمرګ څخه وروسته هم ده ته هغه فائده رسیږی کومه چی په خپله دده په ژوند کی ده ته حاصلیږی ، دغه شان ګویا دده عمر زیات سو ، دا دواړه روایتونه ابن کثیر نقل کړی دی) لنډه دا ده

Maktaba Tul Ishaat.com

چی په کومو احادیثوکی دځینو عملونو متعلق داراغلی دی چی په دی سره عمر زیاتیږی ، ددی څخه مراد دعمر دبرکت زیاتیدل دی.

وَمِنْ كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُونَ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا: یعنی دتریو اوخوږو دواړو دریابونو څخه تاسی تازه غوښه دخوراك دپاره درکول کیږی ، مراد ددی څخه ماهی دی ، په دی آیت کی دماهی څخه په لفظ دغوښی سره په تعبیر کولوکی دی طرف ته اشاره ده چی ماهی خود بخوده حلاله غوښه ده ، دده ذبح کولو ته ضرورت نسته ، په خلاف دنورو حیوانانو دوچی څخه چی تر څو پوری هغه دالله ﷻ په نوم ذبح نه کړی ، حلال نه وی ، په ماهی کی دا شرط نسته ، په دی وجه دغه جوړه اوتیاره غوښه ده اود ، حِلْيَةً معنی کالی دی ، مراد ورڅخه ملغلری دی ، دایت څخه معلومه سوه چی ملغلره لکه څنګه چی په تریو دریاب کی پیدا کیږی په خوږو دریابونو کی هم وی کومه چی دعام شهرت څخه خلاف ده ، څکه چی معروفه او مشهوره دا خبره ده چی ملغلری په تریو سمندر کی پیدا کیږی اوحقیقت دا دی کوم چی دقرآن دالفاظو څخه ظاهر دی چی په دواړوکی ملغلری پیدا کیږی ، البته په خوږو سمندرونو کی ډیری کمی او په تروو کی ډیری زیاتی پیدا کیږی ، دزیاتوالی په وجه دا شهرت وسو چی ملغلری صرف دتریو سمندر څخه راوزی.

او په تَلْبَسُونَهَا: کی دمذکر دصیغی په استعمالولو سره دی طرف ته اشاره وسوه چی دملغلرو استعمال دسړو دپاره هم جائز دی ، په خلاف دَسرو او سپینو څخه چی ددی په طور دکالی استعمالول دسړو دپاره جائز نه دی (روح)

إِنْ تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا دُعَاءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ : یعنی دا بتان یاځینی انبیاء یاملائکی کوم چی تاسی خدایان ګڼی اوعبادت یی کوی که دا دمصیبت په وخت کی رابلی نو اول خو دا ستاسی خبره اوریدی نه سی ځکه چی په بتانو کی خو داوریدو صلاحیت نسته په انبیاؤ اوملائکو کی که څه هم صلاحیت سته ، مګر هغوی نه هرڅای موجود دی ، نه دهریوه خبره اوریدی سی ، مخ ته فرمایی چی که بالفرض دوی واوری هم لکه ملائکی اوانبیاء نو بیا هم هغوی ستاسی درخواست نه سی پوره کولی ، ځکه چی د دوی په خپله قدرت نسته او دالله ﷻ داجازت څخه بغیر دوی ته دچا سفارش نه سی کیدی. دسماع موتی مسئله کومه چی مخ ته تیره سوي ده ، ددی آیت څخه نه ددی اثبات ثابتیږی نه نفی ، ددی بحث دلیلونه نور دی کوم چی په سورة روم کی په تفصیل سره راغلی دی.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللَّهِ ۖ وَاللَّهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴿١٥﴾ إِنْ يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ

ای خلقو! تاسی محتاج یاست الله ﷻ ته اوهغه الله بی پرواه دی تعریفونو والا ، که وغواړی نولیری به کړی تاسی

جَدِيدٍ ﴿١٦﴾ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ ﴿١٧﴾ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ

اونوی مخلوق به راولی ، اوداخبره په الله ﷻ ګرانه نه ده ، او نه سی پورته کولی پورته کوونکی بار دبل

وَاِنْ تَدْعُ مُثْقَلَةٌ اِلٰى حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَيْءٌ وَّلَوْ كَانَ

او که را وبلی درونه بار والا خپل بار پورته کولو ته نوځوك به یې پورته نه کړی دده ځخه یوه زره که څه هم

ذَا قُرْبٰى ؕ اِنَّمَا تُنْذِرُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَاَقَامُوا

وی خپلوان نو ته بیروی هغه کوم چې بیریږي درب خپل ځخه په پټه اوقائم ساتی

الصَّلٰوةَ ؕ وَمَنْ تَزَكّٰى فَاِنَّمَا يَتَزَكّٰى لِنَفْسِهٖ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿۱۸﴾ وَمَا

لمونځ اوځوك چې پاکیږي نوبیشکه پاکیږي دخپل ځان دپاره ، اواللہ ﷻ ته دتولو واپسی ده ، او

يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ﴿۱۹﴾ وَلَا الظُّلُمٰتُ وَلَا النُّوْرُ ﴿۲۰﴾ وَلَا الظِّلُّ

برابر نه دی ړانده اولیدونکی ، او نه تیاره اونه رڼا ، او نه سایه

وَلَا الْحَرُوْرُ ﴿۲۱﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْاَحْيَآءُ وَلَا الْاَمْوَاتُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُسْمِعُ

اونه غرمه ، او برابر نه دی ژوندی اونه مړه ، بیشکه اللہ ﷻ اوروی

مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَآ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِى الْقُبُوْرِ ﴿۲۲﴾ اِنْ اَنْتَ اِلَّا نَذِيْرٌ ﴿۲۳﴾

هغه چاته چې غواړی ، او ته نه یې اوروونکی په قبرونو کی پرتوته ، ته خو بس ډبیری خبر رسوونکی یې

اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ؕ وَاِنْ مِّنْ اُمَّةٍ اِلَّا خَلَا فِيْهَا

مونږ لیږلی یې ته دحق دین سره خوشخبری ورکوونکی او بیروونکی ، او یوه فریقه داسی نه ده سوی

نَذِيْرٌ ﴿۲۴﴾ وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ جَآءَتْهُمْ

چې بیروونکی په کې نه دی تیرسوی ، او که تا دروغجن کوی نو دروغجن کړی دی هغو خلقو چې د دوی ځخه

رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ وَبِالزُّبُرِ وَبِالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ ﴿۲۵﴾ ثُمَّ اَخَذْتُ الَّذِيْنَ

مخکې وه ، راغلی دی هغوته رسولان دهغوی په ښکاره خبرو سره اوپه صحیفو او روښانه کتاب ، بیاونیول ما

كَفَرُوْا فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿۲۶﴾

منکران نو څه رنګه سو زما انکار

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسير: ای خلګو! تاسی خدای ته محتاجه یاست اوالله ﷻ (خو) بی نیازه (اوپه خپله ټولو) تعریفونو والا دی (نو داحتیاج ترمخه تاسی ته دتوحید وغیره تعلیم سوی دی ، که مو ونه منی نو خپل نقصان به وکړی باقی الله ﷻ ته خو په وجه دذاتی غنا دذاتی کمال ستاسی یاستاسی دعمل هیڅ حاجت نسته چی ګوندی دهغه دنقصان احتمال وی او په کفر چی کوم ضرر کیدونکی دی ، خدای ﷻ دهغه فی الحال په واقع کولو هم قادر دی چنانچی) که هغه وغواړی نو (ستاسی دکفر په سزا کی به) تاسی فنا کړی اویو نوی مخلوق به پیدا کړی (کوم چی ستاسی په شان کفر او انکار به نه کوی) او دا خبره خدای ته څه مشکله نه ده (لیکن دمصلحت په وجه مهلت درکوی غرض دا چی دلته خو داضرر محض محتمل الوقوع دی ، لیکن په قیامت کی به دغه ضرور واقع سی) او (هغه وخت به داحالت وی چی یو) څوک به دبل بار (دګناه) نه سی پورته کولی او (په خپله به څوک دچاڅه رعایت وکړی ، حالت به دا وی چی) که یو دروند بار والا (یعنی یو ګناهګار) څوک دخپل بار دپورته کولو دپاره راوبولی (هم) خوبیابه هم دده څخه هیڅ بار پورته نه سی ، که څه هم هغه سړی (کوم چی ده رابللی وی دده) خپلوان (ولی نه) وی (نو دغه وخت به پوره ضرر ددی کفر اوبدعملی په خپله برداشت کول وی ، دا خو دمنکرانو بیرول سول ، مخ ته نبی کریم ﷺ ته تسلی ده چی ای محمد ﷺ ته د دوی په انکارچی سزابه یی دوی یوه ورځ ضرور برداشت کوی ، دومره غم اوافسوس ولی کوی) ته خو (داسی بیرونکی یی چی نفع په مرتب وی) صرف داسی خلګ بیرولی سی کوم چی بی لیدو دخپل رب څخه بیریږی او دلمانځه پابندی کوی (مراد ددی الَّذِيْنَ څخه مومنان دی ، یعنی ستاپه بیرولو سره صرف مومنان نفع مند کیدی سی ، فی الحال وی یاپه اعتبار دَائنده، اوامر مشترك په دواړوکی طلب دحق دی ، مطلب دا دی چی دحق طالب نفع مند کیدی سی ، دا خلګ دسره دحق طالبان نه دی ، د دوی څخه امید مه ساته) او (ته د دوی په ایمان نه راوړلو سره دومره فکر ولی کوی) کوم سړی چی (ایمان راوړی دکفر اوشرك څخه) پاك سی هغه دخپل ځان دَ (نفع دَ) پاره پاکیږی او (څوك چی ایمان رانه وړی هلته به ورسره وکتل سی ځکه چی دټولو) دالله ﷻ طرف ته واپس کیدل اوتلل دی (نو که نفع ده نو د دوی ده ، ته ولی غم کوی) او (ددی خلګو څخه به څه توقع ولرلی سی چی د دوی علم او ادراك په مثل دادراك دمومنانو وی اودمومنانوپه شان دوی هم حق قبول کړی اودحق دقبلولو په دینی فائدوکی هم دا خلګ شریك سی ، ځکه چی دمومنانو مثال په حق بینی کی دبینا بنده په شان او د دوی مثال په عدم ادراك دحق کی دروند بنده په شان دی او دغه شان مومنانو دحق دَادراك په ذریعه چی څنګه دهدایت طریقه اختیار کړي ده ، دغه شان دحق دطریقی مثال دنور دی اوکافر چی دعدم ادراك دحق سره کومه طریقه اختیارکړي ده دهغه مثال دتیاری په شان دی لکه چی الله ﷻ فرمایی ، وَجَعَلْنَا لَهٗ نُوْرًا يَّمْشِيْ بِهٖ فِي النَّاسِ كَمَنْ مَّثَلُهٗ فِي الظُّلُمٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا: او دغه دوول چی کومه ثمره دَجنت وغیره به په دی طریقه مرتبه وی ، دهغه مثال دیخی سایی په شان دی اوکومه ثمره دجهنم وغیره چی په باطله طریقه به مرتب وی ، دهغه مثال دسرو غرمو په شان دی ، لکه چی الله ﷻ فرمایی ظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ تردی قوله پوری ، فِيْ سَمُوْمٍ، او ظاهره ده چی) روند اوبینا برابرنه دی ، اونه تیاره اورنا ، اونه سایه اوغرمه (نو نه د دوی او مومنانو علم اوادراك به برابروی اونه د دوی طریقه اونه ثمره ددی طریقی) او (په مومن اوکافرکی

Maktaba Tul Ishaat.com

چی کوم تفاوت دبینا اونابینا په شان ویل سوی دی نو ددی څخه مقصود نفی دکمی ده نه چی دزیاتی ، څکه چی په دوی کی تفاوت دمړ او دژوندی په شان دی ، نو د دوی دبرابری دنفی دپاره داسی ویل هم صحیح دی چی) ژوندی او مړی نه سی برابریدی (اوکله چی دوی مړی دی نودمړو ژوندی کول خو دخدای په قدرت کی دی ، دبنده په قدرت کی نه دی نوکه خدای دوی ته هدایت وکړی نوبله خبره ده څکه چی) الله ﷻ چی څوك وغواړی برابر وی یی (باقی ستاپه کوشش سره به داخلگ حق قبول نه کړی ، څکه چی د دوی مثال دمړو تا واوریدی) اوته هغو خلگوته نه سی اورولی کوم چی په قبرونوکی (دفن) دی (لیکن که دوی یی ونه منی نو ته غم مه کوه څکه چی) ته خو (دکافرانو په حق کی) صرف بیرونکی یی (ستا په ذمه دا نه دی چی دغه کافران وبیریږی او ویی منی هم ، او دا بیرول ستا دخپل طرف څخه نه دی لکه دنبوت منکرانو چی به ویل ، بلکه زمونږدطرف څخه دی څکه چی) مونږ تاته حق (دین) درکړی دی (مسلمانانوته) خوشخبری اورونکی او (کافرانوته) بیره اورونکی جوړ کړی لیږلی یی او (دالیږل څه نوی خبره نه ده ، لکه چی کافرانو به ویل بلکه) داسی یوامت نه دی تیرسوی په کوم کی چی څوك بیرونکی (یعنی پیغمبر) نه وی تیرسوی اوکه داخلگ تا درواغجن کړی (نوته ددغو تیرو پیغمبرانو دکوموچی اوس اجمالاً ذکر سوی دی اوتفصیلاً یی په نورو ایتونوکی ذکر سوی دی ، دکافرانو سره معامله دریاده کړه اوخپل ځان پوه کړه څکه چی) کوم خلگ د دوی څخه مخکی تیر سوی دی هغوی هم (دخپل وخت پیغمبران درواغجن کړی وه (او) هغوی ته هم دهغوی پیغمبرانو معجزی اوصحیفی اوروښانه کتابونه راوړی وه (یعنی ځینوصحیفی اوځینو کتابونه اوځینو صرف معجزی دنبوت دتصدیق دپاره اواحکام دتیرو انبیاؤ راوړل) بیا (کله چی هغوی درواغجن کړل نو) ماهغه کافران ونیول نو (وګوره) زماځنګه عذاب سو؟ (دغه دول به د دوی په وخت دوی ته سزا ورکړم؟)

معلومات اومسئلې: وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرٰى : یعنی دقیامت په ورځ به یو سړی دبل سړی دګناهونو بار پورته نه کړی ، هر یوه ته به خپل بار په خپله لوړول وی او په سورة عنکبوت کی چی راغلی دی چی ، وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَعَ أَثْقَالِهِمْ : یعنی ګمراه کوونکی خلگ به دخپل ګمراه کیدو بار هم پورته کوی او دومره بار به ددی لوړ وی چی دوی نور ګمراه کړی وه ، ددی مطلب دا نه دی چی کوم یی ګمراه کړی وه دهغوی بار به دا خلگ څه سپك کړی ، بلکه دهغه بار به پرهغوی پوره پوره وی اودګمراه کوونکو دجرم دوچنده کیدو په وجه سره به دهغوی بارهم دوچنده سی یو دګمراه کیدو دوهم دنورو دګمراه کولو په دی وجه په دی دواړو ایتونوکی څه تعارض نسته (روح)

اوحضرت عکرمه ﷺ دذکرسوی آیت په تفسیرکی فرمایی چی په دغه ورځ به خپل پلارخپل زوی ته ووایی چی ته پوهیږی چی زه ستاخومره شفیق اومهربانه پلار وم ، هغه به اقرار وکی چی بیشکه ستا احسانات بی شمیره دی اوزمادپاره تاپه دنیاکی دیرتکلیفونه تیرکړی دی، اوس به ورته پلار ووایی چی زویه ! نن زه ستامحتاجه یم، دخپلونیکیو څخه لږځه ماته راکړه چی زمانجات وسی ، زوی به ورته ووایی چی پلاره تادیر لږ شی طلب کی ، مګر زه څه وکړم که زه تاته دا درکړم نو زما به دغه حال سی په دی وجه مجبور یم ، بیا به هغه خپلی بی بی ته دا ووایی چی ماپه دنیاکی په تا خپل هرڅه قربان کړل ، نن ماته

Maktaba Tul Ishaat.com

ستادلرو نیکیو ضرورت دی ، هغه را کړه ، ښځه به ورته هم هغه جواب ورکړی کوم چی زوی ورکړی وو .
حضرت عکرمه ﷺ فرمایی چی دا مراد دی ددی آیت ، وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ : اوفرمایی چی دقرآن کریم په ډیروایتونوکی دامضمون بیان سوی دی یوځای، لَايَجْزِي وَالِدٌعَنْ وَلَدِهِ وَلَا مَوْلُودٌ هُوَجَازٍعَنْ وَالِدِهِ شَيْئًا. یعنی په دغه ورځ به نه یو پلار خپل زوی دعذاب څخه خلاص کړی ، نه زوی پلار، مراد دا دی چی څوك به دبل ګناه په خپل سرنه اخلی اوهغه به نه سی محفوظ کولی، دشفاعت معامله ددی څخه جلاده ، دغه شان په بل آیت کی فرمایی ، يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ * وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ * وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ : یعنی په دغه ورځ به انسان تښتی دخپل ورور اومور اوپلار څخه او دخپلی ښځی او اولاد څخه ، دتښتیدو مطلب دا دی چی هغه به وبیریږی چی هسی نه هغوی په مادخپلی ګناه درا اچولو یازما دځه نیکی اخیستلو فرمائش ونه کړی (ابن کثیر)

وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِي الْقُبُورِ : ددی آیت په شروع کی دکفارو مثال دمړو سره او دمومنانو دژوندو سره ورکړی دی ، ددی په مناسبت سره دلته دَمَنْ فِي الْقُبُورِ څخه مراد کفار دی ، مطلب دا دی چی لکه څنګه چی ته مړوته نه سی اورولی ، دغسی دی ژوندو کافرانو ته هم نه سی اورولی .
دی آیت په خپله دا خبره واضحه کړه چی دلته داورولو څخه مراد هغه اورول دی کوم چی مفید ، مؤثر اونافع وی ، کنه نو مطلق اورول خوکفاروته همیشه سوی اولیدل سوی دی چی دوی ته به تبلیغ کیدی او دوی به اوریدی ، په دی وجه مراد ددی آیت دا دی چی څنګه ته مړوته حق خبره اورول اوحق ته را وستل نه سی کولی څکه چی هغوی ددنیا ددارالعمل څخه داخرت دارالجزاء ته تللی دی ، هلته که څه هم هغوی دایمان اقرارهم وکړی نو معتبر نه دی ، دغه شان دکفاروحال دی ، ددی څخه ثابته سوه چی مړوته داورولو کومه نفی چی په دی آیت کی سوې ده دهغه څخه مراد خاص اسماعِ نافع ده ، دکوم په وجه چی اوریدونکی باطل پریږدی اوحق ته راسی ، ددی تقریر څخه واضحه سوه چی دسماع موتی دمسئلی سره ددی آیت هیڅ تعلق نسته دا مسئله په خپل ځای مستقله ده چی مړی دژوندو خبری اوری اوکه نه ؟ ددی مفصل تحقیق په سورة روم اوسورة نمل کی تیر سوی دی .

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ ثَمَرَاتٍ مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهَا ۚ وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ

ایاته نه ګوری چی الله نازلی کړی دآسمان څخه اوبه بیامونږ را ویستلی په دی سره میوه چی مختلف دی رنګونه

بِيضٌ وَحُمْرٌ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ ﴿٢٧﴾ وَمِنَ النَّاسِ

اوپه غرونوکی حصی دی سپینی اوسری مختلف دی ددې رنګونه اوتك تور ، او په خلقو انسانانوکی

وَالدَّوَابِّ وَالْأَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ كَذَٰلِكَ ۗ إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ

او په چینجیوکی اوپه حیوانانو کی مختلف دی د دوی رنګونه ، دغه شان دالله ﷻ څخه بیریږي

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ غَفُوْرٌ ﴿۲۸﴾

هغه دده په بندګانو کی کوم چی پوه دی ، په تحقیق الله زبردست دی بخښنی والا .

لنډتفسیر: (ای مخاطبه !) ایا تادی خبری ته نه دی کتلی چی الله ﷻ د آسمان څخه اوبه نازلی کړی بیا مونږ ددی (اوبو) په ذریعه دمختلفو رنګونو میوی پیدا کړی (برابره خبره ده که داسی چی قسمونه اونوع یی جلا جلا وی یا دیوه قسم اویوې نوع میوی دمختلفو رنګونو وی) او (دغه شان) دغرونو هم مختلفی حصی دی (ځینی) سپین او (ځینی) سره (چی بیاپه خپله) په دغو (سپینو ، سرو) کی هم رنګونه مختلف دی (ځینی ډیر سپین او ډیر سره ځینی لږ سپین اولږ سره) او (ځینی نه سپین او نه سره بلکه) ډیر تك تور او دغه شان په انسانانو اوحیوانانو اوځارویو کی هم ځینی داسی دی چی دهغوی رنګونه مختلف دی (ځینی وختونه داختلافو دَاقسامو اواصنافو سره داختلاف درنګ وی اوځینی وختونه په یوه قسم کی مختلف رنګ وی نو کوم خلګ چی په دلیلونو دقدرت کی فکر کوی هغوی ته دَخدای ﷻ دعظمت علم وی او) دخدای څخه دده هغه بندګان ببیریږی کوم چی (دده دعظمت) علم لری (که دَعظمت علم یی محض اعتقادی اوعقلی دی نو دا بیره به هم اعتقادی عقلی وی اوکه علم دعظمت درجی دحال ته رسیدلی وی نو بیره به هم د درجی دحال وی چی ددی دخلاف څخه به طبعی نفرت اوتکلیف کیدی سی) واقعی الله ﷻ (څخه بیره فی نفسه هم ضروری ده څکه چی هغه) زبردست دی (چی هرڅه کولی سی اودخپل مطلب دپاره هم ضروری ده ، څکه چی هغه دبیریدونکو دګناهونو) لوی بخښنی والا دی .

معلومات اومسئلي . دایتونو ترون : ځینی حضراتو فرمایلی دی چی په دی ایتونوکی واپسی ده مضمون دتوحید ته ، چی دا یی په دلیلونو دقدرت سره مدلل کړی دی اوځینو فرمایلی دی چی په تیرو ایتونو کی دخلګو دحالاتو اختلاف والی او ددی تمثیلات بیان فرمایلی دی ، وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ۝ وَلَا الظُّلُمٰتُ وَلَا النُّوْرُ ۝ وَلَا الظِّلُّ وَلَا الْحَرُوْرُ: دا ددی زیات بیان اووضاحت دی چی دالله ﷻ په مخلوق کی تفاوت یو خلقی او طبعی امر دی او تر نباتاتو اوجماداتو پوری موجود دی او دا اختلاف صرف په صورت او رنګ کی نه دی بلکه په طبائعو کی هم دی .

لَمَرَاتٍ مُخْتَلِفًا اَلْوَانُهَا: په ثمراتو کی درنګونو اختلاف یی دترکیب نحوی په اعتبارسره حال جوړکی او مختَلِفًا منصوب یی ذکرکړی دی اومخ ته په غرونو کی درنګونو اختلاف، دغه شان په انسانانو اوځارو وغیره کی اختلاف یی په صورت دصفت بیان کړی دی ، په دی وجه یی مُختَلِفٌ مرفوع راوړی ، په دی کی دا اشاره کیدی سی چی دثمراتو درنګونو اختلاف خوپه یوحال نه دی، داپه لږلږ وقفه سره بدلیږی په خلاف دغرونو او انسانانو اوحیوانانو چی دهغوی کوم رنګ دی ، دغه عموماً قائم پاته کیدونکی دی بدلیږی نه .

او په غرونو کی یی جُدَدٌ وفرمایل ، دا دَجُدَّةٌ جمع ده ، چی معنی یی دهغه کوچنی لاری ده کوم ته چی جَادَةٌ هم ویل کیږی اوځینی حضراتو جُدَّةٌ په معنی دقطعی اوحصی مقرر کړی دی ، مطلب په دواړو صورتونو کی دغرونو دَاجزاوو مختلف رنګونه دی ، په کومو کی چی دتولو څخه اول دسپین اوپه اخر کی دَتور ذکر وفرمایی او په مینځ کی یی دسور په ذکر سره مُختَلِفٌ اَلْوَانُهٗ وفرمایل په دی کی دی طرف ته

Maktaba Tul Ishaat.com

اشاره راوزی چی اصل رنگونه په دنیا کی دوه دی سپین اوتور اوباقی رنگونه ددی سپینوالی او تورووالی په مختلفو درجو سره دمرکب کیدو څخه جوړیږی.

كَذَلِكَ إِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ : دلته په لفظ دكَذَلِكَ باندی دجمهورو په نزد وقف دی کوم چی ددی نښانه ده چی دالفظ دتیر مضمون سره متعلق دی ، یعنی مخلوقات په مختلفو انواعو او اقسامو او مختلفو رنگونو په لوی حکمت سره جوړول دا دالله ﷻ دقدرت او حکمت خاص نښانی ده.

او په څینو روایتونوکی دا هم دی چی ددی لفظ تعلق دمخکی جملی سره دی یعنی لکه څنګه چی میوی غرونه ، حیوانات او انسانان په مختلفو رنګونو کی تقسیم دی ، دغه شان په خشیت الله کی هم دخلکو درجی مختلفی دی چاته ددی اعلی درجه حاصله ده ، چاته کومه اومدار ددی په علم دی دکومی درجی چی علم دی ، ددغه درجی خشیت هم دی (روح)

په تیر ایت کی یی ارشاد فرمایلی وو ، إِنَّمَا تُنذِرُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ : په دی سره یی نبی کریم ﷺ ته دتسلی دپاره فرمایلی وه چی ستا دبیرولو اوتبلیغ څخه فائده خوصرف هغه خلک پورته کوی کوم چی غائبانه دالله ﷻ څخه خوف اوخشیت لری ، ددی په مناسبت سره یی په آیت ، إِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ : کی دهغو خلکو ذکر دی کومو ته چی دالله ﷻ خشیت حاصل دی اولکه څنګه چی اول دکفارو اومنکرانو او د دوی دحالاتو ذکر دی ، په دی کی خاص دَاولیاء الله ذکر دی ، لفظ دَانَّمَا په عربی ژبه کی دحصر بیانولو دپاره راځی ، په دی وجه ددی جملی معنٰی په ظاهره دا ده چی صرف علماء دَالله ﷻ څخه بیریږی ، مګر ابن عطیه وغیره دتفسیر امامان فرمایی ، چی حرف د انَّمَا لکه چی دحصر دپاره راځی ، داسی دچا دخصوصیت دَبیانولو دپاره هم مستعملیږی او دلته دامراد دی چی خشیة الله دَعلماؤ خاص وصف اولازم دی ، دا ضروری نه ده چی په غیر عالم کی دی خشیت نه وی (من البحر محیط لابوحیان)

او په آیت کی دلفظ دعُلماء څخه مرادهغه خلک دی کوم چی دالله ﷻ دذات اوصفاتو کما حقه علم لری اوپه مخلوقاتو دعالم کی دهغه په تصرفاتو او دهغه په احساناتو اوانعاماتو نظر لری صرف عربی ژبه یا ددی صرف نحو او دبلاغت فنون پیژندونکو ته دقرآن په اصطلاح کی عالم نه سی ویل کیدی ترڅو پوری چی ده ته دالله ﷻ معرفت په ذکرسوی طریقه حاصل نه وی.

حسن بصری رحمه الله ددی آیت په تفسیرکی فرمایی چی عالم هغه سړی دی کوم چی په پته اوښکاره دالله ﷻ څخه بیریږی اودکوم شی چی الله ﷻ ترغیب ورکړی دی هغه ده ته مرغوب وی اوکوم شی چی دالله ﷻ په نزد مبغوض دی ، دهغه څخه ددده نفرت وی.

اوحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمایی ، لَيْسَ الْعِلْمُ بِكَثْرَةِ الْحَدِيْثِ وَلٰكِنَّ الْعِلْمَ عَنْ كَثْرَةِ الْخَشْيَةِ : یعنی په ډیرواحادیثویادولویادډیروخبروکولوسره څه علم نسته بلکه علم هغه دی دکوم سره چی دالله ﷻ خوف وی مطلب دا دی چی څومره په چاکی دالله ﷻ خوف وی هغه ددغه درجی عالم دی اواحمدبن صالح مصری فرمایی چی خشیة الله په ډیرو روایتونو اوډیرو معلوماتو سره نه سی پیژندل کیدی ، بلکه دا دکتاب اوسنتو په اتباع سره پیژندل کیدی سی (ابن کثیر)

Maktaba Tul Ishaat.com

شیخ شهاب الدین سهروردی رحمه الله فرمایی چی په دی آیت کی اشاره پیدا کیږی چی په کوم سړی کی خشیة نه وی هغه عالم نه دی (مظهری) ددی تصدیق دسلفو مشرانو څخه هم کیدی سی ، حضرت ربیع بن انس ﷺ فرمایی ، مَنْ لَمْ یَخْشَ فَلَیْسَ بِعَالِمٍ : یعنی څوك چی دخدای څخه نه بیریږی هغه عالم نه دی .

اومجاهد فرمایی ، اِنَّمَا الْعَالِمُ مَنْ خَشِیَ اللّٰهَ : یعنی عالم صرف هغه دی کوم چی دالله ﷻ څخه بیریږی .

دسعدبن ابراهیم څخه چا پوښتنه وکړه چی په مدینه کی دتولو څخه زیات افقه څوك دی؟ نو وي فرمایل اَلْفَاهِمُ لِرَبِّهٖ : یعنی څوك چی دخپل رب څخه دتولو څخه زیات بیریدونکی وی .

اوحضرت علی مرتضٰی ﷺ دفقیه تعریف داسی فرمایلی دی .

اِنَّ الْفَقِیْهَ حَقَّ الْفَقِیْهِ مَنْ لَمْ یُقَنِّطِ النَّاسَ مِنْ رَحْمَةِ اللّٰهِ ، وَلَمْ یُرَخِّصْ لَهُمْ فِیْ مَعَاصِیِ اللّٰهِ تَعَالٰی وَلَمْ یُؤْمِنْهُمْ مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ تَعَالٰی وَلَمْ یَدَعِ الْقُرْآنَ رَغْبَةً عَنْهُ إِلٰی غَیْرِهٖ، اِنَّهٗ لَا خَیْرَ فِیْ عِبَادَةٍ لَا عِلْمَ فِیْهَا وَلَا عِلْمٍ لَا فِقْهَ فِیْهِ وَلَا قِرَاءَةٍ لَا تَدَبُّرَ فِیْهِ، (قرطبی)

فقیه،مکمل فقیه هغه دی کوم چی خلك دالله ﷻ درحمت څخه مایوسه هم نه کړی اوهغوی ته دګناهونو رخصت هم ورنه کړی او هغوی دالله ﷻ دعذاب څخه مطمئن کوی هم نه او چی دقرآن په پرېښودو بل طرف رغبت ونه کړی (اوفرمایی) په هغه عبادت کی هیڅ خیر نسته کوم چی بی علمه وی اوپه هغه علم کی هیڅ خیر نسته کوم چی بغیردپوهی څخه وی اودقرآن په هغه قرآئت کی هیڅ خیرنسته کوم چی بغیردتدبرڅخه وی.

په ذکر سوو وضاحتونو سره دا شبهه هم ختمه سوه چی دیر عالمان داسی لیدل کیږی چی په هغوی کی دخدای بیره اوخشیت نه وی ځکه چی دلورو وضاحتونو څخه معلومه سوه چی دالله ﷻ په نزد صرف دعربی پیژندلو نوم علم نه دی او په علم دپوهیدونکی نوم عالم نه دی ، په کوم کی چی خشیت نه وی هغه دقرآن په اصطلاح کی عالم نه دی ، البته خشیت کله صرف اعتقادی اوعقلی وی ، دکوم په وجه سره چی بنده په تکلف سره دشرعی احکامو پابند وی ، اوکله دا خشیت حالی او دملکی راسخی په درجه کی سی په کوم کی چی دشریعت تابعداری یوه تقاضا دطبیعت جوړه سی دخشیت اوله درجه مامور به او دعالم دپاره ضروری ده ، دوهمه درجه افضله اواعلی ده ، ضروروی نه ده (بیان القرآن)

اِنَّ الَّذِیْنَ یَتْلُوْنَ كِتٰبَ اللّٰهِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ

بیشکه کوم خلق چی وایی کتاب دالله اوبرابر کوی لمونځونه اوخرڅ کوی زمونږ د ورکړی رزق څخه

سِرًّا وَّعَلَانِیَةً یَّرْجُوْنَ تِجَارَةً لَّنْ تَبُوْرَ ﴿۲۹﴾ لِیُوَفِّیَهُمْ اُجُوْرَهُمْ

په پټه او په ښکاره امید لری دتجارت چی تاوان په کی نه وی ، چی پوره ورکړی دوی ته ثواب

وَیَزِیْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ اِنَّهٗ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴿۳۰﴾ وَالَّذِیْۤ اَوْحَیْنَاۤ

د دوی ، اوزیات ورکړی دخپل فضل څخه بیشکه هغه بخښنی والا قدردان دی ، او کوم چی مانازل کی

Maktaba Tul Ishaat.com

اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

پر تا کتاب هغه صحیح دی تصدیق کوونکی دی دخان څخه دمخکنیو کتابونو ، بیشکه الله

بِعِبَادِهٖ لَخَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ﴿۳۱﴾ ثُمَّ اَوْرَثْنَا الْكِتٰبَ الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا

دخپلو بندګانو څخه خبردار لیدونکی ، بیا مونږ وارثان کړل دکتاب هغه خلق کوم چې مونږ غوره کړل

مِنْ عِبَادِنَا ۚ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ۚ وَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ

دخپلو بندګانو څخه، بیا څینې په دوی کې ظالمان دی په خپل ځان، او څینې په دوی کې په درمیانه چال تلونکي دی

سَابِقٌۢ بِالْخَيْرٰتِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ؕ ﴿۳۲﴾

او څینې په دوی کې مخکې کوونکي دی نیکیو ته په اذن دالله ، دا دی لوی فضل

جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّ

باغونه دی داسیدو چې داخلیږي به ورته هلته به دوی ته واغوستل سی ، بنګړی دسره زرو

لُؤْلُؤًا ۚ وَلِبَاسُهُمْ فِيْهَا حَرِيْرٌ ﴿۳۳﴾ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْۤ اَذْهَبَ

او ملغلرو او د دوی جامې به هلته وریښمني وی ، او وایی چې شکر دی دالله چا چې لیرې کې زمونږ څخه

عَنَّا الْحَزَنَ ؕ اِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوْرٌ شَكُوْرُ ۙ ﴿۳۴﴾ الَّذِيْۤ اَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ

غم ، بیشکه زمونږ رب بخښنې والا قدر دان دی ، چاچې را کښته کړو مونږ په کور داقامت کې

مِنْ فَضْلِهٖ ۚ لَا يَمَسُّنَا فِيْهَا نَصَبٌ وَّلَا يَمَسُّنَا فِيْهَا لُغُوْبٌ ﴿۳۵﴾

په خپل فضل سره ، وبه نه رسیږي مونږ ته په دې کې مشقت او نه به ورسیږي مونږ ته په دې کې ستړې والی ،

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ ۚ لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ فَيَمُوْتُوْا وَ

او کوم خلق چې منکر دی دهغوی دپاره دی اور د دوزخ ، نه به په دوی حکم کیږي چې مړه سی

لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِّنْ عَذَابِهَا ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِيْ كُلَّ كَفُوْرٍ ۚ ﴿۳۶﴾ وَهُمْ

او نه به په دوی سپکیږي دهغه څای څه عذاب ، دا سزا ورکوو مونږ هر یوه ناشکر ته ، او دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

يَصْطَرِخُونَ فِيهَا ۚ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِي كُنَّا

به چغې وهي په دغه کې اى ربه زمونږ ! وباسې مونږ چې نيکي وکړو مونږ ، هغه نه کومه چې

نَعْمَلُ ۚ أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ ۖ

مو کوله ، آيا مونږ عمر نه وو درکړى تاسى ته دومره چې سوچ په کې وکړى هغه چې سوچ کوى اوراغى تاسى ته

فَذُوقُوا فَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ نَصِيرٍ ﴿٣٧﴾

بيروونکى ، اوس وڅکئ چې هيڅوك نسته ظالمانو ديارە مدد گار .

لنډتفسير: اوکوم خلګ چې دالله ﷻ دکتاب (يعنى قرآن) تلاوت (سره دعمل) کوى او (په خصوصيت او اهتمام سره) دلمانځه پابندى ساتى اوڅه چې مونږ دوى ته ورکړى دى دهغه څخه په پټه اوپه ښکاره (ځنګه چې موقع وى) خرڅ کوى هغوى (په وجه دوعدى دالله ﷻ) ددى اسى (دائم النفع) تجارت اميدوار دى کوم چې يوځاى کوټه کيږى نه (ځکه چې ددى سودا خريدارپه مخلوقاتوکى څوك نه دى چې کله دسودا قدر کوى اوکله يې نه کوى بلکه ددى خريدار به په خپله حق تعالى وى کوم چې به خامخا دوعدى مطابق دخپل غرض په وجه نه بلکه محض دوى ته دنفع رسولو ديارە به ددى قدر کوى) ددى ديارە چې دوى ته د دوى (دعملونو) اجرتونه (هم) پوره (پوره) ورکړى (چې بيان به يې مخ ته راسى، جَنّٰتُ عَدْنٍ الخ) او (علاوه داجرته څخه به) دوى ته دخپل فضل څخه نور زيات (هم) ورکړى (مثلاً دا چې ديوى نيکى ثواب به دلسو برابر ورکړى ، لکه چې الله ﷻ فرمايى ، مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا) بيشكه هغه لوى بخښنى والا لوى قدردان دى (نوکه د دوى په عملونوکى څه کوتاهى پاته سوه ، بياهم داسى قدرېى ورلره ورکړه چې داجرت څخه علاوه انعام يې هم ورکى) او (په قرآن مجيد باندى دعمل کولو په برکت سره کوم چې دوى ته اجر اوفضل ورکول سو نو واقعى قرآن مجيد داسى شى دى ځکه چې) داکتاب کوم چې مونږ تاته دوحى په ذريعه درليږلى دى دابالکل حق دى کوم چې دڅان څخه دمخکى کتابونو هم (په دى معنى) تصديق کوى (چې دوى دَاصل په اعتبار سره منزل من الله ښيي، که څه هم وروسته محرف سوى وى ، غرض دا کتاب په هرشان کامل دى او چونکه) يقيناً الله ﷻ دڅپلو بندګانو (دَحالت) پوره خبر لرونکى (او د دوى دمصلحتونو) ښه ليدونکى دى (په دى وجه دا وخت داسى کامل کتاب نازلول قرين حکمت هم وه او دکامل کتاب عمل کوونکى مستحق دکاملى جزا وى کوم چې مجموعه ده دَاصل اجر اوزيات فضل ، نو ددى اجر او فضل دافاضى ديارە داکتاب مونږ اول په تا نازل کى او، بيا دا کتاب مونږ دهغو خلګو لاسونو ته ورسوى کوم چې مونږ په خپلو (دټولى دنيا (جهان) په) بندګانو کى (په اعتبار دايمان خوښ کړل (مراد ددى څخه اهل اسلام دى کوم چې په دى حيثيت دايمان سره دټولى دنيا په خلګو کى مقبول عندالله دى که څه هم په دوى کى څوك په بله وجه په مثل دبد عملى موجب دملامتيا هم وى ، مطلب دا دى چې دَمسلمانانو لاسونو ته يې دغه کتاب ورسوى) بيا (ددى منتخب اوخوښ سوو خلګو دري

Maktaba Tul Ishaat.com

قسمونه دی چی) څینی خو په دوی کی (څه ګناه کوی) په خپلو ځانونو ظلم کوونکی دی اوځینی په دوی کی (کوم چی نه ګناه کوی او نه په طاعاتو کی دضروریاتو څخه تجاوز کوی) د درمیانه درجی دی اوځینی په دوی کی دهغه دی کوم چی دخدای په توفیق سره په نیکیو کی ترقی کوی روان دی (چه دګناهونو څخه هم ځانونه ساتی او دفرائضو سره دغیر فرائضو هم همت کوی ، غرض دا چی مونږ د دری قسمه مسلمانانو لاسونو ته دغه کتاب ورورسوی او) دا (یعنی دداسی کامل کتاب رسول دخدای ﷺ لوی فضل دی (څکه چی په دی دعمل کولو په وجه به دځومره اجر اوثواب مستحق سی ، مخ ته ددی اجر اوفضل چی لوړ یی بیان ذکر سوی دی بیان دی چی) هغه (اجر اوفضل) باغونه دی دهمیشه اوسیدو کومو ته چی به دا خلک (چی ذکر یی په آیت، اِنَّ الَّذِیْنَ یَتْلُوْنَ الخ کی سوی دی) دا خلیږی (او) دوی ته به دسرو زرو بنګړی اوملغلری اغوستل کیږی اوجامی به هلته د دوی دوریښمو وی او (هلته چی دا خلق سی) وبه وایی چی دالله ﷻ لك لك شکر دی کوم چی زمونږ څخه (دهمیشه دپاره رنځ او) غم لیری کی بیشکه زمونږ پروردګار لوی بخښنی والا لوی قدردان دی ، کوم چی مونږ په خپل فضل سره دهمیشه اوسیدو مقام ته راوستو ، کوم څای چی مونږ ته به نه څه تکلیف رسیږی اونه به مونږ ته څه ستومانی را رسیږی (دا خو دعاملانو دکتاب الله اواحکامو حال سو) اوکوم خلک چی (د دوی برخلاف) کافران دی دهغوی دپاره د دوزخ اور دی نه به هغوی ته مرګ راځی چی مړه سی (اوپه مرګ سره خلاص سی) او نه به د دوزخ عذاب د دوی څخه سپك سی مونږ هرکافرته داسی سزا ورکوو اوهغه خلک به په دی (دوزخ) کی (پراته وی) چیغی به وهی چی ای زمونږ پروردګاره! مونږ (ددی څای څخه) وباسی مونږ به (اوس نه) نیك (نیك) کارونه کوو برخلاف دهغو کارونو څخه کوم چی مونږ (مخکی) کول (ارشاد به وسی چی) آیا مونږ تاسی ته دومره عمر نه وو درکړی چی که چا پوهیدل غوښتلی نو پوه سوی به وای په کی او (صرف په عمر درکولو موبسوالی نه وو کړی بلکه) تاسی ته (زمونږ دطرف څخه) بیرونکی (یعنی پیغمبر) هم رسیدلی وو (برابره خبره ده که په واسطه یابی واسطی مګرتاسی یوه وا نه وریده) پس (اوس دهغه نه منلو) خوند وځکی چی دداسی ظالمانو (دلته) څوك مددګار نسته (مونږ به یی په وجه دناراضتیا مدد ونه کړو او نور خلک به یی په وجه دعدم قدرت)

معلومات اومسئلي: ددی ایتونو څخه په مخکی آیت کی دعلماء حق (کوم چی عارف بالله وی) دهغوی دیو داسی صفت ذکر وو چی تعلق یی دزړه سره دی یعنی ، خشیة الله، په ذکر سوی اولنی آیت کی ددی اولیاء الله دځو داسی صفتونو ذکر دی کوم چی په اندامونو اوجوارحو سره ادا کیږی په هغه کی اولنی صفت تلاوت قرآن دی اومراد ددی څخه هغه خلک دی کوم چی په تلاوت دکتاب الله باندی مداومت کوی ، یَتْلُوْنَ، په صیغه دمضارع دی طرف ته اشاره کوی اوځینو حضراتو دلته یَتْلُوْنَ، ددی په لغوی معنی کی اخیستی دی ، یعنی هغوی په عمل کی اتباع کوی دقرآن ، مګر اولنی تفسیرراجح دی ، که څه هم دسیاق اوسباق څخه دا هم متعینه ده چی تلاوت هغه معتبر دی ، دکوم سره چی په قرآن عمل هم وی ، مګر لفظ دتلاوت په خپله معروفه معنی کی دی ، دغه شان حضرت مطرف بن عبد الله ابن شخیر فرمایی هٰذِهِ اٰیَةُ الْقُرَّاءِ : یعنی دا آیت دقراءُ دپاره دی کوم چی دقرآن تلاوت دزړوند خپله مشغله جوړ وی.

Maktaba Tul Ishaat.com

د دوی دوهم صفت اقامت صلوة او دریم دَالله ﷻ په لاره کی مال خرڅ کول دی ، دخرڅ کولو سره یی سِرّاً اوعلانیةً وفرمایل او دی طرف ته یی اشاره وکړه چی اکثره په عبادتونو کی دریاء څخه د محفوظ کیدو دپاره پټ کول ښه دی ، مګر ځینی وخت دینی مصلحت ددی هم مقتضی وی چی په اعلان سره وسی لکه دجماعت لمونځ چی په مناروکی اذان وکی اوپه زیاته اجتماع سره په ډاګه باندی یی دادا کولو دی ، دغه شان ځینی وخت دالله ﷻ په لاره کی دخرڅ کولو اظهار هم نورو ته دترغیب دپاره ضروری وی ، فقهاؤ حضراتو په لمانځه او انفاق فی سبیل الله دواړو کی دا تفصیل فرمایلی دی چی فرض ، واجب یاسنت موکد دی ، دا خو په ډاګه کول ښه دی ، ددی څخه ماسوا نفلی لمونځونه پټ اداکول ښه دی دغه ډول ډول ځای چی مال خرڅ کول فرض یاواجب وی ، لکه فرض زکوة یاصدقه فطر یاقربانی، په دی کی په ډاګه خرڅول ښه اوبهتردی باقی نفل صدقی پټ خرڅول ښه دی.

کوم خلګ چی ددی درو صفتونو حامل وی یعنی دقرآن په تلاوت باندی مداومت اواقامت صلوة او دَالله ﷻ په لاره کی په خوشحالی مال خرڅ کول چی صرف دفرضو اوواجبو ترحده پوری نه وی بلکه نفلی صدقی هم کوی ، مخ ته یی د دوی یو صفت دا وښووی چی ، يَرْجُونَ تِجَارَةً لَّنْ تَبُورَ لَنْ تَبُوْرَ، دَبَوَارْ څخه مشتق دی چی معنٰی یی ضائع کیدل دی ، معنٰی دایت دا ده چی دذکر سووصفتونو پابند مومنان دیو داسی تجارت امیدواردی چی هیڅکله به خساره نه وی په کی ، دامیدوار کیدو دلفظ څخه دی طرف ته اشاره ده چی مومنانو ته په خپل یو نیك عمل هم په دنیاکی دیقین کولو ګنجائش نسته چی په دی به مونږ وبخښی او ددی اجر اوثواب به مونږ ته یقینی راکول کیږی ، ځکه چی مکمل مغفرت اوبخښش خو دیوه انسان هم صرف دده په عمل سره نه سی کیدی ځکه چی انسان څومره هم نیك عمل وکړی ، بیاهم هغه دالله ﷻ دَعظمت او عبادت حق نه سی پوره کولی ، په دی وجه مغفرت تول دَالله ﷻ دفضل څخه بغیر نه سی کیدی ، لکه چی په یوه حدیث کی دَدی مضمون وضاحت راغلی دی ، ددی څخه علاوه دهر نیك عمل سره بنده ته ددی خطری څخه هم غافله کیدل نه دی په کار چی په دیرو نیکو عملونو کی څه پټ شان دشیطان یانفس مکر شامل سی چی دهغه په وجه دغه مقبول نه وی یاځینی وخت دیو نیك عمل سره څه بد عمل داسی وسی کوم چی دنیك عمل په مقبولیت کی مانع وی ، په دی وجه په آیت کی یی لفظ د، يَرْجُعُوْنَ راوړی او دی طرف ته یی اشاره وفرمایله چی دتولو نیکو عملونو دپابندی څخه وروسته هم چاته دخپل نجات اودلورو درجو یقین کولو حق نسته ، بس دزیات څخه زیات امید کول کیږی (روح)

(دنیکو عملونو مثال په تجارت سره)

په دی آیت کی یی دا ذکر سوی نیك عملونه په طور دتشبیه اومثال په یوتجارت سره تعبیر کړل لکه چی په یو بل آیت کی یی ایمان اوجهاد فی سبیل الله په تجارت سره تعبیر فرمایلی دی ، هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ : دتجارت مثال په دی وصف کی دی چی دتاجر خپله سرمایه زیاته سی او نفع به ورته ورسیږی ، لیکن ددنیا په هر تجارت کی دنفع سره دنقصان او خساری احتمال هم وی ، په ذکر سوی آیت کی یی دتجارت سره دَ، لَنْ تَبُوْرَ، لفظ زیات کی او دی طرف ته یی اشاره وکړه چی داخرت په دی تجارت کی دنقصان اوخساری هیڅ

Maktaba Tul Ishaat.com

احتمال نسته او دالله ﷻ نیك بندگان چی په نیکو عملونوکی کوم مشقت اومحنت تیر وی ، هغوی دعامو تجارتونو په شان تجارت نه کوی بلکه دیو داسی تجارت امیدوار دی په کوم کی چی هیڅکله خساره نه وی او د دوی دامیدواری ذکر کول پته اشاره دی طرف ته ده چی الله ﷻ دکریمانو کریم دی ، هغه دامیدوارانو امیدنه قطع کوی بلکه پوره کوی یی ، بلکه په مخکی جمله کی یی دا هم وفرمایل چی د دوی امید خو صرف دخپل عمل دپوره بدلی ورکولو پوری محدود دی ، الله ﷻ به په خپل کرم سره د دوی دامیدونو څخه هم زیات ورکی ، لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ دلفظ د : لِيُوَفِّيَهُمْ تعلق دَلَنْ تَبُوْرَ سره دی ، یعنی د دوی په تجارت کی دخساری احتمال نسته ، بلکه د دوی اجر اوثواب به دوی ته پوره پوره ورکول کیږی اوالله ﷻ به په خپل فضل اوکرم سره د دوی دمظنونه اجر اوثواب څخه هم ډیر زیات ورکی په دی فضل اوزیاتوب کی دالله ﷻ وعده هم شامله ده چی دمومن دعمل اجر الله ﷻ په څو څو چنده زیات ورکوی چی ادنی مقدار یی دعمل لس چنده اوزیات دا ووه سوه چنده پوری بلکه ددی څخه هم زیات دی اودنورو گناهگارانو په حق کی د دوی سفارش قبلول په دی فضل کی شامل دی ، لکه چی په یو حدیث کی حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ دنبی کریم ﷺ څخه ددی فضل په تعبیرکی داروایت کړی دی چی په دی خلگو په دنیاکی چا احسان کړی وی دا خلگ به دهغوی سفارش کوی نو سره دجهنمه دسزا دمستحق کیدو به د دوی په سفارش سره دهغوی نجات وسی (تفسیرِ مظهری بحواله ابن ابی حاتم) او دا ظاهره ده چی شفاعت به صرف داهل ایمانو دپاره کول کیږی ، دکافر دشفاعت به هیڅاته اجازت نه وی ، دغه شان په جنت کی دَالله ﷻ دیدار هم ددی فضل لوی جزء دی .

ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا : حرف د ثُمَّ دَعطف دپاره راځی او په دی دلالت کوی چی ددی لفظ څخه مخکی او وروسته دواړه شیان په اصل وصف کی دمشترك والی باوجود تقدیم اوتاخیر لری ، اولنی شی مخکی او وروستنی شی موخر وی ، بیا دا تقدیم او تاخیر کله دزمانی په اعتبار سره وی ، کله درتبی او درجی په اعتبار سره ، په دی آیت کی حرف ثُمَّ عطف دی ، ددی څخه دمخکی آیت په لفظ أَوْحَيْنَا باندی دعطف معنی دا ده چی مونږ دا کتاب یعنی قرآن چی خالص حق دی او دټولو مخ ته اسمانی کتابونو تصدیق کوی ، اول په طور دَوحی تاته را ولیږی ، ددی څخه وروسته مونږ ددی کتاب وارثان هغه خلگ جوړ کړل کوم چی مونږ منتخب اوخوښ کړی دی په خپلو بندگانو کی ، داول اواخر او مقدم اوموخر کیدل درتبی او درجی په اعتبار سره خوظاهر دی چی قرآن په ذریعه دوحی دوی ته لیږل په رتبه او درجه کی مقدم دی اوامت محمدی ته یی ورکول ددی څخه موخردی اوکه امت دَقرآن دوارثانو جوړولو مطلب دا واخیستل سی چی دوی دځان څخه وروسته دامت دپاره دزَرو اودمخکی دوراثت پریښوولو په ځای دالله ﷻ کتاب په طور دوراثت پریښووی لکه چی په یوحدیث کی ددی شهادت موجود دی چی انبیاء د درهمو اودینارو وراثت نه پریږدی ، دوی په وراثت کی علم پریږدی اوپه یوبل حدیث کی علماء یی دپیغمبرانو وارثان فرمایلی دی نو په دی لحاظ سره دا تقدیم اوتاخیر زمانی هم کیدی سی چی مونږ دا کتاب تاته درکړی دی ، بیا تا دامت دپاره په طور دوراثت پریښووی او دوارث جوړولو څخه مراد ورکول دی ، داعطاء کول په لفظ دمیراث تعبیر کولوکی دی طرف ته اشاره ده چی

Maktaba Tul Ishaat.com

لکه څنګه چې وارث ته د میراث حصه بغیر دده دخه عمل او کوشش څخه ورکول کیږی ، دَقرآن کریم دا دولت هم دی منتخبو بندګانو ته دغه ډول بغیر دخه محنت او مشقت څخه ورکول سوی دی .

(دامت محمدی خصوصًا ددی دعالمانو یو مهم فضیلت او خصوصیت)

اَلَّذِیْنَ اصْطَفَیْنَا مِنْ عِبَادِنَا : یعنی کوم چې مونږ منتخب اوخوښ کړل په خپلو بندګانو کی ، دجمهورو مفسرینو په نزد ددی څخه مراد امت محمدیه دی ، ددی علماء بلاواسطه اونور خلګ په واسطه دعالمانو ، علی بن ابی طلحه ﷺ دحضرت ابن عباس ﷺ څخه ددی آیت په تفسیرکی نقل کړی دی چې دَ، اَلَّذِیْنَ اصْطَفَیْنَا : څخه مراد امت محمدیه دی ، الله ﷻ دا امت دهر هغه کتاب وارث جوړ کړی دی کوم چې هغه نازل کړی دی ، یعنی قرآن دټولو تیرو کتابونو دتصدیق او حفاظت کوونکی کتاب کیدو په حیثیت سره دټولو اسمانی کتابونو دمضامینو جامع دی ددی وارث جوړیدل ګویادټولواسمانی کتابونو وارث جوړیدل دی بیا فرمایی ، فَظَالِمُهُمْ یُغْفَرُ لَهٗ وَمُقْتَصِدُهُمْ یُحَاسَبُ حِسَابًا یَّسِیْرًا وَّ سَابِقُهُمْ یُدْخَلُ الْجَنَّةَ بِغَیْرِ حِسَابٍ : یعنی ددغه امت ظالمان به وبخښل سی ، او دَمیانه روی کوونکو څخه به یی اسانه حساب واخیستل سی اوسابقین به یی بغیر دحساب څخه جنت ته دا خل سی (ابن کثیر)

په دی آیت کی دلفظ دَاصْطَفَیْنَاځخه دامت محمدی دټولوځخه لوی عظیم فضیلت ظاهرسو،ځکه چې د لفظ دَاصْطَفَا ،په قرآن کی دانبیاء دپاره راغلی دی،اَللّٰهُ یَصْطَفِیْ مِنَ الْمَلٰٓئِکَةِ رُسُلًا وَّمِنَ النَّاسِ : اوپه یوایت کی دی ،اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰٓی اٰدَمَ وَنُوْحًا وَّاٰلَ اِبْرٰهِیْمَ وَاٰلَ عِمْرٰنَ عَلَی الْعٰلَمِیْنَ:په ذکرسوی آیت کی حق تعالی امت محمدیه اَصْطَفَا یعنی په انتخاب کی دانبیاء اوملائکو ﷺ سره شریك وفرمایی،که څه هم دَاصْطَفَا درجی مختلفی دی ، دانبیاء او ملائکو اِصْطَفَاء په اعلی درجه کی او دامت محمدی دا په وروسته درجه کی دی .

(دامت محمدی دری قسمونه)

فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ وَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَیْرٰتِ : دا جمله داولی جملی تفسیر او وضاحت دی ، یعنی مونږ چې کوم خپل بندګان منتخب اوغوره کړی دی هغه مو دقرآن وارثان جوړ کړی دی د دوی دری قسمونه دی ظالم ، مقتصد ، سابق .

ددی دری سره وو قسمونو تفسیر امام ابن کثیر رحمه الله داسی بیان کړی دی چې دظالم څخه مراد هغه سړی دی کوم چې په څینو واجباتوکی کوتاهی کوی او دځینو محرماتو ارتکاب کوی ، او مقتصد (یعنی په درمیانه حال چلیدونکی) هغه سړی دی کوم چې ټول شرعی واجبات ادا کوی او دټولو محرماتو څخه ځان ساتی ، مګر څینی وخت څینی مستحبات پریږدی اوپه څینو مکروهاتوکی هم اخته کیږی اوسابق بالخیرات هغه سړی دی کوم چې ټول واجبات اومستحبات اداکوی او دټولو محرماتو اومکروهاتو څخه ځان ساتی او څینی مباحات په عبادت کی دمشغولیدو یادحرمت دَشبهی په وجه هم پریږدی .

دا دابن کثیر بیان دی ، نورو مفسرینو ددی دری سره وو قسمونو په تفسیرکی دیر مختلف اقوال نقل کړی دی ، په روح المعانی کی په حواله دتحریر دری څلویښت اقوال نقل کړی دی ، مګر چې غور وسی نو په دی کی د اکثرو مطلب هغه دی کوم چې لور دابن کثیر په حواله سره بیان سوی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

(یوه شبهه او دَهغه جواب)

دذکرسوی تفسیرځخه ثابته سوه چی دَ اَلَّذِیْنَ اصْطَفَیْنَا: ځخه مراد امت محمدی دی او ددی دری قسمونه دی ددی ځخه معلومه سوه چی ددی اولنی قسم یعنی ظالمان هم په اَلَّذِیْنَ اصْطَفَیْنَا: کی شامل دی ، داپه ظاهره مستبعد ګنلو سره ځینو خلګوویلی دی چی داخلګ دامت محمدیه او ، اِصْطَفَیْنَا ، ځخه خارج دی ، مګر دډیرو صحیح احادیثو معتبرو ځخه ثابته ده چی دا دری سره قسمونه دامت محمدیه دی اودَ ، اِصْطَفَیْنَا ، دوصف ځخه خارج نه دی ، دا دامت محمدیه دمومنانو بندګانو انتهایی خصوصیت اوفضیلت دی چی په دوی کی چی کوم په عملی طور ناقص هم دی هغه هم په دی شرف کی دا خل دی ، حافظ ابن کثیر دلته هغه ټول روایتونه دحدیث جمع کړی دی چی ځینی ورځخه دا دی .

دحضرت ابوسعید خدری ﷺ روایت دی چی نبی کریم ﷺ دذکر سوی آیت اَلَّذِیْنَ اصْطَفَیْنَا ، ددری قسمونو متعلق فرمایلی دی چی دا ټول په یوه مرتبه کی دی اوټول دجنتیانو ځخه دی (رواه احمد ، ابن کثیر) په یوه مرتبه کی دکیدو ځخه مراد دا دی چی دټولو مغفرت به وسی دامطلب نه دی چی د درجو په اعتبار سره به په دوی کی تفاضل نه وی .

او دحضرت ابو درداء ﷺ ځخه په ډیرو سندونو سره یو حدیث نقل دی ابن کثیر دا ټول نقل کړی دی ، په دی کی یو هغه دی کوم چی ابن جریر دَابوثابت ځخه نقل کړی دی چی هغه یوه ورځ جمات ته ولاړی نو هلته ابودرداء ﷺ دمخکی ځخه ناست وو ، ابوثابت دده خواته ولاړی کښینستی او دا دعایی وکړه ، اَللّٰهُمَّ آنِسْ وَحْشَتِیْ وَارْحَمْ غُرْبَتِیْ وَیَسِّرْ لِیْ جَلِیْسًا صَالِحًا: یعنی یاالله! زما دزړه وحشت اوپریشانی لیری کړی او زما دمسافرت په حالت رحم وکړی اوماته یو صالح همنشین راکړی (دلته دا خبره دیاد ساتلوده چی په سلفو صالحینوکی دنیک همنشین طلب اوتلاش په ځومره درجه کی وو چی دایی یومهم مقصد اودټولو پریشانیو علاج ګنل کیدی ، دالله ﷻ ځخه به یی ددی دعاګانی غوښتلی ، ابودرداء چی دا دعا واوریده نو وي فرمایل چی که ته دخپلی دی دعاپه طلب کی رښتنی یی نوزه په دی معامله کی ترتا زیات خوش نصیب یم (مطلب دا دی چی ماته الله ﷻ ستاپه شان صالح همنشین بی غوښتلو راکی) اووي فرمایل چی زه تاته یوحدیث تیروم کوم چی ما دنبی کریم ﷺ ځخه اوریدلی دی ، مګر دکله ځخه چی ما دا اوریدلی دی ، تر اوسه یی چاته دبیانولو نوبت نه دی راغلی ، هغه دا دی چی حضور ﷺ ددی آیت، ثُمَّ اَوْرَثْنَا الْکِتَابَ الَّذِیْنَ اصْطَفَیْنَا : ذکر وفرمایی ، بیایی وفرمایل چی د درو قسمونو ځخه چی کوم سابق بالخیرات دی هغه خو به بی حسابه واخیستل سی او ظالم یعنی کوم چی په عملونو کی کوتاهی کوونکی او دګناهونو په خطا کی اخته کیدونکی دی ، په هغوی به په دغه مقام کی سخت رنځ اوغم راخپر وی ، بیابه هغوی ته هم جنت ته ددا خلی حکم وسی اوټول رنځ اوغم به یي لیری سی ، ددی ذکرپه ورپسی آیت کی راغلی دی وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ یعنی هغوی به ووایی شکردی دالله ﷻ چاچی زمونږغم لیری کی .

اوطبرانی دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ ځخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، وَکُلُّهُمْ مِّنْ هٰذِهِ الْاُمَّةِ : یعنی دا دری سره قسمونه ددی امت محمدیه ځخه به وی .

Maktaba Tul Ishaat.com

اوابوداود طیالسی دعقبه ابن صهبان هنایی څخه روایت کړی دی چی دوی دام المومنین حضرت عائشه صدیقه ﷺ څخه ددی آیت دتفسیر پوښتنه وکړه نوهغې وفرمایل زویه ! دا دری سره قسمونه جنتیان دی ، د دوی څخه سابق الخیرات خو هغه خلګ دی کوم چی دنبی کریم ﷺ په زمانه کی تیرسوی دی دکومو دجنتی کیدو شهادت چی په خپله نبی کریم ورکی ، اومقتصد هغه خلګ دی کوم چی د دوی په نقش او قدم ولاړل او دسابقینو په اقتداء قائم پاته سول ، تردی چی د دوی سره یوځای سول ، باقی پاته سول ظالم لنفسه نو زمونږ او ستاسی په شان خلګ دی .

دا دحضرت عائشه صدیقه ﷺ تواضع وه چی خپل ځان یی هم په دغه دریمه درجه کی یعنی ظالم لنفسه کی شمارکی ، حالانکه هغه دصحیح احادیثو دوضاحتونو مطابق دسابقینو اولینو څخه ده .

اوابن جریردحضرت محمدبن حنفیه څخه نقل کوی ، فرمایی چی دا امت امت مرحومه دی ، ددی ظالم هم مغفوردی اومقتصد یعنی میانه روپه جنت کی دی اوسابق بالخیرات دالله ﷻ په نزدپه لوړودرجوکی دی

اوحضرت محمد بن علی باقر ﷺ دظالم لنفسه په تفسیرکی فرمایی ، اَلَّذِیْ خَلَطَ عَمَلاً صَالِحًا وَّاٰخَرَسَیِّئًا: یعنی هغه سړی چاچی نیك اوبد دواړه قسمونه عملونه خلط ملط کړی وی .

﴿ دامت محمدی دعالمانو عظیم الشان فضیلت ﴾

په دی آیت کی الله ﷻ دا فرمایلی دی چی مونږ دخپل کتاب وارثان هغه خلګ جوړ کړل کوم چی زمونږ په بندګانو کی منتخب او برګزیده دی او دا هم ظاهره ده چی دکتاب الله اودنبوت دعلومو بلاواسطه وارثان عالمان حضرات دی لکه چی په حدیث کی هم ارشاد دی ، اَلْعُلَمَآءُ وَرَثَةُ الْاَنْبِیَآءِ : مطلب ددی دا دی چی کومو خلګو ته الله ﷻ دقرآن اوسنت دعلومو مشغله په اخلاص سره نصیب وفرمایله ، دا ددی نښانه ده چی هغوی دالله ﷻ برګزیده اولیاء دی ، لکه چی حضرت ثعلبه بن الحکم روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ به دقیامت په ورځ دامت علماؤ ته خطاب وفرمایی ، وبه وایی چی ماستاسی په سینو کی خپل علم اوحکمت صرف په دی وجه ایښی وو چی زما اراده دا وه چی ستاسی مغفرت وکړم ، عمل ستاسی هر څنګه چی وی (دا خبره لوړ معلومه سوې ده چی په کوم سړی کی خشیت اوخوف خدا نه وی ، هغه دعلماؤ دفهرست څخه خارج دی ، په دی وجه دا خطاب به هغو خلګو ته وی کوم چی په خشیة الله کی رنګ سوی وی ، دهغوی څخه دسره دا ممکنه نه وی چی په بی فکری سره په ګناهونوکی ملوث وی ، البته دبشری طبیعت په تقاضاوو سره کله کله خطا دهغوی څخه هم کیږی ، دی ته یی په دی حدیث کی وفرمایل چی عمل ستاسی هرڅنګه چی وی ستاسی دپاره مغفرت مقدر دی)

دا ټول روایتونه دتفسیر ابن کثیر څخه را اخیستل سوی دی اواخری حدیث کوم چی دحضرت ثعلبه څخه روایت سوی دی ، دا طبرانی هم روایت کړی دی چی دسند ټول سړی یی ثقه دی (مظهری) او په تفسیر مظهری کی په حواله دابن عساکر دذکر سوی حدیث دا مضمون دابوعمر صنعانی څخه هم روایت کړی دی ، دغه شان دحضرت ابوموسی اشعری ﷺ روایت چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی په محشرکی به الله ﷻ ټول بندګان جمع کړی ، بیابه په دوی کی علماء په یوممتاز مقام باندی جمع کړی اووبه فرمایی .

Maktaba Tul Ishaat.com

اِنِّی لَمْ اَضَعْ فِیْکُمْ عِلْمِیْ اِلاَّ لِعِلْمِیْ بِکُمْ وَلَمْ اَضَعْ عِلْمِیْ فِیْکُمْ لِاُعَذِّبَکُمْ اِطْلِقُوْا لَقَدْ غَفَرْتُ لَکُمْ .

یعنی ماخپل علم ستاسی په زړونوکی په دی وجه اینبی وه چی زه ستاسی څخه خبر وم (چی تاسی بد ددی علم دَامانتونو حق ادا کی) ماخپل علم ستاسی په سینوکی ددی دپاره نه وو اینبی چی تاسی ته عذاب درکړم څی ماستاسی مغفرت وکی (مظهری)

فائده : په دی آیت کی یی دتولوڅخه اول ظالم ، بیا مقتصد او په اخر کی سابق بالخیرات ذکر کړی دی ، ددی ترتیب سبب شاید دا به وی چی دشمیر په اعتبار سره ظالم لنفسه دتولو څخه زیات دی د دوی څخه کم مقتصد وو د دوی څخه کم سابق بالخیرات دی دکوموچی شمیر زیات وو هغه یی مخ ته کړل .

ذٰلِکَ هُوَ الْفَضْلُ الْکَبِیْرُ جَنّٰتُ عَدْنٍ یَدْخُلُوْنَهَا یُحَلَّوْنَ فِیْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّلُؤْلُؤًا وَلِبَاسُهُمْ فِیْهَا حَرِیْرٌ : په شروع کی الله ﷻ دخپلو برګزیده منتخبو خلګو دری قسمونه بنوولی دی ، بیا فرمایی ، ذٰلِکَ هُوَ الْفَضْلُ الْکَبِیْرُ: یعنی په دی دری سره وو برګزیده بندګانوکی شمیرل دا دالله ﷻ دیر لوی فضل دی ، مخ ته د دوی دجزاء بیان دی چی دوی به جنت ته څی او دوی ته به دسرو زرو بنګړی او دملغلرو کالی ور اغوستل کیږی او جامی به د دوی دوربښمو وی .

په دنیا کی سړوته دسرو زرو کالی اچول هم حرام دی او دوربښمو جامی هم ، ددی په بدله کی به دوی ته په جنت کی دا ټول شیان ورکول کیږی او په دی دا شبهه نه سی کیدی چی کالی اچول خو دښځو کار دی دسړو دَشان سره مناسب نه دی ، ځکه چی داخرت اوجنت حالات ددنیا پرحالاتو قیاس کول بی عقلی ده .

دحضرت ابوسعید خدری ﷺ روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دجنتیانو په سرو به دملغلرو مرصّع تاجونه وی ، دهغه دَادنی ملغلری رنا به داسی وی چی دمشرق څخه ترمغرب پوری ټول عالم به روښانه کړی (رواه الترمذی والحاکم وصححه والبیهقی) ازمظهری .

امام قرطبی رحمه الله فرمایی چی مفسرینو حضراتو فرمایلی دی چی دهر جنتی لاسونوته به بنګړی واچول سی ، یو دسرو ، یو دسپینو یو دملغلرو ، دجنتی بنګړی په حقله په یو آیت کی دسپینو اوپه بل آیت کی دسرو ذکر دی ، په دی تفسیر سره په دی دواړو ایتونوکی تطبیق هم وسو .

(کوم سړی چې په دنیاکې دسرو اوسپینو لوښي او دوربښمو جامې استعمال کړی په جنت کې به ورڅخه محرومه وی)

حضرت حذیفه ﷺ فرمایی چی مادَنبی کریم ﷺ څخه اوریدلی دی چی دوی فرمایلی دی چی دَوربښمو جامی مه اچوی اودسرو سپینو په لوښو کی اوبه مه چښی او مه ددی پلیټونه دخوراک دپاره استعمالوی ځکه چی دا شیان په دنیاکی دکفارو دپاره دی اوستاسی دپاره په اخرت کی (بخاری اومسلم)

اوحضرت عمر ﷺ فرمایی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی په دنیاکی دوربښمو جامی واغوستلی هغه به یی په اخرت کی وا نه غوستلی سی (بخاری اومسلم) اودحضرت ابو سعید خدری ﷺ په یو روایت کی دی چی په دنیاکی دوربښمو جامی اغوستونکی سړی به په اخرت کی ددی څخه محرومه وی ، که څه هم جنت ته ولاړ هم سی (مظهری)

وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ : یعنی جنتیان به جنت ته دَداخلیدو په وخت کی وایی شکر دی دالله چی زمونږ غم یی لیری کی ، دَدی غم څخه څه مراد دی ؟ په دی کی دتفسیر دامامانو اقوال مختلف

Maktaba Tul Ishaat.com

دی اوصحیح دا ده چی تول رنځ اوغم په دی کی دا خل دی ، په دنیاکی انسان که هرځومره لوی بادشاه جوړ سی یانبی او ولی ، درنځ او غم څخه هیچاته خلاصون نسته .

درین دنیا کسی بی غم نباشد وگر باشد بنی آدم نباشد

په دی دنیا کی هیڅوك بی غمه نسته او که وی نونبی ادم به هغه نه وی .

په دی دنیاکی دغمونو اوفکرونو څخه چا نیك اوبد هیچاته نجات نسته ، په دی وجه هونبیاران دنیا ته دارالاحزان «دغمونو کور» وایی ، په دی آیت کی چی دکوم غم لیری کولو ذکر دی ، په هغه کی ددنیا غمونه هم تول دا خل دی ، دوهم غم او فکر دقیامت اوحشر نشر، دریم دحساب کتاب ، څلورم دجهنم دعذاب ، دجنتیانو څخه به الله ﷻ دا تول غمونه لیری کړی .

دحضرت عبد الله ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دَلَآ اِلَهَ اِلاَّ الله کلمه ویونکو ته به نه دمرګ په وخت کی څه وحشت وی ، نه په قبر کی او نه په محشرکی ، ګویا زه دا وینم چی کله دا خلګ دخپلو خپلو قبرونو څخه پورته کیږی نو دوی به دا وایی ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ : «رواه الطبرانی ، مظهری»

او دحضرت ابودرداء ﷺ حدیث کوم چی لوړ تیر سوی دی په دی کی چی کوم دا یی فرمایلی دی چی دا قول به دهغو خلګو وی کوم چی ظالم لنفسه دی ځکه چی په محشرکی به دوی ته ابتداءً سخت رنځ اوغم اوپریشانی پیښیږی ، په اخر کی چی دجنت ددا خلیدو حکم ورکول سی نو دا رنځ اوغم به یی لیری سی ، دا دابن عمر ﷺ ددی حدیث منافی نه دی ځکه چی ظالم لنفسه ته دنورو غمونو څخه زیات به یوغم په محشر کی هم پیښیږی کوم چی جنت ته ددا خلیدو په وخت به لیری سی ، لنډه دا چی دا قول خو به تول جنتیان وایی ، برابره خبره ده که سابقین وی یامقتصدین یاظالم لنفسه ، لیکن دهریوه دغمونو دفهرست جلا جلا کیدل څه مستبعده نه ده .

امام جصاص رحمه الله فرمایی چی دمومن شان دا دی چی په دنیا کی به دَفکر اوغم څخه خالی نه وی ، نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دنیا دَمومن دپاره قیدخانه ده ، دا وجه ده چی دنبی کریم ﷺ او دمشرانو اصحابو رضی الله عنهم په حالاتوکی ذکر دی چی دا حضرات به اکثره غمجن اومغموم په نظر راتلل .

اَلَّذِي اَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ مِنْ فَضْلِهٖ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ وَّلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ : په دی آیت کی دجنت څو خصوصیات بیان سوی دی اول دا چی هغه دارالاقامة ده ، دهغه دزوال یا دهغه ځای څخه دوتلو هیڅ وخت خطره نسته ، دوهم دا چی هلته به چاته څه غم نه راځی دریم دا چی هلته به څوك ستړی یاستومانه کیږی نه ، لکه په دنیاکی چی بنده ته ستړی والی راځی ، کار پریږدی دخوب ضرورت محسوسوی ، جنت به ددی څخه هم پاك وی ، دحدیثو په څیرنو روایتونوکی هم دا مضمون ذکر دی «مظهری»

اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ: یعنی هرکله چی په جهنم کی دوی فریاد کوی چی ای زمونږ پروردګاره ! ته مونږ ددی عذاب څخه وباسی ، اوس به مونږ نیك عمل کوو اوتیر بدعملونه به پریږدو ، دغه وخت به دا جواب ورکول سی چی ایا مونږ تاسی ته د دومره عمر مهلت نه وو درکړی ، په

Maktaba Tul Ishaat.com

کوم کی چی فکر کوونکی فکر وکی اوصحیح لار پیدا کی ، حضرت علی ابن حسین زین العابدین ﷺ فرمایی چی ددی څخه مراد اوولس کاله ۱۷ عمر دی ، قتاده ﷺ داتلسو ۱۸ کالو عمر ښیی اومراد ددی څخه عمر دبلوغ دی او داوولسو ۱۷ اواتلسو ۱۸ فرق په بلوغ کی کیدی سی ، څوك په اوولس ۱۷ کاله کی بالغ سی ، څوك په اتلس ۱۸ کاله کی ، دبلوغ عمر په شریعت کی اولنی حد دی په کوم کی چی انسان دا خل سی دَالله ﷻ دطرف څخه ورته دومره عقل ورکول سی چی په خپلو ښو اوبدو پوهیږی ، په دی وجه دا خطاب به عامو کفاروته وی ، برابره خبره ده که اوږد عمر یی وی اوکه لنډ ، البته کومو ته چی اوږد عمر ورکول سوی دی او بیاهم دی په هوښ کی را نه غی او دقدرت دلیلونه یی ولیدل او دپیغمبرانو خبری یی واوریدی اوحق یی ونه پیژندی ، نو دی به زیات مستحق دملامتیا وی .

لنډه دا چی کوم سړی ته صرف عمر دبلوغ ورکول سو ، هغه ته هم قدرت دومره سامان ورکړی وو چی په حق او باطل کی یی فرق کولی سوای ، هرکله چی یی ونه کی نو هغه هم مستحق دملامتیا اوعذاب دی ، لیکن چاته چی زیات عمر ورکول سو ، په هغه دالله ﷻ حجت نور زیات پوره سو ، هغه که دخپل کفر او معصیت څخه واپس نه سو نو هغه زیات مستحق دعذاب اوملامتیا دی .

حضرت علی مرتضیٰ ﷺ فرمایی ، هغه عمر په کوم چی الله ﷻ گناهگارو بندگانو ته عار ورکوی ، شپیته کاله دی او دحضرت ابن عباس ﷺ په یو روایت کی څلویښت او په بل کی دشپیتو کالو متعلق فرمایی چی دا هغه عمر دی په کوم کی چی په انسان دالله ﷻ حجت تمامیږی او انسان ته په کی دځه عذر گنجائش نه پاته کیږی ، ابن کثیر ، دحضرت ابن عباس ﷺ دی دوهم روایت ته ترجیح ورکړې ده .

دذکرسوی تقریرځخه واضحه سوې ده چی داوولسو ۱۷ اتلسو ۱۸ کالوروایتونو اودشپیتو کالوپه روایتونو کی څه تعارض نسته ، که څه هم انسان داوولسو ۱۷ اواتلسو ۱۸ کالوپه عمرکی ددی قابل وی چی غور اوفکر وکړی اوپه حق اوباطل کی تمیز وکی ، په دی وجه دبلوغ ددی عمرځخه دی دشرعی احکامو مکلف گرځول سوی دی ، مگر شپیته کاله داسی اوږد عمر دی چی که په دی کی هم چاحق ونه پیژندی نو ده ته بیا دځه عذر گنجائش نه پاته کیږی ، په دی دالله ﷻ حجت په پوره ډول تمام سی ، په دی وجه دامت مرحومه عام عمرونه دشپیتو څخه تراویا ۷۰ کالو پوری مقدر دی لکه چی په حدیث کی ارشاد دی

اَعْمَارُ اُمَّتِیْ مَابَیْنَ السِّتِّیْنَ اِلَی السَّبْعِیْنَ وَاَقَلُّهُمْ مَنْ یَّجُوْزُ ذٰلِكَ . (ابن کثیر)

یعنی زما دامت عمرونه دشپیتو ۶۰ څخه تراویا ۷۰ کالو پوری به وی کوم خلگ به وی چی ددی څخه به تجاوز وکی .

دایت په اخرکی فرمایی ، وَجَآءَ كُمُ النَّذِيْرُ: په دی کی اشاره ده چی انسان ته دبلوغ دعمر دوخت څخه دومره عقل او تمیز دالله ﷻ دجانب څخه ورکول کیږی چی کم ازکم خپل خالق اومالك وپیژنی او دهغه رضا لتول دخپل ژوند مقصد جوړکی ، د دومره کار دپاره په خپله انسانی عقل هم کافی وو ، مگر الله ﷻ صرف په دی بسوالی ونه فرمایی بلکه ددی عقل دامداد دپاره یی نذیر هم ولیږی ، دنذیر معنی په پښتو کی بیروونکی کول کیږی ، په حقیقت کی نذیر هغه سړی دی کوم چی دخپل رحمت او شفقت په سبب خپلو خلگو ته ددا سی شیانو څخه دمحفوظ کیدو هدایت کوی کوم چی دوی په هلاکت یامضرت کی

Maktaba Tul Ishaat.com

اچوونکی وی او ددغو شیانو څخه خلک وبیر وی ، مراد ددی څخه دمعروفی معنی په اعتبار سره انبیاء علیهما السلام او د دوی نائبان عالمان دی ، مطلب دایت دا دی چی مونږ دحق اوباطل دپیژندو دپاره عقل هم ورکړی دی او ددی سره موخپل پیغمبر هم ولیږی چی دحق طرف ته هدایت کوی او دباطل څخه محفوظ کول کوی.

اودحضرت ابن عباس ﷺ ، عکرمه ﷺ او امام جعفر باقر ﷺ څخه نقل دی چی دنذیر څخه مراد دزوړوالی سپین وریښته دی چی کله دا ښکاره سی نو انسان ته ددی هدایت کوی چی اوس درخصت وخت نژدی راغی ، دا قول هم داولنی قول سره متعارض نه دی چی سپین وریښته هم دالله ﷻ دطرف څخه نذیر وی او انبیاء اوعلماء هم.

او حقیقت دا دی چی انسان ته دبالغ کیدو څخه وروسته څومره حالات چی په مخکی راځی په خپل بدن اوچاپیریال کی چی څومره بدلون اوانقلابات راځی هغه ټول دالله ﷻ دطرف څخه نذیر او انسان ته خبردارونکی دی.

إِنَّ اللَّهَ عَالِمُ غَيْبِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٣٨﴾ هُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ

بیشکه الله ﷻ پوه دی په غیبو دآسمانونو اودمځکی ، هغه ته ښه معلومه ده کومه خبره چی په زړونو کی ده ، هغه دی چاچی کراست تاسی قائمقام.

فِي الْأَرْضِ ۚ فَمَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ ۚ وَلَا يَزِيدُ الْكٰفِرِينَ كُفْرُهُمْ

په مځکه کی ، نو څوك چی ناشکری کوی نو په ده ده ناشکری دده ، اومنکرانو لره نه زیاتیږي دوی په

عِنْدَ رَبِّهِمْ إِلَّا مَقْتًا ۖ وَلَا يَزِيدُ الْكٰفِرِينَ كُفْرُهُمْ إِلَّا خَسَارًا ﴿٣٩﴾

انکار باندی د دوی درب په مخکې مګر بیزاری ، او منکران نه زیاتیږي د دوی په انکار سره مګر نقصان.

قُلْ أَرَءَيْتُمْ شُرَكَآءَكُمُ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ ۖ

ته ووایه چی آیا تاسی وینی خپل شریکان کوم چی تاسی بلی دالله ﷻ څخه ماسوا ،

أَرُونِي مَاذَا خَلَقُوا مِنَ الْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمٰوٰتِ ۚ أَمْ

وښیاست ما ته څه پیدا کړی دی دوی په مځکه کی یا دوی ته شرکت سته په آسمانونو کی ، یا

ءَاتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا فَهُمْ عَلٰى بَيِّنَتٍ مِنْهُ ۚ بَلْ إِنْ يَعِدُ الظّٰلِمُونَ بَعْضُهُمْ

مونږ ورکړی دی دوی ته څه کتاب ، نو دوی سند لری دهغه ، داسی نه ده بلکه کومه وعده چی کوی ظالمان دیو

Maktaba Tul Ishaat.com

بَعْضًا اِلَّا غُرُوْرًا ﴿۴۰﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ اَنْ تَزُوْلَا ۚ

بل سره ، تولـه دوکه ده ، په تحقیق سره الله ﷻ نیولی دی آسمانونه اومځکه چې ونه ښوری

وَلَئِنْ زَالَتَآ اِنْ اَمْسَكَهُمَا مِنْ اَحَدٍ مِّنْ بَعْدِهٖ ۚ اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا غَفُوْرًا ﴿۴۱﴾

دځای څخه ، او که وښوری نو څوک به دی را ټینګ کړی دهغه څخه ماسوا ، هغه دی بردباره اوبخښنی والا

لنډتفسیر: بیشکه الله ﷻ (دی) پوهیدونکی دآسمانونو اومځکی په پټو شیانو بیشکه هغه پوه دی دزړه په خبرو (پس علمی کمال خو دهغه داسی دی اوکمال عملی کوم چې په قدرت اونعمت دواړو دلالت کوی دا دی چې) هغه داسی دی چاچې تاسی په مځکه کی اباد کړاست (او داحساناتو ددی دلیلونو مقتضا دا وه چې استدلالاً اوشکراً یې توحید آو اطاعت اختیار کړی وی ، مګر څینې ددی خلاف په کفر اوعداوت باندی اصرار کوونکی دی) نو (دبل چابه څه تاوان وکړی بلکه) کوم سړی چې کفرکوی دهغه دکفر وبال به په هغه راځی او (ددی وبال تفصیل دا دی چې) دکافرانو دپاره دهغوی کفر دهغوی دپرودرګار په نزد دناراضتیا زیاتولو باعث وی (کوم چې په دنیا کی متحقق کیږی او (دارنګه) دکافرانو دپاره دهغوی کفر (په اخرت کی) به دخسارې زیاتیدو باعث وی (چې هغه حرمان دی دجنت څخه اوقید جوړیدل دی دجهنم او دوی چې کوم په کفر اوشرک مصر دی) ته (دوی ته لږ څه دا خو) ووایه چې تاسی دخپلو مقررو شریکانو حال خو وښیاست دکومو چې تاسی دخدای څخه ماسوا عبادت کوی یعنی ماته دا وښیاست چې دوی دمځکی کومه حصه جوړه کړې ده یا د دوی په آسمان (جوړولو) کی څه شراکت سته ؟ (چې په عقلی دلیل سره د دوی دعبادت استحقاق ثابت سی) یامونږ دوی (کافرانو) ته څه کتاب ورکړی دی (چې په هغه کی دشرک اعتقاد صحیح لیکلی وی) چې دوی دهغه په دلیل قائم وی (او په دی نقلی دلیل سره خپله دعوی ثابته کړی ، اصل دا دی چې نه عقلی دلیل سته او نه نقلی دلیل سته) بلکه دا ظالمان دیوبل سره محض د دوکی دوعدو کولو عادت لری (چې د دوی مشرانو دوی ته بی سنده غلطه خبره ښوولی ده چې ، هٰٓؤُلَآءِ شُفَعٰٓؤُنَا عِنْدَ اللّٰهِ : حال دا دی چې په واقع کی هغه محضی بی اختیاره دی نو هغوی مستحق دعبادت نه سی کیدی البته مختار مطلق حق تعالی دی نو هغه قابل دعبادت دی ، چنانچې دالله ﷻ دمختاروالی او دنورو دغیر مختاروالی ددلیلونو څخه دنمونی په طور یوه لنډه شان خبره بیانوی چې وګوری داخو) یقینی خبره ده چې الله ﷻ آسمانونه اومځکی (په خپل قدرت سره) ټینګ کړی دی چې داموجوده حالت پرې نه ږدی اوکه (بالفرض) دغه موجوده پریږدی هم نوبیا دخدای څخه ماسوا بل څوک به دا ټینګ هم نه کړی (کله چې د دوی څخه دپیدا سوی عالم حفاظت هم نه سی کیدی نو دعالم په وجود کی دراوړلو اوایجاد کولو د دوی څخه څه توقع کیدی سی نو بیا مستحق والی دعبادت څنګه ؟ او سره دبطلان دشرک کولو مقتضی دا وه چې دوی ته اوس سزا ورکول سی مګر چونکی) هغه حلیم (دی په دی وجه مهلت یې ورکړی دی ، اوکه په دی مهلت کی دا خلګ حق طرف ته راسی نو چونکی هغه) غفور (هم) دی (په دی وجه ټول تیر شرارتونه به د دوی معاف سی)

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلي: هُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ : فِي الْأَرْضِ خلائف : دخليفه جمع ده چې معنٰی يې ده نائب او قائم مقام ، مراد دا دی چې مونږ انسانان يو په بل پسې دَمخکی اومکان وغيره مالکان جوړ کړی دی ، يوځی نو بل ته دهغه ځای ورکول کيږی په دی کی دالله ﷻ طرف ته درجوع کوونکو دپاره لوی عبرت دی او دا معنٰی هم کيدی سی چی داخطاب امت محمديه ته وی چی مونږدَتيروقومونوځخه وروسته دهغوی دخليفه په حيثيت سره تاسی مالکان اومتصرف جوړکړی ياست، په دی وجه ستاسی فرض دی چی دځان ځخه دَمخکی خلګو دحالاتو ځخه عبرت حاصل کړی، دعمر قيمتی لمحی په غفلت سره تيری نه کړی .

إِنَّ اللَّهَ يُمْسِكُ السَّمَاوَاتِ : دآسمانونو دتينګولو دا مطلب نه دی چې د دوی حرکت يې بند کړی دی ، بلکه مراد دخپل ځای ځخه نښورول او په ځنګ کيدل دی ، لکه چې لفظ د: أَنْ تَزُولَا په دی شاهد دی ، په دی وجه په دی آيت کی دآسمان دمتحرک ياساکن کيدو ديو جانب هم ځه دليل نسته .

وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَاءَهُمْ نَذِيرٌ

اوقسمونه يې خورل په الله سخت قسمونه خپل که راسی دوی ته ويرووونکی

لَيَكُونُنَّ أَهْدَىٰ مِنْ إِحْدَى الْأُمَمِ ۖ فَلَمَّا جَاءَهُمْ نَذِيرٌ مَا زَادَهُمْ

نو خامخا به هدايت پيدا کی ، دهريوه امت ځخه بيا چې هرکله راغی دوی ته ويرووونکی نو نور زيات سو

إِلَّا نُفُورًا ﴿٤٢﴾ اسْتِكْبَارًا فِي الْأَرْضِ وَمَكْرَ السَّيِّئِ ۚ وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ

د دوی نفرت ، غرور کول په ملک کی او تدبير کول ناکاره ، او دبد کار تدبير به چپه سی

السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ ۚ فَهَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ الْأَوَّلِينَ ۚ فَلَنْ تَجِدَ

په دغه تدبيرکوونکو ، نو اوس انتظار کوی دطريقی داولنو خلقو ، نوته به بيا نه کی پيدا

لِسُنَّتِ اللَّهِ تَبْدِيلًا ۖ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَحْوِيلًا ﴿٤٣﴾ أَوَلَمْ يَسِيرُوا

ددستور دالله بدليدل او بيا به نه کی پيدا دستور دالله واپس کيدل ، آيا نه دی ګرځيدلی

فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَكَانُوا

په مخکه کی چې وويني چې څنګه سو انجام دهغو خلقو چې د دوی ځخه مخکې وو ، او وو

أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۚ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعْجِزَهُ مِنْ شَيْءٍ فِي السَّمَاوَاتِ

د دوی ځخه ډير سخت په زور کی ، او الله ﷻ هغه نه دی چې ستړی يې کړی ځه شی په اسمانونو کی

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَا فِي الْأَرْضِ ۚ إِنَّهُ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا ﴿٤٤﴾ وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ النَّاسَ

او نه په مخکه کی ، هغه دی په هر څه پوه قادر ، او که نیول وکړی الله د خلقو

بِمَا كَسَبُوا مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهْرِهَا مِن دَابَّةٍ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ

د دوی په عملونو ، پری به نه ږدی دمخکی په سر یوتلونکی هم ، بیا دوی ته مهلت ورکوی تر یو مقرر وخته

مُّسَمًّى ۖ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِعِبَادِهِ بَصِيرًا ﴿٤٥﴾

پوری ، بیا چی کله راسی د دوی وعده ، نو د الله ﷻ په نظر کی دی ده ټول بندګان

لنډتفسیر: او دی کافرانو (قریشو مخکی دبعثت دنبی کریم ﷺ څخه) لوی زوردار قسمونه اخیستی وو چی که دوی ته (یعنی مونږ ته) څوک بیرونکی (یعنی پیغمبر) راغی نوهغه به (یعنی مونږ به) دهر هر امت څخه زیات دهدایت قبلوونکی سو (یعنی دیهودو نصاراؤ وغیره په شان به مونږ تکذیب نه کوو ، نو اول خو به یی داسی قسمونه اخیستل) بیاچی کله دوی ته یو پیغمبر (یعنی رسول الله ﷺ) راغی نو بس د دوی نفرت نور زیات سو ، په دنیاکی دځان لوی ګڼلو په وجه سره او (صرف په نفرت صبر نه سوه بلکه) د دوی دنا کاره تدبیرونو (هم ترقی وسوه یعنی دتکبر په وجه د دوی دتابعداری څخه خو به عار ورلره ورتلی ، مګر دامن یی هم ونه کړل چی نه یی تابعداری کولی او نه یی ورته ازار رسوی ، بلکه دوی ﷺ ته دازار رسولو په فکر کی سول چنانچی هر وخت دهغوی په دی کی لګیدل معلوم اومشهور دی) او (دوی چی کوم زمونږ درسول ﷺ دپاره ناکاره تدبیرونه کوی په خپله خپل نقصان کوی څکه چی) دبدو تدبیرونو (حقیقی) وبال په دغو تدبیر کوونکو راځی (که څه هم په ظاهره کله دغه سړی ته هم ضرر ورسیږی ، کوم ته چی ضرر رسول وغواړی ، لیکن دغه ضرر دینی دی په خلاف دظالم ضرر رسان څخه چی په هغه به اخر وی ضرر او وبال راځی او دنیوی ضرر داخروی ضرر په مخکی هیڅ شی نه دی ، نو ددی حقیقی ضرر په اعتبار سره حصر بالکل واقعی دی) نو (دا چی ستا په دښمنی او ضرر رسانی باندی مصر دی نو) ایا دوی (دخپل ځان سره هم دحق تعالی) دهغه دستور منتظر دی کوم چی دمخکی (کافرانو) خلګو سره سوی دی (یعنی عذاب اوهلاکت) نو (واقعی د دوی دپاره هم داسی کیدل دی څکه چی) ته به دخدای (دا) دستور هیڅکله بدل کیدونکی نه کی پیدا (چی په دوی دعذاب په ځای عنایت وسی) او (دغه شان) ته به دخدای (دا) دستور هیڅ چیری منتقل سوی نه کی پیدا (چی د دوی په ځای به نور چی د دوی په شان نه وی عذاب وسی ، مطلب دا دی چی دحق تعالی وعده ده چی کافرانو ته به عذاب وی برابره خبره ده که په دنیا کی هم وی اوبرابره خبره ده که صرف په اخرت کی وی او د الله ﷻ وعده همیشه ربښتنی وی ، نو نه دا احتمال سته چی دوی ته به عذاب نه وی او نه دا احتمال سته چی نور بی ګناه به په عذاب سی ، مقصود ددی تکرار څخه تاکید دی دواقع کیدو دعذاب) او (دوی چی کوم دا ګڼی چی کفر موجب دعذاب نه دی

Maktaba Tul Ishaat.com

نو د دوی لویه غلطی ده) ایا داخلګ په مخکه کی (مثلاً دشام اویمن په سفرونو کی دعام اوثمود او قوم دلوط ﷺ په کلیوکی) ګرځیدلی نه دی چی لیدلی کتلی یی وای چی کوم (منکران) خلګ چی د دوی څخه مخکی تیر سوی دی ، دهغوی (اخری) انجام (ددی تکذیب په سبب) څنګه سو (چی په عذاب سول) حال دا دی چی هغوی په قوت کی د دوی څخه زیات وه او (په چاکی چی برابره خبره ده که هرځومره قوت وی لیکن) خدای داسی نه دی چی یو شی (قوت والا) دی عاجزه کړی ، نه په آسمان کی اونه په مخکه کی (ځکه چی) هغه لوی علم والا (او) لوی قدرت والا دی (نوپه علم سره دخپلی هری ارادی دنافذ کولو طریقه پیژنی اوپه خپل قدرت سره دانافذ کولی سی اوبل څوك داسی سته نه ، نو دی کوم شی عاجزه کولی سی) او (که دوی په دی دوکه کی وی چی که مونږ لره عذاب وای نوسوی به وای او ددی څخه په خپل کفر اوشرك دښه والی دلیل کوی نوداهم د دوی غلطی ده ، ځکه چی په مقتضا دحکمت د دوی دپاره فوری عذاب تجویزنه سو کنه نو) که الله ﷻ (دا) خلګ د دوی دَ (کفریه) عملونو په سبب (فوراً) نیولی ، نو پرمخ دمخکی به یو دنفس خاوند پاته نه وای (ځکه چی کفار خو به دکفر په سبب هلاکیدل اوایماندار به په وجه دکموالی په دنیاکی نه سوای پاته کیدی ، ځکه چی نظام عالم پُه مقتضاء دحکمت دمجموعی سره وابسته دی او دا ضروری نه ده چی هغوی په دی عذاب سره هلاك سوی وی او نور مخلوقات په دی وجه چی مقصود دهغوی دتخلیق څخه انتفاع دانسان ده کله چی دوی نه وو نوهغه به هم نه وو) لیکن الله ﷻ دوی ته دیو معین میعاد (یعنی قیامت) پوری مهلت ورکوی ، نوکله چی د دوی هغه میعاد راسی (نو هغه وخت به) الله ﷻ خپل بندګان په خپله وویني (یعنی په دوی کی چی کوم کفار وی هغوی ته به سزا ورکړی)

معلومات اومسئلي: وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ دَلَايَحِيْقُ معنٰی لَايَحِيْطُ یا لَايُصِيْبُ : ده چی مطلب یی دا دی چی دبد تدبیر وبال په بل چانه ورځی ، بلکه په خپله په داسی تدبیر کوونکی راځی یعنی کوم سړی چی دنورو بد غواړی هغه په خپله دبدی ښکار سی .

په دی چی کومه دا شبهه کیدی سی چی په دنیاکی خو دیر واره داسی هم لیدل کیږی چی دبدتدبیر کوونکی تدبیر وچلیږی او چا ته چی نقصان رسول وی ، هغه ته نقصان ورسیږی ، ددی یو جواب خو یه لندتفسیر کی تیر سوی دی چی هغه سړی ته کوم تکلیف یانقصان ورسیدی هغه خو ددنیا نقصان دی او ددا سی ناکاره تدبیر کوونکی نقصان داخرت عذاب دی کوم چی سخت هم دی او دائمی هم ، ددی په مقابله کی دهغه دنیوی نقصان دنیست برابر دی ، دوهم جواب څینو حضراتو دا هم ورکړی دی چی دیو بی ګناه خلاف تدبیر کولو او دظلم په کولو وبال په ظالم اکثر په دنیاکی هم راځی ، محمدبن کعب قرظی فرمایی چی دری کارونه داسی دی چی کوونکی یی په دنیاکی هم دوبال اوعذاب څخه نه سی محفوظ کیدی ، یو دچابی ګناه په حق کی بد تدبیر کول اوهغه ته ازار رسول ، دوهم عام ظلم ، دریم عهد ماتول ، (ابن کثیر) خاصکر چی په چا داسی سړی باندی وسی کوم چی بی کس اوبی وسه وی په انتقام اخیستو قدرت نه لری یاسره دقدرت څخه دانتقام څخه صبر وکړی ، په ده دظلم دوبال څخه په دنیا کی هم څوك محفوظ سوی نه دی لیدل سوی .

بس تجربه کردیم درین دیر مکافات
با درد کشان هر که در افتاد بر افتاد

Maktaba Tul Ishaat.com

په دی دنیا کی چی کور دی دبدل پیدا کولو دپاره تجربه می وسوه چی څوك دمظلومانو سره په جنګ اخته سو نوبدله یی پیدا کړه اوخپل نقصان یی وکی .

ددی مطلب دا سو چی په آیت کی کوم حصر دلته سوی دی هغه داکثری قاعدی په اعتبار سره دی ، کلی نه دی ، والله تعالی اعلم .

تمت سورة الفاطر بحمد الله

﴿سورة یس﴾

سُوْرَةُ یٰسٓ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثٌ وَّثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّخَمْسُ رُكُوْعَاتٍ

سورة یٰس په مکه کی نازل سو او په دی کی درو اتیا (۸۳) آیتونه اوپنځه (۵) رکوعګانی دی .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چی بی اندازی مهربانه نهایت رحم والا دی .

یٰسٓ ۝۱ وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِيْمِ ۝۲ اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝۳ عَلٰى صِرَاطٍ

، قسم دی په دی حکمت والا قرآن ، ته په تحقیق دمرسلانو څخه یی ، او په سیده لاره یی

مُّسْتَقِيْمٍ ۝۴ تَنْزِيْلَ الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ۝۵ لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اُنْذِرَ اٰبَآؤُهُمْ

نازل کړی دی زبردست رحم والا ، چی ته وبیروی یو قوم چی پلار نیکه ګان یی نه دی بیرول

فَهُمْ غٰفِلُوْنَ ۝۶ لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ عَلٰٓى اَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝۷

پس ناخبره دی ، ثابته سوی ده خبره په دوی کی په ډیرو نو دوی ایمان نه راوړی

اِنَّا جَعَلْنَا فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ اَغْلٰلًا فَهِيَ اِلَى الْاَذْقَانِ فَهُمْ مُّقْمَحُوْنَ ۝۸

مونږ غورځولی دی د دوی په څټونو کی طوقونه نو هغه دزنو پوری دی نو د دوی سرونه پورته سوی دی

وَجَعَلْنَا مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ سَدًّا وَّمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَاَغْشَيْنٰهُمْ

او مونږ جوړ کړی دی په مخ د دوی کی دیوال او په وروسته د دوی پسی دیوال بیا مونږ دوی دلوړه څخه پټ

فَهُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ ۝۹ وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ

کړی دی ، نو دوی نه وینی ، او برابر دی دوی ته که ته وبیروی دوی او که

Maktaba Tul Ishaat.com

تُنْذِرُهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿۱۰﴾ إِنَّمَا تُنْذِرُ مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ وَخَشِيَ

نه وبیروی دوی نو یقین نه کوی ، بیشکه ته بیر وی هغه چی تابعداری کوی دنصیحت اوبیریږي

الرَّحْمَٰنَ بِالْغَيْبِ ۖ فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَأَجْرٍ كَرِيمٍ ﴿۱۱﴾ إِنَّا نَحْنُ

درحمن څخه په پټه ، نو دوی ته خوشخبری ورکړه په بخښنه او ثواب دعزت ، مونږ

نُحْيِي الْمَوْتَىٰ وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا وَآثَارَهُمْ ۚ وَكُلَّ شَيْءٍ

ژوندی کوو مړی اولیکو څه چی مخکې لیږي او کومی نښانی چی ورڅخه وروسته پاته سی ،اوهرشی

أَحْصَيْنَاهُ فِي إِمَامٍ مُبِينٍ ﴿۱۲﴾

شمیرلی دی مونږ په ښکاره اصل کی

لنډتفسیر: یٰسٓ (ددی مرادالله ﷻ ته معلوم دی) قسم دی په قرآن حکمت والاچی بیشکه ته دپیغمبرانو څخه یی (او) په نیکه لاره یی (چی په دی کی څوك ستا پیروی وکړی ، الله ﷻ ته به ورسیږی نه لکه چی کفار وایی ، لَسْتَ مُرْسَلاً ، یعنی ته رسول نه یی یاچی ویل به یی ، بَلِ افْتَرَاهُ ، یعنی تاپه خپله جوړکړی دی چی ددی دپاره گمراه کیدل لازم دی اوقرآن دهدایت دعاموالی سره ستا درسالت اونبوت دلیل هم دی څکه چی) دا قرآن دخدای زبردست مهربانه دطرف څخه نازل سوی دی (اوته پیغمبرڅکه جوړسوی یی) چی ته (اولاً) داسی خلګ (دخدای دعذاب څخه) وبیر وی دکومو چی پلار اونیکه (نژدی دیو رسول په ذریعه سره) نه دی بیرول سوی نو ددی څخه دوی بی خبره دی (څکه چی که څه هم په عربوکی ځینی مضامین دتیرو رسولانو دشریعتونو څخه نقل هم وه لکه چی په دی آیت کی دی ، أَمْ جَاءَهُمْ مَا لَمْ يَأْتِ آبَاءَهُمُ الْأَوَّلِينَ : یعنی ایا قرآن دوی ته یو داسی شی راوړی دی کوم چی د دوی پلارانو ته نه وو راغلی یعنی دتوحید دعوت څه نوی شی نه دی دا همیشه د دوی په پلرو نیکه ګانوکی هم جاری پاته سوي دی ، مګر بیا هم دنبی په راتلو سره چی څومره خبرداری کیدی سی ، محض ددی ځینی احکام اواخبار نقل کولو اورسیدوسره کله چی دغه ناتمام اومتغیر سوی هم وی داسی خبرداری نه سی کیدی اواولاً د دوی بیرول قریشو لره وو ، په دی وجه یی دلته د دوی ذکر وفرمایی بیاعامو خلګوته هم دوی دعوت وفرمایی څکه چی د دوی بعثت عام دی اوسره ستا درسالت دصحیحوالی اودصدق دقرآن دا خلګ چی نه منی ته ددی غم مه کوه څکه چی) په دوی کی په اکثرو خلګو (تقدیری) خبره ثابته سوي ده (هغه خبره دا ده چی دوی به هدایت نه کی پیدا) نو دا خلګ په هیڅکله ایمان رانه وړی (دا حال د دوی داکثرو وو او دځینو په قسمت کی ایمان هم وو ، هغوی ایمان هم راوړی او ددی خلګو مثال دایمان څخه په لیری والی کی داسی سو چی ګویا) مونږ د دوی په څټونو کی (درانه درانه) طوقونه اچولی دی ، بیا د دوی زنوته

Maktaba Tul Ishaat.com

(ورکلك سوی) دی چی په دی سره د دوی سرونه لوړ منښتی دی (یعنی پورته پاته سوی دی ، کښته کیدی نه سی ، برابره خبره ده که په دی وجه چی په طوق کی دزنی لاندی کوم ځای دی ، په هغه کی یومیخ وغیره داسی وی چی زنی ته ورټینګ سوی وی یا دطوق کړی داسی وی چی زنی ته ورټینګی وی ، په هر حال په دواړه ډوله دوی ، دلاری لیدو څخه محرومه وی) او (دارنګ د دوی مثال دایمان څخه په لیږی والی کی داسی سوی دی چی ګویا) مونږ یو دیوال دوی ته مخ ته وهلی دی اویو دیوال دوی ته شاته چی په دی سره مونږ (دهرطرف څخه) دوی (په پردوکی) ګیر کړل ، نو هغوی (ددی پردو داحاطه کولو په وجه څه شی) نه وینی او (د دواړو مثالونو مطلب دا دی چی) د دوی په حق کی ستا بیرول دوی ته یانه بیرول دواړه برابر دی ، دوی (په هیڅ حالت کی هم) ایمان نه راوړی (په دی وجه ته د دوی څخه مایوسه سه راحت حاصل کړه) بس ته خو (داسی بیرول په کومو چی نفع مرتب وی) داسی خلګ بیرولی سی کوم چی په نصیحت روان وی او دخدای څخه بی لیدو بیریږی (چی په بیره سره دحق طلب کیدی سی او په طلب سره وصول او دوی دسره بیریږی نه) نو (څوك چی داسی سړی وی) ته ده لره (دګناهونو څخه) مغفرت او (په طاعت) دعمده عوض خوشخبری واوره (او ددی څخه پردی هم دلالت وسو چی څوك په ګمراهی اومړ اړولوکی اخته وی ، هغه دمغفرت او اجر څخه محروم اومستحق دعذاب دی اوکه څه هم په دنیاکی ددی جزا اوسزا ظهور لازم نه دی لیکن) بیشکه مونږ به (یوه ورځ) مړی ژوندی کړو (دغه وخت به ددی ټولو ظهور وسی) او (په کومو عملونو چی جزا اوسزا وی) مونږ (هغه برابر) لیکو هغه عملونه هم کوم چی خلګ مخ ته لیږی او دهغوی هغه عملونه هم کوم چی وروسته پاته کوی (دَماقَدَّمُوا ، څخه مراد کوم کار چی په خپلو لاسونو سره وکړی اودَ، آثَارَهُمْ، څخه مراد هغه اثرکوم چی ددی کار په سبب پیدا سو او وروسته دمرګ څخه هم باقی پاته سو ، مثلاً یوچا څه نیك کاروکی او هغه سبب سو دنورو دهدایت هم ، یاچا څه بدکار وکی اوهغه سبب سو دنورو دګمراهی هم غرض دا چی دا ټول لیکل کیږی اوهلته به پردی ټولو جزا اوسزا مرتبه وی) او (زمونږ علم خو داسی وسیع دی چی مونږ ددی لیکلو ته محتاج نه یوکوم چی دوقوع څخه وروسته سوی دی څکه چی) مونږ (خو) هر هغه شی (کوم چی ترقیامته پوری دواقع کیدوڅخه مخکی) په یو واضح کتاب کی (یعنی لوح محفوظ کی) ضبط کړی دی (محض په ځینو حکمتونو سره دعملونو کتابت کیږی نوکله چی مخکی دقوع څخه مونږ ته دټولو شیانو علم دی نو وروسته دوقوع څخه به ولی نه وی ، په دی وجه دځه عمل څخه دمنکریدو یادپټ ساتلو هیڅ ګنجائش نسته ، خامخابه سزا وی ، اولوح محفوظ ته واضح په اعتبار دتفصیل دَاشیاوو ویل سوی دی)

معلومات اومسئلي: دسورة یس فضیلتونه : دحضرت معقل بن یسار ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی یٰس قَلْبُ القرانِ، یعنی سورة یٰس دقرآن زړه دی ، او ددی حدیث په ځینو الفاظوکی دی چی کوم سړی سورة یٰس خالص دالله ﷻ او اخرت دپاره وایی دهغه مغفرت به وسی ، داخپلو مړوته وایاست (رواه احمدو ابوداود والنسائی وابن حبان اوحاکم وغیره) کذا فی الروح والمظهری.

امام غزالی رحمه الله فرمایی چی سورة یٰس ته دقرآن زړه دفرمایلو دا وجه کیدی سی چی په دی سورة کی دقیامت اوحشر نشر مضامین خاص په تفصیل اوبلاغت سره راغلی دی او دایمان په اصولوکی داخرت

عقیده هغه شی دی پرکوم چی دانسان دعملونو صحت موقوف دی ، داخرت بیره انسان دنیك عمل دپاره تیار وی او هغه دی دناجائزو خواهشاتو اوحرامو څخه منع کوی نولکه څنګه چی دبدن صحت دزړه په صحت باندی موقوف دی ، دغه شان دایمان صحت په فکرِ اخرت باندی موقوف دی (روح)

او ددی سورة نوم لکه چی سورة یٰس معروف دی ، دغه شان په یوحدیث کی ددی نوم، عظیمه، هم راغلی دی (اخرجهُ ابونصر السجزی عن عائشه ﷺ) او په یوحدیث کی دی چی ددی سورة نوم په تورات کی مُعِمّه راغلی دی ، یعنی دخپل ویونکی دپاره په دنیا اواخرت کی دخیر اوبرکت دعاکوونکی دی او ددی ویونکی نوم شریف راغلی دی اوفرمایی چی دقیامت په ورځ به دده شفاعت دقبیله ربیعه دخلګوڅخه دزیاتو دپاره قبول وی (رواه سعیدبن منصور والبیهقی عن حسان بن عطیه) اوپه څینو روایتونوکی ددی نوم مدافعه هم راغلی دی، یعنی دَخپل ویونکی دپاره دبلاګانو څخه دفع کوونکی اوپه څینوکی دده نوم قاضیه هم راغلی دی یعنی دحاجتونو پوره کوونکی (روح المعانی)

او دحضرت ابو ذر ﷺ څخه روایت دی چی کوم مړ کیدونکی ته سورة یٰس ویل کیږی نو دهغه دمرګ په وخت کی به اسانی وی (رواه الدیلمی وابن حیان ، مظهری)

اوحضرت عبدالله بن زبیر ﷺ فرمایی چی کوم سړی سورة یٰس دخپل حاجت څخه مخکی کړی نو دده حاجت پوره کیږی (اخرجه المحاملی فی امالیه ، مظهری)

اویحیٰی بن کثیر فرمایی چی کوم سړی سهارسورة یٰس وایی ، دی به ترمابنامه پوری په خوشحالی او ارام کی وی اوخوك چی یی مابنام وایی نو ترسهاره پوری به په خوشحالی کی وی او فرمایی چی ماته دا خبره داسی سړی ښوولی ده چاچی ددی تجربه کړې ده (اخرجه ابن الضریس ، مظهری)،

یٰس ، ددی لفظ متعلق مشهور قول هغه دی کوم چی لوړ په لنډتفسیرکی را اخیستل سوی دی چی دحروف مقطعاتو څخه دی چی علم یی الله ﷻ ته دی او عامو بندګانوته یی نه دی ورکړی ، او ابن عربی په احکام القرآن کی فرمایی چی امام مالك فرمایی چی دا دالله ﷻ دنومونو څخه یو نوم دی ، اودحضرت ابن عباس ﷺ څخه هم یو روایت دا دی چی دالله ﷻ دنومونه څخه دی اوپه یوروایت کی دا دی چی دا دحبشی ژبی لفظ دی چی معنٰی یی ده ای انسانه او دانسان څخه مراد نبی کریم ﷺ دی او دحضرت ابن جبیر ﷺ دکلام څخه دامستفاده ده چی لفظ دیٰس دنبی کریم ﷺ نوم دی، په روح المعانی کی دی چی دنبی کریم ﷺ نوم په دی دوو عظیم الشان حرفونو سره اینبوول یعنی ،یا، او ،سین، په دی کی لوی رازدی .

(یس دچا نوم اینبوول څنګه دی؟)

امام مالك دا په دی وجه نه دی خوښ کړی چی دَده په نزد دا دالله دنومونو څخه دی او ددی صحیح معنٰی معلومه نه ده ، په دی وجه دا ممکنه ده چی څه داسی معنٰی یی وی کومه چی دالله ﷻ مخصوصه وی ، لکه خالق اورازق وغیره، البته که دالفظ دّ، یاسین، په رسم الخط سره ولیکل سی نو دا دیو انسان نوم اینبوول جائز دی ، ځکه چی په قرآن کی راغلی دی ، سَلَامٌ عَلٰی آلِ یَاسِیْن (ابن عربی) د ذکرسوی آیت معروف قرآت، اِلْیَاسِیْن، دی، مګر په څینو قراتونوکی ، الِ یاسین، هم راغلی دی .

لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَا اُنْذِرَ آبَاؤُهُمْ : مراد ددی څخه عرب دی ، معنٰی دا ده چی د دوی پلرونو اونیکه ګانو ته

Maktaba Tul Ishaat.com

بیرونکی یعنی پیغمبر د دیری زمانی څخه نه دی راغلی اودَاباء اواجداد څخه مرادنژدی اباء اواجداد دی ، د دوی داعلی نیکه حضرت ابراهیم ﷺ او د دوی سره دحضرت اسماعیل ﷺ څخه وروسته ترځو صدیو پوری په عربو کی څوك پیغمبر نه دی راغلی ، که څه هم دَدعوت اوتبلیغ اوانذار اوتبشیر سلسله برابره جاری وه چی ذکر یی دقرآن کریم په آیت کی هم دی کوم چی په لندتفسیرکی راغلی دی ، اودَایت وَإِنْ مِنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ، هم دا مقتضٰی ده چی رحمت خداوندی یوقوم اوملت ددعوت اوانذار څخه په هیڅ زمانه اوهیڅ مځکه کی محروم نه دی پاته کړی ، مگر داظاهره ده چی دانبیاء تعلیمات د دوی دنائبانو په ذریعه رسیدل هغه اثر نه کوی کوم چی په خپله دَنبی یاپیغمبرپه دعوت اوتعلیم سره وی ، په دی وجه په ذکر سوی آیت کی دعربو متعلق یی دا وفرمایل چی په دوی کی څوك نذیر نه دی راغلی ، ددی دا اثروو چی په عربوکی په عام طور دلیکلو ویلو اوتعلیم څه مستحکم نظام نه وو ، په دی وجه د دوی لقب أُمِّيين سو .

لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ عَلَى أَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ * إِنَّا جَعَلْنَا فِي أَعْنَاقِهِمْ أَغْلَالًا : مراد دا دی چی الله ﷻ دکفر اوایمان او دجنت دوزخ دواړی لاری دانسان په مخکی کړی دی او دایمان ددعوت دپاره یی انبیاء اوکتابونه هم رالیږلی دی ، بیایی انسان ته دومره اختیار هم ورکی چی دی خپل ښه اوبد وپیژنی اویوه لار اختیار کړی کوم بدنصیبه چی نه دغور اوفکرځخه کار اخلی نه په دلیلونو دقدرت کی فکر کوی نه دانبیاؤ دعوت ته غوږ ایږدی ، نه دالله ﷻ په کتاب کی فکر اوتدبر کوی ، نو ده چی په خپل اختیار سره کومه لار اختیار کړه نوالله ﷻ به دهغه اسباب دده دپاره تیار وی ، څوك چی په کفر کی ولګیدی نو دده دپاره دکفر زیاتیدو اسباب پیداکیدی سی دا یی داسی تعبیر کی ، لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ عَلَى أَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ : یعنی په دوی کی په ډیرو خلګو د دوی دبد اختیاری په بنا داحقه خبره جاری سوې ده چی دوی ایمان نه راوړی مخ ته د دوی حال په یوتمثیل سره بیانوی ، چی د دوی مثال داسی دی لکه دچاپه څټ کی چی یوطوق اچول سوی وی چی دده مخ اوسترګی یی پورته ټینګی کړی وی ، لاندی لاری ته نه سی کتلی ، نو ظاهره ده چی دی څان یوی کندی ته دغورځیدو څخه نه سی محفوظ کولی .

دوهم مثال یی دا ورکی چی لکه دیوه سړی څخه څلور طرف ته دیوالونه حائل سوی وی او دی په دی چار دیواری کی بند سوی وی ، ددبانده دشیانو څخه بی خبره وی ، ددی کافرانو څخه چاپیره هم د دوی جهالت اوعناد اوبغض ګیره اچولی ده چی ددبانده څخه حق خبری ګویا دوی ته رسیږی هم نه .

امام رازی فرمایی چی دنظر څخه مانع دوه قسمونه وی یومانع خوداسی وی چی په خپله خپل وجودهم نه سی لیدی ، دوهم دا چی خپل خوا اوشا نه سی لیدی ، ددی کفارو دپاره دحق لیدو څخه دوه قسمه مانعه موجود وه ، په دی وجه اول مثال داولنی مانع دی چی څټ یی کښته کیدی نه سی ، دی خپل بدن هم نه سی لیدی او دوهم مثال د دوهم مانع دی چی خپله خوا اوشا نه سی لیدی (روح)

جمهورو مفسرینو ذکر سوی آیت د دوی دکفر اوعناد مثال مقرر کړی دی اوځینو مفسرینو حضراتو دا دځینو روایتونو په بنا باندی یوه واقعه مقرره کړې ده چی ابوجهل او ځینو نورو خلګو دنبی کریم ﷺ دقتلولو یا دوی ته دَازار رسولو پخه اراده وکړه اوپه دوی پسی روان سول مگر الله ﷻ د دوی په سترګو

Maktaba Tul Ishaat.com

پردی واچولی اوعاجزه سول ، بیرته ولاړل ، دغه شان ډیری واقعی دتفسیر په کتابونو ، ابن کثیر ، روح المعانی، قرطبی، مظهری وغیره کی نقل دی ، مگر دا ډیر روایتونه ضعیف دی ، په دی باندی دآیت دتفسیر مدار نه سی اینبوول کیدی .

وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا وَآثَارَهُمْ : یعنی مونږ لیکل د دوی عملونه کوم چی دوی مخ ته لیږلی دی ، عمل کول یی په مخکی لیږلو تعبیرکړل او دایی وښوولە چی کوم عملونه ښه یا بد په دی دنیاکی کول کیږی هغه دلته نه ختمیږی بلکه مخ ته څی ، ستاسی سامان جوړیږی ، دکومو سره چی به په مخکی ژوند کی واسطه راځی ، چی ښه عملونه وی نو دجنت باغونه او بهارونه به جوړیږی که بد وی نو دجهنم سکروټی او ددی عملونو دلیکلو څخه اصل مقصود د دوی محفوظ ساتل دی ، لیکل هم ددی یوه ذریعه ده چی دخطاء اوهیر او زیادت اونقصان څه خطره اواحتمال په کی پاته نه سی .

(دعملونو په شان دعملونو اثرات هم لیکل کیږی)

وَآثَارَهُمْ : یعنی لکه څنګه چی د دوی کړی عملونه لیکل کیږی ، دغه ډول اثار یی هم لیکل کیږی ، دآثارو څخه مراد دعملونو هغه ثمرات اونتیجی دی کومی چی وروسته ظاهریږی اوباقی پاته کیږی ، مثلاً چا خلګو ته ددین تعلیم ورکی ، دینی احکام یی وروښوول یایی ددی دپاره څه کتاب تصنیف کی چی خلګو ورڅخه ددین نفع پورته کوله ، یایی څه وقف کړل چی خلګو ته ورڅخه ددی څخه وروسته نفع رسیده ، یا بل داسی کار یی وکی چی مسلمانانو ته ورڅخه فائده ورسیده نو ترڅو پوری چی دده ددی کار خیر اثار رسیږی ، دغه ټول به دده په عملنامه کی لیکل کیږی دغه شان بدعملونه دکومو چی بد ثمرات اواثار په دنیاکی باقی وی مثلاً ظالمانه قوانین جاری کړی او داسی اداری قائمی کړی کوم چی دانسانانو عملونه اواخلاق خرابوی یاخلګ په غلطه اوبده لاره اچوی نوترکومه پوری چی دهغه عمل بدی نیتجی اومفاسد په وجودکی راځی ، دده په عمل نامه کی به لیکل کیږی ، لکه چی ددی آیت په تفسیرکی په خپله نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، دحضرت جریرین عبدالله بجلی ؓ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

مَنْ سَنَّ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهُ أَجْرُهَا وَأَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ بَعْدِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُنْقَصَ مِنْ أُجُوْرِهِمْ شَيْءٌ وَمَنْ سَنَّ سُنَّةً سَيِّئَةً كَانَ عَلَيْهِ وِزْرُهَا وَوِزْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ بَعْدِهِ لاَ يَنْقُصُ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْئًا ثُمَّ تَلاَ (وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا وَآثَارَهُمْ) (ابن كثير عن ابن ابی حاتم)

کوم سړی چی یوه ښه طریقه جاری کړه نو هغه ته به ددی ثواب ورکول کیږی اوځومره خلګ چی په دی طریقه عمل کوی دهغوی ثواب به هم هغه ته ورکول کیږی بغیر ددی چی ددغو عمل کوونکو په ثواب کی څه کموالی وسی اوچا چی څه بده طریقه جاری کړه نو هغه ته به ددی هم ګناه وی اوځومره خلګ چی ترڅو پوری دده په دی بده طریقه عمل کوی دهغوی ګناه به هم ده ته کیږی بغیر ددی څخه چی ددغو عمل کوونکو په ګناهونو کی څه کمی وکړل سی .

دآثار یوه معنی دقدم نښانه هم راځی ، په حدیث کی دی چی انسان ترڅو پوری دلمانځه دپاره جمات ته څی نو دده په هرقدم نیکی لیکل کیږی ، دحدیث دځینو روایتونو څخه معلومیږی چی په دی آیت کی

Maktaba Tul Ishaat.com

داثار څخه مراد قدم دانښانی دی څنګه چی دلمانځه ثواب لیکل کیږی ، دغه شان دلمانځه دپاره په تلوکی چی څومره قدمونه راځی ، په هرقدم یوه نیکی لیکل کیږی ، ابن کثیر دا روایتونه دلته جمع کړی دی ، په کومو کی چی دا ذکر دی چی په مدینه طیبه کی دکومو خلګو کورونه دمسجد نبوی څخه لیرې وه هغوی اراده وکړه چی جمات ته نژدی کورونه جوړ کړی ، نبی کریم ﷺ منع کړل چی کوم ځای اوسیږی هلته به یاست ، دلیرې څخه چی راځی نو دا وخت ضائع کیدل مه ګنی څومره قدمونه چی زیات سی دومره به ستاسی ثواب زیاتیږی .

په دی چی کومه دا شبهه کیدی سی چی دا صورت مکی دی او کومه واقعه چی په دی احادیثو کی ذکر ده هغه دمدینی منوری ده ، ددی جواب دا کیدی سی چی آیت خو په خپله عامه معنی کی وی چی دعملونو اثارهم لیکل کیږی اودا ایت په مکه کی نازل سوی وی ، بیاپه مدینه منوره کی چی کله دا واقعه پیښه سوه نو دوی په طور داستدلال ددی آیت ذکر وفرمایی اودقدم ښښانه یی هم په هغه باقی اثارو کی شمار فرمایلی ده ، دکومو دلیکلو ذکر چی دقرآن کریم په دی آیت کی دی ، دغه ډول ددی دواړو تفسیرونو ظاهری تضاد هم رفع کیدی سی (لکه چی ابن کثیر ددی وضاحت کړی او دا یی خوښ کړی دی)

وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا اَصْحٰبَ الْقَرْيَةِ ۘ اِذْ جَآءَهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۱۳﴾ اِذْ اَرْسَلْنَآ

اوبیان کړه دوی ته یومثال دهغه کلی دخلقو چی هرکله راغلل هغوی ته لیږل سوی ، هرکله چی ولیږل

اِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوْهُمَا فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوْٓا اِنَّآ

مونږ هغوی ته دوه تنه نو درواغجن یی کړل نو قوت ورکی مونږ په دریم سره نو وویل هغوی مونږ

اِلَيْكُمْ مُّرْسَلُوْنَ ﴿۱۴﴾ قَالُوْا مَآ اَنْتُمْ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۙ وَمَآ اَنْزَلَ الرَّحْمٰنُ

تاسی ته رالیږل سوی یُو ، هغوی وویل تاسی خو انسانان یاست زمونږ په شان ، اورحمن هیڅ نه دی

مِنْ شَيْءٍ ۙ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا تَكْذِبُوْنَ ﴿۱۵﴾ قَالُوْا رَبُّنَا يَعْلَمُ اِنَّآ اِلَيْكُمْ

نازل کړی ، تاسی ټول دروغ وایاست ، وی ویل زمونږ رب پوه دی مونږ بیشکه تاسی

لَمُرْسَلُوْنَ ﴿۱۶﴾ وَمَا عَلَيْنَآ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۷﴾ قَالُوْٓا اِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ ۚ لَئِنْ

ته رالیږل سوی یُو ، او زمونږ ذمه دا ده پیغام رسول بنکاره ، وې ویل مونږ نا مبارك ولیدا ست تاسی ، که

لَّمْ تَنْتَهُوْا لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۸﴾

تاسی منع نه سوا ست نومونږ به تاسی سنګسار کړو ، او تاسی ته به ورسیږي زمونږ دلاس څخه عذاب دردناك

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالُوا طَآئِرُكُمْ مَّعَكُمْ ؕ اَئِنْ ذُكِّرْتُمْ ؕ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ

وې ویل ستاسی نامبارکی تاسی سره ده ، آیا په دومره خبره چی تاسی ته مو نصیحت وکی بلکه تاسی خلق یاست

مُّسْرِفُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَجَآءَ مِنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ رَجُلٌ يَّسْعٰى

دحد څخه وتونکی ، او راغی دښار دلیری سر څخه یو سړی په منډه

قَالَ يٰقَوْمِ اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۲۰﴾ اتَّبِعُوْا مَنْ لَّا يَسْـَٔلُكُمْ

وې ویل ای قومه ! تابعداری وکړی دلاری درالیږل سوو ، تابعداری وکړی دداسی سړی چی ستاسی

اَجْرًا وَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۲۱﴾

څخه بدله نه غواړی او هغه په صحیح لاره باندی دی

لنډتفسیر: او ته د دوی (کفارو) په مخکی (په دی غرض سره چی درسالت تائید او دوی ته په انکار دتوحید اورسالت هدایت وی) یوه قصه یعنی دیوه کلی دخلکو قصه دهغه وخت بیان کړه کله چی دغه کلی ته څورسولان را غلل یعنی کله چی مونږ دوی ته (اول) دوه تنه ولیږل نو هغو خلکو اول دواړه درواغجن کړل، بیاپه دریم (رسول) سره (مو ددی دواړو) تائید وکی (یعنی دتائید دپاره بیا دریم ته مونږ هلته دتللو حکم وکی) نو هغو درو سره وو (ددغه کلی خلکوته) وویل چی مونږ تاسی ته (دخدای دطرف څخه) رالیږل سوی یو (چی تاسی ته هدایت وکی چی توحید اختیار کړی اوبت پرستی پریږدی ځکه چی دغه خلک بت پرست وو ، لکه چی دالله ﷻ دا قول دلالت پرکوی ، وَمَا لِيَ لَا أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي : او دا قول ، أَأَتَّخِذُ مِنْ دُونِهِ آلِهَةً الخ هغو خلکو (یعنی کلی والاؤ) وویل چی ته خو زمونږ په شان (محض) معمولی سړی یی (تاسی ته درسولانو کیدلو څه امتیاز حاصل نه دی) او (ستاسی څه تخصیص دی ، مسئله درسالت په خپله بی اصله ده او) خدای رحمٰن خو) هیڅ شی (دکتاب دقسم ار داحکامو څخه کله) نازل کړی نه دی تاسی محض دروغ واياست ، هغو رسولانو وویل چی زمونږ پروردګار پوه دی ، چی بیشکه مونږ تاسی ته (په طور درسولانو) رالیږل سوی یو او (ددی قسم څخه دا مطلب نه دی چی په دی سره اثبات درسالت کوی بلکه وروسته دقائمولو ددلیل څخه هم کله چی هغوی ونه منله ، نو داخری جواب په طور مجبوراً یی قسم واخیستی لکه چی مخ ته په خپله د دوی دارشاد څخه معلومیږی چی) زمونږ په ذمه خوصرف په واضح طور (دحکم) رسول دی (چونکی واضح والی په دی موقوف دی چی په واضحو دلیلونو سره دعوی ثابته سی ، ددی څخه معلومه سوه چی اول یی دلیلونه قائم کړی وه په اخرکی یی قسم واخیستی غرض دا چی مونږخپل کار وکی که تاسی یی نه منی نو مونږ محبوره یو) هغو خلکو وویل چی مونږ خو تاسی منحوس ګڼو (دا خو یی یاځکه وویل چی په دغو خلکو قحط راغلی وو (لکه په معالم کی دی) او

Maktaba Tul Ishaat.com

یا یی څکه وویل چی کله څه نوی خبره واوریدل سی ، که څه هم خلګ یی قبوله نه کړی ، مګر ددی چرچو خامخا کیږی او اکثره په عامو خلګو کی ددی په وجه خبری اوپه دی خبروکی اختلاف اوکله جګړی اوزنا اتفاقی ته نوبت رسیږی ، نو مطلب به دا وی چی تاسی په ټولو خلګو کی یوه فتنه اوجګړه وغورځول چی ضرر نه ورځخه رسیږی دانحوست دی او ددی نحوست سبب تاسی یاست) اوکه تاسی (ددی دعوی اودعوی څخه) واپس نه سواست نو (یاد ساتی) مونږ به په دبرو ستاسی کار ختم کو او (دسنګساری څخه اول به هم) تاسی ته زمونږ دطرف څخه سخت تکلیف ورسیږی (یعنی نور به هم تاسی په قسم قسم سزا ازار کړو که ویږي نه منی نو په اخره کی به تاسی سنګسارکو) هغو رسولانو وویل چی ستاسی نحوست خو ستاسی سره لګیدلی دی (یعنی کوم ته چی تاسی نحوست مضرت اومصیبت وایاست ددی سبب خو حق نه قبلول دی که په حق قبلولو باندی متفق سوی وای نو نه به دا جګړی اوفتنی وای او نه به دقحط په عذاب کی اخته کیدی ، پاته سو اولنی اتفاق پربت پرستی باندی نو داسی اتفاق چی په باطله باندی وی په خپله فساد اووبال دی دکوم چی پربښوول لازم دی ، او په دغه زمانه کی قحط نه راتلل هغه په طور داستدراج دالله ﷻ دطرف څخه مهلت درکول سوی وو یاپه دی وجه وو چی تردغه وخته پوری په هغه خلګو حق واضح سوی نه وو اودالله ﷻ قانون دی چی دحق واضح کولو څخه مخکی چاته عذاب نه ورکوی ، لکه چی ارشاد دی چی ، حَتّٰى يُبَيِّنَ لَهُمْ مَا يَتَّقُونَ : او دا مهلت یا دحق نیست والی هم ستاسی غفلت ، جهالت اوشامت اعمال وو ، دَدی څخه معلومه سوه چی په هرحال کی ددی نحوست سبب په خپله ستاسی فعل وو) ایادانحوست ګنې چی تاسی ته نصیحت کول کیږی (کوم چی انسان دَسعادت دی ، دا خو په واقع کی نحوست نه دی) بلکه تاسی (په خپله) دحد (دعقل اوشرع) څخه وتونکی خلګ یاست (وروسته دشرع په مخالفت سره په تاسی دانحوست راغی اوپه مخالفت دعقل سره تاسی ددی سبب غلط وګنئ) او (ددی خبرو اترو خبرچی شائع سونو) یوسړی (کوم چی مسلمان وو) ددی ښار دیو لیرې مقام څخه (کوم چی ددی ځای څخه لیرې وو دا خبر واوریدی نو دخپل قوم دخیرخواهی دپاره چی ددی رسولانو وجود دقوم فلاح وه ، یادرسولانو دخیرخواهی دپاره چی هسی نه دا خلګ دوی قتل نه کړی) په منډه (دلته) راغی (او هغو خلګو ته یی) وویل چی ای زما قومه! ددی رسولانو خبره ومنی (خامخا) ددی خلګو په وینا پسی ځی کوم چی ستاسی څخه څه معاوضه نه غواړی اوهغوی په خپله په سیده لاره باندی هم دی (یعنی خود غرضی کومه چی مانع ده دتابعداری څخه هغه هم نسته اوراست بازی کومه چی مقتضی دتابعداری ده هغه موجوده ده، بیا تابعداری ولی نه سی کولی)

معلومات اومسائل: وَاضْرِبْ لَهُمْ مَثَلًا اَصْحٰبَ الْقَرْيَةِ : ضرب مثل دیوی معاملی دثابتولو دپاره ددی په شان دواقعی مثال بیانولوته وایی ، پورته چی درسالت اونبوت دمنکرانو کفارو ذکر راغلی دی ، دهغوی دخبدارولو دپاره قرآن کریم په طور دمثال دمخکی زمانی یوه قصه بیانوی ، کومه چی په یوه کلی کی پیښه سوی وه .

(هغه کوم کلي وو چي ذکر يي په دی قصه کي راغلي دی؟)

قرآن کریم ددی کلی نوم نه دی ښوولی ، په تاریخی روایتونوکی محمدبن اسحٰق دحضرت ابن عباس ؓ

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکعب احبار ﷺ ، وهب بن منبه ﷺ څخه نقل کړی دی ، چی دا کلی انطاکیه وو اوجمهورو مفسرینو دا اختیار کړي ده ، ابوحیان او ابن کثیر فرمایی چی په مفسرینو کی ددی خلاف هیڅ قول نقل نه دی ، دمعجم البلدان دوضاحت مطابق انطاکیه دشام دملك مشهور عظیم الشان ښار دی کوم چی په خپله شادابی اواستحکام کی معروف دی ، ددی قلعه او دښار دپناه دیوال یو مثالی شی ګڼل کیږی ، په دی ښار کی دنصاراؤ عبادت خانی کلیساوی بی شمیره اولوی شانداره دسرو اوسپینو په کاریګری سره ښائسته سوی وی ، داسلامی ښار دی ، داسلام په زمانه کی دا دشام فاتح حضرت امین الامة ابوعبیده بن جراح ﷺ فتح کړی وو ، په معجم البلدان کی یاقوت حموی دا هم لیکلی دی چی حبیب نجار ددکوم قصه چی په دی آیت کی مخ ته راځی ، ددی قبر هم په انطاکیه کی معروف دی ، دلیری لیری څخه خلك دده دزیارت دپاره راځی ، ددی وضاحت څخه هم دا معلومیږی چی دکوم کلی ذکر په دی آیت کی راغلی دی ، هغه دا ښار انطاکیه دی .

ابن کثیر رحمه الله لیکلی دی چی انطاکیه دهغو څلورو مشهورو ښارونو څخه دی کوم چی ددین عیسوی او نصرانیت مرکزګڼل کیږی ، یعنی قدس ، رومیه اسکندریه اوانطاکیه ، اوفرمایی چی انطاکیه دټولو څخه اولنی ښار دی کوم چی دمسیح علیه السلام دین قبول کی ، په دی بنا ابن کثیر ته په دی کی تردد دی چی دکوم کلی ذکر په دی آیت کی دی هغه مشهور ښار انطاکیه وی ځکه چی دقرآن کریم دوضاحت مطابق دا کلی درسالت او نبوت دمنکرینو کلی وو او دتاریخی روایاتو مطابق هغه بت پرست مشرکان وه نو انطاکیه کوم چی ددین مسیح او نصرانیت په قبلولو کی دټولو څخه اولیت لری ، هغه څنګه ددی مصداق کیدی سی .

دارنګه دقرآن کریم دذکر سوی آیت څخه هم دا ثابته ده چی په دی واقعه کی په دی ټول کلی داسی عذاب راغی چی په دوی کی څوك هم ژوندی پاته نه سو ، دانطاکیه دښار متعلق په تاریخ کی ددی داسی څه واقعه نقل نه ده چی څه وخت ددی ټول اوسیدونکی په یو وخت مړه سوی وه ، په دی وجه دابن کثیر رحمه الله په رایه کی یا خو په دی آیت کی چی دکوم کلی دی ، هغه دانطاکیه څخه علاوه یو بل کلی دی او یا بیا دانطاکیی په نوم یو بل کلی دی ، کوم چی مشهور ښار دانطاکیه نه دی .

صاحب دفتح المنان دابن کثیر ددی اشکالاتو جواب هم کړی دی ، مګر اسانه اوبی غباره خبره هغه ده کومه چی حضرت حکیم الامت په بیان القرآن کی اختیار کړي ده ، چی دقرآن دایت په مضمون دپوهیدو دپاره ددغه کلی تعین ضروری نه دی او قرآن کریم دا مبهم پریښووی نوضرورت څه دی چی ددی په تعین دومره زور خرڅ سی ، دسلفو صالحانو دا ارشاد چی ، اَبْهِمُوْا مَآ اَبْهَمَهُ اللّٰهُ، یعنی کوم شی چی الله ﷻ مبهم پاته کړی دی ، تاسی هم هغه مبهم پریږدی ، ددی مقتضٰی هم دا ده .

إِذْ جَاءَهَا الْمُرْسَلُونَ * إِذْ أَرْسَلْنَا إِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوا إِنَّا إِلَيْكُمْ مُرْسَلُونَ : ذکر سوی کلی ته دری رسولان ولیږل سول اول یی د دوی بیان اجمالی طور په ، إِذْ جَاءَهَا الْمُرْسَلُونَ کی وفرمایی ، ددی څخه وروسته یی د دوی داتفصیل وکی چی اول دوه رسولان ورته ولیږل سول دکلی خلګو دوی درواغجن کړل او د دوی خبره یی ونه منله نو الله ﷻ د دوی دتائید دپاره دریم رسول ولیږی ، بیادی درو سره وو

Maktaba Tul Ishaat.com

رسولانو دکلی خلکو ته وویل ، إِنَّا إِلَيْكُمْ مُرْسَلُونَ : یعنی مونږ تاسی ته دهدایت دپاره رالیږل سوی یو

(دی کلي ته چې کوم رسولان لیږل سوی وه دهغوی څخه څه مراد دی اوهغه څوک حضرات وه؟)

لفظ د رسول او مرسل په قرآن کریم کی په عام طور دَاللہ ﷻ دنبی اوپیغمبر دپاره ویل کیږی ، په دی آیت کی دالیږل سوی الله ﷻ څان ته منسوب کړی دی ، دا هم علامه ددی ده چی ددی څخه مراد انبیا، مرسلین دی ، ابن اسحاق دحضرت ابن عباس ؓ ، کعب احبار ؒ او وهب بن منبه ؒ داروایت نقل کړی دی چی دا دری سره بزرگان پیغمبران وو ، د دوی نومونه په دی روایت کی صادق ، صدوق اوشلوم ذکر دی اوپه یوه روایت کی د دریم نوم شمعون راغلی دی (ابن کثیر)

او دحضرت قتاده ؒ څخه دا منقول ده چی دلته لفظ دَمُرْسَلُونَ په خپله اصطلاحی معنی کی نه دی بلکه دقاصد په معنی کی دی او دا دری سره بزرگان کوم چی ددی کلی طرف ته ولیږل سول په خپله پیغمبران نه وه ، بلکه دحضرت عیسیٰ ﷺ دحواریانو څخه وه ، د دوی په حکم سره دغه کلی ته دهدایت دپاره لیږل سوی وه (ابن کثیر) اوچونکی د دوی لیږونکی حضرت عیسیٰ ﷺ دالله ﷻ رسول وو او د دوی لیږل هم بالواسطه دالله ﷻ لیږل وه ، په دی وجه په آیت کی یی د دوی دلیږلو نسبت دالله ﷻ طرف ته کړی دی په مفسرینو کی ابن کثیر اولنی قول اوقرطبی وغیره دوهم اختیار کړی دی ، دقرآن دظاهر څخه هم دا معلومیږی چی داحضرات دالله ﷻ نبیان اوپیغمبران وه ، والله تعالی اعلم

قَالُوا إِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ د . تَطَيَّرْنَا: معنی بدفالی نیول اوځوک منحوس ګڼل دی ، مراد دا دی چی ددی بنار خلکو دالله ﷻ ددی رالیږل سوو خبره ونه منله او دایی وویل چی تاسی منحوس یاست ، په څینی روایتونوکی دی چی ددی رسولانو دخبری دنه منلوپه وجه په دوی قحطی راغله ، ځکه یی دوی ته منحوس وویل یابل څه تکلیف ورته ورسیدی ، لکه چی دعامو کفارو داسی عادت دی چی څه مصیبت په راسی نو نسبت یی دانبیاء اوصالحانو طرف ته کوی ، لکه چی دحضرت موسیٰ ﷺ دقوم په حقله په قرآن کی دی ، فَإِذَا جَاءَتْهُمُ الْحَسَنَةُ قَالُوا لَنَا هَذِهِ وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُوا بِمُوسَى وَمَنْ مَعَهُ، دغه دول قوم دصالح ﷺ دوی ته وویل ، قَالُوا اطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَنْ مَعَكَ، یعنی ستاسی نحوست ستاسی سره دی مطلب دا دی چی ستاسی دعملونو نتیجه ده ، دطائر لفظ دبدفالی دپاره اوکله دنحوست په معنی کی هم راځی ، دلته دا مراد دی (ابن کثیر)

وَجَاءَ مِنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ رَجُلٌ يَسْعَى : په اولنی آیت کی یی دی کلمی ته قریه ویلی وه چی مطلق ابادی ته وایی کوچنی بنار وی یالوی بنار او دلته یی ورته مدینه وویله ، کوم چی لوی بنارته ویل کیږی ، ددی څخه معلومه سوه چی هغه لوی بنار وو او په دی سره ددی قول تائید هم کیږی په کوم کی چی دی بنارته انطاکیه ویل سوي ده، وَأَقْصَى الْمَدِينَةِ څخه مراد دبنار دیو کونج څخه راتلل دی، رَجُلٌ يَسْعَى : لفظ دیَسْعَى دسعی څخه ماخوذ دی چی لغوی معنی یی په منډه تلل دی نو معنی دا سوه چی دبنار دلیری کونج څخه یو سړی په منډه راغی اوکله په اهتمام سره تللو ته هم سعی ویل کیږی لکه په سورة جمعه کی دی ، فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ : په دی کی دا معنی مراد ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

(اصحاب د کلیو څخه د اخلونکي سړي واقعه)

قرآن کریم دا هم سیمه پاته کړي ده او د دې سړي نوم او حال یې نه دی ذکر کړی . په تاریخي روایتونو کې دلته اسحٰق . حضرت ابن عباس ؓ کعب احبار ؒ او وهب بن منبه ؒ څخه داسې نقل دی چې د دې سړي نوم حبیب وو . د ده د کسب متعلق مختلف اقوال دي . په دې کې مشهوره دا ده چې نرکان وو (ابن کثیر او تاریخي روایتونه ګوم چې مفسرینو دلته نقل کړی دی . دغه څخه معلومیږي چې دا سړی بت پرست وو . کوم دوه رسولان چې اول دې بنارته راغلل نو د دوی سره یې ملاقات وسو او د دوی په تعلیم، معجزه، یا کرامت لیدو سره د بت پرستۍ څخه توبه ګڼړله او ایمان یې راوړی او ولاړی په پیغام وغیره کې په عبادت سره مشغول وو . ګله چې دی خبر سو چې خلګو هغه رسولان درواهبجن کړل اولزار ورته رسوی اوپه فشارو پسې پسې دی، نو دی د خپل قوم د خیر خواهی او د رسولانو د همدردی د جذبې سره په هغه خپل قوم نه راغبي او د رسولانو د تابعداری کولو نصیحت یې ورته وکې او د خپل ایمان اعلان یې وکې . إِنِّي آمَنتُ بِرَبِّكُمْ فَاسْمَعُونِ : یعنې ما شناسي په رب ایمان راوړی ناسي راوړی . د دې مخاطب د ده قوم هم کیدی سي او په دې کې الله ﷻ نه د دوی رب ویل د حقیقت د اظهار د پاره وو که څه هم هغوی دا نه ښیرل او دا هم کیدی سي چې دا خطاب رسولانو ته وي اود . فَاسْمَعُونِ ویلو مقصد دا وي چې ناسي راوړی او د الله ﷻ په مخکې زما د ایمان شاهدي ورکې

قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ قَالَ يَا لَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُونَ . یعنې هغه سړي له وویل سوه چې جنت نه دا خل سه . ظاهره د ده چې دا خطاب د ملایکګي په ذریعه سوی دی چې جنت نه څه او مراد جنت څه د اخلیدو څخه خوشخبري ورکول وی چې جنت سنا مقام متعین سوی دی چې په خپل وخت به د حشر او نشر څخه وروسته حاصل سي (قرطبي)

او دا هم بعید نه ده چې ده ته خپل مقام په جنت کې ښودل سوی وی . د دې څخه علاوه په برزخ کې هم جنتیانو ته د جنت میوې او د راحت شیان ورکول کیږي . په دې وجه عالم برزخ ته ده رسیدل په یو جنت سره جنت ته رسیدل او دا خلیدل دی

د قرآن کریم په دې لفظ سره چې ده نه وویل سول چې جنت وا خل سه . دې طرف ته اشاره ده چې دی یې شهید کړی وو . ځکه چې جنت ته دا خلیدل یا د جنت مشاهده وروسته د مرګ څخه کیدی سي

دویشمه ۲۲ پاره ختمه سوه

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

تفسیر معارف القرآن د نصیر احمد احمدي لخوا سکین او

pdf سو. دوعا په هیله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۴۹

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی کتاب ټول حقوق دمکتبه حنفیۍ سره محفوظ دي

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاري پښتو کې

(جلد)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمۃ اللہ علیہ

پښتو ترجمه کړونکي (ابو صدیق احمد مولوی نصیر احمد حقانی)

تصحیح اوسون مولوی نصیر احمد (حقانی) اومولوی آمین الله (حقانی)

د کمپوز او ترجمي چارې الدین العلم کمپوزنګ (۰۳۰۱۲۷۸۲۹۵۶)

جلد اتم پاره (۲۲) — (۲۳) — (۲۴)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۷۲۲۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي حبیب چوک کوئټه

چاپ خای لاهور

تفسیر معارف القرآن د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا په هیله احمدي واتساپ ۰۷۳۸۳۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست تفسیر معارف القرآن

مضمون	مخ
وَمَا لِيَ لَا أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ، الخ ۲۲ تر ۳۲	۷
معلومات او مسئلی	۹
د پیغمبرانه دعوت او اصلاح طریقه د اسلامی مبلغینو د پاره مهم هدایت	۱۰
وَآيَةٌ لَّهُمُ الْأَرْضُ الْمَيْتَةُ أَحْيَيْنَاهَا وَأَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ يَأْكُلُونَ ، الخ ۳۳ تر ۴۴	۱۲
معلومات او مسئلی	۱۴
دنباتاتو په پیدا وار کی د انسان د عمل دخل نسته	۱۵
د انسان په غذا او د حیوانانو په غذا کی خاص فرق	۱۵
د لمر تر عرش لاندی د سجدی کولو تحقیق	۱۸
په قرآن کی د هوایی جهاز ذکر	۲۴
وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّقُوا مَا بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ ، الخ ۴۵ تر ۴۷	۲۴
معلومات او مسئلی	۲۵
د الله ﷻ درزق څینو ته د بالواسطه حاصلیدو حکمت	۲۲
وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ، الخ ۴۸ تر ۲۸	۲۲
معلومات او مسئلی	۳۰
وَمَا عَلَّمْنَاهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنبَغِي لَهُ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ وَقُرْآنٌ مُّبِينٌ ، الخ ۲۹ تر ۷۵	۳۴
معلومات او مسئلی	۳۵
د اشیاؤ ملکیت په اصل کی عطاء د حق ده نه چی د محنت سرمایه	۳۶
فَلَا يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ إِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ، الخ ۷۲ تر ۸۳	۳۷
معلومات او مسئلی	۳۹
﴿ سورة الصافات ﴾	۴۰
وَالصَّافَّاتِ صَفًّا ، الخ ۱ تر ۱۰	۴۰
معلومات او مسئلی: د سورة مضامین	۴۰
اولنی مضمون د توحید	۴۲
په دین کی نظم او ضبط مطلوب دی	۴۲
په لمانځه کی د صفونو برابرول او د دی اهمیت	۴۳
په ملائکو قسم ولی واخستل سو؟	۴۴
د الله ﷻ قسم اخیستل او د دی په حقله احکام او سوال او جواب	۴۴
فَاسْتَفْتِهِمْ أَهُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَم مَّنْ خَلَقْنَا إِنَّا خَلَقْنَاهُم مِّن طِينٍ لَّازِبٍ ، الخ ۱۱ تر ۱۸	۴۷
معلومات او مسئلی	۴۸
د نبی کریم ﷺ د معجزو ثبوت	۵۰
فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ فَإِذَا هُمْ يَنظُرُونَ ، الخ ۱۹ تر ۲۲	۵۱
معلومات او مسئلی	۵۱

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ، الخ ۴۷ تر ۴۰	۵۲
معلومات او مسئلی	۵۴
اولئك لَهُمْ رِزْقٌ مَعْلُومٌ ، الخ ۴۱ تر ۷۱	۵۵
معلومات او مسئلی	۵۷
یو جنتی او دهغه کافر ملاقاتی	۵۹
دبد صحبت څخه دمحفوظ کیدو تعلیم	۲۰
دمرګ په خاتمه تعجب	۲۰
اذلك خَيْرٌ نُزُلًا أَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ ، الخ ۲۲ تر ۷۴	۲۰
معلومات او مسئلی	۲۲
دزقوم حقیقت	۲۲
وَلَقَدْ نَادَانَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيبُونَ ، الخ ۷۵ تر ۸۲	۲۳
معلومات او مسئلی	۲۴
وَإِنَّ مِنْ شِيعَتِهِ لَإِبْرَاهِيمَ ، الخ ۸۳ تر ۹۸	۲۵
معلومات او مسئلی	۲۲
ستورو ته دنظر کولو مقصد	۲۸
دعلم نجوم شرعی حیثیت	۲۹
دحضرت ابراهیم علیه السلام دناروغی مطلب	۷۱
دتوریی شرعی حکم	۷۲
وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَى رَبِّي سَيَهْدِينِ ، الخ ۹۹ تر ۱۱۳	۷۳
معلومات او مسئلی	۷۵
دزوی دقربانی واقعه	۷۵
دوحی غیر متلو ثبوت	۷۲
ذبیح حضرت اسماعیل علیه السلام دی او که حضرت اسحق علیه السلام	۷۹
وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَى مُوسَى وَهَارُونَ ، الخ ۱۱۴ تر ۱۲۲	۸۳
معلومات او مسئلی	۸۳
وَإِنَّ إِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ، الخ ۱۲۳ تر ۱۳۲	۸۴
حضرت الیاس علیه السلام	۸۵
دبعثت زمانه او مقام	۸۵
دقوم سره کشمکش	۸۵
ایا حضرت الیاس علیه السلام ژوندی دی؟	۸۷
دغیر الله طرف ته دتخلیق صفت منسوب کول ناجائز دی	۸۸
وَإِنَّ لُوطًا لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ، الخ ۱۳۳ تر ۱۳۸	۸۹
معلومات او مسئلی	۸۹
وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ، الخ ۱۳۹ تر ۱۴۸	۹۰

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلی	۹۱
دهسکه اچولو حکم	۹۲
په تسبیح او استغفار سره مصیبتونه لیری کیږی	۹۲
دمرزا قادیانی دتلبیس جواب	۹۴
فَاسْتَفْتِهِمْ أَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ ، الخ ۱۴۹ تر ۱۲۲	۹۴
معلومات اومسئلی	۹۲
عناد کوونکو ته الزامی جواب زیات مناسب دی	۹۷
وَإِنْ كَانُوا لَيَقُولُونَ ، الخ ۱۲۷ تر ۱۷۹	۹۸
معلومات اومسئلی	۹۹
دالله والاوو دغلبی مطلب	۹۹
سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ، الخ ۱۸۰ تر ۱۸۲	۱۰۰
معلومات اومسئلی	۱۰۱
﴿سورة صٓ﴾	۱۰۱
ص وَالْقُرْآنِ ذِي الذِّكْرِ ، الخ ۱ تر ۱۲	۱۰۲
معلومات اومسئلی: شان نزول	۱۰۵
اصْبِرْ عَلَى مَا يَقُولُونَ وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوُدَ ذَا الْأَيْدِ إِنَّهُ أَوَّابٌ ، الخ ۱۷ تر ۲۰	۱۰۲
معلومات اومسئلی	۱۰۷
صلوة الضحی	۱۰۷
وَهَلْ أَتَاكَ نَبَأُ الْخَصْمِ إِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ ، الخ ۲۱ تر ۲۵	۱۰۸
معلومات اومسئلی	۱۱۰
طبعی بیره دنبوت یاولایت منافی نه ده	۱۱۳
په بی قاعدگی باندی دحال دحقیقت بنکاره کیدو پوری صبر کول په کاردی	۱۱۳
لوی سړی ته په کار دی چی دحاجتمندو په غلطو باندی تر خپله وسه صبر وکی	۱۱۴
تریو قسم دباولاندی چنده یاهدیه هم طلب کول غصب دی	۱۱۴
دمعاملو په شرکت کی دډیر احتیاط ضرورت	۱۱۵
په رکوع سره دتلاوت سجده ادا کیږی	۱۱۵
دتلاوت دسجدی ځینی مسئلی	۱۱۲
په غلطی باندی په خبردارولو کی دحکمت رعایت	۱۱۲
يَا دَاوُدُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ ، الخ ۲۲	۱۱۲
معلومات اومسئلی	۱۱۷
داسلامی ریاست بنیادی کار اقامت حق دی	۱۱۷
دعدلیه اوانتظامی رشته	۱۱۸
دذمه واری په عهدو کی دتولو څخه اول دلیدو شی دانسان کردار دی	۱۱۸

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاءَ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا ، الخ ۲۷ تر ۲۹	۱۱۸
دایتونو یو په زړه پوری ترتیب	۱۱۹
وَوَهَبْنَا لِدَاوُدَ سُلَيْمَانَ نِعْمَ الْعَبْدُ إِنَّهُ أَوَّابٌ ، الخ ۳۰ تر ۳۳	۱۲۰
معلومات اومسئلی	۱۲۱
دلمړدواپسی قصه	۱۲۲
چې دخدای په یادوکی غفلت وسی نو په خپل ځان سزا مقرروی ددینی غیرت تقاضاده	۱۲۲
امیر ته بذات خود دریاست دکارونو نگرانی کول په کار دی	۱۲۳
دیوعبادت په وخت په بل عبادت کی مشغولیدل غلطی ده	۱۲۳
وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمَانَ وَأَلْقَيْنَا عَلَى كُرْسِيِّهِ جَسَدًا ثُمَّ أَنَابَ ، الخ ۳۴	۱۲۳
معلومات اومسئلی	۱۲۳
قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَهَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي ، الخ ۳۵ تر ۴۰	۱۲۵
معلومات اومسئلی	۱۲۷
دحکومت او اقتدار دعا	۱۲۷
وَاذْكُرْ عَبْدَنَا أَيُّوبَ إِذْ نَادَى رَبَّهُ ، الخ ۴۱ تر ۴۴	۱۲۷
معلومات اومسئلی	۱۲۸
دحضرت ایوب علیه السلام دمرض نوعیت	۱۲۸
دحیلو شرعی حیثیت	۱۲۹
په نامناسبه کار قسم اخستل	۱۳۰
وَاذْكُرْ عِبَادَنَا إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ ، الخ ۴۵ تر ۷۴	۱۳۰
معلومات اومسئلی	۱۳۲
داخرت فکر دپیغمبرانو امتیازی وصف دی	۱۳۳
دښځی خاوند په مینځ کی دعمر دمناسبت رعایت نه دی	۱۳۳
قُلْ إِنَّمَا أَنَا مُنْذِرٌ وَمَا مِنْ إِلَهٍ إِلَّا اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ، الخ ۶۵ تر ۸۸	۱۳۳
دتکلف اوتصنع بدوالی	۱۳۸
﴿ سُورَةُ الزُّمَرِ ﴾	۱۳۸
تَنْزِيلُ الْكِتَابِ مِنَ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ، الخ ۱ تر ۲	۱۳۸
معلومات اومسئلی	۱۳۹
دعملونو مقبولیت دالله ﷻ په نزد مقدار داخلاص دی	۱۴۱
دهغه زمانی مشرکان هم دنن زمانی دکافرانو څخه بنه وه	۱۴۲
لمرسپوږمی دواړه متحرک دی	۱۴۳
إِنْ تَكْفُرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ وَلَا يَرْضَى ، الخ ۷ تر ۱۰	۱۴۳
معلومات اومسئلی	۱۴۶
قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ مُخْلِصًا لَهُ الدِّينَ ، الخ ۱۱ تر ۲۰	۱۴۸

Maktaba Tul Ishaat.com



اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان

تفسیر معارف القرآن د نصیر احمد احمدي لخوا سکین او pdf سره. ددعا په هیله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمَا لِيَ لَآ أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٢﴾ ءَأَتَّخِذُ

اومالره څه سوی دی چی زه عبادت نه کوم دهغه چی زه یی پیدا کړم او هغه ته به تول بیابیول کیږي ،آیا زه ونیسم

مِن دُونِهِ آلِهَةً إِن يُرِدْنِ الرَّحْمَٰنُ بِضُرٍّ لَّا تُغْنِ عَنِّي شَفَاعَتُهُمْ

دهغه څخه ماسوا نور خدایان که وغواړی رحمٰن ماته تکلیف نوڅه په کار به را نه سی مالره دهغوی سفارش

شَيْئًا وَلَا يُنقِذُونِ ﴿٢٣﴾ إِنِّي إِذًا لَّفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾ إِنِّي آمَنتُ

هیڅ او نه به هغوی ما خلاص کړی ، نو زه به دغه وخت بی لاری یم ښکاره ، مایقین وکی

بِرَبِّكُمْ فَاسْمَعُونِ ﴿٢٥﴾ قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ ۖ قَالَ يَا لَيْتَ قَوْمِي

ستاسی په رب باندی نو تاسی زما څخه واوری ، حکم ورته وسو چی دا خل سه جنت ته ، وې ویل چی کاشکی

يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾ بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُكْرَمِينَ ﴿٢٧﴾ وَمَا

زما قوم ته معلومه وای ، چی وبخښلم زما رب اوکړم یی زه دعزتمندو څخه او

أَنزَلْنَا عَلَىٰ قَوْمِهِ مِن بَعْدِهِ مِن جُندٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَمَا كُنَّا

نازل نه کړو مونږ دده په قوم دده څخه وروسته څه فوج داسمان څخه اومونږ (فوج)

مُنزِلِينَ ﴿٢٨﴾ إِن كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ خَامِدُونَ ﴿٢٩﴾

نه زازلوو ، بس وه یوه چغه بیا دغه وخت تول ساړه سول ،

يَا حَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ ۚ مَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا بِهِ

څه افسوس دی په بندګانو هیڅ یو رسول را نه غی دوی ته په کوم پوری چی دوی مسخری

يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٣٠﴾ أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ الْقُرُونِ أَنَّهُمْ

ونه کړی ، آیا نه ګوری چی څومره هلاک کړل مونږ دوی څخه مخکې قومونه چی هغوی به

إِلَيْهِمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿٣١﴾ وَإِن كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴿٣٢﴾

دوی ته بیرته را نه سی ، او په دی تولو کی هیڅوک داسی نسته چی مونږ ته به په جمع نیول را نه سی .

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسیر: اوزماسره څه عذردی چی زه دهغه (معبود) عبادت ونه کړم چاچی زه پیداکړم (کوم چی دعبادتمستحق والی ددلیلونوڅخه یودلیل دی) او (ځان ته یی داسی ځکه وویل چی مخاطب مشتعل نه سی چی دتدبیرڅخه مانع پیدانه سی اواصل مطلب دا دی چی تاسی ته دیو الله ﷻ دعبادت څخه څه عذردی) تاسی دټولو هغه ته واپس تلل دی (په دی وجه ددانشمندی تقاضا دا ده چی دهغه درسولانو تابعداری وکړی ، تر دی ځای پوری خویی دحق معبود دَعبادت مستحق والی بیان کی مخ ته دباطلو معبودانو دعبادت دنه مستحق والی بیان دی یعنی ایا زه خدای پریږدم داسی داسی معبودان جوړکړم (دکومو چی دبی وسی دا حال دی) چی که خدای رحمٰن ماته څه تکلیف رسول وغواړی نو نه به دهغو معبودانو سفارش زما څه په کار راسی اونه به هغوی ماته (په خپله دَخپل قدرت او زورپه ذریعه ددی تکلیف څخه) خلاص سی (یعنی نه هغوی په خپله قادردی اونه قادرته دسفارش واسطه جوړیدی سی ځکه چی اول خو په جماداتوکی دشفاعت اهلیت نسته ، دوهم شفاعت هغه کولی سی کومو ته چی دالله (دطرف څخه اجازه وی او) که زه داسی وکړم نو په ښکاره ګمراهی کی پریوتم (دا یی هم په خپله ځان راوغورځوله اوهغو خلګو ته یی اوروی) ماستاسی په پروردګار ایمان راوړی نو تاسی (هم) زماخبره واورئ (اوایمان راوړی ، مګر په هغو خلګو هیڅ اثر ونه سو بلکه دی یی په ډبرو سره یا اورته په غورځولو یاپه مری خپه کولو (لکه چی په درمنثور کی دی) شهیدکی ، دشهید کیدو سره ده ته دخدای دطرف څخه) ارشاد وسو چی څه جنت ته داخل سه (دغه وخت دده سره هم دخپل قوم فکرسو) وي ویل چی کاشکی زما قوم ته دا خبره معلومه سی چی زما پروردګار (دایمان اوتابعداری درسولانو په برکت سره) زه وبخښلم او زه یی په عزتمندو کی شامل کړم (نوچی دا حال ورته معلوم سی نو دوی به هم ایمان راوړی وای او داسی به هغوی هم مغفور او مکرم سوی وای) او (کله چی ددغه کلی خلګو درسولانو او درسولانو دتابعدار سره دا معامله وکړه نومونږ ورڅخه بدل واخیستی او دبدل اخیستودپاره) مونږ دهغه (شهید سړی) په قوم دهغه (دَشهادت) څخه وروسته څه لښکر (دملائکو) دآسمان څخه نازل نه کی اونه مونږ ته دنازولولو ضرورت وو (ځکه چی دهغوی هلاکول په دی باندی موقوف نه وه چی د دوی دپاره څه لوی جمعیت را وستل سی (لکه دارنګه تفسیر کړی دی ابن مسعود (په هغه کی چی نقل یی کړی دی ابن کثیر دابن اسحاق څخه چی ویلی یی دی ، مَا كَاثَرْنَاهُمْ بِالْجُمُوْعِ فَاِنَّ الْاَمْرَ كَانَ اَيْسَرُ عَلَيْنَا مِنْ ذٰلِكَ بلکه) هغه سزا یو سخت اواز وو (کوم چی جبرائیل (وکی ، لکه داسی چی په معالم کی دی اویا به بلی ملائکی کړی وی یادصحیحه څخه مطلق عذاب مراد دی چی تعین یی نه دی سوی لکه چی دسورة مومنون دآیت ، فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ :په تفسیر کی تیر سوی دی) او هغه ټول په دغه وخت (په دی سره) ساړه سوی (یعنی مړه سوی) پاته سول (مخ ته دقصی دانجام ښوولو دپاره د درواغجن کوونکو مذمت فرمایی چی) افسوس دی دَ (داسی) بندګانو پرحال چی هیڅکله هغوی ته یو رسول را نه غی په کوم پوری چی هغوی خندا نه وی کړی ، هغه خلګو دی ته ونه کتل چی مونږ د دوی څخه مخکی ډیر امتونه (ددی درواغجن کولو اومسخرو په سبب) تباه کړل چی هغه (بیا) د دوی طرف ته (په دنیاکی) واپس نه سول (که په دی کی یی غور فکر کړی وای نو د درواغجن کولو اومسخرو څخه به منع سوی وای ، او دا سزا خو درواغجنانو

Maktaba Tul Ishaat.com

ته په دنیاکی ورکول سوه) او (بیاپه اخرت کی) په دی تولوکی څوك داسی نسته چی په اجتماعی طور سره په مونږ ته مخامخ حاضر نه سی (هلته به بیا سزاوی اوهغه سزابه دائمی وی)

معلومات اومسئلي : په تاریخی روایتونوکی دحضرت ابن عباس ﷺ (مقاتل رحمه الله مجاهد رحمه الله امامانو دتفسیر څخه نقل دی چی دغه سړی حبیب ابن اسمٰعیل نجار وو او دا دهغو خلګو څخه دی کوموچی زمونږ په رسول (د دوی (دبعثت څخه شپږ سوه کاله مخکی ایمان راوړی دی ، لکه دتُبّع اکبر متعلق چی نقل دی چی دنبی کریم (خوشخبری یی په تیرو کتابونو کی وویله نو د دوی دولادت څخه یی ډیر مخکی په دوی ایمان راوړی وو ، دریم بزرګ سړی ورقه بن نوفل دی ، چی ذکر یی دصحیح بخاری په حدیث کی دابتدایی وحی په واقعاتوکی راغلی دی ، دا هم دنبی کریم (خصوصیت دی چی د دوی دولادت اوبعثت څخه مخکی په دوی (دی دری کسانو ایمان راوړی وو ، داسی معامله دبل رسول اونبی سره نه ده سوی .

دوهب بن منبّه په روایت کی دی چی دا سړی جذامی وو او دده مکان دښار دتولو څخه په اخری دروازه رو ، دخپل فرضی معبودانو څخه به یی سوال کوی چی ما جوړکی او په دی شان اویا ۷۰ کاله پرتیر سوی وه دا رسولان انطاکیی ښارته اتفاقًا په دغه دروازه دا خل سول نو دډی سړی سره یی اول ملاقات وسو نو هغوی ده ته دبت پرستی څخه دمنع کیدو او دیوه خدای دعبادت طرف ته دعوت ورکی ، دغه سړی وویل چی ستاسی سره دخپلی دعوی دصحّت څه نښانه او دلیل سته؟ هغوی وویل چی هوا سته، ده ورته خپله دجذام ناروغی وښوولە اوپوښتنه یی ورڅخه وکړه چی تاسی داناروغی لیری کولی سی ، هغوی وویل چی هوا مونږ به دخپل رب څخه سوال وکو ، هغه به تاروغ کړی ، هغه وویل چی دا څه عجیبه خبره کوی ، زه داویا ۷۰ کالو راسی دخپلو معبودانو څخه سوال کوم هیڅ فائده ونه سوه ، ستاسی رب به څنګه په یوه ورځ کی زما حالت بدل کړی ؟ هغوی وویل چی هوا زمونږ رب پرهرڅه قادردی ، اوکوم چی تاسی خدایان جوړکړی دی دهغو هیڅ حقیقت نسته ، هغه چاته نفع اونقصان نه سی رسولی چی دایی واوریدل نوهغه سړی ایمان راوړی اودی بزرګانو دهغه دپاره دعا وکړه ، الله ﷻ (هغه داسی روغ کی چی دناروغی هیڅ اثر باقی پرپاته نه سو اوس خودهغه ایمان پوخ سو اوهغه وعده وکړه چی دتولی ورځی په ګته کی به نیمه حصه دخدای په لاره کی ورکوی ، کله چی په دی رسولانو دخلګو دیلغار څخه خبرسو نو دی وبیریدی او راغی اوخپل قوم یی پوه کی او دخپل ایمان اعلان یی وکی ، تول قوم دهغه دښمن سو اوتول په جمع په هغه را پریوتل، دحضرت ابن مسعود ﷺ (په روایت کی دی چی تولو په وهلو اوڅیړو دی شهیدکی ، په څینو روایتونوکی دی چی په ډبرو یی ویشتی او دغه وخت به هم ددی تولو دوهلو په وخت کی یی ویل ، رَبِّ اهْدِ قَوْمِی، ای پروردګاره! زما قوم ته هدایت وکړی .

په څینو روایتونوکی دی چی هغه خلګو دری سره رسولان هم شهیدان کړل ، مګر په څه صحیح روایت کی که څه هم ددی ذکر نسته چی ددغه څه حال سو ، په ظاهره خوهغوی قتل سوی نه دی (قرطبی)

یَا لَیْتَ قَوْمِي یَعْلَمُونَ بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُكْرَمِينَ : دا بزرګ چونکه په لویه بهادری سره دالله ﷻ (په لاره کی شهید سو الله ﷻ (هغه سره دخاص اکرام اواعزاز معامله وکړه او په جنت کی یی ورته ددا خلیدو حکم وکی ، هغه چی انعام او اکرام او دجنت نعمتونه ولیدل نو بیا یی خپل قوم یادسو او ارزو یی وکړه

Maktaba Tul Ishaat.com

چی کاشکی ! زماقوم ته زماحال معلومیدی چی په رسولانو دایمان راوړلو په بدله کی ماته اعزاز او اکرام او دائمی نعمتونه څنګه راکول سول نو شاید هغوی ته به هم دایمان توفیق سوی وای ، ددی ارزو اظهار په ذکر سوی آیت کی سوی دی .

(دپیغمبرانه دعوت او اصلاح طریقه داسلامي مبلغینو دپاره مهم هدایت)

دغه کلی ته چی کوم دری رسولان ولیږل سول ، هغوی چی کفارو اومشرکانو ته څنګه خطاب وکی او دهغوی دَسختو اوترخو خبرو اواخطارو چی یی څنګه جواب ورکی ، دغه شان دهغوی په دعوت سره مسلمان سوی حبیب نجار خپل قوم ته چی څنګه خطاب وکی او دی ټولو شیانو ته چی بار بار وګوری نو په دی کی ددین دتبلیغ اودخلګو داصلاح دخدمت کوونکو دپاره لوی سبق دی .

ددی رسولانو دناصحانه تبلیغ اوتلقین په جواب کی مشرکانو دری خبری وکړی .

(۱) تاسی خو زمونږ په شان انسانان یاست مونږ ستاسی خبره څنګه ومنو .

(۲) الله رحمٰن په هیڅا څه پیغام اوکتاب نه دی نازل کړی .

(۳) تاسی خالص درواغ وایاست .

تاسی وګوری چی دبی غرضه ناصحانه کلام په جواب کی ددی اشتعال انګیزه خبرو څه جواب په کار وو؟ مګر دی رسولانو څه جواب ورکی ، صرف دا چی ، رَبُّنَا يَعْلَمُ إِنَّا إِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُونَ : یعنی زمونږ رب پوه دی چی مونږ تاسی ته رالیږل سوی یو او ، مَا عَلَيْنَا إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ : یعنی زمونږ چی کوم کار وو هغه مونږ وکی چی تاسی ته مو په واضح طور سره دالله ﷻ (پیغام ورسوی مخ ته ستاسی اختیار دی چی منی اوکه یی نه منی ، وګوری چی د دوی په یوه لفظ کی هم څه داشتعال انګیزی څه تاثر سته ؟ څنګه مشفقانه جواب یی ورکی .

بیا دا خلګ نور مخ ته سول او دایی وویل ، چی تاسی منحوس خلګ یاست ستاسی په وجه مونږ په مصیبت کی یو ، ددی متعین جواب دا وو چی منحوس خو تاسی یاست ، ستاسی دعملونو شامت ستاسی په غاړه کیږی ، مګر دی رسولانو دا خبره داسی په مجملو الفاظو کی ادا کړه چی دهغوی دمنحوسوالی وضاحت یی په کی ونه کی ، بلکه دا یې وفرمایل ، طَآئِرُكُمْ مَعَكُمْ : یعنی ستاسی بدفالی ستاسی سره ده ، او بیایی هغه مشفقانه خطاب وکی ، اَئِنْ ذُكِّرْتُمْ : یعنی تاسی خو دا سوچ وکی چی مونږ ستاسی څه تاوان کړی دی ؟ مونږ خو صرف تاسی ته خیر خواهانه نصیحت کړی دی ، په دی ټولوکی چی یی صرف درنه جمله وویله نو هغه دا چی ، بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ مُسْرِفُونَ : یعنی تاسی خلګ دحد څخه تجاوز کوونکی یاست ، خبره دکوم ځای څخه کوم ځای ته بیایاست .

دا خو ددغو رسولانو مکالمه وه اوس هغه مکالمه وګوری کومه چی ددی رسولانو په دعوت ایمان راوړونکی نوی مسلمان وکړه ، هغه اول خو خپل قوم ته دوی خبری وښوولی او درسولانو دخبری منلو دعوت یی ورکی اول دا چی لږ خو دی ته سوچ وکی چی دا خلګ دلیری څخه تاسی ته دنصیحت کولو دپاره راغلی دی ، دسفر تکلیفونه تیر وی او ستاسی څخه څه غواړی نه ، دا خبره په خپله انسان ته دفکر

Maktaba Tul Ishaat.com

کولو دعوت ورکوی چی دا بی غرضه خلګ دی د دوی په خبره کی فکر خو وکی ، دوهمه دا چی کومه خبره هغوی کوی هغه سراسر دعقل اوانصاف اوهدایت خبره ده . ددی څخه وروسته قوم ته د دوی په غلطی اوګمراهی خبرول وه چی خپل پیدا کوونکی قادر مطلق پریږدی اوتاسی خلګ په خپله جوړ کړی بتان خپل حاجت رواګنی او د دوی حال دا دی چی نه دوی په خپله ستاسی څه کار جوړولی سی اونه دالله ﷻ (په نزد د دوی څه مقام او درجه سته چی سفارش ورته وکړی اوستاسی کار په وکی .

مګر حبیب نجار(داتولی خبری دوی ته دنسبت کولو په ځای خپل طرف ته دنسبت کولو عنوان اختیار کی چی که زه داسی وکړم نو لویه دګمراهی خبره به وی . وَمَا لِيَ لَا أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي الاية : دا تول په دی وجه چی مخالف مشتعل نه سی او په خبره په یخ زړه باندی فکر وکی ، بیاچی کله په قوم دده دشفقت او رحمت هم څه اثر ونه سو او دده دَقتلولو دپاره پرده راوغورځیدل نو دغه وخت هم دده په ژبه دښرا کولو څه کلمه ورنه غله ، بلکه دا یی وویل او روح یی ورکی ، رَبِّ اهْدِ قَوْمِيْ : یعنی زما پروردګاره ! زما قوم ته هدایت وکی ، ددی څخه زیاته عجیبه خبره دا ده چی دقوم په دی ظلم اوستم شهید سوی ته کله چی دالله ﷻ (دَطرف څخه دانعام اواکرام اودجنت دنعمتونو مشاهده وسوه نو دغه وخت هم ده ته دا خپل ظالم قوم یادسو او د دوی دخیر خواهی او همدردی په طور یی داتمنا وکړه چی کاشکی ! زماقوم زما دحالت دانعام اواکرام څخه خبر سوی وای نو شاید چی دوی به هم دګمراهی څخه راوګرځی او په دی نعمتونو کی به شریك سی ، سبحان الله دمخلوق خیر خواهی د دوی دظلمونو باوجود څنګه ددی حضراتوپه رګ اوریښه کی پیوست وه داهغه شی ووکوم چی دقومونوتقدیرونه اړولی دی اودکفر او ګمراهی څخه یی راایستلی دی اوهغه مقام یی ورته بخښلی دی، چی ملائکی هم رشك اوقصد په کوی .

نن صبا تبلیغ کوونکو او ددعوت اواصلاح خدمت کوونکو په عام طور سره دا پیغمبرانه خویونه پریښی دی ، په دی وجه د دوی دعوت اوتبلیغ بی اثره سوی دی ، په تقریر اوخطاب کی دغصی اظهار په مخالف طرف چسپ کول لوی کمال ګڼلی کیږی ، کوم چی مخالف نور ضد اوعناد ته اماده کوی ، یا الله ! مونږ دخپلو پیغمبرانو دسنتو تابعدار جوړ کړی اومونږ ته توفیق دهغه را کړی چی ته یی خوښوی او ته په رضا کیږی ، آمین ثم آمین .

وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَى قَوْمِهِ مِنْ بَعْدِهِ مِنْ جُنْدٍ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا كُنَّا مُنْزِلِينَ (إِنْ كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ خَامِدُونَ .

دا په هغه قوم دآسمانی عذاب ذکر دی کوم چی رسولان درواغجنان کړل اوحبیب نجاری یی په وهلو وهلو شهید کړی وو او دعذاب په تمهید کی یی وفرمایل چی دا قوم په عذاب کی دنیولو دپاره مونږ ته دآسمان څخه دملائکو دلښکر دلیږلو ضرورت را نه غی او نه داسی لښکر لیږل زمونږ دستور دی ، ځکه چی دالله ﷻ (خویوه ملائکه دلویو لویو قوی بهادرو قومونو دتباه کولو دپاره کافی ده ، هغه ته دملائکو دلښکر لیږلوڅه ضرورت دی ، بیایی په دوی راتلونکی عذاب بیان کی چی بس دومره وسوه چی ملائکی یوه چغه وکړه چی په هغه سره تول سارې سوی پاته سوه .

په روایتونو کی دی چی جبرائیل امین (دښار د دروازی دواړه درشلی ونیولی اویوسخت هیبتناك اواز یی وکی چی صدمه یی یو روح هم برداشت نه کړل او تول مړه سول ، د دوی مرګ قرآن دَخَامِدُوْنَ په لفظ

Maktaba Tul Ishaat.com

سره تعبیر کی ، خُمُود داور مړ کیدو په معنی کی راځی ، دجاندار ژوند چی په حرارت غریزی سره
موقوف دی ، هرکله چی داحرارت ختم سی نو ددی نوم مړک دی ، خَامِدُوْنَ یعنی سړیدونکی یخیدونکی

وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الْاَرْضُ الْمَيْتَةُ ۚ اَحْيَيْنٰهَا وَاَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ

او یوه نښانه د دوی دپاره ده مځکه مړه ، ژوندی کړه مونږ دا مځکه اوراوباسو مونږ ددې څخه دانی نو ددی

يَاْكُلُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَجَعَلْنَا فِيْهَا جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ وَّفَجَّرْنَا

څخه خوری ، اوپیدا کړی دی مونږ په دی مځکه کی باغونه دخرماؤ او دانګورو او روانی موکړی

فِيْهَا مِنَ الْعُيُوْنِ ﴿۳۴﴾ لِيَاْكُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖ ۙ وَمَا عَمِلَتْهُ اَيْدِيْهِمْ ۭ

په دی کی څینی چینی ، چی وخوری ددی دمیوو څخه او دا جورکړی نه دی د دوی لاسونو ،

اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۳۵﴾ سُبْحٰنَ الَّذِيْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنْۢبِتُ

ښه ولی شکر نه کوی ، پاک ذات دی چا چی پیدا کړی جوړی دټولو شیانو دهغه قسم څخه چی زرغونوی

الْاَرْضُ وَمِنْ اَنْفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۶﴾ وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الَّيْلُ ۚ

مځکه او په خپله د دوی څخه او دهغو شیانو څخه چی دوی یی نه پیژنی ، اویوه نښانه د دوی دپاره شپه ده

نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ فَاِذَا هُمْ مُّظْلِمُوْنَ ﴿۳۷﴾ وَالشَّمْسُ تَجْرِيْ لِمُسْتَقَرٍّ

را کاږو مونږ ددی څخه ورځ ، نو دوی په تیاره کی پاته سی ، او لمر چلیږي روان دی په خپله

لَّهَا ۭ ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿۳۸﴾ وَالْقَمَرَ قَدَّرْنٰهُ مَنَازِلَ حَتّٰى عَادَ

مقرره لار باندی ، دا اندازه ده دزبردست پوه ، او سپوږمی مونږ په اندازه کړی دی منزلونه تردی چی

كَالْعُرْجُوْنِ الْقَدِيْمِ ﴿۳۹﴾ لَا الشَّمْسُ يَنْۢبَغِيْ لَهَآ اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ

واپس سی په شان دښاخ زور ، نه دلمر څخه کیدی سی چی ونیسی سپوږمی

وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ ۭ وَكُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ﴿۴۰﴾ وَاٰيَةٌ لَّهُمْ

او نه شپه مخکې کیدی سی د ورځی څخه ، او هر یو په چکر کی گرځی ، او یوه نښانه ده د دوی دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

أَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ﴿۴۱﴾ وَخَلَقْنَا لَهُمْ مِنْ مِثْلِهِ

چې مونږ پورته کړو نسل د دوی ، په ډکه کښتۍ کې ، او جوړ کړل مونږ د دوی د پاره د کښتۍ په شان شیان

مَا يَرْكَبُونَ ﴿۴۲﴾ وَإِنْ نَشَأْ نُغْرِقْهُمْ فَلَا صَرِيخَ لَهُمْ وَلَا هُمْ يُنْقَذُونَ ﴿۴۳﴾

چې دوی پرسپرۍ ، او که مونږ وغواړو نو دوی به ډوب کړو ، بیابه نه څوک د دوی فریاد ته ورسیږي اونه

إِلَّا رَحْمَةً مِنَّا وَمَتَاعًا إِلَىٰ حِينٍ ﴿۴۴﴾

به یې خلاص کړي ، مګر مونږ په خپله مهربانۍ سره او د دوی دکار چلیدو د پاره تر یو وخته پورې

لغتتفسیر: او (دقدرت نښانی اوعظیم الشانه نعمتونه کوم چې دتوحید دلیلونه هم دی په هغه کې) یوه نښانه ددی خلګود (استدلال د) پاره مره مخکه ده (اوپه دی کې دنښانی ځیره دا ده چې) مونږ دا (په باران سره) ژوندی ګړه اومونږ ددی (مخکې) څخه (مختلفې) غلی را ویستلی ، نو ددغه څخه خلګ خوری او (دارنګه) مونږ په دی (مخکه) کې دخرماؤ او انګورو باغونه ولګول او په دی کې (دباغونو د اوبه کولو دپاره مو) چینی (او ولی) جاری کړی چې خلګ (دغلی په شان) دباغونو دمیووڅخه (هم) خوری اودا (میوی اوغلی) د دوی لاسونو نه دی جوړ کړی (که څه هم تخم کرل او اوبه کول په ظاهره د دوی په لاسونو سوی دی مګر دتخم څخه درخته او د درختی په میوه پیدا کولو کې د دوی هیڅ دخل نسته خاص دخدای ﷻ کار دی) نو (ددا سی دلیلونو په لیدو) بیاهم شکرنه کوی (چې اوله پورې یې دالله ﷻ (وجود اودتوحید اقرار دی ، دا استدلال خو دزمینی اوافاقی دخاصو نښانو څخه وو ، مخ ته دزمینی اونفسیاتی نښانو څخه استدلال دی یعنی) هغه پاک ذات دی چاچی تول مقابل قسمونه پیدا کړل ، دمخکی دنباتاتو دقسم څخه هم (برابره خبره ده که مقابله دمماثلت وی لکه دیوه څخه غله او دیوه څخه میوه ، اوبرابره خبره ده که مقابله دتضاد والی او مخالفت وی ، لکه غنم او وربشی اوخوږه میوه اوتروه میوه) او (په خپله) ددی انسانانو څخه هم (لکه سړی اوښځه) او په هغو شیانو کې هم کوم چې (عام) خلګ نه پیژنی (دمقابلی دعام مفهوم په اعتبار سره په پتو شیانو کې هم څه شی دمقابل څخه خالی نه دی ، او په دی سره دالله ﷻ (بې مقابل کیدل معلوم سول په دی سره دآیت، وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ : هم وضاحت وسو) او (مخ ته اوس دځینی ایتونو افاقیه سماویه او د دوی دځینو اثارو څخه استدلال دی یعنی) یوه نښانه ددی خلګودپاره دشپی (دوخت) ده چې (په وجه داصل والی دظلمت ګویا اصل وخت دغه وو او دلمر نور عارضی وو . ګویا داتیاره ورځی پټه کړی وه لکه دبزی غوښه چې ددی څرمن پټوی پس) مونږ (دا عارض لیری کې ګویا) ددی (شپی) څخه ورځ باسو نو یکدم (بیاشپه ښکاره سی او) دغه خلګ په تیاره کې پاته سی او (یوه نښانه) لمر (دی چې هغه) دخپلی تکانی طرف ته روان وی (دا عام دی هغه نقطی ته هم دکومی څخه چې روان سی ، سالانه دوره پوره کړی ، بیا هغه نقطی ته ورسیږی او نقطه افقیه ته هم

Maktaba Tul Ishaat.com

چی په روزانه حرکت کی هلته رسیږی پریوزی) او دا اندازه ترڅ سوي ده ، دهغه (خدای) کوم چی زبردست (یعنی قادر دی او) علم والا دی (چی په علم سره په دی انتظاماتو کی مصلحت او حکمت پیژنی اوپه قدرت سره دا انتظامات نافذ کوی) او (یوه ننبانه) سپوږمی (ده چی دهغه درفتار) دپاره یی منزلونه مقرر کړی دی (چی هره ورځ یو منزل قطع کوی) تردی چی (په خپله اخری دوره کی نری کیږی نری کیږی) داسی سی لکه دخرماوو پخوانی ښاخ (چی نری او کوږ وی او ممکنه ده چی درنا دکمزری په وجه په ژړوالی کی هم دمشابهت اعتبار وسی او دلمر اوسپوږمی حال او دَشپی او ورځی تلل او را تلل یی په داسی اندازه سره اینبی دی او داسی انتظام یی ورته کړی دی چی) نه دلمر مجال سته چی سپوږمی (ددی درنه دظهور په وخت کی یعنی په شپه کی کله چی دا روښانه وی) را ونیسی (یعنی دوخت څخه مخکی را وخیژی دی ته او ددی وخت شپه لیری کړی ورځ جوړه کړی ، لکه چی سپوږمی هم دغه ډول لمر دده درنا دظهور په وخت کی نه سی رانیولی چی ورځ لیری کړی ، شپه جوړه کړی او دسپوږمی رنا په کی ظاهره سی) او (دغه ډول) نه شپه دَورځی (دمقرر وخت دختمیدو) څخه مخ ته راتلی سی (لکه چی ورځ هم دشپی دمقرر وخت دختمیدو څخه مخ ته نه سی راتلی) او (لمر اوسپوږمی) دواړه په یوه یوه دائره کی (په حساب سره داسی چلیږی چی گویا) لامبو وهی (او دحساب څخه دباندی کیدی نه سی چی دشپی او ورځی په حساب کی خلل واقع سی) او (مخ ته دایات افاقیه ارضیه څخه دیوې خاص ننبانی دسفر اوسپرلی وغیره متعلق ارشاد فرمایی یعنی) یوه ننبانه د دوی دپاره دا ده چی مونږ د دوی اولاد په ډکه کښتی کی سپاره کړل (خپل اولادونه به اکثرو خلگو دتجارت دپاره په سفر لیږل ، نو په دی تعبیرکی د درو نعمتونو طرف ته اشاره وسوه ، اول ډکی کښتی ته چی د دروندوالی په وجه په اوبوکی دغرقیدو شی دی ، داوبو په سطح روانول ، دوهم دی خلگو ته اولاد ورکول ، دریم رزق اوسامان ورکول چی په خپله کورناست وی او اولاد یی کار کوونکی جوړول اولیږل) او (دوچی دسفر دپاره) مونږ د دوی دپاره دکښتیو په شان داسی شیان پیدا کړل په کومو چی دا خلگ سپریږی (مراد ددی څخه اوښان وغیره دی اودکښتی سره یی تشبیه ددی خاص وصف په اعتبار سره ده چی پردی هم سپرلی اوباربار داری اومزل قطع کیږی او ددی تشبیه حسن په دی سره زیات سو چی په عربوکی اوښ ته سفینة البر ، یعنی دوچی دکښتی ویلو محاوره شائع وه ، مخ ته دکښتی دذکر په مناسبت دعذاب یو وعده فرمایی چی) اوکه مونږ وغواړو نو دوی به غرق کو ، بیابه نه خو (دکومو شیانو چی دوی عبادت کوی دهغوی څخه) د دوی څوك فریاد رس وی (چی دغرقیدو څخه یی محفوظ کړی) اونه به دوی (وروسته تر غرقیدو دمرگ څخه) خلاص کړی (یعنی نه به یی څوك دمرگ څخه خلاص کړی) مگر دا زمونږ مهربانی ده او دوی ته تریو وخت معینه پوری (په دنیاوی ژوند سره) فائده ورکول (منظور) دی (په دی وجه ورته مهلت ورکول سوی دی)

معلومات اومسئلي: په سورة یٰس کی په زیات تره مضامینو کی دقدرت دایتونو او دالله ﷻ (دَانعاماتو او احساناتو بیان دی او په اخرت باندی داستدلال او دحشر او نشر په عقیدی دپخته کولو سره متعلق دی په دی ذکر سوو ایتونو کی یی دالله ﷻ (دقدرت داسی ننبانی بیان کړی دی کوم چی یو طرف ته دهغه دَقدرتِ کامله واضح دلیلونه دی ، بل طرف ته په انسان او عام مخلوقات دَالله ﷻ (دخاصو انعاماتو او

Maktaba Tul Ishaat.com

احساناتو او په دی کی دعجیبه او نا اشنا حکمتونو اثبات دی.

په اول آیت کی یی دمخکی یو مثال پیش کړی دی کوم چی هر وخت دهر انسان په مخکی دی ، چی پروچه مخکه دآسمان څخه اوبه اوروی نو په مخکه کی یو قسم ژوند پیدا کیږی ، دکوم اثار چی په دی کی پیدا کیدونکی شنه بوتی او درختی دی او ددی څخه پیدا کیدونکی میوی دی او ددی درختو دلونیدو اوباقی پاته کیدو دپاره ترمخکی لاندی او مخکی سربیره دچینو جاری کول یی ذکر وفرمایل ، لِيَأْكُلُوا مِنْ ثَمَرِهِ: یعنی دهوا گانو اووریځو اودمخکی تول قوتونه په کار کی دلګولو منشاء دا ده چی خلق ددی میوه وخوری ، دا تول شیان خو په ستر ګو سره لیدل کیږی کوم چی هر انسان یی په لیدو پوهیږی ، مخ ته یی انسان په هغه شی باندی خبردارکی ، دکوم دپاره چی دا توله کارخانه قائمه سوه فرمایی.

(دنباتاتو په پیداوار کي دانسان دعمل دخل نسته)

وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ: جمهور مفسرینو په دی کی حرف دَ، مَا، ته دنفی دپاره مقرر کی او دا ترجمه یی کړي ده چی نه دی جوړی کړی دا میوی ددی خلګو لاسونو ، دی جملی غافل انسان په دی خبردار کړی دی چی لږ څه په خپل کار او محنت کی غور وکړه چی ستا کار په دی باغ اوبهار کی ددی څخه ماسوا څه دی چی تاپه مخکه کی تخم واچوی اوبه دی ورکړی ، مخکه دی نرمه کړه چی نازك تیغ ته په راوتلو کی څنډ پیدا نه سی ، مګر ددی تخم څخه درخته شنه کول ، د درختی پانی اوښاخونه را ایستل ، بیاپه دی کی قسم قسم میوی پیدا کول ، په دی تولو شیانو کی ستاځه دخل دی.

دا خو خالص دقادرِ مطلق حکیم او دانا کار کیدی سی ، په دی وجه ستا فرض دی چی ددی شیانو څخه دفائدی اخیستو په وخت کی ددی خالق اومالك هیرنه کړی ، ددی په شان په سورة واقعه کی آیت دی ، أَفَرَأَيْتُمْ مَا تَحْرُثُونَ ۝ أَأَنْتُمْ تَزْرَعُونَهُ أَمْ نَحْنُ الزَّارِعُونَ، یعنی وګوری چی کوم شی تاسی کری ددی په نشو او نما کولو درخته تاسی ورڅخه جوړه کړي ده که مونږ، لنډه دا سوه چی که څه هم ددی میوو په جوړولو کی د انسان څه دخل نسته ، مګر مونږ په خپل فضل سره دا پیدا هم کړی او انسان مو ددی مالك هم جوړ کی او ده ته مو ددی دجوړلو او دفائدی پورته کولو سلیقه هم وښوولە.

(دانسان په غذا او دحیوانانو په غذا کي خاص فرق)

او ابن جریر وغیره څینی مفسرینو په مَا عَمِلَتْهُ کی لفظ دَمَا دنفی دپاره نه بلکه اسم موصول په معنی دَالَّذِي مقرر کړی دی او دا ترجمه یی کړي ده چی دا تول شیان یی څکه پیدا کړی دی چی خلګ ددی میوی وخوری اوهغه شیان هم وخوری کوم چی ددی بوټو اومیوو څخه په خپله انسان دخپلو لاسونو په کسب اوعمل سره تیار وی ، مثلاً دمیوو څخه قسم قسم حلوه ګانی ، اچار، چټنی تیارول او دځینو میوو څخه تیل ایستل کوم چی دانسانی کسب اوعمل نتیجه ده ددی مطلب به دا وی چی دا میوی کومی چی قدرت جوړی کړی دی بغیردځه کسب اوعمل اوانسانی تصرف څخه هم دخوړلوقابلی جوړی دی اوانسان ته الله ﷻ دا سلیقه هم ورکړي ده چی دیوی یوی میوی څخه قسم قسم خوندناك اومفید شیان تیارکړی په دی صورت کی دمیوو پیدا کول او انسان ته ددی سلیقه ورکول یوه میوه دنورو شیانو سره مرکبه کړی او قسم قسم دخوراك خوندناك اوفائده مند شی تیار کړی ، دا دوهم نعمت دی . ابن کثیر دابن

Maktaba Tul Ishaat.com

جریر ددی تفسیر نقل کولو څخه وروسته فرمایی چی ددی تفسیر تائید دحضرت عبدالله بن مسعود ؓ دقرآئت څخه هم کیږی ځکه چی د دوی په قرآئت کی دلفظ دما پرځای مِمَّا راغلی دی ، یعنی مِمَّا عَمِلَتْ أَيْدِيهِمْ : ددی تفصیل دا دی چی ددنیا ټول حیوانات هم نباتات اومیوی خوری ځینی حیوانان غوښی خوری اوځینی خاوری خوری ، لیکن ددی ټولو حیوانانو خوراك دمفرداتو څخه دی ، گیاه خوړونکی خالصه گیاه غوښه خوړونکی خالصه غوښه خوری ، دا شیان دنورو شیانو سره مرکب کول اوقسم قسم خوراکونه تیارول ، مالگه ، مرچ، خوارِه تروه وغیره مرکب سی دیو خوراك لس قسمونه جوړیږی ، دا مرکب خوراك صرف دانسان دی ، ده ته دمختلفو شیانو څخه دیومرکب خوراك تیارولو سلیقه ورکول سوي ده ، دا دغوښی سره دمالگی مرچ اومصالی او دمیوو سره دشکری وغیره څلط کول دانسان کاریگری ده کومه چی الله ﷻ دده ته ښوولی ده دقدرت ددی عظیم الشانه نعمتونو اوپه دی کی دقدرت دکاریگری دبی مثاله ایتونو ذکر کولو څخه وروسته په اخرکی فرمایی ، أَفَلَا يَشْكُرُونَ : ایا دا عاقلان خلگ دا ټول دلیدو څخه وروسته شکر گذاری نه کوی ، مخ ته ددی مخکی دپیداوار او دآب وهوا دذکر څخه وروسته انسان اوحیوان شاملوی دقدرت مطلقه دیوی بلی نښانی څخه یی خبردار کوی ، سُبْحَانَ الَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنْبِتُ الْأَرْضُ وَمِنْ أَنْفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُونَ : په دی کی لفظ دازواج دزوج جمع ده کوم چی دجوړی په معنی کی راځی ، په جوړه کی دوه متقابل شیان وی ، په دوی کی هریوه ته دبل زوج ویل کیږی ، لکه په سړی اوښځه کی سړی ته دښځی اوښځی ته دسړی زوج ویل کیږی ، دغه ډول په حیواناتو کی نر اوماده دیوبل زوج دی ، دنباتاتو په ډیرو درختوکی هم دنر اومادی ادراك سوی دی ، دخرماؤ او پپیته په درختوکی خو مشهور اومعروف دی ، په نوروکی که هم وی نو څه بعیده نه ده لکه چی دسائنس په نوو تحقیقاتوکی په ټولو میوه دارو اوګلدارو درختو کی نر اوماده وی ، په دوی کی توالد اوتناسل ښوول سوی دی ، دغه ډول که دا مخفی سلسله په جماداتو اونورو مخلوقاتوکی هم وی نو څه بعیده ده، دکوم طرف ته چی په ، وَمِمَّا لَا يَعْلَمُونَ : کی اشاره پیدا کیدی سی او په عام طور سره مفسرینو حضراتو ازواج په معنی داقسام لیکلی دی ، ځکه چی لکه څنګه چی نر اوښځی ته په خپل مینځ کی زوجین ویل کیږی ، دغه ډول دوو متقابلو شیانو ته هم زوجین وایی ، لکه یخ گرمی ، خشکی تری ، رنځ خوشی ، ناروغی تندرستی ، بیا په دوی کی په هریوه کی دننه داعلی ادنی اومتوسط په اعتبار سره ډیری درجی اوانواع اواقسام جوړیږی ، دغه ډول په انسانانو اوحیوانانوکی درنګ اوهیئت اوژبی اوطرزِ معاشرت په اعتبار سره ډیر انواع اواقسام دی ، لفظ دازواج دی ټولو انواعو اواقسامو ته شامل دی ، په ذکر سوی آیت کی اول خود ، مِمَّا تُنْبِتُ الْأَرْضُ : یعنی دانواع اواقسام نباتاتو بیان بی فرمایلی دی ، ددی څخه وروسته دَ، مِنْ أَنْفُسِهِمْ : یعنی په خپله دانسانی نفسونو دانواعو اواقسامو ذکر دی او ددی څخه وروسته په ، مِمَّا لَا يَعْلَمُونَ : کی هغه په زرګونو مخلوقات شامل دی دکومو چی ترنه پوری هم مخلوق ته انکشاف نه دی سوی الله ﷻ دپوه دی چی دمخکی په بیخ کی او په دریابونو او غرونو کی څومره انواع او اقسام حیوانات نباتات اوجمادات دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

وَآيَةٌ لَهُمُ اللَّيْلُ نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ : دمخکی په مخلوقاتو کی دقدرت خداوندی دبیان فرمایلو څخه وروسته داسمانی اوافاقی مخلوقاتوذکردی دَ، سَلخ، لفظی معنی، دځرمنی ایستل دی ، دیو حیوان څخه سربیره ځرمن یاترنوروشیانولورغلاف چی لیری سی نودننه شی ښکاره سی الله ﷻ (په دی مثال کی اشاره فرمایلی ده ، چی په دی جهان کی اصل خو ظلمت اوتیاره ده ، رڼا عارضی ده کومه چی دسیاراتو اوستورو په ذریعه مخکی ته را خپریږی په تقدیری نظام کی په مقرر وخت دارڼا کومه چی ددنیا پرتیاره باندی راکښته سوی وی ، دا دلورِ څخه لیری کیږی نو ظلمت اوتیاره پاته سی ، هغه ته په عرف کی شپه وایی .

وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَهَا ذَلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ : دایت مفهوم دا دی چی لمر روان وی دخپل مستقر طرف ته ، مستقر دقرار ځای ته هم ویل کیږی او وخت دقرار ته هم یعنی مستقر زمانی هم کیدی سی ، مکانی هم او لفظ دمستقر په انتها دسیر اوسفر کی هم راځی ، که څه هم چی ددی سره بغیر دځه وقفی اوسکون څخه بله دوره شروع سی (ذکره ابن کثیر)

ځینی مفسرینو حضراتو خو دلته دمستقر څخه مستقر زمانی مراد اخیستی دی یعنی هغه وخت کله چی لمر خپل مقرر حرکت پوره کړی اوختم کړی او دغه وخت دقیامت ورځ ده ، په دی تفسیر دایت معنی دا ده چی لمر په خپل مدار باندی په داسی مضبوط اومحکم نظام سره حرکت کوی ، په کوم کی چی دیوه منټ یوه سکنډ فرق نه راځی ، په زرګونو کلونه په دی طریقه باندی تیرسوی دی مګر دا ټول دائمی نه دی ، ددی یوخاص مستقر دی ، کوم ځای ته چی په رسیدو به دانظام شمسی اوحرکت بند اوختم سی او دغه دقیامت ورځ ده دا تفسیر دحضرت قتاده (څخه نقل دی (ابن کثیر)

او دقرآن کریم دسورة زمر دیو ایت څخه هم ددی تائید کیږی چی دمستقر څخه مراد مستقر زمانی یعنی ورځ دقیامت ده ، دسورة زمر ایت دا دی ، خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ يُكَوِّرُ اللَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُسَمًّى : په دی آیت کی هم تقریبًا دغه بیان دی ، کوم چی دسورة یٰس ددی ذکر سوی آیت دی چی اول یی دشپی ورځی انقلاب دعوامی نظر مطابق په یوتمثیل سره بیان کړی دی چی الله ﷻ (شپه په ورځی پټوی او ورځ په شپه ، ګویا شپی او ورځی ته یی په دوو غلافونو سره تشبیه ورکړې ده ، دشپی غلاف په ورځی راغورول کیږی نو شپه سی او دورځی غلاف په شپه راغورول کیږی نو ورځ سی ددی څخه وروسته فرمایی چی لمر اوسپوږمی دواړه الله ﷻ (مسخر اوتابع فرمان دی ، په دوی کی هر یو دیو خاص میعاد دپاره چلیږی ، دلته دَ، أَجَلٍ مُسَمًّى : الفاظ دی چی معنی یی میعاد معین دی اومعنی دایت دا ده چی لمر اوسپوږمی د دواړو حرکت دائمی نه دی ، یو معین میعاد یعنی دقیامت ورځی ته به رسیږی ، ختم اوقطع کیږی به ، دسورة یٰس په ذکرسوی آیت کی هم ظاهره ده چی دلفظ دمستقر څخه دا معین میعاد یعنی مستقر زمانی مراد دی ، په دی تفسیرکی نه دایت په مطلب او مراد کی څه اشکال دی نه دهیئت او ریاضی دقاعدو څه اعتراض .

اوځینی مفسرینو حضراتو ددې څخه مراد مستقر مکانی اخیستی دی چی بنایی په یو حدیث باندی ده ، کوم چی په صحیحینو بخاری اومسلم کی دډیرو اصحابو څخه په ډیرو سندونو سره نقل دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دحضرت ابوذر غفاری ﷺ ډخه روایت دی چی یوه ورځ دنبی کریم ﷺ سره دلمر دپریوتو په وخت کی په جمات کی حاضروو ، حضور ﷺ ورته خطاب وکی اوپوښتنه یی ورڅخه وکړه چی ابوذره ﷺ ته پوهیږی چی لمرکوم ځای لویږی فرمایی چی ماعرض وکی چی الله ﷻ او دهغه رسول زیات پوهیږی ، په دی باندی حضور ﷺ وفرمایل چی لمر روان وی ، تردی چی دعرش لاندی ورسیږی اوسجده کوی . بیایی وفرمایل چی په دی آیت کی دمستقر څخه مراد دا دی ، وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَهَا ، دحضرت ابوذر ﷺ په یو روایت کی دا الفاظ هم دی چی ما دنبی کریم ﷺ ډخه دَ ، وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَهَا ، دتفسیر پوښتنه وکړه نودوی وفرمایل ، مُسْتَقَرُّهَا تَحْتَ الْعَرْشِ : بخاری دا روایت په ډیرو ځایونو کی ذکر کړی دی ، او دابن ماجه څخه علاوه په ټولو شپږو کتابونو کی دا روایت موجود دی .

اودحضرت ابن عمر ﷺ ډخه هم ددی مضمون حدیث نقل دی ، په دی کی څه زیادت سته چی مطلب یی دا دی چی روزانه لمر دعرش لاندی رسیږی اوسجده کوی او دنوی دوری اجازت طلب کوی چی اجازت پیدا کی نو نوی دوره شروع کی تردی چی یوه ورځ به داسی راسی چی ده ته به دنوی دوری اجازت ورنه کول سی ، بلکه داحکم به ورته سی چی دکوم طرف څخه راغلی یی هغه طرف ته ولاړسه ، یعنی مغرب طرف ته دمخکی لاندی ولاړسه او دمغرب څخه راوخیژه ، په کومه ورځ چی داسی اوسی نو دا به دقیامت بالکل دنژدی کیدو علامه وی او دغه وخت به دتوبی کولو اوایمان راوړلو دروازه بنده سی ، دغه وخت به دیوه ګناه کوونکی دګناه څخه اودکفر کوونکی دکفر څخه توبه قبوله نه وی (ابن کثیر بحواله عبد الرزاق)

(دلمر تو عرش لاندی دسجدی کولو تحقیق)

دحدیث ددی روایتونو څخه معلومیږی چی دمستقر څخه مراد مکانی مستقر دی ، یعنی هغه ځای کوم ځای چی دلمر دحرکت یوه دوره پوره سی او دا هم معلومه سوه چی هغه ځای تحت العرش دی ، په دی صورت کی مطلب دایت به دا وی چی هره ورځ لمر دیو خاص مستقر طرف ته څی ، بیا هلته چی ورسیږی نو الله ﷻ ډته سجده وکړی اودبلی دوری اجازت غواړی ، چی اجازت ورته دبلی دوری وسی نو بله دوره شروع کوی ، لیکن واقعات اومشاهدات او دهیئت او دفلکیاتو دبیان سوو اصولو په بنا په دی کی ډیر قوی اشکالات دی .

اول دا چی دعرش رحمٰن کوم کیفیت چی په قرآن اوسنتو سره معلومیدل کیږی هغه دا دی چی عرش په ټولو مخکو او اسمانونو باندی محیط دی ، دا مخکه اوټول آسمانونه سره دسیارو اوستورو ټول په عرش کی دننه محصور دی اوعرش رحمٰن دا ټول اسمانی کائنات په خپل څان کی ځای کړی دی ، په دی لحاظ سره لمر خو همیشه په هرحال اوهروخت کی ترعرش لاندی دی ، بیا دغروب څخه وروسته دعرش لاندی دتللو به څه مطلب وی ؟

دوهم دا چی عامه مشاهده ده چی لمر کله یوځای لویږی ، بل ځای را وخیژی ، په دی وجه ختل او لویدل دده په هروخت او هرحال کی جاری دی ، بیا دلویدو څخه وروسته دعرش لاندی دتلو اوسجده کولو څه معنی ده ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

دریم دا چی ددی حدیث دظاهر څخه خو دا معلومیږی چی لمرخپل مستقرته ورسیږی ، وقفه کوی چی په دی کی دالله ﷻ (په مخکی سجده وکړی دبلی دوری اجازت اخلی حال دا دی چی دلمر په حرکت کی یو وخت هم انقطاع نه راتلل ښکاره مشاهده ده ، اوبیا چونکه دلمر ختل اوپریوتل خو دمختلفو مقاماتو په اعتبار سره هر وخت کیږی، نو دا وقفه اوسکون هم هر وخت کیدل په کار دی ، چی نتیجه به یی دا وی چی لمر په یو وخت هم حرکت نه کوی .

دااشکالات صرف دریاضی اوفلکیاتو دفنونو څخه دی ، بلکه مشاهدات اوواقعات دی چی نظر ورڅخه نه سی اړول کیدی ، او په فنی اعتبار سره دفلك الافلاك تابع دلمر روزانه حرکت اودلمر په څلورم آسمان کی مرکز کیدل کومه چی بطلیموسی نظریه ده چی ددی خلاف ددی څخه مخکی هم فیثاغورث ددی نظریی مخالفت کړی وو اونن صبا نوی تحقیقاتو دبطلیموسی نظریی غلطی او دفیثاغورث دنظریی صحیح کیدل یقین ته نژدی کړی دی ، اوحالیه خلایی سفرونه اوسپوږمی ته دانسان درسیدو واقعاتو دومره خبره خو یقینی کړې ده چی تولی سیاری دآسمان څخه لاندی په فضاکی دی ، په آسمانونوکی دننه مرکز نه دی ، دقرآن کریم آیت کوم چی نژدی راروان دی ، وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ : ددی څخه هم ددی نظریی تحقیق کیږی په دی نظریه کی داهم دی چی داروزانه ختل اولویدل دلمر په حرکت سره نه دی بلکه دمځکی په حرکت سره دی ددی فنی نظریی په اعتبارسره په ذکرسوی حدیث کی یوبل اشکال زیاتیږی .

ددی په جواب باندی دځان پوهولو څخه اول دا دنظر په مخکی ساتل په کار دی چی ترڅو پوری دذکر سوی آیت وضاحت دی ، په دی باندی دذکر سوو شبهو اواشکالاتو څخه په قرآن هیڅ اشکال هم نه راځی ددی مطلب خو صرف دومره دی چی لمر الله ﷻ (په یو داسی منظم اومستحکم حرکت باندی لګولی دی چی دی دخپل مستقر طرف ته برابرپه یوحالت روان دی که ددی مستقرڅخه مراددحضرت قتاده (دتفسیرمطابق مستقر زمانی واخیستل سی یعنی دقیامت ورځ نومعنی ددی دا ده چی دلمر داحرکت به ترقیامته پوری دائمی په یوه حال روان وی ، بیابه په دغه ورځ ختم سی ، اوکه مستقر مکانی ورڅخه مرادسی ، نو هم ددی مستقر دمدارِ شمسی دی نقطی ته ویل کیږی دکوم ځای څخه چی داول پیدائش په وخت کی لمر حرکت شروع کی ، دغه نقطی ته چی رسیږی دده دیوی شپی ورځی یوه دوره مکمل کیږی ، ځکه چی دا نقطه دده دسفر انتهاده ، دی ته په رسیدو دده نوی دوره شروع کیږی ، پاته سوه دغه عظیم الشانه دائره چی دا نقطه کوم ځای اوځنګه ده ؟ دکوم ځای څخه چی دلمر دحرکت ابتداء دپیدائش څخه شروع سوه ، قرآن په دی قسم فضولو بحثونوکی انسان نه مبتلوی چی تعلق یی دده دینی یادنیوی فائدی سره نه وی ، دا ددی قسم بحث دی ، په دی وجه دا یی پرینښووی ، قرآن کریم داصل مقصد طرف ته توجه راوګرځوله او دغه مقصد دحق تعالی دقدرت اوکامل حکمت دخاصو مظاهرو بیان دی چی په دی جهان کی دتولو څخه لوی او دتولو څخه زیاته روښانه کره لمر دی ، دا هم نه په خپله جوړه سوي ده او نه په خپله دده څه حرکت پیدا کیږی ، نه باقی پاته کیدی سی ، هغه په دی خپل شپه ورځ حرکت کی هر وخت دالله ﷻ داجازی اومشیت تابع چلیږی .

څومره اشکالات چی لوړ لیکل سوی دی ، دذکر سوو ایتونو په بیان باندی ددی څخه یوه شبهه اواشکال

Maktaba Tul Ishaat.com

نسته ، البته په ذکرسوو احادیثوکی چی کوم دا راغلی دی چی هغه دپریوتو څخه وروسته ترعرش لاندی رسیږی سجده کوی اودبلی دوری اجازت غواړی ، دا ټول اشکالات ددی سره متعلق دی او ددی آیت لاندی دا بحث څکه وخیړل سو ، چی دحدیث په څینو الفاظوکی ددی آیت حواله هم ورکول سوې ده ، ددی جوابونه محدثینو او مفسرینو حضراتو مختلف ورکړی دی ، دظاهری الفاظو په اعتبار سره چی کومه دا ګڼل کیږی چی دلمر دا سجده په شپه او ورځ کی صرف یو وار وروسته دغروب څخه وی ، کومو حضراتو چی حدیث په دی ظاهری مطلب باندی محمول کړی دی ، هغوی دغروب متعلق دری احتمالہ بیان کړی دی ، یوه دا چی دمعمورهٔ معظم غروب مراد وی یعنی دهغه مقام دکوم ځای په پریوتو باندی چی ددنیا په اکثری ابادی کی غروب وی یادخط استواء غروب یا دمدینی دافق غروب ، دغه ډول دا اشکال نه پاته کیږی چی دلمرغروب اوطلوع خو هروخت په هر آن کی وی ، څکه چی په دی حدیث کی دیو خاص افق دغروب خبره سوې ده ، لیکن صفا اوبی غباره جواب هغه معلومیږی کوم چی حضرت استاد علامه شبیر احمد عثمانی رحمه‌الله په خپله مقاله ، سجود الشمس، کی اختیار کړی دی او دتفسیر دډیرو امامانو دکلام څخه ددی تائید کیږی .

په دی باندی دپوهیدو څخه اول دا اصولی خبره دپیغمبرانه تعلیماتو اوتعبیراتو په حقله زده کول ضروری دی چی اسمانی کتابونه او ددی راوړونکی انبیاء علیهما السلام دخدای مخلوق ته دآسمان اومځکی په مخلوقاتوکی دغور اوفکر اوتدبر طرف ته مسلسل دعوت ورکوی او د دوی څخه دالله ﷻ په وجود ، توحید ، علم اوقدرت باندی استدلال کوی ، مګر په دی شیانوکی تدبر ترهغه حده پوری مطلوب شرعی دی ، ترکوم حده پوری چی ددی تعلق دانسان ددنیوی اومعاشرتی ضرورت سره یا ددینی اواخروی ضرورت سره وی ددی څخه ماسوا صرف دفلسفیانه باریکو اوداشیاؤ دحقیقتونو دپته لګولو په فکر کی عام مخلوق نه سی غورځول کیدی څکه چی اول خو داشیاوو دحقیقت مکمل حقیقی علم په خپله حکماوو او فلاسفرانو ته هم سره دعمرونو صرف کولو نه دی سوی ، عوام عاجزان په کوم شمیرکی دی ، بیاکه دا حاصل هم سی او په دی سره نه د دوی څه دینی ضرورت پوره اونه څه صحیح دنیوی مقصد ورڅخه حاصل سی نو په داسی لا یعنی اوفضول بحث کی دخل ورکول دعمر ضائع کولو اومال ضائع کولو څخه ماسوا نور څه دی .

دقرآن اوانبیاء استدلال دآسمان اومځکی دمخلوقات او د دوی دتغیراتو او انقلاباتو څخه صرف تردی حده پوری وی کوم چی دهر انسان په مشاهده اوادنی غور اوفکر سره حاصل سی دفلسفی او ریاضی فنی باریکی کوم چی صرف حکماء اوعقلاء کولی سی ، نه په هغه ددلیل مدار اینبوول کیږی اونه په هغه کی دغور اوفکر ترغیب ورکول کیږی ، څکه چی په خدای ﷻ باندی ایمان او دده په پیغام عمل دهرانسان فرض دی ، عالم وی اوکه جاهل ، سړی وی اوکه ښځه، ښاری وی که کلی وال ، یوځای په غره اوجزیره کی اوسیږی اوکه په متمدن ښارکی ، په دی وجه پیغمبرانه تعلیمات دعوامو دنظر اودهغوی دعقل او فهم مطابق وی ، په کوموکی چی دځه فنی مهارت ضرورت نه وی .

دلمونځونو دوختونو پیژندل ، دقبلی طرف متعین کول ، دمیاشتو او کلونو او تاریخونو پوهه ، ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

ټولو شیانو علم دریاضی دحسابونو په ذریعه هم حاصلیږی، مګر اسلامی شریعت په دی کی دیوه شی مدار دریاضی پرفنی تحقیقاتو دایښوولو پرځای پرعامو مشاهداتو اینبی دی دمیاشتو اوکال او د دوی تاریخونه یی په قمری حساب سره کښینبوول، اودمیاشتی دکیدو اونه کیدو مدار یی صرف دمیاشتی په لیدو اومشاهده باندی کښینبووی، دروژو اوحج ورځی یی په دی بنیاد سره متعینی کړی، دسپوږمی دکمیدو زیاتیدو اوبیا دراختو راز ځینو خلګو دنبی کریم ﷺ څخه معلوم کی، نو ددی جواب قرآن دا ورکی چی، قُلْ هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ : یعنی ته ووایه چی دسپوږمی دا ټول تغیرات ددی مقصد دپاره دی چی تاسی ددی څخه دمیاشتی شروع کیدل اوختمیدل او ددی تاریخونه معلوم کړی، دحج وغیره ورځی متعینی سی، دی جواب دوی په دی خبردار کړل چی ستاسی سوال لا یعنی اوفضول دی، ددی په حقیقت معلومولو پوری ستاسی هیڅ کار ددنیا یا ددین پیوست نه دی، په دی وجه سوال دهغه شی کوی دکم چی تعلق ستاسی ددینی یا دنیوی ضرورت سره وی.

ددی تمهید څخه وروسته په اصل معامله باندی فکر وکی چی په ذکر سوو ایتونوکی حق تعالی دخپل قدرت کامله اوحکمت بالغه دیوځو مظاهرو ذکرکړی دی، انسان ته یی دالله ﷻ په توحید اوعلم اوقدرت کامله دایمان راوړلودعوت ورکړی دی، په دی کی یی دټولو څخه اول دمځکی ذکر وکی کومه چی هروخت زمونږ په مخکی ده. وَآيَةٌ لَّهُمُ الْأَرْضُ : بیا په دی داوبو اورولو، درختو اوبوټو دټوکولو ذکر یی وکی کوم چی هرانسان وینی اوپوهیږی په، اَحْيَيْنٰهَا الاية، ددی څخه وروسته یی دآسمان اواسمانی فضاء متعلق دشیانو ذکر شروع کی، اول یی دشپی ورځی دَروزانه انقلاب ذکر وکی فرمایی، وَآيَةٌ لَّهُمُ الَّيْلُ الاية ددی څخه وروسته دلمر اوسپوږمی کوم چی په سیارو اوستوروکی دټولوځخه لوی ستوری دی دَدی ذکر فرمایی، په دوی کی اول دلمر متعلق فرمایی، وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ذٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ : په دی کی فکر وکی چی مقصد ددی دا ښوول دی چی لمر خودبخوده په خپله اراده اوخپل قدرت سره نه چلیږی بلکه دا دیو عزیز علیم یعنی قدرت والا اوپوه دمقرر کړی انتظام تابع چلیږی، نبی کریم ﷺ لمر پریوتو ته نژدی حضرت ابوذر غفاری ﷺ ته دَیو سوال اوجواب په ذریعه په دی حقیقت دپوهولو هدایت وفرمایی چی په دی کی یی داوښوولو چی لمر دغروب څخه وروسته ترعرش لاندی الله ﷻ ته سجده کوی، اوبیا دمخ کی دوری شروع کولو اجازت غواړی، هرکله چی ورته اجازت ورکول سی، نو ددستور مطابق مخ ته روان سی اوسهارته دمشرق څخه راوخیژی، ددی مطلب ددی څخه زیات نسته چی دلمر دختو اوغروب په وخت کی یونوی انقلاب په عالم دنیا کی راځی، چی مداریی پرلمر باندی وی رسول الله ﷺ دا انقلابی وخت دانسانی خبرداری دپاره موزون وګڼی اودا تلقین یی وفرمایی چی لمر خودمختار په خپل قدرت سره چلیدونکی مه ګڼی، دا صرف دالله ﷻ په اذن اومشیت تابع چلیږی، دده هرځل اوپریوتل دالله ﷻ په اجازت سره وی، دی ددی اجازت تابع دی، ددی تابع فرمان حرکت کول یی دده سجده مقرره کړه، ځکه چی سجده دهرشی دده دحال مناسبه وی، لکه قرآن په خپله وضاحت فرمایلی دی، كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُ وَتَسْبِيحَهُ : یعنی ټول مخلوق دالله ﷻ په عبادت اوتسبیح کی مشغول دی

Maktaba Tul Ishaat.com

مګر دهریوه دعبادت اودتسبیح طریقه جلا جلاده اوهر مخلوق ته د ډوی دعبادت طریقه ښوول کیږی، لکه څنګه چی انسان ته دده لمانځه دتسبیح طریقه ښوول سوي ده ، په دی وجه دلمر دسجدی دامعنی ګڼل چی هغه به دانسان دسجدی په شان په مځکه دتندی په ایښوولو سره وی صحیح نه ده.

اوهرکله چی دقرآن اوسنت دوضاحت مطابق عرش خداوندی ټول آسمانونه سیاری اومځکی راګیر کړی دی نودا ظاهره ده چی لمر هروخت په هرځای کی ترعرش لاندی دی اوکله چی تجربه شاهده ده چی لمرځ وخت یوځای غروب سی نوبل ځای طلوع هم کیږی ، په دی وجه دده هروخت دطلوع اوغروب څخه خالی نه دی نودلمر ترعرش لاندی راتلل هم دائمی په هرحال کی دی اوطلوع اوغروب کیدل هم په هرحال کی دی ، په دی وجه دحدیث دمضمون حاصل دا سو چی لمر په خپله پوره دوره کی ترعرش لاندی دالله ﷻ په مخکی سجده کوونکی وی ، یعنی دده داجازت اوفرمان تابع حرکت کوی اودا سلسله دغه وخت قیامت ته ترڅو دی پوری به چلیږی تردی چی قیامت ته بالکل دنږدی نښانو ظاهرولو وخت به راسی نولمر به پرخپل مدار باندی دمخکی دوری شروع کولو پرځای به ولاړ ته دواپس کیدو حکم وسی اودی به یې دمغرب دطرف څخه راوخیږی ، دغه وخت به دتوبی دروازه بنده سی ، دچا ایمان اوتوبه به دغه وخت یې نه قبلیږی.

لنډه داچی دلمر دغروب تخصیص اوددی څخه وروسته دعرش لاندی تلل اوهلته سجده کول اودمخکی دوری اجازت غوښتلو چی کوم واقعات په دی روایت کی ښوول سوی دی ، هغه دپیغمبرانه موثر تعلیم په مناسبت سره بالکل دعوامی نظرپه اعتبار سره یوتمثیل دی ، نه ددی څخه دالازمیږی چی دادانسان په شان په مځکه سجده کوی اونه دسجدی په وخت کی دلمرپه حرکت کی څه وقفه راتلل لازمیږی اونه دامراد دی چی هغه په ورځ شپه کی صرف یوه سجده پریو خاص ځای کوی اونه داچی هغه صرف دغروب په وخت کی تر عرش لاندی راځی ، مګرپه دی انقلابی وخت کی کله چی ټول عوام داوینی چی لمر زمونږ څخه غائب کیږی ، دغه وخت په طور دتمثیل دوی په دی حقیقت باندی خبر سول چی دا څه چی کیږی ، دغه په حقیقت کی دلمر دعرش لاندی په تابع فرمان تللو سره کیږی ، لمرپه خپله څه طاقت اوقدرت نه لری نوځنګه چی داوخت دمدینی خلګو پرخپل ځای دامحسوس کوله چی اوس لمر سجده کوی ، دبلی دوری اجازت اخلی ، دغه شان کوم کوم ځای چی دی غروب کیږی ، دټولو دپاره دسبق حاصلولو تلقین وسو اودمعاملی حقیقت دا راووتی چی لمر په خپل مدار دحرکت په درمیان کی هروخت الله ﷻ ته سجده هم کوی اومخ ته دتللو اجازت هم غواړی اوددی سجدی اواجازت دپاره ده ته دځه سکون اووقفی ضرورت نه وی.

په دی تقریر باندی په ذکر سوی حدیث کی نه دمشاهداتو په وجه سره څه شبهه کیږی ، نه دقواعدو دهیئت اوریاضی په اعتبار سره ، او په نظام شمسی او دسیارو په حرکت کی بطلیموسی تحقیق صحیح وی یا فیثاغورث والا تحقیق دکوم چی په نوو تحقیقاتو سره تائید سوی دی ، په دواړو صورتونوکی پرذکر سوی حدیث باندی څه شبهه او اشکال باقی نه پاتیږی

پاته سو داسوال چی په ذکرسوی حدیث کی چی کوم [illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

کوی مذکوردی ، داکار خو دحیات اوعلم اوعقل دی ، لمر او سپوږمی بی جانه ، بی شعوره مخلوقات دی ، د دوی څخه داکارونه څنګه صادر سول ، نو ددی جواب دقرآن دایت ، وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ : لاندی تیر سوی دی ، چې مونږکوم شیان بی جان ، بی عقله اوبی شعوره ګڼو ، هغه هم په حقیقت کی دروح اوجان اوعقل اوشعور یوخاص حصه لری ، البته د دوی حیات اوعقل اوشعور دانسان اوحیوان په مقابل کی کم او دومره کم دی چې عام احساسات یی ادراك نه سی کولی مګر ددی په نفی هم څه شرعی یاعقلی دلیل موجود نه دی اوقرآن کریم په دی ذکر سوی آیت کی دروح عقل اوشعور خاوندان کیدل ثابت کړی دی او نورو تحقیقاتو هم دا تسلیم کړي ده . والله تعالی اعلم

فائده : دقرآن اوحدیث دذکر سوو وضاحتونو څخه دا خبره په واضح طورسره ثابته سوه چې لمر اوسپوږمی دواړه متحرك دی اودیو میعاد دپاره چلیږی ، په دی سره ددی نظر یی نفی کیږی کومه چې دلمر حرکت نه تسلیموی اونوو تحقیقاتو په خپله هم دا غلطه ثابته کړي ده .

وَالْقَمَرَ قَدَّرْنَاهُ مَنَازِلَ حَتَّى عَادَ كَالْعُرْجُونِ الْقَدِيمِ : عرجون دخرما درختی وچ ښاخ ته ویل کیږی کوم چې کوږ سی دلیندی په شان سی .

منازل قمر: مَنَازِلُ دَمَنزِل جمع ده ، دنزول ځای ته منزل ویل سوی دی ، حق تعالی دسپوږمی اولمر دواړو درفتار دپاره خاص حدونه مقرر کړی دی ، په کومو کی چې هر یوه ته منزل ویل کیږی ، سپوږمی چونکی خپله دوره په یوه میاشت کی پوره کوی په دی وجه ددی منزلونه دیرش یایوکم دیرش دی ، مګر چونکی په هره میاشت کی سپوږمی کم از کم یوه ورځ غائبه وی ، په دی وجه ددی منزلونه اته ویشت ویل کیږی دهیئت اوریاضی خاوندانو ددی منزلونو خاص خاص نومونه دهغو ستوروپه مناسبت سره ایښی دی کوم چې ددغو منزلونو په برابر پیدا کیدی سی ، دعربو په جاهلیت کی به هم په دغو نومونو سره دمنزلونو تعین کیدی سوای ، قرآن کریم ددغو اصطلاحی نومونو څخه بالاتر دی ، دده مراد صرف هغه فاصلی دی کومی چې سپوږمی په خاصو خاصو ورځوکی قطع کوی ، په سورة یونس کی ددی تفصیل تیر سوی دی ، هلته یی وګوری .

دسورة یونس په آیت کی دلمر او سپوږمی دواړو دمنزلونو ذکر دی ، جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاءً وَالْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُ مَنَازِلَ : الآیة فرق دومره دی چې دسپوږمی منزلونه په مشاهده سره پیژندل کیږی او دلمر منزلونه په حساباتو سره په ، حَتَّى عَادَ كَالْعُرْجُونِ الْقَدِيمِ : کی دسپوږمی کیفیت یی دمیاشتی دآخر ښوولی دی ، هر کله چې دا دمکمل بدرکیدو څخه وروسته کمیږی کمیږی دیوی لیندی صورت اختیار کړی ، دعربو دماحول مناسب یی ددي مثال دخرماؤ دیوښاخ سره ورکړی دی کوم چې هلالی شکل اختیار وی .

وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ : یعنی لمر اوسپوږمی دواړه په خپل خپل مدارکی لامبو وهی ، دفلك لفظی معنی آسمان نه دی ، بلکه هغه دائری دی په کومه کی چې یوه سیاره حرکت کوی ، دا آیت په سورة انبیاء کی هم تیر سوی دی ، چې په هغه کی دا ښوول سوي ده چې ددی آیت څخه معلومه سوه چې سپوږمی په یو آسمان کی دننه مرکوزنه ده ، لکه چې په بطلیموسی نظریه دهیئت کی دی ، بلکه هغه دآسمان لاندی په

Maktaba Tul Ishaat.com

یوخاص مدارکی حرکت کوی او نن صبا نوو تحقیقاتو اوسپوږمی ته دانسان درسیدو واقعاتو دابالکل یقینی جوړه کړې ده .

وَاٰيَةٌ لَّهُمْ اَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ۝ وَخَلَقْنَا لَهُمْ مِّنْ مِّثْلِهٖ مَا يَرْكَبُوْنَ : اول دمخکی دمخلوقاتو بیا داسمانی بیان اوپه دوی کی دالله ﷻ دحکمت اوقدرت دمظاهرو بیان دی ، په دی آیت کی ددریاب او ددی سره په متعلقه شیانوکی دمظاهرو دقدرت ذکردی چی الله ﷻ کښتی دوزنی بار څخه ډکی داوبو په سطح دتللو قابلی جوړی کړی چی اوبه دا د ډوبولو په ځای لیری ملکونو ته رسوی ، اوپه آیت کی ارشاد دا دی چی مونږ د دوی اولاد په کښتیوکی سپاره کړل ، حال دا دی چی سپریدونکی په خپله دغه خلک وه ، د اولاد ذکر یی شاید څکه وکی چی دانسان لوی بار دده اولاد او بچی وی خصوصاً کله چی هغوی دتللو قابل نه وی اومطلب دایت دا دی چی صرف دا نه ده چی تاسی په خپله په دی کښتو کی سپاره سی بلکه کوچنی بچی او کمزوری سړی او د دوی ټول سامان دا کښتی پورته کوی اود ، وَخَلَقْنَا لَهُمْ مِّنْ مِّثْلِهٖ مَا يَرْكَبُوْنَ معنی دا ده چی دانسان دسپرلی اوبار برداری دپاره صرف کښتی نه ده ، بلکه دکښتیوپه شکل یی نوری سپرلی هم جوړی کړی دی ، ددی څخه عربو دخپل عادت مطابق اوښ مراد اخیستی دی څکه چی اوښ په باربرداری کی دټولو حیوانانو څخه زیات دی ، لوی لوی بارونه دشیانو اخلی او دملکونو سفرکوی ، په دی وجه عرب اوښ ته ، سفینة البر ، یعنی دوچی کښتی وایی .

(په قرآن کي دهوايي جهاز ذکر)

مګر ظاهره ده چی قرآن دلته د اوښ یادځه خاص سپرلی ذکر نه دی کړی، بلکه مبهم یی پرې اینبی دی چی په دی کی هره داسی سپرلی دا خله ده کومه چی دی او دده سامان اواسباب دزیات څخه زیات لورړوی اومنزل مقصودته یی رسوی ، ددی زمانی نوی ایجاد هوایی جهازونو داخبره واضحه کړه چی د، مِّنْ مِّثْلِهٖ دټولو څخه لوی مصداق هوایی جهازدی ، اودکښتی سره ددی مثال هم ددی زیات مؤید دی چی څنګه داوبو جهاز پراوبو لامبو وهی ، اوبه دا نه غرقوی هوایی جهازپه هوا لامبو وهی ، لاندی یی نه راغورځوی اوعجیبه نه ده چی قرآن حکیم په دی وجه ، مِّنْ مِّثْلِهٖ مَا يَرْكَبُوْنَ : مبهم پاته کړی وی چی ترقیامته پوری ایجاد کیدونکی ټولی سپرلی په دی کی شاملی سی . والله اعلم

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّقُوْا مَا بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۴۵﴾ وَمَا تَاْتِيْهِمْ مِّنْ

اوکله چی وویل سی دوی ته چی خان وساتی دهغه څخه چی ستاسی په مخکې دی اوڅه چی وروسته پریږدی چی په تاسی رحم وسی ، اوڅه حکم نه رسیږي دوی ته .

اٰيَةٍ مِّنْ اٰيٰتِ رَبِّهِمْ اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ﴿۴۶﴾ وَاِذَا قِيْلَ

دخپل رب دحکمونو څخه دکومو څخه چی دوی اعراض کوی ، اوکله چی وویل سی

لَهُمْ اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ ۙ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

دوی ته چی خرچ کوی دهغه څخه چی الله ﷻ درکړی وایی منکران مؤمنانو ته چی مونږ ولی دخورد

Maktaba Tul Ishaat.com

أَنُطْعِمُ مَنْ لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ أَطْعَمَهٗٓ ۖ إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٤٧﴾

داسی خلقوته چی که الله ﷻ غوښتی نو خورلی به یی وای پر ، تاسی خلق خو بالکل په ښکاره ګمراهی کی یاست

لنډتفسیر: اوکله چی دی خلګو ته (دلیلونه دتوحید اوپه دی دنه منلوپه صورت کی دعذاب وعده واوری) اوویل سی ورته چی تاسی خلګ دعذاب څخه بیریږی کوم چی ستاسی په مخکی دی (یعنی په دنیاکی راتلی سی ، لکه لوړ په آیت وَاِنْ نُّشَاْ نُغْرِقْهُمْ : کی بیان سوه چی دکښتی صحیح سالم منزل ته رسول دالله ﷻ په قدرت اومشیت سره دی هغه که وغواړی نوغرقولی یی سی ، غرض دا چی په دنیا کی دغرقیدو عذاب هم راتلی سی ، اوبل عذاب هم) اوکوم چی ستاسی څخه وروسته (یعنی دمرګ څخه وروسته په اخرت کی یقینی عذاب په تاسی راتلونکی دی برابره خبره ده که صرف په اخرت کی یاپه دنیاکی هم تاسی ددی عذاب څخه وبیریږی اوایمان راوړی) چی پرتاسی رحمت وسی (نو هغوی ددی ترهیب اوپه عذاب سره دبیرولو یوه ذره پروا نه کوی) آو (ددی خبری دنه منلو څه تخصیص دی هغوی خو داسی سنګدله سوی دی چی) د دوی درب دایتونو څخه څه آیت هم دوی ته داسی نه راځی چی دوی ورڅخه مخ نه اړوی او (څنګه چی دَعذاب په وعده سره دوی نه متاثره کیږی ، دغه شان دثواب اوجنت ترغیب هم دوی ته نفع نه ورکوی چنانچی) کله چی (دوی ته دالله ﷻ (نعمتونه وریادسی) دوی ته وویل سی چی الله ﷻ تاسی ته څه درکړی دی دهغه څخه (دالله ﷻ په لاره کی پرفقیرانو اومسکینانو) خرڅ کوی نو (دشرارت اومسخرو په طور) دا کفار دی مسلمانانوته (دکومو دپاره چی دالله ﷻ په لاره کی دخرڅ کولو دپاره ویل سوی وه) داسی وایی چی ایا مونږ داسی خلګو ته خوراك ورکی کومو ته چی خدای غوښتلی نو (دیر څه به یی) دخوراك دپاره ورکړی وای تاسی په صریح غلطی کی (پریوتلی) یاست .

معلومات اومسئلي: په تیرو ایتونو کی دالله ﷻ مظاهر قدرت اوحکمت په مخکه او آسمان وغیره کی بیان کړل دخدا شناسی اوتوحید دعوت یی ورکړی وو ، او ددی په قبلولو دجنت ددائمی نعمتونو او راحتونو وعده وه اوپه نه منلو یی دسخت عذاب وعده ، په دی ذکر سوو ایتونو او په دی پسی په راتلونکو ایتونوکی دمکی دکفارو دکجروئ بیان دی کوم چی بی له واسطی ددی مخاطب وه چی نه په دوی دترغیب دثواب اثر کیږی نه دترهیب دعذاب په دی سلسله کی دکفارو سره دمسلمانانو دوې مکالمی ذکر سوی دی چی کله مسلمانان دوی ته داوایی چی تاسی دالله ﷻ دعذاب څخه بیریږی کوم چی ستاسی مخکی په دنیا کی هم راتلی سی او ستاسی دمرګ څخه وروسته په اخرت کی خو خامخا راتلونکی دی که تاسی ددغه عذاب څخه وبیریږی اوایمان موقبول کی نوستاسی دپاره ښه ده ، مګر ددی په اوریدو سره هم اعتراض کوی ، دقرآن په الفاظوکی دلته د دوی داعتراض ذکر صراحةً په دی آیت کی ونه کی څکه چی په راتلونکی آیت کی دکوم مخ اړولو ذکر دی ددی څخه خودبخوده دلته هم اعراض کول ثابتیږی اوپه نحوی قاعدی سره دَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ، شرط جزاء، اَعْرَضُوْا، محذوف دی ، چی په محذوف کیدو باندی یی دراتلونکی آیت الفاظ شاهد دی چی دوی ته د دوی درب کوم آیت راځی دهغه څخه اعراض کوی .

Maktaba Tul Ishaat.com

(دالله ﷻ درزق ځینو ته دبالواسطه حاصلیدو حکمت)

دوهمه مکالمه دا ده چی کله مسلمانان کفاروته دغریبانو فقیرانو سره دامداد کولو اوږوته دَخوراک ورکولو دپاره وایی چی خدای ﷻ تاسی ته څه درکړی دی دهغه څخه محتاجانو ته څه ورکوی نودا خلګ په طور دمسخرو وایی چی کله تاسی دا وایاست چی رازق دتول مخلوق الله ﷻ دی اوهغه دوی ته نه دی ورکړی نومونږ یی ولی ورته ورکو ، تاسی چی مونږ ته دا نصیحت کوی چی مونږ دوی ته رزق ورکړو. داخو ستاسی ګمراهی ده چی زمونږ څخه رازقان جوړول غواړی ، دی کفاروهم که څه هم دالله ﷻ درازق کیدو اقرار کوی لکه چی په قرآن کریم کی دی ، وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُولُنَّ اللهُ : یعنی که ته ددی خلګو څخه پوښتنه وکړی چی دآسمان څخه اوبه چانازلی کړی چی په دی سره په مځکه کی نباتی ژوند پیدا سو اوقسم قسم میوی اوګلونه پروسوی ، نو دوی به اقرار وکی چی دا اوبه الله ﷻ نازلی کړی دی .

ددی څخه معلومه سوه چی دا خلګ هم الله ﷻ رازق منی ، مګر دمسلمانانو په جواب کی په طور دمسخرو یی دا وویل چی کله الله ﷻ رازق دی نو هغه به یی غریبانو ته هم ورکوی ، مونږ ولی ورکی . ګویا دی احمقانو دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کول اوغریبانو ته ورکول دالله ﷻ درازقیت منافی ګڼل اودایی نه ګڼله چی درزاقِ مطلق حکیمانه قانون دا دی چی یوانسان ته یی ورکوی دنورو دپاره دی واسطه جوړوی اوبالواسطه یی نوروته ورکوی ، که څه هم هغه په دی هم یقیناً قادردی چی تولوته په خپله بی دواسطی رزق ورسوی لکه چی په حیواناتوکی عموماً داسی وی ، دغه دول هرچینجی اودرنده اوپرنده ته بلاواسطه رزق ورکول کیږی ، په دوی کی څوک مالدار څوک غریب نسته ، یو بل ته څه نه ورکوی ، تول یی په جمع دقدرتی دسترخوان څخه خوری ، مګر په انسانانوکی نظام معیشت ، او دباهمی تعاون اوتناصر دروح پیدا کولو دپاره په رزق رسولوکی ځینو ته دځینو دپاره واسطه جوړوی چی خرڅ کوونکی ته ثواب ورکول سی اوچاته چی ورکوی هغه دده احسانمند سی ځکه چی په انسانانوکی باهمی تناصر اوتعاون په کوم چی تول نظام دعالم قائم دی ، دا هلته باقی پاته کیدی سی کله چی هر یوه ته دبل حاجت وی ، غریب ته دمالدار دپیسو حاجت وی اومالدار ته دغریب دمحنت ضرورت ، په دی کی یو دبل څخه بی نیازه نه دی اوچی فکر پروسی نودچا پرچا احسان هم نسته ، هر سړی چی چاته څه ورکوی نو دخپل غرض دپاره یی ورکوی .

پاته سو دا سوال چی مسلمانانو کفارو ته دالله ﷻ په لاره کی دخرڅ کولو حکم په څه بنا ورکی ، هرکله چی دهغوی ایمان هم په الله ﷻ نسته او په وضاحت دفقهاؤ هغوی دفرعی احکامو مخاطب هم نه دی ، نو ددی جواب واضح دی چی دمسلمانانو دا وینا په څه تشریعی حکم دعمل کولو په بنا نه وه بلکه دانسانی همدردی اوشرافت دمروجه اصولو پربنا باندی وه .

وَيَقُولُونَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴۸﴾ مَا يَنْظُرُوْنَ

او وایی کله به وی دا وعده که تاسی رښتنی یاست ؟ دوی خوانتظارکوی

اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً تَاْخُذُهُمْ وَهُمْ يَخِصِّمُوْنَ ﴿۴۹﴾ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

د یوی چغې چې دوی به ونیسی کله چې دوی په خپل مینځ کې جګړه کوی ، بیا به طاقت نه لری ،

تَوْصِيَةً وَّلَآ اِلٰٓى اَهْلِهِمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۵۰﴾ وَنُفِخَ فِى الصُّوْرِ فَاِذَا هُمْ

د وصیت کولو او نه به خپل اهل ته بیرته ولاړ سی ، اوپوکل به وسی په شپیلی کې نو هغوی به

مِّنَ الْاَجْدَاثِ اِلٰى رَبِّهِمْ يَنْسِلُوْنَ ﴿۵۱﴾ قَالُوْا يٰوَيْلَنَا مَنْۢ بَعَثَنَا

دقبرونو څخه خپل رب طرف ته را ځغلی ، وایی به ای خرابی ده مونږ ته چا پورته کړو

مِنْ مَّرْقَدِنَا ۜ هٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمٰنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۵۲﴾ اِنْ كَانَتْ

مونږ زمونږ دخوب ځای څخه ، داهغه ده کومه چې وعده کړې وه رحمن اورښتیا ویلی وو پیغمبرانو ، بس یوه

اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَاِذَا هُمْ جَمِيْعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ ﴿۵۳﴾ فَالْيَوْمَ

چغه به وی ، بیا به دوی ټول زمونږ طرف ته دغه وخت نیولی راځی ، نو نن ورځ به

لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا وَّلَا تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۵۴﴾ اِنَّ اَصْحٰبَ

ظلم نه وی په یو نفس ذره او هغه بدله به پیدا کی کوم چې تاسی کړی وه ، بیشکه

الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِىْ شُغُلٍ فٰكِهُوْنَ ﴿۵۵﴾ هُمْ وَاَزْوَاجُهُمْ فِىْ ظِلٰلٍ عَلَى

دجنت خلق به نن په مشغولا کی وی خبری به کوی ، هغوی او دهغوی ښځیانی به په سایو کی په

الْاَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔوْنَ ﴿۵۶﴾ لَهُمْ فِيْهَا فَاكِهَةٌ وَّلَهُمْ مَّا يَدَّعُوْنَ ﴿۵۷﴾

تختونو ناست وی تکیه وهونکی ، دهغوی دپاره به هلته میوی وی او دهغوی دپاره به وی څه چې غواړی ،

سَلٰمٌ ۛ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ ﴿۵۸﴾ وَامْتَازُوا الْيَوْمَ اَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۵۹﴾

سلام ویل درب مهربان دطرف څخه ، اوتاسی جلا سی نن ای ګناهګارو !

اَلَمْ اَعْهَدْ اِلَيْكُمْ يٰبَنِىْٓ اٰدَمَ اَنْ لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطٰنَ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ

ایا ما نه وو ویلی تاسی ته ای د ادم اولاده ! چې عبادت مه کوی دشیطان ، هغه ستاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۶۰﴾ وَّاَنِ اعْبُدُوْنِيْ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿۶۱﴾ وَلَقَدْ

بنکاره دښمن دی ، او دا چې زما عبادت کوی ، دا ده لار برابر ، اوهغه

اَضَلَّ مِنْكُمْ جِبِلًّا كَثِيْرًا ؕ اَفَلَمْ تَكُوْنُوْا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۲﴾ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ

بې لارې کړل تاسی څخه ډیر مخلوقات ، بیا آیا تاسی نه پوهیداست ؟ دا دوزخ دی

الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿۶۳﴾ اِصْلَوْهَا الْيَوْمَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۶۴﴾

دکوم چې تاسی سره وعده وه ، دا خل سی دی ته نن ورځ په سبب دهغه چې تاسی کفر کوی

اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰٓى اَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَآ اَيْدِيْهِمْ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ بِمَا

نن به مونږ مهر ولګوو دوی په خلوباندی او خبری به کوی زمونږ سره دوی لاسونه اوشاهدی به ورکوی دوی پښی

كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۶۵﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَطَمَسْنَا عَلٰٓى اَعْيُنِهِمْ فَاسْتَبَقُوا الصِّرَاطَ

په هغه چې دوی کوي ، او که مونږ وغواړو ورانی به کړو د دوی سترګی بیا به منډی وهی دلاری دپاره

فَاَنّٰى يُبْصِرُوْنَ ﴿۶۶﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَمَسَخْنٰهُمْ عَلٰى مَكَانَتِهِمْ فَمَا اسْتَطَاعُوْا

بیابه دکومه لیدل وکړی، اوکه مونږ وغواړو نومسخ به کړو صورتونه د دوی په خپلو ځایونو بیابه نه مخ ته تلی سی

مُضِيًّا وَّلَا يَرْجِعُوْنَ ﴿۶۷﴾ وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِي الْخَلْقِ ؕ اَفَلَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۶۸﴾

او نه به شاته تلی سی ، اوځوك چې مونږ بوډا کړو نو واپس یی کړو په پیدائش کی بیاآیادوی نه پوهیږی

لنډتفسیر: اودا (کافران) خلک (نبی کریم ﷺ او دده متبعینوته په طور دانکار) وایی چې دا وعده (دقیامت کومه چې لوړه په آیت کی ذکرده اوهسی هم اکثره ددی خبر ورکوی هغه) به کله وی که تاسی (په دی دعوی کی) رښتنی یاست (نو ویی ښیاست ، دالله ﷻ ارشاد دی چې دوی دکوم شی بار بار پوښتنه کوی نوګویا) داخلک بس دیو سخت اوازل (یعنی اولی شپیلی) منتظر دی ، کومه چې به دوی (یعنی مطلق کفار) به ونیسی اوهغه ټول به (هغه وخت) دیو بل سره (دعام عادت مطابق په خپلو معاملاتوکی) جګړی کوی نو (ددی اواز سره به معًا داسی فناسی چې) نه به ورته دوصیت کولو فرصت وی اونه به بیرته خپلو کورونو ته واپس کیدی سی (بلکه څوك چې به په کوم حال کی وی مړ به پاته سی) او (بیابه دوباره) شپیلی ووهل سی نو هغه ټول به یو وار دقبرونو څخه (راوزی) دخپل رب طرف ته (یعنی کوم ځای چې حساب وی) ژر ژربه روان سی (اوهلته به هیبت اوبیره وویني) وبه وایی چې های زمونږ کم بختی مونږ

Maktaba Tul Ishaat.com

زمونږ دقبرونو څخه چا راپورته کړو (چې ددی ځای په نسبت خوهلته په راحت کی وو ، ملائکی به جواب ورکړی چې) دا هغه (قیامت) دی چې رحمٰن یی وعده کړی وه اوپیغمبرانو رښتیا ویل (مګر تاسی نه منله مخ ته دالله ﷻ ارشاد دی چې) دغه (شپیلی دوهمه) بس دزور یو اواز به وی (لکه چې اوله شپیلی هم یوه چیغه وه لکه چې الله ﷻ فرمایی، مَا يَنْظُرُونَ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً : دغه شان به دا هم یواواز وی) چې په دی سره به ټول یو وار جمع سی ، مونږ ته به حاضر سی (اول دموقوف طرف ته تلل ذکر وه اودلته رسیدل اودا تلل اورسیدل جبراً اوقهراً به وی دقرآن کریم دالفاظو محضرون ، او، وَجَاءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَعَهَا سَائِقٌ، څخه معلومیږی) بیابه په دغه ورځ په هیڅا ډره ظلم نه وی اوتاسی ته به بس دهغو کارونو بدله درکول کیږی کوم چې تاسی (په دنیاکی کفر وغیره) کوی (دا خو د دوږخیانو حال سو او) دجنتیانو (حال دا دی چې هغوی) به بیشکه په دغه ورځ په خپلو مشغلوکی خوش دله وی ، هغوی او دهغوی بیبیانی به په سایو اوتختونو تکیه لګولی ناست وی (او) دهغوی دپاره به هلته (هرقسم) میوی اوڅه چې به غواړی دوی ته ورکول کیږی (او) دوی ته به دپروردګار مهربانی دطرف څخه سلام فرمایل کیږی (یعنی حق تعالی به فرمایی ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَااَهْلَ الْجَنَّةِ : رواه ابن ماجه) او (مخ ته بیا تتمه ده، دقصی دخاوندانو دجهنم چې دوی ته به په موقف کی حکم وسی چې) ای (کفر کوونکو) مجرمانو نن (دایماندارو څخه) جلا سی (ځکه چې دهغوجنت ته رسیدل دی اوستاسی جهنم ته اوهغه وخت به دوی ته دملامتیا کولو په طور داوفرمایل سی چې) ای دادم ﷺ اولاده (اودغه ډول به دجناتو سره هم خطاب وی چې دلالت پرکوی، دا قول دالله ﷻ ، يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ ایا ماتاسی ته تاکید نه ووکړی چې تاسی دشیطان عبادت مه کوی هغه ستاسی ښکاره دښمن دی اوداچې (خاص) زما عبادت کوی دانیکه لار ده (مراد دعبادت څخه اطاعت مطلقه دی ، اولکه دا قول دالله ﷻ وروسته ، لَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ، او: وَلَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ) او (دارنګه تاسی ته دشیطان په نسبت دا خبره هم معلوه سوی وه چې) هغه په تاسی کی (یعنی ستاسی په بنی نوع کی) ډیر خلګ ګمراه کړل (دکومو دګمراهی وبال چې هم دتیرو کافرو قومونو دعذاب دواقعاتو په سلسله کی ښوول سوی وو) نو آیا تاسی (دومره) نه پوهیدی (چې که مونږ د دوی په ګمراه کولو سره ګمراه سو نو مونږ به هم دغه شان مستحق دعذاب سو نو اوس) دا جهنم دی دکوم چې ستاسی سره (په تقدیری کفر) وعده وسوه اوس دخپل کفر په بدله کی دی ته دا خل سی ، نن به مونږ د دوی په مخونو باندی مهر ولګوو (چې په دی سره به دوی دروغ عذر پیش نه سی لکه چې په اول اول کی به وایی ، وَاللهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ او د دوی لاسونه به زمونږ سره خبری کوی او د دوی پښی به شاهدی ورکوی دهغه څه چې دی خلګو کول (دا عذاب خو به په اخرت کی وی) اوکه مونږ غوښتلی نو (په دنیاکی به د دوی دکفر په سزا کی) د دوی سترګی به مونږ ورانی کړی وای (برابره خبره ده که دسترګو نظر مراد سی یاپه خپله سترګی) بیا به دوی دلاری طرف ته (دتللو دپاره) منډی وهی نو دوی ته به کله په نظر ورسی (لکه چې په قوم لوط ﷺ باندی داسی عذاب راغلی وو لکه چې الله ﷻ فرمایی، فَطَمَسْنَا) او (ددی څخه ماسوا) که مونږ غوښتلی نو (د دوی دکفر په سزا کی به) د دوی صورتونه مونږ بدل کړی وای (لکه مخکی

Maktaba Tul Ishaat.com

چی څینی خلګ بیزوګان اوخنزیران سوی وه) په داسی حالت سره چی دوی کوم ځای وه ، هلته به پاته سوی وای (یعنی دمسخ سره به داسی سوی وای چی دوی به حیوان جوړ سوی وای اوحیوان هم شل اوګل چی دخپل ځای څخه به نه سو ښوریدی) چی په دی سره به نه مخ ته تللی سی اونه به وروسته کیدی سی او (په دی تعجب کول نه دی په کار چی دسترګو طَمْس اودصورتونو مسخ به څنګه وسی اوګوری چی ددی په یومثل باندی زمونږ قدرت شاهد دی چی) مونږ دچا عمر زیات کو (یعنی ډیر یی بوډاکی) نو دی په طبعی حالت کی چپه کړو (دطبعی حالت څخه مراد عقل شعور اوداوریدو لیدو وغیره قوتونه اوقوی هاضمه نامیه وغیره اورنګ روغن اوحسن اوجمال دی اودچپه کولو څخه مراد دی د دوی انقلاب اوتغیر دحالاتو ، داعلی څخه ادنی طرف ته دښه څخه بدطرف ته، پس طَمْس اومسخ هم یوقسم تغیردی دکامل څخه دناقص طرف ته) نو ایا (ددی حالت په لیدو هم) هغه خلګ نه پوهیږی (چی کله په یوتغیر باندی یی قدرت سته نوپه دوهم یی هم سته ، بلکه دقدرت په نسبت خو دجمیع ممکناتو سره مساوی دی ، که څه هم په دغو کی تناظر اوتماثل هم نه وی ، نو دی خلګو ته دی ته کتل بیریدل اوکفر پریښوول په کار دی)

معلومات اومسائل: مَایَنْظُرُونَ إِلَّا صَیْحَةً وَاحِدَةً : دادهغو کفارو جواب دی کومو چی به دمسخرو اوانکار کولو په طور دمسلمانانو څخه پوښتنه کول چی تاسی دکوم قیامت راتلو قائل یاست ، هغه به کله په کوم کال اوکوم تاریخ راځی ، وَیَقُولُونَ مَتَی هَذَا الْوَعْدُ : ددی خلګو داسوال په حقیقت کی دواقعی دتحقیق دپاره نه دی بلکه په طور داستهزاء اومسخرو وو او بالفرض که دتحقیق دپاره وای نودرب العلمین دحکمت مقتضا دا ده چی دقیامت دکال اوتاریخ پوره یقینی علم چاته ورنه کی ، تردی چی خپلو رسولانو او پیغمبرانو ته یی هم ورنه کی ددی احمقانو داسوال بالفرض که دتحقیق دطلب دپاره وی ، هم خطا اومهمل وو ، په دی وجه ددی په جواب کی یی دقیامت دتاریخ ښودو په ځای هغه خلګ په دی خبردار کړل چی کوم شی په یقینی طور راتلونکی دی دعقلمند کار دا دی چی دهغه په تیاری کی اخته سی ، نه دا چی دهغه دوخت اوتاریخ په تحقیق کی وخت ضائع کړی ، مقتضی دعقل دا وه چی دقیامت دخبر اوریدو سره یی ایمان راوړی وای اوهغه کار یی کولی چی دهغه جهان فلاح په کی وی ، مګر داخلګ په خپل غفلت کی داسی منبتی دی چی ګویا ددی انتظار کوی چی کله قیامت راسی نوځه سوچ به وکی ، په دی وجه فرمایی چی دوی دقیامت منتظردی اودقیامت حال به دا وی چی هغه به دشپیلی یوزور داره اواز وی چی تول به ناڅاپه داسی ونیسی چی خلګ به په خپل خپل کاروبار کی دخپل مینځ په معاملوکی په جګړو وی تول به هم په دغه حال کی مړه پاته سی .

په حدیث کی دی چی دوه سړی به دکپړو په اخیستلو او خرڅولوکی لګیا وی کپړه به غورول سوی وی چی ناڅاپه قیامت به راسی اوهغه کپړه به فیصله نه سی ، څینی سړی به خپل حوض پلستر کوی چی په دغه حال کی به مړ پاته سی (رواه ابونعیم عن ابی هریرة، قرطبی)

فَلَا یَسْتَطِیعُونَ تَوْصِیَةً وَلَا إِلَی أَهْلِهِمْ یَرْجِعُونَ : یعنی دغه وخت چی کوم خلق به جمع وی هغه به په خپل مینځ کی چاته دځه کار کولو دوصیت موقع نه کی پیدا اوڅوک چی دکورونو څخه دباندی وی ، هغوی به خپلو کورونو ته دبیرته راتللو مهلت نه کی پیدا، په خپل خپل ځای به مړه پاته سی ، دا بیان دقیامت

Maktaba Tul Ishaat.com

داولی شپیلی دی چی ټول عالم مخکه او آسمانونه به په تباه سی.

ددی څخه وروسته فرمایی، وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُمْ مِنَ الْأَجْدَاثِ إِلَى رَبِّهِمْ يَنْسِلُونَ: اَجْدَاثٌ د، جَدَثٌ جمع ده، په معنی دقبر، اوینسلُونَ، دنسلاَن څخه مشتق دی چی معنی یی تیز تلل دی، لکه چی په یوبل آیت کی، يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ سِرَاعًا: راغلی دی چی داخلګ به دخپلو قبرونو څخه په تلوار راوزی اوپه یو ایت کی چی ارشاد دی، فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُونَ: یعنی دقیامت په ورځ به خلګ دقبرونو څخه پورته سی او ولاړ به کتونکی پاته سی، دا ددی منافی نه دی څکه چی په ابتداء کی به په حیرانتیا سره د دریدو اوکتو واقعه وی او بیابه په تیزی سره دمحشر طرف ته منډی وهی، په دی دواړوکی څه تضاد نسته، اولکه څنګه چی دقرآن دایتونو څخه ثابته ده چی ملائکی به دا ټول بلی اودحشر میدان ته به یی راولی، ددی څخه معلومیږی چی دکفارو حاضری دحشر میدان ته په خپله خوښی سره نه ده، بلکه په جبری طوربه وی اودملائکو داواز په وجه سره به چابك محشرته راځی.

قَالُوا يَا وَيْلَنَا مَنْ بَعَثَنَا مِنْ مَرْقَدِنَا: کفار که څه هم په قبرونو کی هم په عذاب قبرکی مبتلاوه، هلته څه ارام نه وه، مګر دقیامت دعذاب په مقابله کی هغه اولنی عذاب دنیست برابر وو، په دی وجه به چیغی وهی چی مونږ چا دقبرونو څخه راپورته کړو که هلته وای نو ښه به وای، په دی باندی به ملائکی یاعام مومنان جواب ورکی.

هَذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمَنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُونَ: یعنی دا هغه قیامت دی چی رحمٰن یی وعده کړی وه اودهغه رسولانو ددی ربنتنی خبر تاسی ته رسولی وو، تاسی ورته توجه نه ورکوله، په دی مقام دالله ﷻ په صفتونو کی دلفظ درحمٰن اختیارولو سره دی طرف ته اشاره ده چی هغه خو په خپل رحمت سره ددی عذاب څخه دمحفوظ کیدو ډیر اسباب پیدا کړی وه او دوخت څخه مخکی ددی وعده اودخپلو کتابونو اوانبیاء په ذریعه ددی خبر تاسی ته رسول هم درحمت دصفت تقاضا وه.

إِنَّ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِي شُغُلٍ فَاكِهُونَ: د دوږخیانو دپریشانیو ذکر کولو څخه وروسته په قیامت کی دجنتیانو حال یی ذکر کی چی دوی به په خپلو خوشحالیوکی مشغول وی، فَكِهُونَ، فَاكِهٌ جمع ده، خوشدل خوشحال ته ویل کیږی، او ددی څخه مخ ته دَ، فِي شُغُلٍ، دامفهوم هم کیدی سی چی هغوی به دوږخیانو ته دورپیښیدونکو پریشانیو څخه بالکل بی غمه وی (لکه داسی څینی مفسرینو ویلی دی) او دا هم ممکنه ده چی دلته دا لفظ فِي شُغُلٍ، ددی خیال دفع کولو دپاره زیات سوی وی، چی په جنت کی چی به کله نه څه عبادت وی، نه څه فرض او واجب اونه دڅه کسب معاش کار وی، نو آیا په دی بی کاری کی به دبنده زړه بیریږی نه، په دی وجه فرمایی چی د دوی سره به دخپلو تفریحاتو لوی شغل وی او دزړه دبیریدو هیڅ سوال نه پیدا کیږی.

هُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ: په ازواجو کی دجنت حوری هم دا خلی دی او ددنیا بیبیانی هم.

وَلَهُمْ مَا يَدَّعُونَ يَدَّعُونَ: دَدَعْوت څخه مشتق دی، چی معنی یی بلنه ده، یعنی جنتیان چی کوم شی بولی هغه به ورکول کیږی، قرآن کریم دلته دَ، يَسْئَلُونَ، لفظ ونه فرمایی، څکه چی یوشی په سوال کولو سر.

Maktaba Tul Ishaat.com

حاصلول هم یوقسم محنت اومشقت دی دکوم څخه چی جنت پاك دی ، بلکه هلته به دهر ضرورت شی حاضر اوموجود وی .

وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ : دحشر په میدان کی چی کله مخ ته خلګ دخپلو قبرونو څخه پورته سی نو ټول به ګډوډ منتشر وی ، لکه چی په قرآن کی فرمایی ، كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُنْتَشِرٌ، یعنی هغوی به دملخانو په شان منتشر وی ، مګر بیابه دهغوی ټولی ټولی دخپلو عملونو په اعتبار سره جلاسی ، کفار یو ځای ، مومنان بل ځای ، فاجران فاسقان جلا ، صالحان او مقبول بندګان جلا ، لکه چی بل ځای فرمایی، وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ : یعنی کله چی نفسونه جوړی جوړی سی ، په ذکر سوی آیت کی هم ددی امتیاز بیان دی .

أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَنْ لَا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ : یعنی ټول انسانان (بلکه جنات به هم) مخاطب کړی ، په قیامت کی به ورته وویل سی چی ایا ماپه دنیاکی تاسی ته داهدایت نه ووکړی ، چی تاسی دشیطان عبادت مه کوی دلته داسوال کیدی سی چی کفارو خوعموماً دشیطان عبادت نه کوی اودبتانو یانورو شیانو عبادت به یی کوی ، په دی وجه په دوی دشیطان دعبادت کولو الزام څنګه ولګیدی ؟ جواب دا دی چی دچا مطلق اطاعت کول په هرکار او هرحال کی دده خبره منل دی ، ددی نوم عبادت دی ، چونکی دی خلګو همیشه دشیطانی تعلیم پیروی کړې ده ، په دی وجه دوی ته دشیطان عابدان وویل سوه ، لکه چی په حدیث کی هغه سړی ته کوم چی دمال یاښځی په محبت کی راسی هرهغه کار کوی په کوم سره چی مال زیاتیږی یاښځه خوشحالیږی که څه هم خدای (ناراضه کیږی ، داسی سړی ته په حدیث کی عبد الدرهم اوعبد الزوجه ویل سوی دی .

دځینو صوفیانوپه کلماتوکی کوم چی دخپل نفس دپاره دبت پرستی الفاظ راغلی دی ، ددی څخه مراد دنفس دخواهشاتو اتباع کول دی کفر اوشرك کول مرادنه دی ، لکه چی ځینی فرمایی .

سوده گشت ازسجدهٔ راه بتان پیشانیم چند برخود تهمت دین مسلمانی نهم

یعنی دبتانوپه سجده کولوسره زماتندی وسولیدی که هرځومره زه په خپل ځان دمسلمانی ددین تهمت لګوم .

اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَى أَفْوَاهِهِمْ : په محشرکی به دحساب کتاب دپاره په پیښی کی اول خوهر سړی ته ازادی وی چی څه غواړی عذر به پیش کوی مګر مشرکان به هلته قسمونه اخلی او دخپل شرك اوکفر څخه به منکرسی . وَاللهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ .

اوځینی به دا هم ووایی چی ملائکو زمونږ په عملنامه کی چی څه لیکلی دی مونږ خو ددی څخه بری یو، دغه وخت به الله ﷻ د دوی په خولو مهرونه ولګوی چی خبره به نه سی کولی او د دوی په مقابله کی به په خپله د دوی لاسونه ، پښی اواندامونه سرکاری شاهدان جوړسی ، دوی ته به دخبرو کولو صلاحیت ورکړی هغه به د دوی دټولو عملونو شاهدی ورکی ، په ذکر سوی آیت کی خو دلاسو اوپښو دخبرو کولو ذکر سوی دی ، په نورو ایتونو کی دانسان دغوږونو سترګو اوځرمنی خبری ذکر دی ، شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَارُهُمْ وَجُلُودُهُمْ، اویوځای چی کوم، تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ، راغلی، یعنی په خپله به د دوی ژبی شاهدی ورکی ، دا ددی منافی نه دی چی د دوی په خلو به مهر ولګول سی ځکه چی دمهر لګولو

Maktaba Tul Ishaat.com

مطلب دا دی چی هغوی به په خپل اختیار سره څه نه سی ویلی ، د دوی ژبی به د دوی دمرضی خلاف چلیږی اوشهادت به ورکی .

پاته سو دا اشکال چی د دوی په اندامونوکی به گویایی څنگه پیدا سی نو ددی جواب په خپله قرآن کریم ورکړی دی ، اَنْطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِیْ اَنْطَقَ کُلَّ شَیْءٍ : یعنی دااندامونه به ووایی چی کوم الله ﷻ چی هرگویا کیدونکی ته گویا یی ورکړي ده ، هغه مونږ ته هم گویایی راکړه .

وَمَنْ نُعَمِّرْهُ نُنَکِّسْهُ فِی الْخَلْقِ اَفَلَا یَعْقِلُوْنَ : نُعَمِّرْهُ دتعمیرڅخه مشتق دی چی معنی یی ده اوږد عمر، او نُنَکِّسْهُ دتَنْکِیْس څخه مشتق دی چی معنی یی ده ، نسکور چپه کول ، په دی آیت کی الله ﷻ دخپل کامل قدرت اوبالغ حکمت یوبل مظهر بیان کړی دی چی هرانسان او حیوان هروخت دالله ﷻ دتصرف لاندی دی ، دقدرت عمل په ده کی مسلسل جاری دی دیوی گنده اوبی روحه قطری څخه دده وجود شروع سو ، دمور دنس په دریو تیارو کی دکائناتو ددی خلاصی اوعالم اصغر تخلیق وسو، څومره نازك مشینونه دده په وجود کی پیوست سول، بیا روح ورکول سو اوژوندی سو ، نه میاشتی دمورپه نس کی دننه دده پرورش وسو یومکمل انسان جوړ سو اودنیاته راغی ، نودمکمل کیدو باوجود دده هرشی ضعیف اوکمزوری دی ، قدرت دده دمزاج مناسب خوراك دمور په سینوکی پیداکی چی ده ته درجه په درجه تونایی په ورکول سوه او ددی وخت څخه ترځوانی پوری دڅومره مرحلو څخه چی تیرسو، دده ټول قوتونه مضبوط سول ، دقوت اوشوکت دعوی یی شروع کړی ، هرمقابل ته دشکست ورکولو حوصلی یی پیدا سوی .

بیاچی کله خالق اومالك ته منظوره سوه نواوس دده په ټولو قوتونو اوطاقتونو کی کمی شروع سوه ، کمی هم دبی شمیره مرحلو څخه په تیریدو اخر دزوړ والی اخری عمرته ورسیده، کوم ځای ته چی ورسیدی نوچی فکر پروسی نوبیا دی هغه منزل ته ورسیدی دکوم څخه چی په کوچنیوالی کی تیر سوی وو ټول عادتونه خصلتونه یی بدل سول کوم شیان چی یی دټولوڅخه زیات محبوب وه ، هغه ورته مبغوض په نظر ورغلل ، په کومو چی ورته راحت ورکول سو ، اوس هغه دتکلیف موجب جوړسی ، دا قرآن دتنکیس یعنی په نسکور کولو سره تعبیر فرمایلی دی ، چا څه ښه ویلی دی .

مَنْ عَاشَ اَخْلَقَتِ الْاَیَّامُ جِدَّتَهٗ وَخَانَهٗ لِقَتَاهُ السَّمْعُ وَالْبَصَرُ

یعنی کوم سړی چی ژوندی پاته سو نو زمانه دده قوت او طاقت وسولوی اوژوړ یی کړی او دده دټولو څخه زیات ثقه دوستان داوریدو اولیدو طاقتونه هم دده خیانت وکی جلاسی څینی .

یعنی انسان ته په دنیاکی دټولو څخه زیات اعتماد دخپلو سترګو په لیدلی یا دغوږونو په اوریدلی شی باندی وی ، دزوړوالی په اخری عمرکی داهم قابل اعتماد نه وی دغوږونو ددرنیدو په سبب په خبره پوره پوهیدل مشکل ، دلیدودکمزوری کیدوپه سبب صحیح لیدل مشکل، متنبی دامضمون داسی ویلی دی .

وَمَنْ صَحِبَ الدُّنْیَا طَوِیْلاً تَقَلَّبَتْ عَلٰی عَیْنِهٖ حَتّٰی یَرٰی صِدْقَهَا کَذِبَا

یعنی کوم سړی چی په دنیا کی زیات ژوندی پاته سی ، ددنیا دده دسترګو په وړاندی چپه سی ، تردی

Maktaba Tul Ishaat.com

چی کوم شیان ده مخکی ربښتیا ګنل هغه ورته دروغ معلومیدل شروع سی .
دانسان په وجودکی داانقلابات دحق دتعالی دقدرت عجیبه مظهر خودی اودی ، په دی کی په انسان یوعظیم احسان هم دی ، چی خالق کائنات څومره طاقتونه دانسان په وجود کی په طور دامانت عطا فرمایلی وه ، هغه په حقیقت کی سرکاری مشینونه دی ، کوم چی ده ته ورکول سوی دی او دا هم بنوول سوي ده چی داستا ملکیت نه دی اودائمی هم نه دی ، اخر به ستا څخه اخیستل کیږی ، ددی ظاهری تقاضا دا وه چی کله دغه مقدور وخت راتلی نوتول طاقتونه په یووخت اخیستل کیدی ، مګر مولا کریم ددی دواپسی هم دیر اوږده قسطونه مقرر کړی دی او درجه په درجه بیرته اخیستل کیږی ، ددی دپاره چی انسان خبردار سی اوداخرت دسفر سامان تیار کی ، والله تعالی اعلم

وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهٗ ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ

او مونږ نه دی ښودلی ده ته شعر ویل او نه ده ده لائق دی ، دا خو خاص نصیحت دی ،

وَّقُرْاٰنٌ مُّبِيْنٌ ﴿۶۹﴾ لِّيُنْذِرَ مَنْ كَانَ حَيًّا وَّيَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَى

اوقرآن دی صفا ، چی بیره واوروی هغو ته په کومو کی چی ژوند وی او ثابت سو الزام په

الْكٰفِرِيْنَ ﴿۷۰﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِّمَّا عَمِلَتْ اَيْدِيْنَآ اَنْعَامًا

منکرانو ، آیا نه وینی هغه چی جوړ کړی دی مونږ دهغوی دپاره په خپلو لاسونو د دجوړسوو شیانو

فَهُمْ لَهَا مٰلِكُوْنَ ﴿۷۱﴾ وَذَلَّلْنٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوْبُهُمْ وَمِنْهَا

څخه حیوانان ، بیا هغوی دهغه مالکان دی ، او ذلیله مو کړل هغه دهغوی دپاره نو په څینو سپرږي اوخینی

يَاْكُلُوْنَ ﴿۷۲﴾ وَلَهُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ ؕ اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۷۳﴾ وَاتَّخَذُوْا

ورڅخه خوری ، او دهغوی دپاره په حیوانانو کی فائدی دی او دچینلو شیان بیا ولی شکر نه کوی ، اونیسی

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لَّعَلَّهُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۷۴﴾ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَهُمْ

دالله ﷻ څخه ماسوا نور معبودان چی شاید دهغوی مدد وکړی ، طاقت نه لری دهغوی دمدد او دوی به

وَهُمْ لَهُمْ جُنْدٌ مُّحْضَرُوْنَ ﴿۷۵﴾

دهغوی لښکر وی نیولی به راوستل سی .

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډه تفسیر: (او دا کفارکوم چې دنبوت دنفی کولو دپاره تاته شاعر وایی، دامحض باطله ده ځکه چې) مونږ تا ته دشاعری (یعنی خیالی مضامینو جوړولو) علم نه دی درکړی او هغه (شاعری) ستا دشان مناسب هم نه ده هغه (یعنی تاته درکول سوی علم کوم ته چې دا خلګ شاعری وایی هغه) خومحض نصیحت (مضمون دنصیحت) اویو اسمانی کتاب دی کوم چې داحکامو ظاهرونکی دی چې (داحکامو دبیان په اثرسره) داسی سړی (په نفعمندو بیرولو سره) وبیروی کوم چې (دَزړه دژوندپه اعتبار سره) ژوندی وی اوچې په کافرانو باندی (دعذاب) حجت ثابت سی ایادی (مشرکانو) خلګودی ته نه دی کتلی چې مونږ د دوی دَ (نفع) دپاره دخپلو لاسو دجوړ سوو شیانو څخه حیوانان پیدا کړل او (زمونږ په مالك جوړولو سره) دا خلګ دهغه مالکان جوړیږی او (مخ ته ددی نفعی څه تفصیل دی چې) مونږ هغه حیوانان د دوی تابع جوړکړل نو (هغه د دوی په کار راوستلوسره کارورکوی چنانچې) دهغه څخه ځینی خو دهغوی سپرلی دی اوځینی هغوی خوری اوپه هغه کی ددی خلګو دپاره نوری هم فائدی دی (لکه وریښته ، څرمنی، هډوکی وغیره په مختلفو طریقوسره په استعمال کی راځی) او (په دی کی ددی خلګو) دچښلو شیان هم دی (یعنی شیدی) نو ایا (په دی هم) دا خلګ شکر نه ادا کوی (اودشکر دتولو څخه مخکی اومهمه درجه په توحید باندی ایمان دی) اوهغوی (په ځای دشکر اوتوحیدکفر اوشرك اختیارکړی دی چنانچې) دخدای څخه ماسوا نور معبودان یی مقرر کړی دی ، په دی امید چې هغوی ته (ددی معبودانودطرف څخه) مدد ورکول سی (لیکن) هغه د دوی هیڅ مددنه سی کولی او (مدد به څه وکړی چپه به) هغه (معبودان) ددی خلګوپه حق کی یو (مخالف) فریق جوړ سی کوم چې به (موقف دحساب ته په مجبوری) حاضرسی (اوهلته به حاضر سی د دوی دمخالفت اظهار به کوی لکه چې الله (په سورة مریم کی فرمایلی دی ، وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا: او په سورة یونس کی ، قَالَ شُرَكَاؤُهُمْ مَا كُنْتُمْ إِيَّانَا تَعْبُدُونَ: او داسی نور ایتونه)

معلومات اومسئلې: وَمَا عَلَّمْنَاهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْبَغِي لَهُ : چونکه منکرین دنبوت دقرآن دعجیبه تاثراتو اوپر زړونو داثر کولو دکیفیت چې کومه عامه مشاهده وه دهغه څخه یی انکارنه سوای کولی نوپه دی وجه به یی کله دی کلام الهی ته سحر اونبی کریم ﷺ ته ساحر ویل اوکله به یی دی کلام ته شعر اودوی ﷺ ته شاعر ویل اودابه یی ثابتوله چې داعجیبه تاثرات دکلام الهی کیدو په وجه سره نه دی ، بلکه یاخو دا دجادو کلمات دی کوم چې په زړونو باندی اثر کوی یاشاعرانه کلام دی ، هغه هم په عامو زړونو باندی اثر کوی حق تعالی په ذکر سوی آیت کی وفرمایل چې مونږ نبی ته شعر وشاعری نه ده ښوولی اونه دده دشان مناسب وه، دوی ته شاعر ویل باطل اوغلط دی.

دلته داسوال پیدا کیږی چې عرب خوهغه قوم دی دکوم په فطرت کی چې شعر اوشاعری پرته ده، ښځی اوبچی یې بی ساخته شعر وایی، هغوی خو دشعر دحقیقت څخه په پوره شان سره واقف دی ، هغوی قرآن ته شعر اونبی کریم ﷺ ته شاعرپه کوم اعتبار سره وویل ؟ ځکه چې نه خو قرآن دوزن اوشعر پابند دی اونه دردیف اوقافیی، دی ته خوجاهل دشعر اوشاعری څخه ناواقفه هم شعرنه سی ویلی.

ددی جواب دا دی چې شعر په اصل کی خودساخته مضامینو ته ویل کیږی برابره خبره ده که په نظم کی

Maktaba Tul Ishaat.com

وی اوکه په نثرکی د دوی مقصد قرآن ته شعر اونبی کریم ﷺ ته دشاعر ویلو څخه داوو چی ده چی څه کلام راوړی دی ، هغه محض خیالی افسانی یا بیا دشعر دمعروفی معنی په اعتبار سره یی ورته شاعر وویل ، نو په دی مناسبت سره چی څنګه نظم او شعر خاص اثر لری ددی اثر هم دغسی دی .

امام جصاص رحمه الله په خپل سند سره روایت کړی دی چی دحضرت عائشه رضی الله عنها څخه چا پوښتنه وکړه چی نبی کریم ﷺ کله هم شعر ویلی وو ؟ نو ده ﷺ وفرمایل چی نه البته یو شعر دابن طرفه دوی ډویلی وو .

سَتُبْدِی لَكَ الْاَیَّامُ مَاكُنْتَ جَاهِلاً وَیَاْتِیْكَ بِالْاَخْبَارِ مَنْ لَّمْ تُزَوِّدِ

دادوی دشعری وزن په ماتولوسره ، مَنْ لَّمْ تُزَوِّدِ بِالْاَخْبَارِ: وویلی حضرت ابوبکر رضی الله عنه عرض وکی چی یارسول الله ﷺ دا شعر داسی نه دی نو دوی وفرمایل چی زه شاعر نه یم اونه زما دپاره شعر اوشاعری مناسب دی دا روایت ابن کثیر رحمه الله هم په خپل تفسیرکی نقل کړی دی اوترمذی، نسایی اوامام احمدهم داروایت کړی دی ددی څخه معلومه سوه چی په خپله څه شعر جوړول خوځه دنورو اشعارو ویل یی هم دځان دپاره مناسب نه ګڼل ، اوپه ځینو روایتونوکی چی په خپله دنبی کریم ﷺ څخه دشعری وزن مطابق ځینی کلمی منقول دی هغه په قصد دشعرنه دی ، اتفاقی دی ، او داسی په اتفاقی ډول دیو دوو شعرونو موزون کیدو سره چاته شاعر نه سی ویل کیدی ، مګر دنبی کریم ﷺ ددی فطری حال څخه چی کوم په لوړ حکمتونو مبنی وو دا نه لازمیږی چی مطلقًا شعرګویی مذمومه ده، لکه چی دشعر وشاعری احکام په تفصیل سره دسورة شعراء په اخری رکوع کی تیر سوی دی ، هلته یی وګوری .

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَا أَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مَالِكُونَ : په دی آیت کی دځناورو حیوانانو په تخلیق کی دانسانی نفعی اوپه دی کی دقدرت دعجیبه صنعت کاری په ذکر فرمایلو سره یی دالله ﷻ یو بل عظیم احسان بنوولی دی چی داحیوانان دکومو په تخلیق کی چی دانسان څه دخل نسته خالص دقدرت په لاسو جوړ سوی دی ، الله ﷻ صرف دا نه دی کړی چی انسان ته ددی حیوانانو څخه دنفع اخیستو موقع ورکول سوه اواجازه یی ورکړه ، بلکه دوی یی دهغه مالکان کړل چی هرقسم مالکانه تصرفات په کی کولی سی په خپله ورڅخه نفع اخلی اوکه خرڅوی یی ، دقیمت څخه یی نفع اخلی .

(داشیاؤ ملکیت په اصل کې عطاء دحق ده نه چې دمحنت سرمایه)

ټن صباپه نوو نوو معاشی ازمویونو اونظریاتوکی دابحث څیړل کیږی چی داشیاوو په تخلیق او د دوی په ملکیت کی سرمایه او دولت اصل دی که محنت ؟ دسرمایه دارانه نظام معیشت قابلِ دولت او سرمایه اصل ګرځوی اوسوشلزم اوکمیونزم والا محنت دتخلیق اوملکیت اصل علت ګرځوی، دقرآن مجید دی فیصلی وبنوولی چی داشیاوو په تخلیق او د دوی په ملکیت کی د دواړو هیڅ دخل نسته ، دځه شی تخلیق دانسان په قبضه کی نه دی ، داسیده په سیده دحق تعالی فعل دی ، او عقل تقاضا ده چی څوک څه شی پیدا کړی ، هغه ددی مالك هم وی ، دغه شان اصل اوحقیقی ملکیت په اشیاء عالم کی دحق تعالی دی دانسان په ملکیت یو شی کی صرف دالله ﷻ په عطاء کولو سره کیدی سی ، الله ﷻ داشیاوو داثبات ملکیت اوانتقال ملکیت قانون دخپلو پیغمبرانو په ذریعه نازل فرمایلی دی ، ددی قانون خلاف څوك دځه شی مالك نه سی کیدی .

Maktaba Tul Ishaat.com

وَذَلَّلْنٰهَا لَهُمْ: په دی کی دیو بل احسان اوانعام طرف ته اشاره وفرمایله چی اکثره حیوانان اوښ ، اس، فیل ، غویی وغیره ته که وکتل سی نو په طاقت کی دانسان څخه ډیر زیات دی ، انسان د دوی په مقابله کی کمزوری دی ددی اثر دا په کار وو ، چی پردی حیوانانو واك پیدا نه کی ، مګر الله ﷻ ددی حیوانانو دتخلیق انعام انسان ته وبخښی ، دغه شان یی دا هم فطرت جوړکی چی دامست حیوان یی دانسان په مخکی مسخر او تابع کړل ، یو بچی قوی اس ته په خوله واګی واچوی اوبیا یی پرشا سپورسی کوم ځای ته چی یی غواړی ګرځوی یی ، دا خبره هم دا نسان څه خپل کمال نه دی صرف دالله ﷻ بخښش اوعطاء ده

وَهُمْ لَهُمْ جُنْدٌ مُّحْضَرُوْنَ: ددی آیت یومطلب خوهغه دی کوم چی لوړ په لنډ تفسیرکی بیان سوی دی ، چی دجند څخه مراد فریق مخالف واخیستل سی اومطلب دایت دا وی چی کوم شیان دوی په دنیاکی معبودان جوړکړی دی ، دا به دقیامت په ورځ د دوی مخالف جوړسی او ددوی خلاف به شاهدی ورکوی اودحضرت حسن ﷺ اوقتاده ﷺ څخه ددی تفسیر دامنقول دی چی دی خلګو بتان خوخدایان ځکه جوړ کړی وه چی د دوی مدد به کوی اوکیږی داسی چی هغوی خو د دوی دمدد کولو قابل نه دی ، په خپله داخلګ کوم چی د دوی عبادت کوی دهغوخادمان اوسپایان جوړسوی دی ، حفاظت نیی کوی که څوك یی خلاف کارکوی نو دوی ورسره جنګ کوی (قرطبی)

فَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ۘ اِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿۷۶﴾ اَوَلَمْ يَرَ الْاِنْسَانُ اَنَّا خَلَقْنٰهُ مِنْ نُّطْفَةٍ

نوته مه غمجن کیږه ددوی په خبره مونږپوهیږوکوم چی دوی پټوی اوکوم چی ظاهروی،آیانه وینی انسان چی مونږ

فَاِذَا هُوَ خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ ﴿۷۷﴾ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَّنَسِيَ خَلْقَهٗ ؕ قَالَ

دی جوړکی دیوی قطری څخه بیاهغه سو جګړه کوونکی خبری کوونکی ، اوجوړوی مونږ مثال اوهیرکړی یی دی

مَنْ يُّحْيِ الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيْمٌ ﴿۷۸﴾ قُلْ يُحْيِيْهَا الَّذِيْٓ اَنْشَاَهَآ اَوَّلَ

خپل پیدائش ، وایی څوك به ژوندی کړی هډوکی چی سی وراسته ، ته ووایه هغه به ژوندی کړی چاچی جوړکړل

مَرَّةٍ ؕ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيْمٌ ﴿۷۹﴾ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الشَّجَرِ

اول وار ، او هغه دهر څه په جوړولو پوه دی ، چا چی پیدا کړاست تاسی دشنی درختی څخه

الْاَخْضَرِ نَارًا فَاِذَآ اَنْتُمْ مِّنْهُ تُوْقِدُوْنَ ﴿۸۰﴾ اَوَلَيْسَ الَّذِيْ خَلَقَ

اور نو تاسی دهغه څخه بلوی ، آیا چا چی جوړ کړل

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ ؕ بَلٰى ۙ وَهُوَ الْخَلّٰقُ

اسمانونه او مځکه په دی قادر نه دی چی ددی په شان نور جوړ کړی ولی نه او هغه دی اصل جوړونکی

Maktaba Tul Ishaat.com

الْعَلِيْمُ ﴿۸۱﴾ إِنَّمَآ أَمْرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيْـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿۸۲﴾

په هرڅه پوه ، دهغه حکم دا دی چی هرکله دڅه شی کول وغواړی نو ووایی هغه ته چی سه هغه دغه وخت وسی

فَسُبْحَٰنَ ٱلَّذِى بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَىْءٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿۸۳﴾

نو پاك دی هغه ذات دچاپه لاس کی چی دی حکومت دهرشی او دهغه طرف ته به واپس کیږی

لنډتفسیر: (هرکله چی داخلگ په داسی واضحو اوښکاره امورو کی هم خلاف کوی) نو ددی خلگو خبری (دتوحید اورسالت څخه دانکارپه حقله) ستا دپاره باعث دخفگان کیدل نه دی په کار (څکه چی خفگان کیدی سی په امید سره اوامید کیږی دمخاطب په عقل او انصاف سره اوپه دی خلگو کی نه عقل سته نه انصاف نو د دوی څخه دَسره دڅه شی امید نه سی کیدی ، بیاغم ولی دی؟ په بله طریقه سره دنبی کریم ﷺ تسلی ده) بیشکه مونږ ټول پیژنوڅه چی دوی په زړه کی ساتی اوڅه چی (په ژبه) ظاهروی (په دی وجه به هغه مقرر وخت دوی ته د دوی دعمل سزا ورکول سی) آیا (دی) بنده ته (کوم چی دقیامت څخه انکار کوی) دا معلومه نه ده چی مونږ دی دَ (یوی حقیری) نطفی څخه پیداکی (ددی تقاضا دا وه چی خپل ابتدایی حالت یی یاد کړی وای خپل حقارت اودخالق عظمت ته یی کتلای اوپه خپله شرمیدلی وای چی دگستاخی جرأت یی کوی ، بل یی دخپل حالت څخه په دی استدلال نیولی دی چی دمرگ څخه وروسته دوباره ژوندی کول ددده دقدرت څخه څه بعید دی) نو (ده داسی ونه کړل بلکه دمذکوره اقتضاء څخه خلاف) هغه په ښکاره اعتراض ټوونکی سو او (هغه اعتراض داچی) ده زمونږ په شان کی یوعجیبه مضمون بیان کی (عجیبه څکه چی په دی سره دقدرت څخه انکار لازمیږی) اوخپل اصل یی هیر کی (چی مونږ دی دیوی حقیری نطفی څخه یوکامل انسان جوړکی) وایی چی هډوکی کله چی هغه وراسته سی، څوك به یی ژوندی کړی ته جواب ورکه چی دابه هغه څوك ژوندی کړی چاچی اول دا پیدا کړی دی (چی داول تخلیق په وخت کی ددی هډوکو دژوند سره هیڅ تعلق نه وو اواوس خویو وارپه دوی کی حیات پیدا سوی دی ، یوقسم تعلق یی دحیات سره پیدا سوی دی ، اوس په دوی کی حیات پیدا کول څه مشکل دی) اوهغه په هرقسم پیدا کولو باندی پوه دی (یعنی په ابتداء کی یوشی پیدا کول یاپیدا سوی شی فنا کول دوباره پیدا کول) هغه داسی (قادر مطلق) دی چی د (څینو) شنو درختو څخه ستاسی دپاره اور پیدا کوی بیا دهغه څخه تاسی نور اور بلوی (لکه چی په عربوکی یوه درخته وه، مَرْخ، بله، عفار، ددی دواړو درختو دیوځای کیدو څخه به اور پیدا کیدی ، نو کوم قادر چی دشنو درختو په اوبوکی اور پیدا کړی دی ، نو په نورو جماداتوکی حیات پیدا کول دهغه دپاره څه مشکل دی) اوچاچی آسمانونه اومځکه پیدا کړی دی ، آیاهغه په دی قادرنه دی چی د دوی په شان انسانان (دوباره) پیدا کړی ، خامخا قادر دی او هغه لوی پیدا کوونکی ښه پوهیدونکی دی (او دهغه قدرت داسی دی چی) هرکله هغه څه شی (دپیداکولو) اراده کوی نو بس دهغه عادت خو دا دی چی هغه شی ته ووایی چی وسه نو هغه وسی نو (ددی ټولو مقدماتو څخه ثابته سوه چی) دهغه ذات پاك دی چی په لاس کی یی دهرشی پوره

Maktaba Tul Ishaat.com

اختیاردی او (دا خبره دتولو شبهاتو څخه سالمه پاته سوه چی) ستاسی تولو هغه ته واپس کیدل دی (یعنی دقیامت په ورځ)

معلومات اومسئلي: أَوَلَمْ يَرَ الْإِنسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن نُّطْفَةٍ : دسورة یٰس دا اخری پنځه ایتونه په یوه خاص واقعه کی نازل سوی دی ، کوم چی په څینو روایتوکی دابی بن خلف طرف ته یی نسبت سوی دی اوپه څینوکی دعاص بن وائل طرف ته اوپه دی کی هم څه بعد نسته چی ددواړو سره داسی واقعه پیښه سوی وی، اول روایت بیهقی په شعب الایمان کی، او دوهم روایت ابن ابی حاتم دحضرت ابن عباس ﷺ څخه نقل کړی ، هغه دا دی چی عاص بن وائل دبطحی دمکی څخه یو وروست هډوکی راپورته کی اودایی په خپل لاس کی ومړی ذره ذره یی کی ، بیایی نبی کریم ﷺ ته وویل چی ایا دا هډوکی به الله ﷻ ژوندی کړی دکوم چی داحال ته وینی رسول الله ﷺ وفرمایل چی هو! الله ﷻ به تاته مرګ راولی بیابه دی ژوندی کی بیابه دی جهنم ته دا خل کی (ابن کثیر)

غَيْرُ مُبِينٌ : یعنی دا دحقیری نطفی څخه پیدا سوی انسان څنګه بنکاره مقابلی ته راغی چی دالله ﷻ دقدرت څخه انکار کوی .

ضَرَبَ لَنَا مَثَلًا: دلته دضرب مثل څخه مراد دده دا واقعه ده چی وروست سوی هډوکی یی په لاسونو مات مات کي اودوباره ژوند یی محال یامستبعد وګنی، ددی څخه وروسته فرمایی .

وَنَسِيَ خَلْقَهُ : یعنی ددی مثال بیانولو په وخت کی ده په خپله خپل پیدائش هیرکی چی په یوه حقیره ناپاکه بی جانه قطره کی یی روح اچولی اودی یی پیدا کړی دی که هغه خپل دا اصل نه هیرولی نو ددا سی مثالونو پیش کولو اودالله ﷻ دقدرتونو څخه دانکار جرأت به یی نه کوی .

جَعَلَ لَكُم مِّنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ نَارًا: په عربوکی دوی درختی معروفی وی ، یوه مَرْخ، دوهمه عفار، دعربو خلګو به ددی دواړو درختو دوه ښاخونه دمسواك په مثل پریکول چی بالکل شنه داوبو څخه به ډك وه چی یوبه یی په بل پوری ومړی نو اور به ورڅخه پیدا کیدی ، دشنی درختی څخه په اور پیدا کولو کی دی طرف ته اشاره ده (قرطبی) اوکه د درختو اخری انجام ته وکتل سی نوهره درخته په اول کی تکه شنه وی ، بیابه اخرکی وچه سی ، داور ذریعه جوړیږی ، دغه دول هره درخته هم ددی مصداق کیدی سی ، لکه چی دقرآن کریم په دی آیت کی په ظاهره دامراد دی . أَفَرَأَيْتُمُ النَّارَ الَّتِي تُورُونَ ۝ أَأَنتُمْ أَنشَأْتُمْ شَجَرَتَهَا أَمْ نَحْنُ الْمُنشِئُونَ، یعنی ایا تاسی هغه اورنه دی لیدلی کوم چی تاسی بلوی اوخپل کار ورڅخه اخلی ایا په دی اور سره شغله کوونکی درخته تاسی پیدا کړیده یا که مونږ ؟

لیکن په ذکر سوی آیت کی چونکی دشجر سره دَاَخْضَر صفت هم ذکر سوی دی ، په دی وجه دلته ظاهره دا ده چی دغه خاص درختی مرادی دی ، دکومو څخه چی دشینوالی باوجود اور پیدا کیږی .

إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَن يَقُولَ لَهُ كُن فَيَكُونُ : مراد دایت دا دی چی الله ﷻ کله دیوشی پیدا کول وغواړی نو دانسانی مصنوعاتو په شان هغه ته ددی ضرورت نه وی چی اول مواد ورته جمع کړی ، بیایی کاریګری راوغواړی ، بیا تریوی مودی پوری کارکوی ، هغه شی تیارسی، بلکه هغه چی کله اوځه وخت دڅه شی پیدا کول وغواړی، هغه ته صرف حکم ورکول کافی وی چی، پیدا سه، نوکوم شی ته چی

Maktaba Tul Ishaat.com

داحکم ورکول سی هغه فوراً دده دحکم مطابق په وجود کی راسی، ددی څخه دانه لازمیږی چی دهرشی تخلیق دی دفعی اوفوری وی ، بلکه دخالق دحکمت تابع دکوم شی چی فوری پیدا کیدل مصلحت وی، هغه فوری طور بی مهلته پیدا کیږی او دکوم شی چی پیدا کیدل دځه حکمت اومصلحت په بنا تدریجی مناسب وگنل سی ، هغه په دغه تدریج سره په وجود کی راځی برابره خبره ده که صورت یی داسی وی چی ده ته یی داول څخه په حکم کی خاص په تدریج سره پیدا کیدل ښوولی وی یا پرهره مرحله ده ته په جلا حکم دگُن سره خطاب کیږی . والله تعالی اعلم

قد تمت سورة یس بحمد الله وعونه لثمانی وعشرین من شهر صفر سنة ۱۳۹۲هـ یوم الخمیس وبتمامه تم الحمد لله الحزب الخامس من الاحزاب السبعة القرآنیة فالحمد لله اولاً واخراً وظاهراً وباطناً

﴿ سورة الصافات ﴾

سُوْرَةُ الصّٰفّٰتِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّاثْنَتَانِ وَثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّخَمْسُ رُكُوْعَاتٍ

سورة صفت په مکه کی نازل سو او په دی کی یوسل دوه اتیا(۱۸۲) ایتونه دی اوپنځه (۵) رکوع گانی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم دالله په نوم سره چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی .

وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ﴿۱﴾ فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ﴿۲﴾ فَالتّٰلِيٰتِ ذِكْرًا ﴿۳﴾ اِنَّ اِلٰهَكُمْ

قسم دی دصف کیدونکو په قطار سره ، بیا دشړونکو په تیزی سره ، بیادویونکو په ذکر سره ، بیشکه معبود

لَوَاحِدٌ ﴿۴﴾ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ﴿۵﴾

ستاسی یو دی ، رب داسمانونو او دمځکی اوځه چی ددی په مینځ کی دی او رب دمشرقونو

اِنَّا زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِزِيْنَةِ ِۨالْكَوَاكِبِ ﴿۶﴾ وَحِفْظًا مِّنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ

مونږ ښائسته کړی دی اسمان ددنیا په ښائست دستورو ، او محفوظ کړی مودی دهرشیطان سرکش

مَّارِدٍ ﴿۷﴾ لَا يَسَّمَّعُوْنَ اِلَى الْمَلَاِ الْاَعْلٰى وَيُقْذَفُوْنَ مِنْ كُلِّ

څخه ، نه سی اوریدی خبره دلوړ مجلس او ویشتل کیږي دهر یو طرف څخه

جَانِبٍ ﴿۸﴾ دُحُوْرًا وَّلَهُمْ عَذَابٌ وَّاصِبٌ ﴿۹﴾ اِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ

، دپاره دشړلو او هغوی لره عذاب همیشه ، مگر څوک چی ناڅاپه خبره وتښتوی

Maktaba Tul Ishaat.com

فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ﴿۱۰﴾

نو ورپسی سی لمبه خلیدونکی

لنډتفسیر: قسم دی په هغه ملائکو کوم چی (په عبادت کی یا دالله ﷻ دحکم اوریدو په وخت کی) صفونه وتړی ودریږی (لکه چی په دی سورة کی مخ ته راځی، وَاِنَّا لَنَحْنُ الصَّآفُّوْنَ : بیا قسم دی) په هغو ملائکو کومی چی (دشهاب ثاقب په ذریعه دآسمانی خبرونو راوړلو څخه دشیطانانو) بندکوونکی دی (لکه چی په دی سورة کی نژدی راځی) بیا (قسم دی) په هغو ملائکو کومی چی (دالله ﷻ ذکر (تسبیح او تقدیس) تلاوت کوونکی دی (لکه چی په دی سورت کی به راسی ، وَاِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُوْنَ : غرض داچی ټول قسمونه خوری وایی) چی ستاسی معبود (برحق) یودی (او ددی توحید دلیل دا دی چی) هغه پروردګار دی دآسمانونو اودمځکی اوځه چی ددی په مینځ کی دی (یعنی ددی مالك اومتصرف) او پروردګار دی (دټولو ستورو) دختلو دموقعو (او) هم مونږ رونق ورکړی دی ددی طرف والا آسمان ته یوعجیبه رونق یعنی په ستورو سره او (په دی ستورو سره ددی آسمان یعنی دده دخبرونو) حفاظت موهم کړی دی دهرشریر شیطان څخه (چی طریقه یی مخ ته بیان سوې ده اوددی حفاظت دانتظام په وجه سره) دغه شان شیطانان دعالم بالا (یعنی دملائکو خبرو) ته غوږونه هم نه سی اینبووی (یعنی اکثره خو دویشتو ډبیری څخه لیری لیری اوسیږی) آو (که چیری اتفاقًا ددی کوشش وکړی هم نو) هغه دهرطرف څخه (یعنی کوم طرف ته هم چی کوم شیطان څی) په ویشتلو سره شړل کیږی (دا عذاب اوترټل خو دوی ته فی الحال ورکول کیږی) او (بیاپه اخرت کی) دهغوی دپاره دجهنم) دائمی عذاب به وی (غرض دا چی داسمانی خبر اوریدو څخه مخکی دوی ویشتل اوزغلول کیږی دوی داوریدو په اراده راسی ، مګر ناکامه سی) مګر کوم شیطان چی دځه خبر اخیستو سره را وتښتی نویوه بله شغله په ده پسی سی (چی دی وسوزی ایره سی نو په دی وجه چی ده څه اوریدلی وی دهغه نوروته په رسولوکی ناکامه سی ، دا ټول انتظامات اوتصرفات په توحید خداوندی باندی دلالت کوی)

معلومات اومسائل: دسورة مضامین: دا سورة مکی دی او دنورو مکی سورتونو په شان ددی بنیادی موضوع هم ایمانیات دی اوپه دی کی دتوحید، رسالت اواخرت عقیدی یی په مختلفو طریقو سره مدللی کړی دی ، په دی ضمن کی دمشرکینو دعقیدو تردید هم دی ، اوپه اخرت کی دجنت اودوزخ دحالاتو منظرکشی هم ، کومی عقیدی چی دټولوانبیاؤ په دعوت کی شاملی دی ، هغه یی په مدلل کولو او دکفارو دشبهو او اعتراضونو لیری کولو څخه وروسته دا بیان کړی دی چی په تیر وخت کی کومو خلکو داعقیدی منلی دی ، دهغوی سره الله ﷻ څه معامله کړې ده اوچا چی دکفر اوشرك لار اختیار کړه دهغوی څه انجام سو؟ چنانچی په دی ضمن کی دحضرت نوح ﷺ حضرت ابراهیم ﷺ او د دوی دزامنو اوحضرت موسیٰ ﷺ اوحضرت هارون ﷺ حضرت الیاس ﷺ حضرت لوط ﷺ اوحضرت یونس ﷺ واقعات کله اجمالاً اوکله په تفصیل سره ذکر سوی دی ، دمکی مشرکانو به ملائکوته دخدای لونی ویلی ، په اخرکی ددی عقیدی په تفصیل سره تردید سوی دی اودسورة دمجموعی طرزځخه دا

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومیږی چی دی سورة کی دشرك ددی خاص قسم (یعنی ملائکوته دخدای دلونو ویلو) تردید په خاص طورسره دنظر په وړاندی ساتل سوی دی ، په دی وجه یی سورة په ملائکو دقسم اخیستو او د دوی دبندګی په صفتونو ذکر کولو سره شروع کړی دی ، والله سبحانه تعالی اعلم

﴿ اولني مضمون دتوحید ﴾

سورة یی دتوحید دعقیدی دبیان څخه شروع کړی دی اودمخکنیو څلورو ایتونو اصل مقصد دابیانولو دی چی ، اِنَّ اِلٰهَکُمْ لَوَاحِدٌ (بیشکه ستاسی معبود یو دی) لیکن ددی خبری دبیانولو څخه مخکی یی دری قسمونه اخیستی دی، ددی قسمونو کلکه لفظی ترجمه دا ده .

قسم دی په صف ترونکو دریدونکو ، بیاقسم دی په بندش کوونکو ، بیاقسم دی دذکرپه تلاوت کوونکو دا ، صف ترونکی دریدونکی، بندش کوونکی اودذکر تلاوت کوونکی، څوك دی ؟ دقرآن کریم په الفاظو کی ددی وضاحت نسته ، په دی وجه ددی په تفسیرکی مختلفی خبری ویل سوی دی ، دځینو حضراتو وینا ده چی ددی څخه مراد دالله ﷻ په لاره کی جهاد کوونکی هغه غازیان دی کوم چی صفونه ترې ودریږی چی پرباطلو قوتونو باندی ،بندش، ولګوی، او دصفونو کیدو په وخت کی په، ذکر اوتسبیح اوتلاوت دقرآن کی هم مشغوله وی .

ځینی وایی چی ددی څخه مراد هغه لمونځ کوونکی دی ، کوم چی په مسجدکی صفونه ترې اوړه شیطانی فکرونو اوعملونو باندی، بندش، راولی او خپل پوره فکر، په ذکر او تلاوت، باندی موکز ساتی (تفسیرِ کبیر، قرطبی) او ددی څخه علاوه هم ځینی تفسیرونه بیان سوی دی کوم چی دقرآن دالفاظو سره زیات مناسبت نه لری .

لیکن دجمهورو مفسرینو په نزد چی کوم تفسیر ته دټولو څخه زیات مقبولیت حاصل سو، هغه دا دی چی ددی څخه مراد ملائکی دی او دلته د دوی دری صفتونه بیان سوی دی .

اولنی صفت : اَلصّٰافّٰاتِ صَفًّا : دی ، دالفظ دَصَفَّ څخه وتلی دی او ددی معنی دا ده چی ، یوی ډله پریږده کربنه برابر درول (قرطبی) په دی وجه ددی معنی سوه، صف ترلی دریدل .

دفرشتو دصف بندی ذکرپه دی سورة کی مخ ته هم راروان دی ملائکی په خپله په خپل باره کی وایی، اِنَّا لَنَحْنُ الصَّآفُّوْنَ (یعنی بیشکه مونږ صف ترلی دریږو) دا صف بندی کله وی ؟ ددی په جواب کی ځینی حضرات مفسرین مثلاً حضرت ابن عباس ﷺ ، حسن بصری اوقتاده رحمة الله علیهم دا فرمایی چی ملائکی همیشه په فضاکی صف ترلی دالله ﷻ دحکم دپاره ګوش براوازوی ، اوکله چی ورته څه حکم ورکول سی نو تعمیل یی کوی (مظهری) اوځینی حضراتو دا دعبادت دوخت سره مخصوص کړی دی یعنی کله چی ملائکی په عبادت او ذکر اوتسبیح کی مشغولی وی نو صفونه ترې (تفسیرِ کبیر)

﴿ په دین کي نظم اوضبط مطلوب دی ﴾

ددی آیت څخه معلومه سوه چی په هرکارکی دنظم او ضبط اوترتیب اوسلیقی لحاظ ساتل په دین کی مطلوب دی اودالله ﷻ خوښ دی ، ظاهره ده چی دالله ﷻ عبادت وی یادهغه دحکمونو تعمیل دادواړه مقصدونه داسی هم حاصلیدی سول چی ملائکی دصف بندی په څای په یوغیر منظمه طریقه دیر

Maktaba Tul Ishaat.com

اندوخری په شکل کی جمع کیدی لیکن ددی بدنظمی په ځای دوی ته دصف بندی توفیق ورکول سو اوپه دی آیت کی د دوی په ښو اوصافوکی دټولو څخه اول د دوی ددی وصف ذکر یی وکی او وي ښوولە چی دالله ﷻ د دوی دغه ادا ډیره خوښه ده.

(په لمانځه کي دصفونو برابرول او ددی اهمیت)

چنانچی انسانانوته هم دعبادت په دوران کی ددی صف بندی ترغیب اوتاکید سوی دی، دحضرت جابربن سمره ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ مونږ ته وفرمایل، تاسی (په لمانځه کی) داسی صف بندی ولی نه کوی، څنګه چی ملائکی دخپل رب په حضورکی کوی؟ اصحابو پوښتنه وکړه، ملائکی دخپل رب په حضورکی څنګه صف بندی کوی؟ ده ﷺ جواب ورکی، هغوی صفونه پوره کوی اوپه صفونوکی پیوست دریږی (یعنی په مینځ کی خالی ځای نه پریږدی) (مظهری)

په لمانځه کی دصفونو پوره کولو اودسیده ساتلو په تاکیدکی دومره احادیث وارد سوی دی چی یوه پوره رساله ورڅخه جوړیدی سی حضرت ابومسعود بدری ﷺ فرمایی چی نبی کریم ﷺ به په لمانځه کی زمونږ پراوږو لاس مبارك اینبووی اوفرمایل به یی، سیده سی مخ ته شاته کیږی مه، کنه نوستاسی په زړونو کی به اختلاف پیداسی (جمع الفوائد بحواله مسلم ونسایی ص ۹۲ ج ۱)

دملائکو دوهم صفت: فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا: بیان سوی دی، دالفظ زَجْرٌ څخه وتلی دی، چی معنٰی یی ده، بندول، شړل، حضرت تهانوی رحمه الله ددی ترجمه به بندیز کوونکی سره کړي ده کوم چی دلفظ هرممکن مفهوم لره جامع دی، ملائکی پرڅه شی باندی بندیز عائد کوی؟ دقرآن کریم دسیاق ترمخه زیات تره مفسرینو ددی داجواب کړی دی چی دلته دبندیز عائدکولو څخه مراد دملائکو هغه عمل دی دکوم په ذریعه چی دوی شیطانان عالم بالاته درسیدو څخه منع کوی اودکوم چی تفصیلی ذکر په خپله په قرآن کریم کی مخ ته راځی.

دریم صفت: فَالتّٰلِيٰتِ ذِكْرًا: دی، یعنی دا ملائکی دذکر تلاوت کوونکی دی دذکر مفهوم دَ، نصیحت خبره، هم ده او، یادِ خدا، هم په اول صورت کی به مطلب دا وی چی الله ﷻ داسمانی کتابونو په ذریعه چی کومی دنصیحت خبری نازلی کړی دی، دوی دهغه تلاوت کوونکی دی اودا تلاوت دحصول برکت اوعبادت په طورهم کیدی سی او دا هم ممکنه ده چی په دی سره وحی راوړونکی ملائکی مراد وی، چی هغوی دانبیاء علیهم السلام په مخکی ددغو کتابونو دنصیحت تلاوت کوی دوی ته دالله ﷻ پیغام رسوی او په بل صورت کی چی کله دذکر څخه مراد دخدای یاد واخیستل سی نومطلب به یی دا وی چی هغوی هردم دهغو کلمو په تلاوت کی مصرف وی کوم چی دالله ﷻ په تسبیح اوتقدیس دلالت کوی.

دلته قرآن کریم دملائکو دا دری صفتونه ذکر کړل او دبندګی ټول اوصاف یی جمع کړی دی، یعنی دعبادت دپاره صف بسته دریدل طاغوتی طاقتونه دالله ﷻ دنافرمانی څخه منع کول، اودالله ﷻ احکام اومواعظ په خپله ویل اونورو ته یی رسول، اوظاهره ده چی دبندګی هیڅ عمل ددی درو شعبو څخه خالی کیدی نه سی، په دی وجه دَ ځلورو سره وو آیتونو مطلب دا سو چی، کومی ملائکی دبندګی دټولو صفتونو حاملی دی په هغوی قسم دی چی ستاسی معبود برحق یودی.

Maktaba Tul Ishaat.com

(په ملائکو قسم ولي واخستل سو؟)

په دی کی په ملائکو باندی په خاص طور سره دقسم اخیستلو وجه دا معلومیږی چی لکه څنګه چی مخکی عرض وسو، ددی سورة مرکزی موضوع دشرك دهغه خاص قسم تردیددی ترکوم لاندی چی دمکی خلګو ملائکو ته دخدای ﷻ لونی ویلی ، نو دسورة په ابتداء کی یی په ملائکو قسم واخیستی، د دوی هغه صفتونه بیان سول په کومو سره چی د دوی دمکملی بندګی اظهار کیږی ، ګویا مطلب دا دی چی دَملائکو په دی صفتونو دبندګی فکروکی نوداخبره به په خپله ستاسی په مخکی شاهدی ورکی چی دالله ﷻ سره د دوی تعلق دپلاروالی اولوروالی نسته ، بلکه دبنده اومولی ده .

(دالله ﷻ قسم اخیستل او ددی په حقله احکام او سوال او جواب)

په قرآن مجید کی الله ﷻ دایمان اوعقیدو دډیرو اصولی مسئلو دتاکید دپاره مختلف قسم قسمونه اخیستی دی ، کله دخپل ذات کله په خپل مخلوقات کی دخاصو خاصوشیانو ، ددی په حقله ډیرسوالان دی ، په دی وجه په قرآن کریم کی دایوه مستقله اصولی مسئله جوړه سوې ده ، حافظ ابن قیم رحمۃ اللہ علیہ په دی یومستقل کتاب ، التبیان فی اقسام القرآن، لیکلی دی ، علامه سیوطی رحمۃ اللہ علیہ دخپل تفسیر داصولو په کتاب ، الاتقان، کی دَبحثونو اووه شپیتمه نوع دا مقرره کړې ده او په تفصیل سره یی کلام کړی دی، دلته ورځخه ضروری اجزاء لیکل کیږی ؟

اولنی سوال : دالله ﷻ په قسم اخیستوکی په فطری طور سره داسوال پیداکیږی چی حق تعالی اغنی الاغنیاء دی ده ته ضرورت څه دی چی چاته دیقین کولو دپاره قسم اخلی ؟

په، اتقان، کی دابو القاسم قشیری رحمۃ اللہ علیہ څخه ددی سوال په جواب کی دا ذکر دی چی الله ﷻ نه خو دقسم اخیستو څه ضرورت نه وو، مګر دده چی کوم شفقت اورحمت په خپل مخلوق دی ، هغه دا وغوښتله چی په یودول نه یودول سره داخلګ حق قبول کړی اودعذاب څخه محفوظ سی ، یواعرابی چی کله آیت ، وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ ۝ فَوَرَبِّ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِنَّهُ لَحَقٌّ، واوریدی نوویی ویل چی دالله ﷻ په شان عظیم الشانه هستی چا ناراضه کړې ده ، چی دی یی په قسم اخیستلو مجبوره کی؟

لنده دا چی شفقت علی الخلق ددی داعی سو چی لکه څنګه چی ددنیا دجګړو ختمولو او اختلافاتو ختمولومعروفه طریقه داده چی په دعوٰی شاهدی پیش سی چی شهادت نه وی نوقسم واخیستل سی دغه شان الله ﷻ دانسان دا مانوسه طریقه اختیار کړې ده ، کله یی دشهادت په الفاظو سره دمضمون تاکید فرمایلی دی لکه ، شَهِدَ اللهُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ: الایة اوکله دقسم په الفاظوسره لکه، إِي وَرَبِّي إِنَّهُ لَحَقٌّ: وغیره

دوهم سوال : دا دی چی قسم دخان څخه په ډیر لوی اخیستل کیږی الله ﷻ په خپل مخلوقاتو قسم اخلی کوم چی په هر حیثیت سره دده څخه کمتر دی ؟

جواب دا دی چی هرکله دحق تعالی څخه لوی څوك ذات نه سته نه کیدی سی نو دا ظاهره ده چی دحق تعالی قسم دعام مخلوق دقسم په شان نه سی کیدی ، په دی وجه حق سبحانه تعالی کله په خپل پاك ذات قسم اخیستی دی ، لکه، اِيْ وَرَبِّيْ، او دغه شان دحق ذات قسمونه په قرآن کریم کی اوه ۷ ځایه راغلی دی اوکله یی په خپلو کارونو اوصفتونو او په قرآن قسم اخیستی دی، لکه ، وَالسَّمَاءِ وَمَا بَنَاهَا

Maktaba Tul Ishaat.com

وَالْأَرْضِ وَمَا طَحَاهَا وَنَفْسٍ وَمَا سَوّٰهَا : اودیر قسمونه یی دخپل مخلوق اومفعول استعمال سوی دی کوم چی دمعرفت دذریعی دکیدوپه حیثیت سره دده دذات طرف ته راجع کیږی (لکه چی داسی ذکرکړی دی ابن قیم رحمه الله په مخلوقاتوکی چی په کومو شیانو قسم اخیستی دی ، کله خو دهغه څخه دهغه شی عظمت اوفضیلت بیانول مقصود وی ، لکه چی په قرآن کریم کی دنبی کریم ﷺ په عمر قسم راغلی دی ، لَعَمْرُكَ إِنَّهُمْ لَفِي سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ : ابن مردویه دحضرت ابن عباس رضی الله عنه دا قول نقل کړی دی چی الله ﷻ یو مخلوق اویوشی په دنیاکی دنبی کریم ﷺ دذات گرامی څخه زیات معززاومکرم نه کړی پیدا داوجه ده چی په ټول قرآن کریم کی دیونبی اورسول په ذات قسم نه دی اخیستل سوی صرف دنبی کریم ﷺ په عمر قسم په ذکر سوی آیت کی راغلی دی ، دغه شان قسم هم دطور اودکتاب دعظمت ظاهرولو دپاره راغلی دی .

اوځینی وخت دیو مخلوق قسم څکه اخیستل سوی دی چی دغه کثیر المنافع دی ، لکه ، وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ : اوځینی ځای یی دیو مخلوق قسم څکه اخیستی دی چی دده تخلیق دالله ﷻ دعظیم قدرت مظهر او دصانع عالم دمعرفت مهمه ذریعه ده اوعموماً په کوم شی چی قسم اخیستل سوی دی ، دغه ته دهغه دمضمون په ثبوت کی څه دخل ضروری وی ، دکوم مضمون دپاره چی قسم اخیستل سوی کوم چی هرځای په فکر کولو سره معلومیږی .

دریم سوال : دا دی چی دشریعت مشهور حکم دعامو انسانانو دپاره دا دی چی دالله ﷻ ماسوا په بل چا قسم اخیستل نه دی روا دالله ﷻ دطرف څخه په خپله دمخلوقاتو قسم اخیستل ایا ددی دلیل نه دی چی دنورودپاره هم دغیرالله قسم اخیستل جائزدی؟ ددی په جواب کی حضرت حسن بصری رحمه الله فرمایلی دی

اِنَّ اللّٰهَ يُقْسِمُ بِمَا شَآءَ مِنْ خَلْقِهٖ وَلَيْسَ لِاَحَدٍ اَنْ يُّقْسِمَ اِلَّا بِاللّٰهِ : رواه ابن ابی حاتم (ازمظهری)

الله ﷻ ته اختیار دی ، هغه په خپل مخلوقات کی په هرشی چی وغواړی قسم اخلی ، مګر دبل چا دپاره دالله ﷻ څخه ماسوا په بل چاقسم اخیستل جائز نه دی .

مطلب دا دی چی خپل ځان په الله ﷻ باندی قیاس کول غلط اوباطل دی ، هرکله چی په الهی شریعت کی دعامو انسانانو دپاره په غیر الله قسم اخیستل ممنوع سو ، نو دالله ﷻ په خپل ذاتی فعل سره ددی څخه خلاف استدلال کول باطل دی .

ددی څخه وروسته دذکر سوو ایتونوکی یی پر تفسیر فکر وکی .

په اولنیو څلورو ایتونوکی یی په ملائکو قسم اخیستی دی اودایی بیان کړی دی چی ستاسی دتولو معبود برحق یو دی ، که څه هم دقسم په دوران کی دملائکو هغه صفتونه هم ذکر سوی دی په کومو چی لږ څه هم فکر وسی نوهغه دتوحید دعقیدی دلیل معلومیږی ، لیکن په ورپسی شپږو ایتونوکی دتوحید دلیل ، مستقلاً بیان سوی دی ، ارشاد دی .

رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ (هغه پروردګاردی دآسمانونواومځکواوددوی په مینځ کی چی څومره مخلوقات دی دهغو ، اوپروردګاردی دمشرقونو) نوکوم ذات چی ددومره عظیم مخلوقات خالق اوپروردګار وی ، دعبادت مستحق هم هغه دی اودا ټول کائنات ددوجود او یووالی دلیل دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دلته، اَلْمَشَارِق : دمشرق جمع ده اوچونکی لمر دکال په هره ورځ کی دیونوی ځای څخه راخیژی ، په دی وجه دده مشرقونه ډیر دی ، په دی بنا دلته دجمع صیغه راوړل سوي ده .

إِنَّا زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِزِينَةِ نِ الْكَوَاكِبِ : په دی کی دَسَمَآءَ الدنیا څخه مراد زیات نژدی آسمان دی اومطلب دا دی چی مونږ دانژدی آسمان دستورو په ذریعه ښائسته کړی دی ، اوس دا څه ضروری نه ده چی داستوری دی خاص په آسمان کی وی ، بلکه که ددی څخه جلاوی خو بیاهم چی ددنیا څخه ورته کتل کیږی نو په آسمان کی معلومیږی او د دوی په وجه آسمان ښایښه ونکی په نظر راځی ، صرف دومره قدر ښوول دی چی دستورو څخه ډك دا اسمان ددی خبری دلیل دی چی دا خودبخوده په وجودکی نه دی راغلی بلکه ددی پیداکوونکی پیداکړی دی اوکوم ذات چی دومره عظیم الشان شیان په وجودکی را وستلی سی ، هغه ته دشریك اوشریکی څه ضرورت دی ؟ دارنګه کله چی دا خبره دمشرکانو په نزدهم طی سوی ده ، چی ددی ټولو اسمانی اجسامو خالق الله ﷻ دی ، نو دا لویه دظلم خبره ده چی خالق اومالك هغه وی اوعبادت دی دبل کول کیږی .

پاته سوه دا مسئله چی ستوری دقرآن په وجه سره په آسمان کی پیوست دی یا ورځنه جلا دی ؟ دارنګه دقرآن کریم دعلم هئیت سره څه ربط دی ؟ په دی موضوع مفصل بحث په سورة حجرکی تیر سوی دی .

وَحِفْظًا مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ مَارِدٍ، تر، فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ ثَاقِبٌ : په دی ایتونوکی دزینت او ارائش څخه علاوه دستورو یوه فائده دا هم بیان سوي ده چی د دوی په ذریعه شریر قسم شیطانان دعالم بالا دخبرو اوریدو څخه بندولی سی ، دغه دغیبی خبرونو داوریدو دپاره آسمان ته نژدی ځی لیکن دوی ته دملائکو دخبرو اوریدو موقع نه ورکول کیږی ، یو شیطان که نیمه یا دریمه حصه خبره واوری وتښتی نو دیوی بلی شغلی په ذریعه ویشتل کیږی ، چی دی دنیا ته رانه سی اوخپلو معتقدو کاهنانو نجومیانو ته څه ونه ښوول سی، دی بلی شغلی ته شهاب ثاقب، ویل سوی دی .

دَ، شهاب ثاقب، څه تفصیل په سورة حجرکی تیرسوی دی، دلته دومره خبرداری ضروری دی چی پخوانی یونانی فلاسفران ددی خبری قائل وه چی، شهاب ثاقب، په اصل کی څه زمینی ماده ده کومه چی دَبخاراتو سره پورته ځی اوداور کُړی ته ورسیږی نو لمبه سی ، لیکن دَقرآن کریم دظاهری الفاظو څخه دا معلومیږی چی، شهاب ثاقب، څه زمینی ماده نه ده، بلکه په عالم بالاکی پیدا کیدونکی یوشی دی ، پخوانیو مفسرینو په دی موقع باندی داویلی دی چی دیونانی فلسفی داخیال چی، شهاب ثاقب، څه زمینی ماده ده، محضی په قیاس اوتخمین باندی مبنی دی، په دی وجه ددی څخه پرقرآن څه اعتراض نه سی کیدی ، دَدی څخه علاوه که څه زمینی ماده لوړه ځی اولمبه کیږی نو په قرآن کریم سره ددی هم څه منافات نسته .

لیکن نن نوو سائنسی تحقیقاتو داسوال دسره ختم کړی دی، دموجوده سائنسدانانو خیال دا دی چی شهاب ثاقب، دبی شمیره ستورو کوچنی ذری وی اوپه عام طور سره دلویو لویو خښتو برابر، اودابی شمیره ټکړی په فضاکی وی ، ددی یوی مجموعی ته اسدیه وایی، کومه چی دلمر پرشا اوخوا دهریږی په شکل کی ګردش کوی ، او ددی یوه دوره په درو دیرش ۳۳ کاله کی پوره کیږی، په دی ټکړوکی رنا د

Maktaba Tul Ishaat.com

دوی دتیز رفتاری اوخلایی اجرامو دمنبلیدو څخه پیداکیږی ، دا تکړی دلسم اګست او اووه ویشتم نومبر په شپوکی زیاتی رالویږی ، اوپه ۲۰ اپریل، ۲۸ نومبر ۱۸ اکتوبر او ۶، ۹، ۱۳، دسمبر په شپوکی کمی سی (از تفسیر الجواهر للطنطاوی ص ۱۵ ج۱)

دجدید سائنس داتحقیق دقرانی اسلوب بیان زیات مطابق دی ، البته کوم خلک چی دَ، شهاب ثاقب، په ذریعه دشیطانانو ویشتل بعید ازقیاس ګڼی ، د دوی په باره کی طنطاوی مرحوم په الجواهر کی ډیره ښه خبره لیکلی ده .

زمونږ پلار نیکه اوحکماوو ته هم دا خبره ګرانه محسوسیده چی قرآن کریم د دوی دزمانی دعلم فلکیات خلاف څه خبره وکی لیکن مفسرین په دی خبره راضی نه سول چی د دوی فلسفیانه نظریات قبول کړی اوقرآن پریږدی ، ددی پرځای هغوی فلسفیانه نظریات پرینبـول، اودقرآن کریم سره سول، څه زمانه وروسته خودبخوده ثابته سوه چی دپخوانی یونانی فلسفی خیال بالکل باطل اوغلط وو، اوس وواياست چی که مونږ دا ومنو چی دا ستوری شیطانان سوزی ، او وُلی یی اوتکلیف ورته رسوی ، نو په دی کی کوم اشکال دی مونږ دقرآن کریم دابیان تسلیمـوو دمستقبل په انتظار کی یو (کله چی سائنس هم دا حقیقت تسلیم کړی) (جواهر ص ۱۴ ج ۸)

اصل مقصد: دلته دآسمانونو، ستورو او شهاب ثاقب په ذکر کولو سره یو مقصد خو دتوحید اثبات دی چی کوم ذات په یوازی دومره زبردست افاقی انتظامات کړی دی هغه دعبادت لائق هم دی ، دوهم په دی دلیل کی دهغو خلکو دخیال تردید هم وسو، کوم چی شیطانان دیوتاګان یا معبودان ګرځوی، او وریاده سوه چی دا خو یو مردود اومقهور مخلوق دی ، د دوی دخدایی سره څه واسطه ده ؟

ددی څخه علاوه په دی مضمون کی دهغو خلکوهم تردید موجوددی کم چی قرآن کریم په نبی کریم ﷺ نازلیدونکی وحی دکاهنانو په کهانت سره تعبیر کوی ، په دی ایتونوکی اشاره وسوه چی قرآن کریم خو دکاهنانو تردیدکوی ، ددغو دمعلوماتو خودتولو څخه لویه ذریعه شیطانان دی اوقرآن دا وایی چی دشیطانانو عالم بالاته رسایی ممکنه نه ده ، دوی دغیبو ربښتنی خبرونه نه سی راوړی ، هرکله چی دکهانت په باره کی دقرآن کریم بیان سوی عقیده دا ده ، نو دا په خپله کهانت څنګه کیدی سی . دغه دول دا ایتونه دتوحید اورسالت دواړو مضامینو طرف ته په اشارو مشتمل دی اومخ ته ددی اسـاسی مخلوقاتو په ذریعه یی داخرت عقیده ثابته کړي ده .

فَاسْتَفْتِهِمْ أَهُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمْ مَّنْ خَلَقْنَا ۚ إِنَّا خَلَقْنَاهُم مِّنْ طِينٍ لَّازِبٍ ﴿١١﴾ بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُونَ ﴿١٢﴾

اوس پوښتنه وکړه د دوی څخه چی آیا دا خلق په پیدائش کی ډیرسخت دی یاځومره مخلوق چی مونږ پیدا کړی دی مونږ دوی پیداکړی دی دختی خمیره سوی څخه ، بلکه ته تعجب کوی او هغوی مسخری کوی ،

وَإِذَا ذُكِّرُوا لَا يَذْكُرُونَ ﴿١٣﴾ وَإِذَا رَأَوْا آيَةً يَسْتَسْخِرُونَ ﴿١٤﴾ وَقَالُوا إِنْ

اوکله چی دوی ته نصیحت کیږي نوسوچ نه کوی ، اوکله چی دوینی څه نښانه نو مسخری ورپوری کوی ، اووایی

Maktaba Tul Ishaat.com

هٰذَآ اِلَّا سِحۡرٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۱۵﴾ ءَاِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبۡعُوۡثُوۡنَ ﴿۱۶﴾

هیڅ نه دی دا هاغه سحر دی ښکاره، هرکله چی مونږ مړه سو اوسوخاوری اوهډوکی نوآیامونږ به بیاپورته کړل سو

اَوَاٰبَآؤُنَا الۡاَوَّلُوۡنَ ﴿۱۷﴾ قُلۡ نَعَمۡ وَاَنۡتُمۡ دَاخِرُوۡنَ ﴿۱۸﴾

آیا او زمونږ پلار نیکه مخکښی هم ؟ ته ووایه چی هو! او تاسی به ذلیله سی .

لنډتفسیر: (هرکله چی په دلیلونو دتوحید سره چی الله ﷻ په دی عظیم الشان مخلوقاتو کی په داسی داسی عظیم تصرفاتو باندی قادردی اوداتول عظیم مخلوقات دده په قبضه دقدرت کی دی) نوته دی (داخرت څخه دانکار کوونکو) څخه پوښتنه وکړه چی داخلګ په پیدائش کی دیر سخت دی یازمونږ پیداسوی دا شیان (دکومو چی اوس ذکر وسو؟ حقیقت دا دی چی دا شیان دیرسخت دی څکه چی) مونږ دا خلګ (خرداډم ﷺ دتخلیق په وخت کی ددی معمولی) خمیره څخه پیدا کړی دی (چی نه په کی څه قوت ستاینه سختی اوانسان کوم چی ددی څخه جوړدی ، هغه هم زیات قوی اوسخت نه دی اوس دسوچ خبره دا ده چی کله مونږ دا قوی اوسخت مخلوقات دعدم څخه په وجودکی په راوړلو قادر یو نو دانسان په شان دضعیف مخلوق دمرګ څخه وروسته په ژوندی کولو به ولی قدرت نه لرو؟ مګر ددی واضح دلیل باوجود داخلګ داخرت دامکان قائل نه سول، بلکه (ددی څخه زیاته خبره دا ده چی) ته خو (د دوی په انکار ہیڅ) تعجب کوونکی یی او دا خلګ (دانکار څخه ماسوا داخرت په عقیده پوری) مسخری کوی اوکله چی هغوی (په عقلی دلیلونو سره) پوهول کیږی نودوی پوهیږی نه اوکله چی دوی څه معجزه وینی (کومه چی ستا دنبوت ثابتولو دپاره دوی ته ښوول کیږی چی داخرت عقیده په ثابته سی) نو (په خپله) په هغه پوری خندا کانی کوی اووایی چی داخو صریح جادو دی (څکه چی که دا معجزه سی نوپه دی سره به ستا نبوت ثابت سی اوستاسی دمنلوخځه وروسته به ستاسی بیان کړی عقیده داخرت هم منل وی ، اوحال دا دی چی مونږ داخرت عقیده نه سو منلی څکه چی) ایا کله مونږ مړه سو اوخاوری اوهډوکی سو نوایا مونږ به (بیا) ژوندی سو اوایا زمونږ مخکی پلرونه اونیکه ګان به هم (ژوندی سی) نه ورته ووایه چی هو! (ضرور به ژوندی سی) اوتاسی به ذلیل هم یاست .

معلومات اومسائل: دتوحید دعقیدی دثابتولوخځه وروسته په دی اتو ایتونوکی داخرت دعقیدی بیان او ددی په حقله دمشرکانو دشبهو جواب ورکول سوی دی ، دتولو څخه په اولنی آیت کی دانسانانو د دوباره ژوندی کیدو په امکان عقلی دلیل پیش سوی دی چی خلاصه یی داده چی دکائناتو دکومو عظیمو اجسامو ذکر چی په تیرو ایتونوکی سوی دی انسان خودهغه په مقابله کی دیر کمزوری دی ، کله چی تاسی دامنی چی الله ﷻ ملائکی ، سپوږمی، ستوری، لمر اوشهاب ثاقب په شان مخلوق په خپل قدرت سره پیدا کړی دی ، نو دده دپاره دانسان په شان کمزوری ته مرګ ورکول اودوباره ژوندی کول څه مشکل دی؟ ځنګه چی تاسی په ابتداء کی دسرینښناکی څخه یی جوړ کړاست او په تاسی کی یی روح واچوی دغه دول کله چی تاسی مړه سی او دوباره خاوری سی نو دغه وخت به بیا الله ﷻ تاسی ته ژوندی درکړی

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکوم دا ارشاد چی یی فرمایلی دی چی ، مونږ دوی دسرپښناکی ختی څخه پیداکړل ، ددی مطلب یا خو دا دی چی د دوی نیکه حضرت ادم ﷺ یی دخاوری څخه پیدا کړی وو اودا هم کیدی سی چی ددی څخه مراد هرانسان وی څکه چی که په فکر سره وکتل سی نو دهر انسان اصل داوبو سره یوځای خاوره وی هغه داسی چی انسان دنطفی څخه پیداکیږی نطفه دوینی څخه جوړیږی وینه دخوراك څخه پیدا کیږی اوخوراك برابره خبره ده په هر شکل کی چی وی دده اصل بوټی دخاوری اواوبو څخه پیدا کیږی .

په هر صورت اولنی آیت داخرت دعقیدی په عقلی دلیل مشتمل دی اودایی په خپله د دوی څخه په دی سوال سره شروع کړی دی چی تاسی زیات سخت مخلوق یاست یادکومو مخلوقاتو ذکر چی مونږ کړی دی ، هغه زیات سخت دی؟ جواب ظاهر وو، چی هغه مخلوقات زیات سخت دی ، په دی وجه ددی دوضاحت کولو په ځای دی طرف ته یی دا وویل او اشاره یی وکړه چی مونږ خو دوی دسرپښ داری ختی څخه پیدا کړی دی .

ددی څخه وروسته په پنځو ایتونوکی ددی رد عمل بیان سوی دی کوم چی داخرت په دلیلونو اوریدو مشرکان ظاهر وی ، دمشرکانو په مخکی چی به داخرت کوم دلیلونه بیانیده هغه دوه قسمه وه ، یوخو عقلی دلیلونه لکه چی په مخکی آیت کی بیان سول ، دوهم نقلی دلیلونه ، یعنی دوی ته به معجزی ښودل کیدی ، دنبی کریم ﷺ نبوت او رسالت به ورته بیانیدی اوویل کیدل به چی دی دالله ﷻ نبی دی نبی هیڅکله درواغ نه سی ویلی دوی ته آسمانی خبرونه راځی ، هرکله چی دوی داخبر ورکوی چی قیامت به راځی، حشر او نشر به وی ، دانسانانو څخه به حساب کتاب اخیستل کیږی ، نو دا خبری یقیناً چی رښتنی دی ، ددی منل په کار دی تر څو پوری چی په عقلی دلیلونو دمکی دمشرکانو رد عمل دی ، دهغه په باره کې ارشاد دی .

بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُونَ ۝ وَإِذَا ذُكِّرُوا لَا يَذْكُرُونَ : یعنی ته په دی خلګو خو داسی تعجب کوی چی سره دواضحو دلیلونو مخ ته راتلو باوجود داخلګ نه منی لیکن دوی چپه د دوی په دلیلونو اوعقیدو پوری مسخری کوی اوکه هرڅومره یی پوهوی ، نه پوهیږی، پاته سول نقلی دلیلونه ، نو ددی په باره کی د دوی رد عمل دا دی چی ، وَإِذَا رَأَوْا آيَةً يَسْتَسْخِرُونَ : یعنی هرکله چی یوه معجزه وینی کومه چی د دوی په نبوت او اخر داخرت په عقیده دلالت کوی ، نو دوی مسخری ورپوری کوی او دا وایی چی داخو ښکاره جادو دی او ددی ټولو مسخرو اوخندا گانو د دوی سره یو دلیل دی اوهغه داچی ، أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ أَوَآبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ : یعنی دا خبره زمونږ په تصور کی نه راځی چی مونږ یازمونږ پلار نیکه دخاوری کیدو اوهډوکو کیدو څخه وروسته به دوباره ژوندی کړل سی؟ په دی وجه مونږ نه څه عقلی دلیل منو او نه څه معجزه وغیره منو، باری تعالی ددی په جواب کی صرف یوه جمله په اخرکی ارشاد فرمایی . قُلْ نَعَمْ وَأَنْتُمْ دَاخِرُونَ : یعنی ته ووایه چی هوا ضرور به تاسی دوباره ژوندی سی اوذلیل اوخوار سوی به ژوندی کړل سی .

په ظاهره خو دا یوحاکمانه جواب دی کوم چی عناد کوونکوته ورکول کیږی لیکن چی لږ فکر وسی نو دا یو پوره دلیل هم دی چی تشریح یی امام رازی په تفسیر کبیرکی کړې ده او هغه داسی چی لوړ یی دوباره

Maktaba Tul Ishaat.com

ژوندی کول په عقلی دلیل سره ثابت کړی دی چی دانسانانو مړه کول بیا ژوندی کول څه ناممکنه خبره ده او دا قاعده ده چی کومه خبره عقلاً ممکنه وی دَدی واقعةً په وجود کی را وستل دیو رښتنی خبر ورکوونکی په خبر ورکولو سره ثابتیدی سی ، کله چی دا خبره فیصله سوه چی دوباره ژوندی کیدل ممکن دی ، نو ددی څخه وروسته دیو رښتنی نبی صرف دومړه ویل چی هوا تاسی به ضرور دوباره ژوندی کړل سی ، ددی خبری قطعی دلیل دی چی دا واقعه به خامخا را پیښیږی .

(دنبي کریم ﷺ دمعجزو ثبوت)

وَإِذَا رَأَوا آيَةً : که څه هم دایت لغوی معنٰی نښانی ده او ددی څخه دلته مراد معجزه ده ، په دی وجه دا ایت ددی خبری دلیل دی چی نبی کریم ﷺ ته الله ﷻ دقرآن کریم څخه علاوه هم څه معجزی ورکړی وی اوپه دی سره دهغو ملحدانو تردید کیږی کوم چی دنبی کریم ﷺ معجزی دحسی اسبابو تابع مقرروی او دا دعوٰی کوی چی د دوی (په لاسو مبارکو دقرآن کریم څخه ماسوا بله څه معجزه نه ده ظاهره سوی په څلورم آیت کی الله ﷻ صفا ارشاد فرمایلی دی ، وَإِذَا رَأَوا آيَةً يَسْتَسْخِرُونَ (اوکله چی دوی څه معجزه وویني نومسخری په کوی) څینی دمعجزو منکران وایی چی دلته دَ، ایة، څخه مراد معجزی نه دی بلکه عقلی دلیلونه دی ، لیکن دا خبره په دی وجه غلطه ده چی په راتلونکی آیت کی دی چی ، وَقَالُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُبِينٌ (یعنی هغوی وایی چی داخو ښکاره جادو دی) ظاهره ده چی یودلیل ته ښکاره جادو ویل خو څه جوړه سوی خبره نه ده ، دا خبره هغوی دمعجزی په لیدو سره کولی سوای .

دمعجزو څینی منکران دا هم وایی چی دَ، ایة، څخه مراد دقرآن کریم ایتونه دی چی دا خلګ دی ته جادو وایی ، لیکن دقرآن کریم لفظ رَأَوا (وینی) ددی صفا تردید کوی ، دقرآن ایتونه لیدل کیږی نه لیکل کیږی ویل کیږی اواوریدل کیږی ، چنانچی په قرآن کریم کی کوم ځای چی دقرانی ایتونو ذکردی هلته ددی سره داوریدو الفاظ راغلی دی ، دلیدو نه دی ، اوپه قرآن کریم کی ځای په ځای دَ،ایة، لفظ دمعجزی په معنٰی کی راغلی دی ، مثلاً دَموسٰی ﷺ څخه دفرعون مطالبه نقل کوی، ارشاد دی ، إِنْ كُنْتَ جِئْتَ بِآيَةٍ فَأْتِ بِهَا إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ : که ته څه معجزه راوړی نو رایی وړه که ته رښتنی یی .

ددی په جواب کی حضرت موسٰی ﷺ دهمسا څخه دمار جوړولو معجزه ښوولی وه، پاته سول دقرآن کریم هغه ایتونه په کوموکی چی ذکردی چی نبی کریم ﷺ دمعجزی ښوولو مطالبه نه ده منلی، پس په حقیقت کی هلته بار بار معجزی ښوول سوی وی، لیکن هغوی به هره ورځ دخپلی مرضی یوه نوی معجزه غوښتله ، ددی په جواب کی دمعجزی ښوولو څخه انکار وسو، په دی وجه چی دالله ﷻ نبی دالله ﷻ په حکم سره معجزی ښیی ، که څوك بیاهم دده خبره نه منی نوهره ورځ یوه نوی معجزه ظاهرول دنبی دوقار څخه هم خلاف ده او دالله ﷻ دمشیت څخه هم خلاف ده .

ددی څخه علاوه دالله ﷻ دستور دا راغلی دی چی هرکله یو قوم ته دهغوی مطلوبه معجزه ورکول سی او دهغه څخه وروسته هم هغوی ایمان رانه وړی نو دعام عذاب په ذریعه هغوی هلاك سی ، امت محمدی ﷺ چونکی باقی ساتل او دعام عذاب یی څخه محفوظ کول په پام کی وه ، په دی وجه یی دوی ته مطلوبه معجزه ونه ښووله .

Maktaba Tul Ishaat.com

فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ فَإِذَا هُمْ يَنْظُرُونَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوا يَا وَيْلَنَا هَٰذَا يَوْمُ الدِّينِ ﴿٢٠﴾

نو هغه پورته کول خو په یو او از سره دی نو دغه وخت به دوی ګوری ، او وایی به ای خرابی ده مونږ لره دا راغله ورځ

هَٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ الَّذِي كُنْتُمْ بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿٢١﴾ ۞ احْشُرُوا الَّذِينَ

دجزا ، دا ده ورځ دفیصلی کومه چی تاسی درواغجنه کوله ، جمع کړی ګناهګاران

ظَلَمُوا وَأَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوا يَعْبُدُونَ ﴿٢٢﴾ مِنْ دُونِ اللَّهِ فَاهْدُوهُمْ

او د دوی جوړی اودکومو چی دوی عبادت کوی ، دخدای څخه ماسوا نو وچلوی دوی

إِلَىٰ صِرَاطِ الْجَحِيمِ ﴿٢٣﴾ وَقِفُوهُمْ إِنَّهُمْ مَسْئُولُونَ ﴿٢٤﴾ مَا لَكُمْ لَا

د دوی په لاره باندی ، او وروی دوی د دوی څخه پوښتنه کول دی ، څه وسوه تاسی لره

تَنَاصَرُونَ ﴿٢٥﴾ بَلْ هُمُ الْيَوْمَ مُسْتَسْلِمُونَ ﴿٢٦﴾

چی دیوبل مدد نه کوی ، نه ده داسی بلکه دوی نن ورځ تابع دی .

لنډتفسیر: نو قیامت خو به یوه چیغه وی (یعنی دوهمه شپیلی) نو (په دی سره به) یو وار (ژوندی سی) کتونکی به سی او (په حسرت سره به) وایی چی های زمونږکم بختی دا خو هغه ورځ دجزا (معلومیږی چی) ده (ارشاد به وسی چی) هوا دا هغه دفیصلی ورځ ده کومه چی تاسی درواغجن کوله (مخ ته دقیامت دځینی واقعاتو تفصیل دی چی ملائکوته به حکم وسی) جمع کړی ظالمان (یعنی کوم چی دکفر اوشرک بانیان اومقتدا وه) او د دوی هم مشر به (یعنی کوم چی د دوی سره تابع وه) او هغه معبودان دکومو چی دغو خلګو دخدای څخه ماسوا عبادت کوی (یعنی شیطانان اوبتان) بیا دغو ټولو ته د دوزخ لار وښیاست (یعنی هلته یی بوځی) او (بیابه دا حکم وسی چی ښه) دوی (پر) ودروی ، د دوی څخه څه پوښتنه کول کیږی (چنانچی دا سوال به ورڅخه وسی) چی اوس تاسی ته څه وسول چی (دعذاب حکم مو واوریدی او) دیو بل مدد نه کوی (یعنی دکافرانو لوی لوی رهنما انسانان وی اوکه شیطانان دخپلو تابعینو مدد ونه کړی ، لکه څنګه چی په دنیا کی به مو دوی غولول ؟ مګر ددی سوال څخه وروسته به هم دهغوی مدد ونه سی) بلکه هغه ټول به په دغه ورځ سرکښته (ولاړ) وی .

معلومات اومسئلې: د اخرت دا مکان اوثبوت څخه وروسته باری تعالی په دی ایتونو کی دحشر او نشر ځینی واقعات بیان کړی دی او د دوباره ژوندی کیدو څخه وروسته چی کافرانو اومسلمانانو ته چی کوم حالات مخ ته راځی دهغه ذکر یی فرمایلی دی .

دټولو څخه په اولنی آیت کی یی دمړو ژوندی کیدو طریقه کار بیان کړی دی چی ، فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ : یعنی قیامت خو به بس یوه چیغه وی، زَجْرَةٌ لفظ زَجْرٌ اسم مرّه دی او په عربی ژبه کی ددی ډیری

Maktaba Tul Ishaat.com

معانیوی راځی ، په دی معانیوکی یوه معنٰی ده حیوانانو ته دتللو دتیارولو دَپاره داسی اوازونه را ایستل چی په اوریدو یی هغوی پاځی او ودریږی دلته ددی ځخه مراد هغه دوهمه شپیلی ده کومه چی به حضرت اسرافیل ﷺ دمړو ژوندی کولو دپاره وهی او ددی ځخه یی په ، زَجْرَةٌ، سره ځکه تعبیر کړی دی چی لکه ځنګه چی دحیوانانو دپورته کولو اوروانولو دپاره ځه اوازونه را ایستل کیږی ، دغه دول دمړو دژوندی کولو دپاره به دا شپیلی وهل کیږی (قرطبی)

که ځه هم الله ﷻ په دی هم قادر دی چی دشپیلی وهلو ځخه بغیر مړی ژوندی کړی لیکن دا شپیلی به دحشر او نشر دمنظر دهیبتناك کولو دپاره وهل کیږی (تفسیر کبیر)

ددی شپیلی وهلو اثر به په کافرانو داسی وسی چی ، فَاِذَا هُمْ يَنْظُرُوْنَ ، نو ناڅاپه به هغوی لیدونکی کتونکی سی یعنی لکه ځنګه چی په دنیاکی هغوی په لیدو قادر وه ، دغه شان به هلته هم لیدل کیږی او ځینو مفسرینو ددی مطلب دابیان کړی دی چی دوی به دحیرانتیاپه حالت کی یوبل ته کتونکی سی (قرطبی)

اُحْشُرُوا الَّذِيْنَ ظَلَمُوا وَاَزْوَاجَهُمْ (یعنی هغه ظالمان کومو چی دَشرك عظیم ظلم کړی دی او دهغوی هم مشربه جمع کړی) دلته دهم مشربو دپاره دازواج لفظ استعمال سوی دی چی لفظی معنٰی یی ، جوړه ، دی او دا لفظ دښځی اوخاوند په معنٰی کی هم ډیر استعمالیږی ، په دی وجه ځینو مفسرینو ددی په معنٰی کی داسی فرمایلی دی چی ددی ځخه دمشرکانو هغه بیبیانی مرادی دی کومی چی په خپله هم مشرکانی وی ، لیکن داکثرو مفسرینو په نزد دلته دَ، ازواج، ځخه مراد هم مشرب دی ، او ددی تائید دحضرت عمر ﷺ دیو ارشاد ځخه هم کیږی ، امام بیهقی اوعبد الرزاق وغیره ددی آیت په تفسیرکی دَحضرت عمر ﷺ دا قول نقل کړی دی چی دلته دَاَزْوَاجَهُمْ ځخه مراد دی د دوی په شان خلګ ، چنانچی سودخور به دنورو سودخورو سره ، زناکار به دنورو زناکارو سره اوشراب چښونکی به دنورو شراب چښونکو سره جمع کیږی (روح اومظهری)

ددی ځخه علاوه دَ، وَمَاكَانُوْا يَعْبُدُوْنَ : په الفاظو سره وښول سوه چی دمشرکانو سره به دهغوی باطل معبودان یعنی بتان اوشیطانان هم جمع کړل سی کوم چی دی خلګو په دنیا کی دخدای سره شریك ګرځول ، چی هغه وخت هغوی دهغو باطلو معبودانو بی وسی په ښه شان سره ووینی .

ددی ځخه وروسته به ملائکو ته حکم وسی چی ، فَاهْدُوْهُمْ اِلٰى صِرَاطِ الْجَحِيْمِ یعنی دی خلګو ته دجهنم لاروښیاست، اوکله چی ملائکی داخلګ روان کړی نو پل صراط ته دنژدی کیدو ځخه وروسته به ورته حکم وسی چی ، قِفُوْهُمْ اِنَّهُمْ مَسْئُوْلُوْنَ یعنی دوی ودروی ، د دوی ځخه به پوښته کول کیږی ، چنانچی په دی موقع به د دوی ځخه د دوی دعقیدو او عملونو په باره کی هغه سوالونه وسی دکومو ذکر چی په قرآن او حدیث کی په ډیرو ځایونو کی راغلی دی .

وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿۲۷﴾ قَالُوْٓا اِنَّكُمْ كُنْتُمْ تَاْتُوْنَنَا عَنِ الْيَمِيْنِ ﴿۲۸﴾

اومخامخ سول ځینی ځینوته چی پوښتنه یی کول ،وې ویل چی تاسی واست راتلاست به مونږته درسته طرف ځخه

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالُوْا بَلْ لَّمْ تَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿۲۹﴾ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ ۚ

هغوی به ووایی چی بلکه نه واست تاسی یقین کوونکی ، او زمونږ په تاسی څه زور نه وو

بَلْ كُنْتُمْ قَوْمًا طٰغِيْنَ ﴿۳۰﴾ فَحَقَّ عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَا ۚ اِنَّا لَذَآئِقُوْنَ ﴿۳۱﴾

بلکه واست تاسی خلق دحد څخه وتونکی، نوثابته سوه په مونږ خبره، درب زمونږ بیشکه مونږ خو ګوونکی یو

فَاَغْوَيْنٰكُمْ اِنَّا كُنَّا غٰوِيْنَ ﴿۳۲﴾ فَاِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِى الْعَذَابِ

نو مونږ تاسی ګمراه کړاست لکه چی مونږ ګمراه وو ، هغه ټول په دغه ورځ په عذاب کی

مُشْتَرِكُوْنَ ﴿۳۳﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِيْنَ ﴿۳۴﴾ اِنَّهُمْ كَانُوْٓا اِذَا

شریك دی ، مونږ هم داسی کوو ، دمجرمانو په حق کی ، هغه وخت هرکله به ورته

قِيْلَ لَهُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَيَقُوْلُوْنَ اَئِنَّا لَتَارِكُوْٓا

ووایل سول چی نسته لایق دعبادت بغیر دالله څخه نو تکبر به یی کوی ، او ویل به یی ایاموږ پریږدو

اٰلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُوْنٍ ﴿۳۶﴾ بَلْ جَآءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۳۷﴾

خپل معبودان په وینادیو شاعرلیونی ، بلکه هغه راوړی دی ریښتنی دین اوتصدیق کوی دپخوانیو پیغمبرانو ،

اِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا الْعَذَابِ الْاَلِيْمِ ﴿۳۸﴾ وَمَا تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ

بیشکه تاسی لره چنبل دی دعذاب دردناك ، او هغه بدله به پیدا کی څه چی تاسی

تَعْمَلُوْنَ ﴿۳۹﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۴۰﴾

کول ، مګر کوم چی دالله ﷻ بندګان دی مخلصان

لنډتفسیر: (په څای ددی چی مشرکان دیوبل مدد وکړل سی په دوی کی به هغه وخت چه [illegible] جوړه سی)
او هغوی به یوبل ته مخامخ سی سوال اوجواب (یعنی اختلاف) به شروع کړی (چاندی [illegible] به (خپلو
سردارانوته) ووایی چی (مونږ خوتاسی ګمراه کړو څکه چی) په ډیر زورسو به تاسی [illegible] راتلاست
(یعنی تاسی به په مونږ ښه زور اچوی زمونږ دګمراه کولو کوشش به مو کوی) نومونږ [illegible] به ورته دا
ووایی چی نه بلکه تاسی په خپله ایمان نه وو راوړی او (په مونږ ناحقه الزام لګوی [illegible] زمونږ په
تاسی څه زور خو نه وو بلکه تاسی په خپله سرکښی کوله نو (کله چی کفر کوونکی [illegible] وو اوتاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

هم نو معلومه سوه چی) په مونږ تولو زمونږ درب دا (ازلی) خبره ثابته سوه چی مونږ تولو ته (دعذاب خوند څکل دی نو (ددی اسباب دا سو چی) مونږ تاسی وغولولاست (چی په دی سره تاسی زمونږ دجبر او اکراه څخه بغیر په خپل اختیار سره گمراه سواست او دی خوا) مونږ په خپله هم (په خپل اختیار سره گمراه وو (نو د دواړو دگمراهی اسباب جمع سول چی په دی کی ستاسی خپل اختیارهم دخپلی گمراهی لوی سبب دی ، بیا تاسی څان بری کول څنگه غواړی؟ مخ ته دحق تعالی ارشاد دی چی کله) د دواړو فریقو په کفر کی شریکوالی ثابت دی نوهغه ټول به په دغه ورځ په عذاب کی (هم) شریك وی (او) مونږ ددی مجرمانوسره هم داسی کوو (مخ ته اوس د دوی دکفر دجرم بیان دی چی) هغه خلگ داسی وو چی (دتوحید څخه هم منکروه او درسالت څخه هم چنانچی) گله به دوی ته (په واسطه درسول الله ﷺ وویل سول چی دخدای څخه ماسوا څوك معبود برحق نسته نو (ددی دمنلو څخه) تکبر به یی کوی او ویل به یی چی ایامونږ خپل معبودان دیوشاعر لیونی (دوینا) په وجه پریږدو؟ (نو په دی کی دتوحید اورسالت دواړو انکار وسو ، حق تعالی فرمایی چی دا پیغمبر نه شاعردی اونه مجنون) بلکه (پیغمبردی چی) یورښتنی دین یی راوړی دی او (په اصولو دتوحید وغیره کی) دنورو پیغمبرانو تصدیق (اوموافقت کوی (یعنی داسی اصول نبیی په کومو کی چی ټول رسولان متفق دی ، نو دا اصول دبی شمیره دلیلونوپه رښاکی حق دی ، خیال بندی نه ده اودحقی خبری ویل لیونتوب نه دی ، نورو امتونو هم دخپلو انبیاؤ سره دا قسم سلوك کړی دی دلته چونکه سیده په سیده دعربو کفار مخاطب دی ، په دی وجه صرف ددی امت دکافرانو ذکرسوی دی ، مخ ته ددی خبری بیان دی چی دوی ته مشافهةً ددی مشترك عذاب وعده اورول کیږی چی) تاسی ټول (تابع اومتبوع) ته به ددردناك عذاب څکل وی او (په دی حکم کی په تاسی هیڅ ظلم نه وو څکه چی) تاسی ته به دهغه بدله درکول کیږی څه چی تاسی (کفر وغیره) کوی البته مگر کوم چی دالله ﷻ خاص سوی بندگان دی (ددی څخه مراد هغه ایمانداران دی کومو چی دحق تابعداری وکړه اوالله ﷻ دوی مقبول اومخصوص وفرمایل ، داسی خلگ به دعذاب څخه محفوظ وی)

معلومات اومسئلې: په میدان دحشرکی دجمع کیدو څخه وروسته به دکافرانو لوی لوی سرداران کومو چی خپل کشران غولولی وه دخپلو پیروانو په مخکی به راسی ، نو په ځای ددی چی دیوبل مدد وسی ، په خپل مینځ کی به بحث او تکرار شروع کړی ، په دی ایتونوکی ددی بحث اوتکرار څه نقشه بیان سوی ده ، دفریقینو بدانجام یی بیان کړی دی ، دایت مطلب دلنډ تفسیر څخه واضح دی ، صرف یوځو لنډی خبرې دذکر قابلې دی .

(۱) اِلَكُمْ كُنْتُمْ تَأْتُوْنَنَا عَنِ الْيَمِيْنِ : کی دَ، یَمین ، څو معانیوی کیدی سی ، په دی کی یوه معنٰی قوت او طاقت هم ده ، لوړ ددی معنٰی په لحاظ سره تفسیر داسی سوی دی چی په مونږ ستاسی راتلل ډیرپه زور سره کیدل ، یعنی تاسی به په مونږ ډیر زور اچوی ، مونږ به موگمراه کولو او دا تفسیر زیات صفا اوبی غباره دی ، ددی څخه علاوه دَ،یمین، معنٰی قسم راځی ، په دی وجه ځینو حضراتو ددی تفسیر داسی کړی دی چی تاسی به مونږ ته په قسمونو اخیستلو سره راتللاست ، یعنی قسمونه به مو اخیستل او زمونږ باور به مو را وستی چی زمونږ مذهب صحیح دی او د رسول تعلیم (معاذالله) باطل دی ، دقرآن

Maktaba Tul Ishaat.com

دالفاظو په لحاظ سره دا دواړه تفسیرونه بی تکلفه ممکن دی .

(۲) فَإِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ : څخه معلومه سوه چی که یوسړی بل چاته دناجائز کار دعوت ورکی اودهغه گناه ته دامادہ کولو دپاره خپل اثر اورسوخ استعمال کی نوده ته به دگناه ددعوت عذاب خوبیشکه وی لیکن کوم سړی چی ددہ دعوت په خپل اختیار سره قبول کړی هغه به هم دخپل عمل دگناه څخه نه سی بری کیدی ، دی به اخرت کی په دی ویلونه سی خلاصیدی چی زه خوفلانی گمراه کړی وم ، البته که ده گناه په خپل اختیار سره نه وه کړی ، بلکه دجبر اواکراه په حالت کی یی دخپل ځان محفوظ کولو دپاره کړی وی، نوانشاء الله ﷻ چی ددہ دمعافی امید سته .

أُولَٰئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُومٌ ﴿٤١﴾ فَوَاكِهُ ۖ وَهُم مُّكْرَمُونَ ﴿٤٢﴾ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴿٤٣﴾ عَلَىٰ

دغه خلق دی چی د دوی دپاره رزق معلوم دی ، میوی ، او د دوی عزت دی ، د نعمت په باغونو کی ، په

سُرُرٍ مُّتَقَابِلِينَ ﴿٤٤﴾ يُطَافُ عَلَيْهِم بِكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ﴿٤٥﴾ بَيْضَاءَ

تختونو یو بل ته مخامخ ، گرځول کیږي په دوی باندی پیالی دصفا شرابو ، سپین رنگی

لَذَّةٍ لِّلشَّارِبِينَ ﴿٤٦﴾ لَا فِيهَا غَوْلٌ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنزَفُونَ ﴿٤٧﴾

خوند ورکوونکی چښونکوته ، نه به وی په دی کی سرگرځیدل او نه به ددی په چښلو سره دوی بی هوښه کیږي

وَعِندَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ عِينٌ ﴿٤٨﴾ كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ ﴿٤٩﴾

او د دوی سره دی ښځی کښته نظر کوونکی غټوسترگو والا ، گویا هگی دی پټی ساتل سوی ،

فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٥٠﴾ قَالَ قَائِلٌ مِّنْهُمْ

بیا به مخامخ سی یو بل ته پوښتنه به کوی ، وویل په دوی کی یو ویونکی

إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٌ ﴿٥١﴾ يَقُولُ أَئِنَّكَ لَمِنَ الْمُصَدِّقِينَ ﴿٥٢﴾ أَإِذَا مِتْنَا

زما یو ملگری دی ، ویل به یی آیا ته یقین کوی ؟ آیاهرکله چی

وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَدِينُونَ ﴿٥٣﴾ قَالَ هَلْ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ ﴿٥٤﴾

چی مونږ مړه سو اوخاوری اوهډوکی سو نوآیاموږ ته به جزاء رسیږي ، ووایل آیا تاسی یی وینی ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

فَاطَّلَعَ فَرَاٰهُ فِيْ سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿۵۵﴾ قَالَ تَاللّٰهِ اِنْ كِدْتَّ لَتُرْدِيْنِ ﴿۵۶﴾

بیاورته ښکاره سول نو وې لیدل په مینځ د دوزخ کی ، وې ویل قسم دی په الله چی تا خو زه کندی ته غورځولے

وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّيْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ﴿۵۷﴾ اَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِيْنَ ﴿۵۸﴾

او که نه وی زما درب فضل نو زه به هم وم په دغو نیولوسوو کی ، آیا اوس مونږ لره مرګ نسته ،

اِلَّا مَوْتَتَنَا الْاُوْلٰى وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿۵۹﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ

مګر کوم چی زمونږ اولنی مرګ وو ، اومونږ ته به تکلیف ونه رسیږي ، بیشکه دا دی لوی مراد پیدا کول

الْعَظِيْمُ ﴿۶۰﴾ لِمِثْلِ هٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعٰمِلُوْنَ ﴿۶۱﴾

، ، دداسی شیانو دپاره په کار دی چی محنت وکړی محنت کوونکی .

لنډتفسیر: د دوی (ددی مقبولو بندګانو) دپاره داسی خوراکونه دی دکوم حال چی (په نورو سورتونوکی) معلوم (سوی) دی یعنی میوی (چی حاصلیدل یی دسورة یٰس په آیت ، لَهُمْ فِيْهَا فَاكِهَةٌ : کی اوچی صفتونه یی دسورة واقعه په آیت ، وَفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ لَّا مَقْطُوْعَةٍ وَّلَا مَمْنُوْعَةٍ : کی ددی څخه مخکی نازل سوی دی، څکه چی یٰس او واقعه دسورة صٰفّٰت څخه په نزول کی مخکی دی ، لکه چی داسی په اتقان کی هم دی او هغه خلګ به په لوی عزت سره دارام په باغونوکی پرتختونو یوبل ته مخامخ ناست وی (او) هغوی نه به داسی جامونه دشرابو راوړل سی (یعنی غلامان به یی ورته راوړی) چی دبهید ونکو شرابو څخه به (کیږی (ددی څخه دشرابو کثرت اولطافت معلوم سواوپه لیدوکی به) سپین وی (اوپه چښلوکی به) چښونکونه لذیذ معلومیږی (او) نه به په دی کی دردسر وی (لکه چی ددنیا په شرابوکی چی وی کوم ته چی خمار ویل کیږی) اونه به په دی سره په عقل کی خرابی راځی او د دوی سره به کښته نظر کوونکی لویه لویه سترګو والا (حورانی) وی (چی رنګ به یی داسی صفاوی چی) گویا هګی دی کومی چی (تروزرونو لاندی) پټی ساتل سوی وی (چی دګرد اوغبار اوداغ څخه بالکل محفوظی وی ، تشبیه محض په صفایی کی ده) بیا (کله چی خلګ ټول په یوه جلسه کی جمع سی نو) یوبل ته به مخامخ سی ، خبری اتری به کوی (ددی خبرو اتروپه دوران کی) په دوی (جنتیانو) کی به یو ویونکی (دمجلس دخلګو څخه) ووایی چی (په دنیاکی) زمایو ملاقاتی وو هغه به (ماته په طور دتعجب) ویل چی ایا ته دبیا پورته کیدو دعقیده لرونکو څخه یی؟ ایا کله چی مونږ مړه سو اوخاوری او هډوکی سونو ایا مونږ ته به (د دوباره ژوندی کولو څخه وروسته) جزا اوسزا راکول سی ؟ (یعنی هغه داخرت څخه منکر وو ، په دی وجه به هغه خامخا دوزخ ته تللی وی ، دحق تعالی) ارشاد به وسی چی (ای جنتیانو!) ایا تاسی ننداره کوی (دهغه) لیدل غواړی؟ (که یی غواړی نو تاسی ته اجازه ده) نو هغه سړی (کوم چی قصه بیان کړی وه) به ننداره وکړی نوهغه به دجهنم

په مینځ کی (پروت) وویني (چی هلته یی وویني نوهغه ته به) ووایی چی په خدای قسم دی تا خوزه تباه کولم (یعنی ماته دی هم داخرت دمنکر جوړولو کوشش کوی) اوکه زما درب (پرما) فضل نه وای (چی هغه زه په صحیح عقیده باندی قائم وساتلم) نوزه به هم (ستاپه شان) په نیول سوو خلکوکی وای (او ددی څخه وروسته به جنتی دمجلس خلکوته ووایی چی) ایا مونږ به داول وار دمرګ څخه وروسته (کوم چی په دنیاکی مړه سوی یو) اوس نه مرو اونه به مونږ ته عذاب وی؟ (دا ټولی خبری به دخوشحالی په جوش کی وکړی چی الله ﷻ دټولو تکلیفونو اومصیبتونو څخه محفوظ کړو او دهمیشه دپاره بی فکره سوو، مخ ته دالله ﷻ ارشاد دی چی دجنت څومره جسمانی او روحانی نعمتونه لوړ بیان سول دا بیشکه لویه کامیابی ده ، دداسی کامیابی (حاصلولو) دپاره عمل کوونکو ته عمل کول په کار دی (یعنی ایمان راوړل او اطاعت کول په کار دی)

معلومات اومسئلې : د دوړخیانو دحالاتو بیانولو څخه وروسته په دی ایتونوکی دجنتیانو دحالاتو ذکر سوی دی ، دا تذکره په دوو حصو باندی مشتمله ده ، په اولنیو لسو ایتونوکی عامو جنتیانوته چی به کوم عیش او ارام حاصل وی ، دهغه بیان دی ، او دّدی څخه وروسته په ایتونوکی دیوخاص جنتی عبرت ناکه واقعه بیان سوې ده ، په اولنیو لسو ایتونوکی څو خبری په خاص طور سره دذکر قابلی دی .

(۱) أُولَٰئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُومٌ : لفظی ترجمه یی دا ده ، ددی خلګو دّپاره داسی رزق دی چی حال یی معلوم دی مفسرینو ددی مختلف مطلبونه ښوولی دی ، دځینو حضراتو ویناده چی په دی سره دجنتی خوراکونو دهغه تفصیلی صفتونو طرف ته اشاره ده ، کوم چی په مختلفو سورتونوکی بیان کړل سوی دی ، چنانچی په لنډ تفسیر کی حکیم الامت حضرت تهانوی (داتفسیر اختیار فرمایلی دی .

ځینی حضرات فرمایی چی د، رزق معلوم، څخه مراد دا دی چی ددی وختونه متعین او معلوم دی ، یعنی دا به سهار اومانښام په پابندی سره ورکول کیږی لکه چی په بل آیت کی ، بُكْرَةً وَّعَشِيًّا (سهارمانښام) الفاظ په وضاحت سره راغلی دی .

یو دریم تفسیر بل دی او هغه دا چی دّ، رزق معلوم، مطلب دا دی چی هغه به یقینی او دائمی رزق وی ، ددنیاپه شان نه چی یو سړی هم په یقین سره نه سی ویلی چی صبابه ماته څه او څومره رزق راکول سی؟ او نه چاته دا علم سته چی څومره رزق ماته راکول سوی دی ، هغه به ترڅو پوری زماسره وی؟ دهریوه انسان سره دا بیره وی چی کوم نعمتونه ماته دا وخت حاصل دی ، دا به شاید چی صبا زما سره نه وی ، په جنت کی به دا خطره نه وی ، بلکه دهغه ځای رزق به یقینی هم وی او دائمی هم (قرطبی وغیره)

(۲) فَوَاكِهُ، ددی لفظ په ذریعه قرآن دجنت درزق په خپله تفسیر فرمایلی دی چی دارزق به پرمیوو مشتمل وی ، فَوَاكِهُ، دّفَاكِهَةٌ جمع ده او په عربی کی فَاكِهَةٌ هر هغه شی ته ویل کیږی کوم چی دلوږی دضرورت رفع کولو دپاره نه وی ، بلکه دلذت حاصلولو دپاره خوړل کیږی ، په اُردوکی ددی ترجمه ، میوه ، ځکه کول کیږی چی میوه هم دلذت حاصلولو دپاره خوړل کیږی ، کنه نوپه حقیقت کی دّفَاكِهَةٌ مطلب دمیوی دمطلب څخه زیات عام دی .

امام رازی رحمه الله ددی فَوَاكِه دلفظ څخه دانکته را ایستلی ده چی په جنت کی به چی څومره خوراکونه

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکول کیږی ، هغه به ټول دلذت اخیستو دپاره ورکول کیږی دلوږی دحاجت رفع کولو دپاره نه ، ځکه چی په جنت کی به انسان ته دځه شی حاجت نه وی ، هلته به ده ته دخپل ژوند برقراره ساتلو یادصحت دحفاظت دپاره هم دځه خوراك ضرورت نه وی ، البته خواهش به وی ددی خواهش پوره کیدو ځخه به ورته لذت حاصلیږی ، او دجنت دټولو نعمتونو مقصدبه لذت ورکول وی (تفسیر کبیر ص ۹۸ ج ۷)

(۳) وَهُمْ مُكْرَمُوْنَ : یی ووایه اوویی ښوولە چی جنتیانوته به دارزق به پوره اعزاز اواکرام سره ورکول کیږی ، ځکه چی اعزاز اواکرام نه وی نودلذیذ ځخه لذیذخوراك هم بی خونده سی ، ددی ځخه دا هم معلومه سوه چی دمیلمه حق صرف په خوراك ورکولو نه پوره کیږی بلکه دهغه اعزاز اواکرام هم دهغه په حقوقوکی دا خل دی .

(۴) عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِيْنَ : دا دجنتیانو دمجلس نقشه ده چی ، هغوی به په تختونو یوبل ته مخامخ ناست وی دځینو به ځینوته شا نه وی ، د دوی عملی صورت به څه وی؟ ددی صحیح علم خوالله ﷻ ته دی ، ځینی حضرات فرمایی چی دمجلس دائره به دومره وسیع وی چی دچابه چاته دشا کولو ضرورت نه وی اوالله ﷻ به جنتیانوته دنظر ، اوریدو او خبرو داسی قوت ورکی چی هغو به دلیری ناستو خلګو سره ښه په ارام سره خبری کولی سی ، اوځینو حضراتو دا هم فرمایلی دی چی داتختونه به ګرځیدونکی وی اودَچا سره چی خبری کول وی دهغه طرف ته به راګرځی ، والله تعالی اعلم

(۵) لَذَّةٌ لِّلشّٰرِبِيْنَ: لَذَّة : په اصل کی مصدر دی چی معنٰی یی ده لذیذ (خوندور) کیدل ، په دی وجه ځینو حضراتو ویلی دی چی دلته مضاف محذوف دی ، په اصل کی، ذَاتَ لَذَّةٍ، وو، یعنی لذت والا، لیکن ددی تکلیف ضرورت نسته ، اول خوکه ، لَذَّة مصدر وګنل سی ، نو مصدر داسم فاعل په معنٰی کی دیر استعمالیږی ، په دی صورت کی به معنٰی دا وی چی دغه شراب به دچښونکو دپاره مجسم لذت وی ، ددی ځخه علاوه دلَذَّةٌ صیغه دلَذِيْذٌ صفت ځخه علاوه لَذٌّ، هم راغلی دی ، کیدی سی چی دلته لَذَّةٌ ددی لَذٌّ مونث وی (تفسیر قرطبی) په دی صورت کی به معنٰی وی ، دچښونکو دپاره لذیذ وی .

(۶) لَا فِيْهَا غَوْلٌ، دَغَوْلٌ معنٰی ځینو، دردسر بیان کړي ده ، ځینو، دَنس درد، ځینو، بدبوداره ګندګی، اوځینو دعقل خرابیدل، په حقیقت کی لفظ دَ، غَوْلٌ، په دی ټولو معانیوکی استعمالیږی اوحافظ ابن جریر رحمه الله فرمایی چی دلته، غَوْلٌ، دَافت په معنی کی دی او مطلب دا دی چی دجنّت په شرابوکی داسی څه آفت به نه وی لکه چی ددنیا په شرابوکی پیدا کیږی ، نه به په کی درد سر وی ، نه دنس درد، نه بدبویی ، نه دعقل خرابیدل (تفسیر ابن جریر)

(۷) قَصِرٰتُ الطَّرْفِ : دا دجنت دحورو صفت دی چی، هغوی به کښته نظر کوونکی وی ، مطلب دا دی چی دکومو خاوندانو سره د دوی دښځوالی تعلق الله ﷻ قائم کړي دی ، دوی به دهغوی ځخه علاوه یوبل سړی ته سترګی نه لوړوی چی ورته وګوری ، علامه ابن جوزی رحمه الله نقل کړی دی چی دا ښځی به خپلو خاوندانوته وایی ، زما دپروردګار په عزت قسم دی ، په جنت کی ماته ستا ځخه ښه بل څوك په نظر نه راځی کوم الله ﷻ چی زه ستا ښځه اوته زما خاوند جوړ کړی ، ټول تعریفونه هغه لره دی .

دَ، نظر کښته لرونکو ، یومطلب علامه ابن جوزی رحمه الله دا هم لیکلی دی چی ، هغوی به دخپلو خاوندانو

Maktaba Tul Ishaat.com

نظرونه کښته لری، یعنی هغوی به په خپله دومره ښائسته او وفا شعاری وی چی دهغوی دخاوند انو به بل طرف ته دنظر پورته کولو خواهش نه وی (از تفسیر زاد المسیر لابن جوزی ص ۵۷، ۵۸ ج ۸)

(۸) كَاَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُوْنٌ: په دی آیت کی یی دجنت حوروته، دپتوهګیو، سره تشبیه ورکړي ده، دعربو په نزد دا تشبیه مشهوره او معروفه وه، کومه هګی چی په وزرونو کی پټه وی هغه ته ددباندی څخه دګرد اوغبار اثرنه رسیږی، په دی وجه هغه نهایت صفا ستره وی، دّدی څخه علاوه ددی رنګ ژړ مائل وسپین ته وی کوم چی دعربو په نزد دښځو دپاره زیات په زړه پوری رنګ ګڼل کیدی، په دی وجه یی ددی سره تشبیه ورکړه اوځینی مفسرین رحمهم الله حضرات فرمایی دلته دهګیو سره تشبیه نسته، بلکه دهګی دهغه پوستکی سره ده کوم چی تر سربیرن پوستکی ددننه طرف ته پټ وی اومطلب دا دی چی دغه ښځه به ددی پوستکی په شان نازکه وی (روح المعانی) والله سبحانه وتعالی اعلم

(یو جنتي او دهغه کافر ملاقاتي)

په اولنیو لسو ایتونوکی دجنتیانو دعمومی حالاتو بیانولو څخه وروسته دیوه جنتی په خاص طور سره تذکره سوې ده چی هغه به دجنت مجلس ته درسیدو څخه وروسته خپل یوکافر دوست یادکی، کوم چی په دنیاکی داخرت څخه منکر وو اوبیا به دالله ﷻ په اجازه سره هغه ته په جهنم کی دکتلو اودهغه سره دخبرو موقع ورکول سی، په قرآن کریم کی ددغه سړی څه نوم اوپته نه ده ښوول سوی، په دی وجه په یقین سره نه سی ویل کیدی چی دا به څوك وی؟ خوبیا هم ځینو مفسرینو داخیال ظاهر کړی دی، چی ددی مومن سړی نوم یهودا اوددہ دکافر ملاقاتی نوم مطروس دی اوداهغه دوه ملګری دی دکومو ذکر چی دسورة کهف په آیت: وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا رَّجُلَيْنِ آیة، ۳۲، کی تیر سوی دی (تفسیر مظهری)

اوعلامه سیوطی رحمه الله دډیرو تابعینو څخه ددی سړی دتعین دپاره یوه بله واقعه نقل کړي ده چی خلاصه یی دا ده چی دوه سړی په کار اوبارکی شریك وه، اته زره دیناره امدنی یی وسوه اودواړو څلور څلورزره دیناره تقسیم کړل، یوشریك دخپل رقم څخه یوزر دیناره خرڅ کړل، یوه مځکه یی واخیسته، دوهم ملګری یی دیر نیك وو، هغه دا دعا وکړه چی یا الله فلانی سړی په یوزر دیناره باندی یوه مځکه اخستی ده، زه ستا څخه دیوزر دینارو په عوض کی په جنت کی مځکه اخلم اویو زر دیناره یی صدقه کړل بیاددہ ملګری زر دیناره خرڅ کړل اویو کور یی جوړ کی، نو دغه سړی وویل یاالله! فلانی سړی زر دیناره خرڅ کړل اوکور یی جوړکی، زه په زر دیناره ستا څخه دجنت یوکور اخلم، دایی وویل اونور زر دیناره یی صدقه کړل، ددی څخه وروسته دده هغه ملګری دیوی ښځی سره واده وکی اوپه دی یی زر دیناره خرڅ کړل، نو ده وویل یاالله! فلانی دیوی ښځی سره واده وکی اوزر دیناره یی په خرڅ کړل اوزه دجنت په ښځو کی یوی ته پیغام ورکوم اودا زردیناره نذرکوم، دایی وویل اوهغه زردیناره یی هم صدقه کړل، بیا دده ملګری په زردیناره څه غلامان اوسامان واخیستی، نو ده بیا زردیناره صدقه کړل اودالله ﷻ څخه یی ددی په بدله کی دجنت غلامان اودجنت سامان وغوښتی.

ددی څخه وروسته ددی مومن بنده اتفاقًا څه سخت حاجت پیښ سو دده خیال راغی چی که زه خپل تیر شریك ته ولاړسم نوشاید چی هغه دنیکی اراده وکی، چنانچی ده خپل هغه ملګری ته دخپل ضرورت

Maktaba Tul Ishaat.com

ذکرو کی ملګری یی پوښتنه وکړه چی ستامال څه سو؟ په جواب کی ورته ده ټوله قصه وکړه په دی باندی هغه په حیرانی سره وویل چی ایاواقعی ته داخبره رښتنی ګڼی چی مونږمړه سواوخاوری سونومونږ ژوندی بل ژوندراکول سی اوهلته به مونږته زمونږ دعملونو بدله راکول سی څه ! زه تاته هیڅ نه سم درکولی ددی څخه وروسته دغه دواړه مړه سول، په ذکر سوو ایتونوکی دجنتی څخه مراد هغه بنده دی کوم چی داخرت په خاطرټول مال صدقه کړی وی او دده جهنمی ملاقاتی هغه دکار اوبار شریك دی ، کوم چی داخرت په تصدیق کولو په ده پوری مذاق کړی وو (تفسیر دُرِّ منثور په حواله دابن جریر وغیره ص ۱۶۵ ج ۵)

(دبد صحبت څخه دمحفوظ ګیدو تعلیم)

په هرحال ددی څخه مرادبرابره خبره ده هرڅوك چی وی دلته ددی واقعی دذکرکولوڅخه دقرآن کریم اصل منشاء خلګ په دی خبره خبرداړول دی چی دوی دخپلودوستانوپه پوره احتیاط سره جائزه واخلی اودا وګوری چی په دوی کی څوك داسی سړی خونسته کوم چی ددوی اخردوړخ طرف ته بوتلونکی دی دبد صحبت څخه چی کومه تباهی راتلی سی دهغه صحیح اندازه به په اخرت کی کیږی اوهغه وخت به ددی تباهی څخه دبچ کیدوڅه لارنه وی په دی وجه په دنیاکی دوستی اوتعلقات ډیرپه فکرسره قائمول په کاردی ډیر کله دیوکافریانافرمانه سړی سره دتعلقاتوقائمولوڅخه وروسته انسان په غیرمحسوسی طریقی دده دفکرونو نظریو اوطرزِ زندګی څخه متاثره کیږی اوداشی داخرت دانجام دپاره انتهایی خطرناکه ثابتیږی .

(دمړګ په خاتمه تعجب)

دلته چی دکوم سړی داواقعه ذکر سوې ده چی هغه به دخپل کافر ملګری دلیدو دپاره جهنم ته وګوری ، دده په باره کی مخ ته داذکر دی چی دی به دجنت دنعمتونو حاصلولو په ډیره خوشحالی کی دا ووایی چی ، ایا اوس به مونږ هیڅکله نه مرو؟ ددی مقصد دا نه دی چی دجنت په همیشه ژوندبه یی یقین نه وی بلکه کوم سړی ته چی انتهایی درجه خوشحالی حاصله سی ، هغه ډیر کله داسی خبری کوی لکه چی دهغه یقین نسته چی داخوشحالی هغه ته حاصلی سوې دی ، داجملی هم ددی قسم څخه دی .

په اخرکی قرآن کریم ددی واقعی اصل سبق طرف ته توجه راګرځوی اوفرمایی ، لِمِثْلِ هٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعَامِلُونَ : ددا سی کامیابی دپاره عمل کوونکو ته عمل کول په کار دی .

أَذٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا أَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ ﴿٦٢﴾ إِنَّا جَعَلْنٰهَا فِتْنَةً لِّلظّٰلِمِينَ ﴿٦٣﴾ إِنَّهَا شَجَرَةٌ

آیا دا میلمستیا غوره ده اوکه درخته دزقوم ، مونږجوړه کړی ده دا یو ازمیښت دظالمانو دپاره، بیشکه دادرخته

تَخْرُجُ فِي أَصْلِ الْجَحِيمِ ﴿٦٤﴾ طَلْعُهَا كَأَنَّهُ رُءُوسُ الشَّيٰطِينِ ﴿٦٥﴾

ده چی را وزی د بیخ د دوړخ څخه ، ددې وږی دی لکه سرونه دشیطانانو

فَإِنَّهُمْ لَءَاكِلُونَ مِنْهَا فَمَالِـُٔونَ مِنْهَا الْبُطُونَ ﴿٦٦﴾ ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ

نو هغوی به خوری ددې څخه بیا به ډکوی ددې څخه نسونه ، بیابه د دوی دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿٦٧﴾ ثُمَّ اِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَاِلَى الْجَحِيْمِ ﴿٦٨﴾

په دی سربیره دوی ته رسیږي ګرمی اوبه ، بیا به دوی واچول سی دوږخ ته ،

اِنَّهُمْ اَلْفَوْا اٰبَآءَهُمْ ضَآلِّيْنَ ﴿٦٩﴾ فَهُمْ عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ يُهْرَعُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَلَقَدْ

دوی بیا پیدا کړه خپل پلار نیکه ګان بی لاری ، نو هغوی دهغو په قدمونو منډی وهی ، او بی لاری

ضَلَّ قَبْلَهُمْ اَكْثَرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٧١﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا فِيْهِمْ مُّنْذِرِيْنَ ﴿٧٢﴾

سوی دی مخکی د دوی څخه ډیر خلق مخکنی ، او مونږ لیږلی دی په دوی کی بیرونکی

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿٧٣﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿٧٤﴾

اوس وګوره چی څنګه سو انجام دبیرول سوو ، مګر کوم چی بندګان دالله ﷻ دی مخلصان

لنډتفسیر: (دعذاب اوثواب دواړو موازنه یی وکړه اوس ایماندارو ته ترغیب اوکفارو ته ترهیب فرمایی چی وښیاست) آیا دا دعوت (دجنت دنعمتونو) ښه دی (کوم چی دایماندارانو دپاره دی) یا دزقوم درخته (کومه چی دکفارو دپاره ده) مونږ دا درخته (په اخرت کی دسزا جوړولوڅخه علاوه په دنیاکی ددی) ظالمانو دپاره دامتحان موجب جوړه کړي ده (چی ددی په اوریدو تصدیق کوی یاتکذیب اومسخری کوی ، چنانچی کفارو تکذیب اومسخری وکړی اووي ویل زقوم خوکوچی اوخرما ته وایی هغه خوښه خوندور شی دی ، او وي ویل که زقوم درخته وی نو دوږخ خوتول اور اور دی درخته په کی څنګه کیدی سی؟ ددی جواب الله (داورکی چی) هغه یوه درخته ده چی د دوږخ دبیخ څخه راوزی (یعنی کوچی اوخرما نه ده اوچونکی داپه خپله په اورکی پیداکیږی ، په دی وجه یی هلته پاته کیدل څه بعید نه دی ، لکه چی سمندر نومی چینجی په اورکی پیداکیږی اوپه اورکی اوسیږی ، په دی سره ددواړو خبرو جواب وسو ، اوس مخ ته دزقوم یوکیفیت مذکور دی چی) ددی میوه داسی (بدشکله) ده لکه دمار سر کوم چی دافعی مار دغصی یا درد په حالت کی وی او پرسیدلی وی (نوپه داسی اوبه دظالمانو میلمستیا کول کیږی) نوهغه خلګ (چی په سخته لوږه کی ورته نورڅه ورنه کول سی) ددی څخه به خوراك کوی او (چونکه دلوږی څخه به بی ارامه وی) ددی څخه به نسونه ډکوی بیا (چی کله دتندی څخه بی قراره سی ، اوبه وغواړی نو) هغوی ته به جوشیدلی اوبه (غسّاق یعنی په زووکی ګډی کړل سوی) ورکول سی او (داسی نه چی ددی مصیبت خاتمه به وسی بلکه ددی څخه وروسته) بیا اخری داوسیدو ځای به دهغوی د دوږخ طرف ته وی (یعنی ددی څخه وروسته به هم هلته همیشه دپاره اوسیدل وی اودوی ته دا سزا ځکه ورکول سوه چی) هغوی (دالله ﷻ دهدایت تابعداری نه وه کړی بلکه) خپل مشران بی دګمراهی په حالت کی پیداکړی وه، بیا دوی هم دهغو په قدمونو په تیزی سره روان وه (یعنی په شوق

Maktaba Tul Ishaat.com

او رغبت سره دهغو پر بی لاری باندی روان وه) او د دوی (موجوده کفارو) څخه مخکی هم په مخکښو خلګو کی ډیر ګمراه سوی دی اومونږ په هغوی کی هم بیرونکی (پیغمبران لیږلی وه) نو وګوره چی (هغو خلګو څنګه (بد) انجام سو کوم چی بیرول سوی وه (اوهغوی نه وه منلی چی پرهغوی په دنیاکی څنګ څنګه عذاب نازل سو) البته مګرکوم چی دالله ﷻ خاص سوی (یعنی ایماندار) بندګان وه (هغوی ددی دنیوی عذاب څخه هم محفوظ سول)

معلومات اومسئلي: د دوږخ اوجنت دواړو دلږ لږ حالاتو بیانولو څخه وروسته باری تعالی هر یو انسان ته دموازنی کولو دعوت ورکړی دی چی فکر وکی په دوی کی کوم حالت ښه دی؟ چنانچی فرمایی ، أَذٰلِكَ خَيْرٌ نُزُلًا أَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ : دجنت دنعمتونو ذکر یی وکی ، هغه ښه دی یا دزقوم درخته کومه چی به په دوږخیانو خوړل کیږی ؟

دزقوم حقیقت : دزقوم په نوم یوه درخته دجزیره عرب په علاقه تهامه کی پیدا کیږی اوعلامه الوسی رحمۃ اللہ علیہ لیکلی دی چی دا په نورو غرنیو صحراګانو کی هم وی ، ځینی حضرات فرمایی ، دا هغه درخته ده کومی ته چی په اُردو کی ، تهوهَر ، وایی ، دی ته نژدی نژدی یوه بله درخته په هندوستان کی دَ ، ناګ پهنی (دمار سر) په نوم سره مشهوره ده، ځینی حضراتو هغه ته زقوم ویلی دی او دا قیاس ته زیات نژدی ده، اوس دَمفسرینو حضراتو په دی کی مختلف خیالونه دی ، چی دوږخیانو ته به چی کومه درخته دخوراک دپاره ورکول کیږی هغه ددنیا زقوم دی اوکه بله درخته ده ، ځینی حضرات فرمایی چی دا ددنیا زقوم مراد دی اوځینی وایی چی د دوږخ زقوم بالکل جلاشی دی ، ددنیا دزقوم سره دهغه هیڅ تعلق نسته ، په ظاهره داسی معلومیږی چی ماران اولږمان به ددنیا دمارانو اولږمانوڅخه زیات خوفناک وی ، دغه راز د دوږخ زقوم هم دخپل جنس په لحاظ سره خوبه ددنیا دزقوم په شان وی ، لیکن ددنیا دزقوم څخه به زیات کریه المنظر اوپه خوراک کی زیات تکلیف ورکوونکی وی، والله تعالی اعلم

إِنَّا جَعَلْنَاهَا فِتْنَةً لِلظَّالِمِينَ : یعنی مونږ دزقوم درخته ددی ظالمانو دپاره فتنه جوړه کړي ده ، په دی کی دفتنی څخه مراد دځینو مفسرینو په نزد عذاب دی یعنی دا درخته یی دعذاب ذریعه جوړه کړي ده ، لیکن داکثرو حضراتو وینا دا ده چی دلته دَ، فتنی، ترجمه، ازمائش، او، امتحان کول زیات موزون دی، مطلب دا دی چی ددی درختی په ذکر کولو سره مونږ دا امتحان اخیستل غواړو چی څوک په دی ایمان راوړی اوڅوک په دی پوری مذاق کوی؟ چنانچی دعربو کفارپه دی امتحان کی ناکامه سول ، ددی په ځای ددی چی ددی عذاب څخه وبیریږی اوایمان راوړی، دمسخرو اوټوقو طریقه یی اختیار کړه، په روایتونو کی دی چی کله دقرآن کریم هغه ابتونه نازل سول په کوموکی چی کافرانوته دزقوم خوړلو ذکر دی نو ابوجهل خپلو ملګروته وویل چی . ستاسی دوست (حضرت محمد ﷺ) وایی چی په اورکی یوا درخته ده، حال دا دی چی اور خودرخته خوری، اوپه خدای قسم دی مونږ خوپه دی پوه یوچی زقوم ماشی اوکوچوته وایی نوراځی اودا ماشی اوکوچی خوری (دُرِّ منثور ص ۲۷۷ ج۵)

په اصل کی زقوم په بربری ژبه کی ماشی اوکوچو ته وایی ، په دی وجه ده دمسخرو دا طریقه اختیار کړه

باری تعالی په یوه جمله کی ددی دواړو خبرو جواب ورکی چی ، إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِي أَصْلِ الْجَحِيمِ : یعنی

Maktaba Tul Ishaat.com

زقوم خو دجهنم په بیخ کی یوه راختونکی درخته ده، په دی وجه ددی څخه مرادنه خرما اونه کوچی دی اونه دا اعتراض معقول دی چی په اورکی درخته څنګه کیدی سی؟ کله چی دغه درخته پیدا په اورکی سوه، نوالله ﷻ په دی کی داسی خصوصیات ایښی دی چی دا په اورکی دسوزیدو پرځای په دی سره نشو اونما پیدا کی، دنمونی په طور داسی څوحیوانات موجوددی کم چی په اورسره ژوندی پاته کیدی سی اواور ده ته دسوزلو پرځای نوره نشو اونما ورکوی.

طَلْعُهَا كَاَنَّهٗ رُءُوْسُ الشَّيٰطِيْنِ: په دی آیت کی دزقوم میوی ته دشیطانانو دسرونو سره تشبیه ورکول سوی ده څینو مفسرینو خودلته دشیاطین ترجمه په مارانو سره کړې ده، یعنی دزقوم میوه په شکل کی داسی وی لکه دمار سر، په اُردوکی دی ته، ناګ پهن، دمار سر هم په دی وجه وایی، لیکن اکثره مفسرین فرمایی چی دلته دشیاطین څخه ددی معروفه معنٰی مراده ده، اومطلب دادی چی دزقوم میوه په خپله بدصورتی کی دشیطانانو دسرونو په شان وی، اوس دلته داشبهه نه دی کول په کار چی شیطان خو چالیدلی نه دی، بیاددده سره تشبیه ولی ورکول سوه؟ په دی وجه چی دایو خیالی تشبیه ده، په محاوره کی بدصورت اوبد هیئت شیانوته دشیطان اوپیری سره تشبیه ورکول کیږی، ددی منشاء محض دانتها درجی بدصورتی بیانول وی، دلته هم تشبیه ددی نوعیت ده (روح المعانی وغیره)

دپاته سوو ایتونو مطلب دلنډ تفسیر څخه واضح دی.

وَلَقَدْ نَادٰىنَا نُوْحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيْبُوْنَ ﴿۷۵﴾ وَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ مِنَ

اومونږ ته اواز وکی نوح ﷺ نوڅه ښه رسیدونکی یُو مونږ په اواز، او محفوظ کی مونږ دی او دده کور ددغه

الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿۷۶﴾ وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهٗ هُمُ الْبٰقِيْنَ ﴿۷۷﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ

لوی بیری څخه ، اوکړل مونږ ددده اولاد هم هغوی پاته کیدونکی ، اوپاته پریښووی مونږ په ده

فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿۷۸﴾ سَلٰمٌ عَلٰى نُوْحٍ فِي الْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۹﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي

په وروسته خلقو کی ، سلام دی په نوح ﷺ په ټوله عالمیانو کی ، مونږداسی بدله ورکوو

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۸۰﴾ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۸۱﴾ ثُمَّ اَغْرَقْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿۸۲﴾

نیکی کوونکو ته ، هغه دی زمونږ دایماندارو بندګانو څخه ، بیا ډوب کړل مونږ نور.

لنډتفسیر: او مونږ نوح ﷺ دنصرت دپاره راوبللو (یعنی دعایی وکړه) نو (مونږ ددده فریادرسی وکړه او) مونږ ښه فریاد اوریدونکی یو او مونږ دی او ددده تابعین دډیر لوی غم څخه (کوم چی کفارو به دروا غجن کوی اوازار به یی ورته رسوی) نجات ورکی (چی په طوفان سره مو کفارغرق کړل او ددده تابعین مو محفوظ کړل) اومونږ د دوی اولاد باقی پاته کی (دبل چا نسل ونه چلیدی) او مونږ ددده دپاره په وروسته

Maktaba Tul Ishaat.com

راتلونکو خلګوکی دا خبره (داوړدی مودی دپاره) باقی پاته کړه چی سلام دی وی په نوح ﷺ باندی په عالم والا وو کی (یعنی خدای دی کړی چی په ده دټول اهل عالم انسانان ، پیریان اوملائکی سلام لیږی) مونږ مخلصانو ته داسی بدله ورکوو ، بیشکه هغه زمونږ په ایماندارو بندګانو کی وو ، بیا مونږ نور خلک غرق کړل (یعنی دبلی طریقی خلګ)

معلومات اومسئلي: په تیرو ایتونوکی ذکر سوی وه چی مونږ مخکی امتونوته هم بیرونکی پیغمبران لیږلی وه ، لیکن اکثرو خلګو د دوی خبره ونه منله ، په دی وجه دهغو انجام ډیر بد سو ، اوس ددی ځای څخه دهغه اجمال څه تفصیل بیانیږی اوپه دی ضمن کی دځو پیغمبرانو واقعات بیان سوی دی ، دټولو څخه اول په دی ایتونوکی دحضرت نوح ﷺ ذکر سوی دی ، دحضرت نوح ﷺ واقعه په تفصیل سره ، په سورة هود کی تیره سوي ده دلته یوځو خاص خبری کومی چی په خاص طور سره ددی ایتونو دتفسیر سره متعلق دی ، دا لاندی ذکر کیږی .

وَلَقَدْ نَادَانَا نُوحٌ : کی فرمایل سوی دی چی حضرت نوح ﷺ مونږ ته اواز وکی ، داکثرو مفسرینو دقول مطابق ددی څخه مراد دحضرت نوح ﷺ هغه دعاده کومه چی په سورة نوح کی ذکرده ، یعنی ، رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا: یعنی ای زما پروردګاره ! په مځکه دکافرانو څخه یو اوسیدونکی هم مه پاته کوی ، یاکومه چی په سورة قمرکی ذکرده یعنی ، أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانْتَصِرْ: زه مغلوب یم زما مدد وکی ، دا دعاحضرت نوح ﷺ دخپل قوم دمسلسل نافرمانی اوسرکښی څخه وروسته هغه وخت کړی وه ، هرکله چی دده قوم دده پردرواغجن کولو باندی دبس کولو په ځای سرچپه دده دقتلولو منصوبه جوړه کړی وه .

وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ . اومونږ باقی دده اولاد پاته کړل ، داکثرو مفسرینو حضراتو په نزد ددی آیت مطلب دا دی چی دحضرت نوح ﷺ په زمانه کی چی کوم طوفان راغلی وو ، په دی کی ددنیا اکثره ابادی هلاکه سوی وه ، او ددی څخه وروسته دټولی دنیانسل دحضرت نوح ﷺ ددری زامنو څخه وچلیدی ، دیره زوی نوم یی سام وو او دده داولاد څخه دعربو اوفارس وغیره خلګو نسل پیداسو ، د دوهم زوی نوم یی حام وو ، او دده څخه دافریقی ملکونو ابادی په دنیا کی وغوړول سوه ، ځینو حضراتو دهندوستان اوسیدونکی هم په دی نسل کی شامل کړی دی او د دریم زوی نوم یی یافث وو ، دده څخه دترکو ، مغولو اویاجوج ماجوج نسلونه سوی دی کوم خلګ چی دحضرت نوح ﷺ په کښتی کی سپاره وه دطوفان څخه محفوظ سوی وه ، په دوی کی دحضرت نوح ﷺ ددی دری زامنوځخه علاوه دبل چانسل نه دی چلیدلی البته ځینی علماء دکومو شمیر چی ډیرکم دی ، ددی خبری قائل دی چی دحضرت نوح ﷺ طوفان په ټوله دنیا نه وو ، بلکه صرف دعربو په مځکه راغلی وو ، د دوی په نزد ددی آیت مطلب دا دی چی دعربوپه مځکه کی صرف دحضرت نوح ﷺ اولاد باقی پاته سو ، او د دوی څخه دعربو نسل وچلیدی ، ددنیاپه نورو حصوکی دنورو دنسلونو چلیدو څخه په دی آیت سره نفی نه کیږی (بیان القرآن)

دمفسرینو یوه دریمه ډله دا وایی چی دحضرت نوح ﷺ طوفان خو په ټوله دنیا راغلی وو ، لیکن ددنیا نسل صرف دحضرت نوح ﷺ دزامنو څخه نه بلکه دهغو ټولوخلګوځخه چلیدلی دی کوم چی په کښتی کی دحضرت نوح ﷺ سره سپاره وه ، دا ډله په آیت کی حصر حصرِ اضافی ګرځوی اودا وایی چی دلته

Maktaba Tul Ishaat.com

اصل مقصد دابیانول دی چی ددوب سوو نسل ونه چلیدی (قرطبی) دقرآن کریم دسیاق په لحاظ دا دریم قول ډیر کمزوری دی ، او اولنی قول دتولو څخه ښه دی ، په دی وجه چی ددی تائید دځینو احادیثو څخه هم کیږی کوم چی امام ترمذی وغیره ددی آیت په تفسیرکی سیده په سیده دنبی کریم ﷺ څخه روایت کړی دی ، دحضرت سمره بن جندب ؓ څخه روایت دی چی دوی ارشاد وفرمایه چی سام دعربو پلاردی حام دحبشیانو پلاردی اویافث درومیانو ، امام ترمذی دی حدیث ته حسن ویلی دی اوحاکم ورته صحیح ویلی دی (روح المعانی ص ۲۸ ج۲۳)

وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ ۝ سَلَامٌ عَلَىٰ نُوحٍ فِي الْعَالَمِينَ : او مونږ دده دپاره په وروسته راتلونکو کی دا خبره پاته کړه چی په حضرت نوح ؑ دی سلام وی ، په عالم والاووکی ، ددی مطلب دا دی چی دحضرت نوح ؑ څخه وروسته چی کوم خلک پیدا سول دهغوی په نظرکی حضرت نوح ؑ داسی معزز اومکرم جوړ سو چی هغوی ترقیامته پوری دحضرت نوح ؑ دپاره دسلامتی دُعا کوی ، چنانچی واقعه هم داسی ده چی ټول هغه مذهبونه کوم چی دخپلو ځانونو نسبت اسمانی کتابونو ته کوی ، ټول دحضرت نوح ؑ دنبوت اوتقدس قائل دی ، دمسلمانانو څخه علاوه یهود اونصرانیان هم دی خپل پیشوا منی .

وَإِنَّ مِنْ شِيعَتِهِ لَإِبْرَاهِيمَ ﴿٨٣﴾ إِذْ جَاءَ رَبَّهُ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٤﴾

او دده په لاری والا ووکی دی ابراهیم ؑ ، هرکله چی راغی خپل رب ته په صفا زړه سره ،

إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَاذَا تَعْبُدُونَ ﴿٨٥﴾ أَئِفْكًا آلِهَةً دُونَ

هرکله چی وویل ده خپل پلار ته او دده قوم ته تاسی دڅه عبادت کوی ؟ آیا دالله څخه ماسوا دروغ

اللَّهِ تُرِيدُونَ ﴿٨٦﴾ فَمَا ظَنُّكُمْ بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٨٧﴾ فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي

معبودان جوړول غواړی ، بیا څه خیال دی ستاسی په رب دمخلوقاتو ؟ بیا یی وکتل یو وار په

النُّجُومِ ﴿٨٨﴾ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ ﴿٨٩﴾ فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِينَ ﴿٩٠﴾ فَرَاغَ إِلَىٰ

ستورو کی ، نو وې ویل زه ناجوړه کیږمونکی یم ، نو واپس سول هغوی دده څخه په شا ، پس ورننوته

آلِهَتِهِمْ فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٩١﴾ مَا لَكُمْ لَا تَنْطِقُونَ ﴿٩٢﴾ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ

دهغوی په بتانوکی ،نووې ویل تاسی خوری ولی نه ؟ تاسی ته څه سوی دی چی خبری نه کوی ؟ نو ننوته هغوی ته

ضَرْبًا بِالْيَمِينِ ﴿٩٣﴾ فَأَقْبَلُوا إِلَيْهِ يَزِفُّونَ ﴿٩٤﴾ قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا

وهونکی په رسته لاس باندی ، پس را غلل خلق ده ته په منډه بیریدونکی ، وې ویل ولی عبادت کوی دهغو

Maktaba Tul Ishaat.com

تَنْحِتُوْنَ ﴿۹۵﴾ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۶﴾ قَالُوا ابْنُوْا لَهٗ بُنْيَانًا

چی تاسی یی تراش کوی، اوالله ﷻ پیدا کړی یاست تاسی اوځه چی تاسی جوړوی، وې ویل جوړه کی ده ته یوه آبادی

فَاَلْقُوْهُ فِی الْجَحِيْمِ ﴿۹۷﴾ فَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَسْفَلِيْنَ ﴿۹۸﴾

بیاوغورځوی دی په هغه سخت تیز اور کی ، نو اراده یی وکړه دپاره تدبیر ، نو کړل مونږ دوی لاندی

لنډتفسیر: اودنوح ﷺ دطریقی والاووځه (یعنی دهغوخلګو څخه کوم چی په اصولی عقیدوکی (نوح ﷺ سره متفق وه) ابراهیم ﷺ هم وو (دده هغه واقعه دیادولو قابله ده) کله چی هغه په صفا زړه سره دخپل رب طرف ته متوجه سو (دصفا زړه مطلب دا دی چی دده زړه دبدی عقیدی او دریا دجذبی څخه پاك وو) کله چی ده خپل پلارته اوخپل قوم ته (کوم چی بت پرست وه) وفرمایل چی تاسی دځه (واهیاتو شیانو عبادت کوی؟ ایا د درواغو معبودان دالله ﷻ څخه ماسوا (معبودان جوړول) غواړی؟ نوستاسی په رب العٰلمین باندی څه خیال دی؟ (یعنی تاسی چی کوم دهغه عبادت پریښی دی ، نوایا دهغه په معبود کیدو کی موځه شبهه ده ؟ یعنی اول خو داسی نه وه په کار، اوکه څه شبهه وی نو هغه لیری کړی ، غرض دا چی دغسی بحث مباحثه کیدل دیو وار واقعه ده چی د دوی یوخوشحالی راغله ، قوم ده ته هم درخواست وکی چی زمونږ میلی ته ولاړسه) نو ابراهیم ﷺ ستوروته دفکرپه یونظر سره وکتل اوویی ویل چی زه بیمار کیدونکی یم (په دی وجه میلی ته نه سم تللی) غرض داچی هغو خلګو (دده داعذر واوریدی) دی یی پریښی دوی ولاړل (چی برناحقه به په ناروغی کی ده ته اوده په وجه نوروته تکلیف وی) نودی (یعنی ابراهیم ﷺ د دوی بتانوته ورننوتی او (دمسخرو په طوریی هغوته) وویل چی ایا تاسی (دا چی ستاسی په مخکی خوراکونه ایښوول سوی دی) خوری ولی نه (او) تاسی لره څه وسوه، تاسی خبری هم نه کوی ؟ بیایی په قوت سره پردوی په وهلو شروع وکړه (اوپه تبر وغیره سره یی هغه مات رامات کړل) نو (هغه خلګ چی کله ددی څخه خبرسول نو) هغه خلګ ده ته په منډه (په بیره اوغصه کی) راغلل او (خبری شروع سوی) ابراهیم ﷺ وفرمایل ایاتاسی ددی شیانو عبادت کوی کوم چی په خپلو لاسونو تراش کوی (نوچی څوك تاسی ته محتاج وی هغه به خدای څنګه وی؟) حال دا دی چی تاسی اوستاسی جوړ سوی دا شیان (تولـه) الله ﷻ پیدا کړی دی (نوعبادت دهغه کول په کاردی) هغه خلګ (کله چی په مقابله کی مغلوب سول نو دغصی څخه یی په خپل مینځ کی) ووویل چی دابراهیم ﷺ دپاره یوه آتش خانه جوړه کړی (اوپه هغه کی اوربل کړی) دی په دی بل کړی اورکی وروغورځوی غرض دا چی هغو خلګو دحضرت ابراهیم ﷺ سره بدکول وغوښتل (چی دی هلاك کړی) نو مونږ دهغو تدبیر ناکامه کی (چی قصه یی په سورة انبیاء کی تیره سوې ده).

معلومات اومسئلي: دحضرت نوح ﷺ دواقعی څخه وروسته قرآن کریم دحضرت ابراهیم ﷺ دپاك ژوند دوی واقعی ذکرکړی دی ، دواړی واقعی داسی دی په کومو کی چی حضرت ابراهیم ﷺ محض دالله ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com

دپاره لویی قربانی پیش کړی ، په دوی کی اوله واقعه کومه چی په دی ایتونوکی ذکر سوي ده ، دحضرت ابراهیم ﷺ په اورکی دغورځولو واقعه ده ، او ددی تفصیلات په سورة انبیاء کی تیر سوی دی البته دلته چې په کوم اندازکی دا بیان سوي ده ، په دی کی څو خبری دتشریح طلب دی .

وَإِنَّ مِنْ شِيعَتِهِ لَإِبْرَاهِيمَ : شِيعَةٌ په عربی ژبه کی هغه ډلی اوجماعت ته ویل کیږی دکوم افراد چی په انسانی نظریاتو اوطور طریقوکی یوشان وی او دلته ظاهره دا ده چی دَشِيعَتِه ضمیر دحضرت نوح ﷺ ته راجع دی ، په دی وجه ددی مطلب دا سو چی حضرت ابراهیم ﷺ دځان څخه دمخکی پیغمبر حضرت نوح ﷺ په طریقه باندی وو او ددین په بنیادی اصولوکی په دواړوکی مکمل اتفاق وو او دا هم ممکنه ده چی د دواړوشریعتونه هم یوشان وی ، واضحه ده چی دځینو تاریخی روایتونو مطابق دحضرت نوح ﷺ او حضرت ابراهیم ﷺ په مینځ کی دوه زره شپږ سوه څلویښت ۲۲۴۰ کاله فاصله ده او د دواړو په مینځ کی دحضرت هود ﷺ اوحضرت صالح ﷺ څخه ماسوا بل نبی نه دی تیر سوی (کشاف ص۴۸ ج۴)

إِذْ جَاءَ رَبَّهُ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ : ددی برابر لفظی معنی دا ده ، هرکله چی هغه راغی خپل پروردګار ته په صفا زړه سره ، اوپروردګار ته دراتلو څخه مراد دی ، دالله طرف ته رجوع کول ، دهغه طرف ته متوجه کیدل او دهغه عبادت کول ، ددی سره دَ، صفا زړه، قیدیی ولګوی اواشاره یی کړي ده چی دالله ﷻ هیڅ عبادت ترهغه وخته پوری قابل قبول نه دی ترڅوچی دعبادت کوونکی زړه دغلطو عقیدو اوبدو جذباتو څخه پاك نه وی که دغلطی عقیدی سره څه عبادت وسی نو برابره خبره ده که عبادت کوونکی په دی کی هر څومره محنت کړی وی هغه قابل قبول نه دی ، دغه ډول که دعبادت کوونکی اصلی مقصد دالله ﷻ دخوشحالی دحاصلولو پرځای خان ښوول وی یاځه مادی منفعت وی نو دا عبادت قابل اعتبار نه دی ، دحضرت ابراهیم ﷺ رجوع الله ﷻ ته ددی تولو نورو شیانو څخه پاکه وه .

فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُومِ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ : ددی ایتونو نو منظر دا دی چی دحضرت ابراهیم ﷺ قوم یوه خاص ورځ (تهوار خوشحالی) نمانځله ، هرکله چی دغه ورځ راغله نو دوی حضرت ابراهیم ﷺ ته دعوت ورکی چی ته هم زمونږ سره په جشن کی دشرکت دپاره ولاړسه مقصدیی دا وو چی که حضرت ابراهیم ﷺ په دی جشن کی زمونږ سره شریك سی نوشاید چی زمونږ ددین څخه متاثره سی اودخپل دین دعوت پریږدی (دُرِّ منثور وابن جریر وغیره) لیکن حضرت ابراهیم ﷺ ددی موقعی څخه بله فائده اخیستل غوښتل ، دده اراده داوه چی کله ټول قوم جشن نمانځلوته ولاړسی ، نو زه به د دوی بت خانوته ولاړسم اود دوی بتان به مات رامات کړم چی داخلګ بیرته راسی اودخپلو درواغجنو معبودانو دبی وسی عملی نقشه به په خپلو سترګو سره ووینی ، کیدی سی چی خپل بتان بی وسه ووینی او دچاپه زړه کی ایمان پیداسی او دشرك څخه توبه وکړی ، په دی غرض سره حضرت ابراهیم ﷺ د دوی سره دتللوڅخه انکار وکی لیکن دانکار طریقه یی دا اختیارکړه چی اول یی په ژور نظرسره ستوروته وکتل اوبیایی وویل چی زه ناروغ یم ، قوم دی معذور وګڼی اوپاته یی کی او دجشن کولو دپاره ولاړل .

ددی واقعی سره ډیر تفسیری اوفقهی بحثونه متعلق دی ، دلته ددی خلاصه دا ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

(ستورو ته دنظر کولو مقصد)

دتولو څخه اول بحث خو دا دی چی حضرت ابراهیم ﷺ دجواب ورکولو څخه مخکی چی پرستورو نظر واچوی نو ددی مقصد څه وو ؟ ځینی حضراتو خو دا فرمایلی دی چی دا محض یوه اتفاقی خبره وه ، دځه اهمی خبری دسوچ کولو په وخت کی انسان ځینی وخت بی اختیاره دآسمان طرف ته گوری ، څه وخت چی حضرت ابراهیم ﷺ ته په جشن کی دشرکت کولو دعوت ورکول سو ، نودی په دی سوچ کی راغی چی دا دعوت څنگه ردکی ؟ ددغه فکر په وخت کی ده بی اختیاره ددې ستورو طرف ته وکتل او ددی څخه وروسته یی جواب ورکی .

په ستورو دنظر اچولو داتشریح په ظاهره بی غباره معلومیږی لیکن دقرآن کریم داسلوب ترمخه دی ته صحیح ویل مشکل دی اول خو په دی وجه چی دقرآن کریم اسلوب دا دی چی هغه دواقعاتو صرف مهم اوضروری اجزاء بیان فرمایی اوغیر ضروری تفصیلات پریږدی ، په خپله په دی ایتونوکی دواقعی څو اجزاء محذوف دی ، تردی پوری چی ددی پوره پس منظر یی هم بیان نه کی ، په دی وجه داباور کول ممکن نه دی چی قرآن کریم دَواقعی پس منظر خو داوږدوالی په خیال سره پریښی دی اویو قطعی غیر اختیاری آیت عمل دکوم چی دواقعی سره څه لیری تعلق هم نه وو هغه یی په پوره یوایت کی بیان کړی وی ، دوهم که دستورو په لیدوکی څه خاص حکمت پیش نظرنه وو ، بلکه یو غیر اختیاری عمل وو نو دعربی ژبی دقواعدو په بنا سره ، فَنَظَرَ نَظْرَةً اِلَي النُّجُومِ : ویل په کار وو ، فِي النُّجُوْمِ ، نه .

ددی څخه دا معلومه سوه چی ستورو ته په کتوکی څه خاص مصلحت دَحضرت ابراهیم ﷺ دنظر په وړاندی وو ، په دی وجه قرآن کریم په اهمیت سره ددی ذکرفرمایلی دی ، اوس هغه مصلحت څه وو ؟ ددی په جواب کی اکثرو مفسرینو دا فرمایلی دی چی په اصل کی دحضرت ابراهیم ﷺ قوم دعلم نجوم پیر شیدایان وه اوستورو ته به یی کتل او دخپلو کارونو تعین به یی کوی ، حضرت ابراهیم ﷺ چی دستورو طرف ته دکتلو څخه وروسته کوم جواب ورکی دهغه مقصد دا وو چی دقوم خلک داسی وگنی چی حضرت ابراهیم ﷺ دخپلی ناروغی په باره کی چی څه فرمایی هغه څه هوایی خبره نه ده ، بلکه دستورو په چلند دفکر کولو څخه وروسته فرمایی ، که څه هم حضرت ابراهیم ﷺ بذات خود دعلم نجوم قائل نه وو ، لیکن په جشن کی دشرکت څخه دځان خلاصولو دپاره ده هغه طریقه اختیار کړه کومه چی دده په نظرکی زیاته قابلِ اعتماد وه اوچونکه دوی په ژبه سره دعلم نجوم څه حواله ورنه کړه اونه یی دا وښوولە چی ستوروته په کت وسره زما مقصد دَعلم نجوم څخه مدد اخیستل دی ، بلکه صرف دفکر په نظر سره یی ستورو ته وکتل ، په دی وجه په دی کی د دروغو هم څه ارخ را نه غی .

دلته دا شبهه کیدی سی چی دحضرت ابراهیم ﷺ په دی عمل سره دهغه کافرانو همت افزایی به سوی وی کوم چی نه یوازی دعلم نجوم قائل وه ، بلکه ستوری یی دِدنیاپه واقعاتو کی حقیقی مؤثر گڼل ، لیکن ددی جواب دا دی چی همت افزایی خو به هلته کیده چی حضرت ابراهیم ﷺ وروسته دوی د دوی په گمراهی خبردار کړی نه وای ، دلته خو دا ټول تدبیر صرف ددی دپاره کیدی چی دوی ته دتوحید دعوت ترزیات لا زیات په مؤثر اندازکی ورکی ، چنانچی دلږ وقفی څخه وروسته حضرت ابراهیم ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com

دقوم یوه ګمراهی په ډاګه بیان کړه، په دی وجه محضی په دی مبهم عمل سره دکافرانو دهمت افزایی څه سوال نه پیدا کیږی، دلته اصل مقصدپه جشن کی دشرکت څخه خپل ځان خلاصول وه چی دحق ددعوت دپاره زیاته اثر کوونکی فضاء پیداسی، ددی مقصد دپاره دایهام داطریقه زیاته پرحکمت مبنی ده او په دی څه معقول اعتراض نه سی کیدی.

دستورو طرف ته دکتلو دا تشریح داکثرو مفسرینو څخه منقول ده اوحکیم الامت تهانوی رحمه الله هم په بیان القرآن کی دا اختیار فرمایلی دی.

(دعلمِ نجوم شرعي حيثيت)

ددی آیت دوهمه مسئله داده چی دعلم نجوم شرعی حیثیت څه دی؟ دلته لنډ ددی سوال جواب نقل کیږی داخو یوطی شده حقیقت دی چی الله ﷻ په لمر، سپوږمی اوستورو کی څه داسی خاصیتونه ایښی دی کوم چی پرانسانی ژوند اثر غورځوی په دی کی څینی خاصیتونه داسی دی کوم چی هرسړی لیدی سی، مثلاً دلمر دنړدی والی اولیری والی څخه یخ او ګرمی پیداکیدل، دسپوږمی دکمی اوزیادت څخه په سمندرکی مد اوجذر پیدا کیدل، اوس دځینی حضراتو وینا خو دا ده چی ددی ستورو خاصیتونه صرف هغه دی کوم چی په عامه مشاهده سره معلومیږی او دځینو خلګو وینا دا ده چی ددی څخه علاوه هم دستورو دګردش څه داسی خواص وی چی دانسان دژوند پراکثرو معاملو اثر غورځوی، دیو انسان دپاره دستوری په یوخاص برج کی تلل دخوشحالیو اوکامیابیو سبب جوړیږی، اودّچا دپاره دغمونو اوناکامیو، بیا ځینی خلګ خودا ستوری دکامیابیو اوناکامیو په معامله کی حقیقی مؤثر منی اوځینی خلګ داوایی چی مؤثر حقیقی خو الله ﷻ دی، مګر ده ستورو ته داسی خواص ورکړی دی، په دی وجه ددنیا دَنورو اسبابو په شان دا هم دانسان دکامیابیو اوناکامیو یو سبب وی.

ترکومه پوری چی دهغو خلګو تعلق دی، کوم چی ستوری حقیقی مؤثر منی، یعنی داسی ګڼی چی ددنیا انقلابات اوواقعات دستورو له کبله دی ستوری ددنیا دټولو واقعاتو فیصلی کوی نوبیشکه دهغوی خیال غلط اوباطل دی اودا عقیده انسان دشرك حدته رسوی، عربو به دباران په پاره کی دا عقیده درلوده چی یوخاص ستوری (کوم ته چی به یی، نَوْء، ویل) باران راولی اودباران دپاره هغه دحقیقی مؤثر حیثیت لری، نبی کریم ﷺ ددی عقیدی سخت تردید وفرمایی چی وضاحت یی په احادیثوکی موجود دی.

پاته سول هغه خلګ کوم چی په دنیوی واقعاتوکی حقیقی مؤثر خوالله ﷻ منی، لیکن ددی سره ددی خبری هم قائل دی چی الله ﷻ ستورو ته داسی خواص ورکړی دی کوم چی دسبب په درجه کی پرانسانی ژوند اثر انداز کیږی لکه څنګه چی دباران اورونکی خو الله ﷻ دی، لیکن ددی ظاهری سبب وریځ ده، دغه ډول دکامیابیو اوناکامیو اصلی سرچینه خو دالله ﷻ مشیت دی، لیکن دا ستوری ددی کامیابیو اوناکامیو سبب جوړیږی، نو داخیال شرك نه دی او دقرآن او حدیث څخه نه ددی خیال تصدیق کیږی اونه تردید، په دی وجه دا څه بعیده نه ده چی الله ﷻ دستورو په ګردش، ختلو اولویدلو ګی څه داسی اثرات ایښی وی، لیکن ددی اثراتو دلټون کولو دپاره دعلم نجوم حاصلول، پردی علم اعتماد او ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

په بنا دَمستقبل په باره کی فیصلی کول ، په هرحال ممنوع اونا جائز دی اوپه احادیثوکی ددی ممانعت راغلی دی ، دحضرت عبد الله ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ ارشاد فرمایلی دی.

اِذَا ذُکِرَ الْقَدَرُ فَاَمْسِکُوْا وَاِذَا ذُکِرَتِ النُّجُوْمُ فَاَمْسِکُوْا وَاِذَا ذُکِرَ اَصْحَابِیْ فَاَمْسِکُوْا .

(تخریج احیاء العلوم للعراقی بحواله طبرانی وَهُوَ حدیث حسنه العراق)

هرکله چی دتقدیر ذکرځیرل کیږی نو منع سی اوهرکله چی دستورو دذکر ځیرل کیږی نو منع سی (یعنی په دی بحثونوکی زیات غور خوض اوبحث او مباحثه مه کوی) اوکله چی زما داصحابو (یعنی د دوی په مینځ کی داختلافاتو وغیره) ذکر ځیرل کیږی ، نو منع سی.

او دحضرت فاروق اعظم ﷺ ارشاد دی ، تَعَلَّمُوْا مِنَ النُّجُوْمِ مَا تَهْتَدُوْنَ بِهٖ فِی الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ثُمَّ اَمْسِکُوْا (احیاء علوم الدین للغزالی)

دستورو علم دومره حاصل کړی چی ددی په ذریعه تاسی په وچه اوسمندر کی لاری وپیژنی ، ددی څخه وروسته منع سی.

په دی ممانعت سره دستورو دخاصیتونو اواثرونو څخه انکار نه لازمیږی لیکن په دی اثارو اوخواصو پسی کیدل او د دوی په لټون کی قیمتی وخت بربادول منع سوی دی ، امام غزالی رحمه الله په احیاء العلوم کی په دی تفصیل سره بحث کړی دی ، ددی ممانعت یی بی شمیره حکمتونه ښوولی دی.

دعلم نجوم ممنوع اومذموم کیدو اولنی حکمت خو دا دی چی هرکله په دی علم کی دانسان انهماك زیاتیږی نو تجربه دا ده چی هغه په کراره کراره ستوری هرځه وګنی او داشی دی په کراره کراره دستورو حقیقی مؤثره کیدو مشرکانه عقیدی طرف ته بوزی.

دوهم حکمت دا دی چی که په ستوروکی الله ﷻ څه خواص اواثار ایښی هم وی نو ددی دیقینی علم زمونږ سره ماسوا دوحی څخه بله لارنسته ، دحضرت ادریس ﷺ په باره کی په احادیثوکی راغلی دی چی دوی ته الله ﷻ دا قسم څه علم ورکړی وو ، لیکن اوس هغه علم دکوم بنیاد چی په وحی الٰهی وو ددنیا څخه ورك سوی دی ، اوس دعلم نجوم دماهرانو سره چی څه دی ، هغه محض قیاسونه اندازی اوتخمینی دی دکومو څخه چی څه یقینی علم نه سی حاصلیدی ، دا وجه ده چی دنجومیانو بی شمیره پیش ګویانی هره ورځ غلطی ثابتیږی ، چا ددی علم په باره کی ښه تبصره کړي ده.

مُفِیْدُهٗ غَیْرُ مَعْلُوْمٍ وَمَعْلُوْمُهٗ غَیْرُ مُفِیْدٍ : یعنی ددی علم څومره حصه چی مفیده کیدی سی هغه چانه معلومه نه ده اوڅومره چی خلګو ته معلومه ده ، هغه فائده منده نه ده.

علامه الوسی رحمه الله په روح المعانی کی دتاریخی واقعاتو داسی ډیر مثالونه پیش کړی دی په کومو کی چی دعلم نجوم دمسلمه قواعدو لاندی یوه واقعه څنګه پیښیدل په کار وه ، په حقیقت کی دهغه بالکل برعکس پیښه سوي ده چنانچی کومو لویو لویو خلګو چی په دی علم کی خپل عمرونه ختم کړی دی ، هغوی اخر په دی وینا مجبور سوی دی چی ددی علم انجام دقیاس اوتخمین څخه مخ ته هیڅ نسته ، یو مشهور منجم کوشیار دیلمی په علم نجوم باندی په خپل کتاب المجمل فی الاحکام کی لیکلی دی علم نجوم یوغیر مدلّل علم دی او په دی کی دانسان دوسوسو اوګمانونو دپاره لوی ګنجائش دی (روح

Maktaba Tul Ishaat.com

المعانی ص ۱۱۶ ج ۲۳)

علامه الوسی رحمه الله نور هم دنجوم دډیرو عالمانو دا قسم اقوال نقل کړی دی ، په هرحال دا خبره ثابته سوې ده چی علم نجوم څه یقینی علم نه دی او په دی کی دغلطو بی حسابه احتمالات وی ، لیکن کیږی دا چی کوم خلک ددی علم په تحصیل کی لګیدلی وی ، هغوی دی ته بالکل دقطعی اویقینی علم درجه ورکوی ، په دی بنادمستقبل فیصلی کوی ، په دی وجه دنورو په باره کی دنّبه اوبد رایی قائموی او دټولوڅخه زیات دا چی ددی علم درواغجن ګمان ځینی وخت انسان دعلم غیب دعوو ته رسوی اوظاهره ده چی په دی کی هریو شی بی شمیره فسادونه پیدا کوونکی دی .

دعلم نجوم دممانعت دریمه وجه دا ده چی دا خورِ عمر په یوبی فائدی کارکی دخرڅ کولو برابر دی ، کله چی ددی څخه څه نتیجه په یقینی ډول نه سی حاصلیدی ، نو ظاهره ده چی ددنیاپه کارونوکی دا علم دومره مددګار کیدی نه سی ، اوس خامخا په یو بی فائدی شی پسی کیدل داسلامی شریعت دروح اومزاج بالکل خلاف ده ، په دی وجه دا منع سوی دی .

(دحضرت ابراهیم علیه السلام دناروغي مطلب)

ددی آیت متعلق دریمه مسئله دا ده چی حضرت ابراهیم علیه السلام دخپل قوم ددعوت په جواب کی چی کوم ، اِنِّیْ سَقِیْمٌ (زه ناجوړی یم) وفرمایل نوآیا حضرت ابراهیم علیه السلام دغه وخت واقعی ناجوړی وو؟ په قرآن کریم کی ددی متعلق هیڅ وضاحت نسته ، لیکن دصحیح بخاری دیوحدیث څخه معلومیږی چی دی دغه وخت داسی ناروغ نه وو چی دقوم سره نه سوای تللی ، په دی وجه داسوال پیداکیږی چی حضرت ابراهیم علیه السلام دا خبره څنګه ارشاد وفرمایله ؟

ددی جواب دجمهورو مفسرینو په نزد دا دی چی په حقیقت کی ددی الفاظو په ذریعه حضرت ابراهیم علیه السلام تَوْرِیَهْ کړی وه ، دّتوریی مطلب دا دی ، یوه داسی خبره کول کومه چی په ظاهره دواقعی څخه خلاف وی لیکن ویونکی ددی څخه داسی یوه لیری معنٰی مراد اخیستی وی ، کومه چی دواقعی مطابق وی ، دلته حضرت ابراهیم علیه السلام چی کومه جمله ارشاد فرمایلی دی ، ددی ظاهری مطلب خو دا دی چی ، زه دا وخت ناجوړی یم .

لیکن دده اصل مراد دانه وو ، اوس اصل مراد څه وو؟ ددی په باره کی مفسرینو مختلفی خبری کړی دی ځینی فرمایی چی ددی څخه دده مقصد هغه طبعی تنګی وه کومه چی ده ته دخپل قوم په مشرکانه حرکاتو لیدو پیدا کیده ، ددی تائید ددی څخه هم کیږی چی دلته دَسَقِیْم لفظ استعمال سوی دی کوم چی دَ، مریض، په مقابله کی ډیر کمزوری لفظ دی ، اومطلب یی په پښتو کی داسی ادا کیدی سی چی ، زما طبیعت ناسازه دی ، ظاهره ده چی په دی جمله کی دطبعی تنګی هم پوره ګنجائش په مطلب کی پیدا کیدی سی .

اوځینی حضرات فرمایی چی دَ، اِنِّیْ سَقِیْمٌ : څخه دحضرت ابراهیم علیه السلام مقصد دا وو چی ، زه ناجوړی یم څکه چی په عربی ژبه کی دَاسم فاعل صیغه ډیره دمستقبل دزمانی دپاره استعمالیږی ، په قرآن کریم کی نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی فرمایی ، اِنَّكَ مَیِّتٌ وَاِنَّهُمْ مَیِّتُوْنَ : ددی ظاهری الفاظو ترجمه داسی هم

Maktaba Tul Ishaat.com

کیدی سی چی ، ته هم مړ یی اوهغه هم مړه دی ، لیکن ظاهره ده چې دلته مراد دامعنی ده چی ، ته هم مړکیدونکی یی اوهغوی هم مړه کیدونکی دی ، دغه ډول دَ، اِنِّیْ سَقِیْمٌ، معنی حضرت ابراهیم ﷺ دامراد اخستی وه چی ، ناجوړی یم، اودایی څکه وفرمایل چی دمرګ څخه مخکی مخکی دهرسړی ناجوړه کیدل یقینی خبره ده، که چاته ظاهری ناروغی نه وی خوبیا هم دمرګ څخه لږ مخکی دانسان په مزاج کی خلل واقع کیدل ډیر ضروری دی .

اوکه دچا زړه په دی تاویلاتو مطمئن نه وی نودتولو څخه ښه توجیه دا ده چی دحضرت ابراهیم ﷺ طبیعت دغه وخت په واقع کی لږ یاډیر ناسازه وو، لیکن ناروغی یی داسی نه وه چی په جشن کی دشرکت څخه مانع وه ده دخپل طبیعت دمعمولی ناسازی ذکر په داسی ماحول کی وکی چی اوریدونکو دا وګڼله چی ده ته څه لویه ناروغی لګیدلی ده چی دهغه په وجه دی واقعی زمونږ سره نه سی تللی ، دحضرت ابراهیم ﷺ دتوریې ددې تشریح څخه دا هم واضحه کیږی چی دصحیح بخاری په یوحدیث کی دحضرت ابراهیم ﷺ دارشاد ، سَقِیْمٌ، دپاره چی کوم دَ، کَذِبَة، (درواغ) الفاظ استعمال سوی دی ، ددی څخه مراد ، توریه، ده چی ظاهری شکل یی درواغ وی ، لیکن دمتکلم دمراد په لحاظ سره دا درواغ نه وی ، په خپله ددی حدیث په څینو روایتونوکی دا الفاظ هم راغلی دی .

مَا مِنْهَا كَذِبَةٌ اِلاَّ مَا حَلَّ بِهَا عَنْ دِيْنِ اللهِ : په دی کی یو درواغ هم داسی نه دی کوم چی دالله ﷻ ددین دمدافعت اوحمایت په باره کی نه وی ویل سوی .

دی الفاظو په خپله داواضحه کړي ده چی دلته ، کذب ، دخپلی عامی معنی څخه جلا مطلب لری ، ددی حدیث په حقله څه قدرتفصیلی بحث په سورة انبیاء کی ترایت، قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيْرُهُمْ : لاندی تیر سوی دی

دتوریې شرعي حکم: ددی ایتونو څخه دا مسئله راوزی چی دضرورت په مواقعو باندی توریه کول جائز دی ، توریه یوه خو قولی وی ، یعنی داسی خبره کول چی ظاهری مطلب یی دواقعی څخه خلاف وی اوباطنی مرادیی دواقعی مطابق وی اویوه توریه عملی وی، یعنی داسی عمل کول دکوم مقصد چی لیدونکی یو څه ګڼی اوپه حقیقت کی دده مقصد یوبل وی ، دی ته ایهام هم ویل کیږی دحضرت ابراهیم ﷺ ستورو ته کتل (داکثرو مفسرینو دقول مطابق) ایهام وو اوخپل ځان ته ناروغ ویل یی توریه وه .

دضرورت په مواقعو باندی دتوریې دا دواړه قسمونه په خپله دنبی کریم ﷺ څخه ثابت دی ، څه وخت چی دوی دهجرت دپاره تشریف وړی اومشرکان د دوی په تلاښ کی لګیدلی وه ، نو په لاره کی یو سړی دحضرت ابوبکر صدیق ﷺ څخه دنبی کریم ﷺ په باره کی پوښتنه وکړه چی ، دا څوک دی؟ حضرت صدیق اکبر ﷺ جواب ورکی ، هُوَهَادٍ يَهْدِيْنِیْ (دا زما رهنما دی ماته لار رابنیی) اوریدونکی دا وګڼله چی عام لار ښوونکی رهنما ورڅخه مراد دی ، په دی وجه یی پرېښووی او ولاړی ورڅخه، حال دا دی چی دحضرت صدیق ﷺ مراد داوو چی دینی اوروحانی رهنما دی (روح المعانی)

دغه ډول حضرت کعب بن مالك ﷺ فرمایی چی نبی کریم ﷺ ته به دجهاد دپاره کوم طرف ته تلل وو نو دمدینی منوری څخه دوتلو په وخت کی به مخالف طرف ته وتی چی لیدونکو ته صحیح طرف معلوم نه سی (صحیح مسلم وغیره) دا عملی توریه او ایهام وو .

Maktaba Tul Ishaat.com

دمزاح اوخوش طبعی په موقع هم دنبی کریم ﷺ څخه توریه ثابته ده، په شمائل ترمذی کی روایت دی چی نبی کریم ﷺ یوی بوډی ښځی ته مزاحًا وفرمایل ، هیڅ یوه بوډی ښځه به جنت ته نه سی تلی ، هغه ښځی چی داواوریدل نو ډیره پریشانه سوه ، نو حضور ﷺ یی تشریح وفرمایله چی دبوډاګانو جنت ته دنه تللو مطلب دا دی چی هغه به دزوړوالی په حالت کی جنت ته نه ځی البته ځوانانی به سی نوځی به .

ددی څخه دوروسته ایتونو مطلب دلته تفسیر څخه واضح دی اودواقعی تفصیلات په سورة انبیاء کی تیر سوی دی .

وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴿٩٩﴾ رَبِّ هَبْ لِي مِنَ

او وې ویل زه ځم خپل رب طرف ته هغه به ماته لار وښیی ، ای ربه ! را کړی وماته

الصَّالِحِينَ ﴿١٠٠﴾ فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ ﴿١٠١﴾ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ

نیك زوی ،بیاخوشخبری ورکړه مونږده ته په یوهلك زغم لرونکی ، بیاچی ورسیدی دده سره ګرځیدو ته وې ویل

يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَىٰ فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَىٰ قَالَ

ای زویه ! زه وینم په خوب کی چی تا ذبح کړم نو ته څه وینی ؟ وی ویل

يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ ﴿١٠٢﴾

ای پلاره ! وکړه څه چی تا ته حکم کیږي ته به ما پیداکی که الله ﷻ وغواړی دصبر کوونکو څخه ،

فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ ﴿١٠٣﴾ وَنَادَيْنَاهُ أَن يَا إِبْرَاهِيمُ ﴿١٠٤﴾ قَدْ

بیا چی کله دواړو حکم ومنی او څملوی یی دی پرمخی ، اومونږده ته اواز وکی چی ای ابراهیم ﷺ ! تا

صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا ۚ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١٠٥﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ

رښتیا کی خوب مونږ دغسی بدله ورکوو نیکی کوونکو ته ، بیشکه دا دی

الْبَلَاءُ الْمُبِينُ ﴿١٠٦﴾ وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ﴿١٠٧﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي

ښکاره ازمیښت ، اوبدله ورکړه مونږ دیو حیوان په ذبح کولو لویه ، او باقی پاته کړه مونږ په ده

الْآخِرِينَ ﴿١٠٨﴾ سَلَامٌ عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ ﴿١٠٩﴾ كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١١٠﴾

په وروسته خلقو کی ، چی سلام دی په ابراهیم ﷺ ، مونږ داسی ورکوو بدله نیکی کوونکو ته ،

Maktaba Tul Ishaat.com

اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۱﴾ وَبَشَّرْنٰهُ بِاِسْحٰقَ نَبِيًّا مِّنَ

هغه دی زمونږ دایماندارو بندګانو څخه ، او خوشخبری ورکړه مونږ ده ته په اسحق چی نبی به

الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۱۲﴾ وَبٰرَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلٰٓى اِسْحٰقَ ؕ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ

وی دصالحانو ، اوبرکت ورکی مونږ ده ته او اسحق ته او د دواړو په اولاد کی دی نیکی کورونکر

وَّظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ مُبِيْنٌ ﴿۱۱۳﴾

او بد کاره هم په خپل حق کی ښکاره .

لنډتفسیر: اوابراهیم ﷺ هرکله چی ددی خلګو دایمان راوړلو څخه مایوسه سو نو) وي ویل چی زه خو (ستاسی څخه هجرت کوم) دخپل رب (په لاره کی) یوطرف ته څم هغه به ما (ښه ځای ته) ورسوی (چنانچې شام ته ورسیدی او دا دعا یی وکړه چی) ای زماربه ! ماته یونیك اولاد را کړی ، نو مونږ ده ته دیو حلیم المزاج زوی خوشخبری ورکړه (او دغه اولاد پیدا سو اوهوښیار سو) نو کله چی دغه هلك داسی عمر ته ورسیدی چی دابراهیم ﷺ سره دګرځیدو سو نوابراهیم ﷺ یوخوب ولیدی چی زه دازوی دخدای په حکم سره ذبح کوم اودا ثابته نه ده چی غاړه یی پریکړی هم ولیده اوکه نه ، غرض دا چی چی وښی سو نو دا یی دالله ﷻ حکم وګنی څکه چی دانبیاؤ خوب هم وحی وی او ددی حکم دتعمیل دپاره تیار سو ، بیا یی دا سوچ وکی چی خدای خبر زما زوی په دی باره کی څه وایی ، دده خبرول یی ضرری وګنړل ، په دی وجه یی هغه ته) وفرمایل چی زویه! زه وینم چی زه تا (دالله ﷻ په حکم) ذبح کوم ، نو ته هم سوچ وکړه ستا څه رایه ده؟ هغه وویل پلاره! (په دی کی زما څخه دپوښتنی څه خبره ده کله چی تاته دخدای (دطرف څخه حکم سوی دی نو) تا ته چی حکم سوی دی هغه (بلا تامل) وکړه، انشاء الله (ته به ما دصبر کورونکو څخه ووینی، غرض کله چی دواړو (دخدای حکم) ومنی اوپلار زوی (ددبح کولو دپاره) پرمخی څملوی او (غوښتل یی چی غاړی ورپریکړی اودغه وخت) مونږ دوی ته اواز وکی چی ای ابراهیم! ﷺ (شاباش) تاخوب ډیر ښه ربښتیا کی (یعنی په خوب کی چی درته کوم حکم سوی وو دخپل طرف څخه دی په هغه پوره عمل وکی اوس مونږ داحکم منسوخ کوو ، نو دی پریږده ، غرض هغه یی پریښووی اوهغه بالکل محفوظ سو لوړی درجی ورته پرهغه بالا ورکول سوی) مونږ مخلصانوته داسی بدله ورکوو (چی د دواړو جهانو راحت ورته ورکوو) په حقیقت کی داوو لوی (امتحان) (کوم چی بغیر دکامل مخلص څخه بل نه سی برداشت کولی ، نو مونږ په داسی امتحان کی په پوره ختلو باندی بدله هم ډیره لویه ورکړه اوپه دی کی چی څنګه امتحان دابراهیم (وو ، دغه ډول داسماعیل ﷺ هم وو ، نوپه بدله کی دغه دواړه شریك وه) اومونږ یوه لویه ذبیحه ددی په بدله کی ورکړه (چی دحضرت ابراهیم ﷺ په لاس هغه ذبح سوه) او مونږ په وروسته راتلونکو کی دا خبره د دوی دپاره پاته کړه چی پرابراهیم ﷺ دی سلام وی (چنانچی ددا دنوم سره تراوسه ﷺ ویل کیږی) مونږ مخلصانوته داسی بدله ورکوو (چی هغوی دخلګو ددعاګانو او

(سلامتی دخوشخبرو مرکز جوړ وو) بیشکه هغه زمونږ دایماندارو بندګانو څخه وو اومونږ (یوانعام په هغه دا وکی چی) ده ته مو داسحٰق ﷺ خوشخبری ورکړه چی نبی اودنیك بختو څخه به وی اومونږ په ابراهیم ﷺ باندی اوپر اسحٰق ﷺ باندی برکتونه نازل کړل (ددی برکتونو څخه یو دا دی چی د دوی نسل ډیر خپور سو او د دوی په نسل کی ډیر انبیاء پیدا سول) او (بیا مخ ته) ددی دواړوپه نسل کی ځینی ښه هم دی اوځینی داسی هم کوم چی (بدی کوی) ښکاره خپل نقصان کوی.

معلومات اومسئلي : دزوی دقرباني واقعه : په دی ایتونوکی دحضرت ابراهیم ﷺ دپاك ژوند یوه بله مهمه واقعه بیان سوي ده ، په کومه کی چی حضرت ابراهیم ﷺ دخپل یو زوی قربانی پیش کړه ، دواقعی بنیادی اجزاء دلنډ تفسیر څخه واضح کیږی ، ځینی تاریخی تفصیلات به دایتونو ترتفسیر لاندی راسی.

وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَى رَبِّي (اوابراهیم ﷺ وویل چی زه خو دخپل رب طرف ته ځم) داخبره حضرت ابراهیم ﷺ هغه وخت ارشاد فرمایلی ده کله چی دی دخپل وطن دخلګو څخه بالکل مایوسه سو اوهلته دده دخور یی حضرت لوط (څخه ماسوا بل چا په ده ایمان رانه وړی ، دربّ طرف ته دتللو ، څخه مراد دا دی چی زه دار الکفر پریږدم ، یو داسی ځای ته به ځم کوم ځای ته چی ماته دخپل رب دطرف څخه حکم سوی دی ، او کوم ځای چی زه دخپل رب عبادت کولی سم ، چنانچی دوی خپله پاکه بی بی حضرت ساره ﷺ اوخپل خور یی حضرت لوط ﷺ دځان سره کړل ، په سفر روان سول او دعراق په مختلفو حصو باندی تیر سول او اخر شام ته یی تشریف یووړی ، په دی تول وخت کی دحضرت ابراهیم ﷺ هیڅ اولادنه وو سوی ، په دی وجه دوی هغه دعا وکړه دکوم چی په راتلونکی آیت کی ذکردی ، یعنی ، رَبِّ هَبْ لِي مِنَ الصَّالِحِينَ : ای پروردګاره ! ماته نیك اولاد را کړی ، چنانچی دده دا دعا قبوله سوه اوالله ﷻ دوی ته دیوه اولاد دپیدا کیدو خوشخبری ورکړه.

فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ : نو مونږ دوی ته دیوحلیم المزاج زوی خوشخبری ورکړه ، حلیم المزاج یی وفرمایل اواشاره یی وکړه چی دانوی پیدا کیدونکی بچی به په خپل ژوندکی ډیرداسی صبر، ضبط اوبردباری مظاهره وکړی ، چی دنیابه دده مثال پیش نه کړل سی ، ددی بچی دپیدا کیدو واقعه داسی وسوه چی کله حضرت ساره ﷺ دا ولیدل چی زما څخه هیڅ اولاد ونه سو نوهغې داسی وګڼله چی زه وچه سوی یم ، بل خوا دمصر فرعون حضرت ساره ﷺ ته خپله لورچی نوم یی هاجره ﷺ وه ، دخدمت دپاره ورکړی وه ، حضرت ساره ﷺ هم داهاجره ﷺ حضرت ابراهیم ﷺ ته ورکړه اوحضرت ابراهیم ﷺ نکاح ورسره وکړه ، دحضرت هاجره ﷺ څخه دا صاحبزاده پیدا سو او نوم یی ورله اسماعیل ﷺ کښښوی.

فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ : نو کله چی دغه هلك داسی عمر ته ورسیدی چی دابراهیم ﷺ سره ګرځیدی راګرځیدی نو ابراهیم ﷺ وفرمایل ، زویه ! ما په خوب کی ولیدل چی زه تاذبح کوم ، دځینو روایتونو څخه معلومیږی چی داخوب حضرت ابراهیم ﷺ دری ورځی پرلپسی ولیدی (قرطبی) او دا خبره ثابته سوي ده ده چی دانبیاء علیهم السلام خوب وحی وی ، په دی وجه ددی خوب مطلب دا وو چی دالله ﷻ دطرف څخه حضرت ابراهیم ﷺ ته حکم سوی دی چی خپل دغه یو زوی ذبح کړه ، دا حکم سیده په سیده دیوي ملائکی وغیره په ذریعه هم نازلیدی سوای لیکن په خوب کی

Maktaba Tul Ishaat.com

دښوولو حکمت په ظاهره دا وو چې د حضرت ابراهیم ﷺ اطاعت شعاری په خپل کمال سره ظاهره سی، دخوب په ذریعه په ورکول سوی حکم کی دانسان دنفس دپاره دتاویلاتو دیر امکان وی، لیکن حضرت ابراهیم ﷺ دتاویلاتو دلاری د اختیارولو پرځای دالله ﷻ دحکم په مخ کی سر دتسلیم کښته کی (کښیږ) ددی څخه علاوه دلته دالله ﷻ اصل مقصد نه دحضرت اسمٰعیل ﷺ ذبح کول وو، بلکه منشاء داحکم ورکول وو چې دخپل طرف څخه دده د ذبحه کولو ټوله تیاری وکړه، دده ذبح کولو اقدام وکړه، اوس که دا حکم یې زبانی ورکولی نو په دی کی به دومره ازمینښت نه وو، په دی وجه په خوب کی یې ورته وښوولو چې هغه زوی ذبح کوی، په دی سره حضرت ابراهیم ﷺ دا وګڼله چې ذبح حکم سوی دی او هغه یې پوره دول سره ذبح کولوته تیارسو، په دی وجه ازمائش هم پوره سو اوخوب هم رښتیا سو، دا خبره ده دزبانی حکم په ذریعه راغلی وای، نویا خوبه ازمینښت نه وو یابه حکم وروسته منسوخ کول غوښتل دا امتحان څومره سخت وو؟ دی طرف ته داشاری کولو دپاره دلته الله ﷻ د، فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ: الفاظ زیات کړل، یعنی په ارمانونوسره دغوښتل سوی دی زوی دقربانی کولو حکم هغه وخت ورکول سوکله چې دا زوی دخپل پلارسره دګرځیدو قابل سو او دپرورش دمشقتونو دبرداشت کولو څخه وروسته اوس وخت راغلی وو چې هغه دمتانو قوت جوړ سی اودپلار کومکی ثابت سی، مفسرینولیکلی دی چې دغه وخت دحضرت اسمٰعیل ﷺ عمر دیارلس کاله وو اوځینی مفسرین فرمایی چې بالغ سوی وو (مظهری) فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰى (نو ته هم سوچ وکړه چې ستاځه رایه ده؟ حضرت ابراهیم ﷺ دحضرت اسماعیل ﷺ څخه ددی خبری پوښتنه په دی وجه ونه کړه چې دالله ﷻ دحکم په تعمیل کی دده څه تردد وو، بلکه یو هغه دخپل زوی څخه امتحان اخیستی چې هغه په دی ازمینښت کی ترکومه حده پوری پوره خیژی، دوهم دانبیاء ﷺ طرز همیشه دا وی چې هغوی داحکام الهی داطاعت دپاره همیشه تیار وی، لیکن داطاعت دپاره همیشه لارهغه اختیاروی کومه چې په حکمت اوحتی المقدور په سهولت باندی مبنی وی، که حضرت ابراهیم ﷺ داول څخه دځه ویلو څخه بغیر دزوی په ذبح کولو شروع سوی وای، نو دا به د دواړو دپاره دمشکل سبب وای، اوس دا خبره دوی دمشوری په اندازکی زوی ته ذکرکړه چې زوی ته د اول څخه دالله ﷻ داحکم معلوم سی نو هغه به دذبح کولو دتکلیف تیرولو دپاره داول څخه تیارسی دارنګه که دزوی په زړه کی څه تردد وی نوپوه به سی (روح، بیان القرآن) لیکن هغه زوی هم دالله ﷻ دخلیل زوی وو او دده په خپله درسالت په منصب باندی فائز کیدل وو هغه په جواب کی وویل یَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ (پلاره! دکومی خبری چې تاته حکم درکول سوی دی، هغه وکړه) په دی سره دحضرت اسماعیل ﷺ دبی مثاله جذبی دجان نثاری شهادت ورکول کیږی، ددی څخه علاوه دا هم معلومیږی چې په دی کوم سنی کی الله ﷻ ده ته څومره ذهانت اوځومره علم ورکړی وو، حضرت ابراهیم ﷺ دده په مخکی دالله ﷻ دځه حکم حواله نه وه ورکړی، بلکه محض دیو خوب ذکر یې فرمایلی ود، لیکن حضرت اسماعیل ﷺ پوه سو چې دانبیاء ﷺ خوب وحی وی اودا خوب هم په حقیقت کی دالله ﷻ دحکم یوشکل دی، چنانچې ده په جواب کی د خوب په ځای دحکم الهی ذکر وفرمایل.

دوحي غيرِ متلو ثبوت: په دی سره دهغو منکرانو دحدیث تردید کیږی کوم چې دوحی غیر متلو وجود نه

منی اووایی چی وحی صرف هغه ده کومه چی په اسمانی کتاب کی نازله سی ، ددی څخه علاوه دوحی څه بل قسم موجودنه دی ، تاسی ولیدل چی حضرت ابراهیم ﷺ ته دزوی دقربانی حکم دخوب په ذریعه ورکول سو اوحضرت اسمٰعیل ﷺ په واضحه الفاظوکی هغه دالله ﷻ حکم وګرځوی که وحی غیر متلو څه شی نه دی نو دا حکم په کوم اسمانی کتاب کی نازل سوی وو .

حضرت اسمٰعیل ﷺ دخپل طرف څخه خپل پلار صاحب ته دا یقین هم ورکی چی ، سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللهُ مِنَ الصَّابِرِينَ (انشآء الله (چی ته به ما دصبر کوونکو څخه پیداکی) په دی جمله کی دحضرت اسمٰعیل ﷺ انتهایی ادب اوانتهایی تواضع ته وګوری ، یو خو انشاء الله یی وویل اومعامله یی خدای ته حواله کړه اوپه دی وعده کی چی دّدعوی کوم ظاهری صورت پیداسو، هغه یی ختم کی ، دوهم دوی دا هم فرمایلی سوای ، چی ته به انشاء الله ما صبر کوونکی پیداکی ، لیکن ددی پرځای ده وفرمایل چی، ته به مادصبر کوونکو څخه پیداکی ، په دی سره یی دی خبری ته اشاره وفرمایله، چی داصبر اوضبط یوازی زما کمال نه دی ، بلکه په دنیاکی نورهم ډیر صبر کوونکی تیرسوی دی اِنْ شآء الله زه به هم په دغوکی شامل سم ، دغه ډول دوی په دی جمله کی دفخر، تکبر، خودپسندی اوپندار هره یوه ادنٰی غوندی شائبه ختمه کړه ، په دی کی یی دانتهایی درجی دتواضع او انکسار اظهار یی وفرمایی (روح المعانی)

ددی څخه دا سبق ورکول کیږی چی دانسان که په یو معامله کی په خپل ځان برابره خبره ده که هرځومره اعتمادوی لیکن ده ته داسی په بلند اواز دعوی نه دی کول په کار دکوموځخه چی غرور اوتکبر څاڅکی که چیری دداسی څه خبری کولو ضرورت وی نوپه الفاظو کی ددی رعایت په کاردی چی په دی کی دخپل ځان پرځای پر الله ﷻ دتکیی اظهار وی اوتر کومه حده پوری چی ممکنه وی تواضع پرې نه ږدی ،

فَلَمَّا أَسْلَمَا (نوهرکله چی دواړه تیار سول) دَأَسْلَمَ معنٰی ده کښته کیدل ، مطیع کیدل، تابعدار رکیدل ، مطلب دادی چی کله هغوی دالله ﷻ حکم ته کښته سول یعنی پلار دزوی دذبح کولو او زوی دذبح کیدو اراده وکړه ، دلته دلَمَّا (کله) لفظ استعمال سوی دی ، لیکن ددی جواب مذکور نه دی ، یعنی مخ ته دا نه دی ښوول سوی چی کله دا واقعات پیښ سول نوځه وسول؟ ددی څخه ددی خبری طرف ته اشاره ده چی دپلار او زوی دا اقدام دقربانی دومره عجیبه اونا اشناوو چی الفاظ ددی پوره کیفیت نه سی بیانولی .

دغینو تاریخی اوتفسیری روایتونو څخه معلومیږی چی شیطان دری سره دحضرت ابراهیم ﷺ دلمسولوکوشش وکی ، هر وار حضرت ابراهیم ﷺ هغه په اوو ډبرو وویشتی اوویی زغلوی ، ترننه پوری دمنٰی پردرو جمراتو ددی محبوب عمل یادګاری ډبری ویشتل کیږی اونمانځل کیږی ، اخرکله چی دواړه پلار زوی ددی بی مثله عبادت پوره کولو دپاره قربان ګاه ته ورسیدل ، نو حضرت اسماعیل ﷺ خپل پلار ته وویل چی پلاره مابه ښه وتړی چی زه زیات ونه ښوریږم اوخپل کالی به هم زما څخه محفوظ کړی هسی نه چی زما دوینو داری پروسی اوزماپه ثواب کی کمی راسی ، ددی څخه علاوه که زما مور وینی وویني نوغم به یی زیات سی اوخپله چاره به هم تیره کړی ، او زما پرغاړه به یی ژر ژر را تیروی چی زما ساه په اسانی سره ووزی ، ځکه چی مرګ ډیر ګران دی اوکله چی ته زما مور ته بیرته ورسی نوزما سلام ورته وایه اوکه ته زما قمیص زما مورلره وروړل غواړی نویویې سه ورلره، شاید چی په دی سره

Maktaba Tul Ishaat.com

دهغې تسلی وی ، دي کی تنها یو زوی دخلی څخه چی دا الفاظ واوری نودپلار په زړه به څه تیریږی ؟ لیکن حضرت ابراهیم ﷺ داستقامت غر جوړ سوی دا جواب ورکوی چی زویه ! ته دالله ﷻ دحکم په پوره کولوکی زما څومره ښه مددګار یې! دا یی وویل او زوی یی مچ کی او داوښکو په ډکو سترګو سره یی هغه وتړی (مظهری)

وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ (هغه یی پرمخی په مخکه پرې ایستی) دحضرت ابن عباس ﷺ څخه ددی مطلب دا منقول دی چی دی یی په مخکه داسی پرې ایستی چی دتندی یوارخ یی پرمخکه ولګیدی (مظهری) دلغت په اعتبار سره داتفسیر راجح دی ، څکه چی جبین په عربی ژبه کی دتندی دواړو ارخونوته ویل کیږی اودتندی دمینځ حصی ته جَبْهَةٌ ویل کیږی ، په دی وجه حکیم الامت تهانوی رحمه‌الله ددی ترجمه په پرارخ پرې ایستلو سره کړې ده ، لیکن نور څینی مفسرین حضرات ددی مطلب دانبیی چی پرمخی یی په مخکه پرې ایستی ، په هر صورت په تاریخی روایتونوکی ددی داسی پرې ایستلو وجه دابیان سوې ده چی په اول کی حضرت ابراهیم ﷺ دی ستونی ستخ پرې ایستی لیکن کله چی یی چاړه پر وچلوله نو دبار بار چاړی چلولو باوجود مری نه پرې کیده څکه چی الله ﷻ په خپل قدرت سره دپیتلو یوه توته په مینځ کی حائله کړی وه ، په دی موقع زوی په خپله دافرمائش وکی چی پلاره! ما پرمخی پربیاسه څکه چی کله ته زمامخ وینی نودپلار والی شفقت به په جوش کی راځی اومری به پوره نه پریکیږی ، ددی څخه علاوه زه به چاړه وینم نو پرما به هم ښیره راځی، چنانچی حضرت ابراهیم ﷺ دی دغسی پرې ایستی اوچاړه چلول یی شروع کړل (مظهری وغیره) والله تعالی اعلم

وَنَادَيْنَاهُ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا (اومونږ ده ته اوازوکی چی یا ابراهیمه! تاخوب رښتنی کی) یعنی دالله ﷻ دحکم په تعمیل کی چی کوم کار تاته کول وو په هغه کی تادخپل طرف څخه هیڅ کسر پرې نه ښووی (په خوب کی هم غالبًا داسی ښوول سوی وه چی حضرت ابراهیم ﷺ ددې ذبح کولو دپاره چاړه چلوی) اوس دا ازمیښت پوره سو ، په دی وجه دی پریږده .

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ : مونږ مخلصانو ته داسی بدله ورکوو) یعنی هرکله چی یو دالله بنده دالله ﷻ دحکم په مخکی سر دتسلیم کښته کړی اوخپلو تولوجذباتو قربانولوته تیارسی ، نو مونږ اخرهغه ددنیوی تکلیف څخه هم محفوظ کوو او داخرت اجر اوثواب هم دده په عملنامه کی لیکل کیږی .

وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ (اومونږ یوه لویه ذبح ددی په عوض کی ورکړه) په روایتونوکی دی چی حضرت ابراهیم ﷺ دا اسمانی اواز واوریدی اولوړ یی وکتل نوحضرت جبرائیل ﷺ یو پسه نیولی ولاړ وو، دځینو روایتونو څخه معلومیږی چی دا هغه پسه وو دکوم قربانی چی دحضرت ادم ﷺ زوی هابیل پیش کړی وه ، والله تعالی اعلم

په هرحال داجنتی پسه حضرت ابراهیم ﷺ ته ورکول سو او دوی دالله ﷻ په حکم سره دخپل زوی په ځای دا قربانی کی ، دی ذبیحی ته عظیمه ، څکه وویل سوه چی دا دالله ﷻ دطرف څخه راغلی وه او ددی قربانی په مقبوله کیدوکی هیڅ شك نه سی کیدی (مظهری وغیره)

Maktaba Tul Ishaat.com

(ذبیح حضرت اسماعیل ﷺ وو اوکه حضرت اسحق ﷺ)

دپورته ایتونو تفسیر ددی تسلیم کولو سره سوی دی چی حضرت ابراهیم ﷺ ته دکوم زوی دقربانولو حکم سوی وو هغه حضرت اسماعیل ﷺ وو لیکن په حقیقت کی په دی معامله کی دمفسرینو او مؤرخینو په مینځ کی سخت اختلاف پیدا کیدی سی ، حضرت عمر ﷺ حضرت علی ﷺ، حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ حضرت ابن عباس ﷺ، حضرت کعب الاحبار، سعیدبن جبیر، قتاده، مسروق، عکرمه، عطاء، مقاتل، زهری اوسدی څخه منقول دی چی هغه زوی حضرت اسحاق ﷺ وو ، ددی څخه برخلاف حضرت علی ﷺ حضرت ابن عباس ﷺ حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ، حضرت ابوهریره ﷺ، حضرت ابو الطفیل ﷺ، حضرت سعیدبن المسیب ﷺ سعیدبن الجبیر ﷺ حسن بصری ﷺ مجاهد ﷺ حضرت عمر بن عبدالعزیز شعبی محمدبن کعب قرظی او دنورو ډیرو تابعینو څخه منقول دی چی هغه زوی حضرت اسماعیل ﷺ وو .

په وروستنیو مفسرینوکی حافظ ابن جریر طبری اولنی قول ته ترجیح ورکړي ده اوحافظ ابن کثیر وغیره دوهم قول اختیار کړی دی او داولنی قول یی په سختی سره تردید کړی دی ، دلته دفریقینو په دلیلونه باندی مکمله تبصره ممکنه نه ده ، بیا هم دقرآن داسلوب بیان او روایتونو دقوت په لحاظ سره راجح دا معلومیږی چی حضرت ابراهیم ﷺ ته چی دکوم زوی قربانی کولو حکم ورکول سوی وو هغه حضرت اسماعیل ﷺ وو ددی دلیلونه دا لاندی دی .

(۱) قرآن کریم دزوی دقربانی دپوره واقعی ذکر کولو څخه وروسته فرمایلی دی چی ، وَبَشَّرْنَاهُ بِإِسْحَاقَ نَبِيًّا مِنَ الصَّالِحِينَ (او مونږ ده ته داسحٰق ﷺ خوشخبری ورکړه چی نبی او دنیکو خلګو څخه به وی) ددی څخه صفا دا معلومیږی چی دکوم زوی دقربانی حکم چی ورکول سوی وو هغه دحضرت اسحٰق ﷺ څخه علاوه بل وو او دحضرت اسحٰق ﷺ خوشخبری دهغه دقربانی څخه وروسته ورکول سوه .

(۲) دحضرت اسحاق ﷺ په دی خوشخبری کی دا هم مذکور دی چی حضرت اسحاق ﷺ به نبی وی ، ددی څخه علاوه په یوبل آیت کی ذکردی چی دحضرت اسحٰق ﷺ دپیدائش سره دا خوشخبری هم ورکول سوی وه چی دده څخه به حضرت یعقوب ﷺ پیدا کیږی ، فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَاقَ وَمِنْ وَرَاءِ إِسْحَاقَ يَعْقُوبَ : ددی صفا مطلب دا دی چی هغه به تر ډیر عمره پوری ژوندی وی ، تردی چی صاحب اولادبه وی ، بیاپه کوچنیوالی کی دده دذبح حکم څنګه ورکول سو اوکه هم دده په کوچنیوالی کی دنبوت څخه مخکی دذبح کولو حکم ورکول سوی وای نو حضرت ابراهیم ﷺ به پوه سوی وای چی ده ته خو لا دنبوت پرمنصب باندی فائزکیدل دی او دده څخه دحضرت یعقوب ﷺ پیدا کیدل مقدر دی ، په دی وجه په ذبح کولو ده ته مرګ نه سی راتلی ، ظاهره ده چی په دی صورت کی به نه څه لوی امتحان وای اونه به حضرت ابراهیم ﷺ ددی کار په کولوکی دڅه تعریف مستحق وای ، امتحان خو په دی صورت کی ممکن دی چی حضرت ابراهیم ﷺ په پوره شان سره داګنی چی زما دازوی به په ذبح کیدو ختم سی او ددی څخه وروسته هغه دذبح کولو اقدام وکی ، دحضرت اسماعیل ﷺ په معامله کی دا خبره په پوره شان صادقه راځی ، په دی وجه چی الله ﷻ دده دژوندی پاته کیدو اونبی جوړیدو هیڅ پیش ګویی نه وه فرمایلی .

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳) دقرآن دبیان څخه معلومیږی چی دکوم زوی دذبح کولو حکم سوی وو، هغه دحضرت ابراهیم ﷺ اولنی بچی وو څکه چی دوی دخپل وطن څخه دهجرت کولو په وخت کی دیو زوی دعا کړی وه، ددی دعا په جواب کی ده ته دازیری ورکول سو چی دده به یوحلیم زوی پیدا سی اوبیا ددی هلك په باره کی دا ویل سوی دی چی کله هغه دپلار سره دګرځیدو قابل سو، نو دده دذبح کولوحکم یی ورکی، دواقعاتو داتوله سلسله دانبیی چی هغه هلك دحضرت ابراهیم ﷺ اولنی زوی وو، بل خواته داخبره متفق علیه ده چی دحضرت ابراهیم ﷺ اولنی زوی حضرت اسماعیل ﷺ دی اوحضرت اسحٰق ﷺ یی دوهم زوی دی، ددی څخه وروسته په دی کی هیڅ شبهه نه پاته کیږی چی ذبیح حضرت اسماعیل ﷺ وو.

(۴) داخبره هم تقریباً ثابته سوې ده چی دزوی دقربانی داواقعه دمکی مکرمی په خوا اوشا کی پیښه سوې ده، په دی وجه په عربوکی برابر دحج په دوران کی دقربانی طریقه رائج راغلی ده، ددی څخه علاوه دحضرت ابراهیم ﷺ دزوی په فدیه کی چی کوم پسه دجنت څخه راولیږل سو، دهغه ښکرونه تردیرو کلونو پوری په کعبه شریفه کی دنته زړیده، حافظ ابن کثیر رحمه الله ددی په تائید کی څو روایتونه نقل کړی دی اودحضرت عامر شعبی داقول یی هم ذکر کړی دی چی، ما ددی پسه ښکرونه په کعبه کی په خپله لیدلی دی، ابن کثیر ص ۱۸ ج۴)

اوحضرت سفیان فرمایی چی، ددی پسه ښکرونه مسلسل په کعبه کی زړیده تردی چی کله (حجاج بن یوسف په زمانه کی) په کعبه کی اور ولګیدی نودا ښکرونه هم وسوزیدل (ایضاً ص ۱۷ ج۲)

اوس ظاهره ده چی په مکه مکرمه کی حضرت اسماعیل ﷺ تشریف فرماوونه چی حضرت اسحٰق ﷺ په دی وجه صفا ظاهره ده چی دذبح حکم دحضرت اسمٰعیل ﷺ متعلق وو، نه چی دحضرت اسحٰق ﷺ سره پاته سول هغه روایتونه په کوموکی چی دمختلفو صحابه کرامو اوتابعینو په باره کی ذکر دی چی هغوی ذبیح حضرت اسحٰق ﷺ مقرر کړی دی نو دهغوی په باره کی حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکلی دی چی

(الله ﷻ ښه پوهیږی لیکن په ظاهره داتول اقوال دکعب الاحبار څخه ماخوذ دی، څکه چی کله هغه دحضرت عمر ﷺ په زمانه کی اسلام راوړی نوحضرت عمر ﷺ دده خبری اوریدی، په دی سره نورو خلګو ته هم ګنجائش ورکول سو اودوی هم دغه روایتونه اوریدل اونقل کول شروع کړل، په دی روایتونوکی هرقسم ښه اوبدی خبری جمع وی او دی امت ته په دغو خبروکی دیو حرف هم ضرورت نسته) والله اعلم (تفسیر ابن کثیر ص ۱۷ ج ۴)

دحافظ ابن کثیر رحمه الله داخبره ډیره قرینِ قیاس معلومیږی، په دی وجه چی دحضرت اسحٰق ﷺ دذبیح مقرر کولو بنیاد پراسرائیلی روایتونو باندی دی په دی وجه یهود اونصارٰی دحضرت اسمٰعیل ﷺ په ځای حضرت اسحٰق ﷺ ذبیح مقرر کوی، په موجوده بائبل کی داواقعه په دی الفاظوکی بیان سوې ده ددی خبرو څخه وروسته داسی وسوه چی خدای ابرهام وازمایی اوده ته یی وویل ای ابرهامه! ده ووېل زه حاضریم، نو هغه وویل چی ته خپل زوی، اسحاق، کوم چی ستا ایکی یو زوی دی اودکوم سره چی ته مینه کوی دځان سره موریاه ملك ته بوزه اوهلته هغه په غرونوکی پریو غرکوم چی به زه تانه وښیم دَسوختنی قربانی په طور باندی وخیژه (پیدائش ۱۲: او ۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

په دی کی ذبیح واقعه دحضرت اسحٰق ﷺ طرف ته منسوب سوي ده ، لیکن که دانصاف اوتحقیق څخه کار واخیستل سی ، نوصفا معلومیږی چی دلته یهودیانو دخپل روایتی تعصب څخه کار اخیستی دی اودتورات عبارت یی بدل کړی دی ، ځکه چی دکتاب پیدائش په ذکرسوی عبارت کی کوم چی ستا یکی یوزوی دی ، الفاظ دانښیی چی حضرت ابراهیم ﷺ ته چی دکوم زوی دقربانی حکم ورکول سو هغه د دوی یکی یو زوی وو ، په دی باب کی مخ ته بیا لیکی چی .

تاخپل زوی هم کوم چی ستا یکی یوازی دی زما څخه منع نه کی (پیدائش ۱۲: ۱۲)

په دی جمله کی هم دا وضاحت موجود دی چی دغه زوی دحضرت ابراهیم ﷺ یکی یو (تنها) وو ، بل خوا داخبره ثابته سوي ده چی حضرت اسحٰق ﷺ دده یکی یوزوی نه وو ، دیکی یو بچی اطلاق چی پرچا کیدی سی نوهغه صرف حضرت اسمٰعیل ﷺ دی په خپله دکتاپ پیدائش نور ډیر عبارتونه ددی شهادی ورکوی چی دحضرت اسمٰعیل ﷺ پیدائش دحضرت اسحٰق ﷺ څخه ډیرمخکی سوی وو ، ملاحظه کړی.

او دابرهام دبی بی ساری یو اولاد ونه سو ، ددی یوه مصری مینځه وه چی نوم یی هاجره وه اوهغه هاجری ته ورغی اوهغه حامله سوه او دخداوند ملائکی دی ته وویل چی ته حامله یی اوستابه زوی وسی دهغه نوم اسماعیل کښیږده اوکله چی دابرهام څخه دهاجری اسمٰعیل پیدا سو نوابرهام دشپږ اتیا ۸۶ کالو وو (پیدائش باب ۱۶ آیت او ۴ و ۱۰ او ۱۶)

دارنګه په مخ ته باب کی لیکی .

اوخدای ابرهام ته وویل چی ساره چی ستابی بی ده ددی څخه به هم تاته یوزوی درکړم ، نو ابرهام سر کښته کی ، وي خندل اوپه زړه کی یی وویل چی دسلو کالو دبوډا به څه بچی وسی اوایا دساره چی دلس کم سلو ۹۰ کالوده اولاد به وسی؟ اوابرهام خدای ته وویل چی کاشکی! اسماعیل ﷺ ستاپه حضورکی ژوندی پاته سی ، نو خدای وفرمایل چی بیشکه دبی بی ساره څخه به ستازوی وسی ته دهغه نوم اضحاق کښیږده (پیدائش ۱۷: ۱۵ تا ۲۹)

ددی څخه وروسته دحضرت اسحٰق دپیدائش تذکره داسی سوي ده .

اوهرکله چی دده زوی اضحاق ددی څخه پیدا سونو ابرهام دسلو کالو وو (پیدائش ۲۱ ، ۵)

ددی عبارتونو څخه صفا معلومه سوه چی حضرت اسحٰق ﷺ دحضرت اسمٰعیل ﷺ څخه څوارلس کاله کشر وو ، او ددی څوارلس کالوپه زمانه کی هغه دحضرت ابراهیم ﷺ یکی یو (تنها) زوی وو ، دَدی څخه برعکس په حضرت اسحٰق ﷺ داسی وخت نه دی تیرسوی چی په هغه کی هغه دخپل پلار یکی یو زوی وو ، اوس ددی څخه وروسته کله چی دکتاب پیدائش په دوه ویشتم باب کی دزوی دقربانی ذکر راځی نوپه هغه کی دَ، یکی یو ، لفظ خاصه شاهدی ورکوی چی ددی څخه مراد حضرت اسمٰعیل ﷺ دی اویو یهودی ددی سره دَ، اضحاق، لفظ محضی دَدی دپاره زیات کړی دی چی دا فضیلت دبنو اسمٰعیل پر ځای بنو اسحٰق ته حاصل وی .

ددی څخه علاوه دبائبل په دی کتاب پیدائش کی کوم ځای چی حضرت ابراهیم ﷺ ته دحضرت اسحٰق ﷺ دپیدائش خوشخبری ورکول سوي ده ، هلته دا هم مذکور دی چی .

Maktaba Tul Ishaat.com

یقیناً زه به ده ته (یعنی حضرت اسحٰق ﷺ ته) برکت ورکړم چې قومونه به دده دنسل څخه وی (پیدائش ۱۷: ۱۶)

اوس ظاهره ده چې دکوم زوی په باره کې دده دپیدائش څخه مخکې داخبر ورکول سوی وی چې هغه به صاحب اولاد وی او، قومونه به دده دنسل څخه وی، ده ته یې دقربانی کولو حکم څنګه ورکول کیږی؟ ددی څخه هم معلومیږی چې داحکم دحضرت اسحٰق ﷺ سره متعلق نه وو، بلکه دحضرت اسماعیل سره متعلق وو.

دبائبل ددی عبارتونو دلیدو څخه وروسته اندازه لګیږی چې دحافظ ابن کثیر رحمه الله دا خیال څومره صحیح دی چې.

دیهودو په مقدسو کتابونوکې وضاحت دی چې کله اسمٰعیل ﷺ پیدا سو نو دحضرت ابراهیم ﷺ عمر شپږ اتیا کاله وو اوکله چې اسحٰق ﷺ پیدا سو نو دده عمر سل کاله وو اوپه دغو کتابونوکې دا هم لیکلی دی چې الله ﷻ حضرت ابراهیم ﷺ ته دده دیکی یوه زوی دذبح کولو حکم ورکړی وو اوپه یوه بله نسخه کې دَ، اکلوتی، پرځای، پهلوتی، لفظ دی، نو یهودیانو دلته دَ، اسحٰق، لفظ دخپل طرف څخه بهتانًا زیات کی او ددی دصحیح ګرځولو هیڅ جواز نسته، ځکه چې دا په خپله د دوی دکتابونو دوضاحتونو څخه خلاف ده، او دا لفظ دوی په دی وجه زیات کی چې حضرت اسحٰق ﷺ د دوی جدّ امجد دی او حضرت اسمٰعیل ﷺ دعربو، نو یهودیانو دحسد په وجه سره دالفظ زیات کی او اوس دَ، اکلوتی، معنٰی دا ښیی چې، هغه زوی دکوم څخه ماسوا چې داوخت بل ستاسره موجودنه دی ځکه چې حضرت اسمٰعیل ﷺ او دده مور دغه وخت هلته نه وه (په دی وجه حضرت اسحٰق ﷺ ته په دی معنٰی کی اکلوتا ویل کیږی) لیکن دابالکل غلط تاویل دی اوباطل تحریف دی په دی وجه چې اکلوتا هغه زوی ته وایی دکوم دپلار چې دده څخه ماسوا بل زوی نه وی (تفسیر ابن کثیر ص ۱۴ ج۴)

حافظ ابن کثیر رحمه الله دا هم نقل کړی دی چې دیهودو په عالمانو کی یو سړی دحضرت عمر بن عبد العزیز رحمه الله دده څخه پوښتنه وکړه چې دحضرت ابراهیم ﷺ په زامنوکی کوم زوی ته دذبح کولو حکم سوی وو؟ نوده وویل چې په خدای قسم! امیرالمومنین! هغه حضرت اسماعیل ﷺ وو، یهودیان په دی خبره باندی ښه پوه دی، لیکن هغوی ستاسی دعربو خلکو سره دحسد په وجه داسی وایی (ص ۱۸ ج۴)

ددی دلیلونوپه رڼاکی داخبره تقریبًایقینی ده چې ذبیح حضرت اسماعیل ع وو، والله سبحانه تعالی اعلم

وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَظَالِمٌ لِنَفْسِهِ مُبِينٌ (ددی دواړو په نسل کی ځینی ښه هم دی اوځینی داسی هم دی کوم چې ښکاره خپل نقصان کوی) ددی آیت په ذریعه دیهودو ددی باطل خیال تردید وسو چې ددی انبیاء په اولادکی کیدل دانسان دافضلیت اونجات دپاره کافی دی، دی آیت په وضاحت سره وښوولە چې دیو نیك انسان سره نسبی تعلق دنجات دپاره کافی نه دی، بلکی ددی اصل مدار دانسان پرخپلو عقیدو اوعملونو باندی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۱۱۴﴾ وَنَجَّيْنٰهُمَا وَقَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۱۵﴾ وَنَصَرْنٰهُمْ فَكَانُوْا

اومونږ احسان وکی په موسیٰ اوهارون باندی اومحفوظ کړل مونږ دوی اوددوی قوم دلوی بیری څخه اومونږ د دوی

هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۱۱۶﴾ وَاٰتَيْنٰهُمَا الْكِتٰبَ الْمُسْتَبِيْنَ ﴿۱۱۷﴾ وَهَدَيْنٰهُمَا

مدد وکی نو سوه دوی غالب ، اومونږ ورکی دوی ته کتاب واضح ، اووښوده مونږ دوی ته

الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿۱۱۸﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ سَلٰمٌ عَلٰى

سیده لاره ، اوباقی پریښوول مونږ په دوی په وروسته خلقو کی ، چی سلام دی

مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۱۲۰﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۲۱﴾ اِنَّهُمَا مِنْ

په موسی اوهارون باندی ، مونږ داسی ورکوو بدله نیکی کوونکو ته ، په تحقیق دغه دواړه

عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۲۲﴾

دی زمونږ دایماندارو بندګانو څخه .

لنډتفسیر: او مونږ په موسیٰ او هارون ﷺ باندی احسان وکی (چی دوی ته مونبوّت او نور کمالات ورکړل) او مونږ دوی دواړو ته او د دوی قوم ته (یعنی بنی اسرائیلو لره) دلوی غم څخه (یعنی دفرعون دطرف څخه درسیدونکو تکلیفونو څخه) نجات ورکی او مونږ ددی ټولو (دفرعون په مقابله کی) مدد وکی نو (په اخرکی) دا خلګ غالب سول (چی فرعون غرق سو اودی خلګوته حکومت ورکول سو) اومونږ (دفرعون دغرقیدو څخه وروسته) هغوی دواړو (صاحبانو) ته (یعنی موسیٰ ﷺ ته اصالةً اوهارون ﷺ ته تبعًا) واضح کتاب ورکی (مراد تورات دی چی په دی کی احکام په واضح طور سره مذکوروه) اومونږ دوی په سیده لاره باندی قائم وساتل (چی اعلی درجه یی دا ده چی دوی مو معصوم نبیان جوړ کړل) او مونږ ددی دواړو دپاره په وروسته راتلونکو خلګوکی (دا وړدی مودی دپاره) دا خبره پریښی ده چی په موسیٰ اوهارون ﷺ دی سلام (چنانچی د دواړو حضراتو دنومونو سره ترننه پوری (ویل کیږی) مونږ مخلصانو ته داسی بدله ورکوو چی دوی دثنا اودعا مستحق جوړوو) بیشکه دغه دواړه زمونږ د (کاملو) ایماندارو بندګانو څخه وه (په دی وجه بدله هم کامله ورکول سوه)

معلومات اومسئلې: په دی ایتونوکی دریمه واقعه دحضرت موسیٰ اوهارون ﷺ بیان سوي ده ، دا واقعه په ډیرو ځایونوکی په تفصیل سره تیره سوي ده ، دلته ورته صرف اشاره سوي ده او ددی ذکر کولو څخه اصلی مقصود دا ښوول دی چی الله ﷻ دخپلو مخلصو اواطاعت شعارو بندګانو څه رنګه مدد فرمایی او دوی په څنګه څنګه انعاماتو سره نمانځی ، چنانچی دلته په حضرت موسیٰ اوهارون ﷺ بندی دخپلو انعاماتو ذکر فرمایی ، دانعاماتو هم دوه قسمونه وی یومثبت انعامات یعنی فائدی رسول

Maktaba Tul Ishaat.com

په ، وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلٰى مُوسٰى وَهٰرُوْنَ کی ددی قسم انعاماتو طرف ته اشاره ده، دوهم منفی انعامات یعنی دنقصان څخه خوندی کول ، په ورپسی ایتونوکی ددی قسم تفصیل دی ، دایتونو مطلب دلنډتفسیر څخه واضح کیږی.

وَاِنَّ اِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۲۳﴾ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۱۲۴﴾

او بیشکه الیاس درسولانو څخه دی ، هرکله چی ده وویل خپل قوم ته آیاتاسی نه بیریږی؟

اَتَدْعُوْنَ بَعْلًا وَّتَذَرُوْنَ اَحْسَنَ الْخَالِقِيْنَ ﴿۱۲۵﴾ اَللّٰهَ

آیا تاسی بولی بعل اوپریږدی بنه پیدا کوونکی ؟ کوم چی الله

رَبَّكُمْ وَرَبَّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۲۶﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾

دی رب ستاسی اورب ستاسی دمخکنیو پلارانونیکه ګانو ،نودی یی درواغجن کی نوهغوی دی راتلونکی نیول سوی

اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۱۲۸﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِى الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۲۹﴾

مګر کوم چی بندګان دی دالله مخلصان ، اوباقی پریږدی ایښی دی مونږ په ده په وروستو خلقو کی ،

سَلٰمٌ عَلٰٓى اِلْ يَاسِيْنَ ﴿۱۳۰﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۳۱﴾ اِنَّهٗ

چی سلام دی په الیاس باندی ، مونږ داسی بدله ورکوو نیکی کوونکو ته ، هغه

مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳۲﴾

دی زمونږ دایماندارو بندګانو څخه.

لنډتفسیر: اوالیاس علیه السلام هم (دبنی اسرائیلو) دپیغمبرانو څخه وو (دده دهغه وخت واقعه یاده کړه) هرکله چی ده خپل قوم (بنی اسرائیلو) ته (چی هغوی په بت پرستی کی اخته وه) وفرمایل چی ایا تاسی دخدای څخه نه بیریږی؟ ایاتاسی دبعل (چی دیوبت نوم وو) عبادت کوی اودهغه (عبادت یی) پریږدی کوم چی دتولو څخه لوی جوړونکی دی (څکه چی نورخلګ خو دځینی اشیاوو په تحلیل اوترکیب قدرت لری او هغه هم عارضی او هغه دتولو اشیاؤ دعدم څخه په وجودکی پرراوستلو ذاتی قدرت لری ، بیا بل څوک روح نه سی ورکولی اوهغه روح ورکوی اوهغه) معبود برحق دی (او) ستاسی هم رب دی اوستاسی دمخکنیو پلرونو اونیکه ګانوهم رب دی ، نو دغو خلګو (دتوحید په دی دعوی کی) هغه درواغجن کی پس (ددی درواغجن کولو په عذاب کی) هغه خلګ (داخرت په عذاب کی) به ونیول سی ، مګر کوم چی دالله خاص بندګان (یعنی ایماندار) وه (هغه به په ثواب اواجرکی وی) اومونږ دالیاس علیه السلام دپاره به

Maktaba Tul Ishaat.com

وروسته راتلونکو خلګو کی (داوږدی مودی دپاره) دا خبره پرې اینبی ده چی په الیاسین باندی (چی دا هم د الیاس ﷺ نوم دی) دی سلام وی ، مونږ مخلصانوته داسی بدله ورکوو (چی دوی دثنا اودعا مستحق جوړوو) بیشکه هغه زمونږ په (کاملو) ایماندارو بندګانو کی وه .

معلومات اومسئلې حضرت الیاس ﷺ : په دی ایتونو کی ځلورمه واقعه دحضرت الیاس ﷺ بیان سوې ده دایتونو دتفسیر څخه مخکی دحضرت الیاس ﷺ متعلق څو معلومات لاندی درج دی .

په قرآن کریم کی دحضرت الیاس ﷺ ذکرصرف په دوو ځایونو کی راغلی دی ، یوپه سورة انعام کی اوبل دسورة صٰفّٰت په دی ایتونو کی ، په سورة انعام کی خوصرف دپیغمبرانو په فهرست کی د دوی نوم مبارک شمارسوی دی اوځه واقعه یی ذکرنه ده البته دلته ډیره لنډه ددوی ددعوت اوتبلیغ واقعه بیان سوې ده .

چونکی په قرآن کریم کی دحضرت الیاس ﷺ حالات په تفصیل سره ذکرنه دی اونه په مستندو احادیثو کی د دوی حالات راغلی دی ، په دی وجه د دوی په باره کی دتفسیر په کتابونو کی مختلف اقوال او متفرق روایتونه لیدل کیږی ، کوم چی ډیر په کی دبنی اسرائیلو دروایتونو څخه را اخستل سوی دی .

دمفسرینو دیوی لږی ډلی وینا دا ده چی الیاس ﷺ دحضرت ادریس ﷺ دوهم نوم دی اوپه دی دواړو شخصیتونو کی هیڅ فرق نسته اوځینی حضراتو دا هم ویلی دی چی په حضرت الیاس ﷺ اوحضرت خضر ﷺ کی هیڅ فرق نسته (دُرِّ منثور ص ۲۸۵وص ۲۸۶ ج ۵) لیکن محققینو دَخبرو تردید کړی دی ، قرآن کریم دحضرت ادریس اوحضرت الیاس ﷺ دغسی جلاجلا ذکر فرمایلی دی چی د دواړو دیوګډلو هیڅ ګنجائش په نظر نه راځی ، په دی وجه حافظ ابن کثیر رحمه الله په خپل تاریخ کی صحیح داګرځولی ده چی دواړه جلا جلا رسولان دی (البدایه والنهایه ص ۳۲۹ ج ۱)

دبعثت زمانه او مقام: په قرآن اوحدیث کی ددې هم درک نه معلومیږی چی حضرت الیاس ﷺ کله اوکوم ځای مبعوث سوی وو ، لیکن تاریخی اواسرائیلی روایتونه په دی خبره تقریباً متفق دی چی دی دحضرت حزقیل ﷺ څخه وروسته اودحضرت الیسع ﷺ څخه مخکی دَبنی اسرائیلو طرف ته مبعوث سوی وو ، دا هغه زمانه وه کله چی دحضرت سلیمان ﷺ دجای نشینو دبدکاری په وجه سره دبنی اسرائیلو حکومت په دوو حصوکی تقسیم سوی وو ، یوی حصی ته یهوداه یایهودیه ویل کیږی او ددی مرکز بیت المقدس وو او دوهمی حصی ته اسرائیل ویل کیږی او ددی پایه تخت سامره (موجوده نابلس) وو ، حضرت الیاس ﷺ داردن په علاقه جلعاد کی پیدا سوی وو ، دغه وخت داسرائیلو په ملك کی چی کوم بادشاه حکمران وو دهغه نوم په بائبل کی اخی آب اوپه عربی تاریخونو او تفاسیروکی اجب یا اخب ذکر دی ، دده بښځه ایزبل دَبعل نوم بت عبادت کوونکی وه اودی په اسرائیلوکی دبعل په نوم یوه لویه قربانګاه جوړه کړه اوتول بنی اسرائیل یی دبت پرستی پرلاره باندی ولګول ، حضرت الیاس ﷺ ته دالله ﷻ دطرف څخه حکم وسو چی هغه دغه ځای ته ولاړسی اودتوحید تعلیم ورکی اواسرائیلیان دبت پرستی څخه منع کړی.

(تفسیر ابن جریر ص ۵۳ ج ۲۳ وابن کثیر ص ۱۹ ج۴، ومظهری ص ۱۳۴ ج ۱۸ او دبائبل کتاب سلاطین اول ۱۶ و ۲ تا ۳۳ و ۱۷: ۱)

دقوم سره کشمکش : دنورو پیغمبرانو په شان حضرت الیاس ﷺ ته هم دخپل قوم سره سخت کشمکش

Maktaba Tul Ishaat.com

راغلی دی قرآن کریم چونکه دتاریخ کتاب نه دی ، په دی وجه یی ددی کشمکش په تفصیل سره دحال بیانولو په ځای صرف دومره خبره بیان کړې ده ، کومه چې دوعظ او نصیحت دپاره ضروری وه ، یعنی دا چې دده قوم دی درواغجن کی او دځو مخلصو بندګانو څخه ماسوا چاپه حضرت الیاس ﷺ ایمان راند وړی ، په دی وجه په اخرت کی به دوی ته دهیبتناك انجام سره مخامخ کیدل وی .

ځینو مفسرینو دلته ددی کشمکش مفصل حالات بیان کړی دی ، په مروجه تفسیرونوکی دحضرت الیاس ﷺ دټولو څخه په تفصیل ذکر په تفسیر مظهری کی دعلامه بغوی په حواله سره سوی دی ، په دی کی چې کوم واقعات ذکر دی ، هغه تقریبًا ټول دبائبل څخه را اخیستل سوی دی ، په نورو تفسیرونوکی هم ددی واقعاتو ځینی اجزاء دحضرت وهب بن منبه اوکعب الاحبار وغیره په حواله سره بیان سوی دی ، کوم چې اکثره اسرائیلی روایتونه نقل کوی .

ددی ټولو روایتونو څخه چې دخلاصی په طور څومره قدر مشترك راوزی هغه دا دی چې حضرت الیاس ﷺ داسرائیلو بادشاه اخی آب او دَهغه رعیت دبعل نومی بت دعبادت څخه منع کړل اودتوحید دعوت یی ورکی ، مګر دیو یادوو حق پسندو افرادو څخه ماسوا بل چا دده خبره ونه منله بلکه ده ته یی قسم قسکم تکلیفونه ورسول ، تردی چې اخی آب او دده ښځی ایزبل دده دشهید کولو منصوبی جوړی کړی ، ده په یولیری غارکی پناه واخیسته اودیره زمانه هلته وو ، ددی څخه وروسته ده دعا وکړه چې پراسرائیلو قحط سالی راسی ، چې ددی قحط سالی لیری کولو دپاره ورته دی معجزی وښیی نوشاید چې هغوی ایمان راوړی ، چنانچې هغوی په سخت قحطی کی مبتلا سول .

ددی څخه وروسته حضرت الیاس ﷺ دخدای په حکم سره دَاخی آب سره یوځای سو اوده ته یی وویل چې داعذاب دالله ﷻ دنافرمنی په وجه دی که تاسی اوس هم منع سی ، نو دا عذاب به لیری سی ، زما دربښتنوالی دَامتحان هم دا ښه موقع ده ، تاسی وایاست چې په اسرائیلوکی ستاسی دمعبود بعل څلور نیم سوه نبیان دی ، تاسی یوه ورځ دغه ټول زماپه مخکی جمع کړی اوهغه دی دبعل په نوم قربانی پیش کړی اوزه به دالله ﷻ په نوم قربانی وکړم ، دچا قربانی چې اسمانی اور وخوری دهغه دین به ربښتینی وی ټولو دا تجویز په خوشحالی ومنی .

چنانچې دکرمل غر په مقام باندی دوی جمع سول ، دَبعل درواغجنانو نبیانو خپله قربانی پیش کړه او دسهار څخه ترغرمی پوری یی بعل ته زاری کولی مګر هیڅ جواب یې ورنه کړی ، ددی څخه وروسته حضرت الیاس ﷺ خپله قربانی پیش کړه، په دی دآسمان څخه اور نازل سو او دحضرت الیاس ﷺ قربانی یی وسوزله ، چې دایی ولیدل نودیر خلک په سجده پریوتل اوپر دوی حق واضح سو، لیکن دبعل درواغجنو نبیانو اوس هم نه منله، په دی وجه حضرت الیاس ﷺ دوی په واد قیشون کی قتل کړی ددی واقعی څخه وروسته په شیبو شیبو باران هم وسو اوټوله مخکه په اوبو سیراب سوه ، لیکن دَاخی آب دښځی ایزبل اوس هم سترګی رڼا نه سوی ، هغې په حضرت الیاس ﷺ دایمان راوړلو په ځای چې دهغه دښمنه سوه اودی دهغه دقتل تیاری شروع کړی ، حضرت الیاس ﷺ چې دا واوریدل نو بیا دسامریه څخه ورك سو اوخه زمانه وروسته دبنی اسرائیلو په بل ملك یهودیه کی یی تبلیغ شروع کی،

Maktaba Tul Ishaat.com

څکه چی کرار کرار دَبعل پرستی وبا هلته هم غورول سوی وه، دهغه ځای بادشاه یهورام هم د دوی خبره وانه وریده تردی چی هغه دحضرت الیاس ﷺ دپیش ګویی مطابق تباه اوبرباد سول ، څوکاله وروسته دوی دوباره اسرائیلوته تشریف راوړی اودلته یی بیا داځی آب او دده دزوی اخزیاه پرسیده لاره دراوستلو کوشش وکی ، لیکن هغوی په مخه په خپلو بدو عملونوکی مبتلا پاته سول ، تردی چی دوی دبیرونی حملو اومهلکو ناروغیو ښکار سول ، ددی څخه وروسته الله ﷻ خپل نبی بیرته وغوښتی .

(ایا حضرت الیاس ﷺ ژوندی دی؟)

دمؤرخینو اومفسرینو په مینځ کی دا مسئله هم زیر بحث راغلی ده چی الیاس ﷺ ژوندی دی اوکه وفات سوی دی؟ په تفسیرِ مظهری کی دعلامه بغوی په حواله سره چی کوم اوږد روایت بیان سوی دی په دی کی دا هم مذکور دی چی حضرت الیاس ﷺ پربو اتشین آس سپور سو اوآسمان ته پورته سو اودی دحضرت عیسیٰ ﷺ په شان ژوندی دی (مظهری ص ۱۴۱ ج۸) علامه سیوطی ﷺ هم دابن عساکر اوحاکم وغیره په حواله سره څو روایتونه داسی نقل کړی دی دکومو څخه چی معلومیږی چی هغه ژوندی دی ، دکعب الاحبار څخه نقل دی چی څلور انبیاء تراوسه پوری ژوندی دی ، دوه په مځکه کی حضرت خضر اوحضرت الیاس علیهما السلام اودوه په آسمان کی حضرت عیسیٰ اوحضرت ادریس علیهم السلام (دُرِّ منثور ص ۲۸۵، ص ۲۸۶ ج ۵)

تردی چی ځینو حضراتو دا هم ویلی دی چی حضرت خضر اوحضرت الیاس ﷺ کله درمضان په میاشت کی په بیت المقدس کی جمع کیږی اوروژی نیسی (قرطبی ص۱۱۶ج۱۵)

لیکن دحافظ ابن کثیر رحمه الله په شان تحقیق کوونکو عالمانو دی روایتونو ته صحیح نه دی ویلی هغه ددواسی روایتونوپه باره کی لیکی .

وَهُوَ مِنَ الْاِسْرَائِیْلِیَّاتِ الَّتِیْ لَا تُصَدَّقُ وَلَا تُکَذَّبُ بَلِ الظَّاهِرُ اَنَّ صِحَّتَهَا بَعِیْدَةٌ، (البدایه والنهایة ص ۳۳۸ ج۱)

دا دهغو اسرائیلی روایتونو څخه دی دکومو چی نه تصدیق کیدی سی اونه تکذیب بلکه ظاهره دا ده چی ددغو صحت بعید دی .

ابن عساکر رحمه الله دیر روایتونه دهغو خلګو نقل کړی دی کوم چی دحضرت الیاس ﷺ سره یوځای سوی دی ، لیکن په دغوکی یوهم قابل اطمینان نه دی یاخو څکه چی د دوی سند ضعیف دی یاځکه چی دکومو سړو طرف ته دا واقعات منسوب سوی دی هغه مجهول دی (البدایة والنهایة ص ۳۳۸ ج۱)

ظاهره ده چی دحضرت الیاس ﷺ آسمان ته دختلو نظریه داسرائیلی روایتونو څخه را اخستل سوي ده ، په بائبل کی لیکی چی .

اوهغه به مخ ته تلی اوخبری به یی کولی چی وګوره یواتشی ګاډی اواتشی اسونو دواړه جلا کړل او ایلیاه اپه بائبل کی دحضرت الیاس ﷺ نوم ایلیاه ذکر سوی دی اپه بګوله کی آسمان ته ولاړی ، (۲: سلاطین ۲: ۱۱) په دی وجه سره په یهودیانو کی دا عقیده پیدا سوی وه چی حضرت الیاس ﷺ به دوباره مځکی ته تشریف راوړی ، چنانچی کله حضرت یحییٰ ﷺ مبعوث سو نو دوی پر هغه دحضرت الیاس ﷺ کیدو شبهه ظاهره کړه ، په انجیل یوحنا کی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

هغو دده څخه پوښتنه وکړه ، بیا څوک یی؟ ایاته ایلیا یی؟ هغه وویل زه نه یم (یوحنّا ۱ : ۲۱)
داسی معلومیږی چی دکعب الاحبار او وهب بن منبه په شان عالمانوکوم چی داهل کتابو دعلومو ماهران وه هغوی به دا روایتونه دمسلمانانو په مخکی بیان کړی وه په کومو سره چی دحضرت الیاس ﷺ دژوند نظریه په مسلمانانوکی هم وغورول سوه ، کنه نو په قرآن یا حدیث کی داسی هیڅ دلیل نسته په کوم سره چی دحضرت الیاس ﷺ ژوند یا د دوی آسمان ته پورته کیدل ثابتیږی ، صرف یو روایت په مستدرك حاکم کی پیدا کیدی سی په کوم کی چی ذکر دی چی دتبوك په لاره کی دنبی کریم ﷺ ملاقات دحضرت الیاس ﷺ سره وسو ، لیکن دا روایت په وضاحت دمحدثینو موضوعی دی ، حافظ ذهبی رحمۃ اللہ علیہ فرمایی .

بَلْ هُوَ مَوْضُوْعٌ قَبَّحَ اللّٰهُ مَنْ وَضَعَهُ وَمَا كُنْتُ أَحْسَبُ ، وَلَا أَجَوِّزُ أَنَّ الْجَهْلَ يَبْلَغُ بِالْحَاكِمِ إِلَى أَنْ يُصَحِّحَ هٰذَا (در منثور ص ۲۸۶ ج ۵)
بلکه دا حدیث موضوع دی ، خدای دی بد وکی دهغه سړی سره چاچی داحدیث وضع کی ، ددی څخه مخکی زما په ګمان کی دا هم نه وه چی دامام حاکم بی خبری دی حدته رسیدی سی چی دی حدیث ته صحیح ووایی .
لنډه داچی دحضرت الیاس (ﷺ ژوندی کیدل په څه معتبر اسلامی روایت سره ثابت نه دی په دی وجه په دی معامله کی دسلامتی لارداده چی په دی کی خاموشی اختیارسی اوداسرائیلی روایتونو په سلسله کی دنبی کریم ﷺ په تعلیم عمل وسی چی مه یی تکذیب کوی اومه یی تصدیق څکه چی دقرآن کریم تفسیراو دعبرت اوموعظت مقصد ددی څخه بغیر هم پوره کیږی ، والله تعالی اعلم ، اوس دایتونو تفسیر واوری
أَتَدْعُوْنَ بَعْلاً (ایا تاسی دبعل عبادت کوی؟) دبعل لغوی معنی خاوند اومالك وغیره دی ، لیکن دا دهغه بت نوم وو کوم چی دحضرت الیاس ﷺ قوم خپل معبود جوړی کړی وو ، دبعل دعبادت کولو تاریخ دیر پخوانی دی ، دشام په علاقه کی دحضرت موسیٰ ﷺ په زمانه کی دده عبادت کیدی اودا د دوی دټولو څخه زیات مقبول معبود وو ، دشام دټولو څخه مشهور بنار بعلبك هم دده په نوم سره موسوم سو اودځینو خلګو خیال دی چی داهل حجاز مشهور بت ، هُبل ، هم دابعل دی (قصص القرآن ص ۲۸ ج ۲)
وَتَذَرُوْنَ أَحْسَنَ الْخَالِقِيْنَ (اوهغه پریږدی کوم چی دټولو څخه لوی جوړونکی دی) ددی څخه مراد الله ﷻ دی او ، أَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ (دټولو څخه لوی خالق) مطلب دا نه دی چی معاذ الله څوك بل هم خالق کیدی سی ، بلکه مطلب دا دی چی کوم د دروغو معبودان تاسی خالقان مقرر کړی دی ، هغه ددی ټولو څخه لوړ شان والادی (قرطبی) اوځینی مفسرین وایی چی دلته ، خالق ، دَ ، صانع (جوړونکی) په معنی کی استعمال سوی دی یعنی هغه دټولو جوړونکو څخه زیات دی څکه چی نورجوړونکی صرف دومره خوکولی سی چی مختلف اجزاء یوځای کړی اویوشی ځینی جوړ کړی ، یوشی دعدم څخه وجودته راوړل د دوی دَوَسْ څخه زیات دی اوالله ﷻ په معدوم شیانو ذاتی قدرت لری چی وجود ورلره ورکړی (بیان القرآن)

(دغیر الله طرف ته دتخلیق صفت منسوب کول ناجائز دی)

دلته دا خبره یاد لرل په کار دی چی دَ ، خلق ، معنی پیدا کول دی او ددی مطلب یو شی دمحض عدم څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

په خپل ذاتی قدرت سره په وجود کی را وستل دی ، په دی وجه دا صفت دالله ﷻ سره خاص دی دَیوبل چا طرف ته ددی نسبت جائز نه دی ، په دی وجه زمونږ په زمانه کی چی کوم رواج جوړ سوی دی چی داهل قلم مضامینو، دشاعرانو اشعارو، دمصورانو تصویرونو ته د دوی ، تخلیقات، ویل کیږی، دا بالکل جائز نه دی او نه اهل قلموته د دوی دمضامینو خالقان ویل صحیح دی ، خالق دالله ﷻ څخه ماسوا بل څوك نه سی کیدی ، په دی وجه د دوی دقلم رشحاتو ته ، کاوش، یا، مضمون، وغیره ویل په کاردی، تخلیق، نه،

لَكَذِبُوْا فَإِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ (نوهغو خلګو دی درواغجن کی نوهغوی به ونیول سی) مطلب دادی چی دوی ته به دالله ﷻ درسول ددرواغجن کولوخوندځکول معلوم سی ددی څخه داخرت عذاب هم مراد کیدی سی او ددنیابدانجام هم ، مخ ته تیرسوی دی چی دحضرت الیاس ﷺ د درواغجن کولوپه نیتجه کی دیهوداه اواسرائیل دواړوملکونوحکمرانان تباه اوبرباد سول، ددی تباهی تفصیل په تفسیرِ مظهری کی اودبائبل په کتاب سلاطین اول باب ۲۲، سلاطین دوهم باب اول او تواریخ دوهم باب ۲۱ کی موجود دی.

إِلَّا عِبَادَ اللهِ الْمُخْلَصِيْنَ : دلته د: مُخْلَصِيْنَ (په لام یی زبردی) لفظ استعمال سوی دی ، چی معنٰی یی ده خالص سوی خلګ ، په دی وجه ددی ترجمه دَ، مخلص، په څای ، خوښ سوی ، زیاته مناسب ده ، یعنی هغه خلګ کوم چی الله ﷻ دخپل اطاعت اواجر اوثواب دپاره خالص کړی وی.

سَلٰمٌ عَلٰى اِلْ يَاسِيْنَ : الیاسین هم دالیاس (یو نوم دی عرب اکثر دعجمی نومونو سره ، یا، او، نون ، زیاتوی ، لکه دسینا څخه سینین دغه دول دلته هم دوه حرفونه زیات سوی دی.

وَإِنَّ لُوْطًا لَّمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۳۳﴾ إِذْ نَجَّيْنٰهُ وَأَهْلَهٗ أَجْمَعِيْنَ ﴿۱۳۴﴾ إِلَّا عَجُوْزًا فِي الْغٰبِرِيْنَ ﴿۱۳۵﴾ ثُمَّ

اوپه تحقیق لوط ع درسولانوڅخه دی، کله چی محفوظ کی مونږدی اواهل ددده په جمع، مګریوه بوډی چی پاته سوه په پاته

دَمَّرْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿۱۳۶﴾ وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّوْنَ عَلَيْهِمْ مُّصْبِحِيْنَ ﴿۱۳۷﴾ وَبِالَّيْلِ أَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۳۸﴾

کیدونکو کی ، بیا ،بیخ پریکی مونږ دنورواوتاسی تیریږي په هغوی دسهارپه وخت کی ،اودشپی هم آیابیاهم نه پوهیږي ؟

لنډتفسیر: اوبیشکه لوط ﷺ هم دپیغمبرانو څخه وو (دده دهغه وخت قصه دیادولو قابله ده) کله چی مونږ ده ته او دده متعلقینو ټولو ته نجات ورکی بغیر دهغه بوډی څخه (یعنی دَده دبی بی څخه) چی هغه (په عذاب کی) دپاته کیدونکو سره پاته سوه بیا مونږ نور ټول (کوم چی دلوط ﷺ او دده داهل څخه ماسوا وه) هلاك کړل (چی قصه یی څو ځایه تیره سوې ده) او (ای دمکی خلګو) تاسی خو دهغوی (په کلو اومسکنونو دشام په سفرکی کله) سهار او (کله) مابنام تیریږی (اودبربادی نښانی وینی) نو ایا (ددی په لیدو) بیا هم نه پوهیږی (چی دکفر انجام څه سو اوخوك چی اننده کفر کوی دهغه دپاره دا بیره ده)

معلومات اومسائل: په دی ایتونوکی پنځمه واقعه دحضرت لوط ﷺ ذکر سوې ده دا واقعه مخ ته په ډیرو ځایونو کی تیره سوې ده ، په دی وجه دلته یی دَتفصیل ضرورت نسته ، دلته دمکی خلګوته په خاص طور سره داخبرداری ورکول سوی دی چی تاسی دشام په تجارتی سفرکی دسدوم په دی علاقه باندی

Maktaba Tul Ishaat.com

شپه اوورځ تیریږی ، کوم ځای چی دا عبرتناکه واقعه پیښه سوي ده ، لیکن ددی ځخه هیڅ عبرت نه
حاصلوی ، دسهار اومابنام ذکر په خاص طور سره ځکه وفرمایل سوچی عرب به عموماً په دی وختونو
کی دّدی ځای ځخه تیریدل ، او قاضی ابوسعود رحمه الله فرمایی چی غالباً دسدوم داعلاقه دلاری پر دا سر
منزل پرته وه چی ددی ځای ځخه به کوچ کوونکی دسهار په وخت کی روانیده اوراتلونکی به دمابنام په
وخت کی راتله (تفسیر ابی السعود)

وَاِنَّ يُوْنُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۳۹﴾ اِذْ اَبَقَ اِلَى الْفُلْكِ

اوبیشکه یونس درسولانو ځخه دی ، هر کله چی وتښتیدی هغه کښتی

الْمَشْحُوْنِ ﴿۱۴۰﴾ فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِيْنَ ﴿۱۴۱﴾ فَالْتَقَمَهُ

دکی ته ، نو هسکه یی وکړه نو سو دی خطا وار ، بیا ګوله کی

الْحُوْتُ وَهُوَ مُلِيْمٌ ﴿۱۴۲﴾ فَلَوْلَآ اَنَّهٗ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِيْنَ ﴿۱۴۳﴾ لَلَبِثَ

دی ماهی او هغه وو ملامته ، بیا که نه وای دا خبره چی هغه یاد وی پاك ذات ، نو پاته سوی

فِيْ بَطْنِهٖٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿۱۴۴﴾ فَنَبَذْنٰهُ بِالْعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيْمٌ ﴿۱۴۵﴾

به وای دهغه په نس کی تر بیا پورته کیدو د ورځی پوری ، بیا وغورځوی مونږ دی په خالی میدان اوهغه مریض

وَاَنْۢبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِّنْ يَّقْطِيْنٍ ﴿۱۴۶﴾ وَاَرْسَلْنٰهُ اِلٰى مِائَةِ اَلْفٍ

سو ، او شنه کړه مونږ په ده یوه درخته زلیداره ، او ولیږی مونږ دی یولاك سړیانو ته

اَوْ يَزِيْدُوْنَ ﴿۱۴۷﴾ فَاٰمَنُوْا فَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ ﴿۱۴۸﴾

یا ددی ځخه زیاتوته ، نو هغو ومنی ، پس نفع ورکړه مونږ هغو ته تر یو وخت پوری

لنډتفسیر: اوبیشکه یونس علیه السلام هم دپیغمبرانو ځخه وو (دده دهغه وخت قصه یاده کړه) هرکله چی (ده خپل
قوم ته دایمان په نه راوړلو باندی دالله ﷻ دعذاب پیش ګویی وکړه اوپه خپله دهغه ځای ځخه ولاړی
اوکله چی په مقرر وخت باندی دعذاب نښانی ښکاره سوی ، نو قوم دایمان راوړلوپه غرض سره دیونس
علیه السلام په تلاښ کی سو ، هرکله چی هغه ورته پیدا نه سو نوتول متفق سول اودحق تعالی په مخکی یی ژړا
اوفریاد وکی اوپه اجمالی طوریی ایمان راوړی اودغه عذاب ییرته ولاړی ، حضرت یونس علیه السلام ته په ځه
ذریعه داخبر معلوم سو نو دشرمندګی په وجه سره په خپل اجتهاد دالله ﷻ دواضح اجازت ځخه بغیر یی

Maktaba Tul Ishaat.com

یوخای لیری دتللو اراده وکړه اودخپل ځای څخه وتښتیدی (په لاره کی دریاب وو په دی کی دمسافرو ډکه کښتی وه، په دغه ډکه کښتی کی کښینستی (کښتی روانه سوه نوطوفان راغی، کښتی والاوو وویل چی په مونږکی یوځوک نوی قصور واره دی ، دی دکښتی څخه لیری کول په کار دی ، دهغه سړی دمتعین کولو دپاره دټولو اتفاق په دی وسو چی هسکه یی واچوله) پس نویونس ﷺ هم په هسکه کی شریك سو نو (په هسکه کی) دی ملزم وگرځیدی (یعنی دده نوم راوختی، نو ده خپل ځان دریاب ته وغورځوی شاید چی غاړه به نژدی وه نوپه غوټو وهلوبه یی غاړی ته دځان رسولو اراده کړی وه، نو شبهه دخودکشی نه لازمیږی) بیا (کله چی دریاب ته وغورځیدی نوزمونږ په حکم سره) دی ماهی (ثابت) تیرکی او ده (دغه وخت) خپل ځان (په دی اجتهادی غلطی سره) ملامت کوی (دا خو په زړه سره توبه سوه اوپه ژبه یی هم په تسبیح اوتوحید سره استغفارکوی لکه چی په آیت کی دی ، لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِينَ : پس که هغه (داوخت) په تسبیح (واستغفار) کوونکوکی نه وای نو ترقیامته پوری به دده په نس کی پاته سوی وای (مطلب دا دی چی دنس څخه به نه وای وتلی ، بلکه دهغه خوراك سوی به وای) پس (چونکی ده تسبیح اوتوبه وکښله په دی وجه) مونږ (دی ددی څخه محفوظ کی او دماهی دنس څخه مو وایستی) دی مو په یومیدان وغورځوی (یعنی ماهی ته موحکم وکی چی غاړی ته یی وغورزوه) او هغه دغه وخت کمزوری وو (ځکه چی دماهی په نس کی ورته کافی هوا او خوراك نه رسیدی) اومونږ (دغرمو څخه دبچ کیدو دپاره) پرده یوه زیلداره درخته هم شنه کړه (اویوی صحرایی بزی به ده ته تی ورکوی) اومونږ دی یولك یاددی څخه دزیاتو سړو طرف ته (دموصل په خواکی ننیوا ښارته) پیغمبر جوړ کړی ولیږی بیادغو خلګو ایمان راوړی وو (دعذاب دنښانوپه لیدو اجمالاً اودماهی دَواقعی څخه وروسته حضرت یونس ﷺ هلته دوباره تشریف یووړی دغه وخت تفصیلاً) خو (دایمان په برکت سره) مونږ دوی ته تریوی زمانی پوری (یعنی دعمر ترمودی پوری په خیر اوخوبی سره) ژوند ورکی.

معلومات اومسئلي : په دی سورة کی اخری واقعه دحضرت یونس ﷺ بیان سوي ده ، دا واقعه او ددی متعلقه تفصیلات په سورة یونس کی په اخرکی تیر سوی دی اوخلاصه یی په لنډ تفسیرکی هم راغلی ده په دی وجه دلته ددوباره لیکلو ضرورت نسته ، البته خاص ددی ایتونو په باره کی څو ضروری خبری دا لاندی دی.

وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ : څینی مفسرینو او مؤرخینو په دی بحث کړی دی چی حضرت یونس ﷺ دماهی دواقعی څخه مخکی رسول جوړ سوی وو یاکه وروسته جوړ سوی وو؟ دځینو حضراتو خیال دا دی چی دماهی دواقعی څخه وروسته دی رسول جوړ سوی وو، لیکن دقرآن کریم دَظاهری اسلوب او دډیرو روایتونو څخه دا راجح ده چی ده ﷺ دمخکی څخه په منصب درسالت باندی فائز سوی وو، دماهی واقعه وروسته پیښه سوه.

إِذْ أَبَقَ إِلَى الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ (هرکله چی ډکی کښتی طرف ته وتښتیدی لفظ دَأَبَقَ دَاِبَاق څخه وتلی دی چی معنی یی ده دغلام دخپل مالك څخه تښتیدل دالفظ الله ﷻ دحضرت یونس ﷺ دپاره په دی وجه استعمال کی چی هغه دخپل پروردګار دطرف څخه دوحی دانتظارکولو څخه بغیر روان سوی وو، انبیاء

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ دالله ﷻ مقرب بندګان وی او د دوی معمولی خطا هم دلوی ګرفت سبب جوړیږی ، په دی وجه دی دا سخت لفظ استعمال کړی دی .

فَسَاهَمَ (نوهغه په هسکه کولوکی شریك سو) دا هسکه هغه وخت وسوه ، هرکله چی کښتی د دریاب مینځ ته ورسیده اوپه طوفان کی ولویده اودوزن په زیاتیدو سره ددی ډډوبیدو بیره پیدا سوه ، او دا خبره مقرره سوه چی یو سړی دی دریاب ته ورځخه وغورځول سی هسکه ددی سړی دمتعین کولو دپاره واچول سوه چی هغه سړی ځوك دی ؟

دهسکه اچولو حکم : دلته دا خبره یاد لرل په کار دی چی دهسکه په ذریعه نه دچاحق ثابتیږی سی اوله ځوك مجرم ګرځول کیږی مثلاً دهسکه په ذریعه ځوك غل نه سی ثابتیدی دغه ډول که دیو دوه سړیانو په مینځ کی دا اختلاف وی چی فلانی جائیداد دچا ملکیت دی ، نودهسکه په ذریعه ددی فیصله نه سی کولی البته هسکه په هغه موقع جائز بلکه ښه دی کوم ځای چی یوسړی ته شرعاًمکمل اختیار حاصل وی چی هغه په څو جائزو لاروکی یوه لاراختیارکی ، اوس هغه په خپله مرضی سره دځه لاری دمتعین کولو په ځای هسکه وغورځوی اوفیصله وکی ، مثلاً دیوه سړی دیوی ځخه زیاتی بیبیانی وی نوهغه ته دسفر تلو په وخت کی دا اختیار حاصل دی چی هغه کومه بی بی غواړی دځان سره بوزی ، اوس هغه په خپله مرضی ددواسی کولو په ځای هسکه وکړی نو دا ښه ده ، چی دیوی هم خفګان رانه سی ، دنبی کریم ﷺ دا عادت وو .

دحضرت یونس ﷺ په واقعه کی هم په هسکه باندی ځوك مجرم ثابتول مقصود نه وو، بلکه دټولی کښتي دمحفوظ کولو دپاره هرځوك یی دریاب ته غورځولی سو ، دهسکه په ذریعه ددی تعین وسو .

فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِينَ (نو هغه مغلوب سو) دَادْحَاضٌ لغوی معنی ده، ځوك ناکامه جوړول ، مطلب دا دی چی په هسکه کی د دوی نوم را ووتی اوهغوی خپل ځان دریاب ته وغورځوی ، په دی باندی دخودکشی شبهه نه دی کول په کار ، په دی وجه کیدی سی چی غاړه نړدی وه اوهغه دلامبو په ذریعه ځان غاړی ته درسولو اراده درلوده .

فَلَوْلَا أَنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِينَ : ددی آیت ځخه داګنهل غلط دی چی که حضرت یونس ﷺ تسبیح نه کوی نو هغه ماهی به ترقیامته پوری ژوندی وای ، بلکه مطلب دا دی چی ددی ماهی نس به یی دحضرت یونس ﷺ دپاره قبر جوړ کړی وای .

(په تسبیح او استغفار سره مصیبتونه لیری کیږی)

ددی آیت ځخه دا هم معلومه سوه چی دمصیبتونو او افتونو په لیری کولوکی تسبیح اواستغفار خاص اهمیت لری ، په سورة انبیاء کی تیر سوی دی چی هرکله حضرت یونس ﷺ دماهی په نس کی وو، نو دا کلمه یی په خاص طور سره ویله ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ، الله ﷻ ددی کلمی په برکت سره دوی ته ددی ازمائش ځخه نجات ورکی او هغه دماهی دنس ځخه صحیح سالم را ووتی ، په دی وجه دبزرګانو ځخه دا نقل راروان دی چی هغوی دانفرادی یا اجتماعی مصیبت په وخت کی دا کلمه بولك پنځه ویشت زره واره ووایی او ددی په برکت سره الله ﷻ مصیبت لیری کوی .

Maktaba Tul Ishaat.com

په ابوداؤد کی دحضرت سعدبن ابی وقاص ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، حضرت یونس ﷺ چی کومه دعا کړی وه ، یعنی ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ : دا چی کوم مسلمان هم دکوم مقصد دپاره ووایی دهغه دعابه قبوله سی (قرطبی)

فَنَبَذْنَاهُ بِالْعَرَاءِ وَهُوَ سَقِيمٌ (پس مونږ دی په میدان کی وغورځوی او دی ﷺ په دی وخت کی مضمحل وو) د ، العرآء، معنی ده خلاص میدان په کوم کی چی څه درخته نه وی ، دځینو روایتونو څخه معلومیږی چی دغه وخت حضرت یونس ﷺ دماهی په نس کی دپاته کیدو په وجه انتهایی کمزوری سوی وو او په بدن یی وربښته هم نه وو پاته سوی .

وَأَنْبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِنْ يَقْطِينٍ : اومونږ په هغه یوه زیلداره درخته هم شنه کړه) يَقطِيْن هری هغی درختی وایی چی تنه یی نه وی ، په روایتونوکی دی چی دا دکدو بوټی وو ، ددی بوټی دشنه کولو منشاء دا وه چی حضرت یونس ﷺ ته سایه پیدا سوه ، دلته دَشَجَرَةً لفظ دانښیی چی یاخو ددی کدو بوټی الله ﷻ دمعجزی په طور تنه دارجورکړی وو یایوه بله درخته وه چی هغه ته یی دابوټی ورخیژولی وو چی ددی څخه ورته لږ سایه ورسیږی ، کنه نو دزیلی څخه سایه کیدل مشکل وو .

وَأَرْسَلْنَاهُ إِلَى مِئَةِ أَلْفٍ أَوْ يَزِيدُونَ (اومونږ دی دیولك یاددی څخه هم دزیاتو سړیانو طرف ته پیغمبر جوړ کړی ولیږی) دلته دا اشکال کیدی سی چی الله ﷻ خو علیم اوخبیر دی ، هغه ته دشك داظهار څه ضرورت دی؟ چی یولك یاددی څخه زیات سړی وه ، ددی جواب دا دی چی دا دعاموخلګوپه مناسبت سره ویل سوي ده ، یعنی یوعام سړی که دوی ته کتلی نو دا به یی ویل چی د دوی شمیر یولك یاددی څخه څه زیات دی (مظهری) اوحضرت تهانوی فرمایی چی دلته دشك اظهار دسره مقصودنه دی ، دوی نه یو لك هم ویل کیږی او ددی څخه زیات هم او هغه داسی چی که دکسر لحاظ ونه سی نو د دوی شمیر یولك وو اوکه کسر هم شمار سی ، نو دیو لك څخه زیات وو(بیان القرآن)

داجمله چونکه دماهی دواقعی څخه وروسته راغلی ده ، په دی وجه ددی څخه څینو مفسرینو دا نتیجه را ایستلی ده چی دحضرت یونس ﷺ بعثت ددی واقعی څخه وروسته سوی وو اوعلامه بغوی تردی پوری فرمایلی دی چی په دی آیت کی دنینوا طرف ته دبعثت ذکرنسته، بلکه دماهی دواقعی څخه وروسته دوی یو دوهم امت طرف ته ولیږل سو چی تعداد یی دیولك څخه زیات وو ، لیکن دقرآن کریم او دروایتونوڅخه ددی تائید نه کیږی دلته دحضرت یونس ﷺ دواقعی په شروع کی د دوی درسالت ذکر صفانښیی چی دماهی واقعه درسول جوړیدوڅخه وروسته پیښه سوي ده ددی څخه وروسته دا جمله دلته دوباره څکه راوړل سوه چی دَحضرت یونس ﷺ دتندرستی څخه وروسته دی دوباره هغه ځای ته لیږل سوی وو ، دلته یی داواضحه کړه چی هغه خلګ لږ افراد نه وه بلکه د دوی شمیر دلك څخه هم زیات وو .

لَآمَنُوا فَمَتَّعْنَاهُمْ إِلَى حِينٍ (نو هغو ایمان راوړی نو مونږ دوی ته تر یوی زمانی پوری ژوند ورکی) تر یوی زمانی پوری مطلب دا دی چی تر څو هغوی دوباره په کفر اوشرك کی مبتلانه سول ، په دوی څه عذاب را نه غی .

Maktaba Tul Ishaat.com

(دمرزا قادیاني دَتلبیس جواب)

دا خبره دسورة یونس په تفسیر کی هم واضحه سوي ده اوپه دی آیت کی هم واضح کیږی چی دحضرت یونس ﷺ دقوم څخه کوم عذاب واپس سو هغه څکه چی دده قوم پروخت ایمان راوړی وو، په دی سره دپنجاب د درواغجن نبی مرزا غلام احمد قادیانی دهغه تلبیس خاتمه کیږی چی کله ده خپلو مخالفینو ته داچیلنج ورکی چی که دوی دغه دول مخالفت کوی نودخدای فیصله سوي ده چی ترفلانی وخته پوری به عذاب الٰهی راځی ، لیکن دمخالفینو جد اوجهد نور تیز سو، بیا هم عذاب را نه غی نو وروسته دناکامی دذلت څخه دمحفوظ کیدو دپاره قادیانی دا ویل شروع کړل چی چونکه مخالفین په زړه کی وبیریدل ، په دی وجه د دوی څخه عذاب وګرځیدی ، لکه څنګه چی دحضرت یونس ﷺ دقوم څخه ګرځیدلی وو ، لیکن دقرآن کریم دا آیت دا باطل تاویل مردود ګرځوی ، څکه دحضرت یونس ﷺ قوم خو دایمان په وجه دعذاب څخه محفوظ سوی وو ، ددی برعکس دمرزا قادیانی مخالفینو نه صرف دا چی ایمان رانه وړی ، بلکه د دوی مخالفانه جد اوجهد نور هم تیز سو.

فَاسْتَفْتِهِمْ اَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ وَلَهُمُ الْبَنُوْنَ ﴿۱۴۹﴾ اَمْ خَلَقْنَا الْمَلٰٓئِكَةَ اِنَاثًا وَّهُمْ

اوس ددوی څخه پوښتنه وکړه چی آیاستادرب دپاره لونی دی اوددوی دپاره زامن یامونږ جوړ کړی دی ملائکی ښځی اوهغوی

شٰهِدُوْنَ ﴿۱۵۰﴾ اَلَآ اِنَّهُمْ مِّنْ اِفْكِهِمْ لَيَقُوْلُوْنَ ﴿۱۵۱﴾ وَلَدَ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّهُمْ

لیدل ، واوره هغوی خپل درواغ وایی ، چی الله لره اولاد دی اوهغوی بیشکه

لَكٰذِبُوْنَ ﴿۱۵۲﴾ اَصْطَفَى الْبَنَاتِ عَلَى الْبَنِيْنَ ﴿۱۵۳﴾ مَا لَكُمْ ۟ كَيْفَ

درواغجنان دی ، آیا هغه غوره کړی دی لونی په زامنو څه سوی تاسی لره ، څنګه

تَحْكُمُوْنَ ﴿۱۵۴﴾ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۱۵۵﴾ اَمْ لَكُمْ سُلْطٰنٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۵۶﴾ فَاْتُوْا

انصاف کوی ، ایا تاسی فکر نه کوی؟ یا تاسی سره څه سند سته ښکاره ، نو راوړی

بِكِتٰبِكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۵۷﴾ وَجَعَلُوْا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا ۭ

خپل کتاب که تاسی رښتنی یاست ؟ اوګرځولی دی دوی دخدای اوپیریانو په مینځ کی

وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ اِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۵۹﴾

نسب ، اوپیریانو ته معلومه ده چی بیشکه دوی به نیول سوی حاضریږي ، الله پاك دی دهغه خبرو څخه چی دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿۱۶۰﴾ فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ ﴿۱۶۱﴾ مَا أَنْتُمْ

چې وی ، مګر کوم چې بندګان دی دالله ﷻ غوره سوی ، نو تاسی او کوم چې تاسی عبادت کوی ، څوک دهغه

عَلَيْهِ بِفَاتِنِينَ ﴿۱۶۲﴾ إِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ الْجَحِيمِ ﴿۱۶۳﴾ وَمَا مِنَّا إِلَّا لَهُ

ولاسه نه سی په دوکه سره بیولی ، مګر هغه کوم چې رسیدونکی دی دوزخ ته ، اوزمونږ په نزد د دوی دپاره

مَقَامٌ مَعْلُومٌ ﴿۱۶۴﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ الصَّافُّونَ ﴿۱۶۵﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُونَ ﴿۱۶۶﴾

یو مقام معلوم دی ، اومونږ یُو صفونه جوړونکی ، اومونږ یُو پاکی بیا نوونکی .

لنډتفسیر: (دتوحید دلیلونه خو لوړ بیان سول) نو (اوس ددی څخه وروسته) دهغو خلګو څخه (کوم چې ملائکی اوپیریان دَخدای شریك جوړوی، داسی چې ملائکی نعوذ بالله دخدای لونی او دپیریانو (سردارانو لونی ددی ملائکو مینډی ګرزوی ، په کومو سره چې دالازمیږی چې دالله ﷻ سره یې نسبی تعلق دی اودپیریانو سره یې دزوجیت تعلق دی نو ددی تولو څخه) پوښتنه وکړه چې ایا دخدای دپاره به لونی (وی) اوستاسی دپاره زامن (وی ، یعنی هرکله چې دځان دپاره زامن خوښوی نوپه ذکرسوی عقیده کی دخدای دپاره لونی څنګه خوښوی ، نوپه دی عقیده کی یوه خرابی خو دا ده او) هاا (دوهمه خبره واوری) ایا مونږ ملائکی ښځی جوړی کړی دی اوهغوی (ددوی دښځو دَجوړیدو په وخت کی) کتل (یعنی یوه بله خرابی دا ده چې پرملائکو بی دلیله دښځوالی تهمت لګوی) ښه واوری چې هغه خلګ (دلیل هیڅ نه لری ، بلکه محض) خبری جوړوی، وایی چې (نعوذ بالله) الله صاحب اولاد دی اوهغه یقیناً (بالکل) درواغجن دی (نوپه دی عقیده کی دریمه خرابی دا ده چې دالله ﷻ طرف ته داولاد نسبت کول لازم راځی ، په دی کی داولی خرابی ناکاروالی په عرف سره او ددوهمی په نقل سره او د دریمی په عقل سره ثابت دی اوچونکه دجاهلانو دپاره دعرفی خرابی اثبات زیات مؤثر وی ، په دی وجه اوله خرابی په بل عنوان سره مکرر فرمایی چې البته) ایا الله ﷻ د زامنو په مقابله کی لونی زیاتی خوښی کړی؟ تاسۍ لره څه وسول تاسی څنګه (بی هوده) حکم لګوی (کوم چې عرفاً په خپله هم بدګنی) بیا (علاوه دعرف څخه) ایا تاسی (دعقل او) سوچ څخه کارنه اخلی (چې داعقیده دعقل څخه هم خلاف ده) البته (که دلیل عقلی نه وی نو) ایاستاسی سره (په دی) څه واضح دلیل موجود دی (ددی څخه مراد نقلی دلیل دی) نو تاسی که چیری (په دی کی) رښتنی یاست نو خپل هغه کتاب پیش کی او (په ذکر سوی عقیده کی ملائکی داولاد ګرځولو څخه علاوه، دی خلګو دالله ﷻ اوپیریانو په مینځ کی (هم) قرابت مقرر کړي دی (چې باطلوالی یی نور هم ښکاره دی ځکه چې ښځه دکوم کار دپاره وی دهغه څخه الله ﷻ پاك دی اوکله چې زوجیت محال دی نودخسرګنی تعلق کوم چې ددی څخه راوزی هغه به هم محال وی) او (کوم کوم چې داخلګ دخدای سره شریك ګرځوی دَهغوی خودا حال دی چې په هغه کی کوم) پیریان (دی په خپله دهغو) دا عقیده ده چې (په دوی کی کوم کافران دی) هغه به (په عذاب کی) ګرفتار سی (اوپه عذاب کی به ولی

Maktaba Tul Ishaat.com

گرفتارنه سی چی دحق تعالی په نسبت بدی بدی خبری بیانوی، حال دا دی چی الله ﷻ دهغو خبرو څخه پاك دی کوم چی دوی بیانوی (نو د دوی په کافرانه خبرو سره به دوی په عذاب کی گرفتار سی) مگر کوم چی دالله ﷻ خاص (یعنی ایماندار) بندگان دی (هغوی به ددی عذاب څخه محفوظ وی) نو تاسی اوستاسی ټول معبودان (که ټول یوځای سی هم) دخدای څخه به وانه وړول سی (لکه چی تاسی کوشش کوی) مگر هغه کوم چی (په علم الهی کی) جهنم ته رسیدونکی دی او (مخ ته دملائکو ذکرفرمایی چی په دوی کی کمی ملائکی دی دهغو دا خبره ده چی مونږ خو محض بندگان یو، چنانچی کوم خدمت زمونږ پرذمه دی په دی کی) په مونږ کی دهر یوه یوه معینه درجه ده (چی دهغه په پوره کولوکی لګیاوی، په خپل رایی سره هیڅ نه سی کولی) اومونږ (دخدای په حضورکی دحکم اوریدو په وخت یاعبادت په وخت په ادب سره) صف بسته ولاړ یو اومونږ (دخدای په) پاکی بیانولوکی هم مشغوله یو (غرض دا چی په هر دول سره محکوم اوبندگان یو، نوکله چی ملائکی په خپله دخپلی بندگی اعتراف کوی نوبیا په دوی باندی دمعبود کیدو شبهه کول خالصه بی عقلی ده، نو دجناتو اوملائکو په حق کی دخدایی اعتقاد لرل په ډیره ښه طریقه سره باطل سو)

معلومات اومسئلي: دانبیاء علیهم السلام واقعات دنصیحت اوعبرت دپاره بیان سوی وه، اوس بیا دتوحید دائبات اودشرك دابطال اصلی مضمون بیانیږی اودلته دشرك دیوخاص قسم بیان دی، دعربو دکفارو داعقیده وه چی ملائکی دالله ﷻ لونی دی او دپیریانو دسردارانو لونی دملائکو مینده دی، په قول دعلامه واحدی رحمه الله داعقیده دقریشو څخه علاوه په جُهینه، بنوسلمه، بنو خزاعه اوبنو ملیح کی هم رائجه وه (تفسیر کبیر ص۱۱۲ ج۲)

فَاسْتَفْتِهِمْ تردی قوله: اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ پوری، په دی ایتونوکی دعربو دکفارو ددی عقیدی دتردید دپاره دلیلونه پیش سوی دی چی خلاصه یی دا ده چی اول خو ستاسی داعقیده په خپله ستاسی دعرف اورسم اورواج په لحاظ سره بالکل غلطه ده، په دی وجه چی تاسی لونی باعث دشرم ګڼی، اوس چی کوم شی ستاسی دځان دپاره شرم اوعار دی، هغه دالله ﷻ دپاره څنګه ثابتیدی سی، بیاتاسی چی کومی ملائکی دالله ﷻ لونی ګڼی ددی ستاسی دپاره څه دلیل دی؟ دیوی دعوی دثابتولو دپاره دری قسمه دلیلونه کیدی سی، یوه مشاهده، دوهم نقلی دلیل، یعنی دیو داسی ذات قول چی رښتنوالی یی منل سوی وی او دریم عقلی دلیل، ترڅو پوری چی دمشاهدی تعلق دی، ظاهره ده چی تاسی الله ﷻ دملائکو دپیدا کولوپه وخت کی خولیدلی هم نه دی، په کومو سره چی دملائکو ښځوالی معلومیدی سی لهذا دمشاهدی هیڅ دلیل خوستاسی سره نسته، دَ، اَمْ خَلَقْنَا الْمَلٰٓئِكَةَ اِنٰثًا وَّهُمْ شٰهِدُوْنَ: دا مطلب دی) اوس پاته سو، نقلی دلیل هغه هم ستاسی سره نسته، په دی وجه چی قول هم دهغو خلګو معتبردی دکومو رښتنوالی چی منل سوی وی ددی برخلاف کوم خلګ چی ددی عقیدی قائل دی، هغوی درواغجنان خلګ دی، دهغوی خبره هیڅ حُجّت کیدی نه سی، د، اَلَآ اِنَّهُمْ مِّنْ اِفْكِهِمْ لَيَقُوْلُوْنَ (دامطلب دی) پاته سو عقلی دلیل، نوهغه هم ستاسی تائیدنه کوی، حُکه چی په خپله ستاسی دخیال مطابق لونی دزامنو په مقابله کی کومه مرتبه لری اوس کوم ذات چی دټولو کائناتو څخه افضل دی، هغه دځان څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

دکمی رتبی والا شی دځان دپاره ځنګه خوښوولی سی ؟ د ، اَصْطَفَى الْبَنَاتِ عَلَى الْبَنِينَ : دا مطلب دی، اوس صرف یوصورت پاته کیږی چی تاسی ته یو آسمانی کتاب راغلی وی اوپه هغه کی په ذریعه دوحی تاسی ته ددی عقیدې تعلیم درکړی وی ، نوکه داسی وی نو وښیاست هغه وحی اوهغه کتاب کوم ځای دی؟ د ، اَمْ لَكُمْ سُلْطَانٌ مُبِينٌ فَأْتُوا بِكِتَابِكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ : دا مطلب دی.

﴿ عناد کوونکو ته الزامي جواب زیات مناسب دی ﴾

ددی ایتونو څخه معلومه سوه چی کوم خلګ په عناد باندی ټینګ وی هغوی ته الزامی جواب ورکول زیات مناسب دی ، دالزامی جواب مطلب دا وی چی د دوی دعوی د دوی په یوه بله نظریه باطله کړی ، په دی کی داضروری نه ده چی هغه نظریه به مونږ ته هم مسلمه وی ، بلکه ډیرکله هغه بله نظریه هم غلطه وی لیکن دَمخالف دپوهولو دپاره کارورځخه اخستی سی ، دلته الله ﷻ د دوی دپوهولو دپاره او د دوی دعقیدی دتردید دپاره په خپله ددوی دانظریه استعمال کړي ده چی دلونو وجود باعث دننګ اوشرم دی ، ظاهره ده چی ددی دا مطلب نه دی چی دالله ﷻ په نزد هم دلونو وجود باعث دننګ دی ، نه دا مطلب دی چی که هغوی ملائکوته دخدای دلونو په ځای دخدای زامن ویلی نو دا به صحیح وای بلکه دا یو الزامی جواب دی چی مقصدیی په خپله د دوی دګمانی شیانو څخه د دوی دعقیدی تردید دی ، کنه نو ددی عقیدو حقیقی جواب هغه دی کوم چی په قرآن کریم کی ځوځایه ذکر دی ، چی الله ﷻ بی حاجته دی او هغه ته دځه اولاد نه ضرورت سته اونه دَده دلوړ شان سره دامناسب دی چی دده دی اولاد وی.

وَجَعَلُوا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا (او دوی دالله ﷻ او دپیریانو په مینځ کی نسبی تعلق مقرر کوی) ددی جملی یو تفسیر خو دا دی چی دا دعربو دمشرکانو ددی فاسدی عقیدی بیان دی چی دپیریانو دسردارانو لونی دملائکو مینډی دی ، ګویا معاذالله دپیریانو دسردارانو دلونو سره دالله ﷻ دزوجیت تعلق دی او ددی تعلق په نتیجه کی ملائکی په وجودکی راغلی دی ، چنانچی په یو تفسیری روایت کی دی چی کله دعربو مشرکانو ملائکو ته دالله ﷻ لونی وویل نوحضرت ابوبکرﷺ ورځخه پوښتنه وکړه چی مینډی یی ځوک دی؟ هغوی په جواب کی وویل چی دپیریانو دسردارانو لونی (ابن کثیر ص ۲۳ ج۴)

لیکن په دی تفصیل دا اشکال راځی چی په آیت کی دالله ﷻ اوپیریانو په مینځ کی دنسبی تعلق ذکر دی او دزوجیت تعلق نسبی نه وی.

په دی وجه یو دوهم تفسیر دلته زیات راجح معلومیږی کوم چی دَحضرت ابن عباس ﷺ ، حسن بصری اوضحاك څخه منقول دی اوهغه دا چی دځینو اهل عربو عقیده دا هم وه چی معاذ الله ابلیس دالله ﷻ ورور دی الله ﷻ خالق دخیر دی او هغه خالق دشر، دلته ددی باطلی عقیدی تردید سوی دی (ابن کثیر، قرطبی اوتفسیر کبیر)

وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ (او دپیریانو عقیده دا ده چی هغوی به ګرفتار وی) دَ، هغوی، څخه مراد داسی مشرکان هم کیدی سی ، کوم چی پیریان اوشیطانان دخدای سره برابر ګرځوی اوپه خپله پیریان هم ، په بل صورت کی مطلب دا دی چی کوم شیطانان او پیریان تاسی دالله ﷻ سره شریکوی ، هغه په خپله په ښه شان سره پوه دی چی په اخرت کی به د دوی حشر ډیر ناکاره وی ، مثلاً ابلیس چی

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه دخپل بد انجام څخه ښه خبر دی ، اوس چې په خپله هغه دایقین لری چې زه په عذاب کې مبتلا کیدونکی یم ، هغه دخدای سره برابرول څومره حماقت دی .

وَاِنْ كَانُوْا لَيَقُوْلُوْنَ ﴿۱۶۷﴾ لَوْ اَنَّ عِنْدَنَا ذِكْرًا مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۶۸﴾ لَكُنَّا

او دوی به ویل ، که مونږ سره څه احوال وی دمخکنیو خلقو ، نو مونږ

عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۱۶۹﴾ فَكَفَرُوْا بِهٖ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۷۰﴾ وَلَقَدْ

به وای بندګان دالله ﷻ مخلصان ، نو ددې څخه منکر سول ، پس ژر ده چې پوه به سی ، او مخ ته

سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۷۱﴾ اِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُوْرُوْنَ ﴿۱۷۲﴾

سوی دی زمونږ حکم دخپلو بندګانو په حق کې کوم چې رسولان دی ، بیشکه د دوی به مدد کول کیږي ،

وَاِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿۱۷۳﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۱۷۴﴾ وَّاَبْصِرْهُمْ

اوزمونږ لښکرچې دی بیشکه هغه غالب دی ، نو ته واپس سه د دوی څخه تر یو وخته پورې ، او دوی ته ګوره

فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۷۵﴾ اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۱۷۶﴾ فَاِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ

نو ژر ده چې دوی به ووینی ، آیا زمونږ عذاب دوی ژر غواړی ، بیا هرکله چې نازل سی په میدان د دوی

فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۱۷۷﴾ وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۱۷۸﴾ وَّاَبْصِرْ

نو بد به وی سهار دبیرول سوو ، او مخ واړوه د دوی څخه تر یو وخته پورې ، او ګوره ژر ده

فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۷۹﴾

چې دوی به ووینی

لنډتفسیر: اودی خلګو (یعنی دعربو کفارو دنبی کریم ﷺ دبعثت څخه مخکې) به ویل چې که مونږته څه نصیحت (کتاب) دمخکنیو خلګو (دکتابونو) په شان راغی (یعنی لکه یهودو اونصاراؤ ته چې رسولان اوکتابونه راغلی دی ، که زمونږ دپاره داسی وسی) نو مونږ به دالله ﷻ خاص بندګان وای (یعنی ددی کتاب تصدیق اوپه دی به موعمل کولی ، د دوی په شان تکذیب او مخالفت به مونه کولی) بیا (کله چې دا دنصیحت کتاب درسول په ذریعه دوی ته ورسیدی نو) دی خلګو انکار ورڅخه وکی (اوخپل هغه عهدیی مات کی) نو (خیر) اوس به دوی ته (ددی انجام) معلوم سی (چنانچې دمرګ سره به ورته دګذر

Maktaba Tul Ishaat.com

انجام مخ ته راسی اوځینی سزاګانی ورته دمرګ څخه مخکی هم ورکول سوی) او (مخ ته حضور ﷺ ته تسلی ده چې که څه هم دا وخت دی مخالفینو ته څه قدر شوکت حاصل دی ، لیکن دا دځو ورځو دی ځکه چې) زمونږ دخاصو بندګانو یعنی پیغمبرانو دپاره زمونږ دا قول دمخکی څخه (یعنی په لوح محفوظ کې) مقرر سوی دی چې بی شکه هغه به غالب سی او (زمونږ خوعامه قاعده ده چې) زمونږ لښکر غالب وی (کوم چې درسولانو تابعدارانو ته هم شامل دی ، نو کله چې دا خبره ده چې ته غالب راتلونکی یې) نو ته تسلی ساته او) تر لږ زمانی پوری (صبر وکړه او) د دوی (دازار رسولو اومخالفت) خیال مه کوه او (لږ) دوی ته ګوره (یعنی د دوی دحالت لږ څه انتظار وکړه) نو ډیر ژربه دوی هم ووینی (ددی هم هغه مطلب دی کوم چې دَ، فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ : وو چې دوی ته به دَمرګ څخه وروسته هم او دَمرګ څخه مخکی هم دالله ﷻ دطرف څخه سزا ورسیږی په دی اخطار سره هغو ویلی سوی او اکثره به یې ویل چې داسی به کله وی؟ نو ددی په جواب کی ارشاد فرمایی چې) ایا زمونږ دَعذاب خواهش کوی نو هغه (عذاب) به د دوی مخامخ راسی ، نازل به سی ، نو هغه ورځ به دهغو خلګو کوم چې (دمخکی څخه) بیرول سوی وه ، ډیره بده وی (چې هغه عذاب به نه سی لیری کولی) او (کله چې دا خبره ده چې په دی خلګو باندی عذاب واقع کیدونکی دی نو) ته (تسلی ساته او) تر لږ زمانی پوری (صبر کوه او) د دوی (دَمخالفت اوازار رسولو) خیال مه کوه او (لږ د دوی حالت ته) ګوره (یعنی انتظار کوه) نو ډیر ژر به دوی هم ووینی (یعنی ستا خو زما په وینا یقین سته ، په سترګو چې ووینی نو د دوی به هم یقین راسی)

معلومات اومسئلې: داسلام بنیادی عقیدی په دلیلونو اوشواهدو سره دثابتولوڅخه وروسته په دی ایتونو کی دکفارو دعناد ذکر سوی دی چې دی خلګو به دنبی کریم ﷺ دبعثت څخه مخکی ارزو کوله چې که دالله ﷻ یو پیغمبر راسی نو دوی به یې پیروی وکی ، لیکن کله چې تاسی تشریف راوړی نو دوی دضد اوعناد طریقه اختیار کړي ده ، ددی څخه وروسته نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکول سوي ده چې ته ددی خلګو په ازار رسولو مه کیږه ، ډیر ژرهغه وخت راتلونکی دی چې ته به غالب اوفتح یاب سی او دوی به مغلوب او نښانه دعذاب وی ، په اخرت کی خو به ددی مکمله مظاهره وی ، په دنیا کی هم الله ﷻ ونبوله چې دبدر دغزا څخه واخله دمکی ترفتح پوری په جهادکی الله ﷻ خپل رسول ﷺ فتحمند کی او مخالفین یې ذلیل او خوار سوه .

﴿ دالله والاوو دغلبې مطلب ﴾

د: وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا: څخه تردی قول وَإِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغَالِبُوْنَ : پوری ، ددی ایتونو مطلب دا دی چې مونږ دا خبره دَمخکی څخه ثابته کړي ده چې زمونږ خاص بندګان یعنی پیغمبران به غالب وی ، په دی دا اشکال کیدی سی چې څینو پیغمبرانو ته خو په دنیا کی غلبه نه ده حاصله سوی ، ددی جواب دا دی ، چې په معلومو پیغمبرانو کی اکثریت خو دداسی پیغمبرانو دی ، دکومو قومونو چې دوی درواغجن کړل او په عذاب کی مبتلا سول او دا حضرات دعذاب څخه محفوظ وساتل سول ، صرف څوانبیاء داسی دی کومو ته چې په دنیا کی تر اخر وخته پوری په ظاهره په مادی طور سره غلبه نه ده ورکول سوی لیکن ددلیل او حجت په میدان کی همیشه هغوی سربلندسوی دی او نظریاتی فتح همیشه دوی ته

Maktaba Tul Ishaat.com

حاصله سوي ده ، البته ددی سر بلندی مادی اثار دځه خاص حکمت مثلاً ازمائش وغیره په وجه تراخره پوری وروسته سی ، لهٰذا په قول دحضرت تهانوی رحمه الله ددی مثال داسی دی ، لکه یو ذلیل رهزن چی دیو لوی حاکم افسر سره دسفر په حالت کی لوټ مار وکی لیکن هغه حاکم دخپل خدای ورکړی عالی دماغی په وجه هیڅکله ددی ذلیل رهزن خوشامندی نه کوی ، تردی چی کله هغه حاکم خپل دار الحکومت ورسیږی او دا رهزن ګرفتار کړی اوسزا ورته ورکړی په دی وجه ددغه عارضی غلبی په وجه نه دغه رهزن ته حاکم ویل کیږی اونه دی حاکم یا افسر ته محکوم ، بلکه داصل حالت په اعتبار سره دغه رهزن په دی غلبه کی هم محکوم دی اوهغه افسر په دی مغلوبیت کی هم حاکم دی ، دا خبره حضرت ابن عباس ﷺ په یولنډ اوسلیس عنوان سره تعبیر فرمایلی ده ، اِنْ لَّمْ یُنْصَرُوْا فِی الدُّنْیَا یُنْصَرُوْا فِی الْاٰخِرَةِ (بیان القرآن تفسیر سورة المائده)

لیکن دا خبره همیشه په ذهن کی ساتل په کار دی چی داغلبه برابره خبره ده که په دنیاکی وی یاپه اخرت کی یو قوم ته محض دنسل په خصوصیاتو یا ددین سره محضی دنوم په تعلق سره نه حاصلیږی ، بلکه دا هغه وخت کیږی کله چی انسان خپل ځان دَ، الله دلښکر، یو فرد جوړ کی ، چی ددی لازمی مطلب دا دی چی هغه دژوندپه هره شعبه کی دالله ﷻ اطاعت دخپل ژوند مقصد جوړ کړی وی ، دلته، جُنْدَنَا، زمونږ لښکر، لفظ ښیی چی کوم سړی اسلام قبول کی ، ده ته به خپل ټول ژوند دنفس اوشیطان دطاقتونو سره په جنګ کی دخرڅ کولو معاهده کول وی او دده غلبه برابره خبره ده که مادی وی یا اخلاقی ، په دنیا کی وی یاپه اخرت کی په دی شرط موقوفه ده .

فَاِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِیْنَ (نوهرکله چی هغه عذاب دهغوی په غولی باندی نازل سی نوکوم خلک چی مخکی بیرول سوی وه دهغو سهار به ډیر بدوی) دَسَاحَةٌ لفظی معنی غولی دی اونَزَلَ بِسَاحَتِهٖ (د دوی په صحن کی رانازل سو) عربی محاوره ده ، چی مطلب یی دیو افت مخ ته را تلل دی او دسهار دوخت تخصیص دا دی چی په عربو کی به ددښمن حمله عموماً په دی وخت کی وه ، دنبی کریم ﷺ معمول هم دا وو چی دیو دښمن مخکی ته کله به دَشپی په وخت کی ورسیدی نو دحملی دپاره به یی ترسهاره پوری انتظار کوی (مظهری) په روایتونوکی دی چی کله نبی کریم ﷺ دخیبر په قلعه باندی دسهار په وخت کی حمله وکړه نو ارشاد یی وفرمایی ، اَللّٰهُ اَکْبَرُ، خَرِبَتْ خَیْبَرُ، اِنَّا اِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِیْنَ : الله اکبر! خیبر وران سو ، بیشکه هرکله چی مونږ دیوقوم په غولی باندی راکښته سو نوکوم خلک چی مخکی بیرول سوی وی دهغوی سهار ډیر بد وی .

سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا یَصِفُوْنَ ﴿۱۸۰﴾ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِیْنَ ﴿۱۸۱﴾

پاک ذات دی ستادرب چی پروردګاردی عزت والاپاک دی دهغو خبروڅخه چی هغوی وایی اوسلام دی په رسولانو

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۸۲﴾

او ټول ثنا صفت الله لره دی چی رب دی دټول جهان

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډه تفسیر: ستارب چی لوی عظمت والادی دهغو خبروڅخه پاك دی کوم چی دا (کافران) بیانوی (نو خدای ددغو خبرو څخه پاك مقرر کړه) او (پیغمبران واجب الاتباع وګنه ځکه چی مونږ دهغوی په شان کی دا وایو چی) سلام دی وی پرپیغمبرانو باندی او (خدای دشرك وغیره څخه دپاك ګڼلو سره سره دټولو کمالاتو جامع یی هم ګنه ځکه چی) ټول تعریفونه الله ﷻ ته دی کوم چی دټول عالم پروردګار (اومالك) دی

معلومات اومسئلې: په دی ایتونو باندی یی سورة صٓ ختم کړی دی اوحقیقت دا دی چی ددی ښائسته خاتمی دتشریح دپاره یولوی دفتر په کار دی ، لنډه دا چی الله ﷻ په دی درو لنډو ایتونوکی دسورة ټول مضامین ځای کړی دی ، دسورة ابتداء دتوحید دبیان څخه سوی وه چی خلاصه یی دا وه چی مشرکان کومی کومی خبری دالله ﷻ طرف ته منسوب کوی باری تعالی ددی ټولوڅخه پاك دی، چنانچی په اولنی آیت کی دی اوږد مضمون طرف ته اشاره ده ، ددی څخه وروسته په سورة کی دانبیاء علیهم السلام واقعات بیان سوی وه ، چنانچی په دوهم آیت کی د دوی طرف ته اشاره ده ، ددی څخه وروسته یی ښکاره ښکاره کفارو دعقیدو اوشبهو او اعتراضونو عقلی اونقلی تردید وکی او دایی ښوولە چی غلبه په اخرکی اهل حقوته حاصله وی ، دا خبری چی کوم سړی هم دعقل اوبصیرت په نظر سره وایی ، هغه به اخر دالله ﷻ په حمد اوثنا مجبوره وی ، چنانچی په دی حمد اوثنایی سورة ختم کړی دی.

دارنګه په دی ایتونوکی داسلام دبنیادی عقیدوتوحیداورسالت صراحةً اوداخرت ضمناً ذکرهم راغلی دی چی اثبات یی دسورة اصل مقصد وو او ددی سره سره دا تعلیم هم ورکول سوی دی چی دیو مومن کار دا دی چی دی دخپل هرمضمون هری خطبی اوهر مجلس اختتام دالله ﷻ په لویی بیانولو او دده په حمد اوثنا باندی کوی.

چنانچی علامه قرطبی رحمه الله دلته په خپل سند سره دحضرت ابوسعید خدری ﷺ څخه دا قول نقل کړی دی چی ما دنبی کریم ﷺ څخه څو واره واوریدل چی دوی به دلمانځه ختمولو څخه وروسته دا ایتونه ویل سُبْحَانَ رَبِّكَ الخ (قرطبی)

دارنګه په ډیرو تفاسیرو کی دامام بغوی رحمه الله په حواله سره دحضرت علی ﷺ دا قول نقل دی چی ، کوم سړی دا غواړی چی دقیامت په ورځ ده ته په پوره پیمانه سره اجر ورکول سی ، ده ته په کار دی چی دی دخپل هر مجلس په اخر کی دا وایی ، سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ : تراخره پوی ، دا قول ابن ابی حاتم دحضرت شعبی په روایت سره مرفوعاً هم نقل کړی دی (تفسیر ابن کثیر)

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ * وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ * وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ .

بحمد الله تعالی نن په تاریخ ۱۷ محرم الحرام سنة ۱۳۹۲هـ په شپه دیکشنبی په وخت دماخستن دسورة صٓ تفسیر مکمل سو.

(سورة صٓ)

صٓ وَالْقُرْآنِ ذِي الذِّكْرِ ۝ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ۝ ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ لَآيَاتٍ وَتَحْذِيرٍ وَرُكُوعَاتُهَا

سورة ص په مکه کی نازل سو او په دی کی اته اتیا (۸۸) آیتونه اوپنځه (۵) رکوع ګانی دی.

شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چی بی اندازی مهربانه نهایت رحم والا دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

صٓ وَالْقُرْاٰنِ ذِی الذِّكْرِ ۝۱ بَلِ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا فِیْ عِزَّةٍ وَّشِقَاقٍ ۝۲

قسم دی په قرآن پوه کوونکی ، بلکه کوم خلق چې منکر دی په غرونو کې او مخالفت کې دی

كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ فَنَادَوْا وَّلَاتَ حِیْنَ مَنَاصٍ ۝۳ وَعَجِبُوْٓا

دیرې هلاکې کړې دی مونږ دوی څخه مخکې پیړۍ چیغې یې وهلې اودغه وخت نه وو خلاصی ، اوتعجب کوی

اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ وَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ۝۴

په دی خبره چې راغی دوی ته ویروونکی د دوی څخه او وایی منکران چې دا جادو دی دروغ ،

اَجَعَلَ الْاٰلِهَةَ اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ اِنَّ هٰذَا لَشَیْءٌ عُجَابٌ ۝۵ وَانْطَلَقَ الْمَلَاُ

آیا دی ګرځوی دیر خدایان یو خدای ؟ تحقیق دا ده دتعجب خبره ، او روان سول سرداران

مِنْهُمْ اَنِ امْشُوْا وَاصْبِرُوْا عَلٰٓى اٰلِهَتِكُمْ ۚ اِنَّ هٰذَا لَشَیْءٌ یُّرَادُ ۝۶

د دوی چې څې او صبر سی په خپلو خدایانو باندی بیشکه په دی خبره کې څه غرض دی ،

مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِی الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ ۚ اِنْ هٰذَآ اِلَّا اخْتِلَاقٌ ۝۷ ءَاُنْزِلَ

دا نه دی اوریدلی مونږ په مخکې دین کې ، نه ده دا مګر جوړه سوی خبره ده ، آیا په ده نازل

عَلَیْهِ الذِّكْرُ مِنْ بَیْنِنَا ؕ بَلْ هُمْ فِیْ شَكٍّ مِّنْ ذِكْرِیْ ۚ بَلْ لَّمَّا

سو نصیحت په مونږ تولو کې ، نه ده داسی بلکه دوی په شك کې دی دنصیحت زمانه ، بلکه دوی

یَذُوْقُوْا عَذَابِ ۝۸ اَمْ عِنْدَهُمْ خَزَآئِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ الْعَزِیْزِ الْوَهَّابِ ۝۹

لا نه دی چښلی ، زماعذاب آیا د دوی سره دی خزانی ستا د رب دمهربانی چې زبردست بخښنی والادی

اَمْ لَهُمْ مُّلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَیْنَهُمَا ۖ فَلْیَرْتَقُوْا فِی الْاَسْبَابِ ۝۱۰

یادد دوی حکومت دی په اسمانونو اوپه مځکه کې اوڅه چې ددوی په مینځ کې دی،نو دی خیژی اسمان ته په رسیږ

جُنْدٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُوْمٌ مِّنَ الْاَحْزَابِ ۝۱۱ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ

دیر لښکرونه هلته هلاك سول ددغو تولو لښکرونه ، درواغجن کړی دی د دوی څخه مخکې قوم دنوح

وَعَادٌ وَّفِرْعَوْنُ ذُو الْاَوْتَادِ ﴿۱۲﴾ وَثَمُوْدُ وَقَوْمُ لُوْطٍ وَّاَصْحٰبُ لْئَيْكَةِ

او عاد او فرعن میخونو والا ، اوثمودیانو او دلوط ﷺ قوم او دبنوخلقو

اُولٰٓئِكَ الْاَحْزَابُ ﴿۱۳﴾ اِنْ كُلٌّ اِلَّا كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ ﴿۱۴﴾

هغه لوی لوی فوجونه ، دا چی څومره وو ټولو درواغجن کړل رسولان ، بیاپر ثابت سو زماعذاب

وَمَا يَنْظُرُ هٰٓؤُلَآءِ اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً مَّا لَهَا مِنْ فَوَاقٍ ﴿۱۵﴾ وَقَالُوْا

او انتظار نه کوی دا خلق مگر دیوی چیغی چی په مینځ کی به یی ساه وانخلی ، او وایی

رَبَّنَا عَجِّلْ لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۱۶﴾

ای ربه! ژر را کړی مونږ ته چوتی مخکې د حساب د ورځی څخه .

لغات تفسیر: ص (ددی معنی خو الله ﷻ ته معلومه ده) قسم دی په قرآن چی دنصیحت څخه ډك دی (چی کفار ستا درسالت څخه په انکار کولو کی چی څه وایی هغه صحیح نه دی) بلکه (په خپله) داکفار په تعصب او (د حق څخه) په مخالفت کی (پراته) دی (او ددی تعصب اومخالفت تاوان به یوه ورځ په دوی راځی لکه چی) د دوی څخه مخکی ډیری پیړی مونږ (په عذاب سره هلاکی کړی دی نو) هغوی (دهلاکت په وخت کی) ډیری چیغی وهلی (او ډیر شور او زوږ یی وکی) او (هغه وخت په شور اوزوږ څه کیږی څکه چی) دغه وخت دخلاصون نه وو (په دی وجه چی عذاب کله راسی نو بیا توبه نه قبلیږی) او دی کفارو (دقریشو) په دی خبره تعجب وکی چی دوی ته د دوی څخه (یعنی چی د دوی په شان بشر دی) یو (پیغمبر) بیرونکی راغی (دتعجب وجه دا وه چی دوی په خپل جهالت سره بشریت دنبوت منافی ګڼی) او (درسالت په دی انکار کی دی حد ته ورسیدل چی ستا دمعجزو اونبوت ددعوی په باره کی) وویل چی (نعوذ بالله) دا سړی (دخوارق عادت په معامله کی) ساحر او (دنبوت ددعوی په معامله کی) درواغجن دی (او) ایا (داسړی رښتنی کیدی سی کله چی) ده د دومره معبودانو په ځای یو معبود پاته کی (دنورو ټولو معبودانو څخه یی نفی وکړه) واقعی دا ډیره دتعجب خبره ده (چی وجه یی ډیره ژرراځی) او (دتوحید مضمون چی یی واوریدی نو) په دی کفارو کی سردارانو (دمجلس څخه پورته سول اوخلګو ته یی) دا وویل روان سول چی (ددی ځای څخه) څی اودخپلو معبودانو (په عبادت) قائم اوسیږی (څکه چی اول خو) دا (توحید دعوت) دیو مطلب خبره ده (یعنی په دی بانه سره دی معاذ الله ریاست غواړی، دوهم دتوحید دعوی هم باطله اوعجیبه ده څکه چی) مونږ خودا خبره (په خپل تیرمذهب) کی اوریدلی نه ده وی که نه ری دا (ددی سړی) جوړه کړی خبره ده (دتیرو مذهبونو مطلب دا دی چی په دنیاکی ددیرو طریقو خلګ تیرسوی دی ، دټولو څخه وروسته مونږ راغلو اوپه حق یو نو مونږ ددی طریقی دمشرانو څخه هیڅکله

Maktaba Tul Ishaat.com

داخبره نه ده اوریدلی اودا سړی کم چی دنبوت دعویدار دی اوتوحید ته تعلیم الهی وایی، پس اول خونبوت دبشریت منافی دی، دوهم که ددی څخه قطع نظر وسی نو، ایا په مونږ تولوکی په دی سړی دالله ﷻ کلام نازل سو؟ (ده ته څه فوقیت اوفضیلت حاصل وو چی نبوت ورته ورکول سو، بلکه که په رئیس باندی نازل سوی وای نوبالک نه وو، مخ ته دالله ﷻ ارشاد دی چی ددوی داوینا چی پرده ولی نازل سو؟ پریږو سردار ولی نازل نه سو؟ په دې وجه سره نه ده چی که داسی سوی وای نو تابعداری به یی کړی وای بلکه (اصل خبره دا ده چی) داخلګ (په خپله) زما دوحی دطرف څخه په شك (یعنی انکارکی) دی (یعنی دنبوت دمسئلی څخه منکر دی خاصکر دبشر نبی منلوته تیارنه دی اودا انکار هم څه ددی دپاره نه دی چی د دوی سره څه دلیل سته) بلکه (ددی اصل وجه دا ده چی) دوی تر اوسه پوری زما دعذاب خوند ونه کتی (کنه نو دتولو به عقل پرځای سوی وای، مخ ته په بل طرزسره جواب دی چی) ایا ددی خلګو سره ستا درب زبردست فیاض درحمت خزانی دی (چی په دی کی نبوت هم داخل دی چی چا لره یی غواړی ورکوی یی چا لره چی غواړی نه یی ورکوی، یعنی که درحمت تولی خزانی ددوی په قبضه کی وای نوبیابه ددی وینا گنجائش وای چی مونږ بشرته نبوت نه دی ورکړی، بیادی نبی څنګه سو؟) یا (اوکه تولی خزانی یی په قبضه کی نسته نو) ایا دوی ته دآسمانونو اومځکی اوځه شیان چی ددوی په مینځ کی دی، ددی (تولو) اختیار حاصل دی (چی که دومره اختیاریی وای نوبیابه هم ددی وینا گنجائش وای چی دوی دآسمانونو اومځکی دمصلحتونو څخه خبردار دی، په دی وجه چا ته چی غواړی نبوت ورکول په کار دی اواوس مخ ته ددوی دعاجزه کولو په طور باندی ارشاد دی چی که دوی ته پردی باندی اختیارنسته) نودوی ته په کاردی چی ځینی ولګوی (آسمان ته) وخیژی (اوظاهره ده چی دوی پردی باندی قادرنه دی، پس کله چی ددوی دومره هم قدرت نسته نو دآسمانونو اومځکی په معلوماتو اوپه دوی به ورته څه اختیار وی؟ بیا دوی ته ددا سی بی سر اوپښو خبرو کولوځه حق دی؟ مګر ای محمد ﷺ ته د دوی دمخالفت فکرمه کوه څکه چی) په دی مقام (یعنی مکه کی) ددی خلګو دغه شان یولښکردی منجمله (دانبیاؤ دمخالفینو) دډلو کوم چی (ډیر ژر) به شکست وخوری (چنانچه دبدرپه غزاکی داپیش گویی پوره سوه) اود دوی څخه مخکی هم قوم دنوح او عاد اوفرعون چی (حکومت) یی میخونه وهلی وه اوثمودیانو اوقوم دلوط اوخاوندانو دبنو (چی قصی یی څوځایه راغلی دی تولو) تکذیب کړی وه (او) هغه ډله (چی لوړیی په، مِنَ الْاَحْزَاب، کی ذکر راغلی دی) داخلګ دی، دی تولو صرف رسولان درواغجن کړی وه (لکه دقریشو داکفار چی تا درواغجن کوی) پس زماعذاب (په هغوی) واقع سو (نوکله چی جرم مشترك دی نو دعذاب داشتراك څخه دوی ولی مطمئن دی؟) اودا خلګ (کوم چی په تکذیب اصرار کوی نو) پس دیوی زور دچیغی (یعنی دوهمی شپیلی) منتظردی چی دساه اخیستلو گنجائش به په کی نه وی (ددی څخه مراد قیامت دی) اودا خلګ (چی دقیامت عذاب واوری، درسول دتکذیب اومسخره په طور) وایی چی ای زمونږ ربه! (په اخرت کی چی دکافرانودپاره کوم عذاب وی دهغه څخه) زمونږحصه مونږ ته دورځی دحساب څخه مخکی راکړی (مطلب دا چی قیامت نسته اوکه سته نو زمونږ اوس عذاب په کار دی، هرکله چی عذاب نه راځی نومعلومه سوه چی قیامت نه راځی، نعوذ بالله!)

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلې، شان نزول: ددی سورة دابتدایی ایتونو پس منظر دا دی چی دَنبی کریم ﷺ اکا ابوطالب دنه مسلمانیدو باوجود دده ﷺ پوره ساتنه کول ، هرکله چی هغه په یوه ناجوړی کی اخته سو نودقریشو لویو لویو سردارانو دمشوری یومجلس منعقدکی چی په کی ابوجهل، عاص بن وائل، اسود بن مطلب، اسودبن عبدیغوث اونور سرداران شریك سول، مشوره دا وسوه چی ابوطالب ناجوړی دی که هغه ددی دنیا څخه ولاړ سی او دده وروسته مونږ دمحمد ﷺ دده دنوی دین څخه دمنع کولو دپاره څه سخت اقدام وکړو دعربو خلګ به مونږ ته داطعن (پیغور) راکوی چی ترکومه پوری ابوطالب ژوندی وو ، ترهغه وخته پوری دی خلګو محمد ﷺ ته هیڅ نه سوه ویلی، اوکله چی دهغه انتقال وسو نودوی هغه نښانه کی په دی وجه مونږ ته په کار دی چی مونږ دابوطالب په ژوندکی دده سره دمحمد ﷺ دمعاملی تصفیه وکړو چی هغه زمونږ معبودانوته بد ویل پریږدی .

چنانچی دا خلګ ابوطالب ته راغلل اوده ته یی وویل چی ستا وراره زمونږ معبودانو ته بدی ردی وایی ، ته دانصاف څخه کار واخله اوهغه ته ووایه چی هغه دکوم خدای غواړی عبادت دی کوی، لیکن زمونږ معبودانو ته دی څه نه وایی ، حال دا دی چی نبی کریم ﷺ په خپله هم د دوی بتانوته ددی څخه ماسواڅه نه ویل چی بی حسه اوبی جانه دی ، نه ستاسی خالقان دی ، نه رازقان اونه ستاسی څه نفع اونقصان د دوی په قبضه کی دی .

ابوطالب نبی کریم ﷺ مجلس ته راوغوښتی او ده ته یی وویل چی وراره ! دا خلګ ستاڅخه شکایت کوی چی ته د دوی معبودانو ته بد وایی ، دوی په خپل مذهب پریږده اوته دخپل خدای عبادت کوه داسی خبری دقریشو خلګو هم وکړی .

اخرنبی کریم ﷺ ارشاد وفرمایی چی ، اکا ایازه دوی ته دهغه شی دعوت ورنه کړم په کوم کی چی د دوی بهتری ده ؟ ابوطالب وویل هغه څه شی دی؟ دوی وفرمایل، زه دوی ته یوه داسی کلمه ویل غواړم دکوم په ذریعه چی به ټول عرب د دوی په مخکی سرکښته کړی او دوی دپوره عجم مالکان سی ، په دی ابو جهل وویل، ووایه هغه کلمه څه ده ؟ ستاپه پلارقسم دی ، چی مونږ یوه کلمه نه لسو کلمو ویلوته تیار یو، په دی باندی نبی کریم ﷺ وفرمایل بس ، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ: ووایاست، چی دایی واوریدل نوټولو خلګو جامی وخُندلی ولاړ سول اوویی ویل، ایا مونږ ټول معبودان پریږدو ، صرف یواختیار کړو ؟ داخو ډیره عجیبه خبره ده، په دی موقع دسورة ص دا ایتونه نازل سول (ابن کثیر ص۲۷، ۲۸، ج۴)

وَانْطَلَقَ الْمَلَأُ مِنْهُمْ (او ددی کفارو سردارانو دا وویل روان سول الخ په دی کی د ذکر سوی واقعی طرف ته اشاره ده چی دتوحید دعوت یی واوریدی نو هغوی دمجلس څخه پورته سول اوروان سول .

وَفِرْعَوْنَ ذُو الْأَوْتَادِ: ددی لفظی معنی ده ، میخونو والافرعون اوددی په تفسیرکی دمفسرینو مختلف اقوال دی ، حُسینی حضرات فرمایی چی په دی سره دده دسلطنت استحکام طرف ته اشاره ده ، په دی وجه حضرت تهانوی رحمه الله ددی ترجمه داکړې ده چی ، دکوم میخونه ښخ سوی وه، اوحُسینی حضرات فرمایی چی هغه به خلګوته داسی سزا ورکوله چی پرمخی به یی کشوی، دده پرځلورو لاسونو او پښو به یی میخونه ووهل اوماران لړمان به یی ورایله کړه اوحُسینو ویلی دی چی هغه به په رسی اومیخونو یوخاص

Maktaba Tul Ishaat.com

لوبه کوله اوځینو ویلی دی چی دمیخونو، څخه مراد ابادی دی اوده لویی مضبوطی ابادی جوړی کړی وی (قرطبی) واللہ سبحانه تعالی اعلم

أُولَئِكَ الْأَحْزَابُ : ددی یوتفسیر خو دا دی چی دا جمله د، مَهْزُومٌ مِّنَ الْأَحْزَابُ : بیان دی، یعنی دکومو ډلو طرف ته چی په دی آیت کی اشاره سوې ده هغه دا ده، حضرت تهانوی رحمه الله ددی مطابق تفسیر کړی دی لیکن نورو مفسرینو ددی معنی دا بنوولی ده چی، ډلی هغه وی، یعنی داصل طاقت اوقوت مالکان قوم دنوح علیه السلام او عاد اوثمود وغیره قومونه وه، دمکی دمشرکانو دهغو په مقابله کی هیڅ حیثیت نسته، کله چی هغه خلګ دعذاب الهی څخه محفوظ نه سول نو د دوی څه هستی ده؟ (قرطبی)

مَا لَهَا مِنْ فَوَاقٍ : دَ، فَوَاقٌ، په عربی کی څو معانیوی راځی، یوه خو فواق، هغه درمیانی وقفی ته وایی په کومه کی چی یو وار دشیدو لوشلو څخه وروسته په دوهم وار په غولانخه کی شیدی راسی، دارنګه ددی معنی، راحت اوارام، هم ده، په هر صورت مطلب دا دی چی دحضرت اسرافیل علیه السلام شپیلی به داسی مسلسل وی چی څه وقفه به په کی نه وی (قرطبی)

عَجِّلْ لَّنَا قِطَّنَا، قِطٌّ : په اصل کی هغه لاسلیك ته ویل کیږی دکوم په ذریعه چی چاته دانعام ورکولو وعده سوی وی، بیا دالفظ مطلق دَ، حصی، په معنی کی هم استعمالیدل شروع سول، دلته دا معنی مراده ده چی، داخرت دجزا اوسزا کومه حصه چی مونږ ته ورکونکی ده هغه دلته راکړه.

اِصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوٗدَ ذَا الْاَيْدِ ۚ اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ﴿۱۷﴾ اِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهٗ

ته صبر کوه په هغه چی دا خلق یی وایی اویاد کړه زمونږ بنده داود قوت والا هغه وو رجوع کوونکی مونږ تابع کړل غرونه ددده سره.

يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْاِشْرَاقِ ﴿۱۸﴾ وَالطَّيْرَ مَحْشُوْرَةً ؕ كُلٌّ لَّهٗۤ اَوَّابٌ ﴿۱۹﴾

چی پاکی به یی ویل په مابنام او سهار، او الوتونکی مخلوق جمع سو، ټولو به ده ته رجوع کوله

وَشَدَدْنَا مُلْكَهٗ وَاٰتَيْنٰهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ ﴿۲۰﴾

او قوت ورکی مونږ ددده حکومت ته او ورکی مونږ ده ته تدبیر او دفیصلی خبره.

لنډتفسیر: ته ددی خلګو په خبرو صبر کوه او زمونږ بنده داوډ علیه السلام یادکړه کوم چی (په عبادت کی چی په دی کی صبر هم دا خل دی) لوی قوت (اوهمت) والاوو (او) هغه (دخدای طرف ته) ډیر رجوع کوونکی ود (اومونږ ده ته دا نعمتونه ورکړی وه یو دا چی) مونږ غرونو ته حکم کړی وو چی دده سره (شریك سی) مابنام اوسهار (چی دحضرت داود علیه السلام دتسبیح دا وختونه وه) تسبیح کوئ او (دغه ډول) الوتونکو مرغانو ته هم (دا حکم ورکړی وو) کوم چی به (دتسبیح په وخت ده ته) جمع کیدل (او دا غرونه او مرغان وغیره) به ټول دده (دتسبیح) په وجه په ذکر کی مشغول وه او (دوهم نعمت دا چی) مونږ ددده حکومت ته نهایت قوت ورکړی وو او (دریم نعمت دا چی) مونږ ده ته حکمت (یعنی نبوت) اوفیصله کوونکی تقریر

Maktaba Tul Ishaat.com

(چې نهایت واضح اوجامع وو) ورکړی وو .

معلومات اومسئلې: دکفارو په درواغجن کولو اومسخرو چې به نبی کریم ﷺ ته کومه صدمه رسیده دهغه دلیری کولو دتسلی دپاره عموماً الله ﷻ دتیرو انبیاؤ علیهم السلام واقعات اورولی دی ، چنانچې دلته یې هم دوی ته دصبر تلقین وفرمایی ، دځینو انبیاؤ علیهم السلام واقعات یې ورته بیان کړی چې په دوی کی اوله واقعه دحضرت داود علیه السلام ده .

وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوُودَ ذَا الْأَيْدِ (اویاد کړه زمونږ بنده داود (چې خاوند دطاقت وو) تقریباً ټولومفسرینو ددی مطلب دا بیان کړی دی چې ده به په عبادت کی دلوی قوت اوهمت ثبوت ورکوی ، په دی وجه ددی څخه وروسته دا جمله ده چې، اِنَّهُ اَوَّابٌ (بیشکه هغه دالله ﷻ طرف ته ډیر رجوع کوونکی وو) چنانچې دصحیحینو په یوحدیث کی نبی کریم ﷺ فرمایی ، دالله ﷻ په نزد دټولو څخه ښه لمونځ ددداود علیه السلام دی ، هغه به نیمه شپه بیدیدی ، بیا به یې دریمه حصه شپه عبادت کوی ، بیابه په شپږمه حصه شپه کی بیده کیدی او یوه ورځ به یې روژه وه او یوه ورځ به یې خوړه اوچې ددښمن سره به یې مقابله وه نو تیښته به یې نه کوله اوبیشکه هغه دالله ﷻ طرف ته ډیر رجوع کوونکی وو (ابن کثیر)

دعبادت دا طریقه دټولو څخه ښه ځکه مقرره سوه چې یو خو په دی کی مشقت زیات دی ، په ټول عمر روژه نیولو سره سړی دروژی سره عادت کیږی اوځه زمانه وروسته بیاپه دی کی زیات مشقت نه پاته کیږی لیکن په یوه ورځ پریښو لو او روژه نیولو کی تکلیف مسلسل وی ، دوهم په دی طریقه سره انسان دعبادت سره سره دخپل نفس ، اهل او عیال او متعلقینو حقونه هم په ښه شان سره ادا کولی سی .

اِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهُ (په دی آیت کی دغرونو اوالوتونکو مرغانو دحضرت داود علیه السلام سره په تسبیح کی دشریکیدو ذکر دی ، ددی تشریح په سورة انبیاء اوسورة سباء کی تیره سوې ده ، دلته دا خبره د ذکر قابله ده چې دغرونو اوالوتونکو مرغانو تسبیح باری تعالی دلته داسی ذکر کړې ده چې دا په حضرت داود علیه السلام باندی یو خاص انعام وو، سوال دا دی چې دا دحضرت داود علیه السلام دپاره نعمت څنګه سو؟ دغرونو اوالوتونکو مرغانو دتسبیح څخه ورته څه خاص فائده ورسیده ؟

ددی یو جواب خو دا دی چې په دی سره دحضرت داود علیه السلام یوه معجز. ظاهره سوه اوښکاره خبره ده چې دا یو لوی انعام دی ، دَدی څخه علاوه حضرت تهانوی رحمه الله یوه په زړه پوری توجیه فرمایلی ده چې دغرونو اوالوتونکو مرغانو په تسبیح سره دذکر اوشغل یو خاص خوند پیدا سوی وو چې په دی سره په عبادت کی خوند اوتازګی دهمت پیدا کیږی دَاجتماعی ذکر یوه فائده دا هم ده ، چې دذکردبرکتونو یو بل ته انعکاس هم کیږی دصوفیاء کرامو په نزد دذکر اوشغل یوه خاصه طریقه معروفه ده چې په دی کی په ذکر کولوکی دا تصور کیدی سی چې ټول کائنات ذکر کوی ، دباطن په اصلاح او دعبادت په شوق کی ددی طریقې عجیبه تاثیردی، په دی آیت کی دذکر ددی طریقی استنباط هم کیږی (مسائل السلوك)

صلوة الضحى: بِالْعَشِيِّ وَالْاِشْرَاقِ : دَعَشِيٌّ معنٰی دماپښین څخه وروسته دورځی راتلونکی وخت دی ، اودَ، اِشْرَاقٌ، معنٰی دسهار هغه وخت په کوم کی چې لمر په مځکه وغورول سی ، ددی آیت څخه حضرت

Maktaba Tul Ishaat.com

عبد الله ابن عباس ﷺ دځانښت دلمانځه په مشروع والی باندی دلیل نیولی دی ، دځانښت لمونځ ته صلوة الاوابین اوځینی حضرات الاشراق هم وایی ، که څه هم وروسته دصلوة الاوابین نوم دمانښام دلمانځه څخه وروسته دشپږو نفلونو دپاره او صلوة الاشراق دلمر ختلو سره متصل د دوو یاځلورو نفلونو دپاره زیات مشهور سو .

په صلوة الضحیٰ کی د دوو څخه واخله تردولسو پوری څومره رکعتونه چی غواړی کولی سی ، په حدیث کی ددی ډیری فائدی راغلی دی په جامع ترمذی کی دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، کوم سړی چی دصلوة الضحیٰ د دوو رکعتونو پابندی وکړی دهغه ګناهونه به وبخښل سی برابره خبره ده که هغه دسمندر دزګ هومره وی ، اودحضرت انس ﷺ څخه روایت دی چی حضور ﷺ فرمایلی دی کوم سړی چی دصلوة الضحیٰ دوولس رکعتونه کوی الله ﷻ به دهغه دپاره په جنت کی دسرو زرو محل جوړ کړی (قرطبی)

علماؤ فرمایلی دی چی هسی خو د دوو څخه واخله تردولسو پوری څومره رکعتونه چی کولی سی صحیح دی لیکن که دشمیر دپاره یو خاص معمول جوړسی ، نو ښه ده اوکه دا معمول دکم از کم څلورو رکعتونه وی نو زیاته ښه ده ، ځکه چی دحضور ﷺ عام معمول دځلورو رکعتونو کولو وو .

وَآتَيْنَاهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ (اومونږ ده ته حکمت اوفیصله کوونکی تقریر ورکی) دحکمت څخه مراد خو پوه ده یعنی مونږ ده ته دعقل اوپوهی دولت ورکی اوځینی حضرات فرمایی چی نبوّت ورڅخه مراد دی او دفصل الخطاب ، مختلف تفسیرونه سوی دی ، ځینی فرمایی چی ددی څخه مراد زور دبیان اوقوت دخطاب دی ، چنانچی حضرت داؤد ﷺ دلوړی درجی خطیب وو او په خطبو کی دحمد اوصلوة څخه وروسته لفظ دَ ،امابعد ، دټولو څخه اول دوی ویل شروع کړل اوځینی حضرات فرمایی چی ددی څخه بهترین قوت دفیصله کولو مراد دی ، یعنی الله ﷻ ده ته دجګړو ختمولو اوتنازعاتو دفیصله کولو قوت ورکړی وو ، په حقیقت کی په دی الفاظوکی په یو وخت د دواړو معانیو ګنجائش سته او دا دواړی خبری ورڅخه مراد دی ، حضرت تهانوی رحمه الله چی ددی کومه ترجمه فرمایلی ده ، په دی کی هم دواړی معانیوی ځای کیدی سی .

وَهَلْ أَتٰىكَ نَبَؤُا الْخَصْمِ إِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ ﴿٢١﴾ إِذْ دَخَلُوا عَلٰى دَاوٗدَ فَفَزِعَ

اوآیارسیدلی دی تاته خبرددعوی کوونکو کله چی په دیوال واوښتل عبادت خانی ته،کله چی ورننوتل داودته نو

مِنْهُمْ قَالُوا لَا تَخَفْ خَصْمٰنِ بَغٰى بَعْضُنَا عَلٰى بَعْضٍ فَاحْكُمْ بَيْنَنَا

وبیریدی ورڅخه، هغوی وویل مه بیریږه زمونږجګړه ده زیاتی کړی دی یوپه بل باندی نوفیصله وکړه په مونږ کی

بِالْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ وَاهْدِنَا إِلٰى سَوَآءِ الصِّرَاطِ ﴿٢٢﴾ إِنَّ هٰذَا أَخِي لَهُ تِسْعٌ

په انصاف او بی انصافی مه کوه او وښیه مونږ ته لار برابره ، دا چی دی دا زما ورور دی ، دده سره

Maktaba Tul Ishaat.com

وَّتِسْعُوْنَ نَعْجَةً وَّلِيَ نَعْجَةٌ وَّاحِدَةٌ فَقَالَ اَكْفِلْنِيْهَا وَعَزَّنِيْ فِي

نه نوي (۹۹) پسونه دي ،او زما سره يو پسه دي، نو دي وايي چي حواله کړه ما ته دغه هم او زبردستي کوي

الْخِطَابِ ﴿۲۳﴾ قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ اِلٰى نِعَاجِهٖ ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا

زما سره په خبرو کي ،وي ويل هغه بي انصافي کوي ستا دپسو په حاصلولو کي دخپلو پسو سره ، او ډير

مِّنَ الْخُلَطَآءِ لَيَبْغِيْ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

شريکان زياتوب کوي خپلو دخپلو سره ، مګر کوم چي يقين را وړي اونيک

الصّٰلِحٰتِ وَقَلِيْلٌ مَّا هُمْ ؕ وَظَنَّ دَاوٗدُ اَنَّمَا فَتَنّٰهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهٗ

عملونه کوي،اولږ خلق دي داسي اوخيال راغي ډداود چي مونږ ډده ازمايش وکي بيايي بخښنه وغوښتله درب

وَخَرَّ رَاكِعًا وَّاَنَابَ ﴿۲۴﴾ السجدة فَغَفَرْنَا لَهٗ ذٰلِكَ ؕ وَاِنَّ لَهٗ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى

خپل څخه اوولويدي په رکوع اورجوع کوونکي سو ،بيامونږ معاف کي ده ته دغه کار اوډده دپاره مونږ سره مرتبه ده

وَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿۲۵﴾

اوښه ځاى درجوع دي

لنډتفسير: اوايا تاته دهغه دعوه کوونکو خبر رسيدلى دى (کوموچى حضرت داود ﷺ ته دعوه راوړې وه) کله چى هغو خلګو (دحضرت داود ﷺ دعبادت خانى پرديوال باندى را واوښتل داود ﷺ ته راغلل (په دروازه پهره دارو ځکه نه پريښوول چى دغه وخت ده دعبادت وو ددعوو دفيصلو نه وو) نوهغه (د دوى په دى بى قاعدى راتلو باندى) وويريدى (چى هسى نه داخلګ دښمنان نه وى کوم چى دقتل په اراده داسى په تنهايى کى رانوتى وى) هغوخلګو (ده ته) وويل چى ته بيريږه مه مونږ دواړه معامله کوونکى يو چى يو په بل باندى (څه) زياتى کړيدى (ددى فيصلى دپاره مونږ راغلى يو چونکه پهره دارانو په دروازه نه پريښولو په دى وجه په دى شان سره راغلو) نو ته په مونږ کى په انصاف سره فيصله وکړه او بى انصافى مه کوه اومونږ ته (دمعاملى) سيده لار وښيه (اوبيا يو سړى وويل چى دمعاملى صورت دا دى چى) دا سړى زما ورور دى (يعنى دينى ورور لکه چى په دُرِّ منثور کى دحضرت ابن مسعود ﷺ څخه نقل دى او) ددې سره يوکم سل پسونه دى اوزما سره (کل) يوپسه دى نو دى وايى چى دغه هم ماته راکړه اوپه خبروکى په ما زورآور دى (او زماخبره دخلى په زور سره چليدوته نه پريږدى) داود ﷺ وويل چى دى چى کوم ستا پسه په خپلو پسوکى ډيوځاى کولو درخواست کوى نو واقعى پرتا ظلم کوى او اکثره شرکاء

(عادت یی دا دی چی) په یو بل (دغسی) زیاتوب کوی ، مگر البته کوم خلک چی ایمان لری اونیک کارکوی او داسی خلک ډیرکم وی (دا خبره دوی دمظلوم دتسلی دپاره وفرمایله) او داود ﷺ ته خیال راغی چی (دا دعوه په داسی پیش کولو) مونږ دده امتحان کړی دی (نو هغوی خپل رب ته توبه وکښله اوپه سجده پریوته او (په خاص طور خدای ته) رجوع یی وکړه نو مونږده ته دغه (کار) معاف کی اوزمونږ سره ددده دپاره (خاص) قرب او(اعلی درجی) دنیك انجامی (یعنی دجنت لوړه درجه) ده

معلومات اومسئلي: په دی ایتونوکی باری تعالی دحضرت داود ﷺ واقعه ذکر فرمایلی ده ، په قرآن کریم کی دا واقعه چی په کوم انداز سره بیان سوي ده ، ددی څخه صرف دومره معلومیږی چی الله ﷻ دده عبادت ګاه ته دوی فریقین په جګړه سره ولیږل او دده څه امتحان یی اخستی وو حضرت داود ﷺ په دی امتحان پوه سوه نو دالله ﷻ څخه یی بخښنه وغوښتله اوپه سجده پریوتی اوالله ﷻ دده مغفرت وفرمایی دقرآن کریم اصل مقصد چونکی دلته دا بیانول دی چی حضرت داود ﷺ په خپله هره معامله کی به دالله ﷻ طرف ته رجوع فرمایله اوچی کله به ورڅخه لږ څه خطا هم وسوه نو فوراً به داستغفار طرف ته متوجه کیدی ، په دی دلته دا تفصیل بیان نه سو چی هغه امتحان څه وو ، دحضرت داؤد ﷺ څخه څه خطاسوی وه چی ده استغفار په وکی ؟ اوکوم چی الله ﷻ معاف کی .

په دی وجه ځینو محققو اومحتاطو مفسرینو ددی ایتونو په تشریح کی دا فرمایلی دی چی الله ﷻ دخپل دی جلیل القدر پیغمبر ددی خطا او امتحان تفصیل دخاص حکمت اومصلحت په وجه بنکاره بیان نه کی ، په دی وجه مونږ ته هم په دی پسی کیدل نه دی په کار اوځومره خبره چی په قرآن کریم کی ذکر ده ، صرف په دی ایمان لرل په کار دی دحافظ ابن کثیر رحمه الله په شان محقق مفسر په خپل تفسیرکی په دی عمل کړی دی او دواقعی دتفصیلاتوڅخه یی خاموشی اختیارکړي ده اوهیڅ شك نسته چی دا دټولو څخه زیاته محتاطه اودسلامتی لارده، په دی وجه دټیرو عالمانو څخه نقل دی چی ، اَبْهِمُوْا مَا اَبْهَمَهُ اللهُ یعنی کوم شی چی الله ﷻ مبهم پرې اینبی دی تاسی هم هغه مبهم پریږدی ، په دی کی حکمت او مصلحت دی او دا ظاهره ده چی ددی څخه مراد دداسی معاملاتو ابهام دی ، په کومو پوری چی زمونږ دعمل اوحلالو حرامو تعلق نه وی ، او دکومو معاملاتو سره چی زمونږ دعمل تعلق وی دهغه ابهام په خپله نبی کریم ﷺ په خپل قول او عمل سره رفع کړی دی .

البته دنورومفسرینو دروایتونو او اثارو په رڼا کی دامتحان اوازمائش دمتعین کولوکوشش کړی دی، په دی سلسله کی یوعامیانه روایت خودامشهوردی چی دحضرت داود ﷺ نظر یو وار دخپل یو فوجی افسر او ریا په بنځه باندی پریوتی ، په دی سره دده په زړه کی دهغه سره دنکاح کولو خواهش پیدا سو او ده او ریا دقتلولو په غرض هغه په یو ډیر خطرناك مشن باندی ولیږلوچی هغه په کی شهید سو او بیا ده دهغه دبنځی سره واده وکی ، په دی عمل باندی دخبردارولو دپاره دا دوی فرښتی په انسانی شکل کی را ولیږل سی .

لیکن دا روایت بی شکه چی دهغو خرافاتو څخه دی کوم چی دیهودیانو داثر لاندی په مسلمانانو کی غورڅول سوی دی ، دا روایت په اصل کی دبائبل دکتاب سمویل دوهم باب ۱۱ څخه ماخوذ دی ، فرق

Maktaba Tul Ishaat.com

صرف دومره دی چی په بائیبل کی په ښکاره په حضرت داود علیه السلام باندی دا الزام لګول سوی دی چی هغوی معاذالله داوریادښځی سره دنکاح څخه مخکی زنا کړی وه او په دی تفسیری روایتونو کی یی دزنا جز حذف کړی دی ، داسی معلومیږی چی چا دا اسرائیلی روایت ولیدی او ددی څخه یی دزنا قصه ویستله او دا یی دقرآن کریم په ذکر سوی ایتونو پوری ولګوله ، حال دا دی چی دا کتاب سموئیل دسره بی اصله دی او دا روایت دقطعی درواغو او افتراء حیثیت لری ، په دی وجه تولو محققو مفسرینو ددی سخت تردید کړی دی .

دحافظ ابن کثیر څخه علاوه علامه ابن جوزی رحمه الله قاضی عبدالسعود رحمه الله قاضی بیضاوی رحمه الله قاضی عیاض رحمه الله امام رازی رحمه الله علامه ابوحیان اندلسی رحمه الله خازن زمخشری رحمه الله ابن حزم رحمه الله علامه خفاجی رحمه الله احمدبن نصر رحمه الله ابوتمام اوعلامه الوسی وغیره هم دا دروغ اوافتراء ګرځولی ده ، حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکی .

څینو مفسرینو دلته یوه قصه ذکرکړې ده چی اکثره حصه یی داسرائیلیاتو څخه ماخوذ ده دنبی کریم ﷺ څخه په دی باره کی هیڅ داسی خبره ثابته نه ده چی اتباع یی واجب وی صرف ابن ابی حاتم دلته یو حدیث روایت کړی دی ، مګر سند یی صحیح نه دی .

غرض ددیرو دلیلونو په رونا کی دکومو چی څه تفصیل دامام رازی په تفسیر کبیر او دابن الجوزی په زادالمسیر وغیره کی موجود دی ، دا روایت خو ددی آیت په تفسیر کی قطعًا خارج از بحث کیږی .

حکیم الامت حضرت تهانوی ددی ازمائش اوخطا تشریح داسی فرمایلی ده چی دمقدمی دا دوی فریقی په دیوال ورواښتل اودخبروطرز یی هم انتهایی ګستاخانه اختیارکی چی دشروع څخه یی حضرت داود علیه السلام ته دانصاف کولواوظلم نه کولونصیحتونه شروع کړل ، ددی ګستاخی داندازپه بناکه یوعام سړی وی نو دوی ته به یی دجواب ورکولو په ځای چپه سزا ورکړی ووای ، الله ﷻ دحضرت داود علیه السلام هم دا امتحان وفرمایی چی دی هم غصه کیږی او دوی ته سزا ورکوی اوکه دپیغمبرانه عفو اوتحمل څخه کار اخلی او د دوی خبره اوری؟

حضرت داود علیه السلام په دی امتحان کی پوره وختی لیکن دومره ورځخه کمزوری وسوه چی دفیصلی اورولو په وخت کی ظالم ته دخطاب کولو په ځای یی مظلوم مخاطب کی چی په دی سره یو قسم له جانبداری ښکاره کیږی ، مګر په دی فورًا پوه سو او په سجده پریوتی او الله ﷻ دی معاف کی (بیان القرآن)

څینو مفسرینو دخطا دا تشریح کړې ده چی حضرت داود علیه السلام مدعاعلیه خاموش ولیدی نو دهغه دبیان او ریدو څخه بغیر یی صرف دمدعی خبره واوریده اوپه خپل نصیحت کی یی داسی خبری وفرمایلی په کومو سره چی فی الجمله دمدعی تائید کیدی ، حال دا دی چی اول دمدعاعلیه څخه پوښتنه په کار وه چی دی څه وایی ؟ دحضرت داود علیه السلام ارشاد که څه هم په ناصحانه انداز کی وو اولا تر اوسه دمقدمی دفیصلی نوبت نه وو راغلی ، خو بیا هم د دوی په شان دجلیل القدر پیغمبر دشان مناسب نه وه ، په دی خبره باندی وروسته پوه سوه او په سجده پریوتله (روح المعانی)

څینی حضرات فرمایی چی حضرت داود علیه السلام دخپلو وختونو انتظام داسی فرمایلی وو، چی په

Maktaba Tul Ishaat.com

خلیرویشت گنتو کی به هر وخت دکور څه ناڅه فرد په عبادت ، ذکر او تسبیح کی مشغول وو ، یوه ورځ دوی الله ﷻ ته عرض وکی چی پروردګاره ! په شپه او ورځ کی داسی وخت نسته چی دداود دکور دخلکو څخه څوك ستا په عبادت لمونځ اوتسبیح اوذکرکی مشغول نه وی ، باری تعالی وفرمایل چی داوده ! دا هرڅه زما په توفیق سره دی ، که زمامد دشامل حال نه وی ، نو دا خبره ستادَوَس ْڅخه ده اویوه ورځ به زه تاسنا په حال باندی پریږدم ، ددی څخه وروسته دا واقعه راپیښه سوه چی دغه وخت دحضرت داود ﷺ په عبادت کی دمشغولیدو وو ، دی ناګهانی واقعی دده دوختونو انتظام وران کی ، حضرت داود ﷺ دجګړی په فیصله کولو کی مشغول سو ، دحضرت داود ﷺ دا څخه بل څوك فرد دغه وخت په عبادت او ذکرالهی کی مشغول نه وو ، په دی سره حضرت داود ﷺ پوه سوچی هغه فخریه کلمه یی چی دخلی څخه وتلی وه هغه زما څخه غلطی سوی وه، په دی وجه ده استغفار وکی او په سجده پریوتی ، ددی توجیه تائید دحضرت ابن عباس ﷺ دیو ارشاد څخه هم کیږی کوم چی په مستدرك حاکم کی په صحیح سند سره ذکر دی (احکام القرآن)

ددی ټولو وضاحتونو څخه دا خبره په مشترکه طور سره تسلیم سوي ده چی مقدمه فرضی نه وه بلکه حقیقی وه او دصورت دمقدمی دحضرت داود ﷺ دازمائش یاخطاسره هیڅ تعلق نه وو ، ددی برخلاف ډیرو مفسرینو ددی داسی تشریح فرمایلی ده چی مطلب یی دا دی چی دمقدمی دا دواړی فریقین انسانان نه وو بلکه ملائکی وی او دوی الله ﷻ ددی دپاره لیږلی وی چی هغوی دمقدمی داسی یو فرضی صورت پیش کړی چی حضرت داود ﷺ په خپل خطاباندی خبردارسی .

چنانچی ددی حضراتو دا ویناده چی داوریا دقتل کولو او دهغه دښځی سره دنکاح کولو هغه قصه خو غلطه ده ، لیکن حقیقت دحال دا وو چی په بنی اسرائیلو کی به یو سړی ته دافرمائش کول معیوب نه ګڼل کیدل چی ، ته خپله ښځه طلاقه کړه چی زه ورسره نکاح وکړم، په هغه زمانه کی ددی فرمائش عام رواج هم وو او دا خبره خلاف مروت هم نه ګڼل کیده ، حضرت داود ﷺ په دی بنااوریاته دافرمائش کړی وو، په دی بناالله ﷻ دا دوی ملائکی راولیږلی اودی یی خبردارکی اوځینی حضرات فرمایی چی خبره صرف دومره وه چی اوریایوی ښځی ته دنکاح پیغام ورکړی وو ، حضرت داود ﷺ هم هغه ښځی ته دنکاح پیغام ورکی ، په دی وجه اوریادیرخفه سو ، الله ﷻ په دی دخبدارولو دپاره دادوي ملائکی را ولیږلی اوپه یوعجیبه شان انداز کی یی دی په دی خطاباندی پوه کی ، قاضی ابویعلی په دی توجیه دقرآن کریم په الفاظو: وَعَزَّنِیْ فِی الْخِطَابِ، سره استدلال فرمایلی دی ، هغه فرمایی چی دا جمله په دی خبره دلالت کوی چی دامعامله محض دکوزدی په سلسله کی راپیښه سوی وه اولاحضرت داود ﷺ ددی سره نکاح نه وه کړی (زادالمسیرلابن الجوزی صـ۱۱۶ ج۷)

اکثرو مفسرینو حضراتو دی اخری دوو تشریحاتو ته ترجیح ورکړي ده او ددی تائید دځینو اصحابو داثارو څخه هم کیږی (وګوره روح المعانی تفسیرابی السعود، زادالمسیرو تفسیرکبیر وغیره) لیکن واقعه دا ده چی ددی ازمائش اوخطاتفصیل نه دقرآن کریم څخه ثابت دی اونه دڅه صحیح حدیث څخه، په دی وجه دومره خبره خو ثابته سوی ده چی داوریا دقتلولو کومه واقعه چی مشهوره ده ، هغه غلطه ده

Maktaba Tul Ishaat.com

، لیکن داصل واقعی په باره کی ذکر سوی لور تول احتمالات موجود دی او په دی کی یوه ته قطعی او یقینی نه سی ویلی ، په دی وجه دسلامتیا لار هغه ده کومه چی حافظ ابن کثیر اختیارکړه چی کومه خبره الله ﷻ مبهمه پرې اښیی دی مونږ دی په خپلو قیاسونو واندازو سره دهغه دتفصیل کوشش نه کوو ، هرکله چی په هغه پوری زمونږ دځه عمل تعلق نه وی، په دی ابهام کی هم یقیناً څه حکمت دی، په دی وجه صرف په دومره واقعه باندی ایمان لرل په کاردی کومه چی په قرآن کریم کی ذکر ده ، باقی تفصیلات الله ﷻ ته حواله کول په کار دی ، البته ددی واقعی څخه دیر علمی فوائد حاصلیږی ، زیاته توجه هغه ته ورکول په کار دی ، په دی وجه اوس دایتونو تفسیر ملاحظه کړی ، په کومو کی چی به انشاء الله ﷻ ددغو فوائدو ذکر راسی .

اِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ : (هرکله چی هغوی محراب ته په دیوال داخل سول) مِحْرَابٌ، په اصل کی بالاخانی یادیو مکان دمخ حصی ته ویل کیږی ، بیاپه خاص طور سره دمسجد یاعبادت خانی دمخ حصی ته وویل سول ، په قرآن کریم کی دالفظ دعبادت ګاه په معنی کی استعمال سوی دی ، علامه سیوطی رحمه الله لیکلی دی چی دجمات دائره نمامحرابو څخه لکه چی نن صبامعروف دی ، داپه عهدنبوی کی موجود نه وو (روح المعانی)

فَفَزِعَ مِنْهُمْ (وروسته حضرت داود علیه السلام د دوی څخه وبیریدی) دبیریدو وجه صفاظاهره وه چی د دوو تنوبی وخته په دیوال راختل اوپهره ماتول په عام طور په بدنیت سره وی .

(طبعي بیره دنبوت یاولایت منافي نه ده)

ددی څخه معلومه سوه چی دیوخوفناك شی څخه په طبعی طور سره بیریدل دنبوت او ولایت منافی نه دی ، البته دا بیره په زړه او دماغو باندی طاری کول اوخپل فرائض پریښوول ضرور بد دی ، په دی دا شبهه کیدی سی چی په قرآن کریم کی یی دانبیاؤ علیهم السلام شان دا بیان کړی دی لَا یَخْشَوْنَ اَحَدًا اِلَّا اللّٰهَ (هغوی دالله ﷻ څخه ماسوا دبل چا څخه نه بیریږی) بیادلته حضرت داود علیه السلام ته بیره ولی راغله؟ ددی جواب دا دی چی دبیری دوه قسمونه وی یوه بیره دموذی شیانو دتکلیف رسولو څخه وی ، هغه ته په عربی کی خَوْفٌ وایی ، دوهمه بیره دچالوی دعظمت شان او رعب په وجه وی ، هغه ته خَشْیَةٌ وایی، (مفردات، راغب) خشیت دالله ﷻ څخه ماسوا دبل چاڅخه نه دی کول په کار، اودانبیاء علیهم السلام شان دا وی چی دالله ﷻ څخه ماسوا په دوی دچاخشیت نه سی طاری کیدی ، البته طبعی بیره دموذی اشیاؤ څخه کیدی سی .

(په بې قاعدګي باندی دحال دحقیقت بنکاره کیدو پوری صبر کول په کاردی)

قَالُوْا لَا تَخَفْ (هغوی وویل بیریږه مه) راتلونکودا وویل اوخپله خبره بیانول یی شروع کړل اوحضرت داود علیه السلام په خاموشی سره د دوی خبره اوریده ، ددی څخه معلومه سوه چی که یوه سړی ناڅاپه څه بی قاعدګی وکی نوده ته فوراً ملامت اوزورنه شروع کول نه دی په کار، بلکه اول دهغه خبره اوریدل په کار دی چی ده ته معلومه سی چی دهغه سره ددی بی قاعدګی جواز وو اوکه نه وو، که بل څوك وی نو فوراً ملامت اوزورنه شروع کول نه دی په کار، بلکه اول دهغه خبره اوریدل په کار دی چی ده ته معلومه

Maktaba Tul Ishaat.com

سی چی دهغه سره ددی بی قاعدگی جواز وو اوکه نه وو، که بل څوك وی نو فوراً به یی په رټلو شروع کړی وای، لیکن حضرت داود علیه السلام دحال ښکاره کیدو پوری انتظار وفرمایی چی کیدی سی دا خلك معذور وی.

وَلَاتَشْطُطْ (اوبی انصافی مه کوه) دراتلونکو دا دخبرواندا ز په ظاهره دیرگستاخانه وو اول خو په دیوال بی وخته را واوښتل، بیادراتلو سره دحضرت داود علیه السلام په شان جلیل القدر پیغمبر ته دانصاف کولو او دظلم څخه دمحفوظ کیدو درس ورکول، دا تولی دبی باکی خبری وی لیکن حضرت داود علیه السلام په دی تولو خبرو صبر وفرمایی او دوی ته یی څه بدری ردی ونه ویلی.

(لوی سړی ته په کار دی چې دحاجتمندو په غلطو باندی تر خپله وسه صبر وکړي)

ددی څخه معلومه سوه چی کوم سړی ته الله ﷻ لویه مرتبه ورکړی وی او دخلګو ضرورتونه دده سره متعلق وی چی دی دحاجتمندو دخبرو په غلطو او بی قاعدګو تر خپله وسه صبر کوی چی دا دده دمرتبی تقاضاده په خاص طور سره حاکم، قاضی اومفتی ته ددی لحاظ ساتل په کار دی (روح المعانی)

قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ إِلَى نِعَاجِهِ (حضرت داود علیه السلام وویل چی ده ستادپسه دخپلو پسونوسره دیوځای کولوکوم درخواست کړی دی، نو واقعی پر تا یی ظلم کړی دی) دلته دوې خبری دفکرقابلی دی یوه دا چی حضرت داود علیه السلام دا فقره صرف دمدعی خبره واوریده ارشاد وفرمایله دمدعاعلیه بیان یی وانه وریدی، په دی باندی ځینو حضراتو دا ویلی دی چی هغه خطاپه کوم چی ده استغفار وفرمایی دا خطاوه، لیکن نورومفسرینو ویلی دی چی په حقیقت کی دلته دمقدمی پوره تفصیلات نه بیانیږی، صرف ضروری خبری سوی دی، حضرت داود علیه السلام به یقیناًدمدعاعلیه څخه دهغه خبره اوریدلی وی، لیکن هغه دلته ځکه بیان نه سوه چی دفیصلو معروفه طریقه دا ده، هرسړی پوهیږی چی دلته دمدعا علیه څخه دپوښتنی جزء محذوف دی.

دارنګه دا هم ممکنه ده چی که څه هم راتلونکودحضرت داود علیه السلام څخه عدالتی فیصله طلب کړی وه، لیکن نه دغه وخت دعدالت وو او نه مجلس دقضاوو، نه هلته دحضرت داود علیه السلام سره دخپلی فیصلی نافذکولو وسائل جمع وو، په دی وجه حضرت داود علیه السلام دقاضی په حیثیت کی نه بلکه دمفتی په حیثیت سره فتوی ورکړه او دمفتی کار دواقعی تحقیق کول نه وی، بلکه چی څنګه سوال وی دهغه مطابق جواب ورکول وی.

(تریو قسم دباو لاندی چنده یاهدیه هم طلب کول غصب دی)

دوهمه خبره دلته دا دفکر قابله ده چی حضرت داود علیه السلام دیوه سړی محض پسه طلب کول ظلم وګرځول حال دا دی چی په ظاهره دچا څخه محض څه شی غوښتل څه جرم نه دی وجه دا ده چی صورت دسوال ودا لیکن په کوم قولی اوعملی دباو سره چی دا سوال کیدی، دهغه په موجودګی کی ددی حیثیت دغصب په شان سوی وو.

ددی څخه معلومه سوه چی که یو سړی دچا څخه داسی یو شی وغوښتی چی مخاطب راضی وی اوکه ناراضه لیکن دده سره د ورکولو څخه ماسوا بله چاره نه وی نو دغه رنګه هدیه طلب کول هم په غصب

Maktaba Tul Ishaat.com

کی دا خل دی ، په دی وجه که غوښتونکی څوک صاحب اقتداریادمرتبی خاوند وی او مخاطب دده دشخصیت د دوباؤ په وجه انکار نه سی کولی نو هلته صورت برابره خبره ده که دهدیی طلب کولو وی ، لیکن په حقیقت کی هغه غصب وی او دغوښتونکی دپاره په دی شان سره دحاصل سوی شی استعمال جائز نه دی ، دا مسئله په خاص طور سره دهغو خلګو دپاره دتوجه کولو ده کوم چی دمدرسو ، مکتبونو ، جماتونو یا انجمنونو وغیره دپاره چندی وصولوی صرف هغه چنده حلاله اوپاکه ده کومه چی ورکوونکی په خپل مکمل اختیار او خوشحاله زړه سره ورکړی او که چنده کوونکو دخپل شخصیت ددباو لاندی یاپه یو وخت لس یا اته کسان دیوه سړی چندی ورکولو ته مجبوره کړه ، چنده یی ورځخه وصول کړه نو دا ښکاره ناجائز فعل دی په حدیث کی دنبی کریم ﷺ واضح ارشاد دی چی .

لَایَحِلُّ مَالُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ اِلَّا بِطِیْبِ نَفْسٍ مِنْهُ : دیو مسلمان مال دهغه دخوشدلی څخه بغیرحلال نه دی .

(دمعاملو په شرکت کې ډېرې احتیاط ضرورت)

وَاِنَّ کَثِیْرًا مِنَ الْخُلَطَاءِ لَیَبْغِیْ بَعْضُهُمْ عَلٰی بَعْضٍ (او ډیرشریکان په یوبل زیاتوب کوی) په دی سره په دی خبره باندی خبردارول دی چی هرکله په دووکسانو کی دشرکت څه معامله وی نو په هغه کی اکثر دیو بل حقونه وهل کیږی ، څینی وخت یو سړی یو کار معمولی وګڼی ویی کړی لیکن په حقیقت کی هغه دګناه سبب جوړ سی ، په دی وجه په دی معامله کی ډېر احتیاط ضرورت دی .

وَظَنَّ دَاوٗدُ اَنَّمَا فَتَنّٰهُ (او حضرت داود ﷺ ته خیال ورغی چی مونږ دده امتحان واخیستی) که دمقدمی صورت دحضرت داود ﷺ دخطامثال مقرر سی نو بیا خو دا خیال راتلل ظاهره خبره ده اوکه دمقدمی دصورت ددی سره څه تعلق نه وی ، بیاهم دفریقینو دمجموعی حالت ظاهرولو دپاره کافی وه چی دا دامتحان دپاره لیږل سوی وه ، یو طرف ته خو دی فریقینو دمقدمی دفیصلی دپاره د دومره جلد بازی اوجرأت څخه کار واخیستی اوپه دیوال ورواوښتل، بل طرف ته هرکله چی مقدمه پیش سوه نو مدعا علیه خاموش کښینستی او په قولی یاعملی طور یی دمدعی بیره بی چون وچرا تسلیم کړه .

که دمدعی بیان کرده واقعه مدعاعلیه تسلیمولە نو دجګړی دفیصلی کولو دپاره حضرت داود ﷺ ته دراتلو ضرورت نه وو ، دیو معمولی عقل خاوند هم پوهیږی چی حضرت داود ﷺ به په دی صورت کی دمدعی په حق کی فیصله کوی ، دفریقینو دی پراسرار طرز عمل ښوول چی دا څه غیرمعمولی واقعه ده حضرت داود ﷺ پوه سو چی دا خدای پاک رالیږلی دی او مقصود زما امتحان اخستل دی او په څینو روایتونو کی دا هم راغلی دی چی دفیصلی اوریدو څخه وروسته هغو یو بل ته وکتل ویی خندل اوپه کتوکتو کی آسمان طرف ته ولاړل . واللہ اعلم

اِسْتَغْفَرَ رَبَّهٗ وَخَرَّ رَاکِعًا وَّاَنَابَ (نو هغه دخپل پروردګار څخه مغفرت وغوښتی او په سجده پریوتی او رجوع سو) دلته په اصل کی دَرَکَعَ لفظ استعمال سوی دی چی لغوی معنی یی کښته کیدل دی ، او داکثرو مفسرینو په نزد دی څخه مراد سجده ده ، داحنافو په نزد دی آیت په ویلو سره یی سجده واجبیږی .

(په رکوع سره دتلاوت سجده ادا کیږی)

او امام ابوحنیفه رحمه الله په دی آیت سره ددی خبری دلیل نیولی دی چی که په لمانځه کی دسجدی آیت

Maktaba Tul Ishaat.com

وویل سو نو په رکوع کی دسجدی په نیت کولو سره سجده ادا کیږی ځکه چی دلته باری تعالی دسجدی دپاره لفظ درکوع استعمال کړی دی کوم چی ددی خبری دلیل دی چی رکوع هم دسجدی قائمقام کیدی سی ، لیکن په دی سلسله کی څو ضروری مسئلی دیادلرلو جوګه دی .

(دتلاوت دسجدی ځینی مسئلی)

مسئله : دلمانځه دفرض رکوع په ذریعه سجده صرف په هغه صورت کی ادا کیدی سی کله چی دسجدی آیت په لمانځه کی ووایی ، دلمانځه څخه دباندی په تلاوت کولوکی په رکوع سره نه ادا کیږی ، په دی وجه چی رکوع صرف په لمانځه کی عبادت دی دلمانځه څخه دباندی مشروع نه ده (بدائع)

مسئله : په رکوع کی سجده صرف په هغه صورت کی ادا کیږی کله چی دسجدی دآیت تلاوت کولو څخه فوراً بعد یا د دوو درو آیتونو دویلو څخه وروسته رکوع ته ولاړ سی اوکه دسجدی دآیت دویلو څخه وروسته یی په ولاړی ډیر قرآت کړی وی نو سجده په رکوع کی نه ادا کیږی .

مسئله: که دتلاوت سجده په رکوع کی دادا کولو خیال لری نو رکوع ته دتلو په وخت کی به دسجدی دتلاوت نیت کوی ، کنه په دی رکوع سره به دتلاوت سجده ادا نه سی ، البته کله چی سجدی له څی نو بغیر دنیت څخه به هم سجده ادا سی .

مسئله : په هرحال ښه خبره داده چی دتلاوت سجده دلمانځه په فرض رکوع کی دادا کولو په ځای مستقله سجده وسی ، او دسجدی څخه پورته سی ، دوه دری آیتونه ووایی ، بیا رکوع ته ولاړ سی (بدائع)

وَإِنَّ لَهُ عِنْدَنَا لَزُلْفَى وَحُسْنَ مَآبٍ (او بیشکه دده دپاره زمونږ سره خاص تقرب او نیك انجامی ده) په دی آیت یی واقعه ختمه کړه او دی خبری طرف ته یی اشاره وکړه چی دحضرت داود ﷺ خطا هر څه چی وه د دری داستغفار او انابت څخه وروسته دالله ﷻ سره دده په تعلق کی نوره اضافه وسوه .

(په غلطي باندی په خبردارولو کي دحکمت رعایت)

ددی واقعی سره متعلق یوه بله خبره دذکرقابله ده چی دحضرت داود ﷺ خطا برابره خبره ده که هرڅه چی وه ، الله ﷻ سیده په سیده دوحی په ذریعه هم دوی په دی خبردارولی سو ، لیکن ددی په ځای یی یوا مقدمه ولیږله او دخبردارولو دا خاص طریقه یی ولی اختیار کړه؟ په حقیقت کی په دی طریقه په فکر کولو سره دامربالمعروف اونهی عن المنکر فرض انجام کوونکو ته دا هدایت سوی دی چی یو سړی ددی په غلطی باندی دخبرولو دپاره دحکمت څخه دکار اخستو ضرروت دی او ددی دپاره داسی طریقه اختیارول زیات ښه دی په کوم سره چی متعلقه سړی په خپله خپله غلطی محسوسه کړی او ده ته دزیانی پوه کولو ضرورت پیښ نه سی او ددی دپاره ددا سی مثالونو کار اخستل زیات اثر کوی په کومو سره چی زړه ازاری هم نه وی او ضروری خبره هم واضحه سی .

يٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلْنٰكَ خَلِيْفَةً فِى الْاَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ

ای داوده ﷺ ! مونږ جوړ کړی ته خلیفه په مځکه کی نو ته حکومت کوه

النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى فَيُضِلَّكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ

په خلقو کی په انصاف سره، اودزړه په خواهشاتو پسی مه ځه بیابه هغه تابی لاری کی دالله ﷻ دلاری څخه ،بیشکه

الَّذِيْنَ يَضِلُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۢ بِمَا نَسُوْا يَوْمَ الْحِسَابِ ۝۲۶

کوم خلق چی بی لاری سی دالله ﷻ دلاری څخه، دغولره سخت عذاب دی په دی خبره چی دوی هیره کړه ورځ دحساب

لنډتفسیر: ای داوده! (ﷺ) مونږ تا ته په مځکه حاکم جوړکړی دی وروسته (څنګه چی دی تر اوسه کول دغه ډول اځنده هم) په خلګو کی په انصاف سره فیصلی کوه او (لکه څنګه چی دی تر اوسه چیری دنفسانی خواهش پیر وی نه ده کړی دغه رنګه اځنده هم) دنفسانی خواهش پیر وی مه کوه (که داسی وکړی نو) دغه به دخدای دلاری څخه تابی لاری کی (او) کوم خلګ چی دخدای دلاری څخه بی لاری سی ، دهغوی دپاره به سخت عذاب وی ، په دی وجه سره چی هغوی ورځ دحساب هیره کړه .

معلومات اومسئلې: حضرت داود ﷺ ته الله ﷻ دنبوت سره حکومت او سلطنت هم ورکړی وو ، چنانچی په دی آیت کی دحکومت او سیاست دپاره ده ته یوه بنیادی هدایت نامه ورکول سوې ده ، په دی هدایت نامه کی دری بنیادی خبری ارشاد فرمایل سوی دی .

(۱) مونږ ته په مځکه کی خپل خلیفه جوړ کړی یاست .

(۲) په دی حیثیت سره ستابنیادی کار دحق مطابق فیصله کول دی .

(۳) او ددی کار دپاره دخواهش نفسانی دپیروی څخه محفوظ کیدل دیو لازمی شرط حیثیت لری .

ترکومه پوری چی په مځکه کی دخلیفه جوړولو تعلق دی ددی مفهوم په سورة بقره کی تیرسوی دی اوپه دی سره داسلامی سیاست دا اصل الاصول واضحه کیږی چی ، اقتدار اعلی الله تعالی ته حاصل دی ، دمځکی حکمران دده داحکامو مطابق دچلیدو مجاز دی ، ددی څخه دباندی نه سی تلی ، په دی وجه دمسلمانانو حاکم ، شورٰی یااسمبلی کی داسلامی قانون تشریح یاتدوین خو کولی سی ، لیکن په حقیقت کی هغه دقانون واضع کوونکی نه دی بلکه دالله ﷻ قانون لره پیش کوونکی دی .

(داسلامي ریاست بنیادی کار اقامت حق دی)

درهمه خبره دلته دا واضحه سوي ده چی داسلامی ریاست بنیادی کاردحق قائمول دی په حکومت باندی لازمه ده چی هغه په خپلو انتظامی معاملاتو او تنازعاتو کی فیصله کولوکی حق او انصاف قائم کړی . اسلام چونکی یو ابدی دین دی ، په دی وجه ده دسیاست اوحکمرانی دپاره ددا سی انتظامی جزئیاتو تعین نه دی فرمایلی کوم چی دحالاتو او زمانی په بدلیدو سره قابل تبدیل سی ، بلکه یو داسی بنیادی هدایتونه یی ورکړی دی دکومو په رڼا کی چی دهری زمانی مطابق انتظامی جزئیات په خپله فیصله کولی سی ، په دی وجه دلته دا خبره نبوول سوي ده چی دحکومت اصل کار دحق قائمول دی ، لیکن ددی انتظامی تفصیلات دهر دور په اهل الرایه مسلمانانو باندی پریښول سوی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

(دعدليه اوانتظامي رشته)

چنانچی داخبره چی عدليه دانتظاميه څخه بالکل جلاوی که پيوست؟ په دی مسئله کی څه داسی متعين حکم نه دی ورکول سوی کوم چی په هردورکی ناقابل تبديل وی که په يوه زمانه کی دحکمرانانوپه امانت اودديانت باندی پوره اعتمادکولی سو نو دعدليه اوانتظاميه واك ختمولی سی ، اوکه په يو دور کی دحکمرانانوپه امانت اودديانت پوره تکيه نه وه نو عدليه دانتظاميه څخه بالکل آزاده هم پريښودلی سی. حضرت داود عليه السلام دالله ﷻ برگزيده پيغمبر وو ، دده څخه زياته دامانت او ديانت دعوی چاکولی سوه ، په دی وجه دی يی په يو وخت دعدليه اوانتظاميه سربراه مقررکی ، دتنازعاتو فيصله کولو ذمه واری هم دده ته سپارل سوی وه ، دانبياؤ عليهم السلام څخه علاوه په خلفاء راشدينو کی هم دا طرز وو چی اميرالمومنين به په خپله قاضی هم وو ، وروسته په اسلامی حکومتونو کی دا طريقه بدله سوه او اميرالمومنين يی دانتظاميی او قاضی القضاة يی دعدليی سربراه جوړکړل.

دريم هدايت په کوم چی په دی آيت کی دټولو څخه زيات زور ورکول سوی دی ، هغه دا دی چی دنفسانی خواهشاتو پيروی مه کوه اودحساب ورځ هروخت دنظرپه مخکی ساته په دی هدايت ټولو څخه زيات زور څکه ورکول سوی دی چی داشی دحق قائمولوبنياددی دکوم حاکم ياقاضی په زړه کی چی دخدای بيره او داخرت فکروی هغه په صحيح معنی کی حق قائمولی سی اوکه دانه وی نوکه تاسی دښه نه ښه قانون جوړکی ، دانسانی نفس چل ول به هرځای خپله لار په خپله جوړ وی او دده په موجودگی کی هيڅ دښو څخه ښه نظام قانون هم حق او انصاف نه سی قائمولی ، ددنياتاريخ اودموجوده زمانی حالات په دی شاهد دی.

(دذمه واری په عهدوکي دټولو څخه اول دليدو شي دانسان کردار دی)

ددی څخه دا معلومه سوه چی يو سړی حاکم ياقاضی يادبوی محکمی دافسر جوړولو دپاره ټولو څخه اول دکتو خبره دا ده چی په ده کی دخدای بيره او داخرت فکر سته اوکه نه او دده داخلاقو اوکردارحال څخه دی؟ که دا معلومه وی چی دده په زړه باندی دخدای دبيری په ځای دنفسانی خواهشاتوحکمرانی ده نو هغه هر څومره اعلی ډگريانی چی لری او په خپل فن کی هر څومره ماهر اوپخته کار وی داسلام په نظر کی هغه ديو لوړ منصب مستحق نه دی.

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا ؕ ذٰلِكَ ظَنُّ

او مونږ نه دی پيدا کړی اسمانونه او مځکه اوڅه چی د دوی په مينځ کی دی بی کاره ، دا خيال دی

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنَ النَّارِ ﴿۲۷﴾ اَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ

دهغو چی منکر دی ، پس خرابی ده منکرانو لره داور څخه ، آيا مونږ گرځولی دی مؤمنان

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَالْمُفْسِدِيْنَ فِی الْاَرْضِ ۚ اَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِيْنَ

چی نيکی کوی په شان دهغو چی خرابی کوی په مځکه ايامونږ گرځولی ويريدونکی په شان

Maktaba Tul Ishaat.com

الْأَلْبَابِ ﴿٢٩﴾ كِتٰبٌ أَنْزَلْنٰهُ إِلَيْكَ مُبٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوٓا ءَايٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُوا

د فاجرانو، یو کتاب دی چې نازل کړی دی مونږ تاته دبرکت چې فکر وکی خلق ددې خبرو ته اوچې پوه سی دعقل خاوندان

لغوي تفسير: او مونږ آسمانونو اومځکی اوځه چې د دوی په مینځ کی دی دحکمت څخه خالی نه دی پیدا کړی (بلکه (یر حکمتونه دی په کی چې دټولو څخه لوی حکمت په کی دا دی چې ددی څخه توحید او اخرت ثابت دی) دا (یعنی د دوی دحکمت څخه دخالی کیدو) دهغو خلګو خیال دی کوم چې کافران دی (څکه چې هرکله یې دتوحید او اخرت دجزا او سزا څخه انکار وکی نو دکائناتو دپیدا کولو دلوی حکمت څخه یې انکار وکی) وروسته دکافانو دپاره (په اخرت کی) لویه خرابی ده یعنی دوزخ (څکه چې هغوی دتوحید څخه انکار کوی) البته (یوه غلطی د دوی دا ده چې دقیامت څخه منکره دی ، حال دا دی چې په قیامت کی دا حکمت دی چې نیکانو ته جزا او مفسدانو ته سزا ورکول کیږي او د دوی دقیامت په انکار سره لازمیږي چې ددی حکمت تحقق ونه سی ، بلکه ټول برابر سی) آیامونږ به هغه خلګ چې ایمان راوړی اونیک کارونه وکی دهغو سره برابر کو کوم چې (کفر وغیره کوی) په دنیاکی فساد خپروی یا (په نورو الفاظو سره اَیا) مونږ به پرهیزګارانو ته دبدکارو سره برابرکو (یعنی داسی نه سی کیدی ، لهذا قیامت به خامخاراځی چې نیکانو ته جزا او بد کاروته سزاورکول سی ، دغه شان دتوحید او اخرت سره په رسالت ایمان لرل هم ضروری دی څکه چې) دا (قرآن) یو بابرکته کتاب دی کوم چې مونږ په تا باندی په دی واسطه سره نازل کړی دی چې خلګ ددې په اَیتونو کی فکر وکی (یعنی ددې په اعجاز کی هم او په کثیرالنفع مضامینوکی هم) او ددی دپاره چې (په فکر سره ددی حقیقت معلوم کی ددی څخه) دعقل خاوندان نصیحت حاصل کی (یعنی په دی عمل وکی)

معلومات اومسئلې

(دایتونو یو په زړه پوری ترتیب)

دا ایتونه په کومو کی چې داسلام دبنیادی عقیدو په خاص طور سره داخرت اثبات سوی دی دحضرت داود ﷺ او حضرت سلیمان ﷺ دواقعاتو په مینځ کی انتهایی په زړه پوری ترتیب سره راغلی دی ، امام رازی فرمایی چې که یو سړی دنارامی په وجه نه پوهیږی ، نو دده سره حکیمانه طریقه دا ده چې زیر بحث موضوع پریږدی او څه غیر متعلق خبره ورسره شروع کړی اوهرکله چې دده ذهن داولی خبری څخه واوړی نو په خبرو خبرو کی دی داولنی خبری په منلو مجبوره سی ، دلته داخرت داثبات دپاره دا طریقه اختیار سوې ده ، دحضرت داود ﷺ دواقعی څخه مخکی دکفارو دعنادونو ذکرچلیدی چې په دی آیت ختم سو چې ، وَقَالُوا رَبَّنَا عَجِّلْ لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ الْحِسَابِ : مطلب یې دا وو چې دغه خلګ داخرت څخه انکار کوی او مذاق ورپوری کوی ، ددی څخه فوراً وروسته دا ارشاد وسو چې ، اصْبِرْ عَلَى مَا يَقُولُونَ وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوُدَ (د دوی په خبرو صبر وکه او زمونږ بنده داود ﷺ یاد کړه) دغه رنګه یوه نوی خبره یې شروع کړه لیکن دحضرت داود ﷺ واقعه یې په دی خبره ختمه کړه چې

ای داوده! مونږ ته په مځکه کی خلیفه جوړکړی یې په دی وجه ته په خلګو کی په انصاف سره فیصلی

Maktaba Tul Ishaat.com

کوه ، اوس ددی ځای څخه یی په یوه غیر محسوس طریقه باندی داخرت اثبات وکی چی کوم ذات په مځکه کی خپل خلیفه ته په عدل او انصاف دقائمیدو حکم کوی چی ددی حاصل دا دی چی بدکارونه سزا ورکول سی اونیکانو ته راحت ، ایا هغه به په خپله په دی کائنات کی عدل او انصاف نه قائموی؟ یقیناً چی دهغه دحکمت تقاضادا ده چی هغه ښه اوبد ټول خلګ په یوه همسادشرلو په ځای بدکارونه سزا ورکی اونیکانو ته انعام ورکی ، دا ددی کائناتو دتخلیق مقصددی او ددی پر کار دراوستلو دپاره دقیامت او اخرت وجود ددی حکمت عین مطابق دی ، کوم خلګ چی داخرت څخه انکار کوی ، هغه گویا په زبان حال سره دا وایی چی داکائنات بی مقصده او دحکمت څخه خالی پیدا سوی دی او په دی کی به ښه بدټول خلګ ژوند تیر کړی او مړه به سی او بیابه د دوی څخه هیڅوک پوښتنه کوونکی نه وی ، حال دا دی چی دالله ﷻ په حکمت باندی ایمان لرونکی دا خبره چیری هم نه سی تسلیمولی .

أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا، تر : كَالْفُجَّارِ . پوری ډنوایامونږ ایمان راوړونکو ته او نیکو کارانو ته په مځکه کی دفساد خوروونکو سره برابر کی؟ یا به پرهیزګارانوته دبدکارانو سره برابر کی؟ یعنی داسی هیڅکله نه سی کیدی بلکه د دواړو انجام به بالکل مختلف وی ، ددی څخه دا خبره معلومه سوه چی دمومن او کافر دا فرق داخرت داحکامو په اعتبار سره دی ، په دنیا کی داسی هم کیدی سی چی کافر ته دمومن څخه زیات مادی راحتونه ورکول سی ، دارنګه ددی څخه دا نیتجه هم نه سی را ایستلی چی دکافر دنیوی حقوق دمومن برابر نه سی کیدی ، بلکه کافرته دمسلمان برابرانسانی حقوق ورکول سی ، چنانچی په اسلامی حکومت کی چی کوم غیرمسلم اقلیتونه دعهدو پیمان سره وسیږی ، هغوی ته به ټول انسانی حقوق دمسلمانانو برابر ورکول سی .

وَوَهَبْنَا لِدَاوٗدَ سُلَيْمٰنَ ؕ نِعْمَ الْعَبْدُ ؕ اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ۝۳۰

او ورکی مونږ داود ﷺ ته سلیمان ﷺ ، ډیر ښه بنده هغه دی ، رجوع کوونکی

اِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِالْعَشِيِّ الصّٰفِنٰتُ الْجِيَادُ ۝۳۱ فَقَالَ اِنِّيْۤ اَحْبَبْتُ حُبَّ

هرکله چی پیش سول ده ته ماښام اسونه ښه خاص ، نو وې ویل ما خوښ کی دمال

الْخَيْرِ عَنْ ذِكْرِ رَبِّيْ ۚ حَتّٰى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ ۝۳۲ رُدُّوْهَا عَلَيَّ ؕ فَطَفِقَ

محبت دخپل رب دیادو څخه ، تردی چی لمر پټ سو په پردو کی ، بیا را ولی هغه ماته ، بیا شروع سو

مَسْحًۢا بِالسُّوْقِ وَالْاَعْنَاقِ ۝۳۳

په وهلو دهغو دپښو دځټونو

لنډتفسیر: او مونږ داود (ﷺ) ته سلیمان (ﷺ) زوی) ورکی ډیر ښه بنده وو چی (دخدای طرف ته) ډیر رجوع

کورنکی وو (چنانچی دهغه قصه دیادولو ده) هرکله چی دمانبنام په وخت ده ته مخامخ اصیل (او) عمده اسونه (کوم چی په غرض دجهاد وغیره ساتلی سول) پیش سول (او دهغو په کتلو کی دومره وخت تیر سو چی ورځ پټه سوه او څه معمود ده لکه لمونځ فوت سو او په وجه دهیبت او جلالت دیو خادم جرأت ونه سو چی دی یی خبر اوپوه کړی وای ، بیاچی په خپله پوه سو) نوې ویل چی (افسوس) زه ددی مال په محبت کی (لګیاسوم) دخپل رب دیادولوڅخه (یعنی دلمانځه څخه) غافله سوم، تردی چی لمر په پرده (دمانبنام) کی پټ سو (بیایی خادمانو ته حکم وکی چی) هغه اسونه لږ بیاماته راولی (چنانچی را وستل سو) وروسته هغوی ددغو (اسونو) پنډی اوڅټونه (په توره سره) وهل شروع کړل (یعنی هغه یی ذبح کړل)

معلومات اومسئلې : په دی آیتونو کی دحضرت سلیمان ﷺ یوه واقعه ذکر سوې ده ، ددی واقعی مشهور تفسیرهغه دی کوم چی لوړپه لنډ تفسیرکی ذکر سوخلاصه دهغه داده چی حضرت سلیمان ﷺ داسونو په معاینه کی داسی مشغوله سو چی دماځیګر په وخت کی دکوم لمانځه معمول یی وو ، هغه ورڅخه پاته سو ، وروسته پوه سو نو ټول اسونه یی ذبح کړل چی ددغو په وجه دالله ﷻ په یادوکی خلل واقع سوی وو دا لمونځ نفلی هم کیدی سی ، او په دی صورت کی څه اشکال نسته ځکه چی انبیاء د دومره غفلت هم دتلافی کوشش کوی او دا هم کیدی سی چی فرض لمونځ وو او دمعاینی کولو په شغل کی یی هیر سوی وو، دهیریدو په صورت کی دفرض لمانځه په قضا کیدو کی ګناه خو نه کیږی ، لیکن حضرت سلیمان ﷺ دخپل لوی منصب ترمخه ددی هم تدارك وفرمایی .

ددی آیتونو دا تفسیر دډیرو امامانو دتفسیر څخه منقول دی او دحافظ ابن کثیر په شان محقق عالم هم دی ته ترجیح ورکړې ده او ددی تائید دیو مرفوع حدیث څخه هم کیږی کوم چی علامه سیوطی رحمه الله معجم طبرانی رحمه الله اسمٰعیل او ابن مردویه په حواله سره نقل کړی دی .

عَنْ اُبَیِّ ابْنِ کَعْبٍ ﷺ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ فِیْ قَوْلِهٖ فَطَفِقَ مَسْحًا بِالسُّوْقِ وَالْاَعْنَاقِ قَالَ قَطَعَ سُوْقَهَا وَاَعْنَاقَهَا بِالسَّیْفِ .

علامه سیوطی رحمه الله ددی سند ته حسن ویلی دی (درمنثور ص۳۰۹ ج۵) اوعلامه هیثمی رحمه الله مجمع الزواید کی دا حدیث نقل کوی لیکی .

دا طبرانی په اوسط کی روایت کړی دی ، په دی کی یو راوی سعیدبن بشیر دی کوم ته چی شعبه وغیره ثقه ویلی دی او ابن معین وغیره ضعیف ګرځولی دی او باقی سړی یی ثقه دی (مجمع الزوایدص۹۹ ج۷، کتاب التفسیر)

ددی مرفوع حدیث په وجه دا تفسیرکافی مضبوطیږی ، لیکن په دی عمومًا دا شبهه کیږی چی اسونه دالله ﷻ یو ورکول سوی انعام وو اوخپل مال داسی ضائع کول دیو نبی دشان سره مناسب نه معلومیږی ، لیکن مفسرینو ددی دا جواب ورکړی دی چی دا اسونه دحضرت سلیمان ﷺ په ذاتی ملکیت کی وه او د دوی په شریعت کی دغوا ، بزی ، اوښ په شان داسونو قربانی هم جائز وه ، نو په دی لحاظ سره ده اسونه ضائع نه کړل بلکه هغه یی دالله ﷻ په نوم قربان کړل ، لکه چی څنګه دغوا اوبزی په قربانی کولو سره د دوی ضائع کول نه لازمیږی ، بلکه دا دعبادت یوه شعبه ده ، دغه شان دلته هم دعبادت په طور باندی د دوی قربانی پیش سوه (روح المعانی)

Maktaba Tul Ishaat.com

اکثرو مفسرینو حضراتو دایت دا تفسیر کړی دی ، لیکن ددی ایتونو یو بل تفسیر دحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ څخه منقول دی چی په هغه کی واقعه بالکل په مختلفه طریقه سره بیان سوي ده ، دهغه تفسیر خلاصه دا ده چی دحضرت سلیمان ﷺ په مخکی اسونه دمعائنی دپاره پیش سول چی دجهاد دپاره تیار سوی وه ، حضرت سلیمان ﷺ دا ولیدل او خوشحاله سو او ددی سره یی دا ارشاد وفرمایی چی زمادی اسونو سره کوم محبت دی او دزړه تعلق دی هغه ددنیا دمحبت په وجه نه دی ، بلکه دخپل رب دیادو په وجه سره دی ، ځکه چی دا دجهاد دپاره تیار سوی دی او جهاد یو اعلی درجه عبادت دی ، په دی کړ داسونو هغه جماعت دده دسترګو څخه پناه سو ، ده حکم وکی چی دوباره یی ماته را ولی ، چنانچی هغه ورته دوباره را وستل سول نو ده یی په څټونو او پندو باندی دمحبت څخه لاس راکښول شروع کړل.

ددی تفسیرمطابق په عَنْ ذِکْرِ رَبِّیْ کی عن سببیه دی او دتورات ضمیراسونو ته راجع دی او دَمَسْحُ څخه مراد پریکول نه دی ، بلکه په محبت سره لاس راکښول دی .

په پخوانیو مفسرینو کی حافظ ابن جریر طبری او امام رازی وغیره دی تفسیر ته ترجیح ورکړي ده ، ځکه چی په دی دمال ضائع کولو شبهه نه کیږی .

دقرآن کریم دالفاظوپه لحاظ سره د دواړوتفسیرونو گنجائش سته لیکن داولنی تفسیر په حق کی چونکی یو مرفوع حدیث راغلی دی کوم چی دسند په اعتبار سره حسن دی ، په دی وجه دهغه قوت زیاتیږی .

دلمردواپسي قصه : ځینو حضراتو اولنی تفسیر اختیار کړی دی او دا یی هم ویلی دی چی دماخیګر دلمانځه دقضا کیدو څخه وروسته حضرت سلیمان ﷺ الله ﷻ ته یافریښتو درخواست وکی چی لمر دوباره بیر ته راسی ، چنانچی لمر بیرته رالی او ده خپل معمول پوره کی ، ددی څخه وروسته دوباره لمر ولویدی ، دا حضرات دردُّهَا، ضمیر لمر طرف ته راجع منی .

لیکن تحقیق کوونکی مفسرین مثلاً علامه الوسی رحمه الله وغیره ددی قصی تردید کړی دی اویلی یی دی چی دَرُدُّهَا ضمیر اسونو طرف ته راجع دی نه چی لمرطرف ته ، په دی وجه نه چی معاذالله دلمرواپس کول دالله ﷻ په قدرت کی نسته ، بلکه په دی وجه چی دا قصه دقرآن او حدیث په هیڅ دلیل سره ثابته نه ده (روح المعانی)

(چي دخدای په یادوکي غفلت وسي نو په خپل ځان سزا مقررول ددیني غیرت تقاضاده)

په هرحال ددی واقعی څخه دا خبره ثابتیږی چی که څه وخت دالله ﷻ په یادوکی غفلت وسی نو نفس ته دسزا ورکولو دپاره دی دځه مباح کار څخه محرومه کول جائز دی او دصوفیایی کرامو حضراتو په اصطلاح کی دی ته ، غیرت، وایی (بیان القرآن)

دیو نیکی دعادت جوړولو دپاره په خپل نفس داسی سزاګانی مقررول دنفس داصلاح یوه نسخه ده او ددی واقعی څخه ددی جواز بلکه استحباب معلومیږی ، دسرکار دوعالم ﷺ څخه هم روایت دی چی یو وار حضرت ابوجهم ﷺ یو شامی څادر ورته هدیةً پیش کی چی څه نقش ونګاړی جوړ سوی وو، دوی په دغه څادر کی لمونځ وکی او بیرته راغی حضرت عائشه ﷺ ته یی وفرمایل چی داڅادرابوجهم ﷺ ته واپس کی ځکه چی په لمانځه کی زما نظر ددی څادر په نقش ونګار باندی پریوتی ، نو قریبه وه چی دا

Maktaba Tul Ishaat.com

نقش ونگار ما په فتنه کی واچوی (احکام القرآن بحواله موطا ومالك)

دغه ډول حضرت ابوطلحه (رض) یو وار په خپل باغ کی لمونځ کوی او دیومرغه په لیدو مشغل سو چی دلمانځه څخه یی فکر واوښتی نو وروسته یی دغه خپل ټول باغ صدقه کی ز

لیکن دایادساتل په کار دی چی ددی مقصد دپاره سزا داسی په کار ده کومه چی بذات خود جائزه وی ، دمال بلاوجه ضائع کول جائز نه دی ، په دی وجه داسی څه کارتیك نه دی په کوم سره چی دمال ضائع والی لازمیږی ، په صوفیاوو کی حضرت شبلی یو وار ددی سزا په طور خپلی جامی سوزلی وی، لیکن محققینو صوفیاوو مثلاً شیخ عبدالوهاب شعرانی رحمه الله دده داعمل صحیح نه ووګڼلی (روح المعانی)

(امیر ته بذات خود دریاست دکارونو نګرانی کول په کار دی)

ددی واقعی څخه دوهمه خبره دا معلومه سوه چی دحکومت ذمه وار یا دلوړی درجی افسر ته په کار دی چی هغه دخپلو ماتحتو شعبو بذات خود نګرانی کوی ، او دا هغه خپلو ماتحتو نه پریږدی چی څان ورڅخه فارغه کوی ، دا وجه ده چی حضرت سلیمان علیه السلام دماتحتو دکثرت باوجود په نفس نفیس داسونو معائنه وفرمایله، دخلفاء راشدینو اوپه خاص طور سره دفاروق اعظم رضی الله عنه دعمل څخه هم داثابتیږی .

(دیوعبادت په وخت په بل عبادت کي مشغولیدل غلطي ده)

دریمه خبره ددی واقعی څخه دا ثابتیږی چی دیو وقتی عبادت وخت په بل عبادت کی صرف کول هم نه دی په کار، ظاهره ده چی دجهاد داسونو معائنه یو عظیم عبادت وو لیکن چونکی دغه وخت ددی عبادت په ځای دلمانځه وو ، په دی وجه حضرت سلیمان علیه السلام دا هم په غلطی کی شمارکی او ددی تدارك یی وفرمایی په دی وجه زمونږ فقهاؤ ویلی دی چی دجمعې دااذان څخه وروسته چی لکه څنګه په اخستلو خرڅولوکی مشغولیت جائز نه دی ، دغه ډول دجمعی دلمانځه دتیاری څخه علاوه په بل کارکی مشغولیدل هم جائزنه دی برابره خبره ده که تلاوت یانفل عبادت ولی نه وی .

وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمٰنَ وَاَلْقَيْنَا عَلٰى كُرْسِيِّهٖ جَسَدًا ثُمَّ اَنَابَ ﴿۳۴﴾

اومونږ په امتحان کی واچوی سلیمان علیه السلام او ورغورځوی مونږ ددده په تخت یو جسد بیا هغه رجوع وکړه .

لغوتفسیر: اومونږ سلیمان (علیه السلام) (په یوبل شان سره هم) په امتحان کی واچوی اومونږ ددده په تخت یو بدن واچوی بیاهغه (خدای طرف ته) رجوع وکړه .

معلومات اومسئلي : په دی آیت کی دحضرت سلیمان علیه السلام دیو بل ازمیښت ذکر فرمایلی دی اوپه دی سلسله کی یی صرف دومره ذکرکړی دی چی ددی ازمیښت په دوران کی څه بدن دحضرت سلیمان علیه السلام په کرسی باندی غورځول سوی وو ، اوس دغه بدن څه وو؟ ددده په کرسی یی دغورځولو مطلب څه دی؟ اوپه دی سره ازمیښت څنګه وسو؟ داتفصیلات نه په قرآن کریم کی موجود دی اونه په څه صحیح حدیث سره ثابت دی ، په دی وجه څینو محقیقینو مفسرینو مثلاً دحافظ ابن کثیر رحمه الله دلته هم دی طرف ته معلومیږی چی قرآن کریم کومه خبره مجمله پاته کړي ده ، دهغه په تفصیلاتوکی دپریوتوځه ضرورت نسته ، بس په دومره خبره باندی ایمان لرل په کار دی چی الله ﷻ دحضرت سلیمان علیه السلام څه ازمیښت کړی

Maktaba Tul Ishaat.com

وو دکوم څخه وروسته چې حضرت سلیمان ﷺ دالله ﷻ طرف ته دمخکې څخه زیاته توجه وفرمایله او دقرآن کریم اصل مقصد په دومره بیان سره پوره کیږي.

اوځینې مفسرینو دازمینبنت دتفصیلاتو په تلاش کې کوشش کړی دی اوپه دې سلسله کې یې ډیر احتمالات بیان کړی دی ، په دې کې ځینې احتمالات خو خالص داسرائیلی روایتونو څخه راخستل سوی ، مثلاً دا چې دَحضرت سلیمان ﷺ دحکومت رازدده په ګوتمۍ کې وو، یوه ورځ یوشیطان دا ګوتمۍ دده څخه قبضه کړه او ددې په وجه هغه دحضرت سلیمان ﷺ په تخت په خپل شکل سره بادشاه کښینستې څلویښت ورځې وروسته هغه ګوتمۍ حضرت سلیمان ﷺ ته دیوماهی دنس څخه ورکول سوه ، ددې څخه وروسته ده دوباره په حکومت قبضه وکړه دا روایت د ډیرو نورو زیاتو قصو سره په خو تفسیري کتابونو کې راغلی دی ، لیکن حافظ ابن کثیر ددې قسمه ټول روایتونه په اسرائیلیاتو کې دشمیرلو څخه وروسته لیکي چې.

په اهل کتابو کې یوه ډله داسې ده کومه چې حضرت سلیمان ﷺ نبی نه منی ، وروسته ظاهره دا ده چې دا دروغ قصې هم ددې خلګو جوړ سوی دی (ابن کثیرص۳۶، ج۴)

په دې وجه داسې قسم روایتونوته ددې قرآنی آیت تفسیرویل په هیڅ شان سره صحیح نه دی.

دحضرت سلیمان ﷺ یوه بله واقعه په صحیح بخاری وغیره کې ذکر ده ، ځینې مفسرینو حضراتو ددې واقعې بعضې حصې دقرآن کریم ددې آیت سره یوشان ولیدې هغه یې ددې آیت تفسیر مقررکړی دی ددې واقعې خلاصه دا ده چې یو وارحضرت سلیمان ﷺ دا خیال ظاهر وفرمایې چې نن شپه زه دخپلو بیبیانو سره دزوجیت وظیفه ادا کړم او ددې څخه دهرې بیبۍ یو زوی وسی کوم چې دالله ﷻ په لاره کې په جهاد کوی ، لیکن ددې خیال ظاهرولو په وخت کې د دوی ، انشاء الله، ویل هیرسول ، الله ﷻ ته دخپل جلیل القدر پیغمبر دا کمزوری خوښه نه سوه او د دوی دعوٰی یې داسې غلطه ثابته کړه چې په ټولو بیبیانو کې صرف دیوی بی بی یو مړ بچی پیدا سو چې نیمګړی وی.

ځینې مفسرینو دا واقعه په دې آیت منطبقه کړې ده او دایې فرمایلی دی چې په تخت دبدن غورځولو څخه مراد دا دی چې دحضرت سلیمان ﷺ یو خادم دا بچی راوړی او د دوی په تخت یې کښیښوی، حضرت سلیمان ﷺ په دې پوه سو چې دا انجام زماد، انشاء الله، نه ویلو دی ، چنانچې دوی الله ﷻ طرف ته رجوع وفرمایله او په خپله دې کمزوری باندې یې استغفار وکې.

دا تفسیر ډیرو محققینو مفسرینو مثلاً قاضی ابوالسعود رحمۃ اللہ علیہ اوعلامه الوسی رحمۃ اللہ علیہ وغیره اختیار کړی دی ، حکیم الامت حضرت تهانوی رحمۃ اللہ علیہ په بیان القرآن کې هم ددې مطابق تفسیرکړی دی ، لیکن حقیقت دا دی چې دې واقعې ته دآیت تفسیر نه سې ویلی ، ځکه چې دا واقعه په خومره آیتونوکې راغلی ده په هغه کې چیرې ددې خبرې څه علامه نسته چې نبی کریم ﷺ دا دبحث لاندې دآیت په تفسیر کې ذکر فرمایلی وی امام بخاری هم دا حدیث په کتاب الجهاد، کتاب الانبیاء اوکتاب الایمان والنذور وغیره کې خو په بې شمیره طریقو سره نقل کړې ده ، لیکن په کتاب التفسیر کې دسورۃ ص ترتفسیر لاندې هیڅ ځای نه ده ذکر کړی ، بلکه دَآیت، وَهَبْ لِیْ مُلْکًاالخ، لاندې یې یوبل روایت نقل کړی دی او

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی حدیث یی څه حواله قدری هم نه ده ورکړی ، ددی څخه معلومیږی چی دامام بخاری رحمه‌الله په نزد هم دا واقعه دزیربحث آیت تفسیر نه دی ، بلکه لکه څنګه چی دانبیاء نور واقعات نبی کریم ﷺ بیان کړی دی دغه ډول دا هم یوه جداګانه واقعه ده چی ددی دیوآیت تفسیر کیدل څه ضروری نه دی .

یو دریم تفسیرامام رازی رحمه‌الله وغیره بیان کړی دی او هغه دا چی دحضرت سلیمان ﷺ یو وارث سخت ناجوړی سو او په دی وجه یی کمزوری دی درجی ته اورسیده چی هرکله چی یی تخت ته راوړی او کښینوی نو یو بی روحه جسم معلومیدی ، ددی څخه وروسته الله ﷻ ده ته صحت ورکی ، دغه وخت دوی الله ﷻ طرف ته رجوع وکړه اوشکر یی هم ادا کی او مغفرت یی هم وغوښتی ، اودائنده دپاره یی دبی نظیر حکومت دعاهم وکړه .

لیکن دا تفسیر هم محض قیاسی دی ، دقرآن دالفاظو سره هم زیات مناسبت نه لری اوپه یو روایت سره هم ددی ثبوت نسته .

حقیقت دا دی چی په زیربحث آیت کی چی دکومی واقعی طرف ته اشاره سوي ده ، ددی دیقینی تفصیلاتو معلومولو دپاره زمونږ سره څه ذریعه نسته او نه مونږ ددی مکلف یو ، په دی وجه په دومره خبره باندی یقین لرل کافی دی چی الله ﷻ دحضرت سلیمان ﷺ څه ازمینښت کړی وو چی دهغه څخه وروسته په ده کی الله ﷻ طرف ته درجوع مادې دمخکی څخه زیاته پیداسوه اوددی واقعی په ذکر کولو سره دقرآن کریم اصل مقصد ټولوانسانانو ته ددی خبری دعوت ورکول دی چی که دوی په څه ازمینښت یامصیبت کی مبتلا وی نو دوی ته دحضرت سلیمان ﷺ په شان داول څخه زیات رجوع کول الله ﷻ ته په کار ده ، پاته سول دحضرت سلیمان ﷺ د ازمینښت تفصیلات نو هغه الله ﷻ ته حواله کول په کار دی ، والله اعلم

قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَهَبْ لِي مُلْكًا لَّا يَنبَغِي لِأَحَدٍ مِّن بَعْدِي ۖ إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ ﴿٣٥﴾ فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيحَ

وې ویل ای زما ربه ! معاف کړه ما او وبخښه ماته هغه بادشاهی چی مناسب نه وی دبل چاسره زما څخه وروسته ، بیشکه ته یی دهر څه بخښوونکی ، بیا مونږ تابع کړه ده لره هوا .

تَجْرِي بِأَمْرِهِ رُخَاءً حَيْثُ أَصَابَ ﴿٣٦﴾ وَالشَّيَاطِينَ كُلَّ بَنَّاءٍ

چی تله به دده په حکم سره نرمه نرمه کوم خای ته چی به یی رسیدل غوښتل ، اوتابع یی کړل ورته شیطانان دیر

وَغَوَّاصٍ ﴿٣٧﴾ وَآخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِي الْأَصْفَادِ ﴿٣٨﴾ هَٰذَا عَطَاؤُنَا فَامْنُنْ

آبادی کوونکی اوغوتی وهونکی ، اونورډیر ترلی سوی په په خنځیرونوکی ، دادی بخښش زمونږ اوس ته احسان کوه

أَوْ أَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٩﴾ وَإِنَّ لَهُ عِندَنَا لَزُلْفَىٰ وَحُسْنَ مَآبٍ ﴿٤٠﴾

یا یی منه کوه ستا سره به حساب نه وی ، او ده لره زمونږ په نزدمرتبه ده او غوره خای دی .

لغات تفسیر: (حضرت سلیمان ﷺ دالله ﷻ څخه) دعاوغوښتله چی ای زماربه ! زما (تیر) قصورمعاف کړه او

(دائنده دپاره) ماته داسی حکومت راکی چی زما څخه ماسوا (زماپه زمانه کی) چاته حاصل نه وی (برابره خبره ده که څه غیبی وهبی سامان راکی برابره خبره ده اوکه دزمانی بادشاهان داسی دباوکړی چی مقابله راسره ونه کړل سی او) ته لوی بخشش کوونکی یی (تاته ددی دعاقبلول څه گران نه دی) وروسته (مونږ دده دعاقبوله کړه او دده خطامو هم معاف کړه او دارنګه) مونږ هوا دده تابع کړه چی هغه به دده په حکم سره کوم ځای ته چی به ده (تلل) غوښتل په نرمی سره تلله (چی په دی سره دده اسونو ته ضرورت پاته نه سو) او پیریان مو هم دده تابع کړل یعنی اٰبادوجوړونکی هم او (دملغلرو وغیره دپاره) غوتی وهونکی هم اونورو پیریانو ته هم کوم چی په زنځیرونوکی به بنده وه (غالبًا چی کومو به دسپرلی دخدمت څخه منع کوله یابه یی په کی کوتاهی کوله هغوی له به دقیدسزا وه او مونږ دا سامان درکی ارشاد مو وفرمایی چی) دا زمونږ بخشش دی نو برابره خبره ده که (چاته څه) ورکوی یانه ورکوی ستاڅخه هیڅ پوښتنه نسته (یعنی څومره سامان چی مونږتاته درکړی دی په دی کی ته دنورو بادشهانو په شان محض خازن اومنتظم نه یاست جوړسوی بلکه ته مالك هم جوړسوی یی) او (علاوه ددی سامان څخه کوم چی ده ته په دنیاکی ورکول سوی وو) دده دپاره زمونږ سره (خاص) قرب او (اعلی درجه) نیك انجامی ده (چی ثمره به یی په پوره طور سره په اٰخرت کی ښکاره سی)

معلومات اومسئلي هَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي (ماته داسی حکومت راکړی چی زماڅخه وروسته چاته حاصل نه وی) ددی دعامطلب ځینو مفسرینو خو دا ښوولی دی چی زماپه زمانه کی زماپه شان عظیم الشان سلطنت بل چاته حاصل نه وی گویادده په نزدَ، زماڅخه وروسته، مطلب، زماڅخه سوا، دی حضرت تهانوی رحمه الله هم ددی مطابق ترجمه کړي ده ، لیکن د ډیرو مفسرینو په نزد ددعا عام مطلب دا دی چی زماڅخه وروسته هم چاته داسی عظیم الشان سلطنت حاصل نه وی چنانچی واقعه هم داسی ده چی الله ﷻ حضرت سلیمان علیه السلام ته چی څنګه حکومت ورکی دغسی ددی څخه وروسته هم هیچاته نصیب نه سو، ځکه چی دهواګانو مسخرکیدل اودپیریانوداسی تابع کیدل وروسته هیچاته حاصل نه سو، ځینی خلګ دعملیاتو وغیره په ذریعه ځینی پیریان چی کوم مسخرکوی ، هغه ددی منافی نه ده ، ځکه چی دحضرت سلیمان علیه السلام دپیریانو دتسخیر سره ددی هیڅ نسبت نسته ، دعملیاتو ماهرین یو یا دوه یاڅو پیریان تابع کوی ، لیکن څنګه چی هم ګیرحکومت حضرت سلیمان علیه السلام ته حاصل وو، داسی هیچاته حاصل نه سو.

(دحکومت او داقتدار دعا)

دلته دا خبره هم یادول په کار دی چی دانبیاء علیهم السلام هیڅ دعادالله ﷻ داجازی څخه بغیر نه وی حضرت سلیمان علیه السلام دا دعاهم دالله ﷻ په اجازه سره غوښتلی وه او چونکی ددی منشاء محض داقتدارطلب نه وو بلکه ددی پرشا دالله ﷻ داحکامو نافذ کولواوکلمه حق لوړولو جذبه کار فرما وه اوباری تعالی ته معلومه وه چی دحکومت یوځای کیدو څخه وروسته به حضرت سلیمان علیه السلام ددی لوړو مقاصدو دپاره کار کوی او دحب جاه جذبات به دده په زړه کی ځای نه کی پیدا، په دی وجه ده ته ددی دعا اجازه هم ورکول سوه او قبوله سوه لیکن دعامو خلګو دپاره دځانه داقتدارطلب کول په حدیث کی څکه منع سوی

Maktaba Tul Ishaat.com

دی چی په دی کی دَحُبِّ جاه او مال جذبات شاملیږی چنانچی کوم ځای چی انسان ته ددا قسم نفسانی جذباتو څخه دخالی والی یقین وی اوهغه په واقع کی دحق کلمی دلوړولو څخه ماسوا په څه بل مقصد سره اقتدار حاصلول نه غواړی نو دده دپاره دحکومت دعاغوښتل جائز دی (روح وغیره)

مُقَرَّنِيْنَ فِي الْاَصْفَادِ(په زنځیرونو کی بند سوی) دپیریانو تسخیر اوکوم خدمتونه چی هغو کول دهغه تفصیل په سورة سبا کی تیر سوی دی دلته دا ښوول دی چی سرکښه پیریان حضرت سلیمان علیه السلام په زنځیرونو کی بند کړی وو، اوس ددی زنځیرونو دپاره دا ضروری نه ده چی هغه دی ددی په نظر راتلونکی اوسپنی زنځیرونه وی، کیدی سی چی دپیریانو دبندولو دپاره څه بله طریقه اختیار سوی وی کومه چی په آسانی سره دپوهولو دپاره دلته په زنځیرونو سره تعبیر کړی وی.

وَاذْكُرْ عَبْدَنَآ اَيُّوْبَ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗٓ اَنِّيْ مَسَّنِيَ الشَّيْطٰنُ بِنُصْبٍ

اویاد کړه زمونږ بنده ایوب علیه السلام کله چی ده وبلی خپل رب چی ماته ورسوی شیطان ازار

وَّعَذَابٍ ﴿۴۱﴾ اُرْكُضْ بِرِجْلِكَ ۚ هٰذَا مُغْتَسَلٌۢ بَارِدٌ وَّشَرَابٌ ﴿۴۲﴾

او تکلیف ، ووهه په خپله پښه دا چینه را ووتله دلمبلو دپاره یخه او دچښلو دپاره ،

وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنَّا وَذِكْرٰى لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۴۳﴾

اوورکړل مونږ ده ته دده کورواله اوددوی برابر ددوی سره دخپل طرف څخه په مهربانی سره اونصیحت دعقل مندو دپاره

وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِبْ بِّهٖ وَلَا تَحْنَثْ ۗ اِنَّا وَجَدْنٰهُ صَابِرًا ۭ

اوونیسه په خپل لاس کی جاروتیلوبیا یی په دی ووهه او په خپل قسم کی درواغجن کیږه مه مونږدی پیداکی

نِعْمَ الْعَبْدُ ۭ اِنَّهٗٓ اَوَّابٌ ﴿۴۴﴾

صبرکوونکی ډیر ښه بنده ، بیشکه هغه وو رجوع کوونکی.

لنډتفسیر: اوته زمونږ بنده ایوب (علیه السلام) یادکړه هرکله چی هغه خپل رب وبلی چی شیطان ماته رنځ اوازار رسولی دی (او دا رنځ اوازار دځینو مفسرینو دقول مطابق هغه دی کوم چی امام احمد په کتاب الزهد کی دابن عباس رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چی دحضرت ایوب دناجوړی په زمانه کی یو وار شیطان دیو طبیب په شکل کی دحضرت ایوب علیه السلام دبی بی سره لیدلی وه ، هغه دی طبیب وګنی او دعلاج درخواست یی ورته وکی هغه وویل چی په دی شرط که هغه جوړ سی نو چی ته داسی ووایی چی تاورته شفاورکړه ، زه نور څه نذرانه نه غواړم ، هغه حضرت ایوب علیه السلام ته ذکر وکی ، هغوی وویل چی دا خو شیطان وو ، زه وعده کوم ، چی که الله ﷻ ماته شفا را کړه نو زه به تاسل دوری ووهم ، نو ده ته سخت تکلیف ورسیدی

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی څخه چی زمادناجوړی په وجه دشیطان دومره حوصله زیاته سوه چی خاص زمادښځی سره داسی کلمی وایی کوم چی په ظاهره موجب دشرك دی ، که څه هم په تاویل کی شرك نه دی که څه هم حضرت ایوب ﷺ دمرض لیری کیدو دپاره اول هم دعاکړی وه ، مگر په دی واقعه سره یی نوره زیاته په زاری اوعاجزی سره دعاوکړه ، نو مونږ دده دعاقبوله کړه او حکم مو ورته وکی چی، خپله پښه (په مځکه) ووهه (چنانچی هغه په مځکه پښه ووهله نو هلته یوه چینه پیدا سوه (رواه احمد)

نو مونږ ده ته وویل چی) دا (ستا دپاره) دلمبیدلو یخی اوبه دی اودچښلو (یعنی په دی کی غسل وکړه اوچښه یی هم، چنانچی ویی لمبل اوچښلی یی هم اوبالکل ښه سو) اومونږ ده ته دده کورنی ورکړه او د دوی سره (په شمیر) د دوی برابر نور هم (ورکړل) دخپل خاص رحمت په سبب سره او دعقلمندو دپاره دیا دګار پاته کیدو په سبب سره (یعنی چی عقلمند یاد وساتی چی الله ﷻ صابرانو ته څنګه جزا ورکوی او اوس ایوب ﷺ دخپل قسم پوره کولو اراده وکړه ، مگر چونکی هغه دایوب ﷺ خدمت ډیر کړی وو او ددی څخه څه ګناه هم نه وه سوی ، په دی وجه الله ﷻ په خپل رحمت سره ددی دپاره یو تخفیف وفرمایی) او (ارشادیی وفرمایی چی ای ایوب!) ته په خپل لاس کی یوموټی دجارو واخله (چی سل لرګی په کی وی) او (خپله بی بی) په دی سره ووهه او (خپل) قسم مه ماتوه (چنانچی داسی وسوه، مځکی دایوب ﷺ تعریف دی چی) بیشکه مونږ دی (لوی) صابرپیدا کی ښه بنده وو چی (خدای طرف ته) رجوع کوونکی وو

معلومات اومسئلي: دحضرت ایوب ﷺ واقعه دلته نبی کریم ﷺ ته دصبر دتلقین کولو دپاره راوړل سوي ده ، دا واقعه په تفصیل سره په سورة انبیاء کی تیره سوي ده دلته څو خبری قابل ذکر دی.

مَسَّنِيَ الشَّيْطَانُ بِنُصْبٍ وَعَذَابٍ (شیطان ماته رنځ او ازار رسولی دی ، څینو حضراتو د رنځ ازار رسولو تفصیل دا بیان کړی چی حضرت ایوب ﷺ چی په کومه ناجوړی کی مبتلاسوی وو، هغه دشیطان دتسلط په وجه راغلی وه او سوی دا وه چی یوه ورځ ملائکو دحضرت ایوب ﷺ ډیر زیات تعریف وکی، په دی سره شیطان سخت حسد وکی او ده دالله ﷻ څخه سوال وکی چی ماته دده په جسم اومال او اولاد داسی تسلط راکی چی زه دده سره څه غواړم وکړم ، دالله ﷻ مقصود هم دا وو چی دحضرت ایوب ﷺ ازمائش وسی ، په دی وجه شیطان ته دا حق ورکول سو او هغه دی په دی ناجوړی کی مبتلاکی.

لیکن محققینومفسرینو ددی قصی تردید کړی دی اوویلی یی دی چی دقرآن کریم دوضاحت مطابق په انبیاء علیهم السلام دشیطان تسلط نه سی حاصلیدی، په دی وجه دامکنه نه ده چی هغه دی ناجوړه کړی وی. څینوحضراتو دشیطان درنځ اوازار رسولو دا تشریح کړي ده چی دناجوړی په حالت کی به شیطان دحضرت ایوب ﷺ په زړه کی قسم قسم وسوسی اچولی ، په دی وجه به ده ته تکلیف نور زیاتیدی دلته ده ددی ذکر فرمایلی دی ، لیکن ددی آیت دټولو څخه ښه تشریح هغه ده کومه چی حضرت تهانوی رحمه الله په بیان القرآن کی اختیارکړي ده او کومه چی په لنډ تفسیر کی لوړ لیکل سوي ده.

(دحضرت ایوب ﷺ دمرض نوعیت)

په قرآن کریم کی دومره خوښوول سوي ده چی په حضرت ایوب ﷺ یو سخت قسم مرض راغلی وو لیکن ددی مرض نوعیت نه دی ښوول سوی ، په احادیثو کی هم ددی څه تفصیل دنبی کریم ﷺ څخه منقول نه

Maktaba Tul Ishaat.com

دی ، البته دځینو اثارو څخه دا معلومیږی ، چی دده دجسم په هره حصه باندی دانی راختلی وی تردی چی خلګو دنفرت په وجه دی په یو خرابه ځای اچولی وو، لیکن ځینو محققینو مفسرینو ددی اثارو دصحیح تسلیمولو څخه انکارکړی دی ، د دوی ویناده چی په انبیا ء علیهم السلام ناجوړی خو راتلی سی، لیکن دوی په داسی ناجوړی کی نه سی اخته کولی ، دکومو په وجه چی خلګ د دوی څخه کرکه کول شروع سی ، دحضرت ایوب علیه السلام ناجوړی هم داسی نه سی کیدی بلکه دا څه عام قسم ناجوړی وه ، په دی وجه هغه اثار په کومو کی چی حضرت ایوب علیه السلام ته ددانو دراختلو نسبت سوی دی یاپه کومو کی چی ویل سوی دی چی دوی یی په یوګنده ځای باندی غورځولی وو، روایتًا او درایتًا قابل اعتماد نه دی (ملخص از روح المعانی واحکام القرآن)

وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا (ته په خپل لاس کی یو موتی دجارو واخله) ددی واقعی وروسته منظر لوړ په لنډ تفسیر کی تیر سوی دی ، دلته ددی واقعی متعلق یو څو مسئلی لیکل کیږی .

اوله مسئله : دا ده چی ددی واقعی څخه معلومه سوه چی که چیری یو سړی چاته قسم واخلی چی سل کوړی به یی وهم او بیادسلو کوړو جلا جلا وهلو په ځای ټولی کوړی یوموتی کړی او په یو وار یی پری ووهی نو دده قسم پوره کیږی ، په دی وجه حضرت ایوب علیه السلام ته ددا سی کولو حکم ورکول سو، دا دامام ابوحنیفه رحمه الله مسلك دی ، لیکن لکه څنګه چی علامه ابن همام لیکلی دی ، ددی دپاره دوه شرطونه ضروری دی یو خو دا چی دهغه سړی په بدن باندی هره یوه کوړه په اوږدوالی یاپلنوالی ضرورولګیږی ، دوهم دا چی ددی څخه څه ناڅه تکلیف ضرور ورسیږی که په داسی سپکو کوړو یی ووهی چی بدن ته یی هیڅ تکلیف ونه رسیدی نو قسم به یی پوره نه سی ، حضرت تهانوی رحمه الله چی په بیان القرآن کی کوم لیکلی دی چی قسم به پوره نه سی نو غالبًا چی دَهغه مراد دا دی چی تکلیف بالکل نه وی یایوه کوړه په بدن ونه لګیږی ، ورنه احنافوفقهاوو وضاحت فرمایلی دی چی که دلوړو دوو شرطونو سره ووهل سی نوقسم به پوره سی (فتح القدیر ص۱۳۷ ج۴)

دحیلو شرعي حیثیت : ددی آیت څخه دوهمه مسئله دا معلومه سوه چی دیوی نامناسبی یامکروه خبری څخه دمحفوظ کیدو دپاره که څه شرعی حیله اختیار سی نو هغه جائز ده ، ظاهره ده چی دحضرت ایوب علیه السلام په واقعه کی دقسم اصلی تقاضادا ده چی دی خپله پاکه بی بی پوره سل کوړی ووهی ، لیکن چونکی دده بی بی بی ګناه وه او دی دحضرت ایوب علیه السلام بی مثاله خدمت کړی وو ، په دی وجه الله ﷻ په خپله حضرت ایوب علیه السلام ته دیوی حیلی تلقین وفرمایی او دا وضاحت یی وفرمایی چی په داسی کولو به دده قسم مات نه سی ، په دی وجه دا واقعه دحیلی په جواز باندی دلالت کوی .

لیکن دا یاد ساتل په کار دی چی دا قسم حیلی هغه وخت جائز کیږی ، هرکله چی دا دشرعی مقصادو دابطال ذریعه جوړه نه سی اوکه دحیلی مقصد دا وی چی دیو حقدار حق باطل سی یا دیو واضح حرام کار دحرمت روح دبرقرار ساتلو سره دڅان دپاره حلال سی ، نو داسی حیله بالکل ناجائزه ده، مثلاً دزکوة څخه دڅان محفوظ کولو دپاره ځینی خلګ داسی حیلی کوی چی دکال ختمید و څخه لږ مخکی خپل مال دنښځی په ملکیت کی ورکی بیا یی څه ورځی وروسته نښځه دوباره خاوند ته ورکوی اوهرکله چی دا بل

Maktaba Tul Ishaat.com

کال بیاختمیدو ته نژدی سی نو بیا دغه مال خاوند ښځی ته وبخښی ، دغه دول په چازکوة نه واجبیږی ، داسی کول چونکی شرعی مقاصدو دباطلولو یوکوشش دی ، په دی وجه حرام دی ، او شاید چی ددی وبال به دترک زکوة دوبال څخه زیات لوی وی (روح المعانی ازمبسوط سرخسی)

(په نامناسبه کار قسم اخستل)

دریمه مسئله دا معلومه سوه چی که یو سړی په څه نامناسبه غلط یاناجائزکارباندی قسم واخلی نو قسم منعقدکیږی اوددی په ماتولوهم کفاره راځی ظاهره ده چی که په دی صورت کی کفاره نه راتلی نوحضرت ایوب ﷺ ته به داحیله نه سوه تلیقین کولی، لیکن ددی سره داهم یادساتل په کار دی چی که په یونامناسب کارقسم واخلی نوشرعی حکم دا دی چی هغه به ماتوی اوکفاره به اداکوی ، په یوه حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاددی چی .

کوم سړی یو قسم واخلی بیاوروسته دده رایی داشی چی ددی قسم څخه خلاف کول زیات ښه دی نوده ته په کار دی چی دی هغه کار وکی کوم چی ښه وی او دقسم کفاره ادا کی .

وَاذْكُرْ عَبْدَنَآ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ اُولِى الْاَيْدِىْ وَالْاَبْصَارِ ﴿۴۵﴾ اِنَّآ اَخْلَصْنٰهُمْ بِخَالِصَةٍ

اویادکړه زمونږبندګان ابراهیم ع اواسحق ع اویعقوب ع خاوندان دلاسونو اوسترګومونږ خالص کړل دوی په یوه خاص خبره .

ذِكْرَى الدَّارِ ﴿۴۶﴾ وَاِنَّهُمْ عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْاَخْيَارِ ﴿۴۷﴾ وَاذْكُرْ اِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ

په یادو ددې کور،او هغه ټول زمونږ په نزد غوره کړل سوی نیکو خلقو کی دی، اویادکړه اسمٰعیل اویسع ﷺ

وَذَا الْكِفْلِ ۭ وَكُلٌّ مِّنَ الْاَخْيَارِ ﴿۴۸﴾ هٰذَا ذِكْرٌ ۭ وَاِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ لَحُسْنَ

او ذا الکفل ، او هریو وو دغوره سوو څخه ، دا دی چی ذکر سول ، او بیشکه دمتقیانو دپاره دی ښه ځای

مَاٰبٍ ﴿۴۹﴾ جَنّٰتِ عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الْاَبْوَابُ ﴿۵۰﴾ مُتَّكِـــِٕيْنَ فِيْهَا يَدْعُوْنَ

دورتلو ،باغونه دی دهمیشه اوسیدوخلاصی دی ددوی دپاره دروازی،تکیه وهلی به په کی ناست وی راغواړی به

فِيْهَا بِفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ وَّشَرَابٍ ﴿۵۱﴾ وَعِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ اَتْرَابٌ ﴿۵۲﴾

په هغه کی میوی ډیری او شراب ، او د دوی سره به ښځی وی کښته نظر کوونکی همزولی،

هٰذَا مَا تُوْعَدُوْنَ لِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۵۳﴾ اِنَّ هٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهٗ مِنْ نَّفَادٍ ﴿۵۴﴾

داهغه دی چی تاسی سره یی وعده سوی ده دحساب په ورځ ، دا دی رزق زمونږ درکړل سوی نسته دی لړه ختمیدل

هٰذَا ۭ وَاِنَّ لِلطّٰغِيْنَ لَشَرَّ مَاٰبٍ ﴿۵۵﴾ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۚ فَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۵۶﴾

دامو واوریدل ، اوپه تحقیق سره دشریرانو دپاره بد ځای دی ، دوږخ دی چی دوی به په کی وغورځول سی، نوځه

Maktaba Tul Ishaat.com

هٰذَا ۙ فَلْيَذُوْقُوْهُ حَمِيْمٌ وَّغَسَّاقٌ ﴿۵۷﴾ وَّاٰخَرُ مِنْ شَكْلِهٖۤ اَزْوَاجٌ ﴿۵۸﴾ هٰذَا

بدخای دی دارام، دا دی اودی وخکی ، گرمی اوبه اوزوی (نوونه) او څه نور ددې په شکل قسما قسم شیان ، دا

فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ ۚ لَا مَرْحَبًۢا بِهِمْ ۚ اِنَّهُمْ صَالُوا النَّارِ ﴿۵۹﴾ قَالُوْا بَلْ اَنْتُمْ ۖ

فوج دی چې تاسی سره ځی (دوزخ ته) دوی دی په خیررانه سی،یقیناًدوی ننوتونکی دی اورته،هغه به ووایی بلکه

لَا مَرْحَبًۢا بِكُمْ ۚ اَنْتُمْ قَدَّمْتُمُوْهُ لَنَا ۚ فَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿۶۰﴾ قَالُوْا رَبَّنَا مَنْ

تاسی یاست،په خیردی رانه سی،تاسی مونږته راپیښه کړه دا بلا ، پس څه نا کاره ځای دی ، هغوی به ووایی ای

قَدَّمَ لَنَا هٰذَا فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِى النَّارِ ﴿۶۱﴾ وَقَالُوْا مَا لَنَا لَا نَرٰى

ربه زمونږچاچې مونږ ته راپیښه کړه پس زیات کړه دوی دوچنده عذاب په دوزخ کې،اووبه ووایی څه وسرچې مونږ

رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُمْ مِّنَ الْاَشْرَارِ ﴿۶۲﴾ اَتَّخَذْنٰهُمْ سِخْرِيًّا اَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ

نه وینو هغه سړی چې مونږ به شمیرل په بدو خلقوکی ، آیا نیولی وه مونږ دوی په مسخرو سره یاکړی سوی دی

الْاَبْصَارُ ﴿۶۳﴾ اِنَّ ذٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ اَهْلِ النَّارِ ﴿۶۴﴾

د دوی څخه زمونږ سترګی ، بیشکه دا خبره حقه ده جګړه کول په خپل مینځ کې د دوزخیانو .

لنډتفسیر: او زمونږ بندګانو ابراهیم اواسحٰق اویعقوب علیهم السلام یادکړه کوم چې (په) لاسونو (سره کار کوونکی) او (په) سترګو (سره لیدونکی) والاؤ (یعنی په دوی کی قوت عملیه اوقوت علمیه هم وو او) مونږ دوی په یوه خاص خبره سره مخصوص کړی وو چې هغه یاد داخرت دی (چنانچې دا ظاهره ده چې په انبیا کی دا صفت دټولو څخه زیات تام اوکامل وی ، اوشایدداجمله یې څکه زیاته کړې ده چې غافلان پوه سی چې هرکله انبیاء ددی فکر څخه خالی نه وه نو تاسی په کوم شمیرکی یاست) او هغه (حضرات) زمونږ په نزد منتخب او ډټولو څخه په نبوخلګوکی دی (یعنی په منتخبوخلګوکی هم ډټولو څخه زیات ، چنانچې ظاهره ده چې انبیاء دنورواولیاؤ اوصالحانو څخه افضل وی) اواسمٰعیل اویسع اوذوالکفل علیهم السلام هم یادکړه او دا ټول هم ډټولو څخه دنبوخلګو نه وه (مخکی دتوحید او اخرت او رسالت څه قدری مفصل بیان دی) یو دنصیحت مضمون خو دا وسو (ددی څخه مراد دانبیاء واقعات دی ، په دی واقعاتو کی دکافرانو دپاره درسالت دعقیدی تبلیغ دی ، او دومنانو دپاره داخلاق جمیله اواعمال فاضله تعلیم دی) او (دوهم مضمون داخرت دجزااوسزامتعلق اوس شروع کیږی تفصیل یې دا دی چې) دپرهیزګارانو دپاره (په اخرت کی) ښه ځای د اوسیدو دی یعنی دهمیشه اوسیدو باغونه چې دروازی به

Maktaba Tul Ishaat.com

یی د دوی دپاره خلاصی وی (ظاهر مراد دا دی چی دمخکی څخه به خلاصی وی) هغوی به په دی باغونو کی تکیه لګولی ناست وی (او) هغوی به هلته (دجنت دخادمانو څخه) ډیری میوی اودچښلو شیان راغواړی او دهغوی سره به نظرونه کښته لرونکی همزولی وی (مرادحورانی دی ، ای مسلمانانو) دا (چی لوړ یی ذکر وسو) هغه (نعمت) دی چی ستاسی سره یی دحساب دورځی په راتلو وعده کول کیږی بیشکه دا زمونږ بخښش دی ، ددی هیڅکله ختمیدل نسته (یعنی دائمی اوابدی نعمت دی) دا خبره خو وسوه (کومه چی دنیک بختو پرهیزګارانو متعلق وه) او (مخکی دکافرانو متعلق مضمون دی هغه دا چی) دسرکښانو دپاره (یعنی کوم چی په کفر کی دنورو رهنماوو دهغو دپاره) بدځای داوسیدو دی یعنی دوږخ په دی کی به هغوی دا خلیږی ، وروسته ډیر بد ځای دی داجوشیدلی اوبه اوزوی (موجود) دی وروسته داخلګ به دغه ځکی او (ددی څخه علاوه) نور هم ددی قسمه (ناخوښه اوموجب ازار) قسم قسم شیان (موجود) دی (دغه به هم ځکی اوکوم خلګ چی د دوی تابع وه دهغو دپاره به داشیان وی که څه هم په تقدم اوتاخر او دسخت اوسختوالی تفاوت به وی ، باقی په نفس عذاب کی به ټول شریک وی ، چنانچی هرکله دکافرانو رهنما اول دوږخ ته داخل سی ، بیا دد وی پیروکار راسی نو رهنما به په خپل مینځ کی ووایی چی واخلی) دا یوه ډله بله راغله کومه چی ستاسی سره (په عذاب کی دشریکیدودپاره په جهنم کی) راننوزی ، په دوی دخدای لعنت دا هم دوږخ ته راځی (یعنی داسی څوک راتلی چی دعذاب مستحق نه وی نو دهغوی په راتلو به خوشحالی هم وه او د دوی خوشحالی به هم کیده ، دا خو په خپله دوږخیان دی ، د دوی څخه څه امید او د دوی دَراتلوځه خوشحالی اوځه راشه درشه؟) هغوی (پیروان به خپلو رهنماوو ته) ووایی بلکه په تاسی دخدای لعنت وی (ځکه چی) تاسی خو دا (مصیبت) مونږ ته راپیښ کی (ځکه چی تاسی به مونږ لمَسَولو) وروسته (جهنم) ډیره بده ټکانه ده (کومه چی ستاسی په وجه مونږ ته راپیښه سوه ، ددی څخه وروسته هرکله چی په دوی کی هرسړی په بل الزام لګوی نو دغه وخت به دا متعین د دوی سره خبری پریږدی الله ﷻ ته به) دعاوکړی چی ای زمونږ پروردګاره! کوم سړی چی په مونږددی (مصیبت) راوستونکی دی هغه ته په دوږخ کی دوچنده عذاب ورکی اوهغه خلق (یعنی متبعین یاټول دوږخیان به په خپل مینځ کی) ووایی چی څه خبره ده چی مونږ هغه خلګ (په دوږخ کی) نه وینو کوم چی به مونږ په بدوخلګو کی شمیرل (یعنی مسلمانان به موبدرد اوسپك ګڼل هغه ولی په نظرنه راځی) ایامونږ (ناحقه) په هغوی پوری خندا کوله (اوهغوی ددی قابل نه وو اوجهنم ته را نه غلل) یا (دا چی په جهنم کی موجود دی مګر) دهغوی (دلیدو) څخه زمونږ نظرونه اوښتی دی (چی په هغو مو نظر نه لویږی) مطلب دا چی دعذاب سره به دا یو بل حسرت وی چی کوم خلګ مونږ بدګڼل هغه دعذاب څخه محفوظ سول او) دا خبره یعنی د دوږخیانو په خپل مینځ کی جګړه کول بالکل ربښتنی خبره ده (چی خامخابه وی)

معلومات اومسئلي : أُولِي الْأَيْدِي وَالْأَبْصَارِ : ددی لفظی معنی دا ده چی هغه لاسونو او نظرونو والا وو مطلب دا دی چی خپلی فکری اوعملی توانایی یی دالله ﷻ په عبادت کی صرف کولی ، په دی سره دی طرف ته اشاره وسوه چی دانسانی اندامونو اصل مصرف دا دی چی دا دالله ﷻ په اطاعت کی صرف سی او کوم اندامونه چی په دی کی خرڅ نه سی ، دهغو کیدل او نه کیدل برابر دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

(داخرت فکر دپیغمبرانوامتیازی وصف دی)

ذِكْرَى الدَّارِ: ددی لفظی معنٰی ده ، دکور یاد ، اودَ ، کور ، څخه مراد اخرت دی ، داخرت په څای یی دالفظ استعمال کی او خبرداری یی ورکړی ده چی انسان ته په کار دی چی خپل اصلی کور اخرت وګڼی او ددی فکر دخپلو فکرونو اوعملونو بنیاد جوړول په کار دی ، ددی څخه دا هم معلومه سوه چی داخرت فکر دانسان فکری اوعملی قوت ته نوره زیاته رڼا ورکوی ، دځینو ملحدانو دا خیال بالکل بی بنیاده دی چی داخرت فکر دانسان قوتونه پست کوی .

حضرت یسع : علیه السلام ،وَالْيَسَعَ (اوحضرت یسع علیه السلام یاد کړه) حضرت یسع علیه السلام دبنی اسرائیلو په پیغمبرانو کی دی او په قرآن کریم کی دده ذکر صرف دوه ځایه راغلی دی ، یو په سورهٔ انعام کی اوبل دلته ، په دواړو کی په یو څای کی هم د دوی تفصیلی حالات ذکر نه دی ، بلکه دانبیاء په فهرست کی صرف دده نوم مبارك شمیر سوی دی .

دتاریخ په کتابونو کی منقول دی چی دی دحضرت الیاس علیه السلام داکا زوی دی او دحضرت الیاس علیه السلام نائب او خلیفه وو ، د دوی په ملګرتیاکی به وو ، دده څخه وروسته ده ته نبوت ورکول سو ، دبائبل په کتاب سلاطین اول باب ۱۹ اوسلاطین دوهم باب ۲ وغیره کی دده تفصیلی حالات بیان سوی دی ، هلته دده نوم الیشَعْ بن سافط مذکور دی .

وَعِنْدَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ اَتْرَابٌ (او د دوی سره به کښته نظر کوونکی همزولی ښځی وی) ددی څخه ، مراد دجنت حوری دی ، اودَ ، همزولو ، مطلب دا هم کیدی سی چی دغه ټولی به په خپل مینځ کی همزولی وی او دا هم چی دوی به دخپلوخاوندانو سره همزولی وی ، په اول صورت کی د دوی دهمزولو کیدو فائده دا ده چی د دوی په مینځ کی به دمحبت، انس او دوستی تعلق وی ، دَښو په شان دبعض اونفرت به نه وی اوظاهره ده چی داشی دخاوندانو دپاره دانتهایی راحت سبب دی .

(دښځي خاوند په مینځ کي دعمر دمناسبت رعایت ښه دی)

او په دوهم صورت کی هرکله چی د ، همزولو ، مطلب دا واخستل سی چی دوی به دخپلوخاوندانو سره همزولی وی ، ددی فائده دا ده چی دهمزولتیا په وجه سره به په طبیعتونو کی زیات مناسب اوموافقت وی او دیو بل دراحت او دلچسپی خیال به زیات ساتی ، ددی څخه دا هم معلومه سوه چی دښځی خاوند په مینځ کی په عمر کی دتناسب رعایت ساتل په کار دی ، ځکه چی په دی سره په خپل مینځ کی انس پیدا کیږی او دنکاح قرابت زیات خوښ او پائیداره کیږی .

قُلْ إِنَّمَا أَنَا مُنْذِرٌ ۖ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿٦٥﴾ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا

ته ووایه چی زه خوبیرونکی یم، اونسته حاکم هیڅوك مګر الله یوازی چی غالب دی،رب داسمانونو دی اودمڅکی او څه

بَيْنَهُمَا الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ ﴿٦٦﴾ قُلْ هُوَ نَبَأٌ عَظِيمٌ ﴿٦٧﴾ أَنْتُمْ عَنْهُ مُعْرِضُونَ ﴿٦٨﴾

چی ددی په مینځ کی دی زبردست دی ګناه بخښونکی دی،ته ووایه دایولوی خبردی،چی تاسی ددې څخه منع کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

مَا كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ بِالْمَلَإِ الْأَعْلَىٰ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿٦٩﴾ إِنْ يُوحَىٰ إِلَيَّ

ما ته هیڅ خبر نه وو د لوړ مجلس هر کله چې دهغو په مینځ کې تکرار کیدی ، ما ته خو دا حکم راغی

إِلَّا أَنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُبِينٌ ﴿٧٠﴾ إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي خَالِقٌ بَشَرًا

چې نه یم زه مګر بیر او رونکی یم ښکاره ، هرکله چې وویل ستا رب ملائکو ته چې زه جوړوم یو انسان

مِنْ طِينٍ ﴿٧١﴾ فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِنْ رُوحِي فَقَعُوا لَهُ

دخټو څخه ، بیا چې کله برابر کړم دی اوپوک کړم په کې خپل روح تاسی پریوزی ده

سَاجِدِينَ ﴿٧٢﴾ فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ﴿٧٣﴾ إِلَّا إِبْلِيسَ اسْتَكْبَرَ

ته په سجده باندی ، بیا سجده وکړه ملائکو ټولو په جمع سره ، مګر ابلیس نه ، تکبر یې وکی

وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴿٧٤﴾ قَالَ يَا إِبْلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ

او وو هغه دمنکرانو څخه ، وفرمایل ای ابلیس ! څه شی منع کړی ته دسجدی څخه هغه ته چې جوړ کی ما

بِيَدَيَّ أَسْتَكْبَرْتَ أَمْ كُنْتَ مِنَ الْعَالِينَ ﴿٧٥﴾ قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ خَلَقْتَنِي

په خپل لاسو ، دا خو تا غرور وکی یا وی ته لوی په درجه کی ؟ وې ویل زه غوره یم دده څخه ، ما جوړ کړم تا

مِنْ نَارٍ وَخَلَقْتَهُ مِنْ طِينٍ ﴿٧٦﴾ قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴿٧٧﴾

د اور څخه او دی دی جوړ کی دختی څخه ، وفرمایل ته ووزه ددې خای څخه چې ته مردود سوی ،

وَإِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِي إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ ﴿٧٨﴾ قَالَ رَبِّ فَأَنْظِرْنِي إِلَىٰ يَوْمِ

او په تا زما لعنت دی ، دجزا د ورځی پوری ، وې ویل ای ربه ! ما ته مهلت را کړه تر ورځی

يُبْعَثُونَ ﴿٧٩﴾ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِينَ ﴿٨٠﴾ إِلَىٰ يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ ﴿٨١﴾

دبیا پورته کیدو پوری ، ویی فرمایل تا ته مهلت دی ، دهغه وخت تر ورځی پوری چې معلومه ده

قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٨٢﴾ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ ﴿٨٣﴾

ویی ویل نو قسم دی ستا په عزت زه به گمراه کړم دوی ټوله ، مګر کوم چې بندګان دی په دوی کی ستا خوښ سوی

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ فَالْحَقُّ ۖ وَالْحَقَّ أَقُولُ ﴿۸۴﴾ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ

دي فرمايل نو صحيح خبره دا ده او زه صحيح وايم ، زه به ډك كړم دوزخ ستا څخه او څوك چې په دوی كې ستا

أَجْمَعِينَ ﴿۸۵﴾ قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ ﴿۸۶﴾

په لاره ولاړل دهغو ټولو څخه ، ته ووايه زه نه غواړم ستا څخه په دی څه بدله او زه نه يم دځانه جوړونكی ،

إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِلْعَالَمِينَ ﴿۸۷﴾ وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَأَهُ بَعْدَ حِينٍ ﴿۸۸﴾

دا خو يو نصيحت دی دمخلوق دپاره ، او معلوم به كړی د دوی احوال لږ وروسته .

ژباړه: ته ووايه چې (تاسی دتوحيد او رسالت په مسئله كی كوم تكذيب اوانكاركوی نو دا ستاسی نقصان دی زما هيڅ ضرر نسته ځكه چې) زه خو (صرف دخدای دعذاب څخه) بيرونكی (پيغمبر) يم او (لكه څنګه چې زما رسول كيدل اوبيرونكی كيدل واقعی دی ، دغه دوول توحيد هم برحق دی يعنی) بغير دالله واحد غالب څخه څوك لائق دعبادت نسته ، هغه پروردګاردی دآسمانونو اومځكی او دهغو شيانو كوم چې د دوی په مينځ كی دی (اوهغه) زبردست (اودګناهونو) لوی بخښنی والادی (اوچونكی توحيد خو په څه درجه كی دغوخلګو منی هم ، او درسالت څخه بالكل منكر وه ، په دی وجه دَرسالت دزيات تحقيق دپاره ارشاد دی چې ای پيغمبره ته ووايه چې دا (يعنی دالله ﷻ ما لره دتوحيد او دشريعت داحكامو دتعليم دپاره رسول جوړول) يو عظيم الشان مضمون دی چې ددی (تاسی لره ډير اهتمام په كار وو ، مګر افسوس چې ددی) څخه تاسی (بالكل) بی پرواه كيږی (او ددی دعظيم الشان مضمون كيدو وجه دا ده چې ددی داعتقاد ساتلو څخه بغير حقيقی سعادت حاصلول ناممكن دی ، مخ ته دنبی كريم ﷺ درسالت ثابتولو يو دليل دی هغه دا چې) ماته دپورته عالم (دبحث اوخبرو په هيڅ ذريعه سره) هيڅ خبرنه وو كله چې هغوی (دآدم دپيدائش په باره كی چې تفصيل يې مخ ته راځی ، دالله ﷻ سره) خبری كولی (اوس زه چې د دغوخبرو واقعه بيانوم ، نو دسوچ خبره دا ده چې ماته دا واقعه دكوم ځای څخه معلومه سوه؟ ماخو په خپلو سترګو دا دسره ليدلی نه ده داهل كتابو سره هم زماځه ګډون نسته چې دهغوی څخه می معلومه كړه ، يقيناً ماته دا علم دوحی په ذريعه حاصل سوی دی په دی وجه ثابته سوه چې) ماته (كومه) وحی (راځی چې په دی سره دعالم بالااحوال هم معلوميږی نو) محض په دی سبب سره راځی چې زه (دالله ﷻ دطرف څخه) صفاصفابيرونكی (جوړكړی ليږل سوی) يم (يعنی چونكی ماته پيغمبری را كول سوي ده په دی وجه وحی نازليږی ، نو واجب ده چې تاسی زما درسالت تصديق وكی او دعالم بالا دالله ﷻ سره خبری چې ذكر يې لوړسوی دی هغه وخت سوی وی) هركله چې ستارب ملائكو ته ارشاد وفرمايی چې زه دنس څخه ديو انسان (يعنی دهغه دډانچې) جوړونكی يم نو زه چې هركله دی (يعنی دده جسمانی اندامونه) پوره جوړكړم اوپه ده كی (دَ خپل (طرف څخه) روح واچوم نوتاسی ټول دده په مخكی

Maktaba Tul Ishaat.com

په سجده پریوځی نو (هرکله چی الله ﷻ دی جوړ کی نو) ټولو ملائکو په جمع (آدم ﷺ ته) سجده وکړه مګر ابلیس ، چی هغه په غرور کی راغی او دکافرانو څخه سو الله ﷻ وفرمایل چی ای ابلیس ! کوم شی چی ما په په خپلو لاسونو سره جوړ کی (یعنی دکوم شی په وجود کی دراوستلو دپاره چی خاص عنایت ربانی متوجه سو ، بیا دهغه په مخکی دسجدی کولو حکم وسو نو) ده ته دسجدی کولو څخه تا لره کوم شی مانع سو ، ایا ته په غرور کی راغلی ؟ (اوپه واقع کی لوی نه یی) یاداچی ته (په واقع کی دداسی لوی درجی والاوځخه یی (کومو ته چی دسجدی کولو حکم مناسب نه دی) وي ویل چی (دوهمه خبره صحیحه ده یعنی) زه ترآدم (ﷺ) غوره یم (ځکه چی) تازه داور څخه پیدا کړی یم اودی (آدم ﷺ) دی دخاورو څخه پیدا کړی دی (وروسته ماته حکم کول چې دده په مخکی سجد ده وکړم دحکمت څخه خلاف ده) ارشاد وسو نو (نبه بیا) دآسمان څخه ووزه ځکه چی بیشکه ته (په دی حرکت سره) مردودسوی اوبیشکه په تا زمالعنت وی ترقیامت دورځی پوری (او ددی څخه وروسته درحمت جوګه کیدو خواحتمال نسته) وې ویل (چی زه دی دآدم ﷺ په وجه مردودکړم) نوبیاماته (دمرګ څخه) مهلت راکړه ترقیامت دورځی پوری (چی دده څخه او دده داولاد څخه بنه بدله واخلم) ارشاد وسو (هرکله چی ته مهلت غواړی) نو (څه) تاته دمعین وخت دتاریخه پوری مهلت درکول سوویی ویل (هرکله چی ماته مهلت راکول سو) نو (زماهم ستا په عزت قسم (دی) چی زه به دوی ټوله ګمراه کړم بغیرستادهغوبندګانو څخه کوم چی په دوی کی منتخب سوی دی (یعنی تاهغه زماداثر څخه محفوظ کړی دی) ارشاد وسو چی زه رښتیاوایم او زه خو (همیشه) رښتیا وایم چی زه به تاته اوځوک چی په دوی کی ستاسره سول ددی ټولو څخه دوزخ ډک کړم .

(دسورة دابتدایی آیتونو څخه واضحه ده چی ددی سورة بنیادی مقصد دنبی کریم ﷺ درسالت اثبات دی په دی موضوع دلائل خو ورکول سول اوس په ناصحانه طریقه دایمان راوړلو دعوت ورکول کیږي ته (به طور داتمام حجت) ووایه چی زه تاسی څخه په دی (قرآن اوتبلیغ) نه څه معاوضه غواړم اونه زه (څانه دجوړوونکو څخه یم (چی دځانه جوړولو په طریقه می دنبوت دعوی کړی وی او غیر قرآن ته می قرآن ویلی وی ، یعنی که درواغ می ویلی نوددی منشاء خو یا به مادی نفع ده لکه معاوضه ، یاځه طبعی عادت به وو لکه تکلف ، نو دا دواړی خبری نه دی ، بلکه په واقع کی) دا قرآن خو (دالله ﷻ کلام دی ددنیا جهان دپاره یونصیحت دی (چی دتبلیغ دپاره یی ماته نبوت راکول سوی دی اوپه کوم کی چی سراسر ستاسی نفع ده) او (که دحق واضح کیدو باوجود هم تاسی نه منی نو) لږ ورځی وروسته به تاسی ته ددی حال معلوم سی (یعنی دمرګ سره به حقیقت بنکاره سی چی دا حق وو او ددی څخه انکار باطل وو ، مګرهغه وخت به په معلومیدو کی هیڅ فائده نه وی)

معلومات اومسائل: دسورة دمضامینو خلاصه ، قُلْ اِنَّمَا اَنَا مُنْذِر : دسورة په شروع کی تاسی لیدلی دی چی ددی سورة اصل مقصد دنبی کریم ﷺ درسالت اثبات او دکفارو تردید دی ، په دی ضمن کی دانبیاء واقعات په دوو وجهو سره ذکر سوی وو ، یو دا چی نبی کریم ﷺ ته تسلی حاصله سی او دتیروانبیاوو په شان دوی هم دکفاروپه بی هوده خبرو صبر وفرمایی ، دوهم دا چی ددی واقعاتو څخه په خپله دغه خلګ عبرت حاصل کی کوم چی دیو نبی برحق درسالت څخه انکارکوی ، ددی څخه وروسته په یوه بله طریقه

Maktaba Tul Ishaat.com

کفارو ته داسلام دعوت ورکول سو او هغه داسی چی دمومنانو نیك انجامی او دکافرانو دسخت عذاب نقشه رابنکاره سوه او هغه داسی چی دمومنانو نیك انجامی اودکافرانودسخت عذاب نقشه رابنکاره سوه او په دی خبره خبردار سول چی دکومو خلگو په اتباع کی تاسی نن دافضل الرسل ﷺ تکذیب کوی ، داخرت په ورځ به دغه خلگ ستاسی دمدد څخه دست برداره سی ، هغوی به تاسی ته بدی ردی وایی اوتاسی به پر هغوی لعنت لیږی .

ددی تولومضامینو څخه وروسته په اخرکی بیا داصل مدعا یعنی درسالت داثبات بیان سوی دی او ددلائلو پیش کولو سره په ناصحانه اندازکی دعوت هم ورکول سوی دی .

مَا كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ بِالْمَلَإِ الْأَعْلَى إِذْ يَخْتَصِمُونَ (ماته دَعالم بالاهیڅ خبر نه وو هرکله چی دغه خبری کیدی) یعنی دا زما درسالت واضح دلیل دی چی زه تاسی ته دعالم بالاداسی خبری بیانوم کوم چی دَوحی څخه ماسوا په بله هیڅ طریقه نه سی معلومیدی ، ددی خبرو څخه مراد یو خو هغه خبری دی کوم چی دحضرت آدم ﷺ دپیدائش په وخت کی دالله ﷻ اوملائکو په مینځ کی سوی وی اودکومو ذکر چی په سورة بقره کی راغلی دی ، ملائکو ویلی وه ، چی (آیاته په مځکه کی داسی انسان پیدا کوی کوم چی به هلته فساد غورځوی او خون ریزی به کوی؟) دا خبری یی دلته دَ، اختصام، په لفظ سره تعبیرکړی ده ، چی لفظی معنی یی ده ،جګړه، یا، بحث مباحثه، حال دا دی چی واقعه داسی ده چی دملائکو دا سوال جواب ظاهری طرف چونکی دبحث مباحثی په شان سوی وو ، په دی وجه یی دا د ، اختصام، په لفظ سره تعبیر کی ، او دا داسی ده لکه هرکله چی یوکشر دمشر څخه څه پوښتنه کوی نوځینی وخت مشر دهغه په ذکر کولو سره دتفنن په طور دهغه دا سوال او جواب په جګړی سره تعبیرکوی .

إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ (هرکله چی ستاپروردګارملائکوته وویل) دلته دحضرت آدم ﷺدپیدائش چی کومه واقعه ذکرسوې ده په دی سره دالله ﷻ اوملائکو دلوړو ذکر سوو خبرو طرف ته داشاری سره دی خبری طرف ته هم توجه راګرځول سوې ده ، چی لکه څنګه ابلیس محض دحسد اوتکبر په وجه حضرت آدم ﷺ ته دسجدی کولو څخه انکارکړی وو ، دغه ډول دعربو مشرکانو هم دحسد اوتکبر په وجه ستا خبره ونه منله اوکوم انجام چی دابلیس سو هغه د دوی هم کیدونکی دی (تفسیرکبیر)

لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ: دلته دحضرت آدم ﷺ په باره کی الله ﷻ دارشاد وفرمایی چی ماپه خپلو لاسونو سره دی پیداکی دجمهور امت په دی اتفاق دی چی دَ، لاسونو، څخه مراد دا نه دی چی دالله ﷻ داسی لاسونه دی لکه څنګه چی دانسانانووی څکه چی الله ﷻ داعضاؤ اوجوارحوداحتیاج څخه منزه دی، په دی وجه ددی څخه مراددالله ﷻ قدرت دی اوپه عربی ژبه کی لفظ دَ،ید ، دیر دقدرت په معنی کی مستعمل دی مثلاً ارشاددی، بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ په دی وجه دآیت مطلب دادی چی ماحضرت آدم ﷺ په خپل قدرت سره پیدا کی اوهسی خو دکائنات تول شیان په قدرت خداوندی سره پیداسوی دی ، لیکن هرکله چی باری تعالی دیو شی خصوصی شرافت ظاهر ول غواړی نو په خاص طور سره یی خپل ځان ته نسبت فرمایی ، لکه چی کعبی ته ، بیت الله، دحضرت صالح ﷺ اوښی ته ، ناقة الله، اوحضرت عیسی ﷺ، کلمة الله، یا، روح الله، ویل سوی دی دلته هم دا نسبت دحضرت آدم ﷺ دفضیلت ظاهرولو دپاره سوی دی (قرطبی)

Maktaba Tul Ishaat.com

(تکلف اوتصنع بدوالي)

وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ (او زه دځانه جوړوونکو ځخه نه یم) مطلب دا دی چی زه په تکلف اوتنصع کولو سره دخپل نبوت او رسالت او علم اوحکمت اظهار نه کوم ، بلکه دالله ﷻ احکام صحیح صحیح رسوم ، ددی ځخه معلومه سوه چی تکلف اوتصنع شرعاً مذموم دی ، چنانچی ددی په مذمت کی ځینی احادیث وارد سوی دی .

په صحیحینو کی دعبدالله ابن مسعود ﷺ ارشاد دی چی .

ای خلګو! په تاسی کی چی کوم سړی ته دځه خبری علم وی نو هغه دی خلګو ته ووایی ، لیکن دچاچی علم نه وی هغه دی په ، الله اعلم، ویلو بس کوی (ځکه چی) الله ﷻ دخپل رسول ﷺ په باره کی فرمایلی دی، قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ (روح المعانی)

سورة ص تمام سو

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِينَ

﴿ سُورَةُ الزُّمَرِ ﴾

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى عَمَّا يُشْرِكُونَ

سورة الزمر په مکه کی نازل سو او په دی کی پنځه اویا (۷۵) آیتونه او اته (۸) رکوع ګانی دی .

شروع کوم دالله په نوم سره چی بی اندازی مهربانه نهایت رحم والا دی .

تَنْزِيلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ﴿۱﴾ إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتٰبَ

نازلول ددې کتاب دی دالله ﷻ ځخه چی غالب دی حکمتونو والا ، مونږ نازل کړی دی ستاطرف ته کتاب

بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَهُ الدِّينَ ﴿۲﴾ أَلَا لِلّٰهِ الدِّينُ الْخَالِصُ

صحیح صحیح نو بندګی کوه دالله چی خالص کوی هغه لره بندګی ، خبردار الله لره ده بندګی خالصه ،

وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى

اوچاچی نیولی دی دهغه ځخه ماسوا نور مدد ګاران، چی مونږ خو عبادت کوو دهغو په دی وجه چی مونږ ورسوی

اللّٰهِ زُلْفٰى إِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ إِنَّ

الله ته نژدی درجی ته ، بیشکه الله به فیصله وکړی په دوی کی ، په کوم شی کی چی دوی جګړه کوله ، البته

Maktaba Tul Ishaat.com

اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ كٰذِبٌ كَفَّارٌ ﴿۳﴾ لَوْ اَرَادَ اللّٰهُ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا

الله ﷻ لار نه ښيي هغه ته چې وی درواغجن حق نه منونکی ، که الله ﷻ غوښتلی چې جوړ کړی خان ته اولاد

لَّاصْطَفٰى مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۙ سُبْحٰنَهٗ �ؕ هُوَ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿۴﴾

نو غوره کړل به يې په خپل مخلوق کې کوم چې يې غوښتلی هغه پاك دی هغه دی الله يو زور اور

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ يُكَوِّرُ الَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ

جوړ کړی يې دی اسمانونه اومځکی صحيح چاپيره کوی شپه د ورځی څخه اوچاپيره کوی

النَّهَارَ عَلَى الَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۭ كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ۭ

ورځی دشپی څخه او په کار يې لګولی دی لمر اوسپوږمی ، هريو چليږي تر يوی مقرری مودی پوری

اَلَا هُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ ﴿۵﴾ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ

خبردار هغه دی غالب ګناه بخښونکی ، جوړ کړی يې ياست تاسی ديو نفس څخه بيا يې جوړه کړی ده

مِنْهَا زَوْجَهَا وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ الْاَنْعَامِ ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ۭ يَخْلُقُكُمْ

دهغه څخه دهغه جوړه او نازل کړی يې دی ستاسی دپاره دحيوانانو څخه اته جوړی (نر او ښځی) جوړ وی تاسی

فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ خَلْقًا مِّنْۢ بَعْدِ خَلْقٍ فِيْ ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ ۭ

دمور په نس کی په يوه دول په بل دول په درو تيارو کی

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ۭ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ﴿۶﴾

هغه الله دی ستاسی رب دهغه حکومت دی، هيڅوك نسته لائق دعبادت دهغه څخه ماسوا بياتاسی کوم طرف ته ګرځی

لنډتفسير: دا نازل کړل سوی کتاب دی دالله غالب حکمت والا دطرف څخه (چې غالب کيدل يې ددی مقتضی وو چې څوك دده تکذيب وکی ، سزا ور کی مګر چونکی حکيم هم دی او په مهلت کی مصلحت وو په دی وجه يې په سزا کی مهلت ورکړی دی) مونږ په صحيح طور دا کتاب ستاطرف ته نازل کړی دی نو ته (دقرآن دتعليم موافق) خالص عقيده ساته دالله ﷻ عبادت کوه (لکه چې تر اوسه دی کړی دی او هر کله چې په تا هم دا واجب ده نو په نورو به ولی واجب نه وی ای خلګو!) عبادت کوم چې (دشرك اوريا

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه) خالص وی دالله ﷻ دپاره لائق دی اوکومو خلکو چی (خالص عبادت پریښی دی) دخدای څخه ماسوا نور شریکان یی تاکلی دی (او وایی) چی مونږ خو د دوی عبادت ځکه کوو چی مونږ خدای ته نژدی کی (یعنی زمونږ حاجتونه یاعبادتونه دخدای په حضورکی پیش کی ، لکه چی په دنیاکی وزیران دبادشهانو په دربار کی ددی کار دپاره وی) نو د دوی (او د دوی په مقابله کی دایماندارو) په مینځ کی داختلافاتو به (دقیامت په ورځ) الله ﷻ (عملی) فیصله وکړی (چی دتوحید خاوندان به جنت ته او دشرک خاوندان به دوزخ ته دا خل کړی ، یعنی ددی خلکو په نه منلو ته غم مه کوه ، ددی فیصله به هلته وی او په دی هم تعجب مه کوه چی سره ددلیلونو دقیام دوی حق ته نه را اوړی ځکه چی) الله ﷻ داسی سړی نه په لاره کوی کوم چی (قولاً) درواغجن او (اعتقاداً) کافر وی (یعنی په خلی سره دکفرپه خبرو او په زړه سره دکفر په عقیدو مصر وی او ددی څخه دنه واپس کیدو او دحق دطلب قصد نه کوی نو دده په دی عناد سره الله ﷻ هم ده ته دهدایت توفیق نه ورکوی اوچونکی په مشرکانو کی څینی خدای طرف ته داولاد نسبت کولو لکه چی ملائکو ته به یی دخدای لونی ویل مخ ته اوس د دوی رد دی چی) که چیری (بالفرض) الله ﷻ (څوک اولاد جوړولی نو په وجه ددی چی بغیر دارادی دخدای څخه هیڅ کار نه سی کیدی اول به یی د اولاد جوړولو اراده کوله اوکه چیری چاته یی دخپل اولاد جوړولو اراده کوله نو (چونکی ماسوا دالله څخه ټول مخلوق دی ، په دی وجه) به یی خامخا په خپل مخلوق کی څوک چی غوښتی (ددی کار دپاره) منتخب فرمایل (اولازم باطل دی ځکه چی) هغه (دعیبونو څخه) پاک دی (اوغیر جنس کیدل عیب دی ، په دی وجه یو مخلوق داولادجوړولو دپاره منتخب کول محال سول او دمحال اراده کول هم محال ده ، په دی شان سره ثابته سوه چی) هغه داسی الله دی چی یو دی (چی هیڅوک یی بالفعل شریک نسته او) زبردست دی (هغه هیڅوک شریک بالقوّة هم نسته ، ځکه چی صلاحیت به هلته وو چی څوک دغسی زبردست وی اوهغه سته نه ، مخ ته دتوحید دلیلونه ارشاد فرمایی چی) هغه مځکی اوآسمانونه په حکمت سره پیدا کړل هغه (د شپی (تیاره) دورځی (په رڼا) چاپیره کوی (چی په دی سره ورځ پته اوشپه ښکاره سی) او (د) ورځی (رڼا) دشپی (په تیاری) چاپیره کوی (چی په دی سره شپه ورکه او ورځ ښکاره سی) اوهغه لمر اوسپوږمی په کار کی لګولی دی چی (په دی کی) هر یو ترمقرر وخته پوری چلیږی ، یاد ساتی چی (ددی دلیلونو څخه وروسته دتوحید څخه په انکارسره بیره دعذاب ده اوالله ﷻ په دی قادر هم دی ځکه چی) هغه زبردست دی (لیکن که وروسته دانکار څخه هم څوک ومنی نو په تیر انکار باندی به عذاب نه وی ځکه چی هغه لوی بخښنی والا (هم) دی (په دی سره دتوحید ترغیب او دشرک څخه ترهیب وسو او لور استدلال رد په افاقی دلیلونو سره ، مخ ته استدلال دی په انفسیه دلیلونو سره چی په دی کی په ضمنی طور سره څه افاقی حالات هم راغلی دی یعنی) هغه تاسی خلک دیو واحد تن (یعنی حضرت آدم ﷺ) څخه پیدا کړاست (چی اول هغه واحد تن پیدا سو) بیایی دهغه څخه دهغه جوړه جوړه کړه (مراد ددی څخه حواء ده) مخ ته بیا د دوی څخه ټول انسانان سپاره سول) او (وروسته دحدوث څخه) ستاسی (دنفع اوبقاء دپاره) اته نر اوماده یی په څارو کی پیدا کړل (چی ذکر یی داتمی پاری په ربع ، وَهُوَ الَّذِیْ اَنْشَاَ جَنّٰتٍ الخ کی

Maktaba Tul Ishaat.com

راغلی دی او د دوی تخصیص څکه دی چی دوی زیات په کار راځی ، دا دی هغه جزء ، کوم چی په آفاقیاتو کی تبعًا ذکر سو، اوتبعًاځکه وویل سو چی مقصودبیانول دی دنفسونو دبقاء او دا دبقاء اسبابو څخه دی مخکی کیفیت دانسانی نسل دپیدائش بیان فرمایی چی) هغه تاسی دمور په نس کی دیو کیفیت څخه وروسته په بل کیفیت باندی (او د دوهم کیفیت څخه وروسته په دریم کیفیت اوبناپر دی په مختلفوکیفیاتو مو) جوړ وی (چی اول نطفه وی بیاعلقه بیامضغه تراخره پوری او دا جوړول) په درو تیارو کی (وی ، یوه تیاره دنس، بله درحم دریمه دهغه پوستکی په کوم کی چی بچی نغښتی وی، په دی مختلفوکیفیاتو او دیروتیارو کی پیدا کول دکمال قدرت دلیل دی او په دریو تیارو کی پیداکول دکمال علم دلیل دی) دا دی الله ستاسی رب (چی صفتونه یی اوس تاسی واوریدل) دده حکومت دی ، دهغه څخه ماسوا څوك لائق دعبادت نسته نو (ددی دلیلونو څخه وروسته) تاسی کوم طرف ته (دحق څخه) اوړیدلی گرځی (بلکه واجب ده چی توحید قبول کړی او شرك پریږدی)

معلومات اومسائل : فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَهُ الدِّيْنَ * اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ : دلفظ دَدین معنی دلته دعبادت یا دطاعت ده ، کوم چی دټولو دینی احکامو پابندی لره عامه اوشامله ده ، ددی څخه په مخکی جمله کی نبی کریم ﷺ ته خطاب وو اوحکم ورته سوی دی چی دالله ﷻ عبادت او طاعت خالص دهغه دپاره کوه چی په کی دغیرالله دشرك یا ریا اونمائش شائبه نه وی، دوهمه جمله ددی دتاکیددپاره ده چی ددین خالص کول صرف دالله ﷻ دپاره لائق دی ، دهغه څخه ماسوا یی بل څوك مستحق نسته .

دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چی یو سړی نبی کریم ﷺ ته عرض وکی چی یارسول الله! ﷺ زه ځینی وخت څه صدقه اوخیرات کوم یاپه چااحسان کوم چی په دی کی زمانیت دالله ﷻ درضاکولو هم دی او دا هم چی خلګ زماثنا صفت وکی ، نبی کریم ﷺ وفرمایل قسم دی په هغه ذات دچاپه قبضه کی چی دمحمد (ﷺ) روح دی چی الله ﷻ داسی هیڅ شی نه قبلوی په کوم کی چی بل غیر شریك سوی وی ، بیا دوی دا ذکر سوی آیت په طور ددلیل تلاوت وفرمایی اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ الخ (قرطبی)

(دعملونو مقبولیت دالله ﷻ په نزد مقدار داخلاص دی)

دیرقرآنی آیتونه په دی شاهد دی چی دالله ﷻ په نزد دعملونو حساب په شمیرسره نه بلکه په وزن سره کول کیږی ، وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ : او دی ذکر سوی آیت وښوولد چی دالله ﷻ په نزد دعملونو قدر او وزن په قدر داخلاص وی او دا ظاهره ده چی داخلاص کمال بغیر دکمال ایمان څخه نه سی حاصلیدی څکه چی کامل اخلاص دا دی چی دالله ﷻ څخه ماسوا نه څوك دنفع اوضرر مالك وګنی ، نه په خپلو کارونو کی غیرالله متصرف وګنی نه په څه طاعت اوعبادت کی دغیرالله په خپل تصورکی خیال راولی ، غیراختیاری وسوسی الله ﷻ معاف کوی ،

صحابه کرام ﷺ کوم چی دمسلمانانو په اولنی صف کی دی د دوی دعملونو او ریاضتونو شمیر څه زیات په نظر نه راځی ، مګر ددی باوجود د دوی ادنی شان عمل دباقی امت دپاره دلویو لویو عملونو څخه دفائق کیدو وجه د دوی کمال ایمان او کمال اخلاص دی .

وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖ اَوْلِيَآءَ مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَآ اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى . دا دعربو دمشرکانو حال دی او په دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

زمانه کی عامو مشرکانو هم تقریبًا دا عقیده لرله ، چی خالق او مالك اوپه تولوکارونو کی متصرف خو صرف الله ﷻ دی ، شیطان دوی وغولول نو دخپل خیال مطابق دملائکو په شکلونو باندی یی بتان تراش کړل ، او په دی خو پوه وه چی دابتان خو مونږ تراش کړی دی ، د دوی څه عقل اوشعور اوقدرت اوقوت نسته د دوی عقیده دا وه چی ددی بتانو په تعظیم اوتکریم به دغه ملائکی زمونږ څخه خوشحاله سی دکومو په شکلونو چی دابتان جوړسوی دی اوملائکی الله ﷻ ته مقرب دی ، دوی دخدای دربار ددنیاپه بادشاهانو قیاس کی چی لکه څنګه باشاه ته مقرب دچا څخه خوشحاله وی نوهغه بادشاه ته دهغه سفارش کوی ، هغه هم بادشاه ته مقرب کوی ، دا یی ګڼل چی ملائکی هم دبادشاهی درباریانو په شان چی دچا غواړی سفارش کولی سی ، مګر د دوی دا ټول خیالات شیطانی تلبیس اوباطل اوصرف باطل وو اول خو دا بتان دملائکو په شکل کی په واقع کی دی نه ، او که وی هم نو دالله ﷻ مقربی ملائکی په خپل عبادت کولو کله خوشحالیدونکی دی ، د دوی خو دهر هغه شی څخه طبعی نفرت دی کوم چی دالله ﷻ په نزد ناخوښه دی ، ددی څخه علاوه دالله ﷻ په دربارکی هغوی دځانه دچاسفارش نه سی کولی ، ترڅو پوری چی هغوی ته دیو خاص کس په باره کی دسفارش اجازه ورکول نه سی ، د وَكَمْ مِنْ مَلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ لَا تُغْنِي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا إِلَّا مِنْ بَعْدِ أَنْ يَأْذَنَ اللّٰهُ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَرْضٰى : دا مطلوب دی .

(دهغه زماني مشرکان هم دنن زماني دکافرانو څخه بنه وه)

دنن زمانی ماده پرست کفارخو په خپله دالله ﷻ دوجود څخه منکر دی ، او دالله ﷻ په شان کی سیده په سیده بی باکی اوګستاخی کوی ، دیورپ څخه درآمد سوی کفر برابره خبره ده که رنګ یی مختلف وی ، څه سرمایه پرست وی ، څه دکمیونزم قائل وی ، دا خبره په تولوکی قدر مشترك دی چی معاذ الله خدای هیڅ شی نه دی ، مونږ دخپلی مرضی مالکان یو ، زمونږ څخه دعملونو پوښتنه کوونکی څوك نسته ، ددی بدترین کفراوناشکری نیتجه ده چی دټولی دنیاڅخه امن اواطمینان سکون اوراحت مفقودسوی دی دراحت نوی نوی سامانونه ډیرمګرراحت مفقود دعلاج معالجی نوی آلات اوتحقیقات ډیرمګر دمرضونو دومره کثرت چی په مخکی زمانه کی نه دی لیدل سوی ، پهری ، څوکی پولیس ، خفیه پولیس په قدم قدم ، مګر دجرائمو رفتارهره ورځ زیاتیږی دا نوی آلات او دراحت او آرام نوی نوی طریقی ، هرکله چی فکر وسی ، نو دا ټول دخلګ خدادپاره وبال جان جوړ سوی په نظر راځی ، دکفر سزا خو په آخرت کی دټولو کفارو دپاره دائمی جهنم دی ، مګر ددی رندی ناشکری سزا څه په دنیا کی هم څکل راځی ، چی دچاپه ورکړو نعمتونو کی تصرفات کوی او آسمان ته یی دختلو حوصلی پیدا کیږی هم دهغه څخه انکار دی .

درمیانه خانه گم کردیم صاحب خانه را

(دکور په مینځ کی دکور خاوند راڅخه ورك دی)

لَوْ أَرَادَ اللّٰهُ أَنْ يَتَّخِذَ وَلَدًا : دا په هغو خلګو رد دی کومو چی ملائکو ته دالله ﷻ اولاد ویل ، د دوی دا باطل او محال خیال یی په طور دفرض محال وفرمایی چی که دالله ﷻ معاذ الله څوك اولاد وی نو هغه خو بغیر دارادی اومشیت څخه کیدل محال دی چی په زبردستی سره په هغه اولاد نه سی مسلط کولی ، بیا که بالفرض دهغه اراده وی نو دهغه دذات څخه ماسوا ټول دهغه مخلوقات دی ، د دوی څخه به یی

Maktaba Tul Ishaat.com

څوك اولاد مقرر كړی وو او د اولاد دخپل پلار سره هم جنس كيدل لازم دی او مخلوق دخالق هم جنس كيدی نه سی ، په دی وجه دمخلوق داولاد جوړولو اراده كول محال سول .

يُكَوِّرُ اللَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ . دتكوير معنٰی يو شی په بل باندی غورځول او هغه پټول دی ، قرآن كريم دشپی ورځی انقلاب دلته دعامو نظرونو په اعتبار سره په لفظ دتكوير تعبير كړی دی چی شپه راځی نو گويا دورځی په رڼايوه پرده راوغورول سی اوچی ورځ راځی نودشپی په تياره باندی پرده راوغورزيږی .

(لمر سپوږمي دواړه متحرک دی)

كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُسَمًّى : ددی څخه معلومه سوه چی لمر اوسپوږمی دواړه حركت كوی ، دآسمانونو او مخكو دطبقو مادی تحقيقات دقرآن پاك ياځه آسمانی كتاب دبحث موضوع نه وی ، مگر په دی معامله كی چی څومره خبره چيری ضمناً راځی په هغه يقين ساتل فرض دی ، دفلاسفو پخوانی اونوی تحقيقات خو دوزو پوزه ده ، ورځ په ورځ بدليږی ، قرآنی حقيقتونه غيرمتبدل دی ، ذكر سوی آيت چی څومره خبره وښوولە چی لمر اوسپوږمی دواړه حركت كوی ، په دی يقين ساتل فرض دی ، اوس پاته سوه دا معامله چی زمونږ په مخكی دلمرختل اوپريوتل دمخكی په حركت سره دی ياپه خپله ددی سيارو په حركت سره قرآن پاك نه ددی اثبات كوی نه نفی ، په تجربه سره چی څه معلومه سی دهغه په منلو كی حرج نسته .

وَأَنْزَلَ لَكُمْ مِنَ الْأَنْعَامِ ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ : دحيواناتو پيدائش يی په دی آيت كی په ، اِنْزَالْ : يعنی دآسمان څخه په نازلولو سره تعبير وفرمايی اودی طرف ته يی اشاره وفرمايله چی د دوی په تخليق كی لوی دخل دهغو اوبو دی كوم چی دآسمان څخه نازليږی ، په دی وجه دا ويل كيږی چی دا هم گويا دآسمان څخه نازل سو ، قرآن كريم دانسانی لباس دپاره هم دالفظ استعمال فرمايلی دی ، وَأَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا : او دځينی معدنی شيانو مثلاً اوسپنی دپاره هم دالفظ راغلی دی ، وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ : ددی تولومطلب ددی شيانو په خپل قدرت سره پيدا كول او انسان ته وركول دی (قرطبی)

خَلْقًا مِنْ بَعْدِ خَلْقٍ فِي ظُلُمَاتٍ ثَلَاثٍ : په دی كی دخدای دقدرت هغو رمزونو اورازونو ته اشاره سوی ده كوم چی دانسان په پيدائش كی كار فرمادی ، اول دا چی دالله ﷻ په قدرت كی خو دا هم وه چی بچی دمور په نس كی په يو وخت مكمل پيدا كی ، مگر په تقاضا دحكمت اومصلحت داسی نه ده ، بلكه دَ، خَلْقًا مِنْ بَعْدِ خَلْقٍ : تدريج يی اختيار كی چی بنځه دكومی په نس كی چی عالم اصغر جوړيږی ، هغه كرار دده دبار برداشت كولو سره عادی سی ، دوهم ددی بی نظير حسين ترين مخلوق په كوم كی چی په سوونو نازك مشينونه او دوينته په شان باريك رگونه دوينی او روح رسولو دپاره لگول سوی دی ، دا دعامو كاريگرو په شان په بنكاره ځای كی درنا گانو په مدد سره نه بلكه په درو تيارو كی په داسی ځای كی پيدا كړی دی ، كوم چی دچا نظر خو څه كوی دفكر رسايی هم نسته . فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ .

إِنْ تَكْفُرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ ۖ وَلَا يَرْضَىٰ لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ ۖ وَإِنْ

كه تاسی منكرسوا ست نو الله ﷻ پرواه نه لری ستاسی ، اونه خوښوی دبندگانو كفر كول او كه

Maktaba Tul Ishaat.com

تَشْكُرُوا يَرْضَهُ لَكُمْ ۗ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ أُخْرَىٰ ۗ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ

شکر وکاری نو دا به ستاسی دپاره خوښ کړی او پورته به نه کړی پورته کوونکی بار دبل ، بیابه خپل رب طرف

مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ۝٧

ته تاسی بیرته راسی ، نو خبربه کړی تاسی په هغه چی تاسی کول ، هغه خبر دی دزړونو په خبرو ،

وَإِذَا مَسَّ الْإِنسَانَ ضُرٌّ دَعَا رَبَّهُ مُنِيبًا إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَا خَوَّلَهُ نِعْمَةً

او هرکله چی ورسیږي انسان ته سختی بولی خپل رب هغه ته په رجوع کولو بیا چی هر کله وبخښی ده ته نعمت

مِّنْهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدْعُو إِلَيْهِ مِن قَبْلُ وَجَعَلَ لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلَّ

دخپل طرف څخه هیرسی دده څخه هغه چی دکوم دپاره یی بلل دمخکې څخه او گرځوی الله لره شریکان نور چی

عَن سَبِيلِهِ ۚ قُلْ تَمَتَّعْ بِكُفْرِكَ قَلِيلًا ۖ إِنَّكَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ ۝٨

بی لاری کړی دهغه دلاری څخه ، ته ووایه نفع واخلی دخپل کفر سره لږ ورځی ، ته یی دخاوندانو د دوزخ څخه ،

أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ اللَّيْلِ سَاجِدًا وَقَائِمًا يَحْذَرُ الْآخِرَةَ وَيَرْجُو

آیا یوچی په بندگی کی لگیدلی دی دشپی په وختونو کی سجده کوونکی او ولاړ وی بیره لری دآخرت او امید کوی

رَحْمَةَ رَبِّهِ ۗ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۗ

دخپل رب درحمت ، ته ووایه آیا برابریدی سی پوهی والا او بی پوهی والا ،

إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ ۝٩ قُلْ يَا عِبَادِ الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا رَبَّكُمْ ۚ

نصیحت هغه قبلوی کوم چی دعقل خاوندان دی ، ته ووایه ای زمابندگانو چی ایمان مو راوړی دی اوبیریږي دخپل

لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۗ وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ ۗ إِنَّمَا

رب څخه چاچی نیکی وکړه دهغو دپاره نیکی ده په دی دنیا کی ، اومځکه دالله فراخه ده ، صبر

يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝١٠

کوونکو ته رسیږي دهغوی ثواب بی شمیره .

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډه تفسیر: (ای خلګو! تاسی دکفر اوشرك بطلان واوریدی، ددی څخه وروسته) که تاسی کفر وکی (چی په دی کی شرك هم دا خل دی) نو (د) خدای ﷻ (هیڅ ضرر نسته ځکه چی هغه) ستاسی (اوستاسی دعبادت) حاجتمند نه دی (چی ستاسی په عبادت اوتوحید نه اختیارولو هغه ته ضرر ورسیږی) او (دا خبره ضرور ده چی) هغه دخپلو بندګانو دپاره کفر نه خوښوی (ځکه چی په کفر سره بندګانو ته ضرر رسیږی) اوکه تاسی شکر وکاږی (چی ددی لوی فرد ایمان دی) نو (دهغه فائده نه ده بلکه ستاسی نفع ده ځکه چی هغه) دا ستاسی دپاره خوښوی او (چونکی زمونږ په نزد قاعده مقرره ده چی) څوك دچا بار (دګناه) نه سی پورته کولی (په دی وجه په کفر کولو سره داسی هم مه ګڼی چی زمونږ کفر به دبل په عملنامه کی په څه وجه سره ولیکل سی اومونږ به بری سو، برابره خبره ده که په دی وجه سره چی مونږ دنورو متبع یو، ددی وخت دخلګو یادپخوانیو پلار نیکه، برابره خبره ده که په دی وجه چی بل ددی بار دپورته کولو وعده کوی، لکه چی ځینو کفارو به ویل وَلْنَحْمِلْ خَطٰيٰكُمْ : غرض داسی به نه وی، بلکه ستاسی کفر به ستاسی په جرائمو کی لیکل کیږی) بیابه تاسی ټول خپل طرف ته واپس کیږی، نو هغه به ستاسی ټول عملونه تاسی ته وښایاست (اوسزابه درکی نو داګمان هم غلط دی چی د دوی عملونه به دپیشی په وخت کی را نه سی او) هغه دزړونو په خبرو باندی پوهیدونکی دی (نو دا ګمان هم مه کوی چی زمونږ دکفر به شاید هغه ته اطلاع نه وی لکه چی په احادیثو کی دی چی ځینو خلګو خبری کولی چی معلومه نه ده چی الله ﷻ زمونږ خبری آوری یانه، چاځه جواب ورکی اوچاځه چی په دی داآیت نازل سو، وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُونَ اَنْ يَّشْهَدَ الخ) اودَ (مشرك) سړی (حالت دا دی چی ده) ته کله څه تکلیف رسیږی نوخپل رب (حقیقی) دهغه طرف ته رجوع کوی بلی یی (اونور ټول معبودان هیرکړی) بیاچی هرکله الله ﷻ ده ته دخپل طرف څخه نعمت (امن اوآرام) ورکی نو دکوم (تکلیف دفع کولو) دپاره چی یی اول (خدای) بولی هغه هیرکی (اوغافله سی) اوخدای لره شریك جوړول شروع کړی چی اثر یی (علاوه دخپلی ګمراهی څخه) دا وی چی دالله ﷻ دلاری څخه نور (هم) ګمراه کوی (اوکه دا مصیبت، یی پیش نظر ساتلی نو په توحید کی به یی اخلاص قائم کړی وای، دا دمشرك مذمت سو، مخ ته دعذاب څخه بیرول دی چی ته (داس سړی ته) ووایه چی دخپل کفر ددباندی څخه لږ ورځی نور خوندونه واخله (بیاآخرکار) ته د دوزخیانو څخه کیدونکی یی (مخ ته دتوحید مدح اوخوشخبری ده یعنی) آیا کوم سړی چی (په عکس دحال دذکرسوی مشرك نه) دشپی په وختونو کی (کوم چی عموماً دغفلت وخت وی) دسجدی اوقیام (یعنی لمونځ) په حالت کی عبادت کوی (دا خو دهغه ظاهردی اوباطن یی دا وی چی) دآخرت څخه بیریږی او دخپل پرور دګار درحمت امید (هم) کوی (آیا داسی سړی او دا ذکر سوی مشرك برابریدی سی؟ هیڅکله نه، بلکه دا قانت کوم چی په عبادت همیشوالی کوونکی او دالله ﷻ څخه بیریدونکی هم دی او دهغه څخه دعفو کرم امید ساتونکی هم دی، دا محمود دی اومشرك چی دمطلب پوره کیدو څخه دروسته اخلاص پریږدی، مذموم دی اوچونکی ددی عبادتونو پربنبوول کفارو مذموم نه ګڼل، په دی وجه ددی تفاوت په بنا دمذمومیت اومحمودیت په حکم کی دوی ته شبهه کیده، په دی وجه مخ ته ددی څخه زیات په واضح اومسلم عنوانونو سره ددی حکم اثبات فرمایی یعنی ای پیغمبر ﷺ) ته (دوی ته په

Maktaba Tul Ishaat.com

دی عنوان) ووایه چی علم والا اوجهل والا (کله) برابر وی (چونکی جهل هر سړی بدګنی ددی په جواب کی د دوی دطرف څخه به هم داسی ویل کیږی چی جاهلان مذموم دی، مخ ته دا ثابتول پاته سی چی صاحب عمل صاحب علم دی او دعمل څخه اعراض کوونکی صاحب جهل دی ، نو دا امر لږ په تامل سره ثابت دی او هر څومره چی په دی بیان سره دکفر او اهل کفر مذموم والی او دایمان او ایمان والاړو محمودوالی ثابت سو، لیکن بیاهم) هغه خلګ نصیحت اخلی کوم چی دعقل (سلیم) خاوندان دی او (هرکله چی دطاعت دخاوندانو دالله ﷻ په نزمحمودوالی معلوم سو نو داطاعت دترغیب ورکولو دپاره ته (مومنانو ته زما دطرف څخه) ووایه چی ای زماایماندارو مومنانو تاسی دخپل پروردګار بیره کوی (یعنی په طاعت همیشوالی او دګناهونو څخه ځان ساتونکی وسیږی چی دا ټول دتقوی فرعی دی ، مخ ته ددی ثمره ده چی) کوم خلګ په دی دنیاکی نیکی کوی ، دهغوی دپاره نیکه صله ده (په آخرت کی خو ضرور او په دنیاکی هم باطنی راحت خو ضرور اوکله ظاهراً هم) او (که په وطن کی دنیکی کولو څخه څ مانع وی نو هجرت کوی بل ځای ته څی ځکه چی) دالله ﷻ محکه فراخه ده (اوکه په وطن پریښولوکی څه تکلیف در رسیږی نو استقلال ساتی ځکه چی په دین کی) مستقل اوسیدونکو ته به د دوی صله بی شمیره ورکول کیږی (نو په دی سره ترغیب وسو اطاعت طرف ته)

معلومات اومسئلي : إِنْ تَكْفُرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ (یعنی نه ستاسی په ایمان سره الله ﷻ ته څه فائده سته او نه ستاسی په کفر سره دهغه څه نقصان)

دصحیح مسلم په حدیث کی دی چی الله ﷻ فرمایی ، ای زمابندګانو که ستاسی اولین اوآخرین اوستاسی انسانان اوپیریان ټول په جمع سره په انتهایی فسق اوفجور کی مبتلاسی نو زماپه حکمت اوسلطنت کی یوه ذره هم کمی نه راځی (ابن کثیر)

وَلَا يَرْضَى لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ (یعنی الله ﷻ دخپلو بندګانو څخه په کفر سره راضی نه دی ، درضاځخه مرادمحبت دی یا دیو کار اراده کول بغیر د اعتراض څخه ، ددی مقابل لفظ سَخَط راځی چی معنی یی یو شی بدګنل یایو شی قابل اعتراض ګرځول دی ، که څه هم ددی سره اراده هم متعلقه وی .

مسئله: داهل سنت والجماعت عقیده دا ده چی په دنیاکی یوښه یابدکارایمان یاکفردالله ﷻ دمشیت یا ارادی څخه بغیر په وجود کی نه سی راتلی ، په دی وجه دهر شی په وجود کی دراتلو دپاره دالله ﷻ اراده شرط ده ، البته رضا او پسندیدګی دحق تعالی صرف دایمان اوښوکارونو سره متعلق وی ، کفر، شر اوګناهونه یی خوښ نه وی ، شیخ الاسلام نو وی په خپل کتاب، اَلْأُصول والضوابط، کی لیکلی دی.

مَذْهَبُ اَهْلِ الْحَقِّ اَلْاِيْمَانُ بِالْقَدْرِ وَاِثْبَاتُهُ وَاَنَّ جَمِيْعَ الْكَائِنَاتِ خَيْرُهَا وَشَرُّهَا بِقَضَاءِ اللهِ وَقَدْرِهِ وَهُوَ مُرِيْدٌ لَهَا كُلِّهَا وَيَكْرَهُ الْمَعَاصِيَ مَعَ اَنَّهُ تَعَالٰى مُرِيْدٌ لَهَا لِحِكْمَةٍ يَعْلَمُهَا جَلَّ وَعَلَا . (روح المعانی)

مذهب داهل حقو په تقدیرایمان راوړل دی او دا چی ټول کائنات ښه وی اوکه بد ټول دالله ﷻ په حکم او تقدیرسره په وجود کی راځی اوالله ﷻ د دوی دتخلیق اراده هم کوی ، مګر هغه ګناهونه مکروه اوناخوښه ګنی که څه هم ددی دتخلیق اراده په څه حکمت اومصلحت سره وی کوم چی هغه په خپله پیژنی.

Maktaba Tul Ishaat.com

أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ اللَّيْلِ . لفظ دَأَمَّنْ د دوو لفظونو څخه مرکب دی أَمْ حرف استفهام او مَنْ اسم موصوله ددی جملی څخه اول کفارو ته دالله ﷻ دطرفه ویل سوی دی ، چی ددنیا دغو ورځو په ژوندکی دَخپل کفر او فسق او فجور مزی واخلی ، آخر به تاسی دجهنم خاشاك سی ددی څخه وروسته په دی جمله کی دفرمانبردار مومن بیان دی ، کوم چی یی دَأَمَّنْ په لفظ سره دسوال څخه شروع کړی دی ، دتفسیر علماء فرمایی چی ددی څخه مخ ته یوه جمله محذوفه ده چی کافرته به وویل سی چی ته ښه یی یاهغه فرمانبردار مومن دکوم ذکر چی مخ ته راځی ، دلفظ دَقَانِت څو ترجمی سوی دی ، دټولو جامع قول دحضرت ابن مسعود ﷺ دی ، ددی معنی ده، اطاعت ګذار، اودالفظ هرکله چی خاص دلمانځه دپاره وویل سی لکه، قُومُوا لِلّٰهِ قَانِتِينَ : نو هلته مراد هغه سړی وی کوم چی په لمانځه کی خپل نظر کښته ساتی یوی خوا بلی خوا ته ګوری ، نه دخپل بدن یاکپړو سره بازی کوی ، نه ددنیاځه شی په خپل اختیارسره په لمانځه کی یاد وی ، هیر او غیراختیاری وسوسه ددی منافی نه ده (قرطبی)

آنَاءَ اللَّيْلِ : معنی دشپی وختونه دی چی مراد ورځخه دشپی اوله حصه درمیانی حصه اوآخره حصه ده، حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی کوم سړی دا غواړی چی دمحشر دحساب په موقوف کی الله ﷻ پرده باندی آسانی اوفرمایی ده لره په کار دی چی الله ﷻ ده لره دشپی په تیاره کی دسجدی اوقیام په حالت کی پیداکی ، داسی چی دده سره دآخرت فکر هم وی او درحمت امید هم ، ځینی حضراتو دمابنام اوماخستن درمیانی وخت ته هم ، آنَاءَ اللیل : ویلی دی (قرطبی)

وَأَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةٌ : ددی څخه په مخکی جمله کی دنیکوعملونو حکم دی په دی کی چا دا عذر کولی سو چی زه په کوم ښار یاملك کی اوسیږم یاپه کوم ماحول کی ګیریم، ددی ماحول دنیکو عملونو څخه منع کوی ، ددی جواب په دی جمله کی ورکول سو، چی که چاته په خاص ملك یاښارَ یاخاص ماحول کی د اوسیدو سره دشرعی احکامو پابندی مشکله په نظر راسی ، نو دغه ځای دی پریږدی دالله ﷻ مخکه ډیره فراخه ده ، څه داسی ځای اوماحول ته دی ولاړسی او اوسیږی دی، کوم چی دالله ﷻ داحکامو داطاعت دپاره سازګاروی ، په دی کی ترغیب دی دداسی ځای څخه دهجرت په کوم کی چی په اوسیدو سره انسان ددین داحکامو پابندنه سی کولی ، دهجرت مفصل احکام په سورة نساء کی تیرسوی دی .

إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ : بغیر دحساب څخه مراد دا دی چی دصبر کوونکو ثواب په څه مقرره اندازه اوپیمانه نه دی بلکه بی اندازی اوبی حسابه به ورکول کیږی ، لکه چی دحدیث په روایتونو کی مخ ته راځی، اوځینی حضراتو دبغیر حساب معنی درخواست اومطالبه کړې ده ، یعنی لکه څنګه چی په دنیاکی دچاڅه حق دچاپه ذمه وی ، نو ده ته دخپل حق په خپله مطالبه کول وی ، دالله ﷻ په نزد به صابرانو ته د درخواست اومطالبی څخه بغیر د دوی ثواب ورکول سی .

حضرت قتاده ﷺ فرمایی چی حضرت انس ﷺ دا حدیث نقل کی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دقیامت په ورځ به دعدل میزان قائم سی ، دصدقو خاوندان به راسی نو د دوی صدقی به تول سی او ددغو په حساب به ورته پوره پوره اجر ورکول سی ، دغه ډول دلمانځه کوونکو، حج کوونکو وغیره عملونو کوونکو عبادتونه به تول سی ، په حساب سره به دوی ته پوره پوره اجرورکول سی بیاچی هرکله

Maktaba Tul Ishaat.com

په بلاګانو اومصیبتونو صبر کوونکی راسی نو د دوی دپاره به څه پیمانه اوتول نه وی ، بلکه بغیر دحساب او اندازی څخه به د دوی طرف ته اجر او ثواب وروبهول سی ، ځکه چی الله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ : تردی پوری چی هغه خلګ دکومو ددنیاژوند چی په عافیت کی تیرسوی وی ، آرزوګانی به وکړی چی کاشکی! په دنیاکی د دوی بدن په قینچیانو باندی پرې سوی وی نو مونږ ته به هم دصبر داسی بدله راکول سوی وای .

حضرت امام مالك رحمه الله په دی آیت کی دَ صَابِرِيْن څخه مراد هغه خلګ اخستی دی کوم چی په دنیاکی په مصیبتونو رنځ او غم باندی صبر کوونکی وی اوځینی حضرات فرمایی چی دَ صَابِرِيْن څخه مرادهغه خلګ دی کوم چی دَ ګناهونو څخه خپل نفس منع کړی ، قرطبی فرمایی چی لفظ دَصَابِر هرکله چی بغیر دبل لفظ څخه وویل سی ، نو دهغه څخه مراد دا وی چی څوك خپل نفس دګناهونو څخه دمنع کولو په مشقت صبر کوی او په مصیبت دصبر کوونکی دپاره لفظ دَصَابِرْ چی ویل کیږی نو صَابِرْ عَلَى كَذَا، الفاظ ویل کیږی یعنی په فلانی مصیبت باندی صبر کوونکی . والله تعالی اعلم

قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ مُخْلِصًا لَهُ الدِّينَ ﴿١١﴾ وَأُمِرْتُ لِأَنْ أَكُونَ أَوَّلَ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٢﴾ قُلْ

ته ووایه ماته حکم دی چی بندګی کوم دالله خالصه کړی دهغه دپاره بندګی،او حکم دی چی زه سم دتولو څخه اول حکم منونکی ، ته ووایه ،

إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٣﴾ قُلِ اللَّهَ أَعْبُدُ

زه بریږم که نافرمانی وکړم دخپل رب دیوی لوی ورځی دعذاب څخه ، ته ووایه زه خو دالله عبادت کوم

مُخْلِصًا لَهُ دِينِي ﴿١٤﴾ فَاعْبُدُوا مَا شِئْتُمْ مِنْ دُونِهِ ۗ قُلْ إِنَّ الْخَاسِرِينَ

خالصه کوم هغه لره بندګی ، نو تاسی عبادت کوی دچا چی غواړی دهغه څخه ماسوا ، ته ووایه زیات تاوان

الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ أَلَا ذَٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ

کوونکی دی هغه چی تاوان کړی ، خپل نفسونه او خپل اهل دقیامت په ورځ ، خبردار دا دی ښکاره تاوان

الْمُبِينُ ﴿١٥﴾ لَهُمْ مِنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِنَ النَّارِ وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ۚ ذَٰلِكَ

، دهغوی دپاره دسربیره څخه وریځ ده د اور او دلاندی دهغوی څخه وریځ ده ددې شي

يُخَوِّفُ اللَّهُ بِهِ عِبَادَهُ ۚ يَا عِبَادِ فَاتَّقُونِ ﴿١٦﴾ وَالَّذِينَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوتَ

څخه بیروی الله خپل بندګان ،ای زمابندګانو ! زماڅخه وبیریږي ، او کومو خلقو چی ځان وساتی دشیطانانو څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

أَنْ يَّعْبُدُوْهَا وَأَنَابُوْٓا إِلَى اللّٰهِ لَهُمُ الْبُشْرٰى ۚ فَبَشِّرْ عِبَادِ ﴿۱۷﴾ الَّذِيْنَ

چی عبادت یی وکی اورجوع سول دالله طرف ته دهغوی دپاره خوشخبری ده نوته خوشخبری ورکړه زمابندګانوته کوم

يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُوْنَ أَحْسَنَهٗ ۚ أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدٰىهُمُ اللّٰهُ

چی اوری خبره بیا تابعداری کوی په هغه کی دښی خبری ، هغه دی کومو ته چی هدایت وکی الله

وَأُولٰٓئِكَ هُمْ أُولُوا الْأَلْبَابِ ﴿۱۸﴾ أَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ الْعَذَابِ ۚ

اوهغه دی دعقل خاوندان ، آیا په چا چی ثابت سو حکم دعذاب

أَفَأَنْتَ تُنْقِذُ مَنْ فِي النَّارِ ﴿۱۹﴾ لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ غُرَفٌ مِّنْ

آیاته به خلاص کړی هغه چی ولویدی په اورکی،لیکن کوم چی بیریږي درب خپل څخه دهغوی دپاره بالاخانی دی

فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ ۙ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ ۭ وَعْدَ اللّٰهِ ۭ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ الْمِيْعَادَ ﴿۲۰﴾

چی پر سر به یی نوری بالاخانی وی جوړی سوی چی لاندی به ورڅخه بهیږي نهرونه ، وعده سوی ده دالله الله خلاف نه کوی دخپلی وعدی څخه.

لنډتفسیر: ته ووایه چی ماته (دالله ﷻ دطرف څخه) حکم سوی دی چی زه دالله ﷻ داسی عبادت وکړم چی عبادت دهغه دپاره خالص کړم (یعنی دشرك شائبه په کی نه وی) اوماته (دا هم) حکم سوی دی چی (ددی امت په خلګو کی) په تولو مسلمانانوکی اول (داسلام حق منونکی) زه سم (اوظاهره ده چی داحکامو په قبلولو دنبی اول والی ضروری دی او) ته (دا هم) ووایه چی که (به فرض محال) زه دخپل رب خبره ونه منم نو زه دیوی لوی ورځی (یعنی قیامت) دعذاب بیره لرم اوته (دا هم) ووایه چی (ماته دکومی خبری حکم سوی دی زه خوپه هغه کار بند یم چنانچی) زه خو دالله ﷻ عبادت داسی کوم چی عبادت دهغه دپاره خالص کوم (چی په هغه کی دشرك یوه ذره شائبه نسته) نو (ددی تقاضا خو دا ده چی تاسی هم داسی خالص عبادت وکی لیکن که تاسی نه منی نو تاسی پوه سی او) دخدای څخه ماسوا چی ستاسی زړه څه شی (عبادت) غواړی دهغه عبادت کوی (دقیامت په ورځ به ددی خوند وڅکی او) ته دوی ته (دا هم) ووایه چی پوره زیان کاران هغه خلګ دی کوم چی په خپلوڅانونوسره او دخپلو متعلقینو سره دقیامت په ورځ په خساره کی راڅی (یعنی نه دخپل ځان څخه دوی ته څه فائده ورسیده او نه دخپلو متعلقینو څخه ، ځکه چی هغه متعلقین هم که د دوی په شان ګمراه وه نو هغوی به هم په عذاب کی ګرفتار وی ، نورو ته به څه فائده ورسوی اوکه هغه مومن مخلص وی اوجنت ته ولاړ سی نو هغه هم کافرانو ته په سفارش کولو باندی څه نفع نه سی رسولی) یاد ساتی چی بنکاره خساره دا ده چی دهغوی دپاره به پرهغوی سربیره هم داورشغلی وی او دهغوی دلاندی څخه به هم داورګیرونکی شغلی وی داهغه (عذاب)

Maktaba Tul Ishaat.com

دی په کوم سره چی الله ﷻ خپل بندګان بیروی (او ددی څخه دمحفوظ کیدو تدبیرونه ورته ښیی کوم چی په حق دین عمل کوی نو) ای زمابندګانو! زماڅخه (یعنی زمادعذاب څخه) وبیریږی (داحال خو دکفارو مشرکانو سو) اوکوم خلګ چی دشیطان دعبادت څخه ځان ساتی (دشیطان دعبادت څخه مراد د هغه اطاعت دی) او(په ټول تن) دالله ﷻ طرف ته متوجه کیږی هغه مستحق دخوشخبری آورولودی ، نوته زماهغه بندګانو ته خوشخبری ورکړه کوم چی (په دی صفت سره هم موصوف دی چی) دی کلام (دخدای ته غوږ ایږدی آوری ، بیا ددی په ښوخبرو (اودالله ﷻ احکام ټول ښه دی لکه چی مخ ته په آیت احسن الحدیث کی راځی) چلیږی ، دا دی کومو ته چی الله ﷻ هدایت کړی دی او دا دی کوم چی دعقل خاوندان دی (نو ذی خلکو ته خوشخبری ورکړه ، دکوم شی چی خوشخبری ورکول سی دهغه بیان خوبه مخ ته راسی په، آیت، لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا: کی په مینځ کی نبی کریم ﷺ ته دتسلی ورکولو دپاره دابیان سوی دی چی ددی کافرانو څخه مومنان جوړول ستاداختیار څخه وتلی دی ، په دی وجه په دی څه غم مه کوه چی) آیا په کوم سړی چی دعذاب (ازلی تقدیری) خبره ثابته سوه نوآیاته داسی سړی کوم چی (په علم ازلی کی) په دوږخ کی دی (دجهنم څخه) خلاصولی سی؟ (یعنی کوم سړی چی دوږخ ته تلونکی دی هغه په کوشش سره هم دګمراهی څخه واپس کیدی نه سی په دی وجه په دوی افسوس اوغم بی کاره دی) لیکن کوم خلګ چی (داسی دی چی دهغوی په حق کی دعذاب کلمه نه ده ثابته سوی اوپه دی وجه هغوی ستا څخه احکام واوری) دخپل رب څخه بیریږی ، دهغوی دپاره (دجنت) بالا خانی دی چی پر سر یی نوری بالاخانی دی کوم چی به تیاری جوړی سوی وی (او) ددغو څخه لاندی به نهرونه چلیږی دا الله وعده کړې ده (او) الله وعده خلافی نه کوی (دا مضمون دهغه خوشخبری دی چی تاته یی حکم سوی دی، فَبَشِّرْ عِبَادِ.

معلومات اومسئلي: فَبَشِّرْ عِبَادِ * الَّذِيْنَ يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدٰهُمُ اللّٰهُ وَاُولٰٓئِكَ هُمْ اُولُو الْاَلْبَابِ : ددی آیت په تفسیرکی دمفسر ینو حضراتو اقوال ډیر دی ، یو خو هغه دی کوم چی ابن کثر راخستی دی او په ذکر سوی لنډتفسیر کی هم دا اختیار سوی دی ، هغه دا دی چی دقول څخه مراد د الله ﷻ کلام قرآن یاقرآن سره درسول دتعلیماتو دی ، او هغه ټول احسن او احسن دی ، په دی وجه مقام مقتضی په ظاهره ددی وو، چی ، يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُوْنَ یی ویلی وی ، مګر دلته لفظ داحسن یی اضافه کی او دی طرف ته یی اشاره وکړه چی دی خلګو دقرآن او دربحول دتعلیماتو تابعداری په رښتو سترګو سره نه ده کړی لکه دبی وقوفو خلګو طریقه چی ده کومه خبره واوری بغیر دڅه تحقیق اونظر کولو څخه یی تابعداری کوی بلکه دی خلګو دالله ﷻ او دهغه درسول کلام دحق اواحسن لیدو څخه وروسته ددی تابعداری کړې ده ، ددی په نیتجه کی دآیت په آخرکی دوی ته دعقل دخاوندانو خطاب ورکول سوی دی ددی نظیر په قرآن کریم کی هغه ارشاد دی کوم چی حضرت موسیٰ علیه السلام ته دتورات متعلق سوی دی ، فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ وَّاْمُرْ قَوْمَكَ يَاْخُذُوْا بِاَحْسَنِهَا . دلته هم دَاحسن څخه مراد پوره تورات او ددی احکام دی ، دغه ډول په ذکر سوی آیت کی دقول آوریدو څخه مراد آوریدل دقرآن اودَاتباع احسن څخه مراد اتباع دپوره قرآن ده کوم ته چی یی په راتلونکی آیت کی احسن الحدیث فرمایلی دی ، هم په دی تفسیرکی چی دقول

څخه مراد خاص قرآن واخستل سی ، څینو حضراتو دا هم فرمایلی دی چی په قرآن کریم کی هم په ډیرو احکامو کی دَحْسَن اواَحْسَن درجی ایښول سوی دی، مثلاً انتقام اوعفوه دواړه جائزدی ، مگر عفوه احسن اوافضل ده وَاَنْ تَصْبِرُوا خَيْرٌ لَكُمْ : ډیر شیان په کومو کی چی قرآن انسان ته اختیار ورکړی دی چی په دواړو کی کومه غواړی اختیار وه ، هیڅ گناه نسته ، لیکن په دی کی یی یوی ته احسن اوافضل هم فرمایلی دی لکه چی په ، وَاَنْ تَعْفُوا اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى : کی دی ، په ډیرو شیانو کی یی رخصت ورکړی دی ، مگر په عزیمت باندی عمل کولو ته یی احسن اوافضل فرمایلی دی نو مراد دآیت دا سو چی دا خلگ دقرآن درخصت احکام هم آوری او دعزیمت هم ، مگر اتباع په څای درخصت په عزیمت باندی کوی اوپه کومو دوو شیانو کی چی یو احسن وی بل حسن ، دوی عمل په اَحْسن باندی کوی .

او ډیرو مفسرینو حضراتو دلته دقول څخه مراد دعامو خلگواقوال اخستی دی په کومو کی چی توحید اوشرك ، کفر اواسلام، حق اوباطل، بیاپه حق کی حسن اواحسن ، راجح اومرجوح تول دا خل دی ، دآیت مطلب په دی تفسیر دا دی چی داخلگ خبری خو تولی آوری ، دکفارو هم دمومنانو هم حق هم باطل هم، نبه هم اوبدهم، لیکن اتباع صرف دهغه خبری کوی کومه چی احسن وی، په توحید اوشرك کی دتوحید ، په حق اوباطل کی دحق، اودحق مختلفی درجی وی نوپه هغه کی چی کومه احسن اوراجح وی دهغه اتباع کوی ، په دی وجه دوی په دووصفتونو سره موصوف سول اول په هَدٰهُمُ اللّٰهُ، یعنی دا خلگ دالله ﷻ دطرف څخه هدایت پیدا کونکی دی ، په دی وجه مختلف قسم خبرو آوریدو سره بی لاری کیږی نه دوهم په ، وَاُولٰٓئِكَ هُمْ اُولُوا الْاَلْبَابِ : یعنی داخلگ دعقل خاوندان دی ، دعقل کار دا دی چی په نبه بد اوحق اوباطل کی تیمز وکی اوحسن اواحسن وپیژنی په احسن عمل وکی .

په دی وجه ویل سوی دی چی دا آیت دزید بن عمرو بن نفیل ﷺ، ابوذرغفاری ﷺ اوسلمان فارسی ﷺ په باره کی نازل سوی دی ، زید بن عمرو بن نفیل ﷺ په زمانه دجاهلیت کی هم دشرك اوبت پرستی څخه نفرت کوی ، حضرت ابوذر غفاری ﷺ اوحضرت سلمان فارسی ﷺ دمختلفو مذهبونو دخلگو ، مشرکانو بیا دیهودو اونصارا وو دخبرو آوریدو اوطور طریقو لیدو څخه وروسته ایمان راوړی اوقرآنی تعلیمات یی دتولو څخه احسن پیدا کړل او دی ته یی ترجیح ورکړه (قرطبی)

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهٗ يَنَابِيْعَ فِي

آیا ته نه گوری چی الله ﷻ نازلی کړی دآسمان څخه اوبه بیایی وچلولی هغه اوبه په چینو کی

الْاَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهٗ ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا

په مځکه کی بیارا وباسی په هغه سره فصلونه څوڅو رنگه بدل ، بیا راسی په تیاریدو ، نو ته وینی دهغورنگ

ثُمَّ يَجْعَلُهٗ حُطَامًا ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۲۱﴾ اَفَمَنْ

زړ ، بیا کړی هغه وچ سوی بیشکه په دی کی نصیحت دی دعقل مندو دپاره آیا دچا

شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ فَهُوَ عَلٰى نُوْرٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ فَوَيْلٌ لِّلْقٰسِيَةِ

سینه چی خلاصه کړه الله ددین اسلام دپاره نو هغه په رښا کی دی دخپل رب دطرف څخه ، نو خرابی ده هغولره

قُلُوْبُهُمْ مِّنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۲﴾ اَللّٰهُ نَزَّلَ اَحْسَنَ

چی زړونه یی سخت دی دیا دو دالله څخه ، هغوی لویدلی دی په ګمراهی ښکاره کی ، الله نازله کړی ده ښه

الْحَدِيْثِ كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ ۖ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ

خبره ، کتاب دیو بل په شان بیا بیا بیان سوی ، چی ویښته ښخ کیږي ددې څخه په څرمنو دهغو خلقو

يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ۚ ثُمَّ تَلِيْنُ جُلُوْدُهُمْ وَقُلُوْبُهُمْ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ ؕ

چی ویریږي درب خپل څخه ، بیا نرمی سی دهغوی څرمنی او دهغوی زړونه دالله ﷻ یادو ته

ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿۲۳﴾

دادی هدایت دالله ﷻ دغسی هدایت کوی چاته چی وغواړی ، اوخوک چی بی لاری کړی الله نونسته خوک هغه ته لارښوونکی

لنډتفسیر: (ای مخاطب) آیاتاپه دی (خبره) نظرنه دی کړی چی الله ﷻ دآسمان څخه اوبه وورولی ، بیادا دمځکی په رګونو کی (یعنی په هغوټکرو کی دکومو څخه چی اوبه راخوټکیږی نو) ددی په ذریعه سره فصلونه پیداکوی دکومو چی مختلف قسمونه دی ، بیاهغه فصلونه بالکل وچ سی نو هغه ته ژړ وینی بیا یی (الله ﷻ) چوره چوره کوی په دی (نمونه) کی دعاقلانو دپاره لوی عبرت دی (چی داحالت بعینه دانسان ددنیوی ژوندد دی دآخرفَنَا کیدونکی او دفناکیدونکی په دی کی مشغولیدل دابدی راحت څخه محروم پاته کیدل او ابدی مصیبت په سر اخستل ډیر حماقت دی ، که څه هم زمونږ بیان نهایت بلیغ دی ، مګر بیا هم ټول آوریدونکی دیو بل سره په تفاوت دی) نو دکوم سړی سینه چی الله ﷻ داسلام (قبلولو) دپاره خلاصه کړی (یعنی داسلام په حقوالی دده یقین راغی) اوهغه دخپل پروردګار په (ورکړی) نور (یعنی دهدایت په مقتضا) باندی (چلیدونکی) دی (یعنی یقین یی راغی دهغه موافق عمل یی وکی آیاهغه سړی اوسخت دله سړی برابردی دکوم ذکرچی مخکی راځی) نو دکوموخلګو زړه چی دخدای ذکر څخه (په دی کی احکام اومواعید ټول راغلل) نه متاثره کیږی (یعنی ایمان نه راوړی) دهغوی دپاره (په قیامت کی) بو خرابی ده (اوپه دنیاکی) دا خلګ په ښکاره ګمراهی کی (ګرفتار) دی (مخکی ددی نور او ذکر بیان دی یعنی) الله ﷻ ډیرعمده کلام (یعنی قرآن) نازل کړی دی کوم چی داسی کتاب دی چی (په اعتبار داعجاز، نظم او صحت معانی) دیو بل په شان دی (او په کوم کی چی دپوهولو دپاره ځینی ډیری ضروری خبری بار بار دوباره سوی دی (لکه چی دا قول دالله ﷻ دی ، وَلَقَدْ صَرَّفْنَا الخ، چی په دی کی سره دتاکید

Maktaba Tul Ishaat.com

وفائدی او دمخاطب دمدعا رسوخ په زړه کی هرځای دخاص خاص لطائفو هم لحاظ ساتل سوی دی ، په دی سره دا خالی تکرار نه دی پاته سوی اوبار بار دوباره کول یی دلیل دی په هدایت دمشتمل کیدو) چی په دی سره دهغوخلګو کوم چی دخپل رب څخه بیریږی ، په بدن وریښتیان ښخیږی (دا کنایه ده دبیری څخه که څه هم په زړه کی پاته سی ، په بدن یی اثر ونه سی اوکه څه هم هغه بیره عقلی اوایمانی وی طبعی اوحالی نه وی) بیا د دوی بدن او زړه نرم سی ، دالله ﷻ ذکر (یعنی په کتاب باندی عمل کولو) طرف ته متوجه سی (یعنی وبیروی اودَاندامونو او دزړه عملونه په انقیاد اوتوجه سره په ځای راوړی او) دا (قرآن) دالله ﷻ هدایت دی چاته چی هغه غواړی ، په دی سره ورته هدایت کوی (لکه دبیریدونکو حال چی اوس مو واوریدی) اوخدای چی څوک ګمراه کوی ، دهغه هیڅوک هدایت کوونکی نسته (لکه چی دسختوزړونو کافرانو حال اوس ولیدل سو)

معلومات اومسائل: فَسَلَكَهُ يَنَابِيعَ فِي الْأَرْضِ : يَنَابِيعَ دینبوع جمع ده چی معنی یی ده دمځکی څخه راوتونکی چینی ، مطلب دا دی چی دآسمان څخه اوبه نازلول یوعظیم الشان نعمت دی ، مګر دا نعمت که دمځکی دننه دمحفوظ کولو انتظام نه کیدی نو انسان به ددی څخه صرف دباران په وخت کی ددی متصل یو څو ورځی فائده اخستی سوه ، حال دا دی چی اوبه دده دژوند مدار او داسی ضرورت دی دکوم څخه چی دی یوه ورځ هم بی حاجته کیدی نه سی ، په دی وجه الله ﷻ صرف ددی نعمت په نازلولو بس ونه فرمایل ، بلکه ددی دمحفوظ کولو عجیبه عجیبه سامان یی وفرمایی ، څه خو دمځکی په ژورو ځایونو حوضونو اوتالابونو کی محفوظ کولی سی او دا واوری دډیری لوی ذخیری په شکل کی دغرونو په سرونو ساتل کیږی ، په کوم سره چی ددی دسخاکیدو اوخرابیدو امکان نه پاته کیږی ، بیاهغه واوره کراره اورول کیږی ، دغرونو درګونو په ذریعه په مځکه کی ننوزی اوځای په ځای دچینو په صورت کی خودبخود بغیر دڅه انسانی عمل نه راوزی اودنهرونو په شکل کی په مځکه بهیږی اوځینی اوبه دمځکی په بیخ کی روانی وی چی دڅانانو په ذریعه را ایستل کیږی .

په قرآن کریم کی ددی اوبه خور پوره تفصیل په سورة مومنون کی تر آیت فَأَسْكَنَّاهُ فِي الْأَرْضِ وَإِنَّا عَلَى ذَهَابٍ بِهِ لَقَادِرُونَ کی بیان سوی دی .

مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهُ ، دفصلونودراختلو اوبیا دپخیدو په وخت کی ددی مختلف رنګونه وی اوچونکی په دی رنګونو کی انقلاب او تجدد دی په دی وجه مُخْتَلِفًا یی په ترکیب نحوی کی حال جوړکړی دی اومنصوب یی راوړی دی کوم چی په تجدد باندی دلالت کوی .

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِأُولِي الْأَلْبَابِ : یعنی اوبه نازلول او دا محفوظ کول دانسان په کارکی لګول ، بیاپه دی سره قسم قسم بوټی او درختی راخیژول او په دی درختو دمختلفو رنګونو راتللو څخه وروسته په آخر کی ژړ اووچ کیدو ، غله جلا کیدلو اوبوسو جلاکیدو کی لوی نصیحت دی دعقل والاؤ دپاره کوم چی دالله ﷻ عظیم الشان قدرت اوحکمت دلیلونه دی ، دکوموپه لیدو چی انسان دخپل تخلیق په معامله کی حقیقت ته هم رسیدی سی کومه چی دخپل خالق اومالك دپیژندو ذریعه کیدی سی .

Maktaba Tul Ishaat.com

اَفَمَنْ شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ فَهُوَ عَلٰى نُوْرٍ مِنْ رَّبِّهٖ : دَشَرَحَ لفظ معنٰی خلاصول اوغورول اوفراخه کول دی، دشرح صدر معنٰی دزړه فراخی ده چی مطلب یی دا دی چی په زړه کی ددی استعداد موجود وی چی هغه په تکوینی آیتونو دالله ﷻ آسمان، مځکه اوپه خپله په خپل پیدائش وغیره کی فکر وکی او عبرت او فوائد حاصل کړی ، دغه ډول دالله ﷻ کوم آیتونه چی په صورت دکتاب اواحکامو نازلیږي ، په هغه کی فکر وکی اوفائده حاصله کړی ، ددی بالمقابل سخت دلی اوقساوت دزړه دی ، دقرآن یو آیت او دلته په راتلونکی آیت کی لِلْقَاسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ : ددی شرح صدر په مقابل کی راغلی دی .

دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ هرکله دا آیت تلاوت وکی ، اَفَمَنْ شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرَهٗ : نو مونږ ورڅخه دشرح صدر دمطلب پوښتنه وکړه، دوی وفرمایل چی هرکله دایمان نور دانسان په زړه کی دا خل سی نو دده زړه فراخه سی (چی په دی سره دالله ﷻ په احکامو پوهیدل اوعمل په کول دده دپاره آسانه سی) مونږ عرض وکی چی یارسول الله ﷺ ددی (شرح صدر) نښه څه ده؟ نوده ﷺ وفرمایل .

اَلْاِنَابَةُ اِلٰى دَارِ الْخُلُوْدِ وَالتَّجَافِيْ عَنْ دَارِالْغُرُوْرِ وَالتَّاهُّبُ لِلْمَوْتِ قَبْلَ نُزُوْلِهٖ (رواه الحاکم فی المستدرک والبیهقی فی شعب الایمان) (روح المعانی)

دهمیشه کور طرف ته مائل کیدل اوراغب کیدل او د دوکی دکور یعنی دنیا (دلذتونو اوزینت) څخه لری اوسیدل او دمرګ دراتلو څخه مخ ته ددی تیاری کول .

ذکر سوی آیت یی دحرف استفهام اَفَمَنْ څخه شروع کی، مطلب یی دا دی چی آیا داسی سړی دکوم زړه چی داسلام دپاره خلاص سوی وی اوهغه دخپل رب دطرف څخه په راغلی نور باندی وی ، یعنی ددی په رڼا کی ټول کارونه کوی اوهغه سړی کوم چی زړه تنګی اوسخت زړه والاوی چیری برابریدی سی؟ ددی په مقابله کی دسخت زړی ذکر یی په راتلونکی آیت کی دعذاب ویل سره کړی دی .

فَوَيْلٌ لِّلْقَاسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ . قاسیه دقساوت څخه مشتق دی چی معنٰی یی سخت زړی کیدل چی په چا یی رحم نه راځی اوکوم چی دالله ﷻ دذکر او دده داحکامو څخه څه اثر نه قبلوی .

اَللّٰهُ نَزَّلَ اَحْسَنَ الْحَدِيْثِ كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ . ددی څخه په مخکی آیت کی دالله ﷻ دمقبولو بندګانو دا حال ذکر سوی وو چی يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ . په دی آیت کی یی وښوول چی ټول قرآن اَحْسَنُ الْحَدِيْثِ دی ، دحدیث لفظی معنٰی دهغه کلام یاقصی ده کومه چی بیانول کیږی ، قرآن کریم ته دَاَحْسَنُ الْحَدِيْثِ فرمایلو مطلب دا دی چی انسان هرڅه چی وایی په دی ټولو کی اَحْسَنُ الْکلام قرآن دی ، مخ ته دقرآن یو څو صفتونه ذکرفرمایی یو كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا: دمشابه څخه مراد دلته متماثل دی یعنی دقرآن مضامین دیوبل سره ترڼ سوی او دَیوبل په شان دی چی دیوآیت تشریح اوتصدیق په بل آیت سره کیږی په دی کلام کی دتضاد اوتعارض نوم نسته ، دوهم صفت مثانی دی کوم چی دمثنٰی جمع ده چی معنٰی یی مُکَرَّر ده ، مطلب دا دی چی په قرآن کریم کی یو مضمون په ذهن کی دکښینولو دپاره بار بار دوباره ذکر کیږی، دریم صفت یی دا فرمایلی دی چی ، تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ : یعنی دالله ﷻ دعظمت څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

متاثره کیږی دبیریدونکو دقرآن په ویلو سره دبیری اوهیبت داحالت وی چې د دوی په بدن باندی وریښته ودریږی ، څلورم صفت دا دی چې . ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ . یعنی دقرآت دتلاوت اثر کله دعذاب دوعدی په آوریدو دا کیږی چې دبدن وریښته ودریږی ، اوکله درحمت اومغفرت آیتونه واوری نو دا حال یې سی چې بدن اوزړه یې تول دالله ﷻ یادوته نرم سی ، حضرت اسماء بنت ابی بکر ؓ فرمایی چې دصحابه کرامو ؓ عام حال دا وو چې کله به د دوی په مخکی قرآن ویل کیدی نو د دوی په سترګو کی به اوښکی راتلی او په بدن به یې وریښته ښخ ښخ سول (قرطبی)

دحضرت عبدالله بن عباس ؓ څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې دکوم بنده په بدن باندی دخدای دبیری څخه وریښته ښخ سی نو الله ﷻ دهغه په بدن اور حرام کړی (قرطبی)

أَفَمَن يَتَّقِي بِوَجْهِهِ سُوءَ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ وَقِيلَ

آیا یو هغه چې را ولی په خپل مخ بد عذاب د ورځی دقیامت ، او وبه ویل سی

لِلظَّالِمِينَ ذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٢٤﴾ كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ

ظالمانو ته ، وڅکی کوم چې تاسی کول ، درواغجن کړی دی هغو خلقو چې د دوی څخه مخکی وه

فَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٥﴾ فَأَذَاقَهُمُ اللَّهُ الْخِزْيَ

نو راغی دوی ته عذاب دهغه طرف څخه د دوی خیال نه وو ، بیا وڅکوله الله دوی ته رسوایی

فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ ۚ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾

په ژوند ددنیا کی ، او عذاب دآخرت دیر لوی دی ، که دوی پوهیدی ،

وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ مِن كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ

اومونږ بیان کړی دی دخلقو دپاره په دی قرآن کی دهر شی مثل چې دوی

يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾ قُرْآنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِي عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٢٨﴾

نصیحت وکی ، قرآن دی په عربی ژبه چې کوږوالی په کی نسته ددې دپاره چې دوی ځان وساتی .

لنډتفسیر: آیاکوم سړی چې خپل مخ دقیامت دورځی سخت عذاب ته سپر کوی او داسی ظالمانو ته به حکم وسی چې تاسی څه کول (اوس) دهغه خوند وڅکی نوآیادا (گرفتار په عذاب کی) اوکوم چې داسی نه وی ، برابریدی سی؟ (اوکفار چې داعذابونه واوری ، انکار دی نه کوی څکه چې) کوم خلګ د دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه مخکی تیر سوی دی هغوی هم (حق) درواغجن کړی وو نو په دوی عذاب په داسې طور راغلی چې د دوی خیال هم نه وو ، نو الله ﷻ دوی ته په دی دنیوی ژوند کی هم درسوایی خوند وڅکی (چې په مخکی کی دننوتو او دمخ ورانیدو اودآسمان څخه دډبرو دوریدو په عذاب سره په دنیاکی بدنام سول او دآخرت عذاب نور هم لوی دی ، کاشکی! داخلک پوهیدی (لږ په یوآیت کی دا بیان سوی وو چې قرآن واوری نوځینی خلک متاثره کیږی ځینی نه ، مخ ته په آیت کی دا بیان دی چې دځینو خلکو ددې څخه متاثره کیدل دهغوی دخپل قابلیت اوصلاحیت دکومی په وجه سره دی ، کنه قرآن فی نفسه دټولو دپاره برابر اثر لری چې خلاصه یی دا ده چې دا تفاوت دقابلیت په اعتبار سره دی ، په فاعل کی څه کمی اونقص نسته) اومونږ دخلکو دَ (هدایت دَ) پاره په دی قرآن کی هرقسم (ضروری) عمده مضامین بیان کړی دی چې داخلک نصیحت واخلی چې کیفیت یی دا دی چې هغه عربی قرآن کریم دی ، یوه ذره په کې هم کوږوالی نسته (او دامضامین څکه راوړل سول) چې داخلک (دا ربښتنی اوصفا مضامین واوری) او وبیریږی (معلومه سوه چې په قرآن پاك کی دهدایت دکتاب کیدو چې دکومو صفتونو ضرورت وو، هغه ټول په دی کی جمع دی ، ددی مضامین هم ټول ربښتنی صفا او واضح دی او ژبه یی هم عربی ده چې دا موجوده مخاطبین یی بی دواسطی څخه ازده کولی سی، بیا د دوی په ذریعه دنورو پوهیدل هم آسانیدی سی ، غرض دهدایت په دی کتاب کی خو هیڅ کمی نسته چې په چاکی دقبلولو استعداد اوصلاحیت نه وی نو څه به وسی .

معلومات اومسئلي: اَفَمَنْ یَّتَّقِیْ بِوَجْهِهٖ : په دی کې دجهنم دسخت هولناك کیدوبیان دی چې دانسان عادت په دنیاکی دادی چې څه تکلیف شی مخ ته ورته راسی نوخپل لاسونه پښی دمخ محفوظ کولو دپاره سپر جوړ وی او دفع کوی یی مګرپه خدای پناه جهنمیانوته به داپه لاسونو پښو مدافعت هم نصیب نه وی ، په دوی چې کوم عذاب راسی هغه به سیده ددوی په مخونوراځی که دوی مدافعت کول هم وغواړی نو مخ به دال جوړوی څکه چې په جهنم کی به دی دلاسونو پښوترلی غورځول کیږی نعوذ باالله منه . دتفسیر په امامانو کی حضرت عطاء ابن زید فرمایی چې جهنمی به جهنم ته دلاسونو پښو ترلو غورځول کیږی (قرطبی)

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِیْهِ شُرَكَآءُ مُتَشٰكِسُوْنَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ ؕ

الله ﷻ بنوولی دی یو مثال یو سړی دی چې په هغه کی شریکان دی څومخالفان او یو سړی دی پوره دیر سړی

هَلْ یَسْتَوِیٰنِ مَثَلًا ؕ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۲۹﴾ اِنَّكَ مَیِّتٌ

آیا برابریږي د دواړو مثال ټول تعریفونه الله ﷻ لره دی ، بیا هم دیر خلق نه پوهیږي ، بیشکه ته به هم مړی او

وَّاِنَّهُمْ مَّیِّتُوْنَ ﴿۳۰﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُوْنَ ﴿۳۱﴾

هغوی به هم مړی ، بیا به تاسی دقیامت په ورځ دخپل رب په مخکې جګړه کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

لنه تفسیر: الله ﷻ (دموحد اومشرك په باره کی) یومثال بیان فرمایی چی یو سړی دی (غلام) په کوم کی چی څو شریکان دی دکومو چی په خپل مینځ کی ضد اوخلاف (هم) دی اویو سړی دی بل چی پوره دیوه سړی (غلام) دی (نو) آیا ددی دواړو حالت یوشان (دکیدو) دی (اوظاهره وی چی دچاخبره ومنی دچاونه منی، دوهم په آرام کی دی چی دیوه سړی سره یی تعلق دی ، نو اولنی مثال دمشرك دی چی همیشه اوتروی کله غیرالله طرف ته منډی وهی، کله دخدای طرف ته بیا په غیرالله کی یی هم په یواطمینان نه وی کله دیوه طرف ته رجوع کوی اوکله دبل طرف ته ، ددی سوال جواب هم مشرکان ددی څخه ماسوا نه سی ورکولی چی مشرك غلام په لوی مصیبت کی وی په دی وجه په دوی حجت تمام سو، په دی اتمام حجت یی وفرمایل الحمدالله، حق ثابت سو لیکن بیاهم داخلګ نه قبلوی، بلکه (قبلول خو څه کوی) په دوی کی اکثره خلګ پوهیږی هم نه (څکه چی دپوهیدو اراده نه کوی ، مخ ته دقیامت دفیصلی ذکر دی کومه چی به آخری فیصله وی چی څوك به ورڅخه تښتیدی نه سی او دقیامت دفیصلی څخه مخکی دمرګ خبر ورکوی څکه چی مرګ مقدمه او طریقه ده آخرت ته درسیدو، په دی وجه فرمایی ای پیغمبر ﷺ دا خلګ که په دنیاکی څه عقلی اونقلی فیصله نه منی نو ته غم مه کوه څکه چی ددنیا څخه) تالره هم مړه کیدل دی او دوی ته هم مړه کیدل دی بیابه دقیامت په ورځ تاسی (دواړی تولی خپلی خپلی) مقدمی دخپل رب په مخ کی پیش کړی (هغه وخت به عملی فیصله وسی ، چی دظهور بیان یی مخ ته راځی)

معلومات اومسئلي: إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُمْ مَيِّتُونَ . لفظ دَمیت په شَدْ دَیا سره هغه ته وایی چی مړ وی ، په دی آیت کی یی نبی کریم ﷺ مخاطب کړی دی اوفرمایلی یی دی چی ته هم مړکیدونکی یی اوستا دښمنان اودوستان هم تول مړکیدونکی دی ، مقصد ددی بیان کولو څخه تول فکرآخرت طرف ته متوجه کول اودآخرت په کارکی دلګیدو ترغیب ورکول دی اوضمناً دا هم ښوول دی چی دافضل الخلائق اوسید المرسلین کیدو باوجود دمرګ څخه نبی کریم ﷺ هم مستثنی نه دی ، چی د دوی دوفات څخه وروسته به په خلګوکی په دی اختلاف پیدا نه سی (ازقرطبی)

(دمحشر په عدالت کي دمظلوم حق دظالم څخه دوصولو صورت)

ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ : حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی دلته په لفظ دَائِکم کی مومن اوکافر اومسلمان ظالم اومظلوم تول دا خل دی ، دوی تول به خپل خپل مقدمات دخپل رب په عدالت کی پیش کړی اوالله ﷻ به دظالم څخه دمظلوم حق واخلی او وربه یی کړی هغه کافر وی اوکه مومن.

اوصورت ددی ادائیګی دحقوقو به هغه وی کوم چی په صحیح بخاری کی دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت راغلی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، چی دکوم سړی په ذمه دچا حق دی، هغه ته په کار دی چی په دنیاکی هغه ادا کی یایی ورڅخه معاف کړی چی حلال سی ، څکه چی په آخرت کی به روپی پیسی نه وی ، که دظالم سره څه نیك عملونه وی نو په مقدار دظلم به داعملونه دده څخه اخلی اومظلوم ته به ورکول کیږي اوکه دده سره نیکی نه وی نو دمظلوم بدی او ګناهونه به دهغه څخه اخستل کیږي په ظالم به غورځول کیږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

او په صحیح مسلم کی دحضرت ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ یوه ورځ داصحابو کرامو څخه پوښتنه وکړه چی تاسی په یاست چی مفلس څوك دی؟ اصحابو کرامو عرض وکی چی یارسول الله! ﷺ مونږ خو مفلس هغه ګڼو دچاسره چی نه نقد رقم وی اونه دضرورت سامان ، نبی کریم ﷺ وفرمایل چی اصلی اوحقیقی مفلس زما په امت کی هغه سړی دی کوم چی په قیامت کی ډیر نیك عملونه لمونځ، روژه، زکوٰة وغیره راوړی، مګر دده حال دا وی چی ده په دنیاکی چاته کنځل کړی وی ، په چایی تهمت لګولی وی ، دچامال یی وهلی ټکولی وی نو دا ټول مظلومان به دالله ﷻ په مخکی دخپلو ظلمونو مطالبه وکی او دده نیکی به په تقسیم سی ، بیا چی کله دا نیکی ختمی سی اود مظلومانو حقونه هم باقی وی نو دمظلومانو ګناهونه به په ده وغورځول سی او دی به جهنم ته واچول سی (نو دا سړی دهر څه سامان لرلو باوجود په قیامت کی مفلس دی)

او طبرانی په یو معتبر سند سره دحضرت ابو ایوب انصاری ﷺ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دټولو څخه مخکی کومه مقدمه چی دالله ﷻ په عدالت کی پیش سی ، هغه به دیو سړی او دهغه دښځی وی او په خدای قسم دی چی هلته به ژبه خبری نه کوی ، بلکه دښځی لاسونه پښی به شاهدی ادا کی چی دی په خپل خاوند کوم کوم عیبونه لګول ، او دغه ډول دسړی لاسونه پښی به په ده شاهدی ادا کی چی ده به په څه شان سره خپلی ښځی ته تکلیفونه اوآزارونه رسول ، دَدی څخه وروسته به دهر سړی په مخکی دده نوکر چاکر راوستلی سی د دوی دشکایتونو فیصله به وسی ، بیا به دعام بازار خلګ دکومو سره چی دده معاملی وی هغه به پیش سی که په دوی کی په چاباندی ظلم سوی وی نو دهغه حق به ظالم واخستل سی .

(ټول عملونه به دظلمونو اوحقونو په بدله کې ورکول کیږی مګر ایمان به نه سي ورکول کیدی)

په تفسیر مظهری کی ددی ټولو روایتونو دحدیث دنقل کولو څخه وروسته لیکلی دی چی دمظلومانو په حقونو کی دظالم دعملونو ورکولو کوم حکم راغلی دی ددی څخه مراد دایمان څخه علاوه نورعملونه دی ، ځکه چی څومره ظلمونه دی ، هغه ټول عملی ګناهونه دی ، کفر نه دی اودعملی ګناهونو سزا به محدوده وی په خلاف دایمان څخه چی هغه یو غیر محدود عمل دی ، ددی جزا هم غیر محدود یعنی همیشه په جنت کی پاته کیدل دی ، که څه هم هغه دګناهونو دسزا تیرولو اوخه زمانه په جهنم کی دپاته کیدو څخه وروسته وی ، ددی مطلب دا دی چی هرکله دظالم نیك عملونه دایمان څخه علاوه ټول مظلومانو ته ورکول سی ، ختم سی اوصرف ایمان پاته سی نو ایمان به دده نه سی سلب کولی ، بلکه دمظلومانو ګناهونه به په ده وغورځول سی او دحقونو ادائیګی به وسی چی ددی په نیتجه کی به دی دګناهونو دعذاب تیرولو څخه وروسته بیا بالاخرت جنت ته دا خل سی او بیابه دا حال دده دائمی وی ، صاحب دتفسیر مظهری فرمایی چی امام بیهقی هم داسی فرمایلی دی .

درویشتمه پاره ختمه سوه

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی کتاب ټول حقوق دمکتبه حنفئ سره محفوظ دي

تفسیر

معارف القرآن

پہ قندھاری پښتو کی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمۃ اللہ علیہ

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقّانی) اومولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې ..... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

پاره (۲۴)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای ..... لاهور

Maktaba Tul Ishaat.com

فہرست تفسیر معارف القرآن

مضمون	صفحہ
فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ ، الخ ۳۲ تر ۳۵	۴
معلومات اومسئلی	۵
اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ ، الخ ۳۶ تر ۴۱	۵
عبرت او نصیحت	۷
اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِي ، الخ ۴۲ تر ۴۵	۸
معلومات اومسئلی	۹
دمرګ او خوب په وخت کی دروح قبض کیدل او په دواړو کی دفرق تفصیل	۹
قُلِ اللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ، الخ ۴۶ تر ۵۲	۱۰
معلومات اومسئلی	۱۳
ددعا قبولیت	۱۳
داصحابو ﷺ په مینځ کی دجګړو متعلق یومهم هدایت	۱۳
قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ ، الخ ۵۳ تر ۶۱	۱۳
معلومات اومسئلی	۱۲
اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ، الخ ۶۲ تر ۶۷	۱۷
معلومات اومسئلی	۱۹
وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ ، الخ ۶۸ تر ۷۵	۱۹
معلومات اومسئلی	۲۲
﴿سورة المؤمن﴾	۲۴
حٰمٓ (۱) تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ، الخ ۱ تر ۹	۲۴
معلومات اومسئلی	۲۲
دسورۃ مؤمن خصوصیات اوفضائل وغیره	۲۲
دهری بلا څخه حفاظت	۲۷
ددښمن څخه حفاظت	۲۷
یوه عجیبه واقعه	۲۷
دخلګو په اصلاح کی ددی ایتونو تاثیر او دفاروق اعظم ﷺ یوعظیم هدایت داصلاح کوونکو دپاره	۲۸
اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ اللّٰهِ اَكْبَرُ ، الخ ۱۰ تر ۱۲	۳۰
هُوَ الَّذِيْ يُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ وَيُنَزِّلُ لَكُمْ ، الخ ۱۳ تر ۲۲	۳۱
وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ، الخ ۲۳ تر ۴۲	۳۵
دقبرعذاب	۴۷
وَاِذْ يَتَحَاۗجُّوْنَ فِي النَّارِ ، الخ ۴۷ تر ۵۰	۴۷
اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ، الخ ۵۱ تر ۲۰	۴۸
معلومات اومسئلی	۵۱

Maktaba Tul Ishaat.com

ددعا حقیقت او ددی فضیلتونه درجی او شرط د قبولیت	۵۲
ددعا فضیلتونه	۵۳
ددعا قبلیدو شرطونه	۵۴
اللهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِتَسْكُنُوا ، الخ ۲۱ تر ۲۸	۵۵
معلومات او مسئلی	۵۷
أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِ ، الخ ۲۹ تر ۷۸	۵۸
معلومات او مسئلی	۲۰
﴿ سورة حم السجدة ﴾	۶۴
حم (۱) تَنْزِيلٌ مِنَ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ، الخ ۱ تر ۸	۲۴
دنبی کریم ﷺ په مخکی دمکی دکفارو دطرف څخه یو پیش کش	۲۲
دمنکرانو دانکار او مسخرو پیغمبرانه جواب	۲۹
ایا کفار دعملونو په فروعو مکلف او مخاطب دی اوکه نه ؟	۲۹
قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِالَّذِي خَلَقَ الْأَرْضَ ، الخ ۹ تر ۱۲	۷۰
دآسمان او مځکی په پیدائش کی ترتیب او دورځو په تخلیق یعنی پیدا کولو کی تعیین	۷۲
فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنْذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِثْلَ ، الخ ۱۳ تر ۲۵	۷۲
دانسان داندامونو او جوارحو په محشر کی شاهدی	۸۲
وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَسْمَعُوا لِهَذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ ، الخ ۲۶ تر ۲۹	۸۲
دقرآن دتلاوت په وخت کی خاموش اوسیدل اوقرآن اوریدل واجب دی اوخاموش نه پاته کیدل	۸۳
دکفارو عادت دی	۸۳
إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ ، الخ ۳۰ تر ۳۶	۸۴
معلومات او مسئلی	۸۲
داستقامت معنی	۸۲
وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ لَا تَسْجُدُوا ، الخ ۳۷ تر ۳۹	۸۹
معلومات او مسئلی	۹۰
دالله ﷻ څخه ماسوا بل چاته سجده کول جائز نه دی	۹۰
إِنَّ الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي آيَاتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا ، الخ ۴۰ تر ۴۲	۹۰
دکفر یو خاص قسم الحاد دی دی تعریف او احکام	۹۳
دیوی غلطی لیری کول	۹۴
په دی زمانه کی دکفر او الحاد گرم بازاری	۹۵

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان

Maktaba Tul Ishaat.com

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ وَكَذَّبَ

نو دهغه څخه زیات ظالم څوك دی چا چی درواغ وویل په الله تعالی باندی او درواغ یی کړه

بِالصِّدْقِ اِذْ جَآءَهٗ ؕ اَلَيْسَ فِىْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۲﴾

رښتنی خبره هرکله چی ورته راغله ، آیا نه دی په دوزخ کی ځای دمنکرانو ،

وَالَّذِىْ جَآءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ

او چا چی راوړه رښتنی خبره او رښتیا یی وګڼله هغه خلق دی

الْمُتَّقُوْنَ ﴿۳۳﴾ لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا

پرهیزګاران دی ، دهغوی دپاره دی څه چی غواړی په نزد درب دهغوی دا ده جزاء

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۴﴾ لِيُكَفِّرَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَسْوَاَ الَّذِىْ عَمِلُوْا

دنیکی کوونکو ، چی لیری کړی الله دهغوی څخه بد والی دعملونو دهغوی چی کړی وو

وَيَجْزِيَهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ الَّذِىْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۳۵﴾

او په بدله کی ورکړی هغوی ته ثواب دهغو کارونو نیکو کوم چی دوی کوی

لنډتفسیر: ‹فَمَنْ اَظْلَمُ› نو ‹په دی مخاصمت اوعدالت کی ددعوو پیش کیدو په وخت کی به فیصله دا وسی چی باطل پرستو ته به دجهنم عذاب وی اوحق پرستو ته به اجرعظیم ورکول سی اوظاهره ده چی دهغه سړی څخه زیات بی انصافه ‹اوناحق پرسته› به څوك وی کوم چی په الله ﷻ دروغ جوړ وی ‹یعنی دخدای ﷻ متعلق دا ووایی چی دده سره نور هم شریك دی› اورښتینی خبره ‹یعنی قرآن› هرکله چی هغه ده ته ‹درسول په ذریعه› ورسیږی درواغجن کړی ‹نو ددا سی سړی لوی ظلم کیدل هم ظاهر دی او دظلم دلوی عذاب مستحق کیدل هم ظاهر دی اولوی عذاب دجهنم دی نو› آیا ‹دقیامت په ورځ› په جهنم کی به ددا سی کافرانو ځای نه وی؟ ‹دا فیصله خو دباطل پرستو سوه› او ‹د دوی برخلاف› کوم خلګ چی رښتنی خبره راوړی ‹دخدای طرف ته یا درسول طرف ته خلګوته› راسی او ‹په خپله هم› دا رښتینی ګڼی ‹یعنی دا خلګ صادقان هم وی اومصدق هم لکه چی مخکنی خلګ کاذبان هم وه اومکذب هم› نو دا خلګ پرهیزګار دی ‹د دوی فیصله به دا وی چی› داخلګ چی څه غواړی د دوی دپاره دپروردګار سره هرڅه سته ، دا بدله ده دنیکو کارانو ‹اودا بدله د دوی دپاره په دی واسطه منتخب سوه› چی الله ﷻ د دوی څخه بدعملونه لیری کی او دنیکو کارونو په عوض کی دوی ته د دوی ثواب ورکی.

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلي: په ، كَذَّبَ بِالصِّدْقِ او ، الَّذِي جَاءَ بِالصِّدْقِ : کی دصدق څخه مراد هغه تعلیمات دی کوم چی نبی کریم ﷺ راوړی دی برابره خبره ده که قرآن وی یادقرآن څخه علاوه نور تعلیمات داحادیثو ، او په صَدَّقَ بِهٖ کی ټول مومنان دا خل دی کوم چی ددی تصدیق کوونکی دی .

أَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ ۭ وَيُخَوِّفُوْنَكَ بِالَّذِيْنَ مِنْ

آیا الله ﷻ کافی نه دی خپل بنده لره اوتا بیروی دهغو څخه کوم چی دهغه

دُوْنِهٖ ۭ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ۝ وَمَنْ يَّهْدِ

څخه ما سوا دی ، او څوك چی الله ﷻ بی لاری کړی نو هیڅوك هغه ته په لاره کوونکی نشته اوچاته

اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّضِلٍّ ۭ أَلَيْسَ اللّٰهُ بِعَزِيْزٍ ذِي انْتِقَامٍ ۝

چی الله ﷻ هدایت وکی هغه څوك گمراه کولی نه سی ، آیانه دی الله ﷻ زبردست بدله اخستونکی ؟

وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ

او که ته د دوی څخه پوښتنه وکړی چی چا پیدا کړه اسمانونه او مځکه نو وبه وایی

اللّٰهُ ۭ قُلْ أَفَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ إِنْ أَرَادَنِيَ

الله ﷻ ، ته ووایه چی آیا وینی تاسی کوم چی تاسی بولی ما سوا دالله ﷻ څخه که اراده وکړی

اللّٰهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كٰشِفٰتُ ضُرِّهٖٓ أَوْ أَرَادَنِيْ بِرَحْمَةٍ هَلْ

الله تاسی ته دتکلیف رسولو نو هغه داسی دی چی لیری کړی دهغه دغه تکلیف یاکه هغه اراده وکړی

هُنَّ مُمْسِكٰتُ رَحْمَتِهٖ ۭ قُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ ۭ عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ

په مادمهربانی نو آیاهغه داسی دی چی لیری کړی دهغه دغه رحمت،ته ووایه کافی دی ماته الله،په هغه بروسه

الْمُتَوَكِّلُوْنَ ۝ قُلْ يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ إِنِّيْ عَامِلٌ ۚ

ساتی بروسه کوونکی ، ته ووایه ای قومه ،کارکوی په خپل خای باندی زه هم کار کوم

Maktaba Tul Ishaat.com

فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿٣٩﴾ مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ

ژړه چې پوه به سې ، چې په چا راځي عذاب چې رسوا کوي يې ، او را لويږي په ده

عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿٤٠﴾ اِنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ ۚ

عذاب همیشه پاته کیدونکی ، مونږ نازل کړی دی تاته کتاب دپاره دخلقو دحق دین سره

فَمَنِ اهْتَدٰى فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ

نوچاچې هدایت پیدا کې نودخپلې فائدې دپاره اوځوک چې ګمراه سول نو وبال دګمراهۍ په هغه باندې دی

وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴿٤١﴾

او ته د دوی ذمه وار نه یې .

لنډتفسیر : ایا الله ﷻ دخپل بنده (خاص محمد ﷺ دحفاظت) دپاره کافی نه دی؟ (یعنی هغه خو دټولو دحفاظت دپاره کافی دی نو دخپل خاص محبوب بنده دپاره به ولی کافی نه وی) او دا خلک (داسې احمقان دی چې دخدای دحفاظت څخه ځان ناخبره کوی) تاسی دهغو (باطلو معبودانو) څخه بیروی کوم چې دخدای څخه ماسوا (دوی خوښ کړی) دی (حال دا دی چې هغوی په خپله بی روحه عاجزان دی اوکه قادر هم وی خو دخدای دحفاظت په مقابله کې به عاجزه وی) او اصل خبره دا ده چې) څوک خدای ګمراه کړی هغه ته څوک هدایت کوونکی نسته اوچاته چې هغه هدایت وکی دهغه څوک ګمراه کوونکی نسته (مخ ته دخدای دکامل قدرت ذکر کوی اوددوی حماقت ښکاره کړل سوی دی چې) ایا خدای ﷻ (د دوی په نزد) زبردست (او) په بدله اخستلو (باندی قدرت لرلو) والا نه دی (یعنی دالله ﷻ دناصریت صفت هم کامل او دبنده دمنصوریت صلاحیت هم کامل او د درواغو دمعبودانو دقدرت اونصرت څخه عاجزوالی هم ظاهر، بیا تا په دی خبرو سره بیرول حماقت نه دی نوځه دی) اوعجیبه خبره دا ده چې دالله ﷻ دکامل قدرت او نصرت مقدمات دوی هم تسلیموی چنانچې) که ته د دوی څخه پوښتنه وکړی چې آسمانونه او مځکی چا پیدا کړی دی نو دوی به ووایی چې الله ﷻ (په دی وجه) ته (دوی ته) ووایه چې ښه (نوکله چې تاسی الله ﷻ پیداکوونکی یوازی منی نو) دا وښیاست چې دخدای څخه ماسوا کوم معبودان به دهغه ورکول سوی تکلیف لیرې کړی سی؟ یاکه الله ﷻ په ما خپله مهربانی کول وغواړی نو ایا دامعبودان به دهغه عنایت منع کړی سی؟ (مخ ته ارشاد دی چې کله ددی تقریر څخه دالله ﷻ کمال قدرت ثابت سو نو) ته ووایه چې (ددی څخه ثابته سوه چې) زما دپاره خدای کافی دی دتوکل پرهغه توکل کوی (په دی وجه زه هم په هغه توکل اوبروسه ساتم اوستاسی دعناد اوخلاف هیڅ پرواه نه کوم اوچونکی دغوخلګو دا تولی خبری اوریدی ، بیاهم په خپل باطل خیال باندی کلك وه، په دی وجه تاته داخری جواب تعلیم دی چې) ته (دوی ته) ووایه چې (که

Maktaba Tul Ishaat.com

پردی سربیره هم که تاسی نه منی نوتاسی پوه سی) تاسی په خپل حالت عمل کوی زه هم (په خپل طرز) عمل کوم (یعنی کله چی تاسی خپله باطله طریقه نه پریږدی نوزه حق څنګه پریږدم) نو اوس به ډیر ژر تاسی ته معلومه سی چی هغه کوم سړی دی په کوم چی (په دنیاکی) داسی عذاب راځی چی دی به رسوا کړی او (دَمرګ څخه وروسته) به پرده دائمی عذاب نازل سی (چنانچی په دنیاکی په غزوه بدرکی دمسلمانانو په لاس دوی ته سزا ورکول سوه ددی څخه وروسته داخرت دائمی عذاب دی، تردی ځایه خو نبی کریم ﷺ ته دمخالفینو دخوف څخه تسلی ورکول سوه، مخ ته دوی ته چی په کفارو اودخدای په عام مخلوق باندی کوم شفقت وو اوپه دی بنا به د دوی په کفر اوانکار باندی غمجن کیدل ، په دی تسلی ورکول سوه چی) مونږ داکتاب په تا دخلګو د (نفعی دَ) پاره نازل کی کوم څی حق دی نو (ستا کار ددی رَسُول دی بیا) کوم سړی چی په سیده لاره راسی نودخپلی نفعی دپاره اوکوم سړی چی بی لاری سی نو دهغه دبی لاری کیدو وبال به په هغه وی اوته په دوی (داسی) نه یی مسلط سوی (چی د دوی دبی لاری کیدو به ستا څخه پوښتنه کیدی سی ، نو ته د دوی په ګمراهی باندی ولی غمجن کیږی)

معلومات اومسائل: اَلَیْسَ اللّٰهُ بِکَافٍ عَبْدَهٗ : ددی آیت شان نزول یوه واقعه ده چی کفارو رسول الله ﷺ او اصحاب ﷺ ددی څخه بیرول چی که تا زمونږ دبتانوبی ادبی وکړه نو ددی بتانو اثر ډیر سخت دی دهغه څخه به ته محفوظ نه سی ، ددی په جواب کی وویل سول چی ایا الله ﷻ دخپل بنده دپاره کافی نه دی ؟ په دی وجه څینو مفسرینو دلته دبنده څخه مخصوص بنده یعنی نبی کریم ﷺ مراد اخستی دی چی په لنډ تفسیر کی دا را واخستل سوه او نورو مفسرینو دبنده څخه مراد عام اخستی دی او دایت دوهم قرآئت کوم چی (عبادہ) راغلی دی ، هغه ددی مؤید دی او مضمون په هرحال عام دی چی الله ﷻ دخپل هربنده دپاره کافی دی .

(عبرت اونصیحت)

وَیُخَوِّفُوْنَكَ بِالَّذِیْنَ مِنْ دُوْنِهٖ : یعنی کفار تا بیروی، دخپلو دروغو معبودانو دغضب څخه ددی آیت ویونکی عموماً دا خیال کوی تیریږی ، چی دا دیوی خاصی واقعی ذکر دی چی تعلق یی دکفارو داخطارو اودنبی کریم ﷺ دَپاك ذات سره دی ، دی طرف ته خیال نه کوی چی په دی کی زمونږ دپاره څه هدایت دی ، حال دا دی چی خبره بالکل واضحه ده چی کوم سړی هم یومسلمان په دی وجه بیروی چی که تافلانی حرام کار یاګناه ونه کړه ، نوستا حاکمان یا افسریان یا دکومو چی ته محتاج ګنل کیږی ستاځخه به خفه سی او تاته به تکلیف ورسوی ، دا هم په دی کی دا خل ده که څه هم هغه بیرونکی مسلمان وی اوخوك چی وبیروی هغه هم مسلمان وی اودا داسی عام ازمائش دی چی ددنیا په اکثرو ملازمتونوکی خلګوته پیښیږی چی دالله ﷻ داحکامو خلاف ورزی ته تیار سی یادخپلو افسرانو عتاب اوسزا وځکی، دی آیت دی تولو ته داهدایت وکی چی ایا الله ﷻ ستاسی دحفاظت دپاره کافی نه دی؟ تاسی خالص دالله ﷻ دپاره دګناهونو څخه دځان ساتلو قصد وکی اودالله ﷻ دحکمونو خلاف مو دچا حکم اوافسر پرواه ونه کړه ، نو دالله ﷻ امداد به ستاسی سره وی ، تر زیات لا زیات داملازمت به هم درځخه ولاړ سی خو الله ﷻ به ستاسی درزق بل انتظام وکی او دمومن کار خو دا دی چی دداسی ملازمت دپریښولو په خپله

Maktaba Tul Ishaat.com

کوشش کوی چی څه بل مناسب ځای ورته پیدا سی نو دا فوراً پریږدی.

اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِيْ لَمْ تَمُتْ فِيْ مَنَامِهَا ۚ فَيُمْسِكُ

الله ﷻ مړه کوی روحونه هر کله چی وخت سی د دوی دمرګ او هغه چی نه وی مړه په وخت دخوب هغه

الَّتِيْ قَضٰى عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْاُخْرٰٓى اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۭ اِنَّ

کی نو حصاروی هغه چی حکم یی پر کړی دی دمرګ، اوراليږی هغه بل، تر نیټی مقرری پوری، په دی

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿٤٢﴾ اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ

کی نښانی دی دهغه خلقو دپاره چی فکر کوی ، آیا دوی نیولی دی دالله څخه ماسوا نور

اللّٰهِ شُفَعَاۗءَ ۭ قُلْ اَوَلَوْ كَانُوْا لَا يَمْلِكُوْنَ شَيْـــًٔا وَّلَا يَعْقِلُوْنَ ﴿٤٣﴾

سفارشیان ، ته ووایه چی که څه هم دوی ته اختیار نه وی دځه شی اونه عقل لری ؟

قُلْ لِّلّٰهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيْعًا ۭ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ

ته ووایه دالله په اختیار کی دی سفارش ، دهغه حکومت دی په اسمانونو او مځکه کی

ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٤٤﴾ وَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَحْدَهُ اشْمَاَزَّتْ قُلُوْبُ

بیا به دهغه طرف ته بیرته ځی ، او هرکله چی یاد کړل سی خالص الله نو خفه سی زړونه

الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ ۚ وَاِذَا ذُكِرَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ

دهغو کسانو چی ایمان نه راوړی په آخرت ، او کله چی نوم واخستل سی دهغو چی ماسوا دهغه

اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿٤٥﴾

څخه دی ، نو دوی خوشحالی کوونکی سی.

لنډتفسیر : الله ﷻ قبض (یعنی معطل) کوی هغه روحونه (دکومو چی وخت دمرګ راغلی وی) د دوی دمرګ په وخت (په مکمل طور باندی چی ژوند یی بالکل ختم سی) اوهغه روحونه هم دکومو چی مرګ نه وی راغلی دهغوی دخوب پر وخت (دا تعطل بالکلیه نه وی یوحیثیت یی دژوند باقی پاته وی ، مګر ادراک په کی نه وی او دمرګ په صورت کی نه ادراک پاته کیږی نه حیات) بیا (ددی معطل کولو څخه وروسته) هغه روحونه خو (دبدن طرف ته دواپس کیدو څخه) منع کوی (دکومو چی دمرګ حکم سوی دی اوباقی روحونه (کوم چی دخوب په وجه معطل سوی وه اولایی دمرګ وخت نه دی راغلی) نږدی معین

Maktaba Tul Ishaat.com

میعاد (یعنی مودی) پوری ازادوی (چی بیا بیرته ولاړسی په بدن کی په تیره طریقه سره تصرفات شروع کړی) په دی (تولو تصرفاتو دالله پاك) کی دهغو خلګو دپاره کوم چی فکر کوونکی دی (دخدای ﷻ په کامل قدرت او بی دشرکت دغیر څخه دټول عالم په انتظاماتو کولو) دلیلونه دی (چی دالله ﷻ په توحید سره وربانده استدلال کول کیږی) هاء ایا (سره دواضحو دلیلونو دتوحید څخه) دی خلګو دخدای څخه ماسوا نور (معبودان) نیولی دی کم چی به (دَدوی) سفارش کوی (لکه چی مشرکانو به دخپلو بتانو متعلق ویل: هٰؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنْدَ اللهِ) ته ووایه چی که څه هم که دا (ستاسی جوړ سوی شُفَعَاء) هیڅ قدرت هم نه لری؟ او هیڅ علم هم نه لری (ایا بیابه هم تاسی داګنی چی دابه ستاسی سفارش کوی ، ایا دومره هم نه پوهیږی چی دشفاعت دپاره علم او ددی مناسب قدرت خو ضروری دی ، کوم چی په دوی کی نسته ، دلته ځینو مشرکانو به دا هم ویلی سول چی دا دډبرو څخه تراشل سوی بتان زمونږ مقصود نه دی ، بلکه دا مجسّمی او شکلونه دملائکو یا پیریانو دی نو په هغو کی روح هم دی قدرت او علم هم لری ، په دی وجه ددی په جواب کی دا تعلیم ورکړل سو چی) ته (دا هم) ووایه چی سفارش خو ټول دخدای په اختیارکی دی (بغیر دهغه داجازت څخه دیوی ملائکی یا بشر طاقت نسته چی سفارش دچا وکړل سی او دشفاعت داجازت دالله ﷻ دپاره دوه شرطونه دی، یو دشفاعت کوونکی دالله ﷻ په نزد مقبول کیدل ، دوهم دچا چی شفاعت کول کیږی دهغه دمغفرت قابل کیدل، اوس پوه سئ چی مشرکانو چی بتان دچا شکلونه ګڼلی او اختیار کړي دی که هغه جنّات او شیطانان وی نو دواړه شرطونه مفقود دی، نه دغه شفاعت کوونکی دالله ﷻ په نزد مقبول دی او نه دغه مشرکان قابل دمغفرت دی، اوکه دغه شکلونه یی دملایکو یاانبیآء ﷺ شکلونه مقرر کړی وی ، نو دشفاعت کوونکو دمقبول کیدو شرط خوموجود سو، مګر دوهم شرط مفقود دی چی په دی مشرکانو کی صلاحیّت دمغفرت نسته مخ ته فرمایی چی دخدای ﷻ دا شان دی چی) دټولو آسمانونو او مځکی حکومت دهغه دی بیا به تاسی دهغه طرف ته بیرته ورځئ (په دی وجه ټول پریږدی ، دهغه څخه وبیریږی او دهغه عبادت کوی) او (دتوحید دواضحو دلیلونو دقآئمیدو باوجود دکفارو او مشرکانو حال دادی چی) کله دالله ﷻ ذکر وکړل سی (چی هغه بی له شرکت دغیر څخه دټول عالم دتور او سپین مالك مختار او متصرف دی) نو ددغو خلګو زړه تنګ سی کم چی په آخرت یقین نلری اوکله چی دهغه څخه ماسوا دنورو ذکر کیږی (برابره خبره ده که یوازی دهغه ذکر وی یا دالله ﷻ سره ددغو هم ذکر وی) نو دغه وخت هغه خلګ خوشحاله کیږی.

معلومات اومسئلي

(دمړک او خوب په وخت کي دروح قبض کیدل او په دواړو کي دفرق تفصیل)

اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِيْ لَمْ تَمُتْ فِيْ مَنَامِهَا الخ: لفظی معنی اخستل اوقبض کول دی ، په دی آیت کی الله ﷻ دانبوولی ده چی دَجاندارو روحونه په هرحال اوپه هر وخت دالله ﷻ په تصرف کی دی هغه چی کله غواړی قبض کولی سی اوبیرته یی اخستی سی او ددی خدایی تصرف یوه مظاهره خو هرجاندار روزانه وینی اومحسوس کوی ، چی دخوب په وخت کی دده روح په یوحیثیت سره قبض کیږی، بیاچی راکښینی بیرته ورکول سی اواخریوخت داسی هم راځی چی بالکل قبض سی بیا بیرته نه ورکول کیږی.

Maktaba Tul Ishaat.com

په تفسیر مظهری کی دی چی دروح قبض کیدو معنی دده دانسان دبدن سره تعلق قطع کیدل دی ، هرکله داظاهراً اوباطناً بالکل منقطع سی ، ددی نوم مرګ دی اوکله صرف ظاهراً منقطع سی باطناً باقی وی، ددی اثر دا دی چی صرف حس اوحرکت ارادی کوم چی ظاهری علامه دژونده ده ، هغه قطع سی اوباطناً دروح تعلق دجسم سره باقی وی چی په دی سره هغه ساه اخلی اوژوندی وی اوصورت دهغه داوی چی دانسان روح دعَالم مثال دمطالعی طرف ته متوجه سی ددی عالم څخه غافله اومعطله سی چی انسان مکمل ارام پیدا کی او کله داباطنی تعلق هم ختم سی چی ددی په وجه دجسم حیات بالکل ختم سی. په ذکرسوی آیت کی لفظ دَ تَوَفّی په معنی دقبض په طور دعموم مجاز په دواړو معانیو باندی حاوی دی په مرګ اوخوب دواړو کی دروح قبض کولو دافرق کم چی لوړ بیان سوی دی ، دحضرت علی ﷺ دیوقول څخه هم ددی تائید کیږی ، هغه فرمایی چی دخوب په وخت کی دانسان روح دده دبدن څخه وزی، مګر یوه پلوشه دروح په بدن کی وی چی په هغه سره دی ژوندی وی اوددی پلوشی په رابطه هغه خوب وینی، بیا داخوب که روح دعالم مثال طرف ته دمتوجه کیدو په حالت کی وینی نوپه هغه کی شیطانی تصرفات وی اوهغه ربښتی خوب نه وی اوفرمایی چی دخوب په حالت کی چی کوم انسانی روح دده دبدن څخه وزی نو دراویښیدو په وخت کی دسترګو تر رپ هم ژر راځی.

قُلِ اللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

ته ووایه ای الله پیدا کوونکیه داسمانونو او دمځکی

عٰلِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ اَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيْ مَا

پوهیدونکیه په پټو او په ښکاره ته فیصله کوی په بندګانو خپلو کی په هغه څه کی چی دوی

كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَلَوْ اَنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَا فِي الْاَرْضِ

په کی اختلاف کوی ، او که دګناهګارانو سره سی هغه چی په مځکه کی دی ،

جَمِيْعًا وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ لَافْتَدَوْا بِهٖ مِنْ سُوْٓءِ الْعَذَابِ يَوْمَ

ټول او ددې په مثل نور ددې سره او ټول دځان خلاصولو دپاره فدیه کړی دعذاب څخه

الْقِيٰمَةِ ؕ وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا يَحْتَسِبُوْنَ ﴿٤٧﴾

دقیامت په ورځ ، او ښکاره سول دوی ته دالله ﷻ څخه هغه چی دوی یی خیال هم نه کوی

وَبَدَا لَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ

او ښکاره سول دوی ته بد کارونه خپل چی کول یی او ګیر کړل دوی هغه شی چی دوی ورپوری

Maktaba Tul Ishaat.com

يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۴۸﴾ فَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَانَا ثُمَّ اِذَا خَوَّلْنٰهُ

مسخری کولی ، هرکله چی رسیږي انسان ته تکلیف بولی مونږ ، بیا چی کله ورکی مونږ ده ته

نِعْمَةً مِّنَّا ۙ قَالَ اِنَّمَآ اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى عِلْمٍ ۭ بَلْ هِىَ فِتْنَةٌ

دخپل طرف څخه نعمت ، وایی چی دا خو راکول سوه ماته چی دمخکې څخه معلوم وو ، نه ده بلکه دا

وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۹﴾ قَدْ قَالَهَا الَّذِيْنَ مِنْ

ازمایش دی ، اولیکن اکثر دهغوی څخه نه پوهیږي ، ویل سوی ده دا خبره دوی ته

قَبْلِهِمْ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۵۰﴾ فَاَصَابَهُمْ

دمخکې څخه ، بیا په کار ورنغی دوی ته هغه چی دوی کول نو ولویدی پردوی

سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا ۭ وَالَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْ هٰٓؤُلَاۗءِ سَيُصِيْبُهُمْ

باندی وبال دهغه چی دوی کول ، اوځوک چی ګناهګار دی په دوی کی په دوی به هم لویږي وبال دهغه چی

سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا ۚ وَمَا هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۵۱﴾ اَوَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ

هغوی کړی دی ، او هغوی نه دی عاجزه کوونکی ، او ولی نه پوهیږي ، چی بیشکه

اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَاۗءُ وَيَقْدِرُ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

الله فراخه کوی رزق دهغه چا دپاره چی وغواړی اوتنګوی ، بیشکه په دی کی نښانی دی ،

لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۵۲﴾

دهغو خلقو دپاره چی یقین کوی.

لنډتفسیر : ته (د دوی په سخت عناد غمجن کیږه مه او دالله ﷻ څخه په دعاکی دا) غواړه چی ای الله ! د آسمانونو اومځکی پیدا کوونکی په پټ اوښکاره پوهیدونکی (دقیامت په ورځ) به دخپلو بندګانو په مینځ کی فیصله وکی په هغه کی چی دوی په کی اختلاف کوی (یعنی ته ددی عناد ګرو فکر مه کوه ، بلکه د دوی معامله الله ﷻ ته وسپاره هغه به په خپله عملی فیصله وکی) او (ددی فیصلی په وخت کی به دا حالت وی چی) که دظلم (یعنی کفر اوشرک) کوونکو سره دټولی دنیا شیان وی اوددی شیانو سره دومره نورهم وی او دغه خلک دقیامت دورځی دسخت عذاب څخه دخلاصیدو دپاره (بی دریغه) دغه شیان ورکوی (که څه هم مقبول نه وی لکه چی په سورة مائده کی دی، مَاتُقُبِّلَ مِنْهُمْ،) او دخدای دطرف څخه به دوی ته هغه معامله ورپیښه سی دکوم چی د دوی ګمان هم نه وو (ځکه چی اول خو دآخرت څخه

منکر وو بیاپه دی کی هم ددی مدعی وو چی هلته به هم دوی ته عزت اودولت ورکول سی) او (دغه رخ
به) دوی ته ټول خپل بدعملونه ښکاره سی اودکوم (عذاب) سره چی دوی مسخری کولی هغه به دوی گیر
کی (هسی خو مشرکان دالله ﷻ په ذکر سره نفرت کوی او دغیر الله په ذکرسره خوشحالیږی) بیاځه رخ
چی (دی مشرك) سړی ته څه تکلیف رسیږی نو (دکومو په ذکر سره چی به خوشحالیدل هغه ټول پریږدی
صرف) مونږ بولی (دکوم څخه چی یی مخکی نفرت وو) بیا چی کله مونږ ده ته دخپل طرف څخه نعمت
ورکړو نو (په دغه توحید دکوم حقوالی چی په خپله د دوی داقرار څخه ثابت سوی وو قائم نه پاته کیږی
چنانچی ددغه نعمت دالله تعالی طرف ته نسبت نه کوی، بلکه داسی) وایاست چی داخومانه (زما) به
تدبیر سره راکول سوی دی (اوچونکی نسبت یی دحق تعالی طرف ته نه کوی بلکه دخپل تدبیر نتیجه یی
ګڼی ، په دی وجه پرتوحید قائم نه پاته کیږی، بلکه خپلی پخوانی دشرك دطریقی طرف ته بیرته (غیر
الله په عبادت کی اخته سی ، مخ ته الله ﷻ د دوی قول: اِنَّمَآ اُوْتِيْتُهٗ، ردوی چی نعمت د دوی دتدبیر
نتیجه نه ده) بلکه دغه (نعمت دخدای ورکول سوی او دهغه دطرف څخه دانسان یو ازمائش دی (چی
وګوری چی ددی په ورکولو مونږ هیروی اوکفر کوی اوکه یادیی ساتی اوشکر ادا کوی او ددی ازمائش
دپاره یی په ځینو نعمتونو کی داسباب اوکسب واسطه هم اینبی ده چی په دی سره زیات ازمائش وسی
چی وګوری چی په دی ظاهری سبب نظر کوی یا په علت حقیقیه باندی) لیکن اکثره خلګ (په دی خبره
نه پوهیږی (په دی وجه دی ته دخپل تدبیر نتیجه وایی اوپه شرك کی اخته کیږی ، مخ ته تفریع ده چی دا
خبره (ځینو) هغو خلګو هم ویلی وه کوم چی د دوی څخه مخ ته تیر سوی دی (لکه قارون چی ویلی وه،
اِنَّمَآ اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى عِلْمٍ عِنْدِيْ : یالکه کوم خلګ چی دصانع څخه منکر تیر سوی دی ، لکه نمرود، فرعون،
ظاهره ده چی دغو هم دیو نعمت نسبت دخدای طرف ته نه کوی ، بلکه په غیرمکتسب اوغیر اختیاری
کی به یی دبخت اواتفاق طرف ته اوپه مکتسب اواختیاری کی به یی دهنر اوتدبیر طرف ته نسبت کوی)
نو د دوی کار وایی د دوی هیڅ په کار ورنه غله (او دعذاب څخه مانع نه سوه) بیا (دنه مانع کیدو څخه
وروسته دافع دعذاب هم نه سوه بلکه) د دوی ټول بدعملونه په دوی راغلل (اوسزا یی پیدا کړل) او (دوی
زمانی خلګ دا خیال نه کوی چی څه کیدل دمخکنیو سره هغه وسول، بلکه) په هغوی کی چی هم کوم
ظالمان دی په هغوی به هم د دوی دبدو عملونو وبال راځی او دوی (خدای) نه سی عاجزه کولی (چنانچی
په بدر کی یی ښه سزا پیدا کړه ، مخ ته ددی دلیل بیان فرمایی چی ځینی احمقان کوم چی نعمت اورزق
دخپل تدبیر طرف ته منسوب کوی نو) ایا دی خلګو ته (په حالاتو کی په فکر کولو سره) دا معلومه نه
سوه چی الله ﷻ چا ته چی وغواړی زیات رزق ورکوی اوهغه یی (دچادپاره چی وغواړی) تنګوی هم په
دی (فراخولو اوتنګولو) کی (په فکر کولو سره) دایماندارو دپاره (چی دپوهی خاوندان وی په دی خبرو
نښانی دی (یعنی دلیلونه قائم دی چی فراخه کوونکی اوتنګوونکی هغه دی ، ښه تدبیر اوبد تدبیر په
دی کی علت حقیقیه نه دی ، نو څوك چی په دی دلیلونو پوه سی هغه دخپل تدبیر طرف ته نسبت نه کوی
بلکه دخدای دمنعم کیدو څخه نه بی پرواه کیږی کوم چی سبب سوی وو دابتلاء په شرك سره بلکه هغه
موحد وی اوپه مصیبت اوراحت کی دهغه حال اوقال متناقص اومتعارض نه وی)

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلي: قُلِ اللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ : په صحیح مسلم کی دعبدالرحمٰن بن عوف ﷺ څخه روایت دی ، هغه وایی چی مادحضرت عائشی ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی نبی کریم ﷺ به دشپی لمونځ (تهجد) څه شی څخه شروع کوی نوهغه وفرمایل چی دوی به کله دتهجد لمانځه ته پورته کیدل نودا دعابه یی فرمایله .

اَللّٰهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيلَ وَمِيكَائِيلَ وَإِسْرَافِيلَ ، فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِكَ إِنَّكَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ .

(ددعا قبولیت)

حضرت سعیدبن جبیر ﷺ فرمایی چی ماته دقرآن کریم یوداسی آیت معلوم دی چی هغه ووایی اوبنده چی کومه دعاوکی هغه قبلیږی، بیایی دا ایت تلاوت وفرمایی ، اللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الآیة (قرطبی)

وَبَدَا لَهُمْ مِنَ اللّٰهِ مَا لَمْ يَكُونُوا يَحْتَسِبُونَ : حضرت سفیان ثوری ﷺ دا ایت ووایه او وي فرمایل چی هلاکت دی ریاکارانو ته ، هلاکت دی ریاکارانو ته ، دا ایت دهغو خلګو په حقله دی چاچی به په دنیاکی نیک کارونه خلګو ته دځان ښوولو دپاره کول اوخلګو به هم دوی نیک ګڼل هغوی په خپله هم په دی دوکه کی وه چی دا عملونه به د دوی دپاره داخرت نجات ذریعه جوړه سی ، مګر چونکه په هغه کی اخلاص نه وو په دی وجه دالله ﷻ په نزد دداسی نیکو عملونو هیڅ اجر اوثواب نسته ، په دی وجه هلته به ناڅاپه د دوی ګمان خلاف عذاب او عتاب شروع سی (قرطبی)

(داصحابو ﷺ په مینځ کي دجګړو متعلق یومهم هدایت)

دحضرت ربیع ابن خیثم رحمه الله څخه چا دحضرت حسین ﷺ دشهادت په حقله پوښتنه وکړه ، نوهغوی یو اسویلی (اوه) وکی او ددی آیت تلاوت یی وفرمایی ، قُلِ اللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ الآية : اووي فرمایل چی دصحابه کرامو ﷺ په مینځ کی دَاختلافاتو متعلق هرکله چی ستاسی په زړه کی څه خدشه پیداسی نودا ایت وایاست ، په روح المعانی کی ددی دنقل کولو څخه وروسته فرمایی چی دا عظیم الشان تعلیم دادب دی چی دا همیشه یاد ساتل په کار دی .

قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ

ووایه ای زما بندګانو ! کومو چی زیاتوب کړی دی په خپلو ځانونو باندی

لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ؕ

مه نا امیده کیږی دالله درحمت څخه ، بیشکه الله بخښی ټول ګناهونه

اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۵۴﴾ وَاَنِيْبُوْٓا اِلٰى رَبِّكُمْ وَاَسْلِمُوْا لَهٗ

بیشکه هغه دی ګناه معاف کوونکی مهربانه ك ، اورجوع وکړی خپل رب طرف ته او دهغه حکم ومنی

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَاتَّبِعُوْٓا

مخکې ددی څخه چې راسی په تاسی عذاب بیا به څوک ستاسی مدد ونه کړی ، اوتابعداری

اَحْسَنَ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ

کوی دغوره خبری کومه چې تاسی ته نازله سوی ده ستاسی درب دطرف څخه ، دهغه څخه مخکې چې راسی

الْعَذَابُ بَغْتَةً وَّاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ﴿۵۵﴾ اَنْ تَقُوْلَ نَفْسٌ

په تاسی عذاب ناڅاپه او تاسی خبر نه یاست ، چې چیری ونه وایی یو نفس

يّٰحَسْرَتٰى عَلٰى مَا فَرَّطْتُّ فِيْ جَنْۢبِ اللّٰهِ وَاِنْ كُنْتُ لَمِنَ

افسوس دی په دی خبره چې ما کوتاهی وکړه دالله ﷻ دطرف څخه ، او ومه زه دمسخرو کوونکو څخه

السّٰخِرِيْنَ ﴿۵۶﴾ اَوْ تَقُوْلَ لَوْ اَنَّ اللّٰهَ هَدٰىنِيْ لَكُنْتُ مِنَ

، یا ووایی چې که چیری الله ما ته هدایت کړی وای نو زه به وم

الْمُتَّقِيْنَ ﴿۵۷﴾ اَوْ تَقُوْلَ حِيْنَ تَرَى الْعَذَابَ لَوْ اَنَّ لِيْ كَرَّةً

دبیرېدونکو څخه ، یا ووایی کله چې وینی عذاب چې که چیری ماته بیرته تلل

فَاَكُوْنَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۸﴾ بَلٰى قَدْ جَآءَتْكَ اٰيٰتِيْ فَكَذَّبْتَ

راکول سی نو سم به زه دنیکی کوونکی څخه ، ولی نه ، رسیدلی وو تا ته زما حکم بیا تا هغه دروغ

بِهَا وَاسْتَكْبَرْتَ وَكُنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۹﴾ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ تَرَى

کې او تکبر دی وکړی او وی ته دانکار کوونکو څخه ، او دقیامت په ورځ به ته وینی

الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ وُجُوْهُهُمْ مُّسْوَدَّةٌ ؕ اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ

هغه چې دروغ وایی په الله ﷻ چې مخونه به د دوی وی تور ، آیا نه دی په دوزخ کې

مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۶۰﴾ وَيُنَجِّي اللّٰهُ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا بِمَفَازَتِهِمْ

ځای دتکبر کوونکو ، او محفوظ به کړی الله ﷻ هغه چې ببرېږي د دوی دخلاصی ځای

Maktaba Tul Ishaat.com

لَا يَمَسُّهُمُ السُّوْٓءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٦١﴾

ته وبه نه رسيږي دوی ته بدی او نه به دوی غمجن وی

لنډتفسير: ته (ددی پوښتنی کوونکو په جواب کی زما دطرف څخه) ووایه چی ای زما بندګانو! کومو چی (کفر اوشرک کړی دی) په ځان یی زیاتوب کړي دی چی تاسی دخدای درحمت څخه مه نا امیده کیږی (او دا خیال مه کوی چی دایمان راوړلو څخه وروسته به په تیر کفر اوشرک باندی مواخذه وی، نو دا خبره نه ده بلکه) په یقین سره الله ﷻ به (داسلام په برکت سره) ټولو (تیرو) ګناهونه (که څه هم کفر اوشرک ولی نه وی) معاف کوی هغه لوی بخښنی والا لوی رحمت کوونکی دی او (چونکه ددی معافی شرط اوطریقه دکفر څخه توبه کول اواسلام راوړل دی په دی وجه) تاسی (دکفر څخه دتوبی کولو دپاره) دخپل رب طرف ته رجوع وکی او (داسلام په قبلولو کی) دهغه فرمانبرداری کوی، مخکی ددی څخه چی (داسلام نه راوړلو په صورت کی) په تاسی عذاب (دخدای) واقع سی (او) بیا (دغه وخت به دهیڅا دطرف څخه) ستاسی څه مدد نه کول کیږی (یعنی لکه څنګه چی داسلام راوړلو په صورت کی ټول کفر اوشرک معاف کیږی، دغه ډول داسلام نه راوړلوپه صورت کی به په دوی دشرک اوکفرعذاب وی چه هیڅ دفع یی نسته) اوهرکله چی دا خبره ده چی داسلام نه راوړلو دا انجام دی نو) تاسی (ته په کار دی چی) دخپل رب څخه په راغلو ښوښو حکمونو باندی چلیږی مخکی ددی څخه چی په تاسی ناڅاپه عذاب راسی اوتاسی ته به (ددی) خیال هم نه وی (مراد ددی څخه عذاب داخرت دی په قرینه دمابعد اوناڅاپه یی یاخو څکه وویل چی په اوله شپیلی سره به ټول روحونه بی هوښه سی بیابه ددوهمی شپیلی څخه وروسته دعذاب معلومیدل ناڅاپه وسی اویا څکه چی څنګه عذاب واقع سی، مخکی دوقوع څخه ددی حقیقت ادراک نه وو او داسی ګمان یی نه وو دګمان خلاف واقع پیښیدل یی په ناڅاپه سره تعبیر کی اودا دانابت اواسلام اواتباع حکم څکه ورکول سی چی) هسی نه (صبا دقیامت په ورځ) یوسړی ووایی چی افسوس زماپه دی کوتاهی کومه چی مادخدای په جناب کی وکړه (یعنی دده په اطاعت کی چی زما څخه کوم تقصیر وسو) اوزه خو دخدای په حکمونو پوری خندا کوونکی پاته سوم یاڅوک داسی ووایی چی که الله ﷻ (په دنیا کی) ماته هدایت کولی نو زه به هم دپر هیزګارانو څخه وای (مګر دهدایت څخه محرومه سوم په دی وجه دا ټول تقصیر اوکوتاهی وسوه چی زه په دی کی معذور یم) یاڅوک عذاب وویني اوداسی ووایی چی کاشکی! زما (دنیاته) بیا بیرته راتلل وسی بیابه زه دنیکانو بندګانو څخه سم (اوپه دوهم قول کی چی دا ویل سوی وه چی که ماته هدایت سوی وای، نوزه به هم متقی سوی وای، مخ ته ددی په جواب کی فرمایی چی) البته بیشکه تاته زما ایتونه دررسیدلی وه نو تاهغه درواغجن کړل او (درواغجن کول په څه شك سره نه وه بلکه) تاتکبر وکی او (دا هم ونه سوه چی بل وخت دی دماغ صحیح سوی وای بلکه) په کافرانو کی (دهمیشه دپاره) پاته سوه (اوپه دی وجه ستا دا ویناغلطه ده چی ماته هدایت نه دی رسیدلی) او (مخ ته په کفر باندی داصرار کوونکی او دکفر څخه دتوبه کوونکی دسزا اوجزا په لنډ طور سره ذکر فرمایی چی ای پیغمبره!) ته به دقیامت په ورځ دهغو خلګو مخونه تور وویني کومو چی په خدای درواغ

Maktaba Tul Ishaat.com

ویلی وه ! (په دی کی دوه کارونه راغلل کومه خبره چی خدای نه ده کړی مثلاً شرك وغیره، هغه ته دا ویلی چی خدای ویلی وه اوکومه خبره چی خدای ویلی ده لکه قرآن هغه ته داویل چی خدای نه ده ویلی) ایا ددی متکبرانو ځای په جهنم کی نه دی (کوم چی عناداً اوتکبراً تکذیب کوی) اوکوم خلګ چی (دکفر اوشرك څخه) محفوظ کیدل الله ﷻ به هغوخلګو ته دکامیابی سره (دجهنم څخه) نجات ورکی ، هغوی ته به (ذره) تکلیف ونه رسیږی اونه به هغوی غمجن وی (ځکه چی په جنت کی غم نسته)

معلومات اومسئلي: قُلْ يَاعِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا الآية : سعیدبن جبیر ﷺ دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت کوی چی څینی خلګ داسی وه چی ناحقه قتلونه اونور داسی کارونه اوزناګانی یی کړی وی ، دوی نبی کریم ﷺ ته عرض وکی چی دکوم دین طرف ته ته دعوت ورکوی دا خو دی ډیر ښه ، لیکن فکر دا دی چی کله مونږ دومره لوی لوی ګناهونه کړی دی اوس که مسلمانان هم سو نو ایا زمونږ توبه به قبوله سی ، په دی باندی الله ﷻ دا ذکرسوی آیت نازل کی (اوبخاری هم په دی معنی سره ذکر کړی دی . (قرطبی)

په دی وجه دایت دمضمون خلاصه دا سوه چی دمرګ څخه مخکی مخکی دهری لویی څخه لویه ګناه، تردی چی دکفر اوشرك څخه هم چی توبه وکاږی نوقبلیږی اوپه ربښتنی توبه سره ټول ګناهونه معاف کیږی ، په دی وجه چاته دالله ﷻ درحمت څخه نا امیده کیدل نه دی په کار .

حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ فرمایی چی دا ایت دګناهګارانو دپاره دقرآت دټولو ایتونو څخه زیات امید زیاتوونکی دی ، مګرحضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی دټولوڅخه زیات درجاء اوامید آیت دا دی ، وَاتَّبِعُوا أَحْسَنَ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ د أَحْسَنَ مَا أُنْزِلَ : څخه مراد قرآن دی او پوره قرآن احسن دی اوقرآن ته ، أَحْسَنَ مَا أُنْزِلَ : په دی اعتبار سره هم ویل کیږی چی څومره کتابونه تورات ، انجیل، او زبور دالله ﷻ دطرف څخه نازل سوی دی په دغو ټولو کی أَحْسَنْ او أَكْمَلْ قرآن دی (قرطبی)

د ، أَنْ تَقُولَ نَفْسٌ يَاحَسْرَتَى : څخه تر، مِنَ الْمُحْسِنِينَ پوری په درو آیتونوکی دهغه مضمون تشریح اوتاکید دی کوم چی ددی څخه مخکی په درو ایتونو کی بیان سوی دی چی یوچا دلوی څخه لوی مجرم کافر نه هم دالله ﷻ درحمت څخه مایوسه کیدل نه دی په کار، که دی توبه وکاږی نو الله ﷻ به دده ټول تیر ګناهونه معاف کړی .

أَنْ تَقُولَ نَفْسٌ : څخه یی په درو ایتونو کی داوښوولې چی الله ﷻ هره ګناه تردی چی کفر اوشرك هم په توبه سره معاف کوی ، مګر دا یاد ساتی چی دتوبی وخت دمرګ څخه مخکی مخکی دی ، دمرګ څخه وروسته دقیامت په ورځ که څوك توبه کاږی یاپه خپلو کړو پښیمانی کوی نو ددی به هیڅ فائده نه وی لکه چی څینی کافران اوفاجران به دقیامت په ورځ مختلفی ارزوګانی کوی څینی افسوس کوی چی افسوس ماالله ﷻ په اطاعت کی کوتاهی ولی کړی وه ، څینی به خپل الزام په تقدیر ورغورځوی اوخان محفوظ کول به غواړی هغه به وایی چی که الله ﷻ ماته هدایت کړی وای نو زه به هم په متقیانو کی دا خل سوی وم ، مګر خدای پاك هدایت ونه کی نو زه څه وکړم څینی به دا ارزو کوی چی کاشکی! که زه دوباره دنیاته ولیږل سم نوزه به پوخ ربښتنی مسلمان جوړسم اودالله ﷻ داحکامو پوره اطاعت به کوم مګر ددی وخت دا حسرتونه او ارزوګانی به په هیڅ کار ورنه سی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دا دری قسمه ارزوګانی کیدی سی چی دمختلفو خلګو وی او دا هم ممکنه ده چی دا دری سره ارزوګانی
په یو بل پسی دکفارو دیو جماعت دطرف څخه وی ، ځکه چی اخری خبره په کومه کی چی دوباره دنیاته
درانلو ارزو ده ، دهغه سره په آیت کی ذکر دی چی هغه به دعذاب لیدو څخه وروسته وی ، ددی څخه په
ظاهره دا معلومیږی چی اولنی دواړی خبری دعذاب لیدو څخه مخکی دی چې دقیامت په ورځ به داول
څخه دخپل عمل کوتاهی یادوی او وایی به ، يَا حَسْرَتٰى عَلٰى مَا فَرَّطْتُ فِي جَنْبِ اللّٰهِ بیابه دعذر اوبهانی
په طور ووایی چی مونږ خو معذوره وو که الله ﷻ راته هدایت کړی وای نو مونږ به هم مطیع او فرمانبردار
او متقیان جوړ سوی وای ، مګر کله چی هغه هدایت ونه کی نو زمونږ څه قصور دی ، بیاکله چی عذاب
وویني نو دا خواهش به یی وی چی کاشکی! مونږ دوباره دنیا ته ولیږل سو ، حق تعالی په دی دری سره
ایتونو کی وښوولە چی دالله ﷻ مغفرت اورحمت ډیر وسیع دی مګر هغه هلته حاصلیدی سی چی دمرګ
څخه مخکی توبه وکاړی ، په دی وجه مونږ اوس درته ښیو چی هسی نه تاسی دمرګ څخه وروسته
پښیمانه سی او په اخرت کی په داسی فضول او بی فآئدی حسرت اوتمنا کی بیا اخته سی .

بَلٰى قَدْ جَآءَتْكَ آيَاتِي فَكَذَّبْتَ بِهَا: په دی آیت کی دکفارودّدی خبری جواب دی چی که الله ﷻ هدایت کړی وای
نومونږ به متقیان سوی وای،ددی آیت مطلب دادی چی الله ﷻ پوره هدایت کړی وو اوخپل کتابونه اوایتونه
یی درلیږلی وه په دی وجه ددوی داخبره غلطه اوعبث ده چی الله ﷻ مونږ ته هدایت ونه کی البته دهدایت
کولو څخه وروسته په نیکی او اطاعت الله ﷻ څوك مجبوره نه کی بلکه بنده ته یی دا اختیار ورکی چی
هغه کومه لاره دحق یاباطل اختیارول غواړی اختیار دی کړی ، دا دبنده امتحان وو په دی ددە کامیابی
یا ناکامی موقوف وه، چاچی په خپل اختیارسره دګمراهی لار اختیار کړه هغه په خپله ددی ذمه وار دی .

اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۫ وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ﴿٦٢﴾ لَهٗ مَقَالِيْدُ

الله ﷻ پیدا کوونکی دی دهرشی او هغه د هرشی ذمه اخلی ، هغه سره دی کلیانی

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿٦٣﴾

داسمانونو او دمخکی ، اوخوك چی منکر سوی دی دالله د خبرو څخه هغه دی په تاوان کی ،

قُلْ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَاْمُرُوْٓنِّيْٓ اَعْبُدُ اَيُّهَا الْجٰهِلُوْنَ ﴿٦٤﴾ وَلَقَدْ

ته ووایه اوس دالله څخه ماسوا خوك ښیی چی عبادت یی وکړم ای نا پوهانو ! او حکم سوی دی

اُوْحِيَ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ لَىِٕنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ

تا ته او هغو ته چی ستا څخه مخکی وه ، چی که تاشرك وکی نو عبث به سی

عَمَلُكَ وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٦٥﴾ بَلِ اللّٰهَ فَاعْبُدْ وَكُنْ

ستا عمل او سی به ته دتاوان کوونکو څخه ، بلکه دالله ﷻ عبادت کوه اوحق

Maktaba Tul Ishaat.com

مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿٦٦﴾ وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ۖ وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا

منونکی سه ، او ونه پیژندی (خلقو) الله څومره حق چی دهغه دپیژندو دی اومخکه ټوله

قَبْضَتُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌۢ بِيَمِيْنِهٖ ۭ سُبْحٰنَهٗ

دهغه په موتی کی ده دقیامت په ورځ او اسمانونه را نغښتی دی دهغه په ښیی لاس کی هغه پاک دی

وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٦٧﴾

او ډیر لوړ دی د دوی دشرک جوړولو څخه.

لنډتفسیر: الله ﷻ پیدا کوونکی دی دهرشی اوهغه دهرشی نګهبان دی ، دهغه په اختیار کی دی کیلیانی دآسمانونو اومځکی (یعنی ددی ټولو شیانو موجد اوخالق هم هغه دی او د دوی باقی پاته کوونکی . حفاظت کوونکی هم هغه دی ، کوم چی مطلب دی دلفظ دوکیل او په دی ټول مخلوقاتو کی تصرفات او انقلابات هم دهغه کار دی دا مطلب دی د ، لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ : څکه چی دچا په لاس کی دخزانو کیلیانی وی هغه عادتًا په هغوکی دتصرفاتو مالك وی اوکله چی دټولو کائناتو خالق هم بغیر دشرکت دبل څخه هغه دی ، محافظ هم هغه دی ، مالك دتصرفاتو هم هغه دی نوعبادت هم صرف دهغه کیدل په کار دی او دسزا او جزا مالك هم هغه په کار دی کوم چی خلاصه ده دتوحید ، اوچونکه دا ټولی خبری مشرکانو هم منلی نو په هغوی لازمه وه چی توحید یی هم منلی ، په دی وجه فرمایی) کوم خلګ چی (په دی سربیره هم) دالله ﷻ ایتونه (کوم چی دتوحید ، جزا اوسزا په مضمون مشتمل دی) نه منی ، هغوی به په لوی تاوان کی وی (اوهغه خلګ خو په خپله په شرك او کفر کی اخته وه ، اوس د دوی حوصله درمرا زیاته سوه چی تاته هم خپلی طریقی ته درواستو فرمائش کوی نو) ته ووایه چی ای جاهلانو (په ذکر سوو دلیلونو سره دتوحید دمکمل ثبوت اودکفر اوشرك دباطلوالی څخه وروسته) بیاهم تاسی ماته دغیرالله دعبادت کولو دپاره وایی (او ستا څخه دکفر اوشرك صادریدل څنګه ممکن دی کله چی) ستا طرف نه هم او کوم پیغمبران چی ستا څخه مخکی تیرسوی دی دهغوی طرف ته هم دا وحی لیږل سوې ده چی هر امتی ته یی ورسوی) چی که ته شرك وکی نو ستا کړی کار به ټول عبث سی او ته به په خساره کی ولویږی (په دی وجه ته هیڅکله هم شرك ته مه نژدی کیږه) بلکه دالله ﷻ عبادت کوه او (دهغه) شکر ګذار اوسیږه (اوکله چی انبیاء علیهم السلام ته چی ته هم په کی دا خل یی ، دتوحید حقوالی اودکفر اوشرك باطلوالی په ذریعه دوحی ثابت سو اوهغوی په دی مامور سول چی نوروته هم ددی عقیدی هدایت کوی نو ددی مشرکانو تاته دکفر او شرك توقع ساتل بغیر دحماقت څخه نورڅه کیدی سی) او (افسوس چی) دی خلګو دخدای ﷻ قدر اوعظمت ونه پیژندی څنګه چی پیژندل یی په کار وو حال دا دی چی ټوله مخکه به دهغه په موټی کی وی دقیامت په ورځ اوټول آسمانونه به رانغښتل سوی وی دهغه په ښیی لاس کی هغه پاک اولوړ دی د دوی دشرك څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلي: لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ: مقاليد، جمع دمقلاد يامقليد ده كوم چي دژرندي كيلي ته ويل كيږي اوځيني حضرات وايي چي په اصل كي دالفظ دفارسي ژبي څخه معرب سوى دى، په فارسي كي كيلي ته كليد وايي، معرّب يي كي او اقليد يي ورڅخه جوړكي بيايي ددى جمع مقاليد راوړه (روح) كيلياني چي دچاپه لاس كي وى، دا نښانه ده دمالك اومتصرف كيدو په دى وجه مراد دايت دا دى چي په آسمانونو اومځكو كي دنعمتونو كومي خزانې چي پټې دي دهغه تولو كيلياني دالله ﷻ په لاس كي دي هغه يي محافظ دي او هغه يي متصرف دي چي كله وغواړي، چاته چي وغواړي، څومره چي غواړي ورکړي او چاته چي غواړي نه يي ورکوي.

اوپه ځينو روايتونو داحاديثوكي دريمه كلمه يعنى، سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ وَلَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ: ته يي، مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ: ويلى دي، ددى مطلب دا دى چي څوك سهار اومابنام دا كلمه وايي هغه ته الله ﷻ دآسمانونو او مځكى دَخزانو نعمتونه ورکوي، دى روايتونو ته ابن جوزى موضوع ويلى دى، مګر نورو محدثينو داضعيف احاديث مقرر کړي دى دكومو چي په فضائلو داعمالو كي اعتبار كول كيږي (روح المعاني)

وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌ بِيَمِيْنِهٖ: دقيامت په ورځ دمځكى دالله ﷻ په موټ كي كيدل او دآسمانونو رانغښتل اودهغه په راسته لاس كي كيدل داسلافو متقدمينو په نزد په خپلو حقيقي معانيوكي دي، مګر مضمون دايت دمتشابهاتوڅخه دي چي حقيقت يي بغيردخداى ﷻ څخه چاته معلوم نه دي، عامو خلګو ته ددى دحقيقت معلومولو كوشش كول هم منع دي، بس په دى ايمان راوړل دي چي ددى څخه دالله ﷻ څه مراد وى هغه حق اوصحيح دي اوچونكي دايت دظاهرى الفاظو څخه دالله ﷻ دپاره موټى او رسته لاس كيدل معلوميږي كوم چي جسماني اعضاء اوجوارح دي اوالله ﷻ دجسم اوجسمانيت څخه پاك دي، دي طرف ته يي دايت په خاتمه كي اشاره وكړه چي دا الفاظ په خپلو اعضاؤ باندى مه قياس كوى، الله ﷻ ددى څخه پاك دي، سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ.

او متاخرينو عالمانو دا ايت يو تمثيل اومجاز مقرر کړى دى او دا معنى يي بيان کړي ده چي ديوشي په موټى او راسته لاس كي كيدل كنايه وى، په هغه شى دپوره قدرت اوقبضى څخه دامكمل قبضه او قدرت ورڅخه مراد ده. والله سبحانه وتعالى اعلم

وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِي

اوپوكل به وسى په شپيلى كي بيا به يې هوښه سى څوك چي دى

السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيْهِ

په آسمانونو كي او په مځكه كي مګر چا ته چي الله ﷻ وغواړي بيا به پوكل وسى

Maktaba Tul Ishaat.com

أُخْرٰى فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَّنْظُرُوْنَ ﴿٦٨﴾ وَأَشْرَقَتِ الْأَرْضُ بِنُوْرِ

بل وار ، نو فوراً به هغوی پورته سی هر طرف ته کتونکی ، او وبه زلیږي مخکه په نور

رَبِّهَا وَوُضِعَ الْكِتٰبُ وَجِايْٓءَ بِالنَّبِيّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ

درب ددي سره او کښيښوول به سی کتاب او حاضر به کړل سی نبيان اوشاهدان او فيصله به وسی

بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٦٩﴾ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا

په دوی کی په انصاف سره او په دوی به ظلم نه وی ، او پوره به ورکړل سی هر نفس ته څه

عَمِلَتْ وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَسِيْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا إِلٰى

چی ده کړی وی او هغه ورځخه ښه خبردی څه چی دوی کوی ، او روان به کړل سی کافران

جَهَنَّمَ زُمَرًا ۖ حَتّٰٓى إِذَا جَآءُوْهَا فُتِحَتْ أَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ

جهنم ته دلی دلی ، تر دی چی کله ورسيږي هغه ته ، خلاصی به سی دروازی او وبه وايی دوی ته

خَزَنَتُهَآ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَتْلُوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِ رَبِّكُمْ

دهغه چوکيداران ، آيا نه وو راغلی تاسی ته رسولان تاسی څخه چی ويل يی تاسی ته ايتونه درب ستاسی

وَيُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ۚ قَالُوْا بَلٰى وَلٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ

او بيرولاست تاسی ، ملاقات ددي ورځی ستاسی څخه ، وبه وايی ولی نه او ليکن ثابت سو حکم

الْعَذَابِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٧١﴾ قِيْلَ ادْخُلُوْٓا أَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ

دعذاب په کافرانو باندی ، حکم به وسی چی داخل سی دروازو دجهنم ته دهميشه

فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿٧٢﴾ وَسِيْقَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ

اوسيدو دپاره به دی کی ، سړخه بدخای داوسيدو دی تکبر کوونکو ، اوروان به کړل سی هغه خلق چی بيريدل دخپل رب څخه

إِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا ۖ حَتّٰٓى إِذَا جَآءُوْهَا وَفُتِحَتْ أَبْوَابُهَا وَقَالَ

جنت ته ټولی ټولی ، تر دی چی کله ورسيږي هغه ته خلاصی به سی دروازی يی او وبه وايی دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوهَا خٰلِدِيْنَ ﴿۷۳﴾ وَقَالُوا

نه چوکیداران دهغه سلام دی وی په تاسی ، تاسی پاکیزه خلق یاست نو دا خل سی دی ته همیشه اوسیدو دپاره

الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ صَدَقَنَا وَعْدَهٗ وَاَوْرَثَنَا الْاَرْضَ نَتَبَوَّاُ

اوهغوی به ووایی شکر دی دالله چی رښتنی یی کړه زمونږ سره خپله وعده اووارثان یی کړو مونږ ددې مخکی چی

مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ نَشَآءُ ۚ فَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ﴿۷۴﴾ وَتَرَى

کور جوړ وو په جنت کی کوم خای چی غواړو ، نو څه ښه بدله ده دمحنت کوونکو ، او ته به وینی

الْمَلٰٓئِكَةَ حَآفِّيْنَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ۚ

ملائکی چی چاپیره به وی دعرش څخه پاکی به بیانوی په ثنا د رب خپل سره

وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَقِيْلَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۵﴾

اوفیصله به وسی په دوی کی په انصاف سره اووایی به چی ټول تعریفونه الله ﷻ لره دی چی رب دټول مخلوقات دی

لنډتفسیر: او (دقیامت په ورځ چی لوړ یی ذکر راغلی دی) شپیلی به ووهل سی چی ټول دآسمانونو اومخکو اوسیدونکو به بی هوښه سی (نو ژوندی خو به مړه سی او دمړو روحونه به بی هوښه سی) مګر چاته چی خدای غواړی (هغه به ددی بی هوښی اومرګ څخه محفوظ وی) بیابه دغه شپیلی دوباره ووهل سی نو ناڅاپه به ټول (په هوښ کی راسی دروحونو تعلق به دبدنونو سره راسی دقبرونو څخه به راووزی) وبه دریږی (او) څلور سره طرفونو ته به ګوری (لکه چی دیوی نا اشنا واقعی کیدو په وخت کی طبعی عادت دی) او (بیابه الله ﷻ دحساب دپاره په مخکه دخپل شان مناسب نزول اوتجلی وفرمایی او) مخکه به دخپل رب په نور سره (بی کیفه) روښانه سی او (دټولو) عملنامی به (دهریوه په مخکی) کښیښودل سی او پیغمبران اوشاهدان به حاضر سی (دشاهد مطلب عام دی چی پیغمبران په کی هم داخل دی اوملائکی هم او امت محمدیه هم اواعضاء او جوارح هم، چی تفصیل یی مخ ته دمعلوماتو په ضمن کی راځی) اوپه ټولو (مکلفینو) کی به (دعملونو مطابق) صحیح صحیح فیصله وسی اوپه دوی به ظلم نه وی (چی یونیک عمل کوم چی دخپلو شرطونو سره واقعی سوی وی ، پټ سی یاڅه بدعمل زیات سی) اوهرسړی ته به دهغه دعملونو پوره پوره بدله ورکول سی (په نیکو عملونو کی دپوره بدلی څخه مقصود دکومی نفی ده اوپه بدو عملونو کی دپوره والی څخه مقصود دزیاتی نفی ده) اوهغه دټولو کارو څخه ښه پیژنی (نو دوی ته دهریوه موافق جزا ورکول څه مشکل نه دی) او (بیان دهغه بدلی کومه چی نتیجه دفیصلی ده دا ده چی) کوم کافران دی هغه به دجهنم طرف ته ډلی ډلی کړل سوی په دکو (ورکولو ذلت اوخواری سره) روان سی (ډلی ډلی څکه چی اقسام اومرتبی دکفر جلا جلا دی ، نو دیو یو قسم کفارو به یوه یوه ډله وی)

Maktaba Tul Ishaat.com

تردی چی کله دوږخ ته ورسیږی نو (دغه وخت به) دهغه دروازی خلاصی سی او دوی ته به د دوږخ چوکیداری (ملائکی په طور دملامتی) ووایی چی ایاتاسی ته ستاسی خلګو څخه (کومو څخه چی فائده اخستل ستاسی دپاره مشکل نه وو) پیغمبران نه وه راغلی کومو چی تاسی ته ستاسی درب ایتونه ویل اوتاسی یی ستاسی ددی ورځی مخ ته دراتلو څخه بیرولست ، هغه کافران به ووایی چی هو، (رسولان هم راغلی وه اوبیرول یی هم کړی وه) لیکن دعذاب وعده په کافرانو (چی مونږ په کی هم دا خل یو) پوره سوه (دا اعتذارنه دی بلکه اعتراف دی چی سره دابلاغ څخه مونږ کفر وکی او دکافرانو دپاره کوم چی عذاب موعود وو هغه زمونږ مخ ته راغی واقعی مونږ مجرمان یو، بیابه دوی ته) وویل سی (یعنی هغه ملائکی به ووایی) چی دجهنم په دروازو داخل سی (او) همیشه په کی اوسیږی ، غرض (دا چی دخدای داحکامو څخه) دتکبر کوونکوخرابه ټیکانه ده (بیابه ددی څخه وروسته هغوی په جهنم کی دا خل سی او دروازی به ورپسی بندی سی ، لکه چی الله ﷻ فرمایی ، إِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُؤْصَدَةٌ : دا خو دکفارو حال سو) اوکوم خلګ چی دخپل رب څخه بیریدل (چی ابتدایی مرتبه یی ایمان دی بیا مخ ته ددی مختلفی درجی دی) هغه به ټولی ټولی سی (چی دکومی مرتبی تقوٰی یی وی دهغه مرتبی متقیان به یو ځای سی او) دجنت طرف ته به (شوق مند سی او ژر به) روان سی ، تردی چی کله دغه (جنت) ته ورسیږی او ددی دروازی به (مخکی) خلاصی وی (چی وخت په کی ونه لګیږی او دارنګه دَاهل اکرام دپاره داسی وی لکه چی دمیلمه دپاره عادت دی چی مخکی دروازه ورته خلاصوی ، لکه چی الله ﷻ فرمایی ، مُفَتَّحَةً لَهُمُ الْأَبْوَابُ) او دهغه ځای چوکیداران (ملائکی) به دوی ته (په طور داکرام اوثناء) ووایی چی السلام علیکم تاسی په خوندو کی اوسیږی نو دی (جنت) ته دهمیشه اوسیدو دپاره داخل سی (نو دغه وخت به دوی داخل سی) او (چی داخل سی) وبه وایی چی دالله (لك لك واره) شکر دی چاچی زمونږ سره خپله وعده رښتنی کړه اومونږ یی ددی مځکی مالکان کړو چی مونږ په جنت کی کوم ځای چی غواړو مقام کوو (یعنی هر سړی ته ښه دفراغت ځای ورکول سوی دی ، ښه په فراخی سره ګرځی راګرځی کښینی ولاړیږی ، دقیام په طور په خپل ځای کی او دسیل په طور دنورو جنتیانو په درجو کی هم) غرض د (نیک) عمل کوونکو ښه بدله ده (داجمله په خپله دجنتیانو وی اوکه دحق تعالی دطرف څخه وی د دواړو امکان سته) او (مخ ته داجلاس تراخری فیصلی پوری دا مضمون په مختصر او رعب دارو الفاظو کی په طور دَخلاصی فرمایی چی) ته به ملائکی وینی چی (دنزول اجلاس لِلحِسَاب په وخت کی به یی) په عرش چار چاپیره حلقه جوړه کړی وی (او) دخپل رب تسبیح اوتحمید به وایی او په ټولو بندګانو کی به صحیح صحیح فیصله وکړل سی) او (ددی فیصلی په صحیح والی به دهرطرف څخه په جوش سره داشور وی او) ویل کیږی به چی ټول صفتونه دخدای لائق دی کوم چی دټول عالم پروردګار دی (کوم چی داسی ښه فیصله وکړه بیابه په دی نعره دتحسین سره دربار ختم سی)

معلومات اومسئلې: فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللهُ: دَصَعِقَ لفظی معنی بی هوښه کیدل دی او مراد دا دی چی اول به بی هوښه سی ، بیا به ټول مړه سی او کوم چی مخ ته مړه وی د

Maktaba Tul Ishaat.com

هغوی روحونه به بی هوښه سی (داسی په بیان القرآن سورة نمل کی دی او دابن کثیر څخه هم ددی په مثل په ، اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰه : کی د درمنثور دروایت مطابق څلور ملائکی جبرائیل میکائیل ، اسرافیل اوملك الموت دی اوپه څینو روایتونو کی حملة العرش هم په دی کی دا خلی دی ، د دوی داستثناء مطلب دا دی چی دشپیلی په اثر سره به دوی ته مرګ نه راځی ، مګر ددی څخه وروسته به دوی ته هم مرګ راسی اوماسوا دیوه ذات حق سبحانه تعالی څخه به هیڅوك دغه وخت ژوندی پاته نه سی ، ابن کثیر هم دا اختیارکړي ده اوفرمایلی یی دی چی په دی ټولو کی به هم دټولو څخه په اخر کی ملك الموت ته مرګ راسی ، په سورة نمل کی هم یوایت ددی په مثل تیر سوی دی .

وَجِیْٓءَ بِالنَّبِیّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ : مراد دا دی چی په میدان دحشرکی به دحساب اوکتاب په وخت کی ټول انبیاء هم موجود وی او نور ټول شاهدان به هم حاضر وی ، په دی شاهدانو کی به په خپله انبیاء هم وی ، لکه چی قرآن کریم فرمایی ، جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ : اوملائکی به هم په شاهدانوکی وی لکه چی په قرآن کریم کی دی ، مَعَهَا سَآئِقٌ وَّشَهِيْدٌ : په دی کی دَسآئِق اوشهید څخه مراد ملائکی کیدل په تفسیر درمنثور کی په سورة قٓ کی ذکر دی او په دی شاهدانو کی به امت محمدی هم وی ، لکه چی په قرآن کریم کی دی ، وَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ : اوپه دی شاهدانو کی په خپله دانسان اعضاء اوجوارح به هم وی ، لکه چی په قرآن کریم کی دی ، وَكَلَّمَنَآ اَيْدِيْهِمْ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ .

تَبَوَّاُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ نَشَآءُ : مطلب دا دی چی دجنتیانو دپاره به خپل مکانات محلات او باغات خووی او دوی ته به دا اختیار ورکول سی چی دنورو جنتیانو خواته دملاقات او تفریح دپاره څی راځی (طبرانی) ابو نعیم ، اوضیاء ، په سند حسن سره دحضرت عائشی ؓ دا روایت نقل کړی دی چی یو صاحب دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سو او عرض یی وکی چی یارسول الله ﷺ زما ستاسره دومره محبت دی چی خپل کور ته هم څم نو تاسی یادوم او ترڅو پوری چی بیا په خدمت کی نه یم حاضر سوی ، ماته صبر نه وی ، مګر کله چی زه خپل مرګ یادوم اوستاسی وفات یادوم نو دا ګنم چی تاسی خو به په جنت کی دانبیاؤ په لوړو مقاماتو کی یاست او زه که جنت ته ولاړ هم سم نو یوځای په لاندی درجه کی به یم ، نو زماسره دافکر دی چی زه به تاسی څنګه وینم نبی کریم ﷺ دده خبره واوریده ، هیڅ جواب یی ورنه کی ، تردی چی جبرائیل امین دا آیت راوړی نازل سو ، وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا : په دی آیت کی یی وښوولو چی دالله ﷻ او د رسول ﷺ اطاعت کوی چی مسلمانان به دانبیاؤ علیهم السلام او صدیقینو وغیره سره وی اوپه ذکر سوی آیت کی ددی تشریح وسوه چی دوی ته به لوړو مقاماتو ته دتللو هم اجازه وی (خدای پاك دی ورسره مونږ هم په خپل احسان اوکرم سره پیوست کړی . آمین)

سُورة زُمر ختم سو

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ سورة المؤمن ﴾

سُوْرَةُ الْمُؤْمِنِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ خَمْسٌ وَثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَتِسْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة مؤمن په مکه کی نازل سو په دی کی پنځه اتیا (٨٥) ایتونه او نهه (٩) رکوع ګانی دی.

شروع کوم په نوم د خدای چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی.

حٰمٓ ① تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ② غَافِرِ

، نازلیدل دکتاب دالله څخه دی چی غالب دی خبر دار دی ، ګناه بخښونکی

الذَّنْبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيْدِ الْعِقَابِ ذِي الطَّوْلِ ؕ لَآ اِلٰهَ

توبه قبلوونکی سخت عذاب ورکوونکی ، طاقت والا دی ، نسته بل خدای

اِلَّا هُوَ ؕ اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ③ مَا يُجَادِلُ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ اِلَّا الَّذِيْنَ

ما سوا دهغه څخه ، هغه طرف ته تلل دی ، جګړه کوی په آیتونو دالله کی کوم چی منکر دی

كَفَرُوْا فَلَا يَغْرُرْكَ تَقَلُّبُهُمْ فِي الْبِلَادِ ④ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ

نو ته مه دوکه کیږه په دی خبره چی هغوی کرځی را کرځی په ښارونو کی، درواغجن کړی دی دهغوی څخه مخکی

نُوْحٍ وَّالْاَحْزَابُ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ۖ وَهَمَّتْ كُلُّ اُمَّةٍۢ بِرَسُوْلِهِمْ

قوم ، دنوح ﷺ اوځومره فرقو دهغوی څخه وروسته ، او اراده وکړه هر یو امت د رسول خپل سره

لِيَاْخُذُوْهُ وَجٰدَلُوْا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ فَاَخَذْتُهُمْ ۖ فَ

چی ونیسی هغه او هغه جګړه وکړه هغو په ناحقه چی کمزوری کړی په دی سره حق بیا ما دوی ونیول

كَيْفَ كَانَ عِقَابِ ⑤ وَكَذٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِيْنَ

نو څنګه سوه زما سزا ورکول ، او دغه رنګه ثابته سوه خبره درب ستا په منکرانو باندی

كَفَرُوْٓا اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ ⑥ اَلَّذِيْنَ يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ وَمَنْ

، چی دا دی دوزخیان ، کوم خلق چی پورته کوی عرش او کوم

Maktaba Tul Ishaat.com

حَوْلَهٗ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِيْنَ

چې ورڅخه چاپيره دي تسبيح وايي په ثناء دخپل رب سره ، او په هغه يقين کوي اوبخښنه غواړي دايمانداروو

اٰمَنُوْا رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِيْنَ

دپاره ، اى ربه زمونږ خاى کړى دى تا هرشى په خپل رحمت او علم کې نو معاف کړه هغه

تَابُوْا وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ۝٧ رَبَّنَا وَاَدْخِلْهُمْ

کوم چې توبه وکاږي اوتابعداري وکړي ستا دلارې او محفوظ کړي دوى دعذاب د دوزخ څخه ، اى زمونږربه !

جَنّٰتِ عَدْنِ ِالَّتِيْ وَعَدْتَّهُمْ وَمَنْ صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَ

اوداخل کړي دوى دهميشه اوسيدوباغونوته دکوم چې تاددوى سره وعده کړې ده اوهغوك چې نيك وى ددوى په پلارانوکې

اَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ ۭ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٨ وَقِهِمُ

اويې بيانوکې اواولاد کې ، بيشکه ته يې زبردست حکمت والا ، اومحفوظ کړې

السَّيِّاٰتِ ۭ وَمَنْ تَقِ السَّيِّاٰتِ يَوْمَىِٕذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهٗ ۭ وَذٰلِكَ

دوى دبدوڅخه ، او څوك چې تا محفوظ کې دبدو په دغه ورځ په هغه دى رحم وکې ، او دا ده

هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝٩

لويه کاميابى.

لنډتفسير: حٰمٓ (ددى معنى الله ﷻ ته معلومه ده) دا کتاب نازل سوى دى دالله ﷻ دطرف څخه کوم چې زبردست دى په هرڅه پوه دى ، ګناه بخښونکى دى دتوبې قبلوونکى دى سخته سزا ورکوونکى دى ، دهغه څخه ماسوا څوك دعبادت لائق نسته هغه ته (دټولو) بيرته په شاتلل دى (نو دقرآن مجيد اوتوحيد دحقيقت مقتضاء دا ده چې په دى کې انکار اوجګړه ونه سى مګر بياهم) دالله ﷻ په دى ايتونوکى (يعنى قرآن کى کوم چې په توحيد هم مشتمل دى) هغه خلګ (ناحقه) جګړې راباسى کوم چې (ددى څخه) منکره دى (او ددى انکار مقتضى دا ده چې دوى ته سزا ورکول سى ليکن ژر سزا نه ورکول استدراج يعنى يوځو ورځې مهلت ورکول دى) نو ددى خلګو په ښارونوکى (په امن اوامان سره ددنيوى کاروبار دپاره) ګرځيدل راګرځيدل دى تا په اشتباه کې وانه چوى (چې په دى سره داوګڼل سى چې دوى به دغسى دسزا اوعذاب څخه محفوظ سى اوپه ارام سره به وى اودوى ﷻ ته داخطاب کول نورو ته اورول مقصود دى ، غرض دا چې دوى به خامخانيول کيږى برابره خبره ده که په دنياکې کى هم اوپه اخرت کى هم چنانچې) د

Maktaba Tul Ishaat.com

دوی څخه مخکی دنوح ﷺ قوم او نورو قومونو هم کوم چی د دوی څخه وروسته راغلی وه (لکه عادیان ثمودیان وغیره دین حق) درواغجن کړی وو او په هر امت (کی چی کومو خلګو ایمان نه وو راوړی هغوی دخپل پیغمبر دګرفتارولو اراده وکړه (چی ویی نیسی اوقتل یی کی) اوناحقه جګړی یی جوړی کړی چی په دغه ناحق سره حق باطل کی نو ما (اخر) هغوی ونیول نو (ګوره) زما دطرف څخه (دوی ته) څنګه سزا ورسیده او (څنګه چی دوی ته په دنیاکی سزا ورکول سوه) دغه ډول په ټولو کافرانو ستا دپروردګار دا قول ثابت سوی دی چی دغه خلګ به (په اخرت کی) دوزخیان وی (یعنی دلته یی هم سزا پیدا کړه اوهلته به هم وی ، دغه شان دکفر په سبب به دا حاضرین کفار هم نیول کیږی اوسزابه ورته وی برابره خبره ده دا کی په دواړه جهانه وی اوکه په اخرت کی ، داخو حال دمنکرینو دی چی مستحق دسپکوالی اوعذاب دی اوکوم خلګ چی موحدین اومومنان دی هغه داسی عزتمند دی چی مقربی ملائکی دهغوی دپاره داستغفار په دعاکی مشغول وی کوم چی دقاعدی موافق، يَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ، ددی علامه ده چی هغوی دالله ﷻ دطرف څخه په دی مامورہ دی چی دمومنانو دپاره استغفاروکی په دی سره دمومنانو دالله ﷻ په نزد محبوب کیدل ثابتیږی ، چنانچی ارشاد دی چی) کومو ملائکو عرش (الهی) لوړ کړی دی اوکومی ملائکی چی په دوی چاپیره دی هغوی دخپل رب تسبیح اوتحمیدکوی اوپه هغه ایمان لری او دایماندارو دپاره (داسی دعا او) استغفار کوی چی ای زمونږ پروردګاره! ستارحمت (عامه) اوعلم هر شی ته شامل دی (نو په ایماندارو به په درجه اولی رحمت وی او د دوی دایمان تاته علم هم دی) نو هغه خلګ وبخښی کومو چی (دشرک اوکفر څخه) توبه کړي ده اوستا په لاره باندی چلیږی اوهغوی دجهنم دعذاب څخه محفوظ کړی ای زمونږ پروردګاره! او (د دوزخ څخه یی محفوظ کړی) هغوی دهمیشه اوسیدو په باغونو کی دکومو چی تادهغوی سره وعده کړي ده دا خل کړی او دهغوی مور اوپلار اوبیبیانو او اولاد کی چی کوم (دجنت) لائق (یعنی مومنان) وی (که څه هم ددی مومنانو په درجه کی نه وی) هغوی هم داخل کړی بیشکه ته زبردست حکمت والا یی (چی په مغفرت باندی قادر یی اودهر یوه مناسب هغه ته درجه ورکړی) او (لکه څنګه چی د دوی د دوزخ کوم چی اعظم عذاب دی) څخه دمحفوظ کولو دپاره تاته دعا ده دغه (شان دا دعا هم ده چی) هغوی (دقیامت په ورځ دهر قسم) تکلیفونو څخه محفوظ کړی (که څه هم دغه دجهنم څخه سپک وی لکه دقیامت دمیدان پریشانی) اوته چی څوک دډیرو ورځی دتکلیف څخه محفوظ کړی نو په هغه تا ډیره مهربانی وفرمایله ، او دا (کوم چی ذکر سول مغفرت اوحفاظت دعذاب لوی او وړوکی څخه اوجنت ته دخول) لویه کامیابی ده (نوخپل مومنان بندګان ددی څخه مه محرومه کوی)

معلومات اومسئلي

(دسورة مؤمن خصوصیات اوفضائل وغیره)

ددی ځای څخه ترسورة احقاف پوری اووه سورتونه دحٰمٓ څخه شروع کیږی، دی ته الِ حٰمٓ یاحوامیم ویل کیږی ، حضرت ابن مسعود ﷺ فرمایی چی الِ حٰمٓ، دیباج القرآن، دی (دیباج ریشمی کپړی ته ویل کیږی مراد ددی څخه ښائست دی) اومسعربن کدام ﷺ فرمایی چی دوی ته عرائیس، ویل کیږی (یعنی ناویانی)

Maktaba Tul Ishaat.com

اوحضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی دهرشی یومغز اوخلاصه وی، دقرآن خلاصه ال حٰمٓ دی یافرمایی چی حوامیم دی داتول روایتونه امام عالم ابوعبید قاسم بن سلام په خپل کتاب فضائل القرآن کی لیکلی دی

اوحضرت عبدالله ﷺ فرمایی چی دقرآن مثال داسی دی چی یو سړی دخپل اهل اوعیال داوسیدو دپاره دځای په تلاښ کی ووتی نو یوشین میدان یی ولیدی اوخوشحاله سو چی ناڅاپه مخ ته ولاړی نو داسی باغونه یی ولیدل چی په مخکه کی یی دفصل توکولو ماده زیاته وه ، دایی چی ولیدل نو وي ویل چی ماخو دباران په مخکی پرشینګیاه باندی تعجب کوی داخو دهغه څخه هم زیات عجیبه دی ، نوهغه ته دا وویل سی چی داولی سبزی مثال دعام قرآن دی او ددی باغونو مثال په قرآن کی دآلِ حٰمٓ په مثل دی ، په دی وجه حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ فرمایی چی کله زه دقرآن تلاوت کوم اوالِ حٰمٓ ته را ورسیږم نو ګویا په دی کی زما ډیره خوشحالی وی .

(دهری بلا څخه حفاظت)

او په مسند بزارکی په خپل سند سره دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی څوك دورځی په اول کی آیت الکرسی او دسورة مؤمن (اولنی دری ایتونه دحٰمٓ څخه تر، اِلَیْهِ الْمَصِیْر پوری) ووایی ، هغه به په دغه ورځ دهری بدی اوتکلیف څخه محفوظ وی ، دا ترمذی هم روایت کړی دی چی په سند کی یی په یو راوی کی خبری سوی دی (ابن کثیر ص ۲۹ ج۴)

(ددښمن څخه حفاظت)

په ابو داود اوترمذی کی په صحیح اسنادو سره دحضرت مهلب بن ابی صفره ﷺ څخه روایت کوم چی په خپله دنبی کریم ﷺ څخه اوریدلی دی چی حضور ﷺ (دیو جهاد په موقع باندی په شپه کی دحفاظت دپاره) فرمایل چی که دشپی په تاسی باندی چاپه ووهل سی نوتاسی حٰمٓ لَایُنْصَرُوْنَ وایاست چی ددی مطلب دلفظ دحٰمٓ سره دا دعا کول دی چی زمونږ دښمن کامیاب نه سی ، اوپه څینو روایتونو کی حٰمٓ لَایُنْصَرُوْا بغیر دنون څخه راغلی دی ، ددی مطلب دا دی چی تاسی حٰمٓ ووایاست نو دښمن به کامیاب نه سی ددی څخه معلومه سوه چی حٰمٓ ددښمن څخه دحفاظت قلعه ده (ابن کثیر)

(یوه عجیبه واقعه)

حضرت ثابت بنانی رحمه الله فرمایی چی زه دحضرت مصعب بن زبیر ﷺ سره دکوفی په علاقه کی وم ، زه یو باغ ته دننه ولاړم چی دوه رکعته لمونځ وکړم مادلمانځه څخه مخکی دحٰمٓ المومن ایتونه تر، اِلَیْهِ الْمَصِیْرُ پوری ووایه، ناڅاپه ما وکتل چی یوسړی زماشاته په کچره سپور ولاړ دی اوپربدن یی یعنی کپړی دی دی سړی ماته وویل چی کله ته غَافِرِالذَّنْبِ ووایی نوددی سره دادعاوکړه، یَاغَافِرِ الذَّنْبِ اغْفِرْ لِیْ (یعنی ای دګناهونومعاف کوونکیه مامعاف کړه اوکله چی ته ووایی قَابِلِ التَّوْبِ نودادعاوکړه، یَا قَابِلَ التَّوْبِ اقْبَلْ تَوْبَتِیْ (یعنی ای توبه قبلوونکیه زماتوبه قبوله کړی) بیاچی کله ووایی شَدِیْدِالْعِقَابِ نودادعاکوه یاشَدِیْدَ الْعِقَابِ لَا تُعَاقِبْنِیْ (یعنی ای سخت عذاب ورکوونکیه ما ته عذاب مه راکوی ، اوکله چی ذی الطَّوْلِ ووایی نودا دعا کوه یَاذِی الطَّوْلِ طُلْ عَلَیَّ بِخَیْرٍ (یعنی ای انعام اواحسان کوونکیه په ما انعام وفرمایه) ثابت بنانی رحمه الله چی ددی نصیحت اوریدو څخه وروسته اخواته وکتل نوهلته هیڅوك نه وو زه دهغه په

Maktaba Tul Ishaat.com

تلاښ کی دباغ دروازی ته راغلم دخلګو څخه می پوښتنه وکړه چی یو داسی سړی په یمنی کښړوکی ددی
ځای څخه تیرسوی دی؟ تولوویل چی مونږ داسی څوک نه دی لیدلی دثابت بنانی په یو روایت کی داهم
دی چی دخلګو خیال دی چی داحضرت الیاس ﷺ وو ، په نورو روایتونو کی ددی ذکر نسته (ابن کثیر)

(دخلګو په اصلاح کې ددی ایتونو تاثیر او دفاروق اعظم ﷺ یوعظیم هدایت داصلاح کوونکو دپاره)

ابن کثیر رحمه الله دابن ابی حاتم په سند سره نقل کړی دی چی دَشام په خلګو کی یولوی بارعبه قوی سړی
وو او دفاروق اعظم ﷺ خواته به راتلی څه زمانه هغه را نه غی نو فاروق اعظم ﷺ دخلګو څخه دهغه
پوښتنه وکړه ، خلګو وویل چی امیر المؤمنین ! دهغه پوښتنه مه کوه هغه خو په شرابو کی بیا بدمسته
سوی دی ، فاروق اعظم ﷺ خپل منشی را وغوښتی او ورته یی وویل چی دا خط ولیکه .

مِنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ إِلَىٰ فُلَانَ بْنِ فلاَنَ سَلاَمٌ عَلَيْكَ فَإِنِّي أَحْمَدُ إِلَيْكَ اللهَ الَّذِي لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ غَافِرُ الذَّنْبِ وَقَابِلِ
التَّوْبِ شَدِيْدِ الْعِقَابِ ذِي الطَّوْلِ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ إِلَيْهِ الْمَصِيْرُ .

دعمربن خطاب ﷺ دطرف څخه دفلان بن فلان په نوم سلام دی وی په تا ددی څخه وروسته زه ستادپاره د
هغه الله حمد پیش کوم دکوم څخه ماسواچی بل معبودنسته هغه ګناهونه معاف کوونکی توبه قبلوونکی
، سخت عذاب والا ، لوی قدرت والا دی دهغه څخه ماسوا بل معبود نسته دهغه طرف ته بیرته تلل دی .
بیایی دمجلس حاضرینو ته وویل چی تول په جمع ده ته دعا وکړی چی الله ﷻ دده زړه بیا راواپس کی او
دده توبه قبوله کړی ، فاروق اعظم ﷺ چی دکوم قاصد په لاس دا خط لیږلی وو ، هغه ته یی دا هدایت
کړی وو چی دا خط هغه ته داسی وخت مه ورکوه چی په نشه کی وی اوبل چاته یی هم مه ورکوه ، هرکله
چی ده ته دفاروق اعظم ﷺ دا خط ورسیدی او هغه ووایه نو بار بار یی دا کلمی وویلی فکر یی په کوی
چی په دی کی زه دسزا څخه هم بیرول سوی یم او دمعاف کولو وعده په کی هم ده ، بیا په ژړا سو او
دشرابو چښلو څخه یی داسی توبه وکړله چی بیا هیڅکله ورنژدی نه سو .

حضرت فاروق اعظم ﷺ ته چی کله ددی اثر خبر ورکول سو نوخلګو ته یی وفرمایل چی تاسی تولو ته په
داسی معامله کی هم داسی کول په کار دی چی کله ستاسی یو ورور په څه خطاکی اخته سی نو هغه ته
دالله ﷻ درحمت بروسه ورکوی او دالله ﷻ څخه دده دپاره دعا کوی چی هغه توبه وکړی اوتاسی دهغه
په مقابله کی دشیطان مددګار مه جوړیږی یعنی هغه ته بد مه وایاست اوغصه کوی یی مه چی ددین
څخه لیری سی دا خو به دشیطان مدد وی (ابن کثیر)

خبرداری: کوم کسان چی دخلګوداصلاح اوتبلیغ اودعوت کارکوونکی دی دهغوی دپاره په دی قصه کی
یوعظیم الشان هدایت دی چی دکوم سړی اصلاح مقصودوی دهغه دپاره په خپله هم دعاکوی بیاپه نرمونه
بیرونوسره هغه دسیده لاری طرف ته راولی اشتعال انګیزی مه کوی چی په دی سره ده ته نفع نه رسیږی
بلکه دشیطان امدادپه کیږی چی دی به نورهم په ګمراهی کی اخته سی (اوس دایتونو تفسیر واوری)
حٰمٓ ، څینی مفسرین حضرات فرمایی چی دادالله ﷻ نوم دی مګردَمتقدمینوپه نزد داحروف مقطعات تول
دمتشابهاتوڅخه دی چی معنٰی یی الله ﷻ ته معلومه ده یادالله ﷻ اورسول الله ﷺ په مینځ کی یو راز دی .

غَافِرِ الذَّنْبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ : د ، غَافِرِ الذَّنْبِ لفظی معنٰی ده په ګناهونو باندی پرده اچوونکی ، او دَقَابِلِ التَّوْبِ

Maktaba Tul Ishaat.com

معنی ده توبه قبلوونکی، دا دوه لفظونه جلاجلا راوړل سول که څه هم مطلب د دواړو تقریباً یو معلومیږی وجه دا ده چی په غَافِرِ الذَّنْبِ کی اشاره دی طرف ته کول دی چی الله ﷻ په دی هم قدرت لری چی دیوه بنده ګناه بغیر دتوبی څخه هم معاف کړی او توبه کوونکو ته معافی کول دوهم وصف دی (مظهری)

ذِی الطَّوْلِ: دَطَوْلُ لفظی معنی فراخی اوغنا ده او دقدرت په معنی کی هم راځی اودفضل او احسان په معنی کی هم (مظهری)

مَا یُجَادِلُ فِی آیَاتِ اللهِ إِلَّا الَّذِینَ کَفَرُوا دی آیت جدال فی القرآن کفر مقرر کی اونبی کریم ﷺ فرمایی، إِنَّ جِدَالاً فِی الْقُرْآنِ کُفْرٌ: یعنی څینی جګړی په قرآن کی کفر وی (رواه البغوی والبیهقی فی الشعب عن ابی هریرة ﷺ ورواه ابو داود والحاکم وصححه مظهری)

او په حدیث کی دی چی یوه ورځ نبی کریم ﷺ د دوو سړیانو اواز واوریدی چی دقرآن دیو ایت متعلق یی جګړه کوله، دوی ﷺ په غصه سره دباندی تشریف راوړی چی دمخ مبارك څخه یی دغصی نښانی ښکاره کیدی او وې فرمایل چی ترتاسی مخ ته امتونه په دی وجه هلاك سوه چی هغوی دالله ﷻ په کتاب کی جګړی شروع کړی (رواه مسلم عن عبد الله بن عمرو بن شعیب، مظهری)

داجدال کوم چی قرآن اوحدیث کفرمقررکی ددی څخه مراد په قرانی ایتونوباندی طعن کول اوفضول قسم شبهی په کی راایستل اوپه دی کی جګړی جوړول دی یادقرآن دیوایت داسی معنی بیانول چی دنورو ایتونو دقرآن اودنصوصودسنت څخه خلاف وی کوم چی دقرآن دتحریف په درجه کی دی کنه نودځه مبهم یا مجمل کلام تحقیق یادمشکل کلام حل تلاش کول یادیوایت څخه داحکاموا ومسائلوپه استنباط کی دیوبل سره بحث اوتحقیق کول په دی کی داخل نه دی بلکه داخلولی ثواب دی (قاضی بیضاوی، قرطبی، مظهری)

لَا یَغُرُّكَ تَقَلُّبُهُمْ فِی الْبِلَادِ: دقریشو کفارو به په یَخْ کی دَیمن اوپه گرمی کی دشام تجارتی سفر کوی او دَحرم بیت الله دخدمت په وجه به په ټول عرب کی د دوی احترام کیدی، په دی وجه په خپلو سفرونو کی به محفوظ وه اوتجارتی نفعی به یی حاصلولی، په دی سره د دوی مالداری اوریاست قائم وو، داسلام اودنبی کریم ﷺ دمخالفت باوجود دهغوی دا صورت قائم پاته کیدل دهغوی دپاره دفخر اوغرور سبب وو چی که مونږ دالله ﷻ په نزد مجرم وای نو دا نعمتونه به راځخه اخستل سوی وای، په دی سره څینو مسلمانانوته هم دشکونوپیدا کیدوامکان وو، په دی وجه په دی آیت کی یی وفرمایل چی الله ﷻ په خپل حکمت اومصلحت سره دوی ته یوځو ورځی مهلت ورکړی دی، په دی وجه ته یامسلمانان په څه دوکه کی مه راځی، دځو ورځو دمهلت څخه وروسته په دوی عذاب راتلونکی دی او دا ریاست فنا کیدونکی دی او ددی ابتدا دبدر دغزاڅخه وسوه اودمکی ترفتح پوری په شپږکاله کی دننه ددی پوره ظهور وسو.

الَّذِینَ یَحْمِلُونَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُ: دعرش حاملانی ملائکی اوس څلور دی او دقیامت په ورځ به اته سی او دعرش څخه چاپیره څومره ملائکی چی دی دهغه شمیر الله ﷻ ته معلوم دی، په څینو روایتونو کی ددی صفونو تعداد نبوول سوی دی چی لکونو ته رسیږی دوی ته کروبی ویل کیږی دا ټولی دالله ﷻ مقربی ملائکی دی، په دی آیت کی نبوول سوي ده چی دا ټولی مقربی ملائکی دمومنانو دپاره خصوصاً کوم

Maktaba Tul Ishaat.com

چی دگناهونو څخه تائب او دشریعت تابع سی د دوی دپاره دعاګانی کوی یا خو په دی وجه چی الله ﷻ دوی په دی باندی ماموره کړی دی یا د دوی فطرت اوطبیعت داسی دی چی هغوی دالله ﷻ دنیکو بندګانو دپاره دعاګانی کوی ، په دی وجه حضرت مطرف بن عبدالله ابن شخیر فرمایی چی دالله ﷻ په بندګانو کی دمومنانو خیر خواه دتولو څخه زیاتی دالله ﷻ ملائکی دی ، دهغوی دعا دمومنانو دپاره یوه خو دا وی چی د دوی مغفرت وفرمایی او دجهنم دعذاب څخه یی محفوظ کړی او دهمیشه اوسیدو په باغونو کی یی دا خل کړی ، ددی سره دا دعا هم کوی چی ، وَمَنْ صَلَحَ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ یعنی د دوی پرپلرونو اونیکه ګانو د دوی بیبیانی او د دوی په اولادکی چی په کومو کی صلاحیت د مغفرت وی، یعنی دکومو خاتمه چی په ایمان سوی وی هغوی هم ددی خلګوسره په جنت کی داخل کړی ددی څخه معلومه سوه چی ایمان خوشرط دنجات دی ، دایمان څخه وروسته نورنیک عملونه دی ، دمسلمان متعلقین پلار نیکه یابنځه اواولاد دده درجی څخه هم وی نو الله ﷻ به د دوی په اکرام کی دکمی درجی متعلقین هم په جنت کی د دوی سره کړی چی د دوی خوشحالی اومسرت مکمل سی ، لکه چی دقرآن کریم په بل آیت کی ارشاد دی ، اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ .

حضرت سعید بن جبیر رحمه الله فرمایی چی مومن کله جنت ته څی نودخپل پلار زوی ، ورور، وغیره پوښتنه به کوی چی هغه کوم ځای دی؟ ده ته به وښوول سی چی هغوی ستاسی په شان عمل نه دی کړی په دی وجه هغه دلته نه دی رارسیدلی ، دی به ووایی چی ماکوم عمل کړی وو (هغه صرف دځان دپاره نه وو) بلکه دځان او د دوی دپاره می کړی وو نوحکم به وسی چی هغوی هم جنت ته داخل کړی (ابن کثیر) په تفسیر مظهری کی دا روایت نقل کوی اوفرمایی چی داموقوف په حکم دمرفوع کی دی اوپه دی باره کی واضح دی چی صلاحیت کوم چی په دی آیت کی شرط ګرځول سوی دی ددی څخه مراد نفس ایمان دی

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ اللَّهِ

کوم خلق چی منکران دی دوی ته به اواز وسی او ووایی به ورته چی الله

أَكْبَرُ مِنْ مَقْتِكُمْ أَنْفُسَكُمْ إِذْ تُدْعَوْنَ إِلَى الْإِيمَانِ فَتَكْفُرُونَ ﴿١٠﴾

بیزاره کیدو زیات دهغه څخه چی تاسی بی زاره سوی یاست دخپلو نفسونو څخه څه وخت چی تاسی بلل کیداست دایمان طرف ته بیا تاسی انکار کوی .

قَالُوا رَبَّنَا أَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَأَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ فَاعْتَرَفْنَا بِذُنُوبِنَا

وبه ووایی ای ربه زمونږ تامرګ راکی ومونږته دوه واره اوژوند دی راکی دوه واره اوس مونږقائل سو په خپلو ګناهونو

فَهَلْ إِلَى خُرُوجٍ مِنْ سَبِيلٍ ﴿١١﴾ ذَلِكُمْ بِأَنَّهُ إِذَا دُعِيَ اللَّهُ وَحْدَهُ

نو آیااوس هم سته د وتلو څه لار ؟ ، دا په تاسی په دی وجه ده چی هرکله به بلی چاالله یوازی

Maktaba Tul Ishaat.com

كَفَرْتُمْ ۚ وَإِنْ يُشْرَكْ بِهِ تُؤْمِنُوا ۚ فَالْحُكْمُ لِلَّهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيرِ ﴿١٢﴾

نو تاسی به انکار کوی ، او کله چی به بلل کیږي دهغه سره شریکان نو تاسی به یقین کوی اوس حکم هغه دی کوم چی کوی الله دتولو څخه لوی لوړ .

لنډتفسیر : کوم خلګ چی کافران سول (هغوی چی کله د وړځ ته ولاړ سی په خپل کفر اوشرک اختیارولو باندی افسوس اوحسرت وکی اوپه خپله د دوی دخان څخه سخت نفرت وسی تردی چی په ډیر غصه سره به خپلی ګوتی چیچی اوخوری به یی لکه چی په درمنشورکی دحضرت حسن څخه روایت دی دغه وخت) به هغوي ته اواز وسی چی لکه څنګه تاسی (دا وخت) دخپلو ځانونو څخه نفرت کوی ، ددی څخه زیات دخدای پاك (ستاسی څخه) نفرت وو کله چی تاسی (په دنیاکی) دایمان طرف ته وبلل سواست، بیا (دبللو څخه وروسته) به تاسی نه منله (مقصود ددی څخه د دوی په حسرت اوندامت کی نور زیاتی کول دی) دغه خلګ به ووایی چی ای زمونږ پروردګاره (مونږ چی د دوباره ژوندی کیدو څخه انکار کوی اوس مونږ ته خپله غلطی معلومه سوه چنانچی ومولیدل چی) تامونږ دوه واره مړه کړو (یو وار دپیدائش څخه مخکی چی مونږ دَبی روحه مادی په صورت کی وو او دوهم وار دی عالم ته دراتلو اوژوندی کیدو څخه وروسته په متعارف مرګ مړه کړو) او دوه واره دی ژوندی کړو (یو ددنیا ژوند اوبل داخرت ژوند ، دا څلور حالتونه دی چی په دی کی انکار صرف دیو اخرت دژوند څخه وو مګر دباقی درو حالتونو ذکر یی څکه وکی چی دغه یقینی وو او ددی اقرار مقصد دا وو چی اوس څلورم قسم هم داولو درو قسمونو په شان یقینی سو) نو مونږ دخپلو خطاګانو (چی په دی کی اصل دمرګ څخه وروسته د دوباره ژوندون انکار وو ، باقی ټول ددی فروع وه) اقرار کوو نو ایا (ددی ځای څخه) دوتلو څه صورت سته؟ چی دنیاته بیا ولاړ سو ، ددی خطاګانو تدارك وکو ، په جواب کی به ارشاد وسی چی ستاسی دوتلو هیڅ صورت نسته بلکه همیشه دلته پاته کیدل دی او) وجه ددی دا ده چی کله به صرف دیو الله ﷻ نوم اخستل کیدی (یعنی دتوحیدذکربه کیدی) نوتاسی به انکارکوی اوکه دده سره به څوك شریکیدی نوتاسی به منله په دی وجه دافیصله دالله (سوی) ده کوم چی عالیشان (او) لوی مرتبی والادی (یعنی چونکی الله ﷻ دلویی اوغټوالی په اعتبارسره داجرم عظیم وو په دی وجه په فیصله کی سزا هم عظیمه یعنی دائمی جهنم سو)

هُوَ الَّذِي يُرِيكُمْ آيَاتِهِ وَيُنَزِّلُ لَكُمْ مِنَ السَّمَاءِ رِزْقًا ۚ وَمَا يَتَذَكَّرُ

هغه ذات دی چی تاسی ته ښیی خپلی نښانی اونازلوی تاسی دپاره داسمان څخه رزق ، اوفکرهغه کوی

إِلَّا مَنْ يُنِيبُ ﴿١٣﴾ فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ

کوم چی رجوع کوونکی وی ، نو بولی الله خالص کوونکی دهغه دپاره دبندګی که څه هم بدیی

Maktaba Tul Ishaat.com

الْكٰفِرُوْنَ ﴿١٤﴾ رَفِيْعُ الدَّرَجٰتِ ذُو الْعَرْشِ ۚ يُلْقِي الرُّوْحَ مِنْ اَمْرِهٖ

ګڼي منکران ، هغه دی لوړو درجو والا مالك دعرش ، نازلوی د راز خبری په خپل حکم سره

عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ لِيُنْذِرَ يَوْمَ التَّلَاقِ ﴿١٥﴾ يَوْمَ هُمْ بٰرِزُوْنَ ۚ

په هغه چاچی غواړی دخپلو بندګانو څخه چی ویی بیروی دملاقات دورځی څخه، په کومه ورځ چی دغه خلق را

لَا يَخْفٰى عَلَى اللّٰهِ مِنْهُمْ شَيْءٌ ۭ لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ۭ لِلّٰهِ الْوَاحِدِ

دباندی سی ودریږي ، پټ به پاته نه سی په الله د دوی څه شی ، دچا حکومت دی په دغه ورځ ؟ دالله ﷻ دی چی

الْقَهَّارِ ﴿١٦﴾ اَلْيَوْمَ تُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ ۭ لَا ظُلْمَ الْيَوْمَ ۭ

یو دی اوغالب دی ، نن به بدله رسیږي هریو نفس ته دخپلو کړو ، بالکل ظلم نسته نن ورځ

اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿١٧﴾ وَاَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْاٰزِفَةِ اِذِ الْقُلُوْبُ

بیشکه الله ﷻ ژر اخیستونکی دی دحساب ، او خبر واو روه دوی ته دهغه نږدی راتلونکی ورځ په کوم وخت

لَدَى الْحَنَاجِرِ كٰظِمِيْنَ ۭ مَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ حَمِيْمٍ وَّلَا شَفِيْعٍ

چی زړونه ورسیږي مربوته «دغم څخه» ولی کیدونکی ، هیڅوك نسته دګناګارانو دوست اونه سفارش کوونکی

يُّطَاعُ ﴿١٨﴾ يَعْلَمُ خَاۗىِٕنَةَ الْاَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُوْرُ ﴿١٩﴾ وَاللّٰهُ

چی خبره یی ومنل سی ، هغه پیژنی غلا دسترګو او هغه چی پټوی په سینو کی ، او الله ﷻ

يَقْضِيْ بِالْحَقِّ ۭ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَقْضُوْنَ

فیصله کوی په انصاف سره او کوم چی دوی بولی ما سوا دهغه څخه فیصله نه سی کولی

بِشَيْءٍ ۭ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴿٢٠﴾ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي

دهیڅ شی ، بیشکه الله ﷻ هغه دی اوریدونکی لیدونکی ، آیا دوی نه ګرځی په

الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ كَانُوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ

مخکه کی چی وویني چی څنګه انجام سو دهغو چی وو دوی څخه مخکې،

Maktaba Tul Ishaat.com

كَانُوا هُمْ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَآثَارًا فِي الْأَرْضِ فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ

وه دوی زیات سخت د دوی څخه په زور کی اوپه ننبانو کی کوم چی یی پریښول په مخکه کی نو هغه ونیول الله

بِذُنُوبِهِمْ ۖ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِنَ اللَّهِ مِنْ وَاقٍ ﴿٢١﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانَتْ

دهغوی په ګناهونو او نه وو دوی لره ، دالله څخه څوك محفوظ کوونکی ، دا څکه چی دوی

تَأْتِيهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَكَفَرُوا فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ ۚ إِنَّهُ قَوِيٌّ

راغلی وو د دوی رسولان دښکاره ننبانو سره نو منکر سول پس ونیول هغه الله ، بیشکه هغه زور اوردی

شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٢٢﴾

سخت عذاب ورکوونکی

لنډتفسیر : هغه ذات دی کوم چی تاسی ته خپلی ننبانی (دقدرت) ښیی (چی تاسی په دی سره پرتوحید استدلال وکی) او (هغه دی کوم چی) دآسمان څخه ستاسی دپاره رزق رالیږی (یعنی باران رالیږی په کوم سره چی رزق پیداکیږی دامن جمله دذکر سوو ننبانو څخه ده) او (په دی ننبانو سره) صرف هغه سړی نصیحت قبلوی کوم چی (دخدای طرف ته د) رجوع (کولو اراده) کوی (څکه چی درجوع په اراده سره فکر اوتامل نصیب کیږی په دی سره حق ته رسیدل کیږی) نو (کله چی په توحید دلیلونه قائم دی نو) تاسی خلک خدای ﷻ دخالصی عقیدی سره (یعنی دتوحید سره) بولی (او مسلمانان سی) که څه هم پرکافرانو دا بده لګیږی (دهغو پرواه څکه چی) هغه رفیع الدرجات دی ، هغه دعرش مالك دی ، هغه په خپلو بندګانو کی په چاچی غواړی وحی یعنی خپل حکم رالیږی چی هغه (دوحی خاوند خلک) دجمع کیدو دورځی (یعنی دقیامت دورځی) څخه وبیروی په کومه ورځ چی ټول خلک (دخدای) په مخکی راموجود سی (چی) دهغوی خبره دخدای څخه پټه پاته نه سی ، نن ورځ دچاحکومت دی ، بس دالله ﷻ به وی چی یو (او) غالب دی ، نن به هرسړی ته دهغه دکړو (کارونو) بدله ورکول کیږی نن (به په چا) ظلم نه وی هیڅ ، الله ﷻ ډیر ژرحساب اخستونکی دی او (په دی وجه) تاسی دیوی نژدی راتلونکی ورځی دمصیبت څخه (یعنی دقیامت څخه) بیروی کوم وخت چی زړونه خولی ته راسی (دغم څخه به) ویل کیږی (په دغه ورځ) دظالمانو (یعنی کافرانو) به نه څوك دزړه دوست اونه څوك سفارشی وی چی دهغه خبره ومنل سی (او) هغه (داسی دی چی) دسترګو غلاپیژنی اوهغه (خبری) هم کوم چی په سینوکی پټی دی (چی بل نه په پوهیږی ، مطلب دا دی چی هغه دبندګانو په ټولو ښکاره اوپټو عملونو خبردار دی په کوموچی جزا او سزا موقوفه ده) اوالله ﷻ به صحیح صحیح فیصله وکی او دخدای څخه ماسوا کوم چی دا خلک بولی هغه په هیڅ ډول هم فیصله نه سی کولی (څکه چی) الله ﷻ په هرڅه پوه هرڅه لیدونکی دی (دغه شان الله ﷻ په ټولو صفتونو دکمال موصوف او د دروغو معبودان دهرڅه څخه عاری دی په دی وجه فیصله

Maktaba Tul Ishaat.com

دخدای ﷻ څخه ماسوا دهیچا په وس کی نه ده او دا خلګ کوم چی ددی واضحو دلیلونو څخه وروسته هم انکارکوی نو ایاداخلګ په ملك کی نه دی ګرځیدلی ، نه یی دی لیدلی چی کوم (کافران) خلګ د دوی څخه مخکی تیرسوی دی (دهغوی دکفر په وجه) دهغوی څه انجام سو چی هغه خلګ په قوت اوهغو ننبانوکی کوم چی یی په مخکه پرپینبی دی (لکه ابادی باغونه وغیره کی) ددی (موجوده) خلګو څخه ډیر زیات وه نو د دوی دګناهونو په وجه سره خدای دوی ونیول (یعنی عذاب یی په نازل کی) او د دوی دخدای څخه محفوظ کوونکی هیڅوك ونه سو (مخ ته د دوی دګناهونو تفصیل دی چی) دا د دوی مواخذه په دی وجه وسوه چی دوی ته د دوی رسولان دواضحو دلیلونو (یعنی معجزو کوم چی دنبوت دلیلو نه وی) سره راغلل بیا هغوی ونه منله نو الله ﷻ په دی مواخذه وفرمایله ، بیشکه هغه لوی قوت والا ، سخت سزا ورکوونکی دی (کله چی په دی موجوده کافرانو کی هم دغه موجبات دعذاب جمع دی نو دوی دمواخذی څخه څنګه محفوظ کیدی سی)

معلومات اومسئلي : رَفِيعُ الدَّرَجٰتِ : د درجاتو څخه مراد څینی حضراتو صفتونه مقرر کړی دی چی په دی سره د ، رفیع الدرجات، معنی سوه، رفیع الصفات، یعنی دهغه صفتونه دکمال دټولو څخه زیات رفیع الشان دی ، ابن کثیر دا په خپل ظاهر باندی مقررکړی دی او دا معنی یی کړې ده چی ددی څخه مراد دعرش عظیم درفعت بیان دی چی هغه په ټولو مخکو اوآسمانونو حاوی اودټولو څخه لوړ پر منزله دجت باندی بلند دی ، لکه چی دسورة معارج په آیت کی دی ، مِنَ اللهِ ذِي الْمَعَارِجِ (٣) تَعْرُجُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ : دابن کثیر تحقیق ددی آیت په حفنه دا هم دی چی دا دپنځوس زرو کالو مقدار دهغه مسافت بیان دی کوم چی داوومی مخکی څخه ترعرشه پوری دی او دا یی دمخکی او وروسته دیولوی جماعت په نزد راجح ګرځولی دی او بیان یی کړی دی چی دډیرو عالمانو په نزد عرش رحمٰن دَیو سور یاقوت څخه جوړ دی چی قطر یی دومره لوی دی چی هغه دپنځوسو زرو کالو مسافه ده ، دغه شان دده لوړوالی داوومی مخکی څخه دپنځوسو زروکالوپه مسافت دی اوځینی مفسرین حضرات فرمایی چی ، رَفِيعُ الدَّرَجَاتِ : په معنی د ، رَافِعُ الدَّرَجَاتِ : دی ، یعنی الله ﷻ دمومنانو متقیانو درجی لوړونکی دی، لکه چی دقرآن کریم آیت په دی شاهددی ، نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَنْ نَشَاءُ : او ، هم ، دَرَجٰتٍ عِنْدَ اللهِ يَوْمَ هُمْ بَارِزُونَ لَا يَخْفَى عَلَى اللهِ مِنْهُمْ : دبَارِزُوْنَ څخه مراد دا دی چی دحشر دمیدان مخکه به چونکه یوه برابره سطحه جوړه سی چی په کومه کی به څه غَرْ یاغار یا ابادی او درخته نه وی چی څوك څینی پناه سی په دی وجه ټول به په ډاګ میدان کی مخامخ وی .

لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ : دا کلمه په ذکر سوی آیت ، دَيَوْمَ التَّلَاقِ اويَوْمَ هُمْ بَارِزُوْنَ : څخه وروسته راغلی ده او دا ظاهره ده چی يَوْمَ التَّلَاقِ، دَملاقات اواجتماع ورځ به د دوهمی شپیلی څخه وروسته وی ، دغه ډول دَيَوْمَ هُمْ بَارِزُوْنَ واقعه به هغه وخت وی کله چی د دوهمی شپیلی څخه وروسته نوی مخکه دیوی هواری سطح په صورت کی جوړه سی چی څه غَرْ، پناه به په کی نه وی ، ددی څخه (ددی کلمی دراوړلو څخه) په ظاهره دا معلومیږی چی دالله ﷻ دا ارشاد به د دوهمی شپیلی څخه وروسته چی ټول مخلوق دوباره پیدا سی

Maktaba Tul Ishaat.com

وی به ، ددی په تائید کی قرطبی یو حدیث په حواله دنحاس پیش کړی دی کوم چی ابو وائل دحضرت عبد الله ابن مسعود ﷺ څخه روایت کړی دی ، هغه دا چی ټول انسانان به په یوه صفا مخکه جمع سی په کومه چې به چاڅه ګناه نه وی کړی ، دغه وخت به یو اواز کوونکی ته حکم وسی چی دا اواز به وکی ، لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ : یعنی نن دچاحکومت دی؟ په دی به ټول مخلوقات مومنان اوکافران دا جواب ورکی چې لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ: مومنان خوبه دخپل اعتقادمطابق دخوشحالی اوخوند په صورت کی ووایی او کافران به دمجبوری اوعاجزی په بنا په رنځ اوغم سره ددی اقرار وکی .

لیکن دنورو څینو روایتونو څخه معلومیږی چی دا ارشاد به حق تعالی په خپله هغه وخت وفرمایی کله چی داولی شپیلی څخه وروسته ټول مخلوقات فناسی اوبیامخصوصومقربوملائکوجبرائیل، میکائیل، اسرافیل اوملك الموت ته هم مرګ راسی اوماسوا دذات حق سبحانه تعالی څخه هیڅوك نه وی ، دغه وخت به حق تعالی وفرمایی ، لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ : اوچونکه دغه وخت به جواب ورکوونکی هیڅوك نه وی نوپه خپله به جواب ورکی ، لِلّٰهِ الْوَاحِدِالْقَهَّارِ: حضرت حسن بصری ﷺ فرمایی چی په دی کی سوال کوونکی اوجواب ورکوونکی صرف یواالله ﷻ دی ، دمحمدبن کعب قرظی هم دا قول دی او ددی تائید دحضرت ابو هریره ﷺ او ابن عمر ﷺ ددی حدیث څخه کیږی چی دقیامت په ورځ به الله ﷻ تولی مخکی په چپه لاس اوآسمانونه په راسته لاس کی راولغړی اووفرمایی ، اَنَا الْمَلِكُ اَيْنَ الْجَبَّارُوْنَ اَيْنَ الْمُتَكَبِّرُوْنَ یعنی زه بادشاه اومالك یم نن جبارین اومتکبرین چیری دی ، په تفسیر درمنثور کی دغه ډول دا دواړه روایتونه نقل سوی دی او ویل سوی دی چی کیدی سی دا کلمه دوه واره وویل سی . یو داولی شپیلی اوعالم دفناکیدوپه وخت کی په بیان القرآن کی فرمایی چی دقرآن کریم تفسیر په دی موقوف نه دی چی دوه واره مقررسی بلکه کیدی سی چی په ذکرسوو ایتونوکی دهغه واقعی ذکروی کومه چی داولی شپیلی څخه وروسته وی ، هغه پی داوخت حاضر فرض کړی وی اوکلمه یی فرمایلی وی ، والله تعالی اعلم

يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْاَعْيُنِ (یعنی اَلْاَعْيُنُ الْخَا ئِنَةَ) دخیانت دنظرڅخه مراد دا دی چی څوك دخلګو څخه په غلا داسی شی ته نظر وکی کوم چی دده دپاره حرام اوناجائز وی لکه چی غیر محرم ته په شهوت سره وګوری اوکله چی څوك ووینی نو نظر څینی واړه وی ، یا داسی نظر وکی چی یو لیدونکی محسوس نه کی ، دالله ﷻ په نزد دا ټول شیان ښکاره دی .

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۳﴾

او مونږ ولیږی موسی ﷺ دخپلو نښانو اوښکاره سند سر ،

اِلٰى فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَقَارُوْنَ فَقَالُوْا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿۲٤﴾ فَلَمَّا

فرعون اوهامان اوقارون ته بیا هغو وویل چی دا جادو ګر دی درواغجن ، نو کله چی

جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوا اقْتُلُوْٓا اَبْنَآءَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

ورسیدی دوی ته دحقی خبری سره زمونږ دطرف څخه وې ویل مړه کړی د دوی زامن کومو چې یقین کړی دی

مَعَهٗ وَاسْتَحْيُوْا نِسَآءَهُمْ ؕ وَمَا كَيْدُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿٢٥﴾

دده سره او ژوندۍ پریږدی د دوی انجونې ، او تدبیر دمنکرانو په غلطی کې دی ،

وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُوْنِيْٓ اَقْتُلْ مُوْسٰى وَلْيَدْعُ رَبَّهٗ ۚ اِنِّيْٓ اَخَافُ

او وویل فرعون ماپریږدی چې مړ کړم موسی علیه السلام او دی دې خپل رب بولی ، زه بیریږم

اَنْ يُّبَدِّلَ دِيْنَكُمْ اَوْ اَنْ يُّظْهِرَ فِي الْاَرْضِ الْفَسَادَ ﴿٢٦﴾ وَقَالَ

چې وران به کړی ستاسی دین او یا به خور کړی په مځکه کې فساد ، او وویل

مُوْسٰٓى اِنِّيْ عُذْتُ بِرَبِّيْ وَرَبِّكُمْ مِّنْ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ لَّا يُؤْمِنُ

موسی علیه السلام زه پناه اخلم په خپل رب اوستاسی په رب دهر یوه متکبر څخه چې یقین نه کوی

بِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿٢٧﴾ ع وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ ۖ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ

په ورځ دحساب ، او وویل یو سړی ایمان دار دخلقو دفرعون څخه چې پټوی یی

اِيْمَانَهٗٓ اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّيَ اللّٰهُ وَقَدْ جَآءَكُمْ

خپل ایمان آیا وژنی یو سړی په دی خبره چې وایی رب الله دی او راوړی یی دی تاسی ته

بِالْبَيِّنٰتِ مِنْ رَّبِّكُمْ ؕ وَاِنْ يَّكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهٗ ۚ وَاِنْ

بښکاره ښبانی ستاسی د رب څخه ، او که دی درواغجن وی نو په ده به وی وبال د درواغو دده ، او که

يَّكُ صَادِقًا يُّصِبْكُمْ بَعْضُ الَّذِيْ يَعِدُكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ

ریښتنی وی ، نو وبه رسیږي تاسی ته څه هغه وعده چې تاسی سره یی کوی ، بیشکه الله لار نه ښیی

مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿٢٨﴾ يٰقَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ظٰهِرِيْنَ

هغه چا ته چې وی بی لحاظه درواغجن ، ای زما قومه ! نن ستاسی حکومت دی ، چې غلبه کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

فِي الْاَرْضِ فَمَنْ يَّنْصُرُنَا مِنْۢ بَاْسِ اللّٰهِ اِنْ جَآءَنَا ؕ قَالَ

په مخکه کی بیا به څوك مدد وکړی زمونږ دالله دعذاب څخه که راسی په مونږ ، وویل

فِرْعَوْنُ مَآ اُرِيْكُمْ اِلَّا مَآ اَرٰى وَمَآ اَهْدِيْكُمْ اِلَّا سَبِيْلَ

فرعون زه خو هغه خبره تاسی ته ښی یم کومه چی پیژنم او هغه لار درته ښی یم په کومه کی چی خیردی ،

الرَّشَادِ ﴿٢٩﴾ وَقَالَ الَّذِيْٓ اٰمَنَ يٰقَوْمِ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ مِّثْلَ

، او وویل هغه ایمان دار ای قومه زما ! زه بیریږم چی راسی په تاسی

يَوْمِ الْاَحْزَابِ ﴿٣٠﴾ مِثْلَ دَاْبِ قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ وَالَّذِيْنَ

ورځی د مخکی قومونو په شان ، لکه چی حال سو دقوم دنوح ﷺ اوعادیانو او ثمودیانو او کوم خلق چی

مِنْۢ بَعْدِهِمْ ؕ وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ ﴿٣١﴾ وَيٰقَوْمِ اِنِّيْٓ اَخَافُ

د دوی څخه وروسته وه ، او الله ﷻ بی انصافی نه غواړی په بندګانو باندی ، او ای قومه زما ! زه بیریږم

عَلَيْكُمْ يَوْمَ التَّنَادِ ﴿٣٢﴾ يَوْمَ تُوَلُّوْنَ مُدْبِرِيْنَ ۚ مَا لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ

په تاسی د ورځی دفریاد څخه ، په کومه ورځ چی به تښتی په شا باندی نه به وی تاسی لره هیڅوك دالله

مِنْ عَاصِمٍ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ

څخه محفوظ کوونکی، اوڅوك چی بی لاری کړی الله نو هیڅوك نسته هغه لره په لار کوونکی، اوتاسی ته راغلی وو

يُوْسُفُ مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُمْ بِهٖ ؕ

یوسف ﷺ دډې څخه مخکې په ښکاره دلیلونو سره ، بیاتاسی همیشه واست په دوکه کی دهغه څخه چی هغه راوړی تاسی ته .

حَتّٰٓى اِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا ؕ كَذٰلِكَ

تردی چی هرکله هغه مړسو نو تاسی ووایل چی هرګز به را ونه لیږي الله دده څخه وروسته یو رسول ، دغه شان

يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابُ ﴿٣٤﴾ ۖ الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ

الله بی لاری کوی هغه څوك چی وی بی باکه شك کوونکی ، هغه کوم چی جګړی کوی

اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ؕ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ

دالله ﷻ په خبرو کی بغیر دځه سند څخه کوم چی رسیدلی وی ده ته لویه بیزاری ده دالله ﷻ په نزد او دایمانداروپه نزد

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿٣٥﴾

دارنګه مهر وهی الله ﷻ په زړه دهر یوه متکبره سرکښه ،

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰهَامٰنُ ابْنِ لِيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَبْلُغُ الْاَسْبَابَ ﴿٣٦﴾

او وویل فرعون چی ای هامانه ! جوړ کړه زما دپاره یو جګ محل شاید زه ورسیږم په لارو کی

اَسْبَابَ السَّمٰوٰتِ فَاَطَّلِعَ اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ كَاذِبًا ؕ وَكَذٰلِكَ

په لارو داسمانونو کی بیا وګورم دموسی ﷺ معبود او زما په ګمان خو هغه درواغجن دی اودارنګه

زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَصُدَّ عَنِ السَّبِيْلِ ؕ وَمَا كَيْدُ

ښائسته سوی وو فرعون ته دده بدکار او منع سوی وو دسیده لاری څخه ، او دفرعون تدبیر وو

فِرْعَوْنَ اِلَّا فِيْ تَبَابٍ ﴿٣٧﴾ وَقَالَ الَّذِيْٓ اٰمَنَ يٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ

دتباه کیدو دپاره ، او وویل هغه ایماندار ! ای زما قومه ! زما تابعداری

اَهْدِكُمْ سَبِيْلَ الرَّشَادِ ﴿٣٨﴾ يٰقَوْمِ اِنَّمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا مَتَاعٌ ۫

وکړی زه به ورسوم تاسی نیکی لاری ته، ای زما قومه ! دا چی کوم ژوند دی ددنیا نو لږ نفع اخستل دی

وَّاِنَّ الْاٰخِرَةَ هِيَ دَارُ الْقَرَارِ ﴿٣٩﴾ مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا يُجْزٰٓى

او هغه کور دآخرت کور دقرار نیولو دی ، چا چی وکړه بدی نو هغه به بدله پیداکی

اِلَّا مِثْلَهَا ۚ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ

دهغه برابر ، او چا چی وکړه نیکی سړی وی او که ښځه او هغه مؤمن وی

فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ يُرْزَقُوْنَ فِيْهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٤٠﴾ وَ

نو هغه خلق به ځی جنت ته رزق به پیداکی هلته بی شمیره

Maktaba Tul Ishaat.com

يٰقَوْمِ مَا لِيْٓ اَدْعُوْكُمْ اِلَى النَّجٰوةِ وَتَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَى النَّارِ ﴿۴۱﴾

او ای زما قومه ! مالره څه سوی دی چی بولم تاسی نجات طرف ته اوتاسی ما بولی اور طرف ته ،

تَدْعُوْنَنِيْ لِاَكْفُرَ بِاللّٰهِ وَاُشْرِكَ بِهٖ مَا لَيْسَ لِيْ بِهٖ عِلْمٌ ۡ وَّاَنَا

تاسی بولی ما چی انکار وکړم دالله ﷻ څخه او شریك جوړ کړم دهغه دکوم چی ماته خبر نسته اوزه

اَدْعُوْكُمْ اِلَى الْعَزِيْزِ الْغَفَّارِ ﴿۴۲﴾ لَا جَرَمَ اَنَّمَا تَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَيْهِ لَيْسَ

بولم تاسی زبردست گناه بخښونکی طرف ته ، خامخا تاسی چی ما دچا طرف ته بولی نسته

لَهٗ دَعْوَةٌ فِي الدُّنْيَا وَلَا فِي الْاٰخِرَةِ وَاَنَّ مَرَدَّنَآ اِلَى اللّٰهِ وَاَنَّ

دهغه بلنه په دنیا کی او نه په آخرت کی او دا چی مونږ بیرته ورځو دالله طرف ته ، او

الْمُسْرِفِيْنَ هُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ ﴿۴۳﴾ فَسَتَذْكُرُوْنَ مَآ اَقُوْلُ لَكُمْ ۭ

دا چی زیاتی کوونکی به وی د دوزخ خلق ، نو ژر ده چی یاد به کړی څه چی زه تاسی ته وایم

وَاُفَوِّضُ اَمْرِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۴۴﴾ فَوَقٰىهُ

او زه سپارم خپل کار الله ته ، بیشکه دالله په نظر کی دی ټول بندگان ، نو محفوظ کی الله

اللّٰهُ سَيِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا وَحَاقَ بِاٰلِ فِرْعَوْنَ سُوْٓءُ الْعَذَابِ ﴿۴۵﴾

موسی ﷺ دبد تدبیر څخه چی هغو کوی او را غلی پر فرعونیانو باندی بد عذاب ،

اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ۚ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ ۣ قف

هغه اور دی چی پیش کیږي دغو ته سهار او مانښام ، او په کومه ورځ چی قایم سی قیامت

اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ الْعَذَابِ ﴿۴۶﴾

حکم به وسی چی دا خل کړی فرعونیان دسخت څخه سخت عذاب ته .

لنډتفسیر: اومونږ موسی ﷺ ته خپل احکام اوښکاره دلیلونه (یعنی معجزی) ورکړی ، فرعون اوهامان اوقارون ته مو ولیږی په هغو خلګو (کی څینو یا ټولو) وویل چی (نعوذ بالله) داجادوګر (او) درواغجن دی (جادوګر یی ورته په معجزوکی وویل او درواغجن یی په دعوه دنبوت او احکاموکی ورته وویل

Maktaba Tul Ishaat.com

داقول دفرعون ، هامان اوقارون درو سره طرف ته منسوب سوی دی ، مگر قارون چونکه په بنی اسرائیلو کی وو او په ظاهره یی په حضرت موسیٰ ﷺ ایمان درلودی ، دده هغه ته ساحر ویل په ظاهره څه مستبعد ډول نښکاری ، لیکن کیدی سی چی دی دغه وخت هم منافق وو اوپه حضرت موسیٰ ﷺ یی په ظاهره دایمان دعوه کوله حقیقت نه وه ، او دا هم ممکنه ده چی دا قول صرف دفرعون او دهامان وی تغلیبًا یی د درو سره وو طرف ته نسبت سوی وی) بیا (ددی څخه وروسته) کله چی هغه (عامو) خلګوته حق دین کوم چی زمونږ دطرف څخه وو راوړی (چی په دی ځینی خلګ مسلمانان هم سول) نو هغو (ذکر سوو) خلګو (په طور دمشورې) وویل چی کوم خلګ دده سره (سول او) ایمان یی راوړی دهغوی زامن قتل کی (چی جمعیت اوقوت یی زیات نه سی چی په دی سره بیره دزوال دسلطنت ده) او (چونکی دښځو څخه داسی بیره نسته او دارنګه زمونږ په کورونوکی دخدمت ګارانو دپاره ددغو ضرورت دی ، په دی وجه) دهغوی لونی ژوندی پریږدی (غرض دا چی هغوی دحضرت موسیٰ ﷺ دغلبی خطره محسوسه کړه دانسداد داتدبیر یی وکی) اودهغو کافرانو تدبیرمحض بی اثره سو (چنانچی په اخر کی حضرت موسیٰ ﷺ غالب سو ، دبنی اسرائیلو دتازه پیداسوو بچیانو دقتل حکم یو خو دحضرت موسیٰ ﷺ دپیدائش څخه مخکی ورکول سوی وو ، چی په نتیجه کی یی دحضرت موسیٰ ﷺ درياب ته دغورځولو نوبت راغی اوقدرت دغه بچی په خپله دفرعون په کورکی په دوی وپالی ، دا دوهمه فیصله ددغو هلکانو دقتلولو دحضرت موسیٰ ﷺ دپیدائش اونبوت څخه وروسته دهغه وخت ده کله چی دده معجزات یی ولیدل نو فرعونیانو دا خطره محسوسه کړه چی دده ډله زیاته سی نو زمونږ دسلطنت خیرنسته ، بیامی دا په یو روایت کی دنظر څخه نه دی تیر سوی چی دغه وخت دبچیانو دقتل دا قانون نافذ سو اوکه نه بیا ددی څخه وروسته دحضرت موسیٰ ﷺ دقتلولو خبری شروع سوی) او فرعون (ددربار خلګوته) وویل چی ماپریږدی زه (حضرت) موسیٰ ﷺ قتلوم اوده ته په کار دی چی خپل رب (دمدد دپاره) راوبولی زما بیره ده چی هغه (کله) ستاسی دین بدل (نه) کړی یاپه ملك کی څه فساد ونه (غورځوی) چی یو ضرر ددین دی او دوهم ضرر ددنیا او دفرعون دا وینا چی ماپریږدی یاپه دی وجه سره ده چی درباریانو شاید په دی وجه دقتل رایه نه وی ورکړی چی دایی دملك دمصلحت خلاف ګڼلی وی چی عامه آوازه به وسی چی دیو بی سر اوسامانه سړی څخه وبیریدی اویا دا وینا په طور دتمویه ده چی عام اوریدونکی دا وګڼی چی تر اوسه دده په قتل کی تاخیر دمشیرانو دمنع کولو په سبب سره وسو ، که څه هم په واقع کی په قتل باندی په خپله ده جرات نه سو کولی څکه چی په زړه کی خو په معجزاتو باندی دده یقین راغلی وو ، په دی وجه دده سره بیره وه چی که دی می قتل کی نو په څه اسمانی عذاب اوبلا کی به ګرفتار سم مګر خپل خون یی د درباریانو په سر داچولو دپاره داسی وویل ، دغه ډول وَلْيَدْعُ رَبَّهُ ویل یی هم په خلګو دخپلی بهادری نښکاره کولو دپاره وو ، که څه هم دننه په زړه کی رپیدی) اوموسیٰ (ﷺ چی داخبره واوریده برابره خبره ده که مخامخ یی اوریدلی وی یا بالواسطه نو دوی) وویل چی زه دخپل اوستاسی (یعنی ټولو) درب پناه غواړم دهر خر دماغه سړی (دَشر) څخه کوم چی په ورځ دحساب یقین نه لری (او په دی وجه دحق مقابله کوی) او (په دغه دمشورې مجلس کی یو) مومن سړی کوم چی دفرعون دخاندان څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

وو (او تر اوسه یی) خپل ایمان پټ ساتلی وو (دا مشوره واوریده اوخلګو ته یی) وویل چی ایا تاسی
داسی سړی (محض) په دی خبره باندی قتل کوی چی هغه وایی چی زما پروردګار الله دی ، حال دا دی
چی هغه ستاسی درب دطرف څخه (په دی دعوی باندی) دلیلونه (هم) راوړی دی (یعنی معجزی هم ښیی
کوم چی دلیل دی دصدق ددعوی دنبوت اوددلیل دموجودګی باوجود دصاحب دلیل مخالفت کول
اومخالفت هم دداسی درجی چی دقتل قصد یی وسی (دیر نازیبا حرکت دی) اوکه چیری (بالفرض) هغه
درواغجن وی نو وبال به یی په هغه راځی (او په خپله به دالله ﷻ دطرف څخه رسوا سی دقتلولو څه
ضرورت دی) اوکه هغه رښتنی وی نوهغه چی څه پیښ ګویی کوی (چی دایمان نه راوړلو په صورت کی
به داسی داسی عذاب وی) دهغه څخه به څه په تاسی (خامخا) راسی (نو په دی صورت کی دقتل کولو
څخه نوره زیاته بلا په خپل سر اخستل دی غرض دده د درواغجن والی په صورت کی قتل فضول او
دربښتوالی په صورت مضر دی ، بیا داسی کارولی کولی سی اوقاعده کلیه ده چی) بیشکه الله ﷻ
داسی سړی مقصود ته نه رسوی کوم چی د (خپل) حدځخه تیریدونکی (او) دیر دروغ ویونکی وی (یعنی
که ترلږ وخته پوری دده خبره وچلیږی نوممکنه ده مګر اخر دده ناکامی یقینی ده ، نو ددی قاعدی کلیی
په اعتبار سره که چیری موسی ﷺ بالفرض درواغجن وی نو په دی وجه چی په درواغ دنبوت دعوی کول
لویه ګناه ده اوسخت جرات دی ، په داسی درواغجن که قهر ونه سی اوهلاک نه سی نو مخلوق په خپله
په اشتباه او التباس کی مبتلا کول لازمیږی اودا عقلاً دالله ﷻ څخه نه سی کیدی ، په دی وجه ضروری
ده چی دی مغلوب اورسوا سی ، بیاحاجت دقتلولو څه دی اوکه ربښتینی وی نوتاسی خلګ بیایقینی
درواغ جنان یاست اوپه دروغوکی بیا اسراف کوونکی هم یاست چی دفرعون دخدایی دعویدار یاست
او اسراف کوونکی درواغجن کامیابیږی نه ، نوتاسی به په قتل کی کامیاب نه سی یا خو به قدرت بیانه
کی پیدا یابه اخر نتیجه برابره وی ، په هر حال د دواړو ارخونو مقتضی دا سوه چی دی قتل نه سی اوپه
دی دا شبهه نه سی کیدی چی په دی سره خو لازمیږی چی هیڅکله مفسد قتل نه سی ، جواب دا دی چی
دا تقریر په هغه صورت کی دی کوم ځای چی په درواغجن یاصادق کیدو کی شبهه وی اوپه معجزو سره
خوکومه درجه احتمال دصدق ضرور وو اوکوم ځای چی په قطعی دلیلونو سره کذب یقینی وی ، هلته
داسی نه وی اوکه څه هم دی مومن ته دحضرت موسی ﷺ دصدق پوره یقین وو ، مګر په دی طرز سره
خبری کول دخلګو دطبیعت په رعایت سره وو چی دوی فکر کولو ته تیار سی مخ ته هم ددی قتل څخه
دمنع کولو متعلق دی چی) ای زما ورونوا نن خو ستاسی حکومت دی چی په دی مځکه کی تاسی
حاکمان یاست نو دخدای په عذاب کی به زمونږ څوك مدد وکی که چیری (دده په قتل کولوسره) هغه په
مونږ راسی (لکه چی دده دربښتنی کیدو په صورت کی ددی احتمال سته) فرعون (چی داتقریر واوریدی
نو په جواب کی یی) وویل چی زه خو تاسی ته هغه رایه درکوم په کوم چی زه په خپل پوه یم (چی دده قتل
مناسب دی) او زه تاسی ته عین دمصلحت لار ښیم او دی مومن (کله چی ولیدل چی په نصیحت کی نرمی
او رعایت په مخاطب اثر ونه کی نو ده دښودنی اوبیرولو څخه یی کار واخستی او) و (یی) ویل چی
ملګرو! زه خو په تاسی دنورو امتونو په شان دبدی ورځی څخه بیریږم لکه چی دقوم دنوح اوعاد اوثمود

Maktaba Tul Ishaat.com

او د دوی څخه دوروسته (یعنی قوم دلوط وغیره) حال سوی وو او الله ﷻ خو پربندګانو باندی هیڅ قسم ظلم کول نه غواړی (لیکن کله چې تاسی داسی حرکتونه وکړل نو خامخا به خپلی سزا ته رسیږی) او (دا بیرول وو ددنیا دعذاب څخه مخ ته بیرول دی داخرت دعذاب څخه چې) صاحبانو! زما سره خوستاسی په باره کی دهغه ورځ بیره ده په کومه کی چې به ډیری چیغی وی (یعنی دغه ورځ مشتمله ده پرعظیمو واقعاتو څکه چې دچیغو ډیروالی یعنی یو اوبل ته آوازونه کول دواقعاتو دعظیموالی په وجه باندی وی چنانچې دټولو څخه اول اواز به دشپیلی وهلو وی چې په دی سره به مړی ژوندی کیږی ، الله ﷻ فرمایی ، يَوْمَ يُنَادِ الْمُنَادِ مِنْ مَكَانٍ قَرِيبٍ يَوْمَ يَسْمَعُونَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ : یوه یوه نداء به دحساب دپاره وی ، الله ﷻ فرمایی ، يَوْمَ نَدْعُوا كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ : یو اوازونه یعنی یوبل ته اوازونه کول به دجنتیانو اودوزخیانو وی الله ﷻ فرمایی ، وَنَادَى أَصْحَابُ الْجَنَّةِ الخ وَنَادَى أَصْحَابُ الْأَعْرَافِ الخ وَنَادَى أَصْحَابُ النَّارِ: یو اوازونه بد په اخیر کی دمرګ په شکل دپسه دذبح کولو په وخت کی وی لکه چې په حدیث کی دی ، يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ خُلُودٌ لَا مَوْتَ ، وَيَا أَهْلَ النَّارِ خُلُودٌ لَا مَوْتَ : اومخ ته یی ددغه ورځی یو حالت بیان کړی دی چې یا کومه ورځ (دموقف دحساب څخه) په شا (دورځ ته) بیرته ولاړسی (لکه چې داسی تفسیر کړی دی بغوی رحمه الله او دغه وخت) به تاسی ته دخدای (دعذاب) څخه هیڅوک محفوظ کوونکی نه وی (او ددی مضمون تقاضا دهدایت قبلول دی لیکن) څوک چې خدای ګمراه کړی هغه ته څوک هدایت کوونکی نسته او (مخ ته زور نه او خبرداری دی په دی چې دموسی ﷺ څخه مخکی دیو بل پیغمبر تکذیب هم تاسی کړی دی یعنی) ددی څخه مخکی تاسی خلګوته یوسف ﷺ دلیلونه (دتوحید او نبوت) راوړی وه (یعنی په دی قبطی قوم کی چې تاسی په کی هم یاست اودتیرو پلرونو نیکه ګانو څخه تاسی ته هم دهغوی خبر متواتر رارسیدلی دی) نو تاسی په هغوکارونو کی هم برابر شك (اوانکار) کوی کوم چې هغوی تاسی ته راوړی وو تردی چې کله دهغوی وفات وسو نو تاسی وویل چې بس اوس به الله ﷻ یو رسول راونه لیږی (دا قول په طور دشرارت وو ، مطلب دا چې اول خو یوسف ﷺ هم رسول نه وو اوکه بالفرض وو هم نوکله چې مونږ یو هم ونه منی نوالله ﷻ به وایی چې دبل دلیږلو څه فائده ده نو دهمیشه دپاره دا جګړه پاکه سوه ، مقصود اصلی ددی څخه نفی دمسئلی درسالت دی لکه چې دمخ ته قول څخه معلومیږی چې څنګه په دی مسئله کی تاسی غلط کار یاست) دغه رکم الله ﷻ دحد څخه تجاوز کوونکی (اوپه) شبهاتوکی ګرفتار کیدونکی په غلطی کی غورځولی ساتی کوم چې بغیر دسندځخه چې د دوی سره موجود وی ، دخدای په ایتونوکی جګړی راباسی ، په دی (کږوبحثونو) سره دخدای ﷻ لوی نفرت دی او دمومنانو هم او(څنګه چې ستاسی په زړونو باندی مهر لګیدلی دی) دغه ډول الله ﷻ دهر مغرور جابر په پوره زور باندی مهرلګوی (چې بالکل په کی دحق دپوهیدو ګنجائش نه پاته کیږی ، دا تقریر وو دهغه مومن بزرګ کوم چې دفرعون دخاندان څخه وو او لا تراوسه یی دایمان اظهار نه وو کړی ، او په دی تقریر سره دغه بزرګ ایمان پټول ختم سول برابره خبره ده که په اول تقریر سره وی یا په وروسته تقریر سره یعنی ، يَا قَوْمِ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ مِثْلَ يَوْمِ الْأَحْزَابِ اوظاهر شق اول دی په وجه ددی قول دالله ﷻ ، وَلَقَدْ جَاءَكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ الخ

Maktaba Tul Ishaat.com

اوفرعون (چې لاجوابه تقرير واوريدی نو دغه مومن ته يې هيڅ جواب ورنه کول سو، په خپل پخوانی جهالت باندی په خپل خيال سره دحجت قائمولو دپاره يې هامان ته) وويل ای هامانه! زما دپاره يوه لوړه ابادی جوړه کړه (چې زه هغه ته وخيژم وگورم) شايد زه آسمان ته دتلو لارو ته ورسيږم بيا (هلته ولاړ سم) دموسیٰ ﷺ خدای ووينم وگورم اوزه خوموسیٰ (ﷺ په دی دعویٰ کې) دروغجن گڼم (مخ ته دفرعون دزياتی بدکرداری ذکر دی) او دغه شان دفرعون (نور) بدعملونه (هم) ده ته ښائسته معلوميدل اودَ (سيده) لاری څخه منع سو، او (دَحضرت موسیٰ ﷺ دمقابلی دپاره يې لوی تدبيرونه وکړل مگر) دفرعون هر تدبير ناکامه سو (چې دی په کی کامياب نه سو) اودی مومن (کله چې وليدل چې دفرعون څخه څه معقول جواب جوړ نه سو نو بيا يې دوباره) وويل چې ای وړونو! تاسی زما په لار راځی تاسی ته صحيح صحيح لاره ښيم (يعنی فرعون چې کوم داسی ويلی وه چې زه تاسی ته دسبيل الرشاد طرف ته ښوونه کوم، دهغه ښول سوی لارهيڅکله سبيل الرشاديعنی دَهدايت لارنه ده، بلکه سبيل الرشاد زما دانبوول سوی لاره ده) ای وړونو دا ددنيا ژوند محضی يو خو ورځی دی او (اصل) دپاته کيدو مقام خو اخرت دی (کوم ځای چې دبدلی ورکولو داقانون دی چې) کوم سړی گناه کوی نو ده ته به برابر دگناه بدله ورکول کيږی اوکوم چې نيک کارکوی برابره خبره ده که سړی وی اوکه ښځه په دی شرط چې مومنان وی، داسی خلګ به جنت ځی (او) هلته به دوی ته بی حسابه رزق ورکول کيږی او (ددی تقريرپه وخت کی دی دفرعون دخاندان مومن ته دا خبره محسوسه سوه چې داخلګ زماپه خبرو تعجب کوی اوزما دخبری دمنلو په ځای مادخپل کفر طرف ته بلل غواړی، په دی وجه دايی هم وويل چې) ای زما وړونو داڅه خبره ده چې زه تاسی (لاری) دنجات طرف ته بولم اوتاسی (می لاری دَ) دوړخ طرف ته بولی (يعنی) تاسی ما دهغه خبری طرف ته بولی چې (معاذ الله) زه په خدای باندی کفر وکړم او داسی شی دهغه سره شريک کوم دکوم چې (دَشرکت) زماسره څه دليل نسته او زه تاسی دخدای زبردست خطا بخښونکی طرف ته بولم، يقينی خبره ده چې تاسی دکوم شی (دعبادت) طرف ته بولی هغه نه په دنيا کی (دڅه دنيوی حاجت دپاره) دَبلنی لائق دی اونه (دَعذاب دفع کولو دپاره) په اخرت کی (اويقينی خبره ده چې) کوم خلګ ددائری (دعبادت) څخه روزی (لکه دغير الله عبادت کوونکی) دغه ټول به دوړخيان وی نو (اوس خو زما خبره ستاسی پرزړه نه لګيږی مگر) مخ ته به تاسی زما خبره يادوی او (چونکی دی مومن ته دا احتمال دمخکی څخه وو چې داخلګ به په دی نصيحت زما خلاف سی اوتکليف به راورسوی اوممکنه ده چې دغه وخت څه ننبانی اوعلامی داخطار هم دهغوی دطرف څخه مخ ته راغلی وی، په دی وجه يې داهم وويل چې) زه خپله معامله دالله ﷻ طرف ته سپارم الله ﷻ دَټولو بندګانو (په خپله) نګران دی (زه ستاسی څخه بالکل نه بيريږم) بيا الله ﷻ دی (مومن) دهغوی دناکاره تدبيرونو څخه محفوظ وساتی (چنانچې هغه دهغو دضررونو څخه محفوظ سو اودحضرت قتاده رحمه الله دقول مطابق دی هم دَحضرت موسیٰ ﷺ سره دغرقيدو څخه محفوظ سو، لکه چې داسی په درمنثور کی دی) اوپه کومه ورځ چې قيامت قايم سی (حکم به وسی) چې فرعون والا (سره دفرعونه) په ډير سخت عذاب کی داخل کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلي

(دآلِ فرعون مومن)

لورځای په ځای دتوحید او رسالت منکرانو ته دعذاب اوتهدید په ضمن کی دکفاروخلاف اوعناد ذکر سوی دی چی په دی سره په طبعی طورنبی کریم ﷺ ته غم اوخفګان کیدی د دوی دتسلی دپاره په دی ذکر سوو تقریبًا دوو رکوع ګانو کی دحضرت موسٰی علیه السلام اوفرعون قصه ذکرسوي ده په دی قصه کی یوه اوږده مکالمه دفرعون اودَفرعون دقوم سره دهغه بزرګ سړی ده کوم چی په خپله په ال فرعون کی وو او ددی باوجود یی دحضرت موسٰی علیه السلام معجزی ولیدی اوایمان یی پرراوړی وو ، مګر په مصلحت سره یی خپل ایمان تردغه وخت پوری پټ ساتلی وو ، ددی مکالمی په وخت کی دده دایمان هم حتمی اعلان وسو .

دتفسیر په امامانوکی مقاتل ، سدی اوحضرت حسن فرمایی چی دا دفرعون داکا زوی وو او دا هغه سړی وو کوم چی هغه وخت کله چی دقبطی دقتل په واقعه کی دده دقصاص په طور دحضرت موسٰی علیه السلام دقتللو مشوره دفرعون په دربار کی کیده نو دی دښار دیوی غاړی څخه په منډه راغی اوحضرت موسٰی علیه السلام یی خبرکی اومشوره یی ورکړه چی دمصرڅخه دباندی ولاړسه چی واقعه یی په سورة قصص کی حق تعالی بیان فرمایلی ده . وَجَاءَ رَجُلٌ مِنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ يَسْعٰى : ددی آلِ فرعون دمومن نوم ځینوحبیب بنوولی دی ، مګر صحیح دا ده چی حبیب دهغه سړی نوم دی دکوم قصه چی په سورة یٰس کی راغلی ده ، دده نوم شمعان دی ، سهیلی دا نوم زیات صحیح مقرر کړی دی اونورو حضراتو دده نوم حزقیل بنوولی دی ، ثعلبی دحضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه دا قول نقل کړی دی ، په یوحدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی صدیقین څو تنه دی ، یوحبیب نجار چی قصه یی په سورة یٰس کی ده ، دوهم مومن دالِ فرعون ، دریم ابوبکر رضی الله عنه او دا په دی ټولو کی افضل دی (قرطبی)

يَكْتُمُ إِيمَانَهُ : ددی څخه معلومه سوه چی یو سړی که دخلګو په مخکی دخپل ایمان اظهار نه کوی اوپه زړه سره پخه اراده لری نو هغه مومن دی مګر دصریحو نصوصو څخه داثابته ده چی دایمان دمقبولیدو دپاره صرف دزړه یقین کافی نه دی ، بلکه په ژبه سره اقرار کول شرط دی، ترڅو چی په ژبه سره اقرار ونه کړی ، مومن به نه وی ، البته دژبی اقرار دخلګو په مخکی په اعلان سره کول ضروری نه دی ، ددی ضرورت صرف په دی وجه سره دی چی ترڅو پوری خلګو ته دده دایمان علم ونه سی هغوی به دده سره دَمسلمانانو په شان معامله نه سی کولی (قرطبی)

مُؤْمِنٌ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ : په دی مکالمه کی الِ فرعون اوفرعون په مختلفو عنواناتوسره ده دحق اوایمان طرف ته راوبلل اوهغه کوم چی دحضرت موسٰی علیه السلام په قتل پسی وه هغه یی ددې علیه السلام څخه لیری وساتل .

يَا قَوْمِ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ يَوْمَ التَّنَادِ: تَنَادٍ په کسره ددال مخفف دی دَتَنَادِيْ چی معنٰی یی ده ، یو بل ته په خپل مینځ کی اوازونه کول ، دقیامت ورځی ته يَوْمُ التَّنَادِ: ځکه وویل سول چی په دی ورځ به بی شمیره چیغی او اوازونه وی چی څه ذکر یی په لنډ تفسیر کی تیر سوی دی اودَحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کله دقیامت ورځ سی نو دالله ﷻ یو اواز کوونکی به اواز وکی چی دالله مخالف خلګ دی ودریږی ، ددی څخه مراد به هغه خلګ وی کومو چی دَتقدیر څخه انکار کوی او

Maktaba Tul Ishaat.com

بیابه جنتیان ، دوږخیانو ته اودوږخ والا جنتیانو ته اواصحاب اعراف دواړو ته اوازونه وکړی ، خپلی خپلی خبری به وکی اودغه وخت به دهرخوش نصیب اوبد نصیب نوم سره دولدیت څخه اخلی دهغه دنتیجی اعلان به کول کیږی چی فلانی زوی دفلانی خوش نصیب اوکامیاب سو ددی څخه وروسته دده دبدنصیبی هیڅ احتمال نسته اوفلانی زوی دفلانی بدبخت سو اوس دده دنیك بختی هیڅ احتمال نسته «رواه ابن ابی حاتم فی السنه، مظهری» په مسند بزار اوبیهقی کی دحضرت انس ﷺ د روایت څخه معلومیږی چی دا دخوش بختی اوبدبختی اعلان به دوزن دعملونو څخه وروسته وی .

او دحضرت ابوحازم اعرج ﷺ څخه روایت دی چی ده به خپل نفس مخاطب کوی اوفرمایل به یی چی ای اعرج ! دقیامت په ورځ به اواز وسی چی فلانی قسم گناه کوونکی دی ودریږی نو ته به د دوی سره ودریږی ، بیا به اواز وسی چی دفلانی قسم گناه کوونکی دی ودریږی نو ته به د دوی سره هم ودریږی بیا به اواز وسی چی دفلانی قسم گناه کوونکی دی ودریږی ته به د دوی سره هم ودریږی او زه داگنم چی دهری گناه داعلان په وخت کی به ستادهغو سره دریدل وی ځکه چی تاهرقسم گناهونه جمع کړی دی «اخرجه ، ابو نعیم، مظهری»

يَوْمَ تُوَلُّوْنَ مُدْبِرِيْنَ : یعنی هرکله چی تاسی په شا باندی بیرته بیول کیږی ، په لنډ تفسیرکی په حواله دامام بغوی دا معنی بیان سوې ده چی دا دهغه حالت بیان دی کله چی مجرمان دموقف حساب څخه دجهنم طرف ته بیول کیږی ، ددی مطلب دا دی چی اول به دا اوازونه اواعلانات دکومو ذکر چی يَوْمُ التَّنَادِ په تفسیر کی تیر سوی دی ، دغه ټول وسی ، ددی څخه وروسته به دغه خلگ دحساب دموقف څخه بیرته راسی او دجهنم طرف ته به ولاړ سی ، او دځینو مفسرینو حضراتو په نزد دا حال په دنیاکی داولی شپیلی دوخت بیان سوی دی چی کله اول شپیلی ووهل سی اومخکه څیری سی نو دا خلگ به یوی خوا اوبلی خواته څغلی ، مگر هرطرف ته به ملائکی ولاړی وی دوتو لار به نه وی ، ددی حضراتو په نزد د ، يَوْمَ التَّنَادِ څخه مراد هم داولی شپیلی وخت دی ، چی په دی کی به هر طرف ته چیغی وی ، دایت د دوهم قرآنت څخه ددی تائید کیږی کوم چی دحضرت ابن عباس ﷺ اوضحاك څخه منقول دی چی، يَوْمُ التَّنَادِّ به یی په دال مشدد وایه کوم چی دَ، ندّ، مصدر څخه مشتق دی چې معنی یی دتښتیدو ده، نو د، يَوْمَ التَّنَادِ معنی هم دتفسیر په اعتبار سره دتښتیدو ورځ سوه او تُوَلُّوْنَ مُدْبِرِيْنَ : ددی تشریح سوه .

په تفسیر مظهری کی یو اوږدحدیث په حواله دابن جریر اومسند ابویعلی اوبیهقی اومسند عبدبن حمید وغیره دحضرت ابوهریره ﷺ څخه نقل کړی دی چی په دی کی دقیامت دورځی ددری شپیلیو ذکر دی ، اوله شپیلی به دفزع ، دوهمه دَصَعِق او دریمه دنشر، په نفخه فزع سره به په ټول مخلوق کی بیره او اضطراب پیداسی ، دا نفخه به نوره اوږده سی چی نفخه صعق به جوړه سی چی ټول به بی هوښه سی ، بیا به مړه سی ، په عام طور سره ددی دواړو نفخو مجموعی ته نفخه اولی ویل سوې ده چی ددی وجه ظاهره ده چی دا دیوی شپیلی په وخت کی به دوه حالتونه وی ، اول فزع ، دوهم صعق ، په دی حدیث کی هم دنفخه فزع په وخت کی دخلگو دهاخوا دبخواته دتښتیدو ذکرکوی اودا فرمایی چی ، وَهُوَ الَّذِيْ يَقُوْلُ اللّٰهُ يَوْمَ التَّنَادِ ددې څخه معلومه سوه چی په آیت کی د: يَوْمُ التَّنَادِ، څخه مراد داولی شپیلی په وخت کی

Maktaba Tul Ishaat.com

دخلګو په اضطراب سره یوی خوا اوبلی خواته ځفستل دی ، والله سبحانه تعالی اعلم

كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ اللهُ عَلَىٰ كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ : یعنی لکه څنګه چی دفرعون اوهامان زړونه دموسی ﷺ او مومن الِ فرعون په نصیحتونو سره څه اثر قبول نه کی ، دغه ډول الله ﷻ مهر وهی په هر داسی زړه باندی کوم چی متکبر اوجباروی (متکبر، تکبرکوونکی اودجبار معنی ظالم قاتل) چی ددی اثر دا وی چی په دی کی دایمان نورنه دا خلیږی او دښه اوبد تمیز نه په کی پاته کیږی ، په دی آیت کی یی متکبر اوجبار دزړه صفت ګرځولی دی وجه داده چی دټولواخلاقواواعمالواوسرچینه زړه دی هرښه اوبدعمل دزړه څخه پیدا کیږی په دی وجه په حدیث کی فرمایی چی دانسان په بدن کی دغوښی یوه ټوټه (یعنی زړه) داسی دی چی دده په صحیح کیدو سره ټول بدن درست کیږی اوددې په خرابیدو سره ټول بدن خرابیږی (قرطبی)

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَا هَامَانُ ابْنِ لِي صَرْحًا لَعَلِّي أَبْلُغُ : معنی جګه ابادی ده ، ظاهر ددی دا دی چی فرعون خپل وزیر هامان ته حکم ورکی چی یوه داسی جګه ابادی جوړه کړه چی آسمان ته نژدی وی چی زه ور وخیژم ، خدای ﷻ وګورم ، دا احمقانه خیال کوم چی دیو ادنی پوهی سړی هم نه سی کولی یاخودمصر دحکومت دبادشاه فرعون واقعی دی چی دده دانتهایی بی عقلی اوحماقت دلیل دی اوکه وزیرهم په دی عمل وکی نو ، وزیر چنین شهر یاری چنین (یعنی چی داسی وزیران وی نو داسی به یی بادشاهان وی) مصداق دی ، مګر دیومشر دملك څخه هم دداسی احمقانه تصور امیدنه سی کیدی ، په دی وجه مفسرین حضرات وایی چی په دی خو دی په خپله هم پوه وو چی که هرڅومره لوړ مکان جوړسی خوآسمان ته نه سی رسیدی ، مګر دخپلو خلګو ته وقوفه جوړولو اوخان ښوولو دپاره یی داحرکت کړی وو ، بیاپه یوصحیح اوقوی روایت سره داثابته نه ده چی داسی څه لوړ او عالیشان محل یی جوړکی اوکه نه، قرطبی ﷺ نقل کړی دی چی دالوړه ابادی یی جوړه کړی وه کومه چی بلندی ته درسیدو سره ونړیده .

ددار العلوم دیوبند داولنی صدر مدرس مولانا محمد یعقوب صاحب خاص شاګرد زما والد ماجد مولانا محمد یٰسین صاحب دخپل استاذ موصوف څخه نقل کوی فرمایی ، چی ددغه لوړی مانی دنړولو دپاره ضروری نه ده چی څه اسمانی عذاب راغلی وی ، بلکه دهری ابادی بلندی دّدی دبنیادونو په تحمل سره موقوفه وی ، ده که هرڅومره ژور بنیادونه ایښی وی مګر تریو حده پوری یه ژور وه، هرکله چی په دی ابادی لوړیده نو لازمه وه چی کله دانسانانو دتحمل څخه زیاته سی نو ونړیږی ، په دی سره دفرعون اوهامان بله بی وقوفی ثابته سوه ، والله سبحانه وتعالی اعلم

فَسَتَذْكُرُونَ مَا أَقُولُ لَكُمْ وَأُفَوِّضُ أَمْرِي إِلَى اللهِ إِنَّ اللهَ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ : دا دالِ فرعون دمومن اخری خبره ده کومه چی یی خپل قوم ته حق ته دبلنی په سلسله کی کړې ده چی په دی کی اظهار دی چی نن خو تاسی زما خبره نه منی ، مګر کله چی عذاب تاسی ونیسی نو دغه وخت به تاسی ته زما خبره یاده سی ، مګر ددغه وخت یادیدل به بی کاره وی ، او اوس کله چی ددی اوږدی مکالمی اونصیحت اودعوت په ذریعه دآلِ فرعون ددی مومن ایمان دی خلګو ته ظاهر سو نوفکر سو ورسره چی اوس خوبه داخلګ په ده پسی سی په دی وجه یی وفرمایل چی زه خپله معامله الله ﷻ ته سپارم هغه دَخپلو بندګانو نګران اومحافظ دی ، دتفسیرامام مقاتل فرمایی چی دده دګمان مطابق دفرعون قوم په ده پسی سو نو دی دغره طرفه

Maktaba Tul Ishaat.com

وتښتیدی او د دوی په گرفت کی را نه غی چی ذکر یی په مخ ته آیت کی داسی راغلی دی.

فَوَقٰهُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا وَحَاقَ بِاٰلِ فِرْعَوْنَ سُوْٓءُ الْعَذَابِ : یعنی دی الله ﷻ دفرعون دقوم دبدو تدبیرونو دشر څخه محفوظ کی ، مگر پخپله دفرعون قوم په سخت عذاب کی ونیول سو ، مولا کریم دَال فرعون مومن په دنیا کی اول خو دَال فرعون دده خلاف دتدبیرونو څخه محفوظ کی چی تفصیل یی په قرآن کریم کی ذکر نه دی ، مگر دقرآن دالفاظو څخه دومره معلومیږی چی دده دقتلولو اوده ته دتکلیف رسولو دپاره قوم دفرعون ډیر تدبیرونه کړی وه اوبیا چی کله دفرعون قوم غرق سو نودی مومن بنده ته یی دموسیٰ علیه السلام سره نجات ورکی اوداٰخرت نجات خو ظاهردی.

اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ الْعَذَابِ : حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ ددی آیت په تفسیرکی فرمایی چی دَال فرعون روحونه دتورو مرغانو په شکل کی هره ورځ سهار اومابنام دوه واره جهنم ته وړاندی کیږی اوجهنم ورته ښیی او ورته وویل سی چی داستاسی ځای دی (اخرجه عبد الرزاق وابن ابی حاتم ، مظهری)

اوپه صحیحینو کی دحضرت عبدالله ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی هرکله په تاسی کی څوك مړسی نو په عالم برزخ کی سهار اومابنام هغه ته هغه مقام ښوول کیږی کوم ځای ته چی دقیامت دحساب څخه وروسته هلته دده رسول وی اودا مقام ورته ښیی روزانه ده ته ویل کیږی چی ته به اخر دی ځای ته رارسیږی که دا سړی په جنتیانوکی وی نو ده ته به دجنت مقام ښوول کیږی اوکه د دوزخیانو څخه وی نو د دوزخ مقام ورته ښوول کیږی.

دقبر عذاب: دا ایت دلیل دی په عذاب دقبر او دمتواترو احادیثو روایتونه اواجماع دامت په دی شاهد دی ، کوم چی احقر په یوه مستقله رساله په نوم دَ، السیر بعذاب القبر، کی جمع کړی دی ، دا رساله په احکام القرآن حزب سادس کی په عربی ژبه کی شائع سوې ده.

وَاِذْ يَتَحَآجُّوْنَ فِي النَّارِ فَيَقُوْلُ الضُّعَفٰٓؤُا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا

او هرکله چی به جګړه کوی په اور کی دننه نو وبه وایی کمزوری متکبرانو ته چی مونږ

كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا نَصِيْبًا مِّنَ النَّارِ ﴿۴۷﴾ قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا

دو ستاسی تابعدار نو آیا تاسی لیږی کولی سی زمونږ څخه څه حصه د اور، وبه وایی متکبران

اِنَّا كُلٌّ فِيْهَآ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ الْعِبَادِ ﴿۴۸﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ

مونږ ټول پراته یُو په دی کی بیشکه الله ﷻ فیصله کړی ده په بندګانو کی ، او وبه وایی کوم خلق چی

فِي النَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ادْعُوْا رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ

پراته وی په اورکی د دوزخ چوکیدارانوته وغواړی دخپل رب څخه چی سپک کړی په مونږ یوه ورځ لږ

الْعَذَابِ ﴿٤٩﴾ قَالُوْٓا اَوَلَمْ تَكُ تَاْتِيْكُمْ رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۭ قَالُوْا

عذاب ، هغوی به ووایی چی آیا نه وو راغلی تاسی ته ستاسی رسولان دښکاره ښښانو سره ، وبه ووایی

بَلٰى ۭ قَالُوْا فَادْعُوْا ۚ وَمَا دُعٰٓؤُا الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿٥٠﴾

ولی نه ، وبه ووایی پس وبلی او نه ده دکافرانو بلنه مګر ګمراهی ده

لنډتفسیر : او (هغه وخت هم دیادولو قابل دی) کله چی کفار به په دوږخ کی دیوبل سره جګړی کوی نو دادئی درجی خلګ (یعنی تابعین) به دلویی درجی خلګوته (یعنی متبوعینو ته دکومو چی هغوی په دنیا کی تابعداری کوله) اووایی چی مونږ (په دنیاکی) ستاسی تابع وو ایا تاسی زمونږ څخه داورځه حصه لیری کولی سی (یعنی کله چی په دنیا کی تاسی مونږ خپل تابعداران اوپیرو جوړکړی واست نو نن تاسی ته په کار دی چی زمونږ مدد وکی) دغه لوی خلګ به ورته ووایی چی مونږ ټول په دوږخ کی یو (یعنی مونږ خپل عذاب نه سو کمولی نو ستاسی به څه کم کړو) الله ﷻ د (خپلو) بندګانو په مینځ کی (قطعی) فیصله وکړه (او ددی دخلاف کولو دهیڅا مجال نسته) او (ددی څخه وروسته) څومره خلګ چی په دوږخ کی وی (یعنی لوی اوکوچنی تابع اومتبوع ټول به په جمع) دجهنم مؤکلو ملائکوته ووایی (په طور ددرخواست) چی تاسی خپل رب ته دعا وکی چی یوه ورځ خو زمونږ څخه عذاب سپک کړی (یعنی دعذاب بالکل ذلیری کیدو یا دهمیشه دپاره دکمیدو امید خونسته لیکن کم از کم چی دیوی ورځی چتی خو ورکول سی) ملائکی به ووایی چی (دا ووایاست) ایا تاسی ته ستاسی پیغمبرانو معجزی نه وی راوړی (او د دوږخ څخه دمحفوظ کیدو طریقی یی نه وی بنسولی) دوږخیان به ووایی چی هو! راغلی خو وو (مګر مونږ یی خبره ونه منله ، بَلٰى قَدْ جَآءَنَا نَذِيْرٌ فَكَذَّبْنَا) ملائکی به ووایی چی بیا خو (مونږ ستاسی دپاره دعا نه سو کولی څکه چی دکافرانو دپاره ددعا کولو مونږ ته اجازه نسته) تاسی (که زړه مو غواړی نو په خپله) دعا وکی او (ستاسی ددعا به هم هیڅ نتیجه نه وی څکه چی) دکافرانو دعا (په اخرت کی) محض بی اثره ده (څکه چی په اخرت کی هیڅ دعا بغیر دایمان څخه نه سی قبلیدی او دایمان موقع په دنیا کی وه هغه ستاسی څخه ختمه سوه او دا چی یی وویل چی ، په اخرت کی ، ددی فائده دا ده چی په دنیا کی خو دکافرانو دعا هم قبلیدی سی ، لکه چی ترټولو دلوی کافر ابلیس ترټولو لویه دعا ترقیامته پوری دژوندی پاته کیدو قبوله سوې ده)

اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُوْمُ

مونږ مدد کوو دخپلو رسلانو او ایمانداړو ددنیا په ژوند کی اوپه کومه ورځ چی

الْاَشْهَادُ ﴿٥١﴾ يَوْمَ لَا يَنْفَعُ الظّٰلِمِيْنَ مَعْذِرَتُهُمْ وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ

ودریږی شاهدان ، په کومه ورځ چی په کار نه ورځی ظالمانو لره د دوی بهانی او دوی ته به لعنت وی

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَهُمْ سُوْٓءُ الدَّارِ ﴿٥٢﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْهُدٰى وَاَوْرَثْنَا

او د دوی دپاره نا کاره کور دی ، او مونږ ورکړه موسی علیه السلام ته دلاری پوه او رثان کړل مونږ

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ ﴿٥٣﴾ هُدًى وَّذِكْرٰى لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿٥٤﴾

بنی اسرائیل دکتاب ، پوه کوونکی او نصیحت دعقل مندو دپاره ،

فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ

نو ته صبر کوه بیشکه وعده دالله حقه ده اوبخښنه غواړه دخپلی ګناه اوپاکی بیانوه درب خپل

رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ ﴿٥٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ

په ثنا سره مابنام او سهار ، کوم خلق چې جګړې کوی په خبرو دخدای کی

بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ۙ اِنْ فِيْ صُدُوْرِهِمْ اِلَّا كِبْرٌ مَّا هُمْ

بغیر دځه دلیل څخه کوم چې رسیدلی وی دوی ته ، اوبله څه خبره نسته د دوی په زړونو کی غرور دی چې

بِبَالِغِيْهِ ۚ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ۭ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴿٥٦﴾ لَخَلْقُ

هیڅکله به ور ونه رسیږي ، نو ته پناه غواړه په الله ، بیشکه هغه اوری وینی ، خامخا پیدا کول

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ

داسمانونو او دمځکی لوی دی دخلقو پیدا کولو څخه لیکن ډیر خلق

النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ۙ وَالَّذِيْنَ

نه پوهیږي ، او برابر نه دی رانده او سترګو والا او نه

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَلَا الْمُسِيْٓءُ ۭ قَلِيْلًا مَّا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٥٨﴾

ایماندار کوم چې نیک کارونه کوی او نه بد کار ، تاسی ډیر کم فکر کوی ،

اِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيْهَا وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

په تحقیق قیامت راتلونکی دی په دی کی شک نسته لیکن ډیر خلق

Maktaba Tul Ishaat.com

لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٥٩﴾ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ

نه منی ، اوستاسی رب وایی ما بولی زه به قبلوم ستاسی بلنه ، بیشکه

الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴿٦٠﴾

کوم خلق چی تکبرکوی زمادبندگی څخه ژر ده چی دا خل به سی دوږخ ته ذلیل سوی

لنډتفسیر: مونږ دخپلو پیغمبرانو او ایماندارو په دنیوی ژوند کی هم مدد کوو (لکه چی لوړ دموسیٰ ﷺ دقصی څخه معلومه سوه) اوپه هغه ورځ هم په کومه کی چی شاهدی ورکوونکی (ملائکی کومو چی به عملنامی لیکلی دقیامت په ورځ به ددی خبری شاهدی ورکوی چی رسولانو دتبلیغ کار وکی اوکافرانو دتکذیب ، غرض داچی ملائکی به دشاهدی دپاره) ودریږی (مراد ددی څخه دقیامت ورځ ده ، دهغه ځای دمدد حال اوس دکفارو په اور باندی دعذابیدو څخه معلوم سوی دی مخ ته ددغه ورځی بیان یعنی) په کومه ورځ چی ظالمانو (یعنی کافرانو) ته دهغوی معذرت هیڅ نفع ور نه کړی (یعنی اول خو به څه دکار معذرت نه وی اوکه څه وی هم خو هغه به نافع نه وی) اودهغوی دپاره به لعنت وی اودهغوی دپاره به په هغه عالم کی خرابی وی (نو په دی شان سره به ته اوستا تابعداران هم منصور وی اومخالفین به مقهور اوذلیل وی نو ته تسلی ساته) او (ستا څخه مخ ته) مونږ موسیٰ ﷺ ته هدایت نامه (یعنی تورات) ورکړی وو او (بیا) مونږ دغه کتاب بنی اسرائیلو ته رسولی وو چی هغه (دَ) هدایت اونصیحت (کتاب) وو د (روغ عقل لرونکو دپاره (په خلاف دبی عقلو څخه چی هغوی ددی څخه نفع منډ نه سول، دغه رنګه دحضرت موسیٰ ﷺ په شان ته هم صاحب درسالت اوصاحب دوحی یی ! او دغه رنګه دبنی اسرائیلو په شان ستا تابعداران به ستا دکتاب خدمت کوی اولکه څنګه چی په هغوی کی دعقل خاوندان تصدیق کوونکی اوتابعداران وه اوبی عقله منکر اومخالف، دغه رنګه ستا په امت کی هم دواړه قسمه خلګ دی) نو (په دی سره هم) ته (تسلی حاصله کړه او دکفارو په آزارونو) صبرکوه بیشکه دالله ﷻ وعده (چی لوړ یې په لَنَنْصُرُ الخ کی ذکر سوی دی بالکل) رښتینی ده او (که چیری په کمال صبرکی څه کمی وسی کوم چی دشرعی قاعدو موافق په واقع کی خو ګناه نه ده ، مګر ستادلوړی مرتبی په اعتبار سره په وجوب تدارک کی په مثل دګناه دی ددغه تدارک کوه ، هغه تدارک دا دی چی) دَخپلی (هغه) ګناه (کوم ته چی مجازاً ستا دلوړ شان په اعتبار سره ګناه ویل سوي ده) معافی غواړه او (په داسی شغل کی مشغول اوسیږه چی دغمجن کوونکو او خفه کوونکو شیانو طرف ته دی نه فکر کیږی ، هغه شغل دا دی چی) سهار اومابنام (یعنی همیشه) دخپل رب تسبیح اوتحمید وایه (دامضمون خوستادتسلی متعلق سو، مخ ته پرمنکرینو اوجګړه کوونکو باندی رَدْ اوورته زورنه ده یعنی) کوم خلګ چی بغیردځه سند څخه چی د دوی سره موجود وی دخدای په ایتونوکی جګړی راباسی (دوی ته داشتباه هیڅ وجه نسته چی هغه دَجګړی سبب وی بلکه) دهغوی په زړونو کی محض لویی (اولویی) ده چی هغوی هغه ته هیڅکله رسیدونکی نه دی (او دغه لوی سبب دجګړی دی ، څکه چی هغوی خپل ځان لوی ګڼی اوپه تابعداری کولو شرمیږی دوی خو

Maktaba Tul Ishaat.com

په خپله دنورو دځان تابع کولو په هوس کی دی ، لیکن هغوی ته به دا لویی نصیب نه سی بلکه ډیر ژر به ذلیل اوخوار سی نو چنانچی په بدر وغیره کی دمسلمانانو په لاسونو مغلوب سول، نو (کله چی دوی په خپله لویی غواړی نو ستاسره به حسد اوعداوت هرڅه کوی لیکن، ته (اندیښنه مه کوه بلکه د دوی دشر څخه) دالله ﷻ پناه غواړه ، بیشکه هغه دی هرڅه اوریدونکی هرڅه لیدونکی (نوهغه په خپلو کمالی صفتونو سره په خپله پناه کی راغلی خلګ محفوظ ساتی ، دا جګړه خو ستا په رسول منلوکی وه ، مخ ته د دوی جګړه دقیامت متعلق سره درده ذکرده ، یعنی هغه خلګ کوم چی دمخلوق ددوباره ژوندی کیدو څخه منکره دی ، ډیرکم عقله دی ، په دی واسطه سره چی، په یقین سره دآسمانونو اومځکو (اول پیدا کول دانسانانو د (دوباره) پیدا کولو په نسبت لوی کار دی (نو کله چی په لوی کار باندی قدرت ثابت سو نو پرکوچنی خو په درجه اولی ثابت دی او دا دلیل دثبوت دپاره کافی شافی دی، لیکن اکثره خلګ (په دومره خبره) نه پوهیږی (ځکه چی هغوی فکر نه کوی ، اوځینی داسی هم دی چی فکر هم کوی اوپوهیږی هم اومنی یی هم ، دغه ډول دقرآن داوریدونکو دوه قسمونه سول ، یو په دی پوهیدونکی اومنونکی داصاحب بصیرت اوصاحب ایمان دی ، دوهم نه پوهیدونکی اونه منونکی دا په مثل دروند اوبدعمله دی، او (په دی دواړو قسمو انسانانو یعنی یو) لیدونکی (بل) نه لیدونکی او (یو) هغه خلګ کوم چی ایمان راوړی اوښه کارونه وکی او (بل) بد کار دیوبل سره نه سی برابریدی (په دی کی ستاتسلی هم ده چی خلګ هرقسم وی تول څنګه پوهه سی اوپر منکرانو دقیامت دعذاب وعده هم ده ، چی مونږ توله برابر نه ساتو، مخ ته منکرانو یعنی هغو خلګوته کوم چی په شان درانده اوبد عمله دی په طور دالتفات زجر دی فرمایی چی) تاسی خلګ ډیر کم پوهیږی (کنه نوراندہ اوبد عمله به نه واست اودقیامت متعلق دجګړی جواب ورکوی ، مخ ته ددی دواقع کیدوخبر ورکوی چی) قیامت خو به ضرور راځی ددی په راتلوکی هیڅ قسم شك نسته ، مګر اکثره خلګ (په وجه دعدم تدبر په دلیلونو کی دا) نه منی او (یوه جګړه د دوی په توحید کی وه چی دخدای سره شریك جوړوی مخ ته ددی متعلق خبره ده یعنی) ستاسی پروردګار فرمایلی دی چی (غیر دحاجتونو دپاره مه بولی بلکه) ما بولی زه (په استثناء دنامناسب عرض کولو څخه) ستاسی (هر) درخواست قبلوم (ددُعا متعلق دقرآن آیت ، فَيَكْشِفُ مَاتَدْعُونَ إِلَيْهِ إِنْ شَاءَ، همدا مطلب دی چی نامناسب درخواست اودعا ردکول کیږی) کوم خلګ چی (صرف) زما دعبادت څخه (چی په دی کی زما څخه دعاغوښتل هم داخل دی) مخ اړوی (اوغیر بولی اوشرك کوی) هغوی به عنقریب (دمرګ کیدو سره) په ذلت سره جهنم ته دا خل سی.

معلومات اومسئلي: إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا : په دی آیت کی دالله ﷻ وعده ده چی هغه دخپلو رسولانو اومومنانو مدد کوی په دنیا کی هم او په اخرت کی هم او ظاهره دا ده چی دامدد په مقابله دمخالفینو اودښمنانو کی مقصود دی ، داکثرو انبیاؤ متعلق خو ددی واقع کیدل ظاهردی مګر ځینی انبیاء ﷺ لکه یحیٰی زکریااوشعیب ﷺ کوم چی دښمنانوشهیدان کړل یاځینووطن پریښی دی اوبل ځای ته یی هجرت وکی لکه حضرت ابراهیم ﷺ اوخاتم الانبیاء ﷺ ددوی متعلق شبهه کیدی سی. ابن کثیر په حواله دابن جریر ددی داجواب ورکړی دی چی په آیت کی دنصرت څخه مراد انتصار او

Maktaba Tul Ishaat.com

ددښمنانو څخه بدله اخستل دی ، په خپله د دوی په موجودګی کی د دوی په لاسونو یا د دوی دوفان څخه وروسته ، دامعنی په ټولو انبیاؤ اومومنانو بغیر دځه استثناء څخه صادقه ده ، کومو خلکو چی خپل انبیاء علیهم السلام قتل کړل، بیا هغوی په څنګه څنګه عذابونو کی ګرفتار اورسوا سول ددی څخه تاریخ ډک دی ، دحضرت یحیی، زکریا اوحضرت شعیب علیهم السلام په قاتلانو یی د دوی دښمنان مسلط کړل کومو چی هغوی ذلیل اوخوار کړل اوقتل یی کړل، په نمرود الله ﷻ روم مسلط کی کومو چی هغوی ذلیل اوخوار کړل او بیابه الله ﷻ دقیامت څخه مخکی مخکی دوی په دښمنانو غالب وفرمایی او دنبی کریم ﷺ دښمنان خو الله ﷻ دمسلمانانو ترلاس لاندی کړل ، د دوی سرکښه سرداران ووژل سول، څینی قید کړی را وستل سول ، اوباقیمانده په فتح مکه کی ګرفتار سوی پیش سول، کوم چی نبی کریم ﷺ ازاد کړل ، د دوی کلمه په دنیا کی لوړه سوه او هغه په ټولو دینونو باندی غالب سو ، په ټول جزیرة العرب کی د دوی په زمانه کی داسلام حکومت قائم سو .

يَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ : یعنی په کومه ورځ چی ودریږی شاهدان، مراد ورځ دقیامت ده، هلته خو به دانبیاؤ علیهم السلام او مومنانو دپاره دالله ﷻ دنصرت خصوصی ظهور وی .

إِنْ فِي صُدُورِهِمْ إِلَّا كِبْرٌ مَا هُمْ بِبَالِغِيهِ : یعنی دا خلک کوم چی دالله ﷻ په ایتونو کی بغیر دځه حجت اودلیل څخه جګړی کوی ، او مقصد په اصل کی ددی دین څخه انکار کول دی چی سبب یی ددی څخه ماسوا نور هیڅ نه دی چی د دوی په زړونو کی تکبر دی ، دوی خپله لویی غواړی او په خپله بی عقلی سره داسی ګڼی چی دالویی مونږ ته په خپل مذهب باندی په قایم پاته کیدوکی حاصله ده ، که دا پریږدو مسلمانان سو نو زمونږ دا ریاست او اقتدار به پاته نه سی ، قرآن کریم فرمایی چی ، مَا هُمْ بِبَالِغِيهِ : یعنی دخپل ګمان لویی اوریاست ته بغیر داسلام راوړلو څخه نه سی رسیدلی البته که اسلام یی راوړی وای نو عزت او عظمت به د دوی سره وای (قرطبی)

وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ .

(ددعا حقیقت او ددی فضیلتونه درجې او شرط دقبولیت)

ددعا لفظی معنی بلنه ده اواکثره استعمال یی دځه حاجت اوضرورت دپاره دبلنی وی کله مطلق دالله ﷻ ذکرته هم دعاویل کیږی ، دا آیت دامت محمدی خاص اعزاز دی چی دوی ته ددعا غوښتلو حکم ورکول سو او ددی دقبولیت وعده وسوه اوځوک چی دعا نه غواړی دهغه دپاره عذاب راغلی دی .

حضرت قتاده ؒ دکعب احبار ؒ څخه نقل کړی چی په اوله زمانه کی داخصوصیت دانبیاؤ وو چی دوی ته به دالله ﷻ دطرف څخه حکم کیدی چی تاسی دعا کوی ، زه به یی قبلوم ، دامت محمدیه دا خصوصیت دی چی دا حکم دټول امت دپاره عام سو (ابن کثیر)

حضرت نعمان بن بشیر ؓ ددی آیت په تفسیر کی دا حدیث بیان فرمایی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، إِنَّ الدُّعَاءَ هُوَ الْعِبَادَةُ : یعنی دعاعبادت دی اوبیا دوی په استدلال کی دا ایت ووایه ، إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي (رواه الامام احمد والترمذی والنسایی وابوداود وغیره ابن کثیر)

په تفسیر مظهری کی دی چی په جمله ، إِنَّ الدُّعَاءَ هُوَ الْعِبَادَةُ : کی په قاعده دعربیت (قصرالمسند علی

Maktaba Tul Ishaat.com

المسند الیه) دا مطلب هم کیدی سی چی دعادعبادت نوم دی یعنی هره دعاعبادت دی او(دقصر المسند الیه علی المسند) په طور دا مطلب هم کیدی سی چی هرعبادت دعاده ، دلته دواړه احتماله دی اومراد دلته دا دی چی دعا اوعبادت که څه هم دلفظی مطلب په اعتبار سره دواړه جلا جلا دی مګر دمصداق په اعتبار سره دواړه یو دی چی هره دعا عبادت دی اوهر عبادت دعاده ، وجه یی دا ده چی عبادت نوم دی دچاپه مخکی دانتهایی ذلیلوالی اختیارول او ښکاره ده چی خپل ځان دچا محتاج ګڼل دهغه په مخکی دسوال دپاره لاسونه اوږدول لوی ذلت دی کوم چی مطلب دی دعبادت ، په دی شان دهرعبادت حاصل هم دالله ﷻ څخه مغفرت اوجنت او ددنیا او اخرت دعافیت غوښتل دی ، په دی وجه په یوه حدیث قدسی کی دی چی الله ﷻ فرمایی کوم سړی چی زماپه حمد اوثنا کی دومره مشغول وی چی دخپل حاجت غوښتلو هم ده ته فرصت نه ورکول کیږی نو زه ده ته دغوښتونکو څخه زیات ورکوم (یعنی ددده حاجتونه پوره کوم) (رواه الجزری فی النهایه)

او دترمذی او مسلم په یو روایت کی دا الفاظ دی ، مَنْ شَغَلَهُ الْقُرْآنُ عَنْ ذِكْرِيْ وَمَسْئَلَتِيْ اَعْطَيْتُهُ اَفْضَلَ مَا اُعْطِي السَّآئِلِيْنَ : یعنی کوم سړی چی په تلاوت دقرآن کی دومره مشغول وی چی زماڅخه دخپلو حاجتونو غوښتلو هم ده ته فرصت نه وی ، نو زه به هغه ته دومره ورکړم چی غوښتونکو ته به هم دومره ورنه کول سی ، ددی څخه معلومه سوه چی هرعبادت هم هغه فائده ورکوی کومه چی ددعا فائده ده .

او دعرفات په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی په عرفات کی زما دعا اوزما څخه دمخکی انبیاء علیهم السلام دعا (داکلمه ده): لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ (رواه ابن ابی شیبه ، مظهری)

په دی کی عبادت او ذکرالله ته یی دعا فرمایلی ده او په دی آیت کی یی عبادت په معنی ددعا پرینښودونکو ته دجهنم وعید اورول سوی دی ، دا په صورت کی داستکبار دی یعنی کوم سړی چی په طور داستکبار خپل ځان ددعا څخه مستغنی وګڼی اودعا پریږدی ، دا علامه دکفر ده په دی وجه دجهنم دعذاب مستحق سو ، کنه نو فی نفسه عامی دعاګانی فرض اوواجب نه دی ددی په پرینښولو سره څه ګناه نسته ، البته په اجماع دعلماؤ مستحب اوافضل ده (مظهری) اودًاحادیثو دوضاحتونو په وجه سره دبرکتونو موجب ده .

(ددعا فضیلتونه)

حدیث : نبی کریم ﷺ فرمایی چی دالله ﷻ په نزد ددعا څخه زیات څه شی مکرم نسته (ترمذی ابن ماجه حاکم عن ابی هریرة ؓ)

حدیث : نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، اَلدُّعَآءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ: یعنی دعا دعبادت مغز دی (ترمذی عن انس ؓ)

حدیث : نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دالله ﷻ څخه دهغه فضل غواړی ، څکه چی الله ﷻ سوال اوحاجت غوښتل خوښوی او دتولو څخه لوی عبادت دا دی چی دسختی په وخت کی بنده دفراخی انتظار وکی ، (ترمذی ابن مسعود ؓ)

حدیث : نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی دالله ﷻ څخه دخپلو حاجتونو سوال نه کوی ، دالله ﷻ په

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه باندی غضب وی (ترمذی ابن حبان ، حاکم)

دا ټول روایتونه دتفسیری مظهری څخه نقل دی ، فرمایی چی په دعا نه غوښتونکو باندی دعذاب الهی وعده په دی صورت کی ده چی نه غوښتل دتکبر اوځان مستغنی ګڼلو په بناوی ، لکه چی دذکر سوی آیت ، إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ : دالفاظو څخه ثابتیږی .

حدیث : نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی ددعاځخه مه عاجزه کیږه ځکه چی ددعاسره څوک نه هلاکیږی (ابن حبان ، حاکم عن انس ﷺ)

حدیث : نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دعا دمومن وسله ده او ددین ستن او دآسمان او مځکی نور (حاکم فی المستدرك عن ابی هریره ﷺ)

حدیث : نبی کریم ﷺ فرمایلی دی دکوم سړی دپاره چی ددعا دروازی خلاصی سوی دهغه دپاره درحمت دروازی خلاصی سوی او دالله ﷻ څخه یوه دعا ددی څخه زیاته محبوبه نه ده غوښتل سوی چی بنده دده څخه دَ، عافیت، سوال وکی (ترمذی ، حاکم ، عن ابی هریره ﷺ) لفظ دعافیت لوی جامع لفظ دی چی په دی کی دهری بلا څخه حفاظت اودهرحاجت اوضرورت پوره کیدل دا خل دی .

مسئله : دیوی ګناه یاصله رحمی دقطع کولو دعا غوښتل حرام دی داسی دعا دالله ﷻ په نزد قبلیږی هم نه (لکه چی په حدیث کی دابی سعید خدری ﷺ څخه نقل دی)

ددعا قبلیدو وعده: په ذکرسوی آیت کی ددی وعده ده چی کوم بنده دالله ﷻ څخه دعاغواړی هغه قبلیږی مګرپه څینی وختونوکی انسان داهم وینی چی دعاوغواړی اوهغه قبوله نه سی ددی جواب په یو حدیث کی دی کوم چی دحضرت ابوسعید خدری ﷺ څخه نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی مسلمان کومه دعا هم کوی الله ﷻ یی ده ته ورکوی په دی شرط چی په هغه کی دځه ګناه یا وصله رحمی قطع کیدو دعا نه وی اودقبلیدو په درو صورتونو کی یو صورت وی ، یو دا چی څه وغواړی هغه ورکول سی دوهم داچی دده دغوښتل سوی په بدل کی ده ته داخرت څه ثواب اواجر ورکول سی، دریم دا چی غوښتل سوی خو ورنه کول سی مګریومصیبت اوافت پرده راتلونکی ووهغه ورځخه لیری کړی (مسند احمد ، مظهری)

(ددعا قبلیدو شرطونه)

په ذکر سوی آیت کی خوپه ظاهره څه شرط نسته ، تردی چی مسلمانیدل هم ددعا قبلیدو شرط نه دی ، دکافر دعاهم الله ﷻ قبلوی ، تردی چی دابلیس دعا ترقیامته پوری دژوندی پاته کیدو قبوله سوه ، نه ددعا دپاره څه وخت شرط دی نه پاکوالی اونه په اودس کی کیدل شرط دی ، مګر په معتبرو احادیثو کی یی څینی شیان دقبولیت موانع فرمایلی دی ، ددغو شیانو څخه ځان ساتل لازم دی ، لکه چی په حدیث کی دحضرت ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی څینی بنده ګان دیر سفر وکی اواسمان طرف ته ددعا دپاره لاس لوړ کړی اویارب یارب وایی خپل حاجت غواړی ، مګر دده خوراك حرام ، چښل حرام ، جامی حرامی ده ته دحرامو خوراك ورکول سو نو دده دعا کله قبلیږی (مسلم) دغه رنګه که څوك په غفلت اوبی پروایی سره بغیر دفکر څخه دعا غواړی نوپه حدیث کی ددی متعلق مراغلی دی چی داسی دعا نه قبلیږی (ترمذی عن ابی هریره ﷺ)

Maktaba Tul Ishaat.com

اَللّٰهُ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الَّیْلَ لِتَسْكُنُوْا فِیْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ

الله ﷻ هغه ذات دی چاچی جوړه کړه ستاسی دپاره شپه چی په دی کی ارام وکی او ورځ یی جوړه کړه دلیدو دپاره

اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

بیشکه الله ﷻ فضل والا دی په خلقو باندی او لیکن ډیر خلق

لَا یَشْكُرُوْنَ ﴿۶۱﴾ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَیْءٍ ۫ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا

حق نه منی ، هغه دی الله ﷻ رب ستاسی دهرشی پیدا کوونکی ، نسته بل معبود دهغه څخه ماسوا

هُوَ ۫ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿۶۲﴾ كَذٰلِكَ یُؤْفَكُ الَّذِیْنَ كَانُوْا بِاٰیٰتِ اللّٰهِ

، بیا کوم طرف ته گرځی ، دغه ډول واپس کیږي کوم خلق چی دالله ﷻ دخبرو څخه

یَجْحَدُوْنَ ﴿۶۳﴾ اَللّٰهُ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ قَرَارًا وَّالسَّمَآءَ

منکریږی ، الله ﷻ هغه ذات دی چاچی جوړه کړه تاسی دپاره مځکه دقرار ځای اواسمان

بِنَآءً وَّصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّیِّبٰتِ ؕ

ابادی اوصورتونه یی جوړ کړل ستاسی نوښه یی جوړ کړل صورتونه ستاسی اورزق یی درکی تاسی ته پاک شیان

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ۚ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۶۴﴾ هُوَ الْحَیُّ لَاۤ اِلٰهَ

هغه الله دی رب ستاسی، نولوی برکت دی دالله کوم چی رب دی دټول مخلوقات، هغه دی ژوندی پاته کیدونکی

اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ ؕ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ

نسته څوك دعبادت لایق مګر هغه دی نو هغه بولی خالص کوی هغه لره بندګی ، ټول تعریفونه الله لره دی چی رب

الْعٰلَمِیْنَ ﴿۶۵﴾ قُلْ اِنِّیْ نُهِیْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ

دی دټول مخلوقات ، ته ووایه چی زه منع سوی یم چی عبادت وکړم دهغو چی تاسی یی عبادت کوئ

دُوْنِ اللّٰهِ لَمَّا جَآءَنِیَ الْبَیِّنٰتُ مِنْ رَّبِّیْ وَاُمِرْتُ اَنْ اُسْلِمَ

ماسوا دالله څخه، هر کله چی راغلی ماته ښکاره ښښانی زما د رب څخه ، او ما ته حکم سوی دی چی تابع سم

Maktaba Tul Ishaat.com

لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦٦﴾ هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ

د رب دمخلوقاتو ، هغه دی چا چی جوړ کړاست تاسی دخاورو څخه بیا داوبو

نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوْٓا

دخاځکی څخه بیا د وینی دقطری څخه بیا تاسی را باسی کوچنی بیا ترڅو چی ورسیږي

اَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُوْنُوْا شُيُوْخًا ۚ وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّتَوَفّٰى مِنْ قَبْلُ

خپل پوره زور ته بیا ترڅو چی سی کمزوری اوڅینی په تاسی کی داسی دی چی مری مخکې ددې څخه

وَلِتَبْلُغُوْٓا اَجَلًا مُّسَمًّى وَّلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٧﴾ هُوَ الَّذِيْ يُحْيٖ

او ترڅو چی ورسیږي لیکلی نیټی ته او چی تاسی فکر وکی ، الله ﷻ هغه دی چی ژوندی

وَيُمِيْتُ ۚ فَاِذَا قَضٰٓى اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٦٨﴾

کوی او وژنی ، بیا چی کله حکم وکی دڅه کار نو دا ووایی هغه ته چی سه نو هغه وسی .

لنډتفسیر : الله ﷻ هغه ذات دی چی ستاسی د (نفع د) پاره یې شپه جوړه کړه چی تاسی ارام په کی وکی او هغه ورځ (دلیدلو دپاره) روښانه جوړه کړه (چی بی تکلیفه خپل معاش په کی حاصل کی) بیشکه دالله ﷻ په خلګولوی فضل دی (چی د دوی دمصلحتونویی څنګه څنګه رعایت وفرمایی) لیکن اکثره خلګ (ددی نعمتونو) شکر نه ادا کوی (بلکی چپه شرك کوی) دا الله ﷻ دی ستاسی رب (دکوم چی ذکر وسو نه هغه کوم چی تاسی تراش کړی دی) هغه (الله) دهرشی پیداکوونکی دی ، دهغه څخه ماسوا بل لائق دعبادت نسته نو (دتوحید ثابتیدو څخه وروسته) تاسی خلګ کومی خواته (شرك کوی) چپه چلیږی (او دمخاطبو څه تخصیص دې لکه څنګه چی په تعصب اوعناد سره دوی چپه چلیږی) دغه رنګه هغه (مخ ته) خلګ هم چپه چلیدل کوموچې دالله (دتکوینې اوتنزیلی) ننبانو څخه انکار کوی ، هم الله ﷻ دی چاچی مخکه (دمخلوق دپاره) ځای دقرار جوړ کی اوآسمان یی (په دی سربیره په مثل د) چت جوړکی اوستاسی نقشه یی جوړه کړه نو عمده نقشه یی جوړه کړه (چنانچی دانسان داندامونو برابر دیوحیوان داندامونوتناسب نسته او دامشاهد اومسلمه ده) اوتاسی ته یی عمده عمده شیان دخوراك درکړل (نو) دا الله دی ستاسی رب نولوی عالیشان دی الله ﷻ کوم چی دټول جهان پروردګار دی هغه (ازلی ابدی) ژوندی (پانه کیدونکی) دی دهغه څخه ماسوا ځوك لایق دعبادت نسته نو تاسی (ټول) په خالص عقیده سره هغه بولی (اوشرك مه کوی) ټول تعریفونه خاص الله ﷻ لره دی کوم چی پروردګار دی دټولو جهانونو ته (دی مشرکانو ته داورولو دپاره) ووایه چی ماته ددی څخه ممانعت سوی دی چی زه دهغو (شریکانو) عبادت

Maktaba Tul Ishaat.com

وکړم کوم چې دخدای څخه علاوه تاسی بولی کله چې ماته زما درب ننبانی راغلی (مراد ورڅخه عقلی اونقلی دلیلونه دی نومطلب دا دی چې دشرك څخه زه منع سوی یم) اوماته داحکم سوی دی چې زه (صرف) دَرب العٰلمین په مخکی (په عبادت کی) څټ کښته کړم (مطلب دا دی چې ماته دتوحید حکم سوی دی) هم هغه دی چاچې تاسی (یعنی ستاسی پلار) دخاوری څخه پیداکی بیا یی (مخ ته دهغه نسل) دنطفی څخه ، بیا دوینی دتوتی څخه (لکه چې په سورة حج کی یی بیان سوی دی) بیاتاسی بچی کړاست (دَمور دنس څخه یی) راوباسلاست بیا (تاسی ژوندی ساتی) چې تاسی بوډاګان سی اوځینی ځینی په تاسی کی (ددی عمرونو څخه یعنی ځوانی اوزورټوالی څخه) مخکی مړه سی (دا خو دټولو ځان ته حال سو چې ځینی ځوانان سی ځینی نه سی ، ځینی بوډاګان سی ، ځینی نه) او (داکار ائنده په ټولو کی مشترك دی چې په تاسی کی هریوه ته یوخاص عمر ورکوی) چې تاسی ټول (خپل خپل) مقرر وخت (مقدر) ته ورسیږی (نو دا امر کلی دی اوجزئیات مختلف ټول ددی کلی جزئیات دی) او (دا ټول هرڅه یی ځکه وکړل) چې تاسی خلګ (په دی کارونو کی فکر وکی دخدای ﷻ توحید) وپیژنی ، هم هغه دی کوم چې ژوندی کوی او مړه کوی بیا چې کله هغه دڅه کار (دفعتًا) پوره کول غواړی نو صرف دهغه په نسبت (دومره) وفرمایی چې سه نو هغه وسی .

معلومات اومسئلي : په ذکر سوو ایتونو کی دالله ﷻ دانعاماتو اوکامل قدرت څو مظاهر پیش سوی دی ، دتوحید دعوت یی ورکړی دی .

جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا : فکر وکی چې څومره لوی نعمت دی چې قدرت په ټولو طبقو دانسان بلکه ترحیوانانو پوری په ټولو یی دخوب یومعین وخت مقرر کړی دی اودغه وخت یی تیاره کړي ده او دَخوب دپاره یی مناسب جوړ کړي دی او دټولو په طبیعت اوفطرت کی یی اینبی ده چې دشپی خوب ورځی کنه نو لکه څنګه چې انسان دخپل کارو بار دپاره په خپل خپل طبیعت اودَخپل سهولت په لحاظ وختونه مقرر وی که خوب هم دغسی د دوی په اختیار کی وای او هر انسان دَخپل خوب پروګرام په مختلفو وختونو کی جوړولی نو نه به دخوب کوونکو په خوب کی خوند او راحت وای او نه به دوینبو کارونه برابر اودرست وای ، ځکه چې دانسانانو ضرورتونه دیو بل سره متعلق دی ، که دخوب وختونه مختلف وای نو دوینبو په هغه کار کی به خلل راتلی کوم چې به دخوب کوونکو سره متعلق وو او دخوب کوونکو هغه کارونه به خرابیدل دکومو تعلق چې به دوینبو سره وو اوکه صرف دانسانانو دخوب وختونه متعین وای اودځاروو اوحیوانانو وختونه نور وای نو هم به دَانسانانو په کارونو کی خلل راتلی .

وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ : دانسان صورت الله ﷻ دټولوحیوانانوڅخه په ممتاز اعلی اوښه اندازکی جوړ کړی دی ، ده ته یی دفکرکولو اوپوهیدلو دپاره عقل ورکړی دی دده لاسونه اوپښی یی داسی جوړکړل چې په دی سره قسم قسم مصنوعات اوشیان جوړوی اودَخپل راحت سامان پیداکوی د دوی خوړل چښل هم دعامو حیوانانو څخه ممتازدی هغوی په خپلو خولو سره څړ کوی اوچښل کوی اوښی ادم دلاسونو څخه کارونه اخلی ، دعامو حیوانانو خوراك دمفرداتو څخه دی ، ځینی غوښه خوری ځینی واښه اوپانی اوهغه هم بالکل مفرد ، په خلاف دانسان څخه چې دی خپل خوراك دَمختلف قسم شیانو ، میوو ،

Maktaba Tul Ishaat.com

ترکاریانو، غوښو اومصالحو سره خوندور جوړوی اوخوری یی ، دیوی یوی میوی څخه قسم قسم
خوراکونه اچار، مربا چټنیانی تیاروی ، فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ اَنّٰى يُصْرَفُوْنَ ﴿٦٩﴾ الَّذِيْنَ

آیا تا ونه لیدل هغه کوم چی جګړی کوی دالله ﷻ په خبرو کی کوم طرف ته بیرته څی ، هغو کومو چی

كَذَّبُوْا بِالْكِتٰبِ وَبِمَآ اَرْسَلْنَا بِهٖ رُسُلَنَا ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿٧٠﴾

دروغجن کړو دا کتاب او هغه چی ولیږی مونږ دخپلو رسولانو سره نو ژر ده چی پوهه به سی ،

اِذِ الْاَغْلٰلُ فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلٰسِلُ ۙ يُسْحَبُوْنَ ﴿٧١﴾ فِي الْحَمِيْمِ ۙ

هر کله چی طوقونه ولویږي د دوی په څټونو کی او څنځیرونه هم را کشول کیږي به ، په ګرمو اوبو کی

ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُوْنَ ﴿٧٢﴾ ثُمَّ قِيْلَ لَهُمْ اَيْنَ مَا كُنْتُمْ

بیا به په اور کی دوی ور وغورځول سی ، بیا به وویل سی دوی ته څه سول هغه کوم چی تاسی

تُشْرِكُوْنَ ﴿٧٣﴾ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قَالُوْا ضَلُّوْا عَنَّا بَلْ لَمْ نَكُنْ نَّدْعُوْا

شریکان جوړول ، ما سوا دالله ﷻ څخه ، وبه وایی هغه زمونږ څخه ورک سول بلکه نه وو مونږ چی

مِنْ قَبْلُ شَيْـًٔا ؕ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٧٤﴾ ذٰلِكُمْ بِمَا كُنْتُمْ

بلل مو یو شی دمخکې څخه ، دارنګه بی لاری کوی الله کافران ، دا بدله ده ستاسی په

تَفْرَحُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَمْرَحُوْنَ ﴿٧٥﴾ اُدْخُلُوْٓا

هغه چی تاسی وربانډی خوشحاله واست په مخکه کی په ناحقه او دهغه چی تاسی تکبر پر کوی دا خل سی

اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿٧٦﴾

دروازو ته د دوزخ چی همیشه به په کی یاست نو څه بد دی خای دتکبر کوونکو ،

فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ۚ فَاِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ

نو ته صبر کوه بیشکه وعده دالله حقه ده ، بیا که مونږ وښیو تا ته څینی دهغه وعدی څخه

نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِلَيْنَا يُرْجَعُوْنَ ﴿٧٧﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا

چی د دوی سره یی کوو یا وفات کړو تا نو په هر حال مونږ ته به بیرته راځی ، اومونږ لیږلی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ مِنْهُمْ مَّنْ قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُمْ مَّنْ

دیر رسولان ستا څخه مخکې ځینې په هغو کې هغه دی چې مونږ یې تاته حالات بیان کړی دی اوځینې

لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ ۗ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَنْ يَأْتِيَ بِآيَةٍ

هغه دی چې مونږ یې تاته حالات نه دی بیان کړی ، او دیو رسول طاقت نسته چې راوړی یو نښانه

إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ فَإِذَا جَاءَ أَمْرُ اللَّهِ قُضِيَ بِالْحَقِّ وَخَسِرَ

مګر په اذن دخدای ، نو هر کله چې راسی حکم دالله فیصله به وسی په حقه او په تاوان کی ،

هُنَالِكَ الْمُبْطِلُونَ ﴿٧٨﴾

به وسی هلته درواغجن خلق .

تفسیر : ایاتا (دَ) هغو خلګو (حالت) ونه لیدی کوم چې دَالله ﷻ په ایتونوکی جګړې راباسی (دَحق څخه) کمی خواته چې بیرته روان دی کومو خلګو چې داکتاب (یعنی قرآن) درواغجن کی اوهغه څه یې هم (درواغجن کړل) کوم چې مونږ خپلو پیغمبرانو ته ورکړی اولیږلی وه (په دی کی کتابونه احکام اومعجزی تولې دا خل سول ځکه چې دعربو مشرکانو بل یو پیغمبر هم نه منی) نو دوی ته به اوس (یعنی په قیامت کی چې نژدی دی) معلومه سی کله چې به طوقونه د دوی په څټونو کی وی او (په دغوطوقونو کی به) زنځیرونه (پیول سوی وی چې بل سر به یې دملائکو په لاسوکی وی اوپه دی زنځیرونو سره به) دوی را کشول کیږی چې ګرمو اوبو ته ورسول سی ، بیابه دوی اورته وغورځول سی بیابه دهغوی څخه پوښتنه وسی چې هغه (معبودان) غیرالله چیرې ولاړل کوم چې تاسی (په خدایی کی) شریک ګرځول (یعنی ستاسی مدد ولی نه کوی) هغوی به ووایی چې هغه خو تول غائب سول بلکه (رښتنی خبره خو دا ده چې) مونږ ددی څخه مخکی (په دنیاکی دکومو بتانوعبادت کوی، نواوس معلومه سوه چې) دهیڅا عبادت مو هم نه دی کړی (یعنی معلومه سوه چې هغوی محض لاشی وو ، داسی خبره دَغلطی ظاهریدو په وخت کی کول کیږی ، لکه یو سړی چې په تجارت کی خساره وکړی اودده څخه پوښتنه وسی چې ته دفلانی مال تجارت ولی کوی اوهغه ووایی چې ماخو دَهیڅ شی هم تجارت نه کوی یعنی کله چې ثمره یې حاصله نه سی نو داسی ګټل کیږی چې ګویا دغه عمل دسره سوی نه دی ، مخ ته دالله ﷻ ارشاد دی چې) الله ﷻ دغه (دول کافران په غلطی کی مبتلولی ساتی (چې دکوم شی دنستوالی اوغیر نافع کیدو به هلته هغوی په خپله اقرار کوی ، نن دلته دهغوی په عبادت کی مشغول دی ارشاد به وسی چې) دا (سزا) ددی په بدله کی ده چې تاسی په دنیاکی ناحقه خوشحالی کوی او دهغه په بدله کی چې تاسی تکبرکوی (او ددی څخه مخکی به هغوی ته حکم وسی) چې دجهنم په دروازوکی ورننوځی (او) همیشه همیشه په دی کی

Maktaba Tul Ishaat.com

اوسیږی نو دَ (ایتونو دالله ﷻ څخه دَ) تکبر کوونکو دپاره هغه بدځای داوسیدو دی (اوکله چې به دهغوی څخه داسی بدله واخستل سی) نوته (لږ) صبر کوه بیشکه دالله ﷻ وعده رښتنی ده ، بیا چې دکوم (عذاب مطلقًا) مونږ دهغوی سره وعده کوو (چې کفر موجب دَعذاب دی) په هغه کې څه لږ شان (عذاب) که مونږ تاته وښیو (یعنی ستا په ژوند کې په هغوی باندې نزول وسی) یا (دهغه دنزول څخه مخکې) مونږ تا وفات کړو (بیا برابره خبره ده که وروسته یې نزول وسی اوکه ونه سی) نو (دواړه احتمالونه دی یوشق ضروری نه دی لیکن په هرحال اوهر احتمال باندې) زمونږ خوا ته د دوی راتلل دی (او دغه وخت به په یقین سره پردوی عذاب واقع سی) او (دا خبره هم یاده کړه اوتسلی حاصله کړه چې) مونږ ستا څخه مخکې دیر پیغمبران لیږلی دی چې ځینې په کې هغه دی چې دهغو قصې مونږ تاته (اجمالاً یاتفصیلاً) بیان کړی دی اوځینې هغه دی دکومو چې مونږ تاته بیان نه دی کړی او (دومره امر خو په ټولوکې مشترک دی چې) دَیوه رسول څخه دا نه دی سوی چې یوه معجزه یې بغیر داذن دَالله ﷻ څخه ظاهره کړې وی (او دامت هر فرمائش یې پوره کړی وی نو ځینې په دی وجه هم د دوی تکذیب کوی ، دغه شان داخلګ ستا تکذیب کوی نوته تسلی ساته اوصبر کوه) بیاچې څه وخت دالله ﷻ حکم (دَعذاب دنزول دپاره) راسی (برابره خبره ده که په دنیا کې وی یاپه اخرت کې، لکه داقول دالله ﷻ ، فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ الخ نو صحیح صحیح (عملي) فیصله به وسی اوپه دغه وخت به اهل باطل په خساره کې پاته سی .

معلومات اومسئلي: يُسْحَبُونَ فِي الْحَمِيمِ ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُونَ : حمیم جوشیدلی ګرمی اوبه دی ، ددی آیت څخه دا معلومیږی چې دوږخیان به اول ګرمو اوبو ته وروړاچول سی ، ددی څخه وروسته به جهنم ته ، او په ظاهره ددی څخه دا معلومیږی چې حمیم دجهنم څخه دباندی یوځای دی دسورة صفّت دایت ، ثُمَّ إِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَإِلَى الْجَحِيمِ : څخه هم دا معلومیږی چې حمیم دجهنم څخه دباندی یو ځای دی ، دوږخیان به دهغه د اوبو چښلو دپاره راوستل سی بیابه جهنم ته ولاړ سی ، او دقرآن دَځینو ایتونو څخه معلومیږی چې حمیم هم په جهنم کې دی ، لکه ، هَذِهِ جَهَنَّمُ الَّتِي يُكَذِّبُ بِهَا الْمُجْرِمُونَ يَطُوفُونَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ آن په دی کې وضاحت دی چې حمیم هم په جهنم کې دی .

په فکر کولو سره معلومیږی چې په دی دواړو خبرو کې څه تضاد اوتعارض نسته ، دجهنم به ډیری طبقې وی په کومو کې چې به په قسم قسم عذابونه وی ، په هغه کې یوه طبقه دحمیم هم کیدی سی ، کوم چې په وجه دممتاز کیدو اوجلاوالی ورته دجهنم څخه دباندی هم ویل کیږی اوچونکه دا هم یوه طبقه دجهنم ده ، په دی وجه دی ته په جهنم کې هم ویل کیږی ، ابن کثیر فرمایی چې دوږخیان به په زنځیرونو کې بند وی کله به یې راکش کړی حمیم ته به غورځول کیږی اوکله جحیم ته .

قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا: یعنی جهنم ته چې ورسیږی مشرکان به ووایی چې هغه بتان اوشیطانان دکومو چې مونږ عبادت کوی نن غائب سول ، مراد دا دی چې زمونږ په نظر نه راځی که څه هم هغه به هم دجهنم په یو کونج کې پراته وی لکه چې دقرآن په نورو ایتونو کې ددغو په دوږخ کې کیدل ثابت دی ، إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ .

Maktaba Tul Ishaat.com

بِمَا كُنْتُمْ تَفْرَحُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَمْرَحُونَ، تَفْرَحُونَ دَفَرَحَ : څخه مشتق دی چی معنٰی یی ده خوشحاله اومسروره کیدل او تَمْرَحُوْنَ دَمَرَحَ څخه مشتق دی اومعنٰی یی ده لویی کول اوپه مال اودولت په فخر اوغرور کی اخته کیدل او دنورو په حقونو کی زیاتوب کول ، مَرَحَ خو مطلق مذموم اوحرام دی ، او فَرَحَ ، یعنی په خوښی کی دا تفصیل دی چی دَمال او دولت په نشه کی چی خدای هیرکی په ګناهونو کی لذت حاصلوی اوخوشحالیږی دا خو حرام او ناجائز دی او په دی آیت کی دافَرَحَ مراد دی ، لکه دقارون په قصه کی هم فَرَحَ په دی معنٰی کی راغلی دی ، لَا تَفْرَحْ إِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِينَ : یعنی ډیر مه خوشحالیږه اللهﷻ خوشحالیدونکی نه خوښوی ، او دوهمه درجه دَفَرَحَ دا ده چی ددنیا نعمتونه او راحتونه دالله ﷻ انعام وګڼی اوپه دی دخوشحالی اومسرت اظهار کوی ، دا جائز بلکه مستحب او مامور به ده ، دداسی فَرَحَ متعلق په قرآن کریم کی فرمایی ، فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوا : یعنی په دی خوشحالیدل په کار دي په ذکر سوی آیت کی دَمَرَحَ سره څه قید نسته ، مطلقًا سبب دعذاب دی اودَفَرَحَ سره یی د ، بِغَيْرِ الْحَقِّ : قید ولګوی او ویی ښوولە چی په ناحقو اوناجائزو لذتونو خوشحالیدل حرام اوپه حق اوجائزو نعمتونو په طور دشکر خوشحالیدل عبادت او ثواب دی.

فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَاللهِ حَقٌّ فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ الخ ددی آیت څخه معلومیږی چی نبی کریم ﷺ په خوشحالی سره ددی منتظروو چی کافرانو ته عذاب ورکول سی ، په دی وجه د دوی دتسلی دپاره په دی آیت کی دا فرمایی چی ته لږ صبر وکه ، الله ﷻ چی کومه وعده د دوی دپاره دعذاب کړي ده ، هغه به ضرور پوره کیږی ، برابره خبره ده که ستا په ژوند کی وی یاستا دوفات څخه وروسته ، دکافرانو دعذاب انتظار په ظاهره دشان رحمة للعٰلمین څخه منافی دی ، لیکن کله چی په سزا ورکولو سره مجرمانوته مقصد غیر مجرم مومنانو ته چی ظلم پرسوی وو ، تسلی ورکول وی نو مجرمانو ته سزا ورکول دشفقت او رحمت منافی نه ده ، یو مجرم ته سزا ورکول دهیڅا په نزد هم درحمت څخه خلاف نه ګڼل کیږی.

اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَنْعَامَ لِتَرْكَبُوْا

الله ﷻ هغه دی چا چی جوړ کړی دی تاسی دپاره حیوانان چی سپرلی کوی

مِنْهَا وَمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿٧٩﴾ وَلَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ وَلِتَبْلُغُوْا عَلَيْهَا

په خینو اوخینی خوری ، او تاسی دپاره په دی کی فائدی دی او چی ورسیږي په دوی باندی

حَاجَةً فِيْ صُدُوْرِكُمْ وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ ﴿٨٠﴾

سپاره څه کار ته چی ستاسی په زړه کی وی او په دی او په کښتیو باندی سپاره ګرځی ،

وَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ ۖ فَاَيَّ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُنْكِرُوْنَ ﴿٨١﴾ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا

اوښیی تاسی ته خپلی نښانی ، بیا دکومو کومو نښانو دالله ﷻ څخه انکار کوی ، آیا نه دی ګرځیدلی هغوی

Maktaba Tul Ishaat.com

فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ

په ملك کی چې وويني چې څنګه سو انجام دهغو چې د دوی څخه مخکې وه

كَانُوْٓا اَكْثَرَ مِنْهُمْ وَاَشَدَّ قُوَّةً وَّاٰثَارًا فِي الْاَرْضِ فَمَآ اَغْنٰى

دوی وه ددوی څخه زیات اوپه قوت کی سخت اوپه ننبانو کی چې پرې ایښې یې دی په مځکه کی نو په کار ور نغلل

عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٨٢﴾ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ

هغوی لره کوم چې هغوی کول ، بیا چې کله ورسیدل هغوی ته رسولان دهغوی دښکاره ننبانو سره

فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ

نو مستي یې وکړه په هغه چې ورسره وو دعلم څخه او را ولویدی پرهغوی هغه شی چې مسخری

يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٨٣﴾ فَلَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ وَ

یې ور باندی کولی ، بیا هر کله چې ولیدی هغوی عذاب زمونږ وې ویل مونږ ایمان را وړو پرالله یوباندی

كَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهٖ مُشْرِكِيْنَ ﴿٨٤﴾ فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ اِيْمَانُهُمْ

او پریښوول مونږ هغه شیان کوم چې مونږ شریکول ، نو ونه سو چې په کار ورغلی وای دوی ته ایمان د دوی

لَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا ؕ سُنَّتَ اللّٰهِ الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ فِيْ عِبَادِهٖ ۚ وَ

څه وخت چې یې ولیدی عذاب زمونږ ، طریقه جوړه سوی ده دالله کومه چې را روانه ده دهغه په بندګانوکی

خَسِرَ هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٨٥﴾ ع

اوخراب سول هلته انکار کوونکی .

لنډتفسیر: الله ﷻ هغه ذات دی کوم چې ستاسی دپاره حیوانان پیدا کړل چې په دغوکی په څینو باندی سپرلی کوی اوپه دغوکی څینی (داسی دی چې هغه) خوری هم اوستاسی دپاره په دغوکی نوری هم (ډیری فائدی دی (چې ددغو وړی او وریښته په کار درځی) او (په دی وجه یې پیدا کړل) چې تاسی پرهغوی (سپاره سی) خپل مطلب ته ورسیږی کوم چې ستاسی په زړونوکی دی (لکه دَچاسره دلیدلو دپاره تلل دتجارت دپاره تلل وغیره وغیره) او (په سپرېدو کی څه ددغو تخصیص نسته بلکه) په دغو (هم) او په کښتیو (هم) سپاره سپاره ګرځی او (ددی څخه علاوه) تاسی ته خپلی (دَقدرت) نوری ننبانی ښیی (چنانچې هر مصنوع دهغه دصنعت یوه ننبانه ده) نو تاسی دالله ﷻ دکومو کومو ننبانو څخه انکار کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

(او دا خلګ چې وروسته ددليلونو دَقائميدو دَتوحيد څخه منکره دي نو ايادوی دَشرک دوبال څخه خبر نه دي او) ايا داخلګ په ملک کې نه دي ګرځيدلي اوليدلي يې نه دي چې کوم (مشترک) خلګ د دوی څخه مخکې تير سوي دي (ددي شرک په وجه) دهغوی څه انجام سو (حال دا دي چې) هغه خلګ د دوی څخه (په شمير کې هم) زيات وه اوپه قوت اوننبانوکې (هم) کوم چې يې په مځکه کې پرېښې دي (لکه ابادي وغيره يې) زياتي وي نو ددغو (دا ټوله) ګټه دهغوی هيڅ په کار ورنه غله (اودعذاب الهی څخه محفوظ نه سول) غرض دا چې کله چې دهغو پيغمبرانو هغوی ته ښکاره دليلونه راوړل نوهغه خلګ په خپل (هغه) علم (دَمعاش) باندی ډير ناز کوونکی وه کوم چې هغوی ته حاصل وه (يعنی معاش يې مقصود وګڼی اوپه دی کې چې دوی ته کوم لياقت حاصل وو، په هغه خوشحاله سول او دَبيا ژوندی کيدو انکار يې وکی، ددی طلب يې ليونتوب او ددی په انکار باندی دعذاب په وعدی پوری يې مسخری کولې) او (ددی په وبال کې) په هغوی هغه عذاب راغی په کوم پوری چې يې مسخری کولی، بيا کله چې هغوی زمونږ عذاب وليدی نو وې ويل (اوس) مونږ په يوه خدای ايمان راوړو اودهغو ټولو شيانو څخه مونږ منکره سو کوم چې مونږ دهغه سره شريکول نو دهغوی دا ايمان راوړل نفع مند نه سول کله چې هغوی زمونږ عذاب وليدی (ځکه چې دغه ايمان اضطراری دی اوبنده مکلف دی په ايمان اختياری) الله ﷻ خپل دامعمول مقرر کړی دی کوم چې دَهغه په بندګانو کې دمخکې څخه راروان دی اودغه وخت (يعنی کله چې ايمان نفع مند نه سو) کافران په خساره کې پاته سول (پس دی مشرکانوته هم په دی پوهيدل اوبيړدل په کار دی، د دوی دپاره به هم داسی کيږی، بيا به يې هيڅ تلافی ونه کړل سی)

معلومات اومسئلې: فَرِحُوا بِمَا عِنْدَهُمْ مِنَ الْعِلْمِ: يعنی دی انجام ته فکر نه کوونکو منکرانو ته چې کله دالله ﷻ رسولانو واضح دليلونه دتوحيد اوايمان راوړل نو دغو خلګو خپل علم دانبياؤ عليهم السلام دراوړی علم څخه غوره اوحق وګڼی او دانبياء عليهم السلام دکلام ردول يې شروع کړل، دا علم په کوم چې کفار خوشحاله اومشغول وه او ددی په مقابله کې دانبياؤ علمونه يې ردول ياخو د دوی جهل مرکب وو چې ناحق اوباطل يې حق اوصحيح وګڼل، لکه ديونانی فلاسفرانو ډير علمونه دتحقيقات کوم چې دَالٰهياتو متعلق دی، ددی نمونی دی، چې هيڅ دليل يې نسته، دغوته جهل مرکب خو ويل کيږی، دهغو نوم علم اينبوول دعلم سپکاوی دی يابيا ددغو ددی علم څخه مراد ددنيا دتجارت صنعت وغيره علم دی په کوم کې چې دغه خلګ په واقع کې ماهران وه او قرآن کريم ددغو ددی علم ذکر دسورة روم په آيت کې داسی فرمايلی دی، يَعْلَمُونَ ظَاهِرًا مِنَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ عَنِ الْآخِرَةِ هُمْ غَافِلُونَ (يعنی دغه خلګ ددنيا ظاهری ژوند او دی نفع حاصلول خو پيژنی اوپوهيږی په مګر داخرت څخه کوم خای چې هميشه اوسيدل دی اوکوم خای چې راحت اوتکليف دائمی دی، دهغه څخه بالکل جاهلان اوناخبره دی، په دی آيت کې هم که ددنيا دا ظاهر علم واخستل سی نو مطلب به دا وی چې دا خلګ چونکه دقيامت اواخرت څخه منکر او دهغه خای دراحت او تکليف څخه غافل اونا خبره دی، په دی وجه په خپل دی ظاهری هنر خوشحاله او مشغوله دی دانبياؤ دعلمونو طرف ته توجه نه کوی (مظهری)

فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ إِيمَانُهُمْ: يعنی دعذاب مخ ته دراتلو څخه وروسته دا خلګ دايمان اقرار کوی مګر ددغه

Maktaba Tul Ishaat.com

وخت ایمان دالله ﷻ په نزد مقبول اومعتبر نه دی ، په حدیث کی دی چی الله ﷻ دبنده توبه دهغه وخت څخه مخکی قبلوی چی دروح ختو اوغرغره دمرګ مخ ته رانه سی ، داسمانی عذاب مخ ته دراتلو څخه وروسته دچا توبه اوایمان نه قبلیږی .

اللهم انا نسئلك العفو والعافية والتوبة قبل الموت واليسر والمعافاة عند الموت والمغفرة والرحمة بعد الموت ببركة ال حم وصلى الله تعالى على النبى الكريم .

تمت سورة المؤمن بحمد الله تعالى وعونه للثالث عشر من ربيع الاخر سنه ۱۳۹۲ هـ يوم السبت فله الحمد اوله واخره وظاهره وباطنه .

﴿ سورة حم السجدة ﴾

حٰمٓ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ سُوْرَةُ السَّجْدَةِ وَرُكُوْعَاتُهَا أَرْبَعُ خَمْسُوْنَ وَآيَاتُهَا سِتٌّ وَثَلَاثُوْنَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة حٰمٓ سجده په مکه کی نازل سو په دی کی څلورپنځوس (۵۴) ایتونه اوشپږ (۶) رکوع ګانی دی .

شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی .

حٰمٓ ① تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ② كِتٰبٌ فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ

نازل سوی دی دلوی مهربان رحم والا دطرف څخه ، یوکتاب دی چی په تفصیل سره دی دده ایتونه

قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ③ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ۚ فَاَعْرَضَ اَكْثَرُهُمْ

قرآن دی په عربی ژبه دیوپوهه قوم دپاره ، او روی خوشخبری او بیره ، بیا منع ځینی کوی هغه دیر خلق

فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ④ وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا فِيْٓ اَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ

نو دوی نه اوری ، او وایی زمونږ زړونه په پردو کی دی دهغه څخه چی ته ورته مونږ بولی

وَفِيْٓ اٰذَانِنَا وَقْرٌ وَّمِنْ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ فَاعْمَلْ اِنَّنَا

اوزمونږ په غوږونو کی درونده والی دی او زمونږ اوستاپه مینځ کی پرده ده نو ته خپل کار کوه مونږ به

عٰمِلُوْنَ ⑤ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ

خپل کار کوو ، ته هم ووایه زه هم بنده یم ستاسی په شان حکم راځی ماته چی په تاسی بندګی دیو حاکم

وَّاحِدٌ فَاسْتَقِيْمُوْٓا اِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوْهُ ۗ وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِيْنَ ⑥

ده نو برابر اوسیږي دهغه طرف ته او دهغه څخه بخښنه غواړی او خرابی ده مشرکانو لره ،

Maktaba Tul Ishaat.com

الَّذِيْنَ لَا يُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ۝٧ اِنَّ

کوم چی نه ورکوی زکوٰة او دوی دآخرت څخه منکر دی ، البته

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ۝٨

کوم خلق چی ایمان را وړی اونیك عملونه کوی هغوی ته ثواب ورکول کیږي چی بند یږي نه .

لنډتفسیر : حٰمٓ (ددی معنی الله ﷻ ته معلومه ده) داکلام دَرحمٰن او رحیم څخه نازلیږی دا (کلام) یوکتاب دی چی ایتونه یی صفا صفا بیان سوی دی یعنی داسی قرآن دی کوم چی په عربی (ژبه کی) دی (ددی دپاره چی کوم خلک بلاواسطه ددی مخاطب دی یعنی عرب خلک ، هغوی په اسانی سره په دی باندی پوه سی او) ددا سی خلګو دَپاره (نفع مند) دی کوم چی هوښیار دی (یعنی که څه هم مکلف اومخاطب دَاحکامو ټول دی مګر نفع ورڅخه هغه خلک اخلی کوم چی پوه لری ، قرآن داسی خلګو ته) خوشخبری ورکوونکی دی او (دنه دمنونکو دپاره) بیرونکی دی پس (ددی تقاضا دا وه چی ټولو ایمان په راوړی وای مګر) اکثرو خلګو (دَدی څخه) مخ واړوی بیایی اوری نه او (کله چی یی ته ورته اوروی نو) هغه خلګ وایی چی دکومی خبری طرف ته ، ته مونږ بولی زمونږ زړونه دهغه څخه په پردوکی دی (یعنی ستاپه خبره مونږ نه پوهیږو) او زمونږ په غوږونوکی دروندوالی (اینبوول سوی دی) دی اوزمونږ اوستا په مینځ کی یوه پرده ده پس ته خپل کارکوه مونږ خپل کارکوو (یعنی زمونږ څخه دقبلیدو امیدمه ساته مونږ خپل طریقه کارنه پریږدو) ته ورته ووایه چی (تاسی پرایمان مجبوره کول خو زمادوس خبره نه ده څکه چی) زه خوستاسی په شان بشر یم (خدای نه یم چی په زړونو تصرف کولی سم البته الله ﷻ ماته دا امتیاز راکړی دی چی) په ما دا وحی نازلیږی چی ستاسی معبود یو دی (اوداوحی داسی ده چی هرسړی فکر وکی نو ددی په حقوالی اومعقولوالی باندی پوهیدی سی اوکله چی زما نبوت اووحی په معجزو سره ثابت سو نو زماخبره په هرحال منل پرټولو باندی فرض دی ستاسی دنه قبلولو څه وجه نسته ضروری یی قبوله کړی) هغه (معبود برحق) ته سیده سی (یعنی دهغه څخه ماسوا دبل چا عبادت طرف ته توجه مه کوی) اودهغه څخه معافی غواړی (یعنی دتیرو عملونو دشرك څخه توبه وکاړی اوذخپلو خطاګانو معافی غواړی) او ددا سی مشرکانو دپاره لویه خرابی ده کوم چی (دنبوت ددلیلونو لیدو اودَتوحید ددلیلونو اوریدو باوجود خپله باطله طریقه نه پریږدی او) زکوٰة نه ورکوی اوهغه داخرت څخه انکار کوی (ددغو برخلاف) کوم خلګ چی ایمان راوړی اونیك کارونه وکی دهغوی دپاره (په اخرت کی) داسی اجر دی کوم چی (هیڅکله) موقوف کیدونکی نه دی .

معلومات اومسئلي : دا اووه سورتونه کوم چی دحٰمٓ څخه شروع سوی دی کومو ته چی الِ حٰم یاحوامیم وایی ، د دوی په مینځ کی دفرق دپاره د دوی سره په نوم کی څه نور الفاظ هم شاملولی سی ، مثلا (سورة مومن حٰمٓ ته حٰمٓ المؤمن او ددی سورة حٰمٓ ته حٰمٓ السجده یاحٰمٓ فصلت (هم ویل کیږی ددی سورة دا دواړه نومونه معروف دی حٰمٓ فصلت او حٰمٓ السجدة .

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی سورة اولنی مخاطب دعربو قریش دی دکومو په مخکی چی داقرآن نازل سو او د دوی په ژبه نازل سو دوی دقرآن اعجاز ولیدی بیایی دنبی کریم ﷺ بی شمیره معجزی ولیدی ، ددی باوجود یی دقرآن څخه منع وکړه اوپه پوهیدل څه چی اوریدل یی هم خوښ نه کړل او دنبی کریم ﷺ دمشفقانه نصیحتونو په جواب کی یی بالاخر دا وویل چی ستا خبری نه زمونږ په فکرکی راځی نه زمونږ زړه دا قبلوی نه زمونږ غوږونه ددی اوریدو ته تیار دی ، زمونږ اوستا په مینځ کی غبرګی پردی حایلی دی بس ته خپل کارکوه اومونږ په خپل حال پریږده ، دا مطلب دی ددی سورة دابتدایی پنځو ایتونو ، په دی ایتونو کی الله ﷻ په خصوصیت سره قریشو ته ددی اظهار وفرمایی چی قرآن یی په عربی ژبه کی ستاسی دخاطره نازل کی چی تاسی ته ددی دمضامینو په پوهیدو کی مشکل نه وی ، ددی سره دقرآن کریم دری صفتونه وښودل سول اول داچی فُصِّلَتْ اٰیٰتُهٗ فصلت دتفصیل څخه ماخوذ دی چی اصل معنٰی یی مضامین جلاجلا ممتاز کول دی ، مراد ددی څخه په داګه په وضاحت سره بیانول دی برابره خبره ده که هغه په مختلفو فصلونو کی وی اوکه په یوځای دقرآن کریم په ایتونوکی ، احکام ، قصص، عقائد ، داهلِ باطلو رد وغیره مختلف مضامین جلا جلا هم بیان سوی دی اوهر یو مضمون یی په مثالونو سره واضح کړی دی ، دوهم او دریم صفت یی دقرآن کریم دا ښوولی دی چی هغه بشیر اونذیر دی یعنی خپلو منونکو ته ددائمی راحتونو خوشخبری اونه منونکو ته دابدی عذاب بیره ورکوی.

او ددی ټولو صفتونو دبیانولو څخه وروسته فرمایی ، لِقَوْمٍ یَّعْلَمُوْنَ : یعنی دقرآن ایتونه په عربی کی کیدل ، واضح اوصفا کیدل اوپه خوشخبری او بیره مشتمل کیدل دا ټول داسی خلګو لره نفع ورکولی سی کوم چی دفکر کولو اوپوهیدو اراده هم وکی ، دَیَعْلَمُوْنَ دلفظ څخه دلته دا دفکر کولو اوپوهیدو صلاحیت مراد دی ، په دی وجه په لنډتفسیرکی ددی ترجمه په دانشمند سره سوې ده مګر عربو اوقریشو ددی ټولو خبرو باوجود ددی څخه منع وکړه اوپوهیدل خو څه کوی چی اوریدل یی هم برداشت نه کړل چی ذکر یی په دی آیت کی ، فَاَعْرَضَ اَکْثَرُهُمْ : سره سوی دی.

(دنبي کریم ﷺ په مخکي دمکي دکفارو دطرف څخه یو پیش کش)

دقریشو کافران چی ددی سورة بلاواسطه مخاطب دی ، هغوی دقرآن دنزول څخه وروسته په ابتداء داسلام کی په زور اوقوت سره داسلام دتحریك دماتولو اونبی کریم ﷺ اوپه ده ایمان راوړونکو ته قسم قسم تکلیفونه رسول او د دوی دبیرولو دپاره کوششونه یی وکړل ، لیکن اسلام په مخ زیاتیدی اوقوت یی نیوی اول دعمر بن خطاب ﷺ په شان قوی اوبهادر په اسلام کی داخل سو ، بیا حضرت حمزه ﷺ کوم چی دقریشو منل سوی سردار وو هغه مسلمان سو ، نواوس دمکی قریشو دبیرولو لار پرښوله او دترغیب اولالچ په ذریعه یی داسلام دلاری بندولو تدبیرونه سوچ کول شروع کړل ، ددی سلسلی یوه واقعه ده کومه چی حافظ ابن کثیردمسند بزار، ابویعلی اوبغوی په روایتونو سره نقل کړي ده ، په دی ټولو روایتونوکی لږلږ فرق دی ابن کثیرپه دی کی دَبغوی روایت دټولوڅخه زیات اشبه اواقرب مقرر کړی دی اوددی ټولوڅخه وروسته یی دمحمد بن اسحٰق دکتاب السیرة څخه داواقعه نقل کړي ده په دی ټولو روایتونوباندی یی دی ته ترجیح ورکړي ده په دی وجه داقصه دلته دابن اسحٰق درواېت مطابق نقل کیږی

Maktaba Tul Ishaat.com

محمد بن اسحٰق بیان کړی دی چې محمدبن کعب قرظی وایی چې ماته داروایت رسیدلی دی چې عتبه بن ربیعه کوم چې دقریشو لوی سردار منل سوی وو، یوه ورځ دقریشو دیوی ډلی سره په مسجد حرام کی ناست وو، بل طرف ته نبی کریم ﷺ دجمات په یوکونج کی یوازی ناست وو، عتبه خپل قوم ته وویل چې که دستاسی خلګو رایه وی نو زه به دمحمد ﷺ سره خبری وکړم اوده ته به دترغیب څه شیان پیش کړم، که هغه په هغه کی څه قبول کړی نومونږ به هغه شیان ده ته ورکو چې هغه زمونږ ددین اومذهب خلاف تبلیغ کول پریږدی دا دهغه وخت واقعه ده کله چې حضرت حمزه ﷺ مسلمان سوی وو او دمسلمانانو طاقت ورځ په ورځ زیاتیدی، عتبه ته ټول قوم په یوه ژبه وویل چې ای ابو الولید «دا دده کنیت دی» ضرور داسی وکړه چې دده سره خبری وکی.

عتبه دخپل ځای څخه پورته سو او دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سو او دا خبری شروع سوی چې ای زماورورہ! تاته معلومه ده چې زمونږ په قوم قریش کی تاته یو لوړ مقام اولوی نسب اوشرافت حاصل دی ستاخاندان ډیر زیات دی اوزمونږ دټولوپه نزدمحترم اومکرم دی مګرتاقوم په یولوی مشکل کی مبتلولی دی، ته دیو داسی دعوت سره راغلی یی کوم چې زمونږ په ډله کی تفرقه وغورځوله، دوی دی بی وقوفه جوړ کړل، د دوی په معبودانو او دین دی عیب ولګوی او د دوی کوم پلرونه اونیکه ګان چې تیر سوی دی هغه دی کافران مقرر کړل، په دی وجه ته زما خبره واوره، زه تاته څو شیان پیش کوم چې ته په دی کی څه خوښ کړی، نبی کریم ﷺ وفرمایل، ای ابو الولیده! وایه څه چې ته ویل غواړی زه به یی اورم.

عتبه ابو الولید وویل چې ای وراره! تاچې کوم تحریک چلولی دی که په دی سره ستا مقصد مال جمع کول وی نو مونږ وعده کوو چې ستا دپاره به دومره مال جمع کو چې ته به په ټول قوم کی زیات مالدار سی اوکه مقصد دی اقتدار اوحکومت وی نو مونږ به تادټولو قریشو سردار تسلیم کړو اوستا دحکم څخه بغیر به هیڅ کار نه کوو اوکه ته بادشاهی غواړی نو مونږ تاخپل بادشاه تسلیموو اوکه صورت داسی وی چې تاته یو څوك پیری یا شیطان راځی چې تاپه دی کارونو مجبوره کوی اوته دهغه ددفع کولو څخه عاجزه یی، نو مونږ به ستا دپاره داسی علاج کوونکی راوغواړو چې تابه ددی تکلیف څخه خلاص کړی، ددی دپاره به مونږ خپل مالونه خرڅ کړو، څکه چې مونږ پوهیږو چې ځینی وخت یوپیری په انسان غالب سی چې علاج یی کیدی سی، عتبه دا اوږد تقریر کوی اونبی کریم ﷺ اوریدی.

ددی څخه وروسته یی وفرمایل چې ابوالولید! تاخپله خبره پوره کړه؟ هغه وویل چې هو! دوی ﷺ وفرمایل چې اوس زما خبره واوره، عتبه وویل چې بیشکه زه یی اورم.

نبی کریم ﷺ دخپل طرف څخه دځه جواب ورکولو په ځای ددی سورت فصلت تلاوت شروع کی.

بِسْمِ اللهِ الرحمن الرحیم: حٰمٓ (۱) تَنْزِيلٌ مِنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ (۲) كِتَابٌ فُصِّلَتْ آيَاتُهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ (۳) دبزار اوبغوی په روایت کی دی چې کله دوی داسورت وایه اودی آیت ته ورسیدی، فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنْذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِثْلَ صَاعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ: نوعتبه دده په خُله مبارکه لاس کښېښوی اودخپل نسب اورشتی قسم یی ورکی چې په دوی رحم وکی مخ ته نورهیڅ مه وایاست او دابن اسحٰق په روایت کی دی چې کله نبی کریم ﷺ ددی آیت ویل شروع کړل نوعتبه په خاموشی سره اوریدل اوپه خپلولاسونو یی شاته تکیه لګولی وه چې په غورسره یی

Maktaba Tul Ishaat.com

واوری تردی چی نبی کریم ﷺ ددی سورة دسجدی آیت ته ورسیدی اوسجده یی وکړه بیایی عتبه ته وفرمایل ای ابو الولید تا واوریدل ا څه چی دی واوریدل ، اوس ستا اختیار دی چی څه دی خوښه وی هغه کوه، عتبه د دوی دمجلس څخه ولاړ سو خپل مجلس ته ولاړی ، نو هغو خلګو دلیری څخه عتبه ته وکتل اوپه خپل مینځ کی یی وویل چی په خدای قسم دی دابوالولید مخ بدل سوی دی ، اوس دده هغه مخ نه دی په کوم چی ددی ځای څخه تللی وو کله چی عتبه خپل مجلس ته ورسیدی نوخلګو پوښتنه څینی وکړه، وایه ابو الولیده څه خبره دی راوړه؟ عتبه ابو الولید وویل چی زما خبر دا دی چی .

أَنِّي قَدْ سَمِعْتُ قَوْلاً وَاللهِ مَا سَمِعْتُ مِثْلَهُ قَطُّ وَاللهِ مَا هُوَ بِالسِّحْرِ وَلاَ بِالشِّعْرِ وَلاَ بِالْكَهَانَةِ يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ أَطِيعُونِي وَاجْعَلُوهَا لِي خَلُّوا بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ مَا هُوَ فِيهِ فَاعْتَزِلُوهُ فَوَاللهِ لَيَكُونَنَّ لِقَوْلِهِ الَّذِي سَمِعْتُ نَبَأٌ فَإِنْ تُصِبْهُ الْعَرَبُ فَقَدْ كَفَيْتُمُوهُ بِغَيْرِكُمْ وَإِنْ يَظْهَرْ عَلَى الْعَرَبِ فَمُلْكُهُ مُلْكُكُمْ وَعِزُّهُ عِزُّكُمْ وَكُنْتُمْ أَسْعَدَ النَّاسِ بِهِ (ابن كثير ص ٩١ ج ٢)

ماداسی کلام واوریدی چی په خدای قسم دی ددی څخه مخکی می هیڅکله داسی کلام نه وو اوریدلی په خدای قسم دی داخونه دجادو کلام دی ، نه دشعر یادکاهنانو کلام دی (کوم چی هغوی دشیطانانو څخه حاصلوی) ای زماقومه دقریش! تاسی زما خبره ومنی او دده معامله ماته حواله کړی زما رایه دا ده چی تاسی خلګ دده دمقابلی او ازار څخه منع سی اودی خپل کارته پریږدی څکه چی دده ددی کلام ضرور یو خاص شان کیدونکی دی تاسی اوس انتظار کوی دباقی عربو خلګو معاملی ته ګوری که دقریشو څخه علاوه دباقی عربو خلګو ده لره شکست ورکی نو ستاسی مطلب بغیر ستاسی دځه کوشش څخه حاصل سو ، اوکه دی په عربو غالب راغی نو دده حکومت به ستاسی حکومت وی ، دده په عزت سره به ستاسی عزت وی اوهغه وخت به بیا تاسی دده په کامیابی کی شریك یاست .

دده ملګروقریشوچی کله دده داکلام واوریدی نو وې ویل چی ای ابوالولید !پرتاخومحمد ﷺ په خپله ژبه جا دوکړی،عتبه وویل چی زمارایه خودادده داڅه چی می وویل مخ ته ستاسی اختیاردی څه چی غواړی کوی

وَقَالُوا قُلُوبُنَا فِي أَكِنَّةٍ : دلته دقریشو دکفارو دری خبری نقل سوی اول دا چی ستا دکلام څخه پرزړونو پرده راغلی ده ستا په خبره مونږ نه پوهیږو ، دوهمه دا چی ستادکلام څخه زمونږ غوږونه کانړه دی ، دریمه دا چی زمونږ اوستاپه مینځ کی پردی دی ، په قرآن کی یی دا قول په طور دمذمت نقل کړی دی چی په دی سره د دوی خبره غلطه معلومیږی ، مګر بل ځای په خپله قرآن د دوی داسی حال بیان کړی دی ، دسورة انعام په آیت کی دی ، وَجَعَلْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَنْ يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا : او ددی په مثل په سورة بنی اسرائیل اوسورة کهف کی دی .

ددی جواب دا دی چی دکفارو ددی وینا څخه مطلب دا وو چی مونږ خو مجبوره اومعذور یو چی زمونږ په زړونو پردی اوپه غوږونو کی مو بارونه اوپه مینځ کی پردی دی نومونږ څنګه ستاخبره واورو او ومنو ګویا خپل ځان یی مجبور ثابتوی اوقرآن چی کوم د دوی داسی حال بیان کی ، په دی کی یی دوی مجبوره نه دی ګرځولی ، بلکه ددی مطلب دا دی چی په دوی کی دالله ﷻ دایتونو داوریدو اوپه دی دپوهیدو صلاحیت وو ، مګر کله چی هغوی دغه ته غوږونه کښی نه ښوول اودپوهیدو اراده یی هم ونه

Maktaba Tul Ishaat.com

کړه نو دسزا په طور په دوی غفلت اوجهالت مسلط سو ، مګر هغه هم په دی درجه کی نه دی چی ګوندی ددی خلګو څخه اختیار سلب سو بلکه اوس هم که اراده وکړی نو بیابه ورته داوریدو او پوهیدو صلاحیت بیرته راسی (بیان القرآن)

(دمنګرانو دانکار اومسخرو پیغمبرانه جواب)

کفارو چی کوم په خپلو زړونو دپردو اوپه غوږونو کی دبارو اقرار وکی دا خو ظاهره ده ، ددی څخه مراد دا نه وو چی په دوی کی عقل نسته یاکانه دی ، بلکه یوقسم توکی اومسخری وی ، مګر ددی ظالمانه جرأت او مسخرو چی کوم جواب نبی کریم ﷺ ته تلقین سو هغه دا وو چی دهغوی په مقابله کی څه سخته خبره ونه کړی بلکه دخپل تواضع اظهار وکی چی زه خدای نه یم چی دهرکار مالك اومختار یم بلکه ستاسی په شان یوانسان یم ، فرق صرف ددی دی چی ماته زما رب وحی وکړه اوهدایت یی راته وکی ، ددی دتائید دپاره یی معجزی راکړی چی ددی اثر داکیدل په کار وو چی تاسی تولو په ما ایمان راوړی وای ، او اوس هم زه تاسی ته دا وصیت کوم چی خپل مخ په عبادت اوطاعت کی صرف دیو الله طرف ته کړی او دتیرو ګناهونو څخه توبه وکاړی .

دخطاب په اخر کی یی دقرآن دخوشخبریو او بیرولو دواړه ارخونه دوی ته مخ ته کړل چی دمشرکانو دپاره لویه خرابی ده او دمومنانو دپاره دائمی ثواب دی ، په دی کی یی دمشرکانو دخرابی بیانولو په ضمن کی ددی وجه دا ذکر کړې ده چی لَا يُؤْتُونَ الزَّكٰوةَ : یعنی دا خلګ زکوٰة نه ورکوی په دی کی څو سوالونه پیدا کیږی ، اول خو دا چی دا ایت مکی دی او دزکوٰة فرضیت په مدینه منوره کی نازل سو نو دفرض کیدو څخه مخکی په دوی دزکوٰة نه ورکولو الزام څنګه صحیح سو ؟

ددی جواب خو ابن کثیر داورکړی دی چی اصل زکوٰة خو په ابتداء داسلام کی دلمونځ سره فرض سوی وو چی ذکر یی دسورة مزمل په آیت کی راغلی دی ، مګر ددی دنصابونو تفصیلات او دوصولولو انتظام په مدینه طیبه کی سوی دی ، په دی وجه دا نه سی ویل کیدی چی په مکه کی زکوٰة فرض نه وو .

(ایا کفار دعملونو په فروعو مکلف اومخاطب دی اوګه نه ؟)

دوهم اشکال دادی چی کفاردپیرو فقهاؤ په نزدمخاطب په فروعوسره نه دی یعنی دلمانځه، روژی، حج، زکوٰة احکام په دوی نه عائد کیږی پردوی عائدحکم خودادی چی هغوی اول ایمان قبول کی دایمان څخه وروسته دافرائض عائد کیږی نوکله چی پر دوی فرض زکوٰة عائد نه وو نوپه ترك یی عتاب څنګه راغی؟

جواب دا دی چی دپیرو فقهاؤ امامانو په نزد کفار هم مخاطب بالفروع دی ، ددی په اعتبار سره خودا اشکال نه پاته کیږی اوکوم خلګ چی کفار مخاطب بالفروع نه منی هغوی ویلی سی چی په دی کی پرترك دزکوٰة اصل مذمت نسته ، بلکه دهغوی ترك دزکوٰة چونکی دکفر په بناوو اوترك دزکوٰة ددی نښانه وه ، په دی وجه هغوی ته دعتاب کولو مطلب دا سو چی که تاسی مومنان واست نو دزکوٰة پابندی به مو کوله ، ستاسی قصور ایمان نه راوړل دی (بیان القرآن)

اودکفارو په فروعو دمخاطب کیدو یانه کیدو تحقیق داحقر په کتاب احکام القرآن حزب خامس کی دی کوم چی په عربی ژبه کی شائع سوی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دریم سوال دلته دا کیدی سی چی داسلام په احکامو کی دتولو څخه مخکی خولمونځ دی ، دهغه ذکر وند سو ، دزکوٰة په خصوصیت سره په ذکر کولو کی څه حکمت دی؟ ددی جواب قرطبی وغیره دا ورکړی دی چی دعربو قریش مالدار خلګ وه اوصدقه اوخیرات دغریبانو امداد د دوی خاص وصف وو ، مګر کوم خلګ چی به مسلمانیدل هغو خلګو به هغوی دغه پول دخاندانی اومعاشرتی امداد څخه هم محرومه کول او د دوی مذمت کول مقصود دی ، په دی وجه دزکوٰة یی په خصوصیت سره ذکر وکی . واللہ اعلم

لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ : دَمَمْنُوْن لفظ معنی مقطوع ده ، مراد دا دی چی دایمان اوعمل صالح پابند و خلګو ته په اخرت کی کوم اجر ورکول کیږی هغه به دائمی غیرمنقطع وی اوځینو مفسرینو ددی دا مطلب مقرر کړی دی چی مومن دکوم نیك عمل عادی وی که په څه ناجوړی یاسفر یابل عذر سره څه وخت دغه عمل ترك هم سی خو هم ددغه عمل اجر نه سی بندولی ، بلکه اللہ ﷻ ملائکو ته حکم ورکوی چی زمابنده کوم عمل دخپلی تندرستی اوفرصت په ورځو کی په پابندی سره کوی ، ددی عذرپه حالت کی هم دغه عملونه بغیر دکولو څخه دده په عملنامه کی لیکی ، ددی مضمون حدیثونه په صحیح بخاری کی دحضرت ابو موسیٰ اشعری ﷺ څخه اوپه شرح السنة دبغوی کی دحضرت ابن عمر ﷺ اوانس ﷺ څخه اورزین دحضرت عبداللہ ابن مسعود ﷺ څخه روایت کړی دی . (مظهری)

قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِالَّذِي خَلَقَ الْأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُونَ

ته ووایه آیاتاسی منکر یاست دهغه څخه چا چی جوړه کړی ده مخکه په دوو ورځو کی اوبرابروی

لَهُ أَنْدَادًا ۚ ذَٰلِكَ رَبُّ الْعَالَمِينَ ۝٩ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ مِنْ

دهغه سره نور ، هغه دی رب دمخلوقاتو ، اوجوړیی کړل په دی کی درانه غرونه

فَوْقِهَا وَبَارَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ ۖ سَوَاءً

سربیره او برکت یی کښیښودی په دی کی اوپه اندازه یی کړل په دی کی خوراکونه ددې په څلورو ورځو کی

لِلسَّائِلِينَ ۝١٠ ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَ

پوره سو پوښتنه کوونکولره ، بیا وختی اسمان ته او هغه دود وو بیا یی وویل ده ته

لِلْأَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَا أَتَيْنَا طَائِعِينَ ۝١١ فَقَضَاهُنَّ

او مخکی ته راسی تاسی دواړه په خوښی یا په زور ، هغو وویل مونږ راغلو په خوښی سره ، بیا یی کړل هغه

سَبْعَ سَمَاوَاتٍ فِي يَوْمَيْنِ وَأَوْحَىٰ فِي كُلِّ سَمَاءٍ أَمْرَهَا ۚ وَزَيَّنَّا

اووه اسمانونه په دوو ورځو کی او نازل یی کی په هر یوه اسمان کی حکم دهغه اوښانته

Maktaba Tul Ishaat.com

السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ ۖ وَحِفْظًا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ﴿١٢﴾

کړه مونږ دټولو څخه نژدی اسمان په څراغونو سره اومحفوظ مو کی دا اندازه ده سوی دزبردست خبردار

لنډتفسیر : ته (دی خلګو ته) ووایه چی ایا تاسی خلګ دداسی خدای څخه انکار کوی کوم چی مځکه (سره ددی دومره فراخی) په دوو ورځو (مقدار وخت) کی پیدا کړه اوتاسی هغه ته شریکان نیسی هم دا (خدای دکوم چی قدرت معلوم سو) دټول جهان رب دی اوده په مځکی لوړغرونه جوړکړل اوپه دغه (مځکه) کی یی دفائدی شیان کښیښوول (لکه بوټی اوحیوانات وغیره) اوپه هغه (مځکه) کی یی ددی (داوسیدونکو) خوراکونه تجویز کړل (لکه چی لیدل کیږی چی دهری حصی دمځکی داوسیدونکو مناسب جلاجلا خوراکونه دی یعنی په مځکه یی هرقسم غلی میوی پیدا کړی یوځای یوځنګه اوبل ځای بل ځنګه چی سلسله یی برابره جاری ده داټول) په څلورو ورځو کی (وسوه ، په دوو ورځوکی مځکه په دوو ورځو کی غرونه وغیره کوم چی په شمیر کی) پوره دی دپوښتنی کوونکو دپاره (یعنی دهغو خلګو دپاره کوموچی دکائناتو دپیدائش دکیفیت اوکمیت متعلق ستاځخه پوښتنه کړی وه لکه چی په در المنثورکی دی) بیا (چی دا هرڅه یی پیدا کړل) دآسمان (دَجوړولو) طرف ته متوجه سو اوهغه دغه وخت دود غوندی وو (یعنی دآسمان ماده کومه چی دمځکی دمادی څخه وروسته دمځکی دموجوده صورت څخه مځکی جوړه سوی وه هغه د دود په شکل کی وه) نو هغه ته اومځکی ته یی وفرمایل چی تاسی دواړه (به زما اطاعت طرف ته ضرور راځی اوس تاسی ته اختیاردی چی) په خوشحالی سره راځی اوکه په زور سره (مطلب دا دی چی زمونږ تقدیری احکام چی په تاسی دواړوکی به جاری کیږی ، دهغو جاری کیدل خو تاسی ته درکول سوی دی ، دهغه په اعتبار سره دا هم کیدی سی چی تاسی زمونږ تقدیری احکام په خپله خوشحالی سره قبول کړی یاورځخه په زړه سره ناراضه سی اوهغه په زبردستی سره په تاسی کی نافذ سی ، لکه دانسان دپاره چی دمرضونو اومرګ معامله ده ، چی دهغه کیدل خوتقدیری کار دی کوم چی انسان نه سی واپس کولی ، مګرځوک هوښیار دا په رضا اوخوشحالی سره قبلوی او دصبر اوشکرفائدی حاصلوی ، ځوک ناراض اوناخوښه وی اوپه غم او ویلی کیدو سره مری نو اوس تاسی وګورۍ چی زمونږ په دی احکامو باندی راضی کیږی اوکه بد یی ګنی اومراد ددی تقدیری احکامو څخه کوم چی په آسمان اومځکه کی جاری کیدونکی وو دا دی چی آسمان اوس لاصرف ماده د دود په شکل کی وه ، ددی داوو آسمانونو په صورت کی جوړیدل تقدیری حکم وو ، اومځکه که څه هم جوړه وه ، مګر په دی کی هم په زرګونو انقلابونه او بدلونونه ترقیامته پوری چلیدونکی وه) دواړو عرض وکی چی مونږ په خوشحالی سره (ددی احکامو دپاره) حاضر یو نو په دوو ورځو کی ددی اوو آسمانونه جوړ سول او (چونکی اووه آسمانونه په ملایکو سره اباد اومعموره سوی وو ، په دی وجه) په هر آسمان کی یی دهغه مناسب خپل حکم (ملائکوته) ولیږی (یعنی دکومو ملائکو څخه چی کوم کاراخستل وو ، هغه یی ورته وښووی) اومونږ دا نژدی والا آسمان ته په ستورو سره ښائست ورکی او (دشیطانانو دآسمانی خبرونو دغلا کولوڅخه دمنع کولودپاره مو) دهغه حفاظت وکی، داتجویز دی د (خدای)

Maktaba Tul Ishaat.com

زبردست په هرڅه باندی دخبردار دطرف څخه .

معلومات اومسئلي : په دی ایتونو کی اصل مقصود دتوحید څخه منکرو مشرکانو ته د دوی په کفر او شرك باندی په یوبلیغ اندازکی خبردارکول دی چی په دی کی دالله ﷻ دپیدا کولو صفت او دآسمان اومځکی عظیم مخلوقات پربی شمیره حکمتونو مبنی دپیدا کولو تفصیل ورکړی دی او دوی ته په طور دزجر خطاب سوی دی ، چی ایاتاسی داسی بی عقله یاست چی ددا سی عظیم خالق اوقادر سره نور په خدایی کی شریکوی دا قسم تنبیه او تفصیل دسورة بقره په دریمه رکوع کی راغلی دی .

كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللهِ وَكُنْتُمْ أَمْوَاتًا فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (٢٨) هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ اسْتَوَى إِلَى السَّمَاءِ فَسَوَّاهُنَّ سَبْعَ سَمَوَاتٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ (٢٩)

دسورة بقره په ایتونو کی دپیدا کولو دورځو تعین او تفصیل ذکر نه دی دسورة فصلت په دی ذکر سور ایتونو کی ددی هم ذکر دی .

(دآسمان اومځکي په پیدائش کي ترتیب او دورځو په تخلیق یعني پیدا کولو کي تعیین)

(په بیان القرآن کی حضرت سیدی حکیم الامت قدس سره فرمایی چی هسی خو دمځکی اوآسمان دپیدائش ذکر لنډ اوپه تفصیل سره په قرآن کریم کی په سوونو ځایه راغلی دی ، مګرپه دغو کی دترتیب بیان چی اول څه جوړ سوه ، وروسته څه جوړ سوه ، دا غالبًا صرف په درو ایتونوکی راغلی دی یو دا ایت دحٰمٓ السجدة او دوهم دسورة بقره ذکرسوی آیت اودریم دسورة نازعات دا آیتونه . أَأَنْتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ السَّمَاءُ بَنَاهَا * رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّاهَا * وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَاهَا * وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَلِكَ دَحَاهَا * أَخْرَجَ مِنْهَا مَاءَهَا وَمَرْعَاهَا * وَالْجِبَالَ أَرْسَاهَا . اوپه سرسری نظر سره په دی ټولو مضامینوکی څه اختلاف غوندی هم معلومیږی ، ځکه چی دسورة بقره اوسورة حٰمٓ السجده دایتونوڅخه دمځکی پیدائش دآسمان څخه مخکی معلومیږی اودسورة نازعات دایت څخه ددی برعکس په ظاهره دمځکی پیدائش دآسمان څخه وروسته معلومیږی حضرت رحمه الله فرمایی چی په ټولو آیتونوکی په غور کولو سره زما په خیال کی خودا راځی ، چی داسی وویل سی چی اول دمځکی ماده جوړه سوه اواوس لا ددی دا موجوده هیئت نه وو جوړسوی چی په دی حالت کی دآسمان ماده جوړه سوه کومه چی ددود په شکل کی وه ددی څخه وروسته مځکه په موجوده هئیت باندی غوړول سوي ده ، بیا په دی غرونه اودرختی وغیره پیدا سوی ، بیا دآسمان دمادی څخه چی ددود په شکل سیّاله وه، اووه آسمانونه جوړسول، امید دی چی ټول ایتونه په دی تقریر بندی منطبق سي ، مخ ته دحقیقت دحال څخه الله ﷻ ښه خبر دی (بیان القرآن ، سورة بقره رکوع ٣)

په صحیح بخاری کی دحضرت ابن عباس ﷺ څخه تردی آیت لاندی څو سوالونه اوجوابونه ذکردی په هغه کی ددی آیت چی کومه تشریح حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی هغه تقریبًا دا ده کومه چی حضرت دایتونو دتطبیق دپاره بیان کړي ده ، ددغه الفاظ کوم چی ابن کثیر رحمه الله ددی آیت لاندی نقل کړی دی دا دی .

وخلق الارض فی یومین ثم خلق السمآء ثم استوی الی السمآء فسوهن فی یومین اخرین ثم دحی الارض ودحیها ان اخرج منها المآء والمرعٰی وخلق الجبال والرمال والجماد والآکام وما بینهما فی یومین اخرین فذلك قوله تعالی دحٰها .

Maktaba Tul Ishaat.com

اوحافظ ابن کثیر رحمه الله په حواله دابن جریر رحمه الله دحضرت ابن عباس ﷺ دایت حٰمٓ السجدة په تفسیر کی روایت هم نقل کړی دی چی .

دمدینی یهوددنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضرسول اودآسمانونو اومځکی دپیدائش متعلق یی پوښتنه وکړه نبی کریم ﷺ وفرمایل چی الله ﷻ مځکه دیکشنبی اودوشنبی په ورځ پیدا کړه اوغرونه اوپه دی کی چی څه معدنیات وغیره دی هغه یی دسه شنبی په ورځ ، او درختی ، داوبو چینی بناروته ابادی او ویران میدانونه یی دچار شنبی په ورځ ، دا ټولی څلور ورځی سوی لکه چی په دی آیت کی دی ، اَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِالَّذِی خَلَقَ الْاَرْضَ فِی یَوْمَیْنِ وَتَجْعَلُونَ لَهُ اَنْدَادًا ذٰلِكَ رَبُّ الْعَالَمِینَ ، وَجَعَلَ فِیهَا رَوَاسِیَ مِنْ فَوْقِهَا وَبَارَكَ فِیهَا وَقَدَّرَ فِیهَا اَقْوَاتَهَا فِی اَرْبَعَةِ اَیَّامٍ سَوَاءً لِلسَّائِلِینَ . یعنی دهغه خلګو دپاره کوم چی ددی دپیدائش سوال کوی ، بیایی وفرمایل اودجمعرات په ورځ یی آسمان جوړ کی او دجمعی په ورځ یی ستوری اولمر سپوږمی اوملائکی ، دا ټول کار دجمعی په ورځ کی دری ګنټی باقی وی چی پوره سو ، په دی کی یی په دوهمه ګنټه کی افتونه اومصیبتونه کوم چی په هرشی راتلونکی دی ، پیدا کړل اوپه دریمه ګنټه کی یی ادم ﷺ پیداکی او دی یی په جنت کی پاته کی ، اوابلیس ته یی دسجدی حکم وکی او دسجدی څخه په انکار یی دجنت څخه وایستی دا ټول د دریمی ګنټی تر ختمیدو پوری وسو (الحدیث بطوله ، ابن کثیر)

ابن کثیرداروایت نقل کوی اوفرمایی، هٰذَا الْحَدِیْثُ فِیْهِ غَرَابَةٌ ، اوپه صحیح مسلم کی یوحدیث دحضرت ابوهریره ﷺ په روایت سره راغلی دی چی په هغه کی یی دمخلوق دپیداکیدو ابتداء دهفتی دورځی څخه نبوولی ده،ددی په حساب سره دآسمان اومځکی پیداکیدل په اوو ورځوکی معلومیږی،مګردقرآن کریم په عامونصوصوکی داپیداکول په شپږو ورځوکی په صراحت سره ذکردی ، وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَیْنَهُمَا فِی سِتَّةِ اَیَّامٍ وَمَا مَسَّنَا مِنْ لُغُوبٍ : یعنی مونږ پیدا کړل آسمانونه اومځکی اوڅه چی په دی کی دی په شپږو ورځو کی اومونږ ته څه تکلیف پیښ نه سو، په دی وجه دارنګه ددی دسند په اعتبار سره هم مشرانو محدثینو دا روایت معلول ګرځولی دی ، ابن کثیر رحمه الله دا په حواله دمسلم اونسایی نقل کوی ، فرمایی ، وَهُوَ مِنْ غَرَائِبِ صَحِیحِ الْمُسْلِمِ : لکه چی په زاد المسیر لابن الجوزی کی دی ، یعنی دا حدیث دصحیح مسلم دعجائبو څخه دی اوبیا فرمایی چی دا زیاته صحیح ده (ابن کثیر ص ۱۲ ج۴)

دغه ډول ابن مدینی اوبیهقی وغیره دحدیث حافظانو هم دا دکعب احبار قول ګرځولی دی (حاشیه زاد المسیر لابن الجوزی ص ۲۷۳ ج۷)

اولنی روایت کوم چی ابن جریر دحضرت ابن عباس ﷺ څخه نقل کړي دی د ابن کثیر دفیصلی مطابق په دی کی هم غرابت دی ، یوه وجه دغرابت دا ده چی په دی روایت کی دحضرت ادم ﷺ پیدائش دآسمانونو دپیدائش سره په اخری ورځ دجمعی په اخری ساعت کی اوپه دی ساعت کی حکم دسجدی او دابلیس دجنت څخه وتل ذکر دی .

حال دا دی چی په ډیروایتونو دقرآن کی چی کومه قصه دادم ﷺ دپیدائش اوحکم دسجدی او ایستل دابلیس ذکر دی ددی دسیاق څخه په ظاهره دامعلومیږی چی دآدم ﷺ دپیدایش واقعه دپیدا کولو

Maktaba Tul Ishaat.com

دمخکی او آسمان څخه ډیره زمانه وروسته سوې ده کله چی په مځکه کی دده ټول ضرورتونه مکمل سول اوپیریان اوشیطانان په کی اوسیدل ، ددی څخه وروسته فرمایی ، اِنِّیْ جَاعِلٌ فِی الْاَرْضِ خَلِیْفَةً، (مظهری) لنډه دا ده چی دمزکی اوآسمان دپیدائش دوختونو ورځو اوپه دی کی ترتیب چی په کومو روایتونو دحدیث کی راغلی دی په هغه کی یو روایت داسی نسته کوم ته چی دقرآن په شان قطعی اویقینی وویل سی بلکه دا احتمال غالب دی چی دا اسرائیلی روایتونه وی ، مرفوع احادیث نه دی ، لکه چی ابن کثیر دمسلم اونسایی دحدیث متعلق ددی وضاحت فرمایلی دی په دی وجه قرانی ایتونه اصل مقرر کول او مقصود متعین کول په کار دی او دقرآن دایتونو جمع کولو څخه یوه خبره خودا قطعی معلومه سوه چی آسمان اومځکه اوځه چی په دی کی دی صرف په شپږو ورځو کی پیدا سوه ، بله خبره دسورة حٰمٓ السجدة دایت څخه دامعلومه سوه چی دمځکی او ددی دغرونو درختوپه پیداکولوکی پوره څلور ورځی ولګیدی ، دریمه خبره دا معلومه سوه چی دآسمانونوپه پیداکولو کی دوی ورځی ولګیدی چی په دی کی دپوره دوو ورځو لګیدو وضاحت نسته ، بلکه څه اشاره دی طرف ته ورکول کیږی چی دا دوی ورځی پوره خرڅ نه سوی داخری ورځی دجمعی څه حصه خالی پاته سوه، ددی ایتونو دظاهر څخه دامعلومیږی چی په شپږو ورځو کی اولی څلور ورځی په مځکه ، باقی دوی دآسمانونو په پیدائش کی صرف سوی اومحکه دآسمان څخه مخکی پیداسوه ، مګر دسورة نازعات په آیت کی دمځکی غوړولواومکمل کولو په وضاحت سره دپیدائش ذکر یی دآسمان څخه وروسته فرمایلی دی ، په دی وجه هغه صورت څه بعید نه دی کوم چی لوړ په حواله دبیان القرآن بیان سوی دی ، چی دمځکی پیدائش په دوو حصو کی تقسیم دی اول په دوو ورځوکی مځکه او په دی سربیره دغرونو وغیره ماده تیاره سوه ، ددی څخه وروسته په دوو ورځوکی اووه آسمانونه جوړ سول ، ددی څخه وروسته په دوو ورځوکی مځکه وغوړول سوه اوپه دی کی دننه چی کوم غرونه ، درختی ، نهرونه چینی وغیره جوړی وی دهغو تکمیل وسو، دغه ډول دمځکی په پیدائش کی څلور ورځی متصل نه سوی او په حٰمٓ السجده کی چی کوم ترتیب دبیان دا اینبول سوی دی چی اول په دوو ورځو کی دمځکی دپیدا کولو ذکر فرمایی ، خَلَقَ الْاَرْضَ فِیْ یَوْمَیْنِ، ددی څخه وروسته مشرکانو ته تنبیه وسوه، بیایی جلا وفرمایل ، وَجَعَلَ فِیْهَا رَوَاسِیَ مِنْ فَوْقِهَا وَبَارَكَ فِیْهَا وَقَدَّرَ فِیْهَا اَقْوَاتَهَا فِیْ اَرْبَعَةِ اَیَّامٍ : په دی کی په دی خو دټولو مفسرینو اتفاق دی چی په دی څلورو ورځو کی دغه دوی مخکی ورځی شاملی سوی دی ، ددی څخه جلا نه دی کنه نومجموعه به اته ورځی سی کوم چی دقرآن دوضاحت څخه خلاف دی.

اوس دلته په فکر کولو سره په ظاهره ، مقتضی دمقام دا معلومیږی چی د ، خَلَقَ الْاَرْضَ فِیْ یَوْمَیْنِ فرمایلو څخه وروسته یی دغرونو وغیره پیدائش هم د ، فِیْ یَوْمَیْنِ په لفظ سره تعبیر کړی وای نومجموعه به یی څلور ورځی کیدل په خپله معلوم سوی وای ، مګر قرآن کریم دتعبیر عنوان ددی په ځای داسی کښیښووی چی دمځکی په تخلیقاتوکی یی دباقیماندوو ذکروکی وې فرمایل چی دا ټول څلور ورځی سوی ، ددی څخه په ظاهره اشاره دی طرف ته راوزی چی داڅلور ورځی متواتر اومسلسل نه وی بلکه په

Maktaba Tul Ishaat.com

دوو حصو کی تقسیم وی ، دوی ورځی دآسمانونو دپیدا کولو څخه مخکی دوی ورځی ددغه څخه وروسته اوپه ذکرسوی آیت کی چی کوم ، جَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ مِنْ فَوْقِهَا الخ ذکر دی دا داسمانونو دپیدائش څخه وروسته بیان دی.

وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ مِنْ فَوْقِهَا : په مخکه کی غرونه ددی دتوازن ددرست ساتلو دپاره پیدا سوی دی ، لکه چی دقرآن په دیرو ایتونو کی د دی وضاحت راغلی دی ، په دی وجه دا ضروری نه وه چی دا غرونه دمخکی په سطح باندی لوړ کښیښوول سی ، په مخکه کی دننه هم کښیښوول کیدی سوه مگر په لوړ ایښوولوکی او دومره یی لوړول چی دعامو حیوانانو او انسانانو ورته رسیدل نه سی کیدی ، په دی کی دمخکی داوسیدونکی دپاره په زرگونو بلکه بی شمیره فائدی وی ، په دی وجه په دی آیت کی دَمِنْ فَوْقِهَا په لفظ سره دی خاص نعمت ته اشاره ده.

وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ سَوَاءً لِلسَّائِلِينَ، اَقْوَات دَقُوْت جمع ده چی معنٰی یی رزق او روزی ده چی عام انسانی ضرورتونه په کی دا خل دی (لکه چی ابو عبیده فرمایی ، زاد المسیر لابن جوزی)

اوحضرت حسن رحمه الله اوسدی رحمه الله ددی په تفصیل کی فرمایی چی الله ﷻ دمخکی په هره حصه کی ددی داوسیدونکو دمصلحتونو مناسب رزق او روزی مقرره کړې ده ، دمقدر فرمایلو مطلب دا دی چی دا حکم جاری سو چی دمخکی په دی حصه کی فلانی فلانی شیان په دومره دومره مقدارسره دی پیدا سی په دی تقدیرالهی سره دهری حصی دمخکی څه خصوصیات هرڅای مختلف قسم معدنیات دمختلفو اقسامو بوټی اودرختی اوحیوانان ددغه حصی دمخکی ضرورتونه ددغو دمزاج اوپسند مطابق یی پیدا وفرمایل.

په دی سره دهری حصی دمخکی مصنوعات اوملبوسات مختلف وی ، په یمن کی عصب، په سابور کی سابوری ، په ری کی طیالسه په څینی مخکه کی غنم ، په څینوکی چاوریژی اونور غلی په یوڅای کی پنبه ، په څینی کی منی انگور اوپه څینی کی آم ، ددی شیانو په اختلاف کی دهری مخکی دمزاجونو مناسبت هم دی اودعکرمه اودَضحاك دقول مطابق دا فائده هم ده چی ددنیا دټولو حصو اوملکونو دیو بل سره دتجارت اوتعاون لاری جوړی سی یوه حصه دمخکی دبلی حصی دمخکی څخه مستغنی نه وی ، یو بل ته په احتیاج کی دیو بل سره تعاون مضبوطیږی عکرمه ﷺ فرمایی چی په څینی ملکونو کی مالگه دسرو زرو په ټول خرڅیږی.

گویا مخکه الله ﷻ په دی داوسیدونکو انسانانو اوحیوانانو دټولو ضرورتونو دخوراك او لباس د اوسیدو دڅایونو وغیره یو داسی عظیم الشان گدام جوړکړی دی چی په دی کی ترقیامته پوری د راتلونکو اوسیدنکو اربونو اوکربونو انسانانو اوبی شمیره حیوانانو ضرورتونه اینبی دی ، دا دمخکی په خپله کی لویږی او دضرورت مطابق ترقیامته پوری راوزی ، دانسان کار صرف دا پاته سو چی خپل ضرورتونه دمخکی څخه را وباسی او دخپلو ضرورتونو مطابق یی استعمال کی ، مخ ته په آیت کی فرمایی ، سَوَاءً لِلسَّائِلِينَ ددی جملی تعلق اکثرو حضراتو مفسرینو د ، أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ سره مقرر کړی دی ، معنٰی یی دا ده چی دا ټول عظیم تخلیقات صحیح په څلورو ورځو کی وسوه اوپه عرف کی کومو ته چی

Maktaba Tul Ishaat.com

څلور ویل کیږی هغه کله دڅلورو څخه کم هم وی اوکله څه زیات هم ، مګر کسر حذف کړی صرف څلور ورته ووایی ، په آیت کی یی دلته لفظ د ، سَوَآءً زیات کی : دا احتمال یی قطع کی او دا یی وښوولـه چی دا کار په پوره څلورو ورځوکی صحیح سوی دی اود، لِلسَّآئِلِيْنَ فرمایلو معنٰی دا ده چی کوم خلک دآسمان اومځکی دتخلیق متعلق ستا څخه سوالات کوی لکه چی دیهودو سوال کول ، په تفسیر ابن جریر اودر منثور کی نقل دی ، دغو سوالاتو کوونکو ته یی داوښوولـه چی دا تول تخلیق صرف په څلورو ورځو کی سوی دی (ابن کثیر ، قرطبی ، روح)

اوځینو مفسرینو ابن زید وغیره د ، لِلسَّآئِلِيْنَ تعلق دجملی قَدَّرَ فِيْهَا اَقْوَاتَهَا: سره کړی دی اودَسَآئِلِين معنی یی طالبین اومحتاجین کړي ده ، په دی صورت کی به معنٰی داسی وی چی په مځکه کی الله ﷻ دکومو مختلفو اجناسو اواقسامو رزقونه او ضرورتونه پیدا کړی دی ، دا دَدی خلګو دفائدی دپاره دی کوم چی ددی طالبان اوحاجتمند دی اوچونکی طالب اومحتاج عادتًا سوال کوی ، په دی وجه یی ددی څخه تعبیر په لفظ دسائلین سره وکی (بحر محیط)

اوابن کثیر داتفسیر نقل کوی اوفرمایی چی داداسی دی لکه چی قرآن کریم فرمایی، وَاٰتٰكُمْ مِّنْ كُلِّ مَا سَاَلْتُمُوْهُ : یعنی الله ﷻ هغه تول شیان درکړل کوم چی تاسی غوښتل ځکه چی دلته هم دغوښتلو څخه مراد ددوی حاجتمندل کیدل دی سوال کول شرط نه دی ځکه چی الله ﷻ داشیان نه غوښتونکوته هم ورکړی دی.

فَقَالَ لَهَا وَلِلْاَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا اَوْ كَرْهًا قَالَتَآ اَتَيْنَا طَآئِعِيْنَ : دا اسمان اومځکی ته خطاب اوحکم ورکول او د دوی په اطاعت اوفرمان برداری سره جواب ورکول دځینومفسرینوپه نزد مجازی دی چی مځکه اوآسمان دالله ﷻ تابع فرمان دهرکاردپاره تیار سول، مګر ابن عطیه اونور تحقیق کوونکی امامان دتفسیر فرمایی چی په دی کی څه مجاز نسته ، تول په خپل حقیقت دی ، الله ﷻ په آسمان اومځکه کی شعور او ادراك په خطاب باندی دپوهیدو هم پیدا کړی وو او دوی ته یی دخبروکولو طاقت هم دَجواب ورکولو دپاره ورکی په بحر محیط کی دا نقل کوی اوفرمایی چی دا تفسیر آحسَن اوښه دی.

ابن کثیر ددی دنقل کولو څخه وروسته دځینو دا قول هم نقل کړی دی چی دمځکی دطرف څخه دا جواب دمځکی هغه حصی ورکړی وو په کومی چی بیت الله اباده سوه اوداسمان هغه حصی په کومه کی بیت المعمور دی اوبیت الله ته بالمقابل حصه ده.

فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَقُلْ اَنْذَرْتُكُمْ صٰعِقَةً مِّثْلَ صٰعِقَةِ

نو که هغوی مخ واړوی نو ته ووایه چی زه خو بیروم تاسی دیو سخت عذاب څخه لکه عذاب چی راغی

عَادٍ وَّثَمُوْدَ ﴿۱۳﴾ اِذْ جَآءَتْهُمُ الرُّسُلُ مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ

په عادیانو او ثمودیانو ، هر کله چی راغلل هغوی ته رسولان د مخکی دوی څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

خَلْفِهِمْ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ؕ قَالُوْا لَوْ شَآءَ رَبُّنَا لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً

اودشاځخه، چې عبادت مه کوی تاسی مګرماسوا دالله ځخه، وې ویل که زمونږرب غوښتی نورالیږلی به یې وای

فَاِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿١٤﴾ فَاَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوْا فِى الْاَرْضِ

ملائکی ، نو مونږ ستاسی راوړی نه منو ، نو هرڅه چې عادیان وه دوی تکبر وکی په مخکه کی

بِغَيْرِ الْحَقِّ وَقَالُوْا مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ؕ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ

په نا حقه ، او وې ویل څوك دی زمونږ ځخه زیات په زور کی ، آیا دوی نه ګوری چې الله ﷻ دوی

الَّذِىْ خَلَقَهُمْ هُوَ اَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ؕ وَكَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿١٥﴾

پیدا کړی دی ، هغه زیات دی د دوی ځخه په زور کی ، او وه دوی زمونږ دنښانو ځخه منکر ،

فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا فِىْٓ اَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيْقَهُمْ

نو ولیږله مونږ په دوی هوا زور داره ، څو ورځی چې دمصیبت وی چې وځکو ورته

عَذَابَ الْخِزْىِ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَخْزٰى

عذاب درسوایی ددنیا په ژوند کی او عذاب دآخرت خو پوره رسوایی ده

وَهُمْ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿١٦﴾ وَاَمَّا ثَمُوْدُ فَهَدَيْنٰهُمْ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰى

اودهغوی به مدد ونه کړل سی، اوهغه چې ثمودیان وونومونږهغوی ته لاروښوولې بیاهغوی روندوالی غوره کی

عَلَى الْهُدٰى فَاَخَذَتْهُمْ صٰعِقَةُ الْعَذَابِ الْهُوْنِ بِمَا كَانُوْا

دهدایت ځخه بیا ونیول هغوی چغې دعذاب دذلت بدله دهغه چې

يَكْسِبُوْنَ ﴿١٧﴾ ۚ وَنَجَّيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿١٨﴾ ع وَيَوْمَ يُحْشَرُ

هغوی کول ، او نجات ورکی مونږ هغو لره چې ایمان یې راوړی او وه دوی ځان ساتونکی ، او په کومه ورځ

اَعْدَآءُ اللّٰهِ اِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿١٩﴾ حَتّٰٓى اِذَا مَا جَآءُوْهَا شَهِدَ

چې جمع کړل سی دښمنان دالله اورته نو هغوی به ډلی ډلی کړل سی ، تردی چې کله ورسیږي هغه ته شاهدی

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَاَبْصَارُهُمْ وَجُلُوْدُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٢٠﴾

به ورکړی په هغو غوږونه دهغوی او سترګی دهغو اوځرمنی دهغوی په هغه څه چی هغه کول ،

وَقَالُوْا لِجُلُوْدِهِمْ لِمَ شَهِدْتُّمْ عَلَيْنَا ؕ قَالُوْٓا اَنْطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِيْٓ

او هغوی به ووایی خپلو ځرمنو ته ولی شاهدی وکړه تاسی په مونږ، هغوی به ووایی چی مونږ ګویانه کړو

اَنْطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَّهُوَ خَلَقَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٢١﴾

هغه الله چی هرشی یی ګویانه کړی دی او هغه پیدا کړاست تاسی اول وار او هغه ته به بیرته ورځی ،

وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ

او تاسی پرده نه کوله ددې څخه چی شاهدی به وکړی په تاسی غوږونه ستاسی او

اَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُوْدُكُمْ وَلٰكِنْ ظَنَنْتُمْ اَنَّ اللّٰهَ لَا يَعْلَمُ

نه سترګی ستاسی او نه ځرمنی ستاسی اولیکن تاسی خیال کوی چی الله پوه نه دی

كَثِيْرًا مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٢٢﴾ وَذٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِيْ ظَنَنْتُمْ

په ډیرو هغو چی تاسی کول ، او دا دی هغه ستاسی خیال کوم چی تاسی درلودی

بِرَبِّكُمْ اَرْدٰىكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٢٣﴾ فَاِنْ يَّصْبِرُوْا فَالنَّارُ

دخپل رب په حق کی دی تاسی هلاک کړاست نو سواست نن په خساره کی ، بیا که هغوی صبر کوی نو اور

مَثْوًى لَّهُمْ ۚ وَاِنْ يَّسْتَعْتِبُوْا فَمَا هُمْ مِّنَ الْمُعْتَبِيْنَ ﴿٢٤﴾ وَ

دهغوی کور دی ، او که عذر کول وغواړی نو عذر به یی قبول نه کړل سی ،

قَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ فَزَيَّنُوْا لَهُمْ مَّا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ

اولګولی دی مونږ په هغوی پسی ملګری نوښانسته کړی یی دی هغوی ته هغه عملونه چی دهغوی په مخکی دی

وَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ

اوهغه چی دهغوی شاته دی اوثابته سوی ده په هغوی خبره دعذاب دهغو فرقو سره چی دهغوی څخه مخکی تیر

Maktaba Tul Ishaat.com

الْجِنِّ وَالْإِنْسِ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا خَاسِرِينَ ﴿٢٥﴾

سوی دی دپیریانو څخه او دانسانانو څخه بیشکه هغوی وه په تاوان کی .

لنډتفسیر: بیا (دَتوحید دلیلونه چی واوری هم) که دا خلګ (دَتوحید څخه) اعراض کوی نوته ووایه چی زه تاسی ددی افت څخه بیروم لکه چی پرعادیانو اوثمودیانو باندی (دشرک اوکفر په وجه) افت راغلی وو (مراد په عذاب سره هلاکول دی ، لکه چی دمکی قریش دبدر په غزاکی هلاك اوقید سول اودا قصه دعادیانو اوثمودیانو هغه وخت سوی وه) کله چی دوی ته د دوی دمخکی څخه هم او د دوی دشا څخه هم پیغمبران راغلل (یعنی کوم پیغمبران چی دوی ته لیږل سوی وه او د دوی په پوهولوکی هغوی ترخپله وسه کوشش وکی لکه چی یوسړی خپل یوعزیز دیو مصیبت یاهلاکت طرف ته په تللو کی ووینی نو هغه کله دمخکی څخه اوکله دشا څخه هغه منع کوی او ددی مثال په قرآن کی دابلیس داقول دی چی ده ویلی وه ، وَلَآتِيَنَّهُمْ مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ : یعنی زه به انسان ته دګمراه کولو دپاره دده دمخ څخه هم راځم او دشاځخه هم اوهغو پیغمبرانو داسی وویل چی) بغیر دالله ﷻ څخه دبل چاعبادت مه کوی هغو جواب ورکی چی (تاسی چی کوم دالله ﷻ دطرف څخه دراتلو اوتوحید طرف ته دبلنی دعوه کوی داغلطه ده ځکه چی) که زمونږ پروردګار ته (دا) منظوره وای (چی یوځوك یی پیغمبر رالیږی) نوملائکی به یی رالیږلی، په دی وجه مونږ ددی (توحید) څخه هم منکر یوکوم چی یی تاته درکی (ستاسی ددعوی مطابق) یی ته (پیغمبرجوړکړی) رالیږلی یی بیا (ددی مشترك قول څخه وروسته دهریوقوم چی کوم خاص تفصیل دی هغه دا دی چی) کوم دعادخلګ وه هغوی په دنیاکی په ناحقه تکبرکوی او (کله چی یی دعذاب وعده واوریده نو) وې ویل هغه څوك دی کوم چی په قوت کی زمونږ څخه زیات دی (چی هغه مونږ په داسی عذاب کی اخته کولی سی اومونږ یی په دفع کولو قادرنه یو مخ ته جواب دی چی) ایا هغه خلګ دی ته نه ګوری چی کوم خدای دوی پیداکړی دی هغه په قوت کی د دوی څخه ډیر زیات دی (مګرسره ددی هم هغوی ایمان رانه وړی) اوزمونږ دایتونوڅخه یی انکار کوی نومونږ پرهغوی یوه سخته هوا په داسی ورځوکی ولیږله کومی چی (په وجه دالله ﷻ دعذاب نازلیدو د دوی په حق کی) منحوسی وی چی مونږ دوی ته ددنیا په ژوندکی درسوایی دعذاب خوندوځکی اوداخرت عذاب نور هم درسوایی سبب دی او (ددی عذاب په وخت دیوطرف څخه هم) هغوی ته مدد ونه رسیدی اوهغه کوم چی ثمودیان وه نو (دهغوی کیفیت داسو چی) مونږ هغوی ته (دَپیغمبر په ذریعه) هدایت وکی ، هغوی ګمراهی دهدایت په مقابله کی خوښه کړه نو هغوی دسر څخه ترپښو پوری ذلت دعذاب افت ونیول دهغوی دبدو عملونو په وجه او مونږ (ددی عذاب څخه) هغو خلګو ته نجات ورکی کوموچی ایمان راوړی اوزمونږ څخه بیریدل (تردی ځای پوری ددنیوی عذاب ذکروو ، مخ ته داخرت دعذاب ذکردی) او (دوی ته هغه ورځ هم یاده کړه) په کومه ورځ چی دالله ﷻ دښمنان (یعنی کفار) د دوزخ طرف ته دجمع کولو دپاره (موقف دحساب ته) راوستل سی بیا (په لاری د دوی د ډیروالی په وجه دګډوډ کیدو څخه دمحفوظ کولو اوپه جمع ساتلو دپاره) به هغوی ودرول سی (ددی دپاره چی وروسته پاته کیدونکی ورسره یوځای سی لکه چی دحضرت

Maktaba Tul Ishaat.com

سلیمان ﷺ په واقعه کی یی دتولولښکرو دجمع کولو دپاره ، فَهُمْ يُوزَعُونَ وفرمایل یعنی دوی به ودرول سی، تردی چی کله هغوی (تول جمع سی) هغه (دوزخ) ته نژدی راسی (مراد ورځخه موقف دحساب دی دکوم ځای څخه چی به دوزخ نژدی په نظر راځی لکه چی په حدیث کی راغلی دی چی دوزخ به موقف دحساب ته نژدی سی او دا کافران به خپل ځلور واړه طرف ته اور او اور وینی غرض دا چی کله موقف دحساب ته راسی اوحساب شروع سی، نو د دوی غوږونه اوسترګی اوځرمنی به د دوی خلاف د دوی دعملونو شاهدی ورکوی او (هغه وخت به) هغه خلګ (په تعجب سره) خپلو اندامونو ته ووایی چی تاسی زمونږ خلاف شاهدی ولی ادا کوی (مونږ خو دا هرڅه په دنیا کی تاسی ته دراحت رسولو دپاره کول ، لکه چی په حدیث کی دحضرت انس ﷺ دروایت څخه دا قول نقل دی چی، فَعَنْكُنَّ كُنْتُ أُنَاضِل : رواه مسلم یعنی ماخو ستاسی دپاره داټول کوشش کوی) هغه (اندامونه) به جواب ورکی چی مونږ هغه (قادرمطلق) ګویاکړی یوکوم چی هر (ګویا) شی ته ګویایی ورکړه (چی په دی سره مونږپه خپل ځان کی په خپله دا مشاهده وکړه) اوهغه تاسی اول وار پیدا کړی واست اوهغه ته اوس بیا (دوباره ژوندی سوی) راوستل سواست (نومونږ دداسی لوی قدرت لرونکی په پوښتنه کولوحق خبره څنګه پټولی سو، په دی وجه شاهدی مو ورکړه) او (مخ ته الله ﷻ دی منکرانوته خطاب فرمایی چی) تاسی (په دنیاکی) ددی خبری څخه خو ځانونه (په یودول) پټ (اوبچ) کولی نه سوای چی ستاسی غوږونه اوسترګی اوځرمنی ستاسی په خلاف شاهدی ورکی (ځکه چی دحق تعالی قدرت مطلقه اوعلم محیط په واقع کی ثابت دی چی ددی مقتضا دا وه چی دبدو عملونو څخه موځانونه ساتلی) لیکن تاسی (په دی وجه ځانونه نه ساتل چی) په دی ګمان کی واست چی الله ﷻ ته ستاسی دډیرو عملونو خبرهم نسته اوستاسی هم هغه ګمان کوم چی تاسی په خپل رب باندی کړی وو تاسی برباد کړاست (ځکه چی په دی ګمان سره دکفر دکارونومرتکب سواست اوهغوی موجب دبربادی سول) بیاتاسی په (ابدی) خساره کی پریوتلاست نو په (دی حالت کی) که دغه خلګ (په دی بربادی اوتاوان باندی) صبرکوی (اوتقدیرته ځان وسپاری عذر معذرت هیڅ نه کوی) بیاهم دوزخ د دوی ځای دی (داسی نه ده چی د دوی صبر به موجب درحم سی لکه چی په دنیاکی به اکثره داسی کیده) اوکه هغوی عذرکول وغواړی نوهم به مقبول نه وی اومونږ (په دنیاکی) د دوی (کفارو) دپاره څه د دوی سری ملګری (شیطانان) مقررکړی وه نو هغوی د دوی مخکی او وروسته عملونه دوی ته ښائسته کړی وه (په دی وجه په هغه ټینګ وه) او (په کفر داصرارکولو په وجه) د دوی په حق کی هم دهغو خلګو سره دالله ﷻ خبره (یعنی وعده دعذاب) پوره سوه کوم چی د دوی څخه مخکی پیریان او انسانان (کفار) تیر سوی دی بیشکه هغوی هم په تاوان کی سول .

معلومات اومسئلي : فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا : دا دهغه عذاب ، صاعقه، تشریح ده کوم چی ددی څخه په مخکی آیت کی دصَاعِقَةُ عَادٍ وَثَمُودَ، په عنوان سره بیان سوی دی ، دصَاعِقَةً اصل معنی مدهوش اوبی هوښ کوونکی شی دی ، په دی وجه رالویدونکی تندرته هم صاعقه ویل کیږی اودناګهانی افت اومصیبت دپاره هم دالفظ استعمالیږی ، په قوم دعاد چی کوم دهوا طوفان مسلط سو، هغه هم ددی صاعقی یو فرد دی هم دا یی د، ریح صرصر، په نامه سره بیان کړی دی، کوم چی تیزی اوتندی هواته

Maktaba Tul Ishaat.com

ویل کیږی په کومه کی چی په تیزی سره سخت اوازهم وی (قرطبی)
ضحاك ﷺ فرمایی چی په هغو خلګو باندی الله ﷻ دری کاله باران بالکل بند کی اوتیزی او تندی وچی هواګانی به چلیدی اواته ورځی اووه شپی مسلسل دهوا سخت طوفان وو، په ځینو روایتونو کی دی چی دا واقعه دشوال په اخر کی دیوی چارشنبی په ورځ شروع سوه اوتر بلی چارشنبی پوری وه اوپه کوم قوم چی عذاب راغلی دی نو هغه دچارشنبی په ورځ راغلی دی (قرطبی اومظهری)
حضرت جابر بن عبدالله ﷺ فرمایی چی کله الله ﷻ دقوم خیر غواړی نو په هغوی باران اوروی اودیری تیزی هواګانی په هغوی نه را ولی اوکله چی دیو قوم په مصیبت کی اخته کول وی نو باران ورځخه منع کړی اوهواګانی زیاتی اوتیزی چلیږی.
فِيْ اَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ: داسلام داصولو اودنبی کریم ﷺ داحادیثو ځخه ثابته ده چی یوه ورځ یا شپه په خپل ذات کی منحوسه نه ده، په قوم دعادیانو باندی دباد دطوفان ورځو ته د، نحسات، فرمایلو دا مطلب دی چی دغه ورځی ددغه قوم په حق کی د دوی دبدو عملونو په سبب منحوسی وی (مظهری اوبیان القرآن) او ددی مسئلی پوره تحقیق چی څه شی په خپل ذات کی منحوس کیدی سی یانه داحقر په کتاب احکام القرآن حزب خامس کی وګوری کوم چی په عربی کی طبع سوی دی.
فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ: دا دوزع ځخه مشتق دی چی معنٰی یی منع کول او بندول دی، ددی مطابق په لغت تفسیر کی ددی ترجمه په بندولو سره سوي ده اواکثره مفسرین حضرات دامعنٰی اخلی چی جهنمیان به په ډیر شمیر کی وی، دوی به میدان دحشر اوموقف دحساب ته دبیولو په وخت کی دانتشار ځخه دمحفوظ کولو دپاره مخ ته حصه لږ ودروی چی وروسته خلګ راسی او ورسره یوځای سی، اوځینو مفسرینو حضراتو د، يُوْزَعُوْنَ ترجمه په يُسَاقُوْنَ او په يُدْفَعُوْنَ سره کړي ده چی معنٰی یی دا ده چی دوی به موقف دحساب طرف ته په ډیکه کولو اوشړلو سره را وستل سی (قرطبی)
وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ الاية: معنٰی دایت داده چی انسان که په پته ځه جرم اوګناه کول غواړی نودنورو خلګو ځخه خوپتیدی سی په خپله دځان ځخه اودخپلواندامونو ځخه به ځنګه پټ سی کله چی دامعلومه سی چی زمونږ غوږونه سترګی،لاسونه اوپښی اودبدن پوست او وریښته داټول زمونږ نه دی بلکه سرکاری شاهدان دی اوکله چی ددوی ځخه زمونږ دګناهونو په باره کی پوښتنه وسی نورښتنی شاهدی به اداکی،نوبیاپه پته دګناه اوجرم کولوځه لارهم نه پاته کیږی،ددی رسوایی ځخه دمحفوظ کیدوددی ځخه ماسوابله هیڅ لارنسته چی ګناه دسره پریښوول سی مګرتاسی خلق یعنی منکران دتوحید اورسالت دی طرف ته ګرسره ګوری نه چی زمونږ اندامونه به خبری کوی اوزمونږ په خلاف به دالله ﷻ په مخکی شاهدی اداکوی مګردومره خبره خودهریوعقل خاوندپه خیال کی راتلی سوه چی کوم ذات مونږدیوحقیر شی ځخه پیدا کړو او اوریدونکی اولیدونکی انسان یی راڅخه جوړ کړه، ویی پاللو اوخوانان یی کړو، ایا دهغه علم به زمونږ په عملونو اوحالاتومحیط نه وی، مګرتاسی ددی ظاهری شی خلاف داګمان کړی وو چی الله ﷻ ته زمونږ دډیرو عملونو هیڅ خبره نسته، په دی وجه تاسی په کفر اوشرك کولو باندی زرور سواست، وَذٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِيْ ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ اَرْدٰىكُمْ (یعنی ستاسی دا بد ګمان تاسی هلاك کړاست)

Maktaba Tul Ishaat.com

(دانسان داندامونو او جوارحو په محشر کې شاهدی)

په صحیح مسلم کی دحضرت انس ﷺ څخه روایت دی چی یوه ورځ مونږ دنبی کریم ﷺ سره وو ، ده ﷺ ته خندا ورغله ، بیا دوی وفرمایل چی تاسی ته معلومه ده چی زه په څه خبره پوری خاندم، مونږ عرض وکی چی الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ پوهیږی ، دوی وفرمایل چی ماته خندا په دی خبره راغله ، کومه چی به په میدان دحشر اوموقف دحساب کی بنده دخپل رب سره کوی ، دا عرض به وکی چی ای زما پروردګاره ایا تا دظلم څخه پناه نه ده راکړی ؟ الله ﷻ به وفرمایی چی بیشکه درکړی می ده ، نو په دی باندی به بنده ووایی چی هرکله خبره دا ده نو زه دخپل حساب اوکتاب په معامله کی دبل هیڅاپه شاهدی مطمئن کیږم نه ، بغیر ددی چی زماپه بدن کی څوك شاهدی ادا کی ، الله ﷻ به وفرمایی ، كَفٰى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيبًا: یعنی بنه ده ته په خپله خپل حساب وکړه ، ددی څخه وروسته به دده په خُلی مهر ووهل سی او دده اندامونو ته به وویل سی چی تاسی دده عملونه وښیاست ، هر یو اندام به ووایی اوربښتنی شاهدی به پیش کی ، ددی څخه وروسته به دده ژبه خلاصه سی نو دی به په خپله دخپلو اندامونو څخه ناراضه سی وبه وایی ، بُعْدًا لَّكُنَّ وَسُحْقًا فَعَنْكُنَّ أُنَاضِلُ (یعنی تاسی خراب اوبرباد سی ماخو په دنیاکی چی څه کړي دی تاسی ته دارام رسولو دپاره می کړی دی (اوس تاسی زما خلاف شاهدی ورکوی)

او دحضرت ابوهریره ﷺ په روایت کی دی چی ددغه سړی په خُله به مهر ولګول سی او دده ورانه ته به وویل سی چی ته ووایه او دده عملونه بیان کړه نو دانسان دورنونو غوښه اوهډوکی تول به دده دعملونو شاهدی ادا کړی (مسلم ، مظهری)

او دحضرت معقل بن یسار ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، راتلونکی ورځ انسان ته دا اوازکوی چی زه نوی ورځ یم اوڅه عمل چی ته په ماکوی دقیامت په ورځ به زه په هغه شاهدی اداکوم، په دی وجه تاته په کاردی چی زمادختمیدوڅخه مخکی یونیکی وکړی چی زه دهغه شاهدی اداکړم اوکه زه ولاړم نوبیابه ته ماهیڅکله نه کی پیدا اودغه ډول هره شپه انسان ته دا اواز کوی (ذکره ابونعیم ، قرطبی)

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَالْغَوْا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ﴿۲۶﴾

او وویل کافرانوچی غوږونه مه ږدی ددی قرآن اوریدو ته اوشورکوی ددی په ویلوکی شاید چی تاسی غالب سی

فَلَنُذِيْقَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَذَابًا شَدِيْدًا ۙ وَّلَنَجْزِيَنَّهُمْ

نو مونږ به خامخا وڅکوو کافرانو ته عذاب سخت او دوی ته به بدله ورکو

اَسْوَاَ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۷﴾ ذٰلِكَ جَزَآءُ اَعْدَآءِ اللّٰهِ

دبدو څخه بده دهغو کارونو چی دوی کول ، دا سزا ده دالله ددښمنانو

النَّارُ ۚ لَهُمْ فِيْهَا دَارُ الْخُلْدِ ؕ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا

اور دی د دوی په هغه کی کور دی دهمیشه بدله دهغه چی زمونږ دخبرو څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

يَجْحَدُونَ ﴿٢٨﴾ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا رَبَّنَا أَرِنَا الَّذَيْنِ

يې انکار کوی او وبه وایي هغه خلق چې کافران دی ای زمونږ ربه! مونږ ته وښیی هغه دواړه

أَضَلَّانَا مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ أَقْدَامِنَا لِيَكُونَا

کومو چې مونږ ګمراه کړو دپیریانو او انسانانو څخه چې وغورځوو مونږ هغه لاندی دپښو خپلو څخه چې

مِنَ الْأَسْفَلِينَ ﴿٢٩﴾

هغه سی تر ټولو څخه لاندی.

لنډتفسیر: او دا کافران (په خپل مینځ کی) دا وایی چی دا قرآن مه اوری او (که چیری پیغمبر یی اوری هم نو) ددی په مینځ کی شور کوی شاید (په دی تدبیر سره) تاسی غالب سی (او پیغمبر ناچاره سی خاموشه سی) نو (د دوی ددی ناپاکی ارادی اوقصد په بدله کی) مونږ به دی کافرانو ته دسخت عذاب خوند وڅکو اوهغوی ته به دهغوی دبدو بدو کارونو سزا ورکو، داسزا ده دالله ﷻ ددښمنانو یعنی دورځ دهغوی دپاره به هلته دهمیشه اوسیدو مقام وی ددی خبری په بدله کی چی هغوی به زمونږ دایتونو څخه انکار کوی (اوکله چی په عذاب کی اخته سی نو) هغه کفاربه ووایی ای زمونږ پروردګاره! مونږ ته هغه دواړه شیطان اوانسان وښیه کومو چی مونږ ګمراه کړی وو چی مونږ یی ترخپلو پښو لاندی ومړو چی هغوی ښه ذلیله سی (یعنی دوی ته به هغه وخت پرهغو خلګو باندی غصه ورسی کومو چی دوی په دنیا کی لمسولی وه، انسانانو هم اوشیطانانو هم برابره خبره ده که یو یو وی اوکه ډیر وی اوهسی خوبه دغه لمسوونکی هم په دورځ کی وی مګر ددی خبرو په وخت کی به هغوی دوی ته مخامخ نه وی، په دی وجه یی ددغو دمخامخ کیدو درخواست وکی، په یو ایت یایو روایت کی دا ذکر نه دی لیدل سوی چی ددغو دا درخواست به منظور سي اوکه نه، والله تعالی اعلم.

معلومات اومسئلي: لَا تَسْمَعُوا لِهَٰذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ: کفار چی کله دقرآن دمقابلی څخه عاجزه سوه او ددی خلاف د دوی ټول تدبیرونه ناکامه سول نو دغه وخت دوی داحرکت شروع کی، حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی ابوجهل خلګ دی ته تیار کړل چی کله محمد ﷺ قرآن وایی نوتاسی دده خواته ورځی چیغی اوشور زورږ جوړوی چی خلګو ته درک ونه لګیږی چی دی څه وایی، څینو ویلی دی چی دشپیلیو وهلو، لاسونو ټکولو او قسم قسم اوازونه را ایستلو په وجه سره یی دقرآن داوریدو څخه دخلګو دمنع کولو تدبیرونه وکړل (قرطبی)

(دقرآن دتلاوت په وخت کي خاموش اوسیدل اوقرآن اوریدل واجب دی اوخاموش نه پاته کیدل دکفارو عادت دی)

دذکر سوی آیت څخه معلومه سوه چی دقرآن په تلاوت کی دخلل اچولو په نیت سره شور کول خو دکفارو ننبانه ده، ددی څخه هم معلومه سوه چی چپ اوسیدل اوقرآن اوریدل واجب او دایمان ننبانه ده، نن صبا په ریډیو باندی دقرآن تلاوت داسی صورت اختیارکړی دی چی په هرهوټل اوهره مجمع کی ریډیو ږغول کیږی، چی دقرآت تلاوت په کی کیږی اوهوټل والاخوپه خپلوکارونوکی مشغول وی اوخوړلوچښلو

Maktaba Tul Ishaat.com

والاپه خپل شغل کی ددی صورت هغه جوړیږی کوم چی دکفارونښانه وه الله ﷻ دی مسلمانانو ته هدایت وکی چی یاخو یی په داسی موقعو باندی دتلاوت دپاره نه ږغوی اوکه ږغوی یی اوبرکت حاصلول غواړی نو چی دخو منټونو دپاره خپل کارونه بند کی ، په خپله دی هم په توجه سره واوری اونورو ته دی هم ددی لار ښوونه وکړی .

إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا

بیشکه چا چی وویل رب زمونږ الله دی بیا په دی قائم پاته سو

تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا

نازلیږي په دوی باندی ملائکی چی تاسی مه بیریږي او مه غم کوی او خوشخبری واورو ی

بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ ﴿٣٠﴾ نَحْنُ أَوْلِيَاؤُكُمْ فِي

په هغه جنت سره دکوم چی تاسی سره وعده وه ، مونږ ستاسی ملګری یُو په

الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ ۖ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنْفُسُكُمْ

ژوند ددنیا کی او په آخرت کی او ستاسی دپاره دی هغه چی غواړی ستاسی زړونه

وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ﴿٣١﴾ نُزُلًا مِنْ غَفُورٍ رَحِيمٍ ﴿٣٢﴾ وَ

او ستاسی دپاره دی هلته څه چی غواړی ، میلمستیا ده دبخښونکی مهربان دطرف څخه ، او

مَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ

دهغه څخه غوره دچا خبره ده څوك چی بلنه کوی الله طرف ته اوکوی نیك عملونه اووایی

إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٣٣﴾ وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ۚ

چی زه حکم منونکی یم ، اوبرابره نه ده نیکی اونه بدی

ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ

په جواب کی وایه هغه چی دهغه څخه غوره وی بیا به ته وویني چی ستا او دچا په مینځ کی چی دښمنی وه

كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ ﴿٣٤﴾ وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا وَ

ګویا دوست داره دی دخپلولی ، اوداخبره رسیږی هغه ته چی صبر کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

مَا يُلَقّٰىهَآ اِلَّا ذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ۝ وَاِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ

او دا خبره رسيږي هغه ته دچا چې لوی قسمت دی ، او که ورسيږي تا ته د

الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝

دشيطان څخه څه وسوسه نو پناه غواړه په الله سره ، بيشکه هغه دی اوريدونکی پوهيدونکی.

لنډتفسير : کوموخلګوچی (په زړه سره) اقراروکی چی زمونږ رب (حقيقی صرف) الله دی (مطلب دا دی چی شرک يی پريښی دی اوتوحيد يی اختيارکی) بيا (په دی) ثابت قدم پاته سول (يعنی پری يی ننبودی) په هغوی باندی (دالله ﷻ دطرف څخه درحمت اوخوشخبری) ملائکی نازليږی (اول دمرګ په وخت کی بياپه قبرکی بياپه قيامت کی ، لکه چی په دُرِّمنثورکی دحضرت زيدبن اسلم په روايت سره ثابت دی اووايی به) چی تاسی مه (داخرت دحالاتو څخه) بيره کوی اومه (ددنيا په پريښوولو باندی) غم کوی (څکه چی مخ ته ستاسی دپاره ددی نعم البدل اوامن اوعافيت دی) اوتاسی په جنت (ليدو) خوشحاله اوسيږی دکوم چی ستاسی سره وعده کول کيږی مونږ ستاسی ملګری وو ، ددنياپه ژوندکی هم اوپه اخرت کی به هم يو (په دنياکی دملائکو ملګری کيدل دا دی چی هغوی دانسان په زړه کی دنيکو کارونو الهام کوی اوڅه تکليف اومصيبت چی ورپيښيږی نوپه هغه صبر اوسکون دملائکو دملګرتيا اثر وی اوپه اخرت کی به يی ملګری کيدل خو په ډاګه اومخامخ وی لکه چی په قرآن کريم کی دی ، وَتَتَلَقّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ : اوپه بل آيت کی ، وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَدْخُلُوْنَ عَلَيْهِمْ مِنْ كُلِّ بَابٍ وغيره) اوستاسی دپاره په دی (جنت) کی کوم شی چی ستاسی زړه غواړی موجود دی او دارنګه ستاسی دپاره په دی کی چی څه غواړی موجود دی (يعنی څه چی په ژبه سره غواړی هغه خو به ورکول کيږی ، بلکه دغوښتلو به هم ضرورت نه وی کوم شی چی ستاسی زړه غواړی موجود کيږی به) دا به په طور دميلمستيا وی دغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ : دطرف څخه (يعنی دا نعمتونه په اعزاز او اکرام سره به داسی ورکول کيږی ، لکه څنګه چی ميلمنوته ورکول کيږی مخ ته دښه حال څخه وروسته يی دخبرو اوعملونو ښه والی ښوول سوی دی) ددی څخه ښه دچاخبره کيدی سی کوم چی (دخدای طرف ته) خلګ بولی او (په خپله هم) نيک عمل کوی او (داطاعت داظهار دپاره) وايی چی زه دفرمانبردارو څخه يم (يعنی بندګی خپل فخر ګڼی دمتکبرانو په شان په شرميږی نه) او (چونکی دالله ﷻ طرف ته ددعوت کوونکو اودخلګو داصلاح اراده کوونکو ته اکثر دجاهلانو دطرف څخه ازارونه اوتکليفونه رسيږی په دی وجه مخ ته دوی ته دظلم په مقابله کی دانصاف او دبدی په بدله کی دنيکی کولو تلقين کول کيږی ، دارنګه په تجربه سره ثابته ده چی ددعوت دموثر اوکاميابيدو هم دا طريقه ده چی دمخالفينو په ازارونو صبر وکی د دوی سره ښه سلوک وکی ، په دی وجه نبی کريم ﷺ ته خطاب کوی فرمايی ، چی په دی کی ټول مسلمانان ضمناً شامل دی چی) نيکی اوبدی برابر نه دی (بلکه دهر يو اثر جلا دی اوکله چی دا خبره ثابته سوه نو اوس) ته (سره دخپلو متبعينو) په نيک سلوک سره (بدی) منع کړه بياپه يودم (ته ووينی چی) ستا اودکوم سړی په مينځ کی چی دښمنی وه هغه به داسی سی لکه څوک چی

Maktaba Tul Ishaat.com

دزړه دوستان وی (یعنی دبدی بدله په بدی سره په ورکولو کی خودښمنی زیاتیږی اوپه نیکی کولو سره په دی شرط چی ددښمن طبیعت سالم وی دښمنی کمیږی تردی چی اکثره خوبالکل دښمنی ختمه سی او په دی معامله کی په شان ددوست سی که څه هم په زړه سره دوست نه وی) اوداخبره هغو خلګو ته نصیب کیدی سی کوم چی (داخلاقو په اعتبارسره) لوی مستقل (مزاج) وی اوداخبره هغوته نصیب کیږی کوم چی (ثواب په اعتبار سره) لوی نصیب داره وی اوکه چیری (په داسی وخت کی) تاته دشیطان دطرف څخه (دغصی) څه وسوسه راسی نو (فوراً) دالله ﷻ څخه پناه غواړه بیشکه هغه ښه اوریدونکی ښه پوهیدونکی دی (په شرط دسلامتیا دطبع په قید سره داخدشه لیری سوه چی ځینی وخت دشریر انسان سره په نرمی کولو چپه اثرکیږی ځکه چی ددی صرف دداسی خلګو څخه احتمال وی کوموچی خپله سلامتی دطبیعت ختمه کړی وی اوهغه کله کله وی)

معلومات اومسائل: دسورة دشروع څخه تردی ځای پوری منکرانو دقرآن اومنکرانو دتوحید اورسالت ته خطاب دی ، دوی ته یی دالله ﷻ دکامل قدرت نښانی ورمخ ته کړی ، دتوحیددعوت بیا دانکار کوونکو دانجام اواخرت دعذاب او د ورځ په تفصیل سره بیان راغلی دی ، ددی ځای څخه دمومنانو اوکاملانو حالات اوپه دنیا اواخرت کی د دوی داعزاز اواکرام بیان او د دوی دپاره دخاصو هداياتو ذکر دی ، مومنان کاملان هغه وی کوم چی په خپله هم په عملونو اواخلاقو کی مستقیم اوبی چون اوچرا بالکل دشریعت مطابق وی او نورو ته هم دالله ﷻ طرف ته دعوت ورکوی او د دوی داصلاح فکر کوی ، په دی سلسله کی داسلام ددا‌عیانو دپاره دصبر او دبدی په بدله کی دنیکی کولو دهدایت ښودنه ده .

داستقامت معني : اولنی جزء یی په لفظ داستقامت سره تعبیر کی ارشاد وسو، إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا : یعنی کوموخلګوچی په صدق دزړه سره په الله ﷻ دخپل رب یقین وکی او ددی اقرار یی هم وکی ، نو دا اصل ایمان سو ، مخ ته په دی مستقیم هم پاته سو داعمل صالح سو، دغه ډول دایمان اوعمل صالح جامع سو، دلفظ داستقامت چی کوم مطلب په لنډتفسیرکی بیان سوی دی چی په ایمان اوتوحید باندی قایم سو او دایی پری نه ښووی ، دا تفسیر دحضرت صدیق اکبر ﷺ څخه نقل دی اوتقریبًا دا مضمون دحضرت عثمان غنی ﷺ څخه منقول دی هغوی داستقامت تفسیر په اخلاص عمل سره فرمایلی دی اوحضرت فاروق اعظم ﷺ فرمایی چی .

اَلْاِسْتِقَامَةُ اَنْ تَسْتَقِيْمَ عَلَى الْاَمْرِ وَالنَّهْيِ وَلَا تَرُوْغَ رَوَغَانَ الثَّعَالِبِ (مظهری)

استقامت دا دی چی ته دالله ﷻ په ټولو احکامو اوامرو اونواهی باندی برابر پاته سی ، دهغه څخه بوه خوا اوبله خوا ته دګیدړ په شان دتینبتی لار ونه لټوی .

په دی وجه علماء فرمایی چی استقامت خو یو لنډ لفظ دی مګر دټول اسلامی شریعت جامع دی چی په ټولو احکامو دالله ﷻ باندی عمل او دټولو محرماتو اومکروهاتو څخه په دائمی طور سره ځان ساتلو ته شامل دی ، په تفسیر کشاف کی دی چی دانسان ، رَبُّنَا اللهُ : ویل هلته صحیح کیدی سی کله چی هغه په زړه سره یقین وکی چی زه په هرحال اوهرقدم کی دالله ﷻ زیر تربیت یم ، ماته یو وار ساه اخستل هم بغیر

Maktaba Tul Ishaat.com

دهغه درحمت څخه نه سی راتلی ، ددی تقاضا دا ده چی انسان په طریقه دعبادت داسی مضبوط اومستحکم سی چی دده زړه اوقالب دواړه دهغه دعبودیت څخه دوربښته هومره انحراف ونه کی .

په دی وجه هرکله چی دنبی کریم ﷺ څخه حضرت سفیان بن عبدالله ثقفی ﷺ دا سوال وکی چی یارسول الله ﷺ ماته داسلام یوه جامع خبره وښیه چی دهغه څخه وروسته ماته بیا دبل چا څخه دپوښتنی حاجت را نه سی ، نو دوی ورته وفرمایل ، قُلْ اٰمَنْتُ بِاللهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ (رواه مسلم) یعنی ته په الله ﷻ باندی دایمان راوړو اقراروکړه ، بیاپه دی مستقیم سه ، دمستقیم پاته کیدوظاهر مراد دا دی چی په ایمان په مضبوطی سره ودریږه او ددی اقتضاء مطابق په نیکو عملونو باندی هم .

په دی وجه حضرت علی ﷺ اوابن عباس ﷺ داستقامت تعریف دفرآنضو په ادا کولو سره فرمایلی دی او حضرت حسن بصری ﷺ فرمایی چی استقامت دا دی چی په ټولو عملونو کی دالله ﷻ اطاعت کوه اودهغه دنافرمانی څخه ځان ساته، ددی څخه معلومه سوه چی داستقامت جامع تعریف هغه دی کوم چی لوړ دحضرت فاروق اعظم ﷺ څخه نقل سوی دی اودحضرت صدیق اکبر ﷺ اوحضرت عثمان ﷺ تعریف هم دی طرف ته راجع دی ، په کوم کی چی دنیکو عملونو سره دعمل داختلاف تاکید دی (مظهری)

خصاص هم دا تفسیر دابو العالیه څخه نقل کړی اواختیار کړی دی اوابن جریر هم .

تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ : دملائکو نزول اوهغه خطاب کوم چی په دی آیت کی راغلی دی حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی دمرګ په وخت کی به وی اوحضرت قتاده ﷺ فرمایی چی په محشر کی به دقبرونو څخه دراوتلو په وخت کی وی ، او وکیع بن جراح ﷺ فرمایی چی په دری سره وختونوکی به وی ، اول دمرګ په وخت کی ، بیاپه قبرونو کی دننه بیا په محشر کی دقبر څخه دپورته کیدو په وخت کی ، اوابو حیان ﷺ په بحر محیط کی فرمایی چی زه خو وایم چی په مومنانو باندی دملائکو نزول هره ورځ وی چی اثار اوبرکتونه یی د دوی په عملونو کی پیدا کیدی سی ، البته مشاهده او د دوی خبری او ریدل ، دا به په دغو موقعو کی وی .

ابونعیم ﷺ دحضرت ثابت بنانی ﷺ څخه نقل کړی دی چی هغوی دسورة حٰمٓ السجده تلاوت وفرمایی ، تردی چی آیت ، تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ : ته ورسیدی نو وې فرمایل چی مونږ ته دا حدیث را رسیدلی دی چی مومن څه وخت دخپل قبرڅخه پورته سی نو دوی ملائکی کومی چی په دنیا کی دده سره اوسیدی هغه به ورسره ووینی او ده ته به ووایی چی ته خوف او غم مه کوه بلکه دجنت خوشخبری واوره دکوم چی ستاسی سره وعده کول کیږی ، د دوی خبره چی واوری نومومن به مطمئن سی (مظهری)

وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ، نُزُلًا مِنْ غَفُورٍ رَحِيمٍ : ملائکی به مومنانو مخلصانو ته ووایی چی تاسی ته به په جنت کی هرهغه شی درکول کیږی کوم چی ستاسی زړه غواړی اوهرهغه شی کوم چی تاسی غواړی ، ددی مطلب خو دا دی چی ستاسی هرخواهش به پوره سی برابره خبره ده که تاسی غواړی یانه غواړی ، مخ ته یی نُزُلاً په معنی دمیلمستیاوفرمایی اودی طرف ته یی اشاره وکړه چی دیر هغه نعمتونه به هم ورکول سی دکومو چی خواهش هم ستاسی په زړه کی نه دی پیداسوی ، لکه دمیلمه په مخکی دیرهغه شیان هم راځی دکومو چی دمخکی څخه څه تصورنه وی خاص کرچی بیا دچا

Maktaba Tul Ishaat.com

لوی میلمه وی (مظهری)

حدیث : نبی کریم ﷺ فرمایی چی په جنت کی یوه مرغی په هوا وویني اوستاسی په زړه کی دهغه دغوښو خوړلو خواهش پیدا سی نو هغه به کباب سوی تیاره ستاسی په مخکی حاضره سی په څینو روایتونو کی دی چی هغه به نه په اور مسه سوی وی اونه په دود سره خود بخوده پخه سوی تیاره به مخ ته راسی ، (بزار ، بیهقی ، ابن مسعود ﷺ مظهری)

حدیث : نبی کریم ﷺ فرمایی چی که مومن ته په جنت کی په خپل کورکی دبچی پیدا کیدو خواهش وسی نو ددغه بچی حمل اوپیدا کیدل اوبیا تی ورکول اوځوانیدل به په یوه ساعت کی وسی (ترمذی بیهقی وغیره ، مظهری)

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ : دا دکاملو مومنانو داحوالودوهمه حصه ده چی هغوی صرف په خپله په خپل ایمان اوعمل قناعت نه کوی بلکه نورو خلګو ته هم ددی دعوت ورکوی اوفرمایی چی دهغه څخه ښه دچا قول کیدی سی کوم چی خلګ دالله ﷻ طرف ته رابولی ، معلومه سوه چی دانسان په خبرو کی دټولو څخه ښه اوحسنه هغه خبره ده په کومه کی چی نورو ته دحق دعوت ورکول سوی وی ، په دی کی دالله طرف ته ددعوت ټول صورتونه دا خل دی ، په ژبه سره ، په لیک سره یاپه څه بل عنوان سره ، اذان کورنکی هم په دی کی دا خل دی ځکه چی هغه نور دلمانځه طرف ته رابولی ، په دی وجه حضرت عائشه صدیقه ﷺ فرمایی چی دا ایت دمؤذنانو په باره کی نازل سوی او ددی دعآ اِلَى اللهِ څخه وروسته عَمِلَ صَالِحًا راغلی دی ، ددی څخه مراد دا دی چی داذان او اقامت په مینځ کی دوه رکعته لمونځ وکی .

حدیث : نبی کریم ﷺ فرمایی چی داذان اواقامت په مینځ کی چی کومه دعا کول کیږی هغه نه رد کیږی ، (ابوداود ، ترمذی عن انس ﷺ ، مظهری)

داذان اوداذان دجواب فضیلتونه اوبرکتونه په صحیح احادیثو کی ډیر زیات دی ، په دی شرط چی په اخلاص سره دالله ﷻ دپاره اذان کوی اجرت اومعاوضه یی پیش نظر نه وی ، دا احادیث دلته په تفسیر مظهری کی جمع سوی دی .

وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ : ددی څای څخه ددعوت اِلَى اللهِ خدمت کوونکو ته خاص هدایت ورکول سوی دی ، مطلب یی دا دی چی هغوی دی دبدی بدله په بدی سره نه ورکوی ، بلکه دصبر اواحسان څخه دی کار اخلی ، اِدْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ : یعنی دحق ددعوت ورکوونکو خصلت داسی په کار دی چی هغوی دی دخلګو بدی په احسنه طریقه سره دفع کی اوهغه داسی چی دبدی بدله په بدی سره نه اخستل او معاف کول ښه نیک عمل دی او اَحْسَنْ دا دی چی چا ستاسره بد سلوک وکی ته هغه معاف کړه اوداحسان سلوک هم ورسره وکړه ، حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی په دی آیت کی حکم دا دی چی کوم سړی تاته دغصی اظهار وکی ته دهغه په مقابله کی دصبر څخه کار واخلی ، څوک چی ستامخ ته په جهالت سره راسی ، ته ورسره دحلم اوبردباری معامله وکی اوچاچی ته ازار کړی ته هغه معاف که (مظهری)

په څینو روایتونو کی دی چی صدیق اکبر ﷺ ته یوه سړی ښکنځل وکړل یایی ورته بدی خبری وکړی نو دوی دهغه په جواب کی وفرمایل چی که ته په خپله خبره کی رښتنی یی نو زه ترمجرم خطاکار اوناکاره یم نو الله ﷻ دی مامعاف کړی اوکه ته درواغجن یی نوخدای ﷻ دی تامعاف کړی (قرطبی)

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمِنْ اٰيٰتِهِ الَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ؕ لَا تَسْجُدُوْا

او دهغه دقدرت نمونی دی شپه او ورځ او لمر اوسپوږمی ، سجده مه کوی

لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَهُنَّ اِنْ

لمرته او مه سپوږمی ته او سجده کوی الله ته هغه چی دغه یی پیدا کړل که

كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿٣٧﴾ فَاِنِ اسْتَكْبَرُوْا فَالَّذِيْنَ عِنْدَ

تاسی دهغه عبادت کوونکی یاست ، بیا که دوی تکبر کوی نو کوم خلق چی ستا

رَبِّكَ يُسَبِّحُوْنَ لَهٗ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْـَٔمُوْنَ ﴿٣٨﴾ السجدة

د رب سره دی ، پاکی وایی دهغه شپه او ورځ او هغوی نه ستړی کیږي .

وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ اَنَّكَ تَرَى الْاَرْضَ خَاشِعَةً فَاِذَاۤ اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا

او دهغه دنښانو څخه یوه دا ده چی ته ووینی مځکه خشوع کوونکی بیا چی کله مونږ نازلی کړی په دی

الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ؕ اِنَّ الَّذِیْۤ اَحْيَاهَا لَمُحْیِ الْمَوْتٰى ؕ اِنَّهٗ

اوبه تازه سوه او شنه سوه ، بیشکه چا چی دا ژوندی کړه هغه به ژوندی کړی مړی ، بیشکه

عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٣٩﴾

هغه په هرڅه باندی قادر دی .

لنډتفسیر: او دهغه د (قدرت او توحید د) نښانو څخه شپه ده او ورځ ده اولمر دی او سپوږمی (نو) تاسی خلک مه لمر ته سجده کوی اونه سپوږ می ته (لکه چی صابئینو به دستورو عبادت کوی ، لکه چی په کشاف کی دی) او (صرف) هغه خدای ته سجده کوی چاچی دا (تولی) نښانی پیدا کړی که تاسی دخدای عبادت کوونکی یاست (یعنی که دخدای عبادت کوی نوهغه صرف په دی صورت کی کیدی سی چی دهغه سره دبل چاعبادت مه کوی، دمشرکینو په شان دالله ﷻ دعبادت سره که مونورپه عبادت کی شریك کړل نوبیا هغه دالله ﷻ عبادت نه پاته کیږی) بیا که دا خلک (دتوحید په عبادت اختیارولو او دخپل ابایی رسمونو دشرك دپریښنولو څخه عار) اوتکبر کوی نو (دهغوی حماقت دی څکه چی کومی ملائکی ستا درب مقربی دی هغه شپه او ورځ دهغه پاکی بیانوی اوهغه (په دی سره ذره) نه ستړی کیږی (کله چی دالله ﷻ مقربی ملائکی کومی چی ددی خلګو څخه په لکونو درجه مکرمی اومعظمی دی هغوی ته عار نه ورځی نو ددی احمقانو دعار کولو څه موقع ده) اومن جمله دهغه د (قدرت اوتوحید د)

Maktaba Tul Ishaat.com

ننبانو څخه یوه دا ده چې ته مخکه وینې په عاجزي سره (پرته) ده بیا چې کله مونږ په دې اوبه واور وو نو هغه زرغونه او تازه سې (ددې څخه په توحید باندې هم استدلال کیدی سې اودمرګ څخه وروسته په دوباره ژوندې کیدو باندې هم څکه) چې چامخکه (په دې شان) ژوندې کړه هغه به مړې (دهغو په مناسب) ژوندې کړې ، بیشکه هغه په هرڅه باندې قادر دې .

معلومات اومسئلې

(دالله ﷻ څخه ماسوا بل چاته سجده کول جائز نه دی)

لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلّٰهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ : ددې آیت څخه ثابته سوه چې سجده صرف دخالق کائنات حق دی ، دهغه څخه ماسوا څه ستوری یا انسان وغیره ته سجده کول حرام دی برابره خبره ده که هغه دعبادت په نیت سره وی اوکه محض دتعظیم اوتکریم په نیت سره په دواړو صورتونو کې په اجماع دامت حرامه ده ، فرق صرف دومره دی چې څوك دعبادت په نیت سره چاته سجده وکی هغه به کافران سې اوچاچې محض دتعظیم او تکریم دپاره وکړه ده ته کافرنه ویل کیږی ، مګر دحرامو مرتکب اومجرم اوفاسق به ورته ویل کیږی .

دعبادت سجده خو دالله څخه ماسوا هیچاته په یوامت اوشریعت کی حلاله نه ده راغلی څکه چې هغه په شرك کی داخله ده اوشرك دټولو پیغمبرانو په شریعتونو کی حرام راغلی دی ، البته چاته تعظیماً سجده کول دا په تیرو شریعتونو کی جائز وه ، دنیا ته دراتلو څخه مخکی دحضرت ادم ﷺ دپاره ټولو ملائکو ته دسجدی حکم وسو ، حضرت یوسف ﷺ ته دده پلار او ورونو سجده وکړه ، دکومو ذکر چې په قرآن کریم کی موجود دی مګر په اتفاق دفقهاؤ دامت دا حکم په هغو شریعتونوکی وو ، په اسلام کی منسوخ ګرځول سوی دی او غیر الله ته مطلقًا سجده حرامه سوې ده ، ددې مسئلې پوره تحقیق داحقر په رساله المقالة المرضية فی حکم سجدة التحية ، کی ذکر دی او ددی اردو ترجمه سوې ده .

وَهُمْ لَا يَسْئَمُوْنَ: په دې خودامت اجماع ده چې په دې سورة کی سجده دتلاوت واجب ده ، په مقام دسجده کی دعلماؤ اختلاف دی قاضی ابوبکرابن العربی په احکام القرآن کی لیکلی دی چې حضرت علی ﷺ او ابن مسعود ﷺ به داول آیت په ختمیدوسجده کوله یعنی په إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ: باندې اوداامام مالك رحمه الله اختیارکړې ده اوحضرت ابن عباس ﷺ به ددوهم آیت په اخریعنی لَا يَسْئَمُوْنَ باندې سجده کوله اوحضرت عبدالله ابن عمر ﷺ هم دا فرمایی چې د دوهم آیت پرختم سجده کوې ، مسروق ، ابوعبدالرحمٰن سلمی، ابراهیم نخعی، ابن سیرین، قتاده وغیره جمهورو فقهاؤ به په ،لَا يَسْئَمُوْنَ سجده کوله امام ابوبکر جصاص رحمه الله په احکام القرآن کی فرمایی چې دامذهب دټولوحنفی امامانو دی او فرمایی چې داختلاف په بناء احتیاط هم په دی کی دی چې د دوهم آیت په ختم باندې سجده وسی څکه چې په اول آیت باندې سجده واجب وی نواوس هم اداکیږی اوکه په دی واجب وی نواداکیدل یې ظاهر دی .

إِنَّ الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا

کوم خلق چې کاږه چلیږي زمونږ په خبرو کی هغه زمونږ څخه پټ نه دی

Maktaba Tul Ishaat.com

أَفَمَن يُلْقَىٰ فِي النَّارِ خَيْرٌ أَم مَّن يَأْتِي آمِنًا

آیا نو هغه یو چې پروت وی په اور کې غوره دی یا هغه یو چې راسی په امن سره

يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ ۖ إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٤٠﴾

په ورځ د قیامت ، کوی څه چې غواړی بیشکه تاسی چې څه کوی هغه یې وینی ،

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِالذِّكْرِ لَمَّا جَاءَهُمْ ۖ وَإِنَّهُ لَكِتَابٌ عَزِيزٌ ﴿٤١﴾

کوم خلق چې منکر سول د نصیحت څخه هر کله چې ورته راغی او دغه کتاب دی نادر ،

لَّا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ ۖ تَنزِيلٌ

په دی د دروغو دخل نسته د مخکې څخه نه د وروسته څخه نازل سوی دی

مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ ﴿٤٢﴾ مَّا يُقَالُ لَكَ إِلَّا مَا قَدْ قِيلَ لِلرُّسُلِ

د حکمتونو والا تعریفو والا څخه ، تا ته هغه ویل کیږي څه چې ویل سوی دی رسولانو ته

مِن قَبْلِكَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ وَذُو عِقَابٍ أَلِيمٍ ﴿٤٣﴾ وَلَوْ

سا څخه مخکې ، بیشکه رب ستا خاوند دمغفرت هم دی او خاوند د درد ناکی سزا هم ، او که

جَعَلْنَاهُ قُرْآنًا أَعْجَمِيًّا لَّقَالُوا لَوْلَا فُصِّلَتْ آيَاتُهُ ۖ أَأَعْجَمِيٌّ

مونږ داکړی وای قرآن په عجمی ژبه نو ویل به یې چې ددی خبری ولی واضحه نه دی ، آیا عجمی کتاب

وَعَرَبِيٌّ ۗ قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ آمَنُوا هُدًى وَشِفَاءٌ ۖ وَالَّذِينَ

او عربی خلق ؟ ته ورته ووایه دا دایمانداروپاره دی هدایت اوسفارش ورکوونکی او هغه خلق

لَا يُؤْمِنُونَ فِي آذَانِهِمْ وَقْرٌ وَهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ۚ أُولَٰئِكَ

چې ایمان نه راوړی په غوږونو دهغوی کې کونوالی دی اودا قرآن دهغوی په حق کې روند والی دی دغه بلل

يُنَادَوْنَ مِن مَّكَانٍ بَعِيدٍ ﴿٤٤﴾ وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ

کیږي دلیری ځای څخه ، او مونږ ورکړی وو موسی ﷺ ته کتاب

Maktaba Tul Ishaat.com

فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ؕ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ

بیا اختلاف په کی وسو ، او که نه وای یوه خبره چی دمخکې څخه سوی ده ستا درب دطرف څخه نو په

بَيْنَهُمْ ؕ وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿۴۵﴾ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا

دوی کی به فیصله سوی وای اوهغوی په داسی دوکه کی دی ددې قرآن څخه چی ارام ته یی نه پریږدی ، چاچی

فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَسَآءَ فَعَلَيْهَا ؕ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۴۶﴾

نیکی وکړه،نودخان دپاره اوچاچی بدی وکړه نوپرده ده،اوستارب داسی نه دی چی ظلم وکړی په بندګانوباندی.

لنډتفسیر: بیشکه کوم خلک چی زمونږ په ایتونو کی کوږ والی کوی (یعنی داچی زمونږ دایتونو تقاضا په دی ایمان راوړل بیا استقامت په ساتل دی داپریږدی اودرواغجن کوی یی ، لکه چی په درمنثور کی دی دقتاده رضی الله عنه څخه) دغه خلک زمونږ څخه پټ نه دی (دغوته به مونږ دجهنم عذاب ورکو) نو ایا کوم سړی چی په دوزخ کی وغورځول سی (لکه کافر) هغه ښه دی یاهغه سړی کوم چی دقیامت په ورځ په امن اوامان سره (جنت ته) راسی (مخ ته د دوی دبیرولو دپاره ارشاد دی چی) څه مو زړه غواړی کوی هغه ستاسی هرڅه وینی (په یووار به سزا درکی) کوم خلک چی ددی قرآن کله چی هغه دغو ته ورسیږی انکار کوی (په دغو کی په خپله دتدبیر کمی ده) او (په دی قرآن کی هیڅ کمی نسته ځکه چی) دا (قرآن) لوی باوقعت کتاب دی چی په کی غیر واقعی خبره نه ددی دمخکی دطرف څخه راتلی اونه ددی دوروسته طرف څخه (یعنی په دی کی په هیڅ اړخ اوهیڅ طرف کی ددی احتمال نسته چی داقرآن منزل من الله نه وی اوبیا خلاف واقع دی ته منزل من الله ویل کیږی ، لکه چی کفارو به پرده داشبهه کوله ، حق تعالی په یوه قاعده کلیه سره ددی شبهی خاص ازاله وفرمایله، دغه ډول ددی اعجاز دتولو په نزد مسلم دی ، په دی وجه دا خبره ثابته سوه چی) دا دخدای حکیم محمود (الذات والصفات) دطرف څخه نازل سوی دی (اوباوجود ددی کوم چی دا خلک ستا تکذیب کوی نو په دی پوه سه اوتسلی لره چی) تاته هغه خبری (دتکذیب اوازار) کولی سی کوم چی ستا څخه مخکی رسولانو ته ویل سوی دی (هغوی صبر کړی وو، ته هم صبر کوه ، او په دی سره هم تسلی حاصله کړه چی) ستا رب لوی مغفرت او دردناکه سزا ورکونکی دی (نوکه دامخالفین دخلاف څخه واپس سول اومستحق دمغفرت نه سول نو دوی ته به سزاهم ورکړم بیا ته پریشانه ولی یی) او (داخلک یوه شبهه داکوی چی دقرآن څه حصه عجمی هم په کار وه ، لکه چی په درمنثور کی دقریشو داسی قول دحضرت سعید بن جبیر رضی الله عنه څخه نقل کړی دی چی په دی سره به ددی اعجاز ښه ظاهر سوی وای ، چی نبی کریم ﷺ کوم چی په عجمی ژبه نه پوهیږی ، هغه په عجمی کی خبری کوی نو خبره دا ده چی) که مونږ دا (قول یاځینی) په عجمی (ژبه) قرآن جوړولی (نو دا به هیڅکله نه کیده چی دا یی منلی وای بلکه په دی کی به یی یوبل حجت راایستلی وای ، ځکه چی کله دمنلو اوپوهیدو اراده یی نسته نو څه ناڅه بهانی جوړولی سی ، چنانچی که داسی وای) نو داسی به یی ویل چی ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

ایتونه (داسی) صفا صفا ولی بیان نه سول (چی مونږ په پوهیدی یعنی په عربی کی ولی را نه غی که ځینی عجمی وای نو ویل به یی چی داځینی هم عربی ولی نه دی اوداسی به یی ویل چی) دا څه خبره ده چی عجمی کتاب او رسول عربی (لنډه دا چی اوس کوم قرآن عربی دی نو وایی چی عجمی ولی نه دی اوکه عجمی وای نوویل به یی چی عربی ولی نه دی پریږه حال د دوی قرار نسته بیا دعجمي کیدو څخه څه فائده وه ، مخ ته ددی مضمون څخه دجواب ورکولو حکم دی چی ای پیغمبره) ته ووایه چی داقرآن دایماندارو دپاره خو (دنیکو خبرو په ښوونه کی) رهنما دی او (دبدو کارونو څخه چی کوم مرض په زړونو کی پیدا کیږی کله چی ددی قرآن په رهنمایی باندی عمل وسی نو دا دهغه مرضونو څخه) شفاء ده (نو چونکی په ایماندارو کی دتدبر اوطلب حق کمی نه وه ، د دوی په حق کی قرآن دخپل حقانیت په سبب نافع سو) اوکوم چی (سره دظهور دحق څخه عناداً) ایمان نه راوړی دهغوی په غوږونو کی کونوالی دی (چی حق په انصاف اوتدبر سره نه اوری اوهغه کمی دا ده) او (ددی کمی په وجه) هغه قرآن د دوی په حق کی ړوندوالی دی (دانصاف اوتدبرپه کموالی سره تعصب ته قوت رسیږی اوتعصب دهدایت قبلولو څخه مانع بلکه دزیاتی ګمراهی سبب کیږی دړوندوالی سبب کیدو وجه دا ده ، لکه لمر چی عالم ته ړنا ورکوی لیکن چوپړك ړندوی او) داخلګ (دحقی خبری اوریدو باوجود دنفع څخه په محروم کیدو کی داسی دی چی لکه) دیولیری ځای څخه (چی دوی) بلل کیږی (چی اواز اوری خو په پوهیږی نه) او (ستا دتسلی دپاره لکه څنګه چی لوړ په اجمال سره درسولانو ذکر سوی دی ، اوس خاص دموسیٰ ﷺ ذکر کیږی چی) مونږ موسیٰ ﷺ ته هم کتاب ورکړی وو نو په هغه کی هم اختلاف وسو (چاومنی چاونه منی داڅه نوی خبره نه ده سوی ، نو ته غمجن کیږه مه) او (دامنکران داسی مستحق دعذاب دی چی) که یوه خبره نه وای کومه چی ستا درب دطرف څخه مقرره سوې ده (چی پوره عذاب به دوی ته په اخرت کی ورکوم) نودهغوی (قطعی) فیصله به (په دنیاکی) سوی وای اوداخلګ (سره دقائمیدو ددلیلونو څخه) تراوسه پوری ددی (فیصلی یعنی عذاب موعود) دطرف څخه داسی په شك کی دی کوم چی دوی په تردد کی اچولی دی (چی دعذاب یی ګرسره یقین نه راځی ، حال دا دی چی فیصله به ضرور واقع سی او ددی فیصلی حاصل دا دی چی) کوم سړی نیك عمل کوی هغه دخپلی نفعی دپاره (یعنی هلته به ددی نفع اوثواب پیدا کی) اوکوم سړی چی بدعمل کوی دهغه وبال (یعنی ضرر اوعذاب) به پرده ورځی اوستارب پربندګانو ظلم کوونکی نه دی (چی یوه نیکی کومه چی دشرطونو مطابق وسی ، هغه دشمیر څخه پاته سی یا یوه بدی زیاته شمار سی)

معلومات اومسئلي

(دکفر یوخاص قسم الحاد دی ددی تعریف او احکام)

إِنَّ الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي آيَاتِنَا: ددی څخه په مخکی ایتونوکی هغومنکرانو دتوحیداورسالت ته زورنه ، خبرداری او دعذاب ذکر وو کوم چی دتوحید اورسالت څخه په ډاګه اوصفا انکار کوی ، ددی ځای څخه دانکار دیو خاص قسم ذکرکول کیږی دکومو نوم چی الحاد دی ، دلحَد اوالحَاد لغوی معنیٰ یوطرف ته مایل کیدل دی ، دقبر لحد ته هم په دی وجه لحَد وایی چی هغه یوطرف ته مایل وی ، دقرآن اوحدیث په

Maktaba Tul Ishaat.com

اصطلاح کی دقرآن دایتونو څخه تجاوز اوانحراف ته الحاد وایی ، دلغوی معنٰی په اعتبار سره خو داعام دی که صراحةً په داګه انحراف کوی یا دفاسدو تاویلاتو په بهانه انحراف کوی ، لیکن په عام طورسره الحاد داسی انحراف ته ویل کیږی چی په ظاهرکی خودقرآن او ددی په ایتونو دایمان اوتصدیق دعوٰی کوی مګرمعنٰی یی دخپل ځان څخه داسی جوړوی کوم چی دقرآن دنصوصو اودسنتودنصوصو او جمهورامت څخه خلاف وی چی په دی سره دقرآن مقصد چپه سی ، دحضرت ابن عباس ﷺ څخه ددی آیت په تفسیرکی دالحاد معنٰی دامنقول ده فرمایی ، اَلْاِلْحَادُهُوَوَضْعُ الْکَلَامِ عَلٰی غَیْرِمَوْضِعِهٖ، اوپه ذکرسوی آیت کی ارشاد ، لَایَخْفَوْنَ عَلَیْنَا: هم ددی قرینه ده، چی الحاد یو داسی کفردی کوم چی دی خلګو پټول غوښتل په دی وجه الله ﷻ ارشاد وفرمایه چی دوی زمونږ څخه خپل کفر نه سی پټولی .

اوذکرسوی آیت په وضاحت سره داوښوله چی دقرآن دایتونوڅخه انکاراوانحراف په صفااوښکاره لفظونو کی وی یاپه معانیوکی باطل تاویلونه کوی اودقرآن داحکامو بدلولو فکر کوی داټول کفر اوګمراهی ده لنده داچی الحاد یوقسم کفر اونفاق دی چی په ظاهره دقرآن اودقرآن دایتونو دعوٰی او اقرار کوی، لیکن دقرآن دایتونو معنٰی داسی دځانه جوړوی کوم چی په نورو نصونو دقرآن اوسنت اوداسلام داصولو سره ټاپښی نه وی امام ابویوسف رحمه الله په کتاب الخراج کی فرمایی ، کَذٰلِكَ الزَّنَادِقَةُ الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ وَقَدْ كَانُوْا يُظْهِرُوْنَ الْاِسْلَامَ : داسی هغه زندیقان خلګ دی کوم چی الحاد کوی او په ظاهره داسلام دعوٰی کوی .

ددی څخه معلومه سوه چی ملحد اوزندیق دواړه هم معنٰی دی کوم چی داسی کافر ته ویل کیږی چی په ظاهره داسلام دعوٰی کوی اوپه حقیقت کی ددی داحکامو دتعمیل څخه دانحراف دابهانه جوړوی چی دقرآن معنٰی اسی وتړی کومه چی خلاف نصوص اوخلاف داجماع دامت وی .

(دیوی غلطی لیری کول)

دعقائدو په کتابونوکی یوه قاعده دا بیان سوي ده چی متاول ته کافر نه دی ویل په کار (یعنی کوم سړی چی باطلی عقیدی اودکفر کلمی په څه تاویل سره اختیارکړی هغه کافر نه دی ، لیکن ددی قاعدی مطلب که عام واخستل سی چی که په هرڅومره قطعی اویقینی حکم کی تاویل کوی اوهرڅومره فاسد تاویل وکی ، هغه په هرحال کافرنه دی نو ددی نتیجه دا لازمیږی چی په دنیا کی مشرکانو بت پرستانو اویهود او نصاراوو کی به هیڅاته کافر نسی ویل کیدی ځکه چی دبت پرستو مشرکانو تاویل خو په قرآن کی مذکور دی ، مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَا اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى : یعنی مونږ دبتانو فی نفسه عبادت نه کوو بلکه ځکه یی کوو چی هغوی زمونږ سفارش کوی اوالله ﷻ ته مو نژدی کوی نو په حقیقت کی عبادت دالله ﷻ دی ، مګر قرآن د دوی ددی تاویل باوجود دوی ته کافر وویل دیهودو اونصاراؤ تاویلونه خو ډیر مشهور اومعروف دی دکومو باوجود چی دقرآن او سنت په نصوصو کی دوی ته کافر ویل سوی دی ، ددی څخه معلومه سوه چی متاول ته دکافر نه ویلو مطلب عام نه دی .

په دی وجه علماؤ اوفقهاؤ وضاحت فرمایلی دی چی دا تاویل کوم چی دکفرڅخه مانع کیږی، دهغه شرط دا دی چی هغه په دینی ضرورتونو کی د دوی دقطعی مفهوم څخه خلاف نه وی ، ددینی ضرورتونو څخه مراد هغه احکام اومسائل دی کوم چی په مسلمانانو اواسلام کی متواتر اومشهور وی چی دمسلمانانو

Maktaba Tul Ishaat.com

ناخوانده جاهلان هم ورځخه خبروی لکه دپنځو لمونځونو فرض والی ، دسهار دوه، دماپښین څلور رکعتونه فرض کیدل ، درمضان روژی فرض کیدل ، دسود ، شرابو اوخنزیر حراموالی وغیره که یوسړی ددی مسئلو متعلق دقرآن په ایتونو کی داسی تاویل وکی ، په کوم سره چی دمسلمانانومتواتر اومشهور مطلب چپه سی ، هغه بی شکه په اجماع دامت کافردی ، ځکه چی هغه په حقیقت کی دنبی کریم ﷺ دتعلیم څخه انکار دی او دایمان تعریف دجمهور امت په نزد دا دی چی .

تَصْدِيقُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا عُلِمَ مَجِيئُهُ بِهِ ضَرُورَةً .

یعنی دنبی کریم ﷺ تصدیق کول په هغو ټولو کارونو کی دکومو بیانول اوحکم کول چی دنبی کریم ﷺ څخه ضرورتًا ثابت وی ، یعنی داسی یقینی ثابت وی چی دعلماؤ څخه ماسوا عوامو ته هم معلوم وی .

په دی وجه دکفر تعریف ددی په مقابل کی به دا وی چی دکومو شیانو راوړل دنبی کریم ﷺ څخه په ضروری اوقطعی طور باندی ثابت وی په هغه کی دیوه څخه هم انکار کول کفر دی ، نو کوم سړی چی په داسی ضرورتونوددین کی تاویل کوی دهغه حکم بدلوی هغه د دوی دراوړل سوی تعلیم څخه انکار کوی

(په دی زمانه کې دکفر او الحاد گرم بازاری)

په دی زمانه کی یوطرف ته خو ددین اوداحکامو ددین څخه جهالت اوغفلت انتها ته رسیدلی دی چی نوی تعلیم یافته خلګ دډیرو ضرورتونوددین څخه هم ناخبره وی ، بل طرف ته نوی بی خدایه تعلیم دکوم بنیادچی ماده پرستی ده، څه ددی دائر څخه ، او په دی سربیره دیورپ دمستشرقینو دخپرو کړو داسلام خلاف شبهو اووهمونو څخه متاثره سوی دی ، ډیرو داسی خلګوپه اسلام اوپه اصولو داسلام بحثونه اوخبری شروع کړی دی کومو ته چی داسلام داصولو اوفروعو دقرآن اوحدیث دعلمونو سره هیڅ واسطه نسته ، دوی داسلام متعلق که څه معلومات هم حاصل کړی دی نو دیورپیانو داسلام ددښمنانو څخه یی حاصل کړی دی ، دی خلګو دقرآن او حدیث په قطعی ضروری نصونو کی قسم قسم باطل تاویلونه کړی دی ، دشریعت اسلام دمتفق علیه اوپه قطعی نصوصو سره دثابتو سوو احکامو تحریف یی داسلام خدمت ګڼلی دی ، کله چی دوی ته وویل سی چی دابنکاره کفر دی نوهغوی دمشهوری قاعدی پناه اخلی چی مونږ ددی حکم څخه منکر خو نه یو بلکه یوتاویل کوو ، په دی وجه په مونږ دا کفر نه عائد کیږی .

په دی وجه دوخت مهم ضرورت یی وګڼی او زمونږ استاد حجة الاسلام حضرت مولاناسیدمحمدانور شاه کشمیری رحمه الله ددی مسئلی دتحقیق دپاره یومستقل کتاب تصنیف وفرمایی چی نوم یی ، اکفار الملحدین والمتأولین فی شیء من ضروریات الدین ، دی، په دی کی دهری طبقی ، هرمسلك دعلماؤ اوفقهاؤ په وضاحتونو سره ثابته کړي ده چی په ضروریاتو ددین کی دچا تاویل نه سی اوریدل کیدی او دا تاویل د دوی دتکفیر څخه مانع نه دی ، دا کتاب په عربی کی شایع سوی دی ، احقر ددی لنډه ترجمه په اُردو ژبه کی په نوم د ، کفرواسلام قرآن کی روشنی میی شایع کړي ده : اوپه احکام القرآن حزب خامس کی می ددی خلاصه په عربی ژبه کی بیان کړي ده ، هغه کتلی سی ، دلته ددی په خلاصه دحضرت شاه عبدالعزیز محدث دهلوی دیولیك څخه په نقل کولو بس والی کوو .

حضرت شاه عبدالعزیز رحمه الله فرمایی چی دقرآن په ایتونو کی باطل تاویل کوم ته چی دقرآن په ذکرسوی

Maktaba Tul Ishaat.com

آیت کی الحاد فرمایلی دی ، ددی دوه قسمونه دی ، اول هغه باطل تاویل کوم چی دقطعی متواترو نصوصو یا اجماع قطعی څخه خلاف وی هغه خو بغیر دځه شبهی څخه کفر دی ، بل دا چی هغه دداسی نصوصو خلاف وی ، که څه هم ظنی وی مگر قریب بیقین وی یا داجماع عرفی څخه خلاف وی داسی تاویل گمراهی اوفسق دی ، کفر نه دی ، ددی دوو قسمه تاویلونو څخه علاوه باقی تاویلونه کوم چی دقرآن او حدیث په الفاظو کی دمختلفو احتمالاتو کیدو په بنا وی ، دغه تاویل دعامو فقهاؤ دامت میدان داجتهاد دی کوم چی په وضاحت دحدیث په هرحال کی باعث داجر اوثواب دی .

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِالذِّكْرِ لَمَّا جَاءَهُمْ وَإِنَّهُ لَكِتَابٌ عَزِيزٌ (٤١) لا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلا مِنْ خَلْفِهِ .

جمهور مفسرین فرمایی چی دذکر څخه مراد دلته قرآن دی ، اوجمله د ، إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِالذِّكْرِ : دا دتیری جملی ، إِنَّ الَّذِينَ يُلْحِدُونَ : څخه بدل دی او په قاعده دعربیت دبدل اومبدل منه یو حکم وی ، په دی وجه ددی مطلب دا سو چی دا خلک زمونږ څخه پتیدی نه سی او په دی وجه دعذاب څخه نه سی محفوظ کیدی مخ ته دقرآن دالله ﷻ دجانب څخه دمحفوظ کیدو بیان فرمایی چی ، وَإِنَّهُ لَكِتَابٌ عَزِيزٌ : یعنی دا کتاب دالله ﷻ په نزد عزیز اوکریم دی ، هیڅ باطل په دی کی لارنه سی پیداکوی (كما روى عن ابن عباس ، مظهری)

لاَ يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلاَ مِنْ خَلْفِهِ : مخ ته ددی کتاب دپاره دالله ﷻ دطرف څخه دحفاظت بیان دی ، قتاده ﷺ اوسدی ﷺ فرمایی چی دباطل څخه مراد شیطان دی اود ، مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلاَمِنْ خَلْفِهِ : یعنی نه دمخکی څخه راتلی سی نه دوروسته څخه ، ددی څخه مراد : تول جانبونه دی ، مطلب دا دی چی دشیطان هیڅ تصرف اوتدبیر په دی کتاب کی نه چلیږی چی هغه په دی کتاب کی کمی بیشی یاڅه تحریف وکی ، په تفسیر مظهری کی ددی دنقل کولو څخه وروسته فرمایی چی شیطان دلته عام دی ، شیطان دپیریانو وی اوکه شیطان دانسانانو ، دهیڅا تحریف اوتبدیل په قرآن کی نه چلیږی ، لکه چی څینو روافضو په قرآن کی دلسو پارو اوڅینو دخاصو خاصو ایتونو اضافه کول وغوښتل مگر دهیڅا خبره ونه چلیده .

ابوحیان ﷺ په بحر محیط کی فرمایی چی لفظ دباطل دخپلو الفاظو په اعتبار سره دشیطان سره مخصوص نه دی ، دهر باطل مبطل دشیطان دطرف څخه وی اوکه دبل چا دطرف څخه ، په قرآن کی دانه سی چلیدی ، بیایی په حواله دطبری دایت دامطلب بنسولی دی چی دهیڅا اهل باطل مجال نسته چی رامخ ته سی اوپه دی کتاب کی څه تغیر او تبدیل وکی اونه یی دامجال سته چی دشاڅخه په پته ددی په معناوو کی تحریف اوالحاد وکی .

دطبری تفسیر ددی مقام سره دیر زیات مناسب دی ، څکه چی په قرآن کی دالحاد اوتحریف دوه صورتونه کیدی سی ، اول دا چی یو څوك اهل باطل په داگه په قرآن کی څه کموالی یازیاتوالی کول وغواړی ، دا خو یی په ، مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ : سره تعبیر وفرمایی ، دوهم دا چی څوك په ظاهره دایمان دعوی کوی ، مگر په پته دباطلو تاویلاتو په ذریعه دقرآن په معنی کی تحریف وکی ، دا یی په مِنْ خَلْفِهِ سره تعبیرکی ، لنډه دا چی دا کتاب دالله ﷻ په نزد داسی عزیز اوکریم دی چی نه ددی په الفاظوکی څه کموالی زیاتوالی او

Maktaba Tul Ishaat.com

تحریف اوبدلون دچاپه وس کی دی اونه په معانیو کی دتحریف کولو اودقرآن داحکامو بدلولو مجال سته ، هرکله چی چا بدبخته ددی اراده وکړه همیشه هغه رسواسو اوقرآن دهغه دناپاك تدبیرځخه پاك صفاپاته سو، په الفاظوکی دتحریف اوبدلون لارنه پیداکیدل خوهرسړی وینی اوپوهیږی چی تقریباً دخوارلس سوو ۱۴۰۰ کالو ځخه په ټوله دنیا کی ویل کیږی ، دلکونو انسانانو په سینوکی محفوظ دی دیوه زبر زیر غلطی که دچا ځخه وسی نو دبوډاګانو ځخه واخله تربچیانو پوری ، دعالمانو ځخه واخله ترجاهلانو پوری په لکونو مسلمانان دده دغلطی نیولو دپاره راپورته سی ، ددی سره د ، مِنْ خَلْفِهِ دالفاظو ځخه یی دی طرف ته اشاره وکړه چی دقرآن حفاظت کوم چی الله ﷻ په خپله ذمه اخستی ده چی ، اِنَّا لَهُ لَحٰفِظُوْنَ : داصرف دالفاظو سره مخصوص نه دی بلکه ددی معانی اواحکام یی هم داسی محفوظ کړی دی چی څوك ملحد بی دینه که په هغه کی دباطلو تاویلاتو په ذریعه دتحریف اراده وکی نو هرځای په هره زمانه کی په زرګونو عالمان دهغه دتردید دپاره پورته کیږی اوهغه خائب اوخاسر سی ، او حقیقت دا دی چی په آیت اِنَّالَهُ لَحٰفِظُوْنَ کی ضمیر دلهُ دقرآن طرف ته راجع دی اوقرآن صرف دالفاظو نوم نه دی بلکه دنظم او معنی دواړو دمجموعی نوم دی .

دذکرسوو ایتونو دمضمون خلاصه دا سوه چی کوم خلګ په ظاهره مسلمانان دی ، په دی وجه خو په بنکاره دقرآن ځخه انکار نه سی کولی ، مګر دقرآن په ایتونو کی دباطلو تاویلاتو ځخه کار اخلی او په داسی مطلب یی محمول کوی کوم چی دقرآن اودنبی کریم ﷺ دقطعی وضاحتونو ځخه خلاف وی ددی تحریفاتوځخه هم الله ﷻ خپل کتاب داسی محفوظ کړی دی چی دغه دځانه جوړه سوی معنی دهیڅا نه سی چلیدی ، دقرآن اوحدیث په نورو نصوصو او دامت عالمان دهغه غلطی په ډاګه کوی اودصحیح احادیثو دوضاحت مطابق به ترقیامته پوری په مسلمانانوکی یو داسی جماعت قائم وی کوم چی به دتحریف کوونکو دتحریف پرده څیر وی ، دقرآن صحیح مطلب به واضح کوی او ددنیاځخه که هغوی خپل کفر هر څومره پټوی ، دالله ﷻ ځخه یی نه سی پټولی اوکله چی الله ﷻ دهغوی ددی جوړیدو ځخه خبر دی نو هغوی ته ددی سزا ورکول هم ضروری دی .

ءَ اَعْجَمِی وَعَرَبِیٌّ : دعربو ځخه ماسوا چی څومره قومونه په دنیاکی دی هغو ټولوته عجم ویل کیږی اوهر کله چی په دی همزه زیات کی ، اواَعْجَم وویل سی نو بیا یی معنی غیر فصیح خبره ده ، په دی وجه عجمی هغه سړی ته ویل کیږی چی عربی نه وی که څه هم خبره فصیحه کوی اواَعْجمی هغه ته چی خبره فصیحه نه سی کولی (قرطبی)

په ذکر سوی آیت کی یی اَعْجَمِیْ فرمایلی دی ، ددی مطلب دا سو چی که مونږ قرآن دعربی ژبی ځخه علاوه په بله ژبه کی رالیږلی وای نو دعربو قریش کوم چی دقرآن اولنی مخاطب دی هغوی ته به دا شکایت وو چی په دی کتاب مونږ نه پوهیږو اوپه تعجب سره به یی ویل چی نبی خوعربی دی اوکتاب عجمی دی کوم چی فصیح نه دی .

قُلْ هُوَ لِلَّذِیْنَ آمَنُوا هُدًی وَشِفَاءٌ : دلته یی دقرآن کریم دوه صفتونه بنوولی دی یو دا چی هغه هدایت دی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

دزوند په هر لرخ کی انسان نه داسی لاره نښی کومه چی دده د پاره فایده مند او مفیده وی . دوهم دا چی هغه شفاء ده . د قرآن کریم . د باطنی امراضو کفر . شرک . کبر . حسد . حرص او طمع وغیره د پاره شفاء کیدل هم ظاهر دی . د ظاهری ارجسانی امراضو هغه شفاء والی هم په دی کی داخل دی . لکه چی لبدل کیږی چی د دیرو جسمانی مرضونو علاج په قرآنی دعاګانو سره کیږی او کامیابی وی

أولئك ينادون من مكان بعيد دا پر ځنځیل دی کوم سری چی په خپره پوهیږی عرب هغه نه وایی . انسان ينادى من قريب یعنی نه دزدی هغه اوری او څوک چی په خپره نه پوهیږی هر هغه نه وایی . ځکه کلمای من بعيد یعنی ځانه دلیری خلق اواز کول کیږی (خرطی)

مطلب دا دی چی دا خلک د قرآنی هدایتونو د اوریدو د اردخان پوهولو اراده نه لری . په دی وجه گویا د دوی غوږونه کاڼه دی او سترګی یی رندی دی . دوی نه د هدایت تعلیم ورکول داسی دی لکه چی ځانه دلیری خلق اواز کیږی چی د ده غوږونو ته د هغه اواز نه رسیږی

څلویشتمه پاره ختمه سوه

والحمد لله رب العلمين

تفسیر معارف القرآن د نصیر احمد احمدی

نخوا سکین او pdf سو. دوعا په هیله احمدی!

د تلیفون 0749849569

Maktaba Tul Ishaat.com